الورد الشذي

پښتو شرح د

جامع الترمذي

شيخ الاسلام فقيه العصر
محمد حسن جان

حديث ۱ تا ۳۰۵

خصوصیات
- معرب متن
- په متن باندې اعراب
- د باب نمبر
- د حديث نمبر
- ترجمه او تشريح
- حل لغات
- د راوي حالات
- د حديث تخريج
- تحقيق د مذاهب اربعه
- متن مع السند بالاستيعاب

جمع وترتيب
ابو هلال عبد الخالق

مكتبه رحمانيه
محله جنگي قصه خواني پښاور
0302-6299815
0316-9490041

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحٰى

الورد الشذي

بشرح

جامع الترمذي

الجزء الثامن

من _٣٢٠٥_ الى _ ٣٩٥٢_

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبدالخالق بن خان محمد**
خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية بشاور_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشر: مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: الورد الشذي بشرح الجامع للترمذي

جلد: ثامن

من ـ ٣٢٠٥ ـ الى ـ ٣٩٥٢ ـ

المرتب: ابوهلال "عبدالخالق" خَرِيْجُ الْجَامِعَةِ إِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْإِسْلَامِيَّةِ پشاور ـ
وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر: ٠٣٣٣٩١٢١١٩٢

سال اشاعت: ٢٠٢١

تعداد: ١٠٠٠

ناشر: مكتبه رحمانيه محله جنگي نزد قصه خواني پشاور
اهتمام طباعت: الحاج شاه زاده صاحب

فهرس العناوين والمحتويات للمجلد الثامن

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

(سورة الصافات:١٨٢)

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د مناقبو او فضائلو تفصيل

١_ باب فِي فَضْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مناقب دمنقبة جمع ده معني يې بهترين اخلاق او اوصاف دي او ذاتي خوبياني دي او ددي معني دپاره متبادل لفظ فضائل دي فضائل دفضيلة جمع ده چې په معني دخصوصيت او امتياز او عمده كردار دي. امام ترمذي اول فضائل نبوي بيانوي او بيا وروسته دصحابه كرامو وغيره خلقو فضائلو بيان شروع كوي.

٣٦٠٥_ حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ أَسْلَمَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُصْعَبٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ أَبِي عَمَّارٍ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى مِنْ وَلَدِ إِبْرَاهِيمَ إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ بَنِي كِنَانَةَ، وَاصْطَفَى مِنْ بَنِي كِنَانَةَ قُرَيْشًا، وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دواثله بن اسقع رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دابراهيم عليه السلام په اولاد كي داسماعيل عليه السلام اولاد منتخب كړو او داسماعيل عليه السلام په اولاد كي يې بني كنانه منتخب كړل او په بني كنانه كي يې قريش منتخب كړل او په قريشو كي يې بني هاشم منتخب كړل او په بني هاشم كي يې زما انتخاب اوكړو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح ، دابن قدامه په قول دبني هاشم دپاره صدقه مفروضه په اتفاق سره حرامه ده او كه نفلي صدقه وي نو داكثرو احنافو او شوافعو په نزد دال نبي دپاره حلاله ده مگر امام ابو يوسف وائي دال نبي دپاره فرضي او نفلي دواړه صدقي حرامي دي او په يو روايت كي دا دامام ابوحنيفه قول هم دى او په همدي باندي فتوي ده.

****

[1] _ صحيح مسلم/الفضائل ١(٢٢٧٦) (تحفة الأشراف: ١١٧٤٢١)، مسند احمد (٤/١٠٧)

٣٦٠٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا الوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي شَدَّادٌ أَبُو عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي وَاثِلَةُ بْنُ الأَسْقَعِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ، وَاصْطَفَى هَاشِمًا مِنْ قُرَيْشٍ، وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه : دواثله بن اسقع رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي الله تعالي دابراهيم عليه السلام په اولاد كي داسماعيل عليه السلام اولاد منتخب كړو او داسماعيل عليه السلام په اولاد كي بي بني كنانه منتخب كړل او په بني كنانه كي يي قريش منتخب كړل او په قريشو كي يي بني هاشم منتخب كړل او په بني هاشم كي يي زما انتخاب اوكړو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٦٠٧_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى البَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنِ العَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: إِنَّ قُرَيْشًا جَلَسُوا فَتَذَاكَرُوا أَحْسَابَهُمْ بَيْنَهُمْ فَجَعَلُوا مَثَلَكَ مَثَلَ نَخْلَةٍ فِي كَبْوَةٍ مِنَ الأَرْضِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الخَلْقَ، فَجَعَلَنِي مِنْ خَيْرِهِمْ مِنْ خَيْرِ فِرَقِهِمْ، وَخَيْرِ الفَرِيقَيْنِ، ثُمَّ تَخَيَّرَ القَبَائِلَ فَجَعَلَنِي مِنْ خَيْرِ قَبِيلَةٍ، ثُمَّ تَخَيَّرَ البُيُوتَ فَجَعَلَنِي مِنْ خَيْرِ بُيُوتِهِمْ، فَأَنَا خَيْرُهُمْ نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الحَارِثِ هُوَ ابْنُ نَوْفَلٍ. (٢)

ترجمه : دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما عرض اوكړو اې دالله رسوله قريشيان كيناستلي وو چې په قريشو كي يي دخپل حسب ذكر كولو او درسول الله مثال يي دكجوري ديوي وني سره وركړو چې په اوچته زمكه باندي شنه شوي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي مخلوق پيدا كړو او په مخلوق كي يي دوه ډلي خوښي كړي او زه يي په دي دوه ډلو كي چې كومه ښه ډله وه په هغي كي پيدا كړم بيا الله تعالي په

[1] _ صحيح مسلم/الفضائل١(٢٢٧٦) (تحفة الأشراف: ١١٧٤٢) . مسند احمد (٤/١٠٧)

[2] _ تفرد به المؤلف، وانظر مايأتي (تحفة الأشراف: ٥١٣٠)

قبيلو كي چانړ اوکړو او زه يي په بهتره قبيله كي پيدا کړم بيا يي په کوروونو كي چانړ اوکړو او زه يي په بهتر کور كي پيدا کړم نو زه په ذاتي طور هم په دوئ كي دټولو نه بهتر يم او په کورنئ په اعتبار هم په دوئ كي دټولو نه بتهر يم.

امام ترمذي وائي. داحديث حسن دي. او عبد الله بن حارث په ابن نوفل مشهور دی.

دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه مناقب

عباس رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم سکه تره دی او دی درسول الله نه دوه يا دري کاله مشردی الله تعالي ورته دجاهليت په زمانه كي هم ډير شرف او عزت ورکړی وو او داسلام قبلولونه پس هم ډير معزز وو دجاهليت په زمانه كي ورته حاجيانو ته داوبو ورکولو خدمت سپارلی شوی وو او داسلام قبلولو نه پس هم رسول الله پخپل كار قائم پريخودو په غزوه بدر كي خو درسول الله په خلاف دمشرکينو سره راغلی وو ليکن وروسته مسلمان شو او په غزوه حنين وغيره كي يي درسول الله سره ملګرتيا وکړه يو وخت داسي وو چي ټول خلق تختيدلي وو او دی درسول الله صلي الله عليه وسلم سره کلك ولاړ وو.

په مدينه كي درجب په مياشت كي په ۳۴ هجري کال كي وفات شو او دوفات په وخت كي دده عمر اتيا يا نهه اتيا کاله وو او عثمان رضي الله عنه وربانديي جنازه اوکړه او په جنة البقيع كي دفن کړی شو ۳۵روايات ورنه منقول دي چي يو په دوئ كي متفق عليه دي يو صرف په بخاري كي دي او دري صرف په مسلم كي دي.

* * * * * * * * * * * * * * *

۳٦۰۸_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنِ المُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ، قَالَ: جَاءَ العَبَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّهُ سَمِعَ شَيْئًا، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى المِنْبَرِ فَقَالَ: مَنْ أَنَا؟ فَقَالُوا: أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ عَلَيْكَ السَّلَامُ، قَالَ: "أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ، ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ فِرْقَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً، ثُمَّ جَعَلَهُمْ بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا، وَخَيْرِهِمْ نَفْسًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ، وَرُوِيَ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ نَحْوَ حَدِيثِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنِ العَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ. [1]

[1] _ انظر حديث رقم ۳٥۲۲

ترجمه . مطلب بن وداعه وائي عباس رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلو داسي ښكاريده لكه چې څه يي اوريدلي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په ممبر كيناستو او ويي فرمائيل زه څوك يم؟ خلقو اوونيل ته دالله رسول يي سلامتي دي وي په تاباندي بيا رسول الله اوفرمائيل زه محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب يم الله تعالي چې مخلوق پيدا كړو نو زه يي په دوئ كي په بهتر مخلوق كي پيدا كړم او بيا يي مخلوق دوه ډلي كړو نو زه يي په دوئ كي په بهتره ډله كي پيدا كړم او بيا يي دا ډله په قبيلو تقسيم كړه نو زه يي په بهتره قبيله كي پيدا كړم او بيا يي قبيله په كورونو اوويشله نو زه يي په ټولو كي په بهتر كورنئ كي پيدا كړم او په شخصي طور هم يي زه په دوئ كي بهتر جوړ كړم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي لكه څرنگه چې اسماعيل بن ابي خالد ديزيد بن ابي زياد نه او هغه دعبدالله بن حارث په واسطه دعباس بن عبدالمطلب نه روايت نقل كړي دي دا رنگي سفيان هم ديزيد بن ابي زياد نه روايت نقل كړي دي (او هغه همدا روايت دي).

تشريح: اسماء صفاتيه د رسول الله(ص)

ارشاد نبوي دی چې زما نوم محمد او احمد او ماحي دی، يعني الله تعالي به زما په ذريعه كفر محوه كوي او زما نوم حاشر دی يعني دتمامو خلقو نه به مخكي زما حشر كيږي او زما نوم عاقب دی يعني زما نه پس ب هيڅ نبي نه راځي، اوپه يو بل روايت متقي[1] او نبي التوبة او نبي الرحمة نبي الملحمه(يعني جهاد والانبي) نومونه راغلي دي .

او الله رسول الله صلي الله عليه وسلم په بشير او نذير، رؤوف او رحيم او رحمة للعالمين، او محمد او احمد او طه او يٰسن او مزمل او مدثر او عبد (سبحان الذي اسري بعبده ليلا) او عبدالله (انه لما قام عبدالله يدعوه) اوپه منذر (انما انت منذر) نومونو ياد كړی دی.او په دي اسماؤ يي ملقب كړی دی.

علماؤ يو څو نور اسماء مباركه هم ذكر كړي دي مگر تمام اسماء د رسول الله صلي الله عليه وسلم صفاتي اسماء دي.([2])

لباس مبارك

رسول الله صلي الله عليه وسلم وړين لباس استعمالولو اوپه خپو مباكو كي يي پيوند شوي پيزار وو، اود اغوستلو په اشياؤ كي به يي قطعا تكلف نه كولو، او په ټولو كي بهتر لباس د رسول الله صلي الله عليه وسلم يو قميص وو. او چې كله به يي نوي جامي واغوستلي نو دا

[1]. د مقفي او عاقب يوه معني ده.

[2]. دا تمام اسماء په دلائل الخيرات كي راجمع كړی شوي دي.

دعا "اللهم لك الحمد كما كسوتنيه اسئلك خيره وخير ما صنع له" به يي ونيله.
اود شين رنګ لباس به يي زيات خوښولو، او کله کله به ورسره د يو څادر نه علاوه نوري جامي نه وي، چي دهغه جامي دوه ګوټونه به يي د څټ مبارك سره وتړل او مونځ به ادا کړو.
اود پټکي مبارك اطراف چي شمله ورته ونيلي شي به يي ددواړو اوږو په مينځ زوړند وو، دبعضي علماؤ قول دي چي په دغه څادر کي سري کرښي وي [1] اود کس لاس په ګوته کي يي د سپينو زرو ګوتمه وه چي محمدرسول الله ورباندي ليکلي شوی وو، او کله به يي دا ګوتمه دښي لاس په ګوته کي وه، او خوشبو به يي زيات خوښوله ، اود بويږي نه به يي ځان ساتلو، او فرمائيل به يي چي الله زما دپاره دنيوي لذت په ښيانو او خوشبو کي اچولی دی، مګر د سترګو يخوالي په مونځ کي دی.
اوپه خوشبو کي به يي غاليه چي يوه مرکبه خوشبو وي خوښوله، همدارنګي خالص مشك به يي هم استعمالول، اوکافور او عود به يي لوګي کول، او اثمد چي يو اعلي قسم رانجه به يي استعمالول، په ښي سترګه کي به يي دري خله سلايي راښکلو اوپه کسه سترګه کي دوه خله، او روغن زيت به يي په ږيره او سر مبارك لګول او مينځ کي به يي يوه ورځ ناغه کوله [2]، اود رانجو په استعمال کي به يي طاق عدد ته ترجيح ورکوله او ددي رعايت به يي کولو،اود ښي طرف نه به يي د هر کار ابتداء کوله مثلا ګومنزول، پيزار خپو کول، اودس کول، بلکه په تمامو کارونو کي به يي ښي طرف نه شروع کولوته ترجيح ورکوله، اوپه ائنه کي به يي هم کتل ، او په سفر کي به يي د ځان سره دا څيزونه اکثر په اهتمام سره ساتل: تيل، سرمه داني، ائنه، ګومنز، قينچي، مسواك، ستن، تار وغيره ، او رسول الله صلي الله عليه وسلم به د اوده کيدو نه لږ مخکي دري پيري مسواك استعمالولو، اود بيداريدو نه پس هم دتهجدو په وخت کي اود سحر دمونځ وخت کي به يي هم مسواك استعمالولو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم به د ويني ويستلو دپاره ښکر هم لګولو[3].

خوش طبعي

رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله کله خوش طبعي هم کوله ليکن په خوش طبعئ کي به يي هم درښتياوو نه علاوه بل څه نه ونيل يو خل يو کس د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يي وکړو چي اي د الله رسوله ما په اوښ باندي سور کړه رسول الله

---

[1]. فقهاؤ ليکلي دي چي خالص سري جامي د سړو دپاره مکروه دي مګر سرو کرخو والا بلا کراهت جائز دي (شامي کتاب الکراهية).

[2]. يعني په دريمه ورځ.

[3]. ښکر لګول ويني ويستلو ته ونيلي شي.

صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل زه به دي د اوبن په بچي باندي سور كړم، هغه كس عرض وكړو چي د اوبن بچي خو زما وزن نشي برداشت كولى، نو ورته يي اوفرمائيل ايا اوبن د اوبني بچي نه وي؟

بل خل يوه ښځه په خدمت نبوي كي حاضره شوه او عرض يي وكړو اي د الله رسوله زما خاوند بيمار دى او هغه ته غوښتلى يي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ايا ستا خاوند هم هغه دى چي په سترګو كي يي سپينوالى دى؟ د سپينوالي نه د رسول الله مراد د زيږمو سپينوالى وو، ليكن مذكوره ښځي دهغه سپينوالي ګمان وكړو چي د چا په سترګو راشي نو نظر يي ختميږي دي وخت كي دا ښځه واپس اود خپل خاوند سترګي يي وكتلي او خاوند ته يي وونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ستا په سترګو كي سپينوالى دى خاوند ورته جواب وركړو چي ايا داسي هم څوك شته چي په سترګو كي يي سپينوالى نه وي؟

يوخل يوه بوډۍ د رسول الله صلي الله عليه وسلم كي حاضره شوه او عرض يي وكړو چي اي د الله رسوله زما دپاره دعا اوغواړه چي الله تعالي مي جنت ته داخل كړي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته جواب وركړو چي بوډۍ جنت ته نشي داخليدى نو دا ښځه په ژړا شوه چي مخ يي هلو اود رسول الله صلي الله عليه وسلم دمجلس نه واپس روانه شوه، رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقوته اوفرمائيل چي دي بوډۍ ته اووايئ چي هيڅ يوه ښځه به د بوډۍ والي په حالت كي جنت ته نه داخليږي بلكه دوباره ورباندي ځواني راځي اود ځوانئ په حالت كي به جنت ته داخليږي لكه چي ارشاد الهي دى: انا انشأناهن انشاء فجعلناهن ابكارا عربا اترابا (الواقعه) (1) او ددي ايت موافق هغه حديث هم دى په كوم كي چي وارد دي چي الله تعالي به مومنات دوباره پيدا كوي يعني په حشر كي او ځواني جينكۍ به ورنه جوړوي. (شاه ولي الله محدث دهلوي مختصر سيرت الرسول)

****

٣٦٠٩_حَدَّثَنَا أَبُو هَمَّامٍ الوَلِيدُ بْنُ شُجَاعِ بْنِ الوَلِيدِ البَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا الوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ؟ قَالَ: "وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالجَسَدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

1. يعني مونږ پيدا كړي دي دوئ لره په يو خاص پيدائش سره پس ګرځولي دي مونږ دوئ پيغلي د هميشه دپاره او خپلو خاوندانو ته محبوب او هم عمر.

مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَفِي البَابِ، عَنْ مَيْسَرَةَ الفَجْرِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي خلقو تپوس اوکړو اي دالله رسوله نبوت ستادپاره کله واجب شوي دي؟ رسول الله اوفرمائيل کله چې ادم عليه السلام دروح او جسد په مينځ کي وو (يعني کله چې دهغه دپيدائش تياري کيدله).

امام ترمذي وائي: دابوهريره رضي الله عنه دا حديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو په دي باب کي دميسره بن فجر نه هم روايت وارد دي.

****

٣٦١٠ـ حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ خُرُوجًا إِذَا بُعِثُوا، وَأَنَا خَطِيبُهُمْ إِذَا وَفَدُوا، وَأَنَا مُبَشِّرُهُمْ إِذَا أَيِسُوا، لِوَاءُ الحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِي، وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّي وَلَا فَخْرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې خلق دقبرونو نه راپورته کولي شي نو زه به هغه اولني کس يم دچا نه به چې زمکه اوشليږي او اول به زه را اوخم او بيا چې کله دوئ دربار الهي ته راځي نو زه به ددوئ خطيب يم او کله چې دوئ مايوس او نااميده شي نو زه به دوئ ته زيري ورکونکي يم او دحمد بيرغ به په دغه ورځ زما په لاس کي وي او زه دخپل رب په نزد دادم عليه السلام په اولاد کي دټولو نه بهتر يم او دا دفخر کولو دپاره نه وايم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٦١١ـ حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ يَزِيدَ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ المِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الأَرْضُ، فَأُكْسَى الحُلَّةَ مِنْ حُلَلِ الجَنَّةِ، ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ العَرْشِ لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الخَلَائِقِ يَقُومُ ذَلِكَ المَقَامَ غَيْرِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٣٩٤)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٢١)

صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه هغه اولني كس يم دچا نه چې به زمكه اوشليږي او بيا به ماته دجنت په جوړو كي يوه جوړه واغوستلي شي او بيا به زه دعرش ښي طرف ته اودريږم او زما نه علاوه به په مخلوق كي بل هيڅوك هلته نشي اودريدي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

٣٦١٢_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ لَيْثٍ وَهُوَ ابْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، حَدَّثَنِي كَعْبٌ، حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " سَلُوا اللَّهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الْوَسِيلَةُ ؟ قَالَ: " أَعْلَى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنَالُهَا إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ ". قَالَ: هَذَا غَرِيبٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ، وَكَعْبٌ لَيْسَ هُوَ بِمَعْرُوفٍ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَى عَنْهُ غَيْرَ لَيْثِ بْنِ أَبِي سُلَيْمٍ. (2)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نه خما دپاره وسيله طلب كړئ هغه دجنت يوخاص مقام دی او دا هر چاته نه بلكه دالله يو خاص بنده ته به نصيب كيږي او خما اميد دی چې هغه بنده زه يم.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي سند يي قوي نه دي او كعب غير معروف راوي دي مونږ ته دليث بن سليم نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چې دا روايت يي نقل كړي وي.

****

٣٦١٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَثَلِي فِي النَّبِيِّينَ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى دَارًا فَأَحْسَنَهَا وَأَكْمَلَهَا وَأَجْمَلَهَا وَتَرَكَ مِنْهَا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ، فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوفُونَ بِالْبِنَاءِ وَيَعْجَبُونَ مِنْهُ، وَيَقُولُونَ: لَوْ تَمَّ مَوْضِعُ تِلْكَ اللَّبِنَةِ، وَأَنَا فِي النَّبِيِّينَ مَوْضِعُ تِلْكَ اللَّبِنَةِ ".

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٥٦)

2_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٢٩٥)

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ كُنْتُ إِمَامَ النَّبِيِّينَ وَخَطِيبَهُمْ وَصَاحِبَ شَفَاعَتِهِمْ غَيْرُ فَخْرٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دابي بن كعب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په انبياؤ كي زما مثال ديو داسي سړي دي چاچې يو كور جوړ كړي وي او ډير ښه يې جوړ كړي وي مكمل او انتهائي ښائسته يې جوړ كړي وي مګر په دي كي يې ديوې خښتي ځاي پريخودلي وي چې خلق په دي كي ګرځي او ددي دښائست نه تعجب كوي او دا خبره كوي چې كاش ددي يوي خښتي ځاي هم پوره شوي وي پس زه په انبياؤ كي داسي يم لكه دخالي خښتي ځاي.

****

٣٦١٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، أَخْبَرَنَا كَعْبُ بْنُ عَلْقَمَةَ، سَمِعَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلاَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا لِيَ الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لاَ تَنْبَغِي إِلاَّ لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، وَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ مُحَمَّدٌ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جُبَيْرٍ هَذَا قُرَشِيٌّ مِصْرِيٌّ مَدَنِيٌّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ شَامِيٌّ. (2)

ترجمه : عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلی دی چې كله ته اذان واورى نو دمؤذن وئيلي شوي كلمات تاسو هم وايئ بيا په ماباندی درود اووايئ ځكه چې څوك په ماباندی يو ځل درود اووائي الله تعالي په هغه باندی لس لس رحمتونه نازلوي، بيا ځما دپاره وسيله طلب كړئ او دا دجنت يوخاص مقام دی او هر چاته نه بلكه دالله يو خاص بنده ته به نصيب كيږي او ځما اميد دی چې هغه بنده به زه يم نو څوك چې ځما دپاره ددی خاص مقام دعا اوكړي نو په ماباندی دهغه شفاعت لازم دی.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢)، ومسند احمد (٥/١٣٧)

2 ـ صحيح مسلم/الصلاة ٧ (٣٢٨)، سنن ابي داود/ الصلاة ٣٦، ٣ (٥٢٣)، سنن النسائي/الأذان ٣٧ (٦٧٩) (تحفة الأشراف: ٨٨٧١)، ومسند احمد (٢/١٦٨)

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي امام بخاري وائي په دي سند كي مذكور راوي عبدالرحمن بن جبير قرشي مصري او مدني دي او دنفير نوسي عبدالرحمن بن جبير شامي دي.

لغات : الوسيلة : الوسيلة والواسلة معني دتقرب حاصلولو ذريعه جمع يي سيل او وسائل او وُسُل راځي او صفت يي واسل دي.

تشريح : اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول: دمؤذن په جواب كي هم هغه كلمات وېلي شي كوم چې موذن وايي مګر په يوځو كلماتو كي فرق دي كوم چې په راتلونكي حديث كي راروان دي.

ثم سلوا الله لي الوسيلة: يعني بيا زما دپاره دوسيلي سوال وكړئ.

دلته دوسيلي نه مراد په جنت كي هغه مقام دى كوم چې به الله تعالي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وركوي، دا وعده يقيني ده خو رسول الله ارجو لفظ دانكسارئ په وجه استعمال كړى دى.

"حلت له الشفاعة" مطلب دادى چې دچا په باره كي الله تعالي دشفاعت اجازت وركړي نو رسول الله به دهغوئ دپاره شفاعت غواړي او دچا متعلق چې اجازت نه وي دهغوئ شفاعت به نه كوي.

****

٣٦١٥ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ جُدْعَانَ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَلَا فَخْرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه به دقيامت په ورځ د ادم عليه السلام د اولاد سردار يم او زما په لاس كي به دحمد جهنډه وي او زه په دي فخر كول نه غواړم او د ادم عليه السلام نه علاوه چې څومره انبياء وي ټول به زما دجهنډي لاندي وي او زه به هغه اولني كس يم دچا دپاره چې به زمكه اوشلولي شي او دهر چانه مخكي به اول زه دقبر نه راپورته كيږم او زه په دي فخر نه كوم.

[1] ـ انظر حديث رقم ٢١٢٨

امام ترمذي وائي: په دي حديث كي يوه واقعه مذكور ده، په همدي سند دابو نضره نه مروي دي، چې دابن عباس په واسطه يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي.

****

٣٦١٦ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ، حَدَّثَنَا زَمْعَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ وَهْرَامٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَلَسَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَظِرُونَهُ، قَالَ: فَخَرَجَ حَتَّى إِذَا دَنَا مِنْهُمْ سَمِعَهُمْ يَتَذَاكَرُونَ فَسَمِعَ حَدِيثَهُمْ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَجَبًا إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ اتَّخَذَ مِنْ خَلْقِهِ خَلِيلًا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا، وَقَالَ آخَرُ: مَاذَا بِأَعْجَبَ مِنْ كَلَامِ مُوسَى كَلَّمَهُ تَكْلِيمًا، وَقَالَ آخَرُ: فَعِيسَى كَلِمَةُ اللَّهِ وَرُوحُهُ، وَقَالَ آخَرُ: آدَمُ اصْطَفَاهُ اللَّهُ، فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ، فَسَلَّمَ، وَقَالَ: قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ وَعَجَبَكُمْ: "إِنَّ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلُ اللَّهِ وَهُوَ كَذَلِكَ، وَمُوسَى نَجِيُّ اللَّهِ وَهُوَ كَذَلِكَ، وَعِيسَى رُوحُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ وَهُوَ كَذَلِكَ، وَآدَمُ اصْطَفَاهُ اللَّهُ وَهُوَ كَذَلِكَ، أَلَا وَأَنَا حَبِيبُ اللَّهِ وَلَا فَخْرَ، وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حِلَقَ الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُ اللَّهُ لِي فَيُدْخِلُنِيهَا وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَا فَخْرَ، وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ وَلَا فَخْرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي د رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه كرام د رسول الله په انتظار كي ناست وو راوي وايي چي دي وخت كي رسول الله صلي الله عليه وسلم راووتلو او دوئ نزدي شو او ددوئ مذاكره يي واوريدله ، بعضي كسانو دا وئيل چي د تعجب خبره ده چي الله تعالي په مخلوق كي د ځان دپاره دوست منتخب كړى دى ، او الله تعالي خو ابراهيم عليه السلام په دوستئ نيولى وو، بعضو وونيل ددي نه زياته تعجبي خبره د موسي عليه السلام ده چي خبري يي ورسره كړي وي په خبرو كولو سره، بل كس وويل د عيسي عليه السلام معامله هم ډيره ناشنا ده څكه چي هغه د الله تعالي كلمه ده او د هغه د طرفه راليږلى شوي روح دى ، بل كس وويل ادم عليه السلام لره الله تعالي خوښ كړى وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغوئ بلكل همداسي وو مګر زه چي د الله دوست يم او پدي مي فخر كوم مقصود نه دى، او زما په لاس كي به د قيامت په ورځ دحمد جهنډه وي او زه په دي فخر نه كوم او زه به اولني شفاعت كونكي يم او زه به هغه اولني كس يم د چا شفاعت

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٠٩٥)

چې به قبول کړی شي او زه به هغه اولني کس يم چاته چې به دجنت دروازي پرانستلی شي الله به يي ماته پرانزي او ما به ورداخل کړي او زما سره به فقيران مومنان وي او زه په دي فخر نه کوم او زه به په ټولو اولنو او وروستنو کي زيات عزت مند يم او په دي فخر نه کوم.

او ادم عليه السلام او د هغه نه علاوه چې څومره انبياء وي ټول به زما دجهنډي نه لاندي وي او زه به هغه اولني کس يم د چا دپاره چې به زمکه اوشلولي شي او دټولو نه اول به زه دقبر نه پورته کيږم او زه په دي فخر نه کوم.

امام ترمذي وائي: دا حديث غريب دی.

****

٣٦١٧ـ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، حَدَّثَنِي أَبُو مَوْدُودٍ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الضَّحَّاكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: " مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ صِفَةُ مُحَمَّدٍ، وَصِفَةُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ ". فَقَالَ أَبُو مَوْدُودٍ: وَقَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ مَوْضِعُ قَبْرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. هَكَذَا قَالَ عُثْمَانُ بْنُ الضَّحَّاكِ، وَالْمَعْرُوفُ الضَّحَّاكُ بْنُ عُثْمَانَ الْمَدَنِيُّ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن سلام رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې په تورات کي دمحمد صلي الله عليه وسلم احوال ليکلي شوي دي او دا هم ليکلي شوي دي چې عيسي بن مريم به دهغه سره دفن کيږي، ابو قتيبه وائي دابو مودود قول دي چې په حجره مبارکه کي ديو قبر ځاي باقي پروت دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي په سند کي راوي عثمان بن ضحاك ونيلي دي او مشهور ضحاك بن عثمان مدني دي.

عبدالله بن سلام رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله کنيه ابو يوسف لقب حبر دمديني په يهودو کي دبني قنقاع قبيلي سره يي تعلق دی دده دنسب سلسله يوسف عليه السلام ته رسيدلي ده دجاهليت په زمانه کي دده نوم حصين وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي عبدالله نوم کيخودو.

کله چې مديني ته راغی نو يو څو سوالات يي اوکړل او دايي هم اووئيل چې دنبي نه علاوه بل څوك ددي سوالاتو جواب نشي کولي او بيا ددينه پس مسلمان شو په بدر او احد کي دده دشرکت باره کي اختلاف وو مګر په خندق کي په اتفاق سره شريك شوی وو.

(١) تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٢٦)

علامه ذهبئ دده په باره کې داسې ليکلي دي
كان عبدالله بن سلام عالم اهل الكتاب وفاضلهم في زمانه بالمدينه (تذكرة الحفاظ) رسول الله صلى الله عليه وسلم دده په باره کې فرمائيلي دي عاشر عشرة في الجنة (ترمذي).
دده نه علاوه انتهائي تواضع والاانسان يو خل خلقو ليدلى وو چې دلرګو ګيډۍ يې پشا وو چا ورنه تپوس اوکړو چې دا ولې نو ويې فرمائيل چې دخپل کبر او غرور دختمولو دپاره داسې کوم ، امير معاويه رضي الله عنه په زمانه کې په ۴۳هجري کې په مدينه کې وفات شو ۱۳۵احاديث ورنه منقول دي.

****

۳٦۱۸ـحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي دَخَلَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، وَلَمَّا نَفَضْنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَيْدِي وَإِنَّا لَفِي دَفْنِهِ حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي کله چې هغه ورځ راغله په کومه کې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته داخل شو په هغه ورځ په هر څيز باندي نور واقع شو مګر چې کله هغه ورځ راغله په کومه ورځ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو په دغه ورځ دمديني په هر يو څيز باندي تياره واقع شود او لاتردغه وخته مونږ درسول الله د دفن کولو نه لاس نه وو پورته کړي چې زمونږ زړونه بدل شول.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب صحيح دي.

****

۲ـباب مَا جَاءَ فِي مِيلاَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي کريم صلي الله عليه وسلم دپيدائش بيان

۳٦۱۹ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ الْعَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ يُحَدِّثُ، عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: " وُلِدْتُ

[1] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله.

أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الفِيلِ، وَسَأَلَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ قُبَاثَ بْنَ أَشْيَمَ أَخَا بَنِي يَعْمَرَ بْنِ لَيْثٍ: أَأَنْتَ أَكْبَرُ أَمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ فَقَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْبَرُ مِنِّي، وَأَنَا أَقْدَمُ مِنْهُ فِي المِيلَادِ، وُلِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الفِيلِ، وَرَفَعَتْ بِي أُمِّي عَلَى المَوْضِعِ، قَالَ: وَرَأَيْتُ خَذْقَ الفِيلِ أَخْضَرَ مُحِيلًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ. (۱)

ترجمه: دقیس بن مخرمه رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې زه اورسول الله صلي الله عليه وسلم دواړه په هغه کال پیداشوي یو په کوم کال چې دفیل واقعه پیښه شوي وه، عثمان بن عفان رضي الله عنه دقباث بن اشیم (بن عمرو بن لیث قبیلي والا) نه تپوس اوکړو چې ته مشر یي او که رسول الله صلي الله عليه وسلم؟ هغه اوونیل رسول الله صلي الله عليه وسلم زما نه مشر دي او په پیدائش کي ورنه زه مخکي یم رسول الله دهاتي والا واقعي په کال پیدا شوي دي، زما مور زه هغه ځاي ته بوتلم (چرته چې د ابرهه په هاتیانو کیتئ وریدلي وي) ما اولیدل چې دهاتیانو دخاشنو رنګ بدل شوي وو او شنه شوي وو.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن غریب دي مونږ یي صرف دمحمد بن اسحاق په روایت پیژنو.

د نبي کریم ﷺ نسب نامه

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نسب نامه داده:

محمد بن عبدالله، بن عبد المطلب، بن هاشم، بن عبد مناف، بن قصي، بن کلاب ، بن مره، بن کعب بن لوئ، بن غالب، بن فهر، بن مالك، بن نضر ، بن کنانه ، بن خزیمه ، بن مدرکه، بن الیاس ، بن مضر، بن نذار، بن معد ، بن عدنان، تردي مقام پوري سلسله دنسب نامي متفق علیه ده، ددي نه پس د آدم علیه السلام پوري په باقي نسب نامه کي ډیر اختلافات دي.

او والده ماجده د رسول الله صلي الله عليه وسلم امنه بنت وهب ، بن عبد مناف، بن زهره، بن کلاب ، بن مره ده.

ولادت باسعادت

په کوم کال چي د اصحاب فیل (۲) واقعه راغلي وه په همدغه کال دربیع الاول د میاشتي په

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۱۰۶۳)

[2] داصحاب فیل واقعه داده چي ابرهه د حبشي بادشاه د یمن په صنعاء ښار کي یو نقلي کعبه جوړه کړه ددي د عظمت زیاتولو دپاره یي د کعبي د ورانولو اراده وکړله او پخپلو بي شمیره فوجیانو او هاتیانو یي په مکه حمله کوله نو الله دا فوج د وړو وړو مرغو په ذریعه په وړو وړو کانړو هلاك کړو.

دولسم تاريخ د دوشنبي په ورځ د رسول الله ﷺ ولادت وشو ، دجمهورو په نزد همدا صحيح ترين قول دی مګر د تاريخ په تعين کي اختلاف دی بعضي علماؤ دويم او څا دريم او څا دولسم تاريخ بيان کړی دی، او ددنه علاوه نور متعدد اقوال هم شته.
د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ولادت په شپه د کسري په محل کي داسي زلزله راغلي وه چي آواز يي تر لري پوري اوريدلی کيدو او څوارلس ځنبتي د کسري دمحل راغورځيدلي وي اود فارس د آتش کدي اور چي د زرو کالو نه رابليدو مړشو او د ساده په نوم[1] چينه يي اوچي شوه.(مختصر سيرة الرسول شاه ولي الله دهلوي)

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي بَدْءِ نُبُوَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله صلي الله عليه وسلم د نبوت دابتداء بيان

٣٦٢٠_حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ أَبُو العَبَّاسِ الأَعْرَجُ البَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ غَزْوَانَ أَبُو نُوحٍ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " خَرَجَ أَبُو طَالِبٍ إِلَى الشَّامِ، وَخَرَجَ مَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَشْيَاخٍ مِنْ قُرَيْشٍ، فَلَمَّا أَشْرَفُوا عَلَى الرَّاهِبِ هَبَطُوا، فَحَلُّوا رِحَالَهُمْ، فَخَرَجَ إِلَيْهِمُ الرَّاهِبُ وَكَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ يَمُرُّونَ بِهِ، فَلَا يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ وَلَا يَلْتَفِتُ، قَالَ: فَهُمْ يَحُلُّونَ رِحَالَهُمْ فَجَعَلَ يَتَخَلَّلُهُمُ الرَّاهِبُ حَتَّى جَاءَ فَأَخَذَ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: هَذَا سَيِّدُ العَالَمِينَ، هَذَا رَسُولُ رَبِّ العَالَمِينَ يَبْعَثُهُ اللهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ، فَقَالَ لَهُ أَشْيَاخٌ مِنْ قُرَيْشٍ: مَا عِلْمُكَ؟ فَقَالَ: إِنَّكُمْ حِينَ أَشْرَفْتُمْ مِنَ العَقَبَةِ لَمْ يَبْقَ شَجَرٌ وَلَا حَجَرٌ إِلَّا خَرَّ سَاجِدًا، وَلَا يَسْجُدَانِ إِلَّا لِنَبِيٍّ، وَإِنِّي أَعْرِفُهُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ أَسْفَلَ مِنْ غُضْرُوفِ كَتِفِهِ مِثْلَ التُّفَّاحَةِ، ثُمَّ رَجَعَ فَصَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا فَلَمَّا أَتَاهُمْ بِهِ وَكَانَ هُوَ فِي رِعْيَةِ الإِبِلِ، قَالَ: أَرْسِلُوا إِلَيْهِ، فَأَقْبَلَ وَعَلَيْهِ غَمَامَةٌ تُظِلُّهُ، فَلَمَّا دَنَا مِنَ القَوْمِ وَجَدَهُمْ قَدْ سَبَقُوهُ إِلَى فَيْءِ الشَّجَرَةِ، فَلَمَّا جَلَسَ مَالَ فَيْءُ الشَّجَرَةِ عَلَيْهِ، فَقَالَ: انْظُرُوا إِلَى فَيْءِ الشَّجَرَةِ مَالَ عَلَيْهِ، قَالَ: فَبَيْنَمَا هُوَ قَائِمٌ عَلَيْهِمْ وَهُوَ يُنَاشِدُهُمْ أَنْ لَا يَذْهَبُوا بِهِ إِلَى الرُّومِ، فَإِنَّ الرُّومَ إِذَا رَأَوْهُ عَرَفُوهُ بِالصِّفَةِ فَيَقْتُلُونَهُ، فَالْتَفَتَ، فَإِذَا بِسَبْعَةٍ قَدْ أَقْبَلُوا مِنَ الرُّومِ فَاسْتَقْبَلَهُمْ، فَقَالَ: مَا جَاءَ بِكُمْ؟ قَالُوا: جِئْنَا إِنَّ هَذَا النَّبِيَّ خَارِجٌ فِي

---

[1] ساده په عراق کي د عجمو يو ښار دی په دي ښار کي يو نهر وو په کوم کي چي به اتش پرستو د ولادت په وخت کي خپل بچي لمبول (قرة العيون: ٤٣/١)

هَذَا الشَّهْرِ. فَلَمْ يَبْقَ طَرِيقٌ إِلَّا بُعِثَ إِلَيْهِ بِأُنَاسٍ، وَإِنَّا قَدْ أُخْبِرْنَا خَبَرَهُ بُعِثْنَا إِلَى طَرِيقِكَ هَذَا. فَقَالَ: هَلْ خَلْفَكُمْ أَحَدٌ هُوَ خَيْرٌ مِنْكُمْ؟ قَالُوا: إِنَّمَا أُخْبِرْنَا خَبَرَهُ بِطَرِيقِكَ هَذَا. قَالَ: أَفَرَأَيْتُمْ أَمْرًا أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَقْضِيَهُ هَلْ يَسْتَطِيعُ أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ رَدَّهُ؟ قَالُوا: لَا. قَالَ: فَبَايَعُوهُ وَأَقَامُوا مَعَهُ. قَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ أَيُّكُمْ وَلِيُّهُ. قَالُوا: أَبُو طَالِبٍ فَلَمْ يَزَلْ يُنَاشِدُهُ حَتَّى رَدَّهُ أَبُو طَالِبٍ، وَبَعَثَ مَعَهُ أَبُو بَكْرٍ بِلَالًا وَزَوَّدَهُ الرَّاهِبُ مِنَ الْكَعْكِ وَالزَّيْتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ابو طالب شام طرف ته (تجارت دپاره) روان شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم هم دقريشو بوډاګانو نه اووتلو او دده خواته ورغلو او حال دادي ددينه مخکي دا خلق ددوئ دخوا نه تلي وو ليکن هيڅ کله به ورته نه متوجه کيدل او نه به ددوئ خواته راتلل، ونيل يي دي خلقو لاخپلي سورلئ پرانيستلي چې راهب ددوئ په مينځ کي راداخل شو او درسول الله صلي الله عليه وسلم لاس يي اونيولو او ابو طالب ته يي اووئيل دا دتمام جهان سردار دي، دا دتمام جهان سردار دي، دا دتمام جهان سردار دي، او الله تعالي ده لره دتمام جهان دپاره درحمت ګرځولو په حال کي راليږلي دي نو قريشو بوډاګانو ورته اووئيل تاته دا خبره څنګه معلومه شوه؟ هغه اووئيل تاسو چې ددي ديرئ نه کوز شوئ نو هيڅ يوه ونه او هيڅ يو کاڼړي داسي نه وو چې په سجده نه وو پريوتلي او دا دواړه څيزونه خيز دنبي په تعظيم کي سجده کوي او زه اخري نبي دنبوت دمهر نه پيژنم کوم چې داوږي دهډوکي بيخ ته دمڼي په شکل موجود وي، او بيا دي واپس لاړو او ددوئ دپاره يي خوراك تيار کړو کله چې هغه خوراك ددوئ دپاره راوړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوبـان څرولو له بوتلي وو هغه اووئيل څوك وريسي اوليږئ چې رايي ولي چنانچې رسول الله راغي په داسي حال کي چې يوي وريځي ورباندي سوري کړي وو کله ه خلقو ته رانزدي شو نو هغه يي دوني په سوري کي دمخکي نه ناست اوموندلو کله چې رسول الله کيناستو نو دوني سوري ورباندي راتيټ شو دي وخت کي راهب اووئيل اوګورئ دوني سوري درباندي راتيټ شو بيا راهب ددوئ په وړاندي ولاړ وو او دوئ ته يي دقسم ورکولو په حال کي وئيل چې دا هلك روم ته مه بوځئ ځکه که روم والا خلق يي اووينې نو د اوصافو نه به يي اوپيژني او قتل به يي کړي او بيا هغه واپس شو نو ويي ليدل کوم اوه کسان چې دروم نه راغلي وو دهغوئ استقبال يي اوکړو او تپوس يي اوکړو تاسو څوك يئ هغوئ اووئيل مونږ دهغه نبي دپاره

---

(1) ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩١٣١)

راغلي يو كوم چې په دي مياشت كي راتلونكي دي او هيڅ يوه داسي لار باقي نه ده پاتي شوي كومي ته چې څه ناڅه خلق ليږلي شوي نه وي، او كله چې مونږ ته ستاسو په لاره دده باره كي خبر راورسيدو مونږ ستاسو په لاره راوليږلي شو هغه ورته اوونيل ايا په تاسو پسي وروسته څوك شته چې ستاسو نه به بهتر وي دوئ اوونيل نشته راهب ورته اوونيل بياخو تاسو دده سره بيعت اوكړئ او موجود ورسره پاتي شئ او بيا عربو ته متوجه شو چې وئيل يي زه تاسو ته دالله واسطه دركوم او تپوس درنه كوم چې په تاسو كي څوك دده وارث دي خلقو اوونيل ابو طالب راهب مسلسل ابو طالب ته قسم وركولو تردي چې ابو طالب مكي ته واپس شو او ابو بكر رضي الله عنه دده سره بلال رضي الله عنه اوليږلو او راهب ورته زيتون او كيك په تحفه كي وركړل.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

رضاعت او طفوليت

حليمه بنت ابي ذويب درسول الله صلي الله عليه وسلم رضاعي مور وه (١)، اود حليمي سره د اوسيدو په زمانه كي دوه فرشتو د شق صدر(٢) عمل وكړواود شيطان حصه يي ورنه جدا كړه اود علم او ايمان نه يي ډكه كړه، اود ابو لهب وينځي ثويبه هم رسول الله ته خپل پئ وركړل، اود رسول الله پرورش ام ايمن حبشيه وكړو چې نوم يې بركه وو كومه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د والد محترم نه په ميراث كي پاتي شوي وه، كله چې رسول الله ځوانئ ته

[1]. ددي اجمال تفصيل دادي چې د ټولو نه مخكي خپلي مور دري ورځي پئ وركړل او بيا څه وخت پس ثويبه د حليمي نه مخكي وركړل.او بيا حليمي د ځان سره بوتللو، رسول الله به د يوي بني سيني نه پئ خوړل او بله سينه به يي خپل رضاعي وروزعبد الله بن الحرث ته پريښودله او د حليمي شيما لور به مړولو (قرة العيون: ١ /٥٣،٥٢).

[2].درضاعت د ورځو نه پس حليمي بي بي نبي كريم صلي الله عليه وسلم لره خپلي مور ته راورسولو مگر دهغه د خير او بركت په وجه يي واپس د ځان سره بوتلو ، ددوباره وړلو نه پس دوه دري مياشتي پس دا واقعه پيښه شوي ده (قرة العيون جلد اول).

شق صدر څلور پيري شوي دي اول ځل په ماشوم والي كي، دويم ځل په لس كلنئ كي، دريم دنبوت ملاويدو وخت كي تردي چې دوحي تحمل لائق شي، څلورم ځل په ليلة القدر كي.

په هر انسان كي خلقةً دوه مادي وي چې په دوئ كي د يوي په ذريعه ملكوتي اثار قبلوي او ددويمي په ذريعه شيطاني اثرات قبلوي پس د رسول الله د جسم نه دا دويمه حصه جدا كړې شوه.

ورسيدو نو ام ايمن يي ازاده کړه، او زيد بن حارثه سره يي دهغې نکاح وکړله، درسول الله دولادت نه مخکي د رسول الله دپلار عبدالله انتقال شوي وو، د بعضو قول دی چي د رسول الله د والد محترم د انتقال په وخت کي د رسول الله عمر مبارك دوه مياشتي وو، اود بعضو په قول اوه مياشتي وو اود بعضو په قول دوه کاله او څلور مياشتي وو.

بيا ددي نه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم پرورش خپل نيکه عبد المطلب وکړو[1] او چي کله يي عمر اته کاله دوه مياشتي او لس ورځو ته ورسيدو نو نيکه يي هم وفات شو، او دغه وخت کي د پرورش نبوي کفاله تره ابوطالب[2] ته حواله شو، او چي کله يي عمر دولس کاله دوه مياشتي لس ورځو ته ورسيدو اود خپل تره محترم ابو طالب سره د شام سفر وکړو، کله چي بصري ته ورسيدو نو بحيره راهب[3] رسول الله دبعضي علاماتو نه وپيژندلو نو د رسول الله په خدمت کي حاضر شو او لاس يي ورله ونيولو چي دا رسول د رب العالمين دی، الله تعالي به ورته مرتبه دنبوت ورکوي، تردي چي دی د اهل عالم دپاره رحمت وګرځي، هرکله چي رسول الله دلته تشريف راوړلو نو تمام شجر او حجر رسول الله ته په سجده شول ([4]) او شجر او حجر درسول نه علاوه بل چاته سجده نه کوي، او ددينه به يي هم پيژندلي وي چي دده صفات به يي پخپلو کتابونو کي موندلي وي.

بحيره راهب ابو طالب ته ووئيل که رسول الله تاسو شام ته بوځئ نو يهوديان به يي شهيد کړي نو په دي وجه ابو طالب رسول الله مکي واپس ورسولو

شام ته دوباره سفر کول

څه زمانه پس نبي کريم صلي الله عليه وسلم (دمکي د يوي مالداره زنانه) خديجة الکبري رضي الله عنها د مال خرڅولو دپاره ددي د غلام ميسره په معيت کي دوباره شام ته روان شو،

---

[1]. عبد المطلب په رسول الله انتهايي مهربان وو ، رسول الله چي به هر کله هغه ته ورتلل غوښتل نو ورتلو به اودهغه په ګدئ به کيناستلو په کومه چي به هغه بل څوك نه کينول (قرة العيون جلد اول).

[2]. ابو طالب درسول الله حقيقي تره دي ، دهغه د کفيل کيدو نه پس يي دهغه نه بغير خوراك نه کولو ، ابو طالب چونکه عيالدار او مال دار هم نه وو نو چي کله به دی په سترخوان موجود نه وو نو نه به مړيدلو ليکن دده په برکت به موړ شو (قرة العيون جلد اول)

[3]. راهب دنصاري پيشوا ته ونيلي شي.

[4]. دا يوه معنوي سجده وه چي د انساني سجدي نه بلکل جدا وه ددينه علاوه شجر او حجر ذوي العقول او مکلف نه دي ددوئ د سجدي کولو نه دا نه لازميږي چي د يو انسان دپاره بغير د الله نه سجده کول جائز شي، رسول الله به پخپله خان ته دسجدي کولو نه خلق په سختئ سره منع کول (مشکوة).

اوبه دغه وخت كي خديجة الكبري رضي الله عنها د رسول الله په عقد كي لانه وه راغلي.
كله چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم شام ته داخل شو نود يو راهب ([1]) د حجري سره نژدي د يوي وني لاندي ده دمه كيدو دپاره كيناستو ، دي وخت دي راهب ووئيل ددي وني لاندي د نبي او رسول نه علاوه بل څوك هيڅ كله نه دي كيناستلي.
د ميسره بيان دي چي د ماسپخين په وخت كي به كله شدت زياتيدو نو دوه فرشتي به راتلي او په نبي كريم صلي الله عليه وسلم به يي سوري كولو.
ددي سفر نه د واپس كولو نه پس د نبي كريم صلي الله عليه وسلم عمر مبارك پنځه ويشت كاله دوه مياشتي لس ورځو ته ورسيدو نو د خديجة الكبري بنت خويلد رضي الله عنها سره يي نكاح عقد وكړو ([2])، په دي باره كي نور روايات هم شته، اود ۳۵ كالو په عمر كي يي د كعبي په تعبير كي شركت وكړو([3]) او پخپل لاس مبارك يي حجر اسود كيښودو.
(مختصر سيرة الرسول شاه ولي الله دهلوي)

****

٤ـ بَاب فِي مَبْعَثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنُ كَمْ كَانَ حِينَ بُعِثَ

دبعثت نبوي او دبعثت په وخت كي درسول الله دعمر بيان

---

[1]. ددي راهب نوم نسطورا وو.

[2]. وجه دعقد دا وه چي كله نبي كريم صلي الله عليه وسلم ددي سفر نه .واپس تشر يف راوړلو نود ماسپخين وخت وو او خديجة الكبري رضي الله عنهاد نورو ښځو سره په كوټي دپاسه ناسته وه اود لري نه يي د قافلي د راتلو نظاره كوله چي دوه مرغو(چي دوه فرشتي وي) په رسول الله مبارك باندي سوري كړي دي نود ميسره نه يي تپوس وكړو نو ميسره دسفر د څومره حالاتو مشاهده كړي وه ټول يي ورته بيان كړل، نو په دي وخت كي يي د نبي كريم صلي الله عليه وسلم سره يي د عقد كولو خواهش پيدا شو او نفيسه بنت اميه يي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته دپيغام وركولو دپاره وليږله او په بل روايت كي دي چي خديجة الكبري رضي الله عنها پخپله د پيغام وركولو دپاره په خدمت نبوي كي حاضره شوي وه.(قرة العيون: ۲۱/۱)

[3]. داد كعبي هغه تعمير دي كوم چي په اتم ځل شوى دى، د ټولو نه وړمبى تعمير دكعبي فرشتو جوړ كړى وو، دويم د آدم عليه السلام، دريم د شيث عليه السلام، څلورم د خليل الله ابراهيم عليه السلام، پنځم د عمالقه، شپږم جرهم، اوم د قصى بن كلاب اتم د قريشو په زمانه د رسول الله صلي الله عليه وسلم كي، (قرة العيون: ۳۲/۱).

٣٦٢١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " أُنْزِلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعِينَ، فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرًا، وَتُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي كله چې په رسول الله صلي الله عليه وسلم وحي نازليدل شروع شول عمر يي دغه وخت كي څلويښت كاله وو او بيا يي په مكه كي ديارلس كاله تير كړل او لس كاله يي په مدينه كي تير كړل بس زندګي يي ٦٣ كلونه وه.
امام ترمذي واني: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٦٢٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ سَنَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَرَوَى عَنْهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل مِثْلَ ذَلِكَ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم چې وفات كيدونو عمر يي ٦٥ كلونه وو.

****

٣٦٢٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. ح وَحَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يَقُولُ: " لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ، وَلَا بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ، وَلَا بِالْآدَمِ، وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبِطِ، بَعَثَهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ، وَتَوَفَّاهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([3])

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٢٨ (٣٨٥١) ، ٣٥ (٣٩٠٢، ٣٩٠٣) (تحفة الأشراف : ٦٢٢٤)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٢٢٤)

[3] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٣ (٣٥٤٧، و٣٥٤٨) ، واللباس ٦٨ (٥٩٠٠) ، صحيح مسلم /الفضائل ٣١ (٢٣٤٧) (تحفة الأشراف : ٨٣٣)

ترجمه : انس رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ډير زيات دنګ وو او نه ډير زيات ټيټ وو او نه ډير زيات سپين وو بلکه غنم رنګي وو چې دسر ويخته يي نه مکمل ګونجي وو او نه بالکل نيغ وو او الله تعالي ورته دڅلويښتو کالو په شروع کي نبوت ورکړي وو بيا يي په مکه کي لس کاله تير کړل او لس کاله يي په مدينه کي تير کړل او د شپيتم کال په شروع کي الله تعالي وفات کړو او درسول الله دسر او ږيري په ويختو کي ټول شل ويخته سپين نه وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٥ـ باب فِي آيَاتِ إِثْبَاتِ نُبُوَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا قَدْ خَصَّهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ

درسول الله د نبوت دلائل او دهغه خصوصيات او امتيازيات

٣٦٢٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: أَنْبَأَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُعَاذٍ الضَّبِّيُّ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ بِمَكَّةَ حَجَرًا كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ لَيَالِيَ بُعِثْتُ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مکه کي يو کاڼړي دي ماته به يي په هغه شپو کي سلام کولو په کومو شپو کي چې زه مبعوث شوي وم او هغه کاڼړي ماته اوس هم معلوم دي.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب دي.

نبوت ملاويدل

کله چې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم عمر يوه ورځ دپاسه څلويښت کالو ته ورسيدو نو الله تعالي فرمانبردارو ته د زيري ورکولو ورکولو او نافرمانو ته دتخويف ورکولو دپاره منصب

[1] ـ صحيح مسلم/الفضائل ١ (٢٢٧٧) (تحفة الأشراف : ٢١٦٥) . و مسند احمد (٥/٥٩، ٩٥) . وسنن الدارمي/المقدمة ٤

دنبوت ورکړو[1]. نبي کريم صلي الله عليه وسلم غار حرا ته لاړو او ډيري ورځي يي هلته قيام وکړو، اوهم هلته اولني وحي نازل شوه، په غار حرام کي جبريل عليه السلام حاضر شو او ويې فرمائيل "اقرء" يعني اولوله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په جواب کي اوفرمائيل زه لوستونکی نه يم رسول الله صلي الله عليه وسلم فرماني چي بيا زه جبريل عليه السلام خان پوري راجوښت کړم چي ما ورنه تکليف محسوس کړو نو بيا يي زه پريښودم او بيا يي دوباره و فرمائيل "اقرء" يعني اولوله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په جواب کي اوفرمائيل زه لوستونکی نه يم نو بيايي زه جبريل عليه السلام خان پوري راجوښت کړم او په دريم خل يي اوفرمائيل "اقراء باسم ربك" تر" مالم يعلم" پوري او همدا ابتداء دنبوت وه.

د بعضو په نزد دا واقعه په اتم ربيع الاول دوشنبي په ورځ شوي وه بيا ددي نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم د احکام الهيه اعلان په سرګنده طريقه وکړو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم د خپل قوم انتهايي درجه خير خواهي کوله ليکن اهل مکه د خپلي ناداني په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته تکاليف رسول ترددي پوري چي د يو غر په څوکه کي يي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د اهل بيت محصور کړی وو، اوتقريبا دري کالو پوري يي محاصره کړی وو، هرکله چي ددي محاصري نه ازاد شو نو دغه وخت کي يي عمر نهه څلويښت کالو ته رسيدلی وو، ددي محاصري نه د ازاديدو نه اته مياشتي يوشت ورځي پس د رسول الله صلي الله عليه وسلم تره ابو طالب وفات شو، او ددي نه دري ورځي پس خديجه رضي الله عنها هم وفات شوه [2]

هر کله چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم عمر مبارك پنځوس کالو ته ورسيدو نو د نصيبين[3] مقام جنات يي په خدمت کي حاضر شول او په اسلام مشرف شول او هرکله چي يي عمر يو پنځوس کالونهو مياشتو ته ورسيدو نو الله تعالي په معراج مشرف کړو ، د زمزم او مقام ابراهيم په مينځ کي اول بيت المقدس ته لاړو او بيا دهلته نه په براق سور شو اسمانونو ته

---

[1]. عام قانون دقدرت همدا دی چي نبوت د ۴۰ کالو نه پس ملاوېږي تمامو انبياؤ ته د ۴۰ کالو نه پس نبوت ورکړی شوی دی، رسول الله ته ظاهرا منصب دنبوت په دي عمر کي ورکړي شو اګرچي حقيقتا ورته نبوت د آدم عليه السلام د خلقت نه مخکي ورکړی شوی وو.

[2].پدغه کال رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددي دوه کسانو په جدايي سخته صدمه ور ورسيدله او په دي کال يي عام الحزن نوم کيښودو يعني د غم او ماتم کال.

[3]. نصيبين د يو ښار نوم دی او ددي جناتو تعداد اوه يا نهه وو اوپه هغوی کي د پنځوو نومونه دادي: (۱) منشي (۲) ناشي (۳) مشاصر (۴) ماضرا(۵) حقب (قرة العيون: ۲۲/۱).

وختلو او هلته وروباندي پنځه ... زيږ فرض شول.
او چي هركله يي عمر مبارك ... كالو ته ورسيدو نو په اتم ربيع الاول دوشنبي په ورځ دمكي مكرمي نه نه مدينه منوري ته ... رت وكړو اود پير (دوشنبي) په ورځ مدينه منوري ته داخل شو، او هلته د لس كاله رهائش اختيارولو نه پس وفات شو او خپل محبوت رب كبرياء ته ورسيدو.
په مذكوره تاريخ كي دعلماؤ اقوال مختلف دي كوم چي دتاريخ په لويو لويو كتابونو كي درج دي.(سيرت الرسول از شاه ولي الله دهلوي)

****

٣٦٢٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَدَاوَلُ فِي قَصْعَةٍ مِنْ غُدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ يَقُومُ عَشَرَةٌ، وَيَقْعُدُ عَشَرَةٌ. قُلْنَا: فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ. قَالَ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَعْجَبُ مَا كَانَتْ تُمَدُّ إِلَّا مِنْ هَاهُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى السَّمَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ وَأَبُو الْعَلَاءِ اسْمُهُ: يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ. [1]

ترجمه: سمره بن جندب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو لوي لوبني كي دسحر نه مابنام پوري خوراك كولو لس كسان به پاڅيدل او لس به كيناستل مونږ سمره ته په طور دتعجب اووئيل چي په دي لوبني كي به زياتوالي دكوم ځاي نه راتلو؟ هغه اووئيل په دي كي دتعجب څه خبره ده په دي كي زياتوالي نه راتلومګر دهغه ځاي نه او پخپلو لاسونو يي اسمان طرف ته اشاره اوكړه.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٦_باب
دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٦٢٦_حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ يَعْقُوبَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي ثَوْرٍ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: "كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ، فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٤٦٢٩)

نَوَاحِيهَا، فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ، وَقَالُوا: عَنْ عَبَّادٍ أَبِي يَزِيدَ، مِنْهُمْ فَرْوَةُ بْنُ أَبِي الْمَغْرَاءِ. ([1])

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مکه کي موجودوم کله چې مونږ دمکي په بعضي اطرافو کي ګرځيدو هر يو غر او هره بوه ونه چې به درسول الله مخي ته راتله تولو به "السلام عليك يا رسول الله" ونيل.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي متعددو راويانو داحديث دابن ابي ثور نه نقل کړي دي او دي تولو عن عباد ابي يزيد ونيلي دي چې يو په هغوئ کي فروه بن ابي المغراء هم دي.

****

۳٦۲۷ـحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَطَبَ إِلَى لِزْقِ جِذْعٍ وَاتَّخَذُوا لَهُ مِنْبَرًا، فَخَطَبَ عَلَيْهِ فَحَنَّ الْجِذْعُ حَنِينَ النَّاقَةِ، فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَّهُ فَسَكَنَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُبَيٍّ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَنَسٍ هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم دکجوري يوي تني ته ډډه وهلي وه او خطبه يي ورکوله او بيا خلقو درسول الله دپاره يو منبر تيار کړوخطبه يي وربانديي ورکړه دغه وخت به دي وني ژړل لکه اوښ چې څنګه ژاړي کله چې وربانديي رسول الله صلي الله عليه وسلم لاس رابنکلو نو دا تنه چپ شوه.

امام ترمذي وائي: دانس حديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب کي دابئ بن کعب، جابر، ابن عمر، سهل بن سعد، ابن عباس، او ام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****

۳٦۲۸ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ أَبِي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠١٥٩)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٢)، و مسند احمد (٢٢٦/٣، ٢٩٣)

ظَبْيَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ؟ قَالَ: "إِنْ دَعَوْتُ هَذَا العِذْقَ مِنْ هَذِهِ النَّخْلَةِ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَعَلَ يَنْزِلُ مِنَ النَّخْلَةِ حَتَّى سَقَطَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ: "ارْجِعْ". فَعَادَ فَأَسْلَمَ الأَعْرَابِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو باندچي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او وئيل يي زه څنګه معلومه کړم چې ته نبي يي رسول الله اوفرمائيل که چري زه ددي کجوري دا لخته راوغواړم نو ايا ته به بيا زما په رسول کيدو باندي ګواهي ورکړي چنانچې رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه لخته راوغوښتله او هغه دکجوري دوني نه راکوزه شوه اودرسول الله مخي ته پريوتله بيا ورته رسول الله اوفرمائيل واپس شه نو هغه واپس لاړه ددي حالت په ليدو باندي باندچي اسلام قبول کړو.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب صحيح دي.

****

٣٦٢٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا عَلْبَاءُ بْنُ أَحْمَرَ، حَدَّثَنَا أَبُو زَيْدِ بْنُ أَخْطَبَ، قَالَ: "مَسَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى وَجْهِي وَدَعَا لِي". قَالَ عَزْرَةُ: إِنَّهُ عَاشَ مِائَةً وَعِشْرِينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ إِلَّا شَعَرَاتٌ بِيضٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو زَيْدٍ اسْمُهُ: عَمْرُو بْنُ أَخْطَبَ. (2)

ترجمه : دابوزيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل لاس مبارك زما په مخ راښکلو او زما دپاره يي دعا اوغوښتله، عذره وائي هغه يوسل اوشل کالو ته رسيدلي وو او بيا هم دهغه په سر کي يو څو ويخته سپين وو.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب دي او دابوزيد نوم عمرو بن اخطب دي.

ابوزيد عمرو بن اخطب انصاري رضي الله عنه مناقب

نوم عمرو کنيه ابو اخطب جليل القدر صحابي دی انصاري دی په ديارلسو عزواتو کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره شريك شوی وو يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم دده په سر لاس راښکلو او دعا يي ورته هم اوکړه ، دده عمر يو سل او شل کاله وو ليکن په سر کي يي

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٤٠٤)

2 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٦٩٤)

صرف يو ځو وبنبته سپين شوي دا درسول الله صلي الله عليه وسلم ددعا بركت وو او يو ځو روايات دده نه مروي دي . روضة المتقين

****

٣٦٣٠ـحَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، قَالَ: عَرَضْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ إِسْحَاق بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ أَبُو طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ: "لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي ضَعِيفًا أَعْرِفُ فِيهِ الْجُوعَ، فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ، ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ ثُمَّ دَسَّتْهُ فِي يَدِي، وَرَدَّتْنِي بِبَعْضِهِ ثُمَّ أَرْسَلَتْنِي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَذَهَبْتُ بِهِ إِلَيْهِ، فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ النَّاسُ، قَالَ: فَقُمْتُ عَلَيْهِمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَرْسَلَكَ أَبُو طَلْحَةَ؟ "، فَقُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: " بِطَعَامٍ؟ "، فَقُلْتُ: نَعَمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ مَعَهُ:" قُومُوا "، قَالَ: فَانْطَلَقُوا، فَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ: يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ، قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: فَانْطَلَقَ أَبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَهُ حَتَّى دَخَلَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلُمِّي يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا عِنْدَكِ؟ "، فَأَتَتْهُ بِذَلِكَ الْخُبْزِ، فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ بِعُكَّةٍ لَهَا فَأَدَمَتْهُ، ثُمَّ قَالَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقُولَ، ثُمَّ قَالَ: " ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ "، فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا، ثُمَّ قَالَ: " ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ "، فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا، فَأَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوا وَالْقَوْمُ سَبْعُونَ أَوْ ثَمَانُونَ رَجُلًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه وائي چې ابو طلحه رضي الله عنه ام سليم رضي الله عنها ته اووئيل چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم په اواز كي كمزوري محسوس كړه او دا دلوږې وجه وه ايا تاسره خوراك دپاره څه شته؟ هغې اووئيل او، څه خو شته، دې ونيلو سره يې

[1] ـ أورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلاة ٤٣ (٤٢٢)، والمناقب ٢٥ (٣٥٧٨)، والأطعمة ٦ (٥٣٨١)، والأيمان والنذور ٢٢ (٦٦٨٨)، صحيح مسلم /الأشربة والأطعمة ٢٠ (٢٠٤٠) (تحفة الأشراف: ٢٠٠)، وط/صفة النبي ﷺ ١٠ (١٩)

د اوربشو ډوډۍ راوویستلی او دخپلی لوپټې پلو کي انغښتلی وي او ماله یی ترخ کي راکړی او دکړی باقي حصه یی ما باندي راواچوله ویی ونیل خه لاړشه دا درسول الله صلي الله علیه وسلم ته ورسوه، انس رضي الله عنه وائي چې کله زه درسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر شوم نو هغوي په جومات کي تشریف فرما وو، څه نور خلق یی په خدمت کي هم حاضر وو زه ورسره خوا کي اودریدم ، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل چې ته ابو طلحه لیږلی یي ما عرض اوکړو هو رسول الله صلي الله علیه وسلم حاضرینو ته مخاطب کیدلو په حال کي اوفرمائیل ایا روټۍ دپاره ؟ ما وویل هو رسول الله او فرمایل پاځئ ځئ، نو ټول روان شول څه دهغوي نه مخکي مخکي روان وم (اومخکي ورسیدم) ابوطلحه مي دحالاتو نه خبر کړو، ابوطلحه ام سلیم ته اوونیل چې رسول الله صلي الله علیه وسلم څوکسانو ملګرو سره مونږ کره تشریف راوړي دهغوي دمیلمستیا دپاره زمونږ کره خو هیڅ څیز نشته ؟ ام سلیم اوونیل (دفکر خبره ده) الله او دهغه رسول ښه پوهیږي ابو طلحه دهغوي داستقبال دپاره بهر اووتلو او هغوي سره ملاؤ شو، رسول الله صلي الله علیه وسلم ده سره یو خایی کور ته راورسیدو، کله چې یی دننه تشریف راوړو ویی فرمائیل، ام سلیم، کوم څه چې تاسو کره دي هغه راوړئ، ام سلیم هغه داوربشو ټیکلي راوړل، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته دهغی دټکړی کولو حکم ورکړو ، ام سلیم په هغه ټکړو باندي دغړمنی دوړوکي شان لوښي نه غوړي واچول او دانګلي بدل یی اوګرځولو بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم په هغه ټکړو باندي دبرکت دعا اوغوښتله او هغه د برکت الفاظ یی ارشاد اوفرمائیل لس سړي دننه راوبله نو هغه راغلل او په مړه خیټه یی ډوډۍ اوخوړله او بهر ته لاړل بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل نور لس کسان راوله هغه هم راوستلی شو او په مړه خیټه یی ډوډۍ اوخوړله لاړل، دغسی لس لس کسان به رابللی شو او پوره حاضرین چې اویا یا اتیا کسان وو ښه ماړه شول.

امام ترمذي وائي: دا حدیث حسن صحیح دی.

لغات : فلفّت: لفّ معنی انغښتل لکه لفّ المیت في اکفانه یعني مړي یي په کفن کي ونغښتلو. النسيء بالشيء یوڅیز لره دبل څیز سره ملاوول ففت فتّ فتا وفتّ الشيء په ګوتو ټوټي ټوټي کول لکه چې ویلي شي فتّ في ساعده، یعني کمزوري یي کړو.

تشریح : په دي حدیث کي هم درسول الله دمعجزي ذکر دی او دیوڅو اهمو خبرو بیان دی اول "یاابتاه" په دي کي انس رضي الله عنه طلحه ته پلار ونیلي دي لیکن دا یي دادب او احترام په وجه ونیلي وو ورنه ابو طلحه دانس رضي الله عنه سکه پلار نه وو دهغه دپلار نوم مالك بن نضر وو او مور یي ام سلیم وه مسلمانه شوي وه مګر مالك بن نضر اسلام قبول نکړو او شام ته لاړو او بیا هلته مړ شو او ام سلیم دویمه نکاح دابوطلحه سره اوکړه نو دی د انس ناسکه پلار

وو. دويم "ثم اكل النبي صلي الله عليه وسلم قال ذلك اهل البيت"بياددينه پس رسول الله او دهغه كورنۍ خوراك اوكړو ددي جملي نه علامه نووي دا ستدلال كړی دی چې په ميزبان باندي دا لازم دي چې اول په ميلمنو خوراك اوكړي نو كه څه پاتي شي نو هغه دي بياپخپله اوخوري لكه څنګه چې دلته طلحه رضي الله عنه او دهغه كورنۍ كړي دي دريمه خبره فاكل عشرة عشرة ، يعني لسو لسو كسانو خوراك اوكړو په دي كي دوه وجي كيدی شي اوله وجه داده چې ځاي تنګ وو دلسو نه زيات كسان يوځاي نشو كيناستلي دويمه وجه داده چې لوښی وړوكی وو دومره خوراك پكي نه ځايدو چې دلسو كسانو نه دزياتو دپاره كافي كيږي.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم معجزات

١...اوله معجزه قران مجيد دي:

د رسول الله صلي الله عليه وسلم په معجزاتو كي د ټولو نه لويه معجزه قران مجيد وو ، هيڅ كو كس د قران د يو سورت پشان سورت په جوړولو قادر نه دی، په قران كي د سابقينو او مجودينو درست حالات بيان شوي دي.

معجزه د شق صدر:٢... بله معجزه د شق صدر ده، واقعه داسي وه چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ماشوالي په زمانه فرشته د رسول الله سينه شلولي وه اود ايمان اود علم نه يي ډكه كړي وه.

معجزه د معراج : ٣... بله معجزه د معراج ده [1] ، هر كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيت المقدس او معراج ته تلل ظاهر كړل نو كفارو يي تكذيب وكړو ، او د بيت المقدس دبعضي هغه مقاماتو استفسار يي وكړو كومو ته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم توجه نه وه كړي، نو الله تعالي خپل رسول ته بيت المقدس منكشف كړو، اوچي كوم سوال به دوی كولو دهغه به درست درست جواب وركولو.

معجزه د شق القمر : ٤... بله معجزه د شق القمر [2] ده، واقعه داسي وه كفارو خپلو كي مشوره وكړله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم شهيد كړي ليكن كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راووتلو نو د ټولو نظرونو كار ونكړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم وړاندي راغلو او ددوی په سرونو ودريدو او يو موټي خاوري يي راواخستلي او شاهت الوجوه(يعني مخونه

---

[1]. په اصل كتاب كي اسري لفظ مذكور دی چې معني د شپي په لاره . تلل دي، چونكه په معراج كي هم د شپي تلل شوي وو نو ځكه يي معراج ترجمه وشوه.

[2]. يو ځل كافرانو د شپي درسول الله معجزه طلب كړه نو رسول الله ورته د شهادت په ګوته اشاره وكړله نو سپوږمۍ په مينځ دوه ټوټي شوه.

خراب شول، الفاظ يي اوفرمائيل او بيا ددوي طرف ته وغورځولي، کومو کسانو ته چي ددي گيتو اثر ورسيدو هغوئ په غزوه بدر کي هلاك شول.

په غزوه حنين کي دشمنانوطرف ته يو موټي خاوره شيندل اوهغوئ ناکام کيدل:

۵...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په غزوه حنين کي دشمنانوطرف ته يو موټي خاوره وشيندله او هغوئ ناکام شول.

د غارحرا په خوله کي د جولاګي جاله جوړول اودشمنانوته نه ښکاريدل:

۶...دغار ثور[1] په خوله کي جولا جاله جوړه کړه چي مشرکان مکه راغلل نو هغوئ ونه ليدلو، ددي نه دا معلومه شوه چي گويا په غار کي څوك نشته.

د تعاقب په وخت کي د سراقه بن مالك داس خښيدل.

۷...يوه معجزه داوه چي د هجرت په وخت کي کله سراقه بن مالك په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي وريسي کيدل او تعاقب کول اوغوښتل نو آس يي په زمکه کي خښ شو.

د هوسئ د بچي پئ ورکول ۸...يوه معجزه داوه چي کله رسول الله صلي الله عليه وسلم د يوي هوسئ د وړوکي بچي کوم چي لاځوان شوی نه وو په شا لاس رابنکلو او پئ ورنه جاري شو، او همدارنگي د ام معبد د چيلئ واقعه هم وه او حال دادی چي هغه په دغه وخت کي د پيو ورکولو قابل نه وه.

د عمر فاروق د اسلام راوړلو دپاره دعا غوښتل او فورا قبليدل ۹...يوه معجزه داوه چي کله رسول الله صلي الله عليه وسلم د امير المؤمنين عمرفاروق رضي الله عنه مسلمانيدل اوغوښتل نو د الله تعالي نه يي دعا اوغوښتله چنانچې دعا قبوله شوه او همداسي وشول.

د علي رضي الله عنه د خوږسترگي دپاره دعا غوښتل او فورا روغيدل:

۱۰...يوه معجزه داوه چي يوځل علي رضي الله عنه دگرمئ او يخنئ دموسمي اثر په وجه د سترگو دخوگيدو شکايت وکړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلي لاړي مبارکي دده په سترگو کي واچولي نو فورا سترگي روغي شوي.او بيا ددينه پس هيڅ کله د علي رضي الله عنه سترگي خوگ شوي نه دي.

د قتاده بن نعمان د زخمي اود راوتلي سترگي جوړيدل: ۱۱...يوه معجزه داوه چي يو ځل د قتاده بن نعمان سترگه په جنگ کي زخمي شوه او په مخ يي بهر پرته وه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده سترگه واپس پخپل ځاي کينودله اوداسترگه بيا د روغي زياته ښکلي او زيات نظر والا وگرځيدله.

---

[1]. مراد ورنه هغه مقام دی چرته چي رسول الله قيام کړی وو.

د ابن عباس قران فهمي: ۱۲...یوه معجزه داوه چي یو خل رسول الله صلي الله علیه وسلم د ابن عباس رضي الله عنه دپاره دعا اوغوښتله چي الله تعالي دي ورته ددین او د قران فهم ورکړي چنانچي ددعا غوښتلو نه پس همداسي وشول.

د جابر رضي الله عنه د لږو کهجورو دپاره دبرکت دعا غوښتل او ددي زیاتیدل:

۱۳...یوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یوخل د قتاده دهغه کهجورو دپاره د برکت دعا اوغوښتله کومي چي په ډیر کم مقدار کي وي ، چنانچي جابر رضي الله عنه په مړه خیټه پخپلو میلمنو وخوړلي او بیا هم دیارلس وسقه[1] باقي پاتي شوي.

د رسول الله صلي الله علیه وسلم ددعا په برکت جابر رضي الله عنه دسست اوښ تیزیدل

۱۴...یوه معجزه داوه چي د جابر رضي الله عنه اوښ به همیشه په لاره د قافلي نه روسته پاتي کیدو چي کله ورته رسول الله صلي الله علیه وسلم دعا وکړه نو بیا به د هرچا د اوښ نه مخکي تلو.

د انس رضي الله عنه دپاره په عمر او اولاد او مال کي د برکت دعا غوښتل او ددي اشیاو زیاتیدل:

۱۵...یوه معجزه داوه چي یو خل رسول الله صلي الله علیه وسلم د انس رضي الله عنه دپاره په عمر او مال او اولاد کي د برکت دعا اوغوښتله ، چنانچي ددعا نه پس همداسي وشول.

د باران دپاره دعا غوښتل او پوره یوه هفته باران کیدل:

۱۶...یوه معجزه داوه چي یو خل رسول الله صلي الله علیه وسلم د باران دپاره دعا اوغوښتله ددعا غوښتلو نه پس پوره یوه هفته باران وشو، بیا د باران ودریدو دپاره دعا اوغوښتله نو باران فورا ودریدو.[2]

د عتبه بن ابي لهب د هلاکت دپاره د رسول الله ددعا قبلیدل:

۱۷...یوه معجزه داوه چي یو رسول الله صلي الله علیه وسلم دعتبه بي لهب د هلاکت دپاره دعا اوغوښتله نو شام علاقه کي په زرقاء مقام کي شرمخ وخوړلو او مړ شو.

د اسلام په حقانیت د ونو ګواهي ورکول:

۱۸...یوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یو خل یو اعرابي ته داسلام دعوت ورکړو اعرابي ووئیل ته چي څه وایي په دي څه ګواه شته او کنه ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل هو ګواه موجود دي او هغه دا ونه ده، پس ونه یي راوغوښتله او دري پیري

---

[1]. وسق د یو خاص وزن نوم دی.

[2]. دا دعا یي د جمعي په خطبه کي غوښتلي وه اودغه وخت د ورغوي په مقدار وریځ هم په اسمان کي نه وه.

گواهي یې ورکړله او بیا بیرته خپل ځاي ته لاړله.

د دوه ونو یوځاي کیدل:

۱۹...یوه معجزه داوه چي یو ځل رسول الله صلي الله علیه وسلم دوه ونو ته حکم وکړو چي یو ځاي شئ نو هغوئ فورا یوځاي شوي.

د اودس ماتي وخت کي د پردي جوړیدو دپاره د کهجورو د ونو راجمع کیدل: ۲۰...یوه معجزه داوه چي یو ځل رسول الله صلي الله علیه وسلم ته د قضاء حاجت ضرورت پیښ شو نو انس رضي الله عنه ته یې حکم وکړو چي ورشه اود کهجورو یو څو ونو ته اووایه چي جمع شئ نو هغه همداسي وکړل او د کهجورو وني جمع شوي ، کله چي رسول الله صلي الله علیه وسلم د قضاء حاجت نه فارغ شو نو ورته یې اوفرمائیل چي ورشه اود کهجورو ونو ته اووایه واپس خپل خپل ځاي ته لاړي شئ، چنانچي هره ونه خپل خپل ځاي ته لاړله

رسول الله صلي الله علیه وسلم ته د پریوتلو په وخت کي د یوي وني راتلل: ۲۱...یوه معجزه داوه چي یو ځل رسول الله صلي الله علیه وسلم په یو ځاي کي اوده وو او یوي وني زمکه وشلوله او رسول الله صلي الله علیه وسلم ته نژدي راغله او ودریدله کله چي رسول الله صلي الله علیه وسلم بیدار شو نو صحابه کرامو ورته واقعه عرض کړه نو وئي فرمائیل دي وني د الله تعالي نه ماته د سلام کولو اجازت غوښتلي وو او الله تعالي ورته اجازت ورکړو.

د نبوت په شپه په رسول الله صلي الله علیه وسلم د ونو سلام ونیل: ۲۲...یوه معجزه داوه چي د نبوت په شپه کانړو او ونو دا کلمات ووئیل: السلام علیك یارسول الله، اویه نبي علیه السلام یې درود او سلام ووئیلو.

د رسول الله صلي الله علیه وسلم په لاس کي د کانړو او ګیټو تسبیح ونیل: ۲۳...یوه معجزه داوه چي کانړو ګیټو د رسول الله صلي الله علیه وسلم په لاس مبارك کي تسبیح ووئیله او دارنګي خوراکي اشیاؤ هم تسبیح ووئیله.

رسول الله ته په خوراك کي زهر اچول: ۲۴...یوه معجزه داوه چي کافرانو د یوي چیلئ په غوښه کي زهر واچول چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یې وخوري او وفات شي او دوئ ورنه خلاص شي نو دي غوښي رسول الله صلي الله علیه وسلم ته د زهرو شاملیدو خبر ورکړو.

رسول الله ته د یو اوښ شکایت کول: ۲۵...یوه معجزه داوه چي یو اوښ د خپل مالك نه رسول الله صلي الله علیه وسلم ته شکایت وکړو چي زما مالك ماته خوراك کم راکوي او کار راباندي زیات کوي.

رسول الله ته د یوي ترلي شوي هوسئ درخواست کول: ۲۲...یوه معجزه داوه چي اي د الله رسوله ماته ازاده کړه چي خپل بچي ته پئ ورکړم نو واپس به راشم نو رسول الله صلي الله علیه وسلم دا

ازاده كړه او دي اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله ووئيل

په غزوه بدر كي درسول الله خبر وركول چي فلاني كافر به په فلاني مقام كي قتل كيږي:

۲۷...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په غزوه بدر كي صحابه كرامو ته خبر وركړي وو د فلاني كافر قتل گاه فلاني مقام دي او د فلاني فلاني مقام دي نو په هغوئ كي دي هيڅوك د خپل معين مقام نه متجاوز نشو او په هم هغه مقام كي قتل كړى شو.

درسول الله دا خبر وركول چي په مسلمانانو كي يو جماعت به د كافرانو سره په سمندر كي جنګ كوي: ۲۸...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خبر وركړي وو چي په مسلمانانو كي يوه ډله به د كفارو سره په بحر كي جنګ كوي او ام احرام به په دي جماعت كي شامله وي چنانچي همداسي وشول.

درسول الله دا خبر وركول چي په عثمان بن عفان به سخت ازمائش راځي: ۲۹...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خبر وركړي وو چي په عثمان رضي الله عنه به سخت ازمائش راځي چنانچي همداسي وشول او په همدي مصيبت عثمان رضي الله عنه شهيد كړى شو.

درسول الله نه پس به نورو خلقو ته په انصارو ترجيح وركولى شي: ۳۰...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم انصارو ته فرمائيلي وو چي زما نه پس به داسي وخت راشي چي په تاسو به نورو خلقو ته ترجيح وركولى شي ، چنانچي بيا دا صورت د معاويه رضي الله عنه په زمانه كي پيښ شو.

د حسن متعلق د رسول الله پيشين كوئي: ۳۱...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحسن متعلق فرمائيلي وو چي زما دا بچى به سيد يعني د قوم سردار وي او عنقريب به دى د دوه مسلمانانوجماعتونو مينځ كي صلح كوي چنانچي همداسي وشول.

د اسود عنسي(متنبي) كذاب د قتل خبر وركول: ۳۲...يوه معجزه داوه هر كله چي اسود عنسي كذاب په صنعاء ښار كي چي د يمن يوه علاقه ده قتل كړى شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده د قتل او دده د قاتل درست خبر وركړو.

د ثابت بن قيس باره كي د شهيد كيدو خبر وركول: ۳۳...يوه معجزه داوه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دثابت بن قيس رضي الله عنه باره كي فرمائيلي وو يعيش حميدا و يقتل شهيدا يعني ښكلي ژوند به تيروي او د شهادت مرګ به يي نصيب كيږي، چنانچي بيا ثابت په جنګ يمامه كي شهيد كړى شو.

كفارو ته د تختيدو نكي يو مرتد باره كي دا خبر وركول چي زمكه به يي نه قبلوي:

۳۴...یوه معجزه داوه چي یو کس مرتد شو او په کفارو کي شامل شو نو رسول الله ته دده د منتقل کیدو خبر راورسیدو نو وئي فرمائیل چي زمکه به ده لره نه قبلوي چنانچي ډیر کرته دفن کړی شو مگر هر ځل به زمکي بهر راغورځولو.

د رسول الله په خیرو د یو کس لاس شل کیدل: ۳۵...یوه معجزه داوه چي یو کس په کس لاس خوراك کولو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل په ښي لاس خوراك کوه، ده په دروغه بهانه وکړه چي زه په ښي لاس خوراك نشم کولی نو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته خیري وکړي چي هیڅکله دي درته په ښي لاس د خوراك کولو توفیق نصیب نشي نو ددي نه پس هغه په ټول ژوند کي ښي لاس خولي ته نشو پورته کولی.

دفتح مکي په ورځ د رسول الله په اشاري په کعبه کي موجود بتانو لاندي راپریوتل:

۳۶...یوه معجزه داوه هرکله چي د فتح مکي په ورځ رسول الله صلي الله علیه وسلم مسجد حرام ته داخل شو نو په لاس کي یي یوه چوکه وه اود کعبي په حوالي کي چي کوم بتان موجود وو پدي چوکه به یي هغوئ ته اشاره کوله او دا کلمات به یي وئیل: جاء الحق وزهق الباطل اوچي کوم بت ته به یي اشاره وکړله نو هغه به پخپله راوغورځیدلو.

د زمان بن عضویه واقعه : ۳۷...یوه معجزه د زمان بن عضویه واقعه ده او هغه داسي وه چي زمان د یو بت نه یو څو کلمات واوریدل چي ترجمه یي داده: (اي د زمان قبیلي ! واورئ چي تاسو به خوشحاله شئ او یو لوي خیر ظاهر شوی دی او یو لوي شر پټ شوی دی د مضر قبیلي یو نبي د الله دین راوړی دی پس تاسو لره پکار دي چي ودریدلي کاڼي(بتان) پریږدئ تردي چي دجهنم د اور نه محفوظ شئ) ، او په دویم ځل یي دا کلمات واوریدل: (زما واورئ، زما واورئ تاسو به یو داسي خبر واورئ د کوم نه چي جاهل پاتي کیدل مناسب نه دي اوهغه د یو مرسل نبي خبر دی چي د الله نه یي وحي راوړي ده تاسو وربانديِ ایمان راوړئ تردي چي دلمبي وهونکي اور نه بچ پاتي شئ چي سکروټي یي د کاڼو دي) ددي واقعي په وجه هغه په اسلام راوړلو مجبور شو.

د سوار بن قارب واقعه : ۳۸...یوه معجزه د سوار بن قارب قصه ده حاصل د قصي دادي چي سوار د جاهلیت په زمانه کي کاهن وو او جناتو به ورته د راتلونکو واقعاتو خبر راوړلو یو جن ورته دري شپي مسلسل درسول الله د نبوت خبر راوړو چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم اتباع ضروري ده، ددي خبر متعلق هغه د رسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر شواو مسلمان شو.

د یوي خادمئ او نولي درسول الله په نبوت گواهي ورکول: ۳۹...یوه معجزه داوه چي یوځل یوي خادمئ یا نولي د رسول الله صلي الله علیه وسلم په نبوت گواهي ورکړله.

يو صاع كهجوري د زرو كسانو په مړه خيټه خوراك نه زياتيدل:

۴۰...يوه معجزه داوه چې په غزوه خندق كې يې د يو صاع وربشو نه خوراك تيار كړو او په زرو كسانو يې په مړه خيټه خوراك وكړو او خوراك اود اصل مقدار نه زيات خوراك باقي پاتې شو.

په كم راشن كې دبركت دپاره دعا غوښتل او راشن كافي كيدل او زياتيدل: ۴۱...يوه معجزه داوه چې يو ځل صحابه كرام د خوراك د كمي سره مخامخ شول نو چې كوم راشن د صحابه كرامو سره باقي پاتې موجود وو رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغې كې دبركت دعا اوغوښتله اوپه لښكر يې تقسيم كړو تردې چې بيا راشن دتمام لښكر دپاره كافي شو.

په يو موټي كهجورو كې دبركت ددعا دپاره د ابو هريره درخواست كول:

۴۲...يوه معجزه داوه چې يو ځل ابو هريره رضي الله عنه يو موټي كهجوري په دربار نبوت كې پيش كړې او عرض يې وكړو چې اې د الله رسوله په دې كهجورو كې د بركت دپاره دعا اوغواړه تردې چې رسول الله پدې كې د بركت دپاره دعا اوغوښتله ، د ابو هريره رضي الله عنه بيان دى چې بيا ما دا كهجوري په يوه بوجۍ كې واچولې ما چې به ورنه هر څومره خرچ كولې نو په كهجورو كې به كمى نه راتلو ، ډير زيات مقدار مې د الله په لاره كې خرچ كړو ، اوهميشه به مې ددې نه پخپله هم خوړلې او خلقو ته به مې هم د خوراك دپاره وركولې تردې چې د عثمان رضي الله عنه د شهادت پورې دا بركت موجود وو او بيا دهغه دوفات نه پس دا بركت ختم شو.

داهل دپاره ثريد د بركت ددعا په وجه زياتيدل: ۴۳...يوه معجزه داوه چې يوځل اهل صفه [1] ته د ثريد [2] طعام دعوت وركړو او ددوئ دپاره يې يوه كاسه ثريد تيار كړو ، د ابو هريره رضي الله عنه بيان دى چې زما هم خوراك ته ضرورت وو نو زه به دوئ ته بار بار مخامخ كيدم ترې دې چې زه هم په مدعوينو كې شامل شم ، مگر كله چې هغوئ رخصت شول نو په كاسه هيڅ باقي نه وو پاتې شوي مگر هغه چې دكاسې كنارې ورباندې ككړې وې، پس رسول الله صلى الله عليه وسلم دا په گوتو راجمع كړل اود يوې لقمې په مقدار برابر شول، دا يې په گوتو كې ونيول اود الله تعالى د نوم په بركت يې دعا اوغوښتله ، دابو هريره رضي الله عنه بيان دى چې په الله قسم زه ورباندې موړ شوم.

د رسول الله د گوتو مباركو نه د چينې جاري كيدل: ۴۴...يوه معجزه داوه چې يو ځل په يو سفر

---

1. اهل صفه د غريبانو مسلمانانو هغه جماعت دى كوم چې په مسجد نبوي كې اوسيدل، اود اوسيدو دپاره يې كورونه نه لرل.

2. ثريد په عربۍ په شوروا كې ماتې شوې دوډۍ ته وايي.

کي د اوبو د ضرورت په موقع د رسول الله صلي الله عليه وسلم د گوتو مبارکو نه د اوبو چينه جاري شوه چي څوارلس سوه کسانو وڅکلي او اودسونه وغيره يي هم ورباندي وکړل.

په لوخي کي د رسول الله د گوتو داخلولو په سبب د اوبو زياتيدل: ۴۵... يوه معجزه داوه چي يو خل په يوه پياله کي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوبه پيش کړی شوي رسول الله اوغوښتل چي لوښي ته گوتي داخل کړي ليکن لوښي وړوکي وو تولي گوتي ورته نشوي داخليدي نو څلور گوتي يي لوښي ته داخل کړي او صحابه کرام يي را اوغوښتل چنانچي اويا يا اتيا کسانو ددي اوبو نه اودسونه وکړل.

په غزوه تبوک کي د يو کس د کفايت په مقدار اوبوه د ديرشو زرو کسانو دپاره کافي کيدل:

۴۶... يوه معجزه داوه چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په موجودگئ کي غزوه تبوك ته د دير زره کسانو لښکر روان وو نو خلقو رسول الله ته په لاره د اوبو شکايت وکړو ، بيا د رسول الله صلي الله عليه وسلم په دومره اوبو تيريدل او شول چي د يو کس دپاره کافي کيدي شوي ، پس رسول الله د خپل تير کش نه يو غشي راوويستلو او حکم يي وکړو چي دا غشي په دي اوبو کي واچوئ او اوبه رارواني کړئ اوبو په روانولو سره دومره جوش وکړو چي دديرش زره کسانو تول لښکر سيراب شو.

د رسول د لعاب په برکت دکوهي اوبه خوږيدل او زياتيدل: ۴۷... يوه معجزه داوه چي يو خل يو قوم د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او شکايت يي وکړو چي د فلاني کوهي اوبه تروي دي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه کرامود يو جماعت سره دي کوهي ته لاړو اوپه کوهي ودريدلو او خپل لعاب مبارك يي کوهي ته وغورځول نو ددي کوهي دومره خوږي اوبه جاري شوي چي په راويستلو به هيڅکله نه کميدلي.

د يو گنجي په سر لاس رانښکلو سره دهغه په سر ويښته راتلل: ۴۸... يوه معجزه داوه چي يو خل يوي ښځي خپل يو گنجي بچي چي ماشوم وو د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر کړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغه په سر لاس مبارك رانښکلو اودهغه په سر ويښته راغلل او بيماري يي ختمه شوه ، اهل يمامه چي دا واقعه واوريدله نو په دوئ کي يوي ښځي خپل روغ بچي مسليمه كذاب [1] ته روان کړو نو هغه ورله په سر لاس رانښکلو نو هغه گنجي شو او بيا يي دا بيماري په نسل کي باقي پاتي شوه.

په غزوه بدر کي د لرگي دتوري نه د وسپني توره جوړيدل: ۴۹... يوه معجزه داوه چي په غزوه

[1]. مسيلمه په عربو کي د يو کس نوم وو چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي يي د نبوت دعوي کړي وه.

بدر كي د عائشه رضي الله عنها توره ماته شوه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته يو لرگي ورکړو او دهغه لرگي نه توره جوړه شوه او بيا ورسره هغه هميشه پاتي شوه.

په غزوه خندق كي بغير داسبابو د يو لوي كا ڼري ماتيدل: ۵۰... يوه معجزه داوه هركله چي په غزوه خندق كي خندق كنستلى كيدو نود كنستلو دوران كي يو لوي كمر مخي ته راغلو صحابه كرامو چي ددي په ماتولو هرڅومره كوشش وكړو خو مات يي نكړى شو مگر د رسول الله صلي الله عليه وسلم د لاس مبارك په يو گذار باندي مات او ټوټي ټوټي شو.

د رسول الله ددعا په بركت د ابورافع ماته خپه روغيدل: ۵۱... يوه معجزه داوه چي يو خل د ابو رافع رضي الله عنه خپه ماته شوه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي لاس مبارك رابنكلو نو د ابو رافع خپه روغه شوه. او داسي معلوميدله چي هيڅكله په دي خپه كي كوم عيب ندي پيدا شوي.

مختصر دا چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم معجزات دومره ډير دي چي په دي مختصر كتاب كي نشي ځاي كيدى.

****

٣٦٣١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَانَتْ صَلاَةُ الْعَصْرِ، وَالْتَمَسَ النَّاسُ الْوَضُوءَ فَلَمْ يَجِدُوهُ، فَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَضُوءٍ، فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي ذَلِكَ الإِنَاءِ وَأَمَرَ النَّاسَ أَنْ يَتَوَضَّئُوا مِنْهُ، قَالَ: فَرَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ تَحْتِ أَصَابِعِهِ، فَتَوَضَّأَ النَّاسُ حَتَّى تَوَضَّئُوا مِنْ عِنْدِ آخِرِهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَزِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ، وَحَدِيثُ أَنَسٍ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چي دمازيگر مونځ وخت شو خلقو د اودس دپاره اوبه لټولي ليكن نه موندلي كيدلي دي وخت كي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د اودس دپاره اوبه راوړلي شوي رسول

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الوضوء ٣٢ (١٦٩)، و٤٥ (١٩٥)، و٤٦ (٢٠٠)، والمناقب ٢٥ (٣٥٧، ٢ـ ٣٥٧٥)، صحيح مسلم/الفضائل ٢ (٢٢٧٩)، سنن النسائي/الطهارة ٦١ (٧٦) (تحفة الأشراف : ٢٠١)، وط/الطهارة ٦ (٣٢)، ومسند احمد (٣/١٣٢، ١٤٧، ١٧٠، ٢١٥)

الله په دي لوبني كي دري پيري لاس كيخودو او خلقو ته يي حكم اوكړو چې ددينه اودسونه اوكړئ ما درسول الله دګوتو لاندي د اوبو راخوټكيدل اوليدل خلقو اودس اوكړو تردي چې په دوئ كي څوك اخري كس وو هغه هم اودس اوكړو.

امام ترمذي وائي: د انس دا حديث صحيح دي، په دي باب كي دعمران بن حصين ، ابن مسعود، جابر، او زياد بن حارث صدائي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح : حانت الصلاة: دمونځ وخت راغى ، په يو بل روايت كي دا الفاظ هم منقول دي رئيت رسول الله صلي الله عليه وسلم وحانت صلاة العصر فالتمسوا الوضوء فلم يجدوه. يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم مي په داسي وخت كي اوليدو چې دمازيګر دمونځ وخت وو او اوبه يي لټولي كو ملاؤ نشوي.

په يو بل روايت كي ددي په ځاي دا الفاظ هم منقول دي خرج النبي صلي الله عليه وسلم في بعض مخارجه ومعه ناس من اصحابه فانطلقوا يسرون فحضرت الصلاة فلم يجدوا ماء يتوضئون فاتي رسول الله صلي الله عليه وسلم بمخضب. دبخاري الفاظ دادي فانطلق رجل من القوم فجاء بقدح من ماء يسير.

فتوضأ القوم كلهم ، يعني ټولو ددينه اودس اوكړو په يو بل روايت كي دا الفاظ راغلي دي فاخذه النبي صلي الله عليه وسلم فتوضاء ثم مده اصابعه الاربع علي القدح ثم قال قوموا توضوء.

****

٣٦٣٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي الزُّهْرِيُّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "أَوَّلُ مَا ابْتُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النُّبُوَّةِ حِينَ أَرَادَ اللَّهُ كَرَامَتَهُ وَرَحْمَةَ الْعِبَادِ بِهِ أَنْ لاَ يَرَى شَيْئًا إِلاَّ جَاءَتْ، مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ. فَمَكَثَ عَلَى ذَلِكَ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَمْكُثَ، وَحُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلْوَةُ، فَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يَخْلُوَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي اولني هغه څيز دكوم نه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دنبوت ابتداء شوي وه او كله چې الله تعالي خپل رسول ته

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٦١٢)

عزت ورکړو او دهغه په ذریعه یې خپلو بندګانو ته د رحمت او مغفرت اراده کړې وه هغه څیز دا وو چې رسول الله به هر خوب لیدلو دهغې تعبیر به دسحر دراختلو پشان ظاهریدلو او دهغه همدا حال وو څو پورې چې یې دالله تعالی خوښه وه دغه ورځو کې تنهائي او د رسول الله داسې خوښ وو چې دومره یې بل څیز نه وو خوښ.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح غریب دئ.

****

٣٦٣٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: إِنَّكُمْ تَعُدُّونَ الآيَاتِ عَذَابًا، وَإِنَّا كُنَّا نَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرَكَةً، لَقَدْ كُنَّا نَأْكُلُ الطَّعَامَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ. قَالَ: وَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِنَاءٍ فَوَضَعَ يَدَهُ فِيهِ، فَجَعَلَ الْمَاءُ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " حَيَّ عَلَى الْوَضُوءِ الْمُبَارَكِ، وَالْبَرَكَةُ مِنَ السَّمَاءِ " حَتَّى تَوَضَّأْنَا كُلُّنَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي تاسو دالله تعالی ایتونه او نخې عذاب ګڼئ او مونږ به دا څیزونه درسول الله په زمانه کې برکت ګڼرلو، مونږ به درسول الله صلی الله علیه وسلم سره خوراك کولو او مونږ به دخوراك تسبیحات وئیل اوریدل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو لوښي راوړلي شو په لوښي کې یې خپل لاس کیخودو نو دګوتو دمینځ نه یې داوبو راخوتکیدل شروع شول او بیا یې اوفرمائیل راشئ او په دې برکتي اوبو اودس اوکړئ او دا برکت داسمان نه نازلیږي تردې پورې چې مونږ ټولو به اودس اوکړو.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دی.

****

٧_باب مَا جَاءَ كَيْفَ كَانَ يَنْزِلُ الْوَحْيُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په رسول الله صلی الله علیه وسلم به وحي څنګه نازلیدله

٣٦٣٤_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ،

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/المناقب ٢٥ (٣٥٧٩) (تحفة الأشراف: ٩٤٥٢). وسنن الدارمي/المقدمة ٥ (٣٠). و مسند احمد (١/٤٦٠)

عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ الحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ يَأْتِيكَ الوَحْيُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَأْتِينِي فِي مِثْلِ صَلْصَلَةِ الجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ المَلَكُ رَجُلًا، فَيُكَلِّمُنِي، فَأَعِي مَا يَقُولُ". قَالَتْ عَائِشَةُ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الوَحْيُ فِي اليَوْمِ ذِي البَرْدِ الشَّدِيدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ، وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي حارث بن هشام رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو تاسو ته وحي څنګه راځي؟ رسول الله اوفرمائيل کله کله ماته د ټلئ داواز پشان اواز راځي او دا صورت زما دپاره ډير سخت وي او کله کله فرشته ماته دانسان په شکل راځي او ماسره خبري کوي فرشته چې څه وائي هغه زه يادوم، دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم دسختي يخنئ په ورځو کې اوليدو چې وحي ورباندي نازليدله کله چې دوحي نزول ختم شو نو د تندي نه يې خولو داري وهلي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٨_بَاب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي كريم صلي الله عليه وسلم دحلي بيان

٣٦٣٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ البَرَاءِ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَهُ شَعْرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدُ مَا بَيْنَ المَنْكِبَيْنِ، لَمْ يَكُنْ بِالقَصِيرِ وَلَا بِالطَّوِيلِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما هيڅ يو کس په داسي حال کي نه دي ليدلي چې ويخته يې دغوږونو دنرمئ نه لاندي وي او په سره جوړه کي درسول الله

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الوحي ٢ (٢) . وبدء الخلق ٦ (٣٢١٥) . صحيح مسلم/الفضائل ٢٣ (٢٣٣٣) . سنن النسائي/الافتتاح ٣٧ (٩٣٤، ٩٣٥) (تحفة الأشراف : ١٧١٥٢) . وط/القرآن ٣ (٧) . ومسند احمد (٦/١٥٨، ١٦٣، ٢٥٧)

2 _ انظر حديث رقم ١٧٢٤ .

صلي الله عليه وسلم نه زيات ښائسته وي دهغوی ویخته به دواړو اوږو ته رارسیدل او درسول الله ددواړو اوږو مینځ کي کافي فاصله وه نه ډير ټيټ قد والاوو او نه ډير لوړ قد والاوو.
امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دي.

اخلاق نبوي

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اخلاقو متعلق چي د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه كله تپوس وشو نو په جواب كي يي اوفرمائيل: د رسول الله صلي الله عليه وسلم اخلاق قران مجيد وو، يعني د رسول الله صلي الله عليه وسلم خوشحالي او خفگان د قران موافق وو، (١).
د خپل خان په وجه به يي د چا نه خفگان نه كولو او نه به يي د چا نه بدله او انتقام اخستلومگر كله چي حقوق الهيه ضائع كيدل نو صرف د الله تعالي دپاره به يي انتقام اخستلو.
كله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم غصه شو نو هيڅوك به يي غصي ته نشو ټينگيدلی ،
رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چا نه زيات بهادر اود هر چا نه زيات سخي وو ، هيڅكله اتفاقا هم داسي نه دي شوي چي سوال ورنه شوی وي او هغه يي رد كړی وي اود شپي وخت كي به رسول الله صلي الله عليه وسلم كوم درهم يا دينار په كور كي باقي نه پريښودلو او كله چي به څه باقي پاتي شول او څوك مستحق به ورته رانغلو نو تر هغه وخته پوري به كور ته نه داخليدو تر څو چي به يي دا كوم مستحق ته رسولی نه وو.
د عطيات الهيه يعني د بيت المال نه يي داهل بيت دپاره ارزان ترين اجناس لكه كهجوري يا وريشي اخستلي او هغه هيڅكله د يو كال د خرچي د مقدار نه دي اخستلي، او په دي كي به دومره حده پوري ايثار كولو چي د كال ختميدو نه مخكي مخكي به بعضي اشياء ختم شول.
په خبرو كولو كي به رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چا سره رښتوني اود هر چا نه به زيات باوقار اود لوظ پابند وو او په خصلتونو كي د هر چا نه نرم اوپه محبت كي انتهايي صبرناك او متحمل وو، د پرده نشين پيغلي نه زيات حياناك وو او نظر به يي هميشه ټيټ ساتلو، او اكثر به يي د سترگو په گوټونو كي په خلقو نظر اچولو او انتهايي متواضع وو، اود هر اعلي او ادني غلام او ازاد دعوت به يي قبلولو اود مخلوق دپاره د هر چانه زيات شفقت كونكي وو.
دپيشوگانو دپاره به يي د اوبو څكلو وخت كي د اوبو لوخي راكږولواو تر څو چي به هغه مړه شوي نه وه تر هغي به يي ورته لوښي كوږ نيولی وو، اود هر چا نه زيات پاكدامن وو اود شهواتو متعلق په نفس نفيس انتهايي غالب وو.
اود خپلو دوستانو به يي د هر چا نه زيات عزت كولو اود صحابه كرامو په مينځ كي به يي

---

[1] يعني هغه كسان به يي خوښول د چاچي په قران كي تعريف مذكور دي او د هغو نه به يي نفرت كولو د چاچي په قران كي مذمت مذكور دی.

خپي نه غزولی ، کله چي به په کوم مجلس کي ګډه جوړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم د نورو خلقو پشان راټول کيناستلو اود صحابه کرامو او خپل ځان مينځ کي به يي څه امتياز نه قائمولو ، ، هرچا چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د لري نه کتل نو دحسن او جمال مظهر به يي ګڼلو اوچي چا به ورته د نزدي نه کتل نو ملاحت او خوږوالي به يي محسولو. صحابه کرام به هميشه په مجلس نبوي کي جمع کيدل او چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم څه ارشاد فرمائيلو نو صحابه کرام به د سر نه خپو پوري غوږونه جوړيدل، او چي کله به يي کوم حکم وکړو نو هرڅوك به يي يو د بل نه په تعميل کي مخکي کيدل ، رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به دهر چا سره ملاقات کولو نود سلام ابتداء به يي پخپله کوله ، اوددوستانو سره دملاقات په وخت کي به يي ويخته برابر کړل او زينت به يي برابر کړو او عمده لباس به يي واغوستلو ، اود صحابه کرامو د حال احوال پوښتنه به يي کوله او که څوك به بيمار شو نو دهغه عيادت به يي کولو او که څوك به په سفر تلو نو دهغه دپاره به يي دعا غوښتله اوکه څوك به مړ شو نو انا لله وانا اليه راجعون به يي ونيل اود غمژنو خلقو سره به همدردي کوله اود هغوئ کورونو ته به ورتلو اود خپلو دوستانو باغونو ته به ورتلو اود هغوئ دعوتونه به يي قبلول اود قوم سردارانو ته به يي تسلي ورکوله، اود اهل کمال به يي انتهائي عزت کولو اود هر چاسره به په خندا او مسکا کي ملاويدو اود معذرت کونکي عذر به يي قبلولو او هر يو اعلي او ادني په صداقت کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يو برابر وو اوخان سره دخلقو ګرځولو(ګارډ) خواهش مند نه وو، اوفرمائيل به يي چي زما شا دفرشتو دپاره خالي پريښودل پکار دي.

او رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به کله په سورلئ وو نو ملګري به يي پيدل تلو ته نه پريښودو اوکه ملګري به يي نه سوريدو کلك شو نو ورته به يي فرمائيل چي خپل منزل طرف ته زما نه مخکي روان او سه اود خپلو خادمانو خدمت به يي هم کولو تردي چي پخپل خوراك اود خپلو غلامانو او وينځو په خوراك کي به يي فرق نه کولو.

د انس رضي الله عنه بيان دي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي مي لس کاله تير کړي دي په الله قسم په سفر او حضر کي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم دومره خدمت نه دي کړي څومره چي به يي زما کولو. او په دي دوران کي يي چرته اُف هم زما په وړاندي نه دي ونيلي، او نه يي چرته د تنګدلئ او ناخوښئ کلمه ونيلي ده، او زما دهيڅ يو کار باره کي چي مابه کړي وو داسي هيڅ کله نه دي ونيلي دي چي دا کار دي ولي کړی دی؟،او چي کوم به مي نه وو کړی دهغي باره کي يي دا ندي ونيلي دي چي فلاني کار دي ولي نه دي کړی؟ يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم په سفر کي د يوي چيلئ پخولو حکم وکړو په صحابه کرامو کي يو کس عرض وکړو چي ددي ذبحه کول زما په ذمه دي بل کس ووئيل څرمن ويستل زما په

ذمه دي بل كس وونيل ، پښول زما په ذمه دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل لرګي راوړل او جمع کول زما په ذمه دي ، صحابه کرامو عرض وکړو چي ستاسو په ځاي به د لرګو جمع کولو کار مونږ وکړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما په ځاي خو تاسو لرګي راجمع کولې شئ ليکن زه په تاسو باندي د ځان دپاره کوم امتياز او خصوصي شان نه خوښوم او الله تعالي خپل هغه بنده نه خوښوي څوك چي دخپلو ملګرو سره په شان کي امتياز لري او طلب کوي ، چنانچي پخپله لاړو او لرګي راجمع کړل.(١)

په يو بل روايت کي مذکور دي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو سفر کي په اوښه سور وو نو په يو مقام کي د مونځ دپاره د اوښي نه راکوز شو او بيا اوښي طرف ته وررروان شو صحابه کرامو عرض وکړو اي د الله رسوله چرته روان يئ؟ورته يي اوفرمائيل دخپل اوښ دخپي تړلو دپاره(٢) صحابه کرامو عرض وکړو دا خدمت به مونږ وکړو ورته يي اوفرمائيل په تاسو کي دي هيڅوك د بل دادني مدد خواهش نه کوي (٣) برابره خبره ده چي هغه د مسواك يوه ټکړه ولي نه وي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم به په ناسته او ولاړه د الله تعالي ذکر جاري ساتلو.او چي کله به يو مجلس ته ورغلو که د ناستي ځاي به يي وموندلو نو د مجلس اخر کي به کيناستلو اود مجلس د صدارت قصد به يي نه کولو او مسلمانانو ته يي همدې کار حکم کولو رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپلو هم مجلسو کي هر يو ته دهغه د شان موافق توجه ورکوله ، بل چا به دا ګمان نه کولو چي دی د رسول الله صلي الله عليه وسلم په نزد زيات معروف دی يعني د هر چاسره به د بشاشت په حال کي ملاويدو تردي چي هر کس او ناکس به ورباندي د زيات مهربان ګمان کولو.

هرڅوك چي به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو نو چي هغه به څو پوري پخپله واپس روان شوي نه وو ترهغي به ورنه رسول الله صلي الله عليه وسلم نه پاڅيدلو، او که اتفاقا به کوم ضرورت پيدا شو نو دصاحب مجلس په اجازت به روان شو، او د چا په وړاندي به يي کومه داسي خبره نه کوله کومه چي به دهغه نه خوښيدله اود چا د بي ادبئ او بد خوي جواب به يي په بي ادبئ او بد خوي سره نه ورکولو بلکه معافي به يي کوله ، او بيمار پرسي به يي کوله اوددوئ جنازو ته به حاضريدلو او هيڅ يو فقير به يي د افلاس په وجه سپك نه ګڼلو اود لويو لويو بادشاهانو نه به نه مرعوب کيدلو اود الله د هر نعمت اګر که هرڅومره

---

1. لرګي جمع کول دمحنت په اعتبار اهم دي اود حيثيت په اعتبار ادني کار دي نو رسول الله دځان دپاره دټولو نه ادني او مشکل ترين کار منتخب کړو.

2. قاعده داده چرته چي اوښ سوار کيناستل غواړي نو د اوښ زنګون وتړي تردي چي چرته ونه تختي.

3. په دي کي خلقو ته تعليم دی چي خلق دخپل سهولت دپاره د بل چا د اذيت سبب ونه ګرځي.

به كم وو خو دقدر په نظر به يي ورته كتل او په هيڅ لحاظ به يي بد نه ګڼلو اوپه هيڅ قسم خوراك كي به يي عيبونه نه لټول كه خوښ به يي شو نو نوش به يي كړو كنه نو لاس به يي ورنه راښكل.

د ګاونډيانو امداد اود ميلمنو به يي انتهايي اكرام كولو . رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چانه زيات مسكا كونكي تندي والا وو او هيڅ قسم وخت به د رسول الله صلي الله عليه وسلم دضروري حاجت نه علاوه بغير دعبادت الهيه نه نه تيريدو.[1]

اوكه چرته به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په دوه كارونو كي اختيار وركړې شو نو اسان ترين عمل به يي اختيارولو، مګر كه په آسان كي قطع د سله رحمئ وه نو ددي نه به يي عمده طريقه اختياروله تردي چي ګنډل به يي هم په خپل مبارك لاس كول اوپخپلو جامو كي به يي پخپله پيوند اچولو

رسول الله صلي الله عليه وسلم په آس ، قچر، او خر باندي سورلي كړې ده، خپل غلامان يا بل كوم كس به يي هم د ځان سره سورولو، اوبخپل نستونړي يا څادر به يي د آس مخ پخپله پاكولو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم به په نيك فالئ نيولو خوشحاليدلو د نيك فالئ نه مراد دادى چي كله يو كس د كوم كار اراده وكړي اوكومه د خير كلمه يي غوږ ته ورسيږي مثلا څوك داسي اووايي چي اي په نيغه لاره تلونكيه ، اي سلامت پاتي كيدونكيه نو ددي په اوريدو به خوشحاليدو، اود بد فالئ نه مراد دادى چي كله يو كس يو نامناسب آواز واوري مثلا د حيواناتو د ښي او ګس ځرف نه تيريدل يا د كا غه آواز نو ددي لره بد وګڼي.

كله چي به يي كوم مرغوب څيز وموندلو نو "الحمد لله رب العالمين" به يي وئيل، او چي كله به يو نامناسب څيز پيش شو نو "الحمد لله علي كل حال" به يي وئيل، او چي كله به يي خوراك كولو نو "الحمد لله الذي اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمين" به يي وئيل ، او اكثر به قبلي ته مخامخ كيناستلو، او ذكر به يي ډير كولو، او لغوه خبري به يي نه كولي، مونځونه به يي اوږده او خطبه مختصره ادا كوله.

په يو مجلس كي به يي سل سل ځله الله تعالي ته دمغفرت درخواست كولو، مونځ به يي دومره اوږد كولو چي د سيني مباركي نه به يي د تانبي دديګچي د جوش پشان آواز اوريدلي كيدو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم به د دو شنبي او زيارت په ورځ اكثر روژه نيوله ، اوپه هره مياشت كي به يي دري روژي (يعني د ايام بيض روژي يعني ديارلسم ، څوارلسم، پنځلسم

---

[1]. يعني فارغ وخت به يي نه ضائع كولو.

تاريخ) روژي نيولي او دعاشوري(لسم محرم(روژه به يي هم نيوله، او شايد همداسي به شوي وي چي د جمعي روژه به يي نه وي نيولي، اود شعبان په مياشت كي د رمضان المبارك نه علاوه به يي زياتي روژي نيولي.

د هرڅه نه زيات خصوصيت يي دا وو چي كله به اوده وو نو سترګي به يي بندي وي ليكن زړه مبارك به يي د وحي په انتظار كي بيدار اود الله تعالي سره به مشغول وو، اود اوده كيدو وخت كي به يي د سا اخستلو آواز اوريدلى كيدو، ليكن خراړى به يي نه كولو ځكه چي دا يو مكروه آواز وي.

كه چري كوم نامناسب خوب به يي وليدلو نو "هو الله لا شريك له" به يي وئيل او چي كله به يي د اوده كيدو قصد وكړو نو "رب قني عذابك يوم تبعث عبادك" به يي فرمائيل، او چي كله به بيدار شو نو "الحمد لله الذي احيانا بعد ما اماتنا واليه النشور" به يي وئيل، او صدقه به يي هيڅكله نه خوړله، البته هديه او تحفه به يي خوړله چا چي به ورته هديه راوليږله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم

به دهغي نه بهتره يا دهغي پشان هديه وركوله، اوپه خوراكي اشياؤ كي به هيڅكله تكلف نه كولو. د ولږي د شدت او د ضعف نه دبچ كيدو دپاره به يي په خيټه پوري كاڼي تړل، الله تعالي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د زمكي دخزانو چابياني وركولى خو قبول يي نكړي او اخرت يي قبول كړي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم به روټئ د سركي سره خوړله او سركه يي بهترينه تركاري ګڼله ، كدو به يي ډير خوښولو، اود چيلي لاس به يي هم خوښولو، فرمائيل به يي زيتون خورئ او بدن ورباندي غوړوئ(مالش كوئ) ، رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دري ګوتو خوراك كولو، اود خوراك نه پس به يي دا دري واړه ګوتي څټلي، او د وربشو ډوډئ، رسول الله صلي الله عليه وسلم د تازه او وچو كهجورو او خربوزي سره خوړلي ده، همدارنګي بادرنګ يي د كهجورو سره او كهجوري يي د ګوچوسره خوړلي دي، اود خوږو اشياؤ ته يي ډير رغبت كولو، او اكثر به يي اوبه په دري ساګانو كي په ناسته څكلي، اود هري ساه وخت كي به يي د اوبو لوخي د خولي نه جدا كولو، او پاتي شوي اوبه به يي صحابه كرامو ته وركولي، او دي وخت كي به يي دښي طرف نه شروع كوله، يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم پئ وڅكل نو دي وخت كي يي صحابه كرامو ته اوفرمائيل چي كله د خوراك په اشياؤ كي كوم شي بياموميئ نو " اللهم ارزقنا خيرا منه" وايئ، ليكن كله چي پئ وڅكئ نو "اللهم بارك لنا فيه وزدنا منه" وايئ ، او بيا يي اوفرمائيل: د خوراك په اشياؤ كي د پيو نه علاوه هيڅ يو داسي شي نشته چي د ډوډئ او اوبو دواړو قائم مقام وګرځي.

****

٣٦٣٦_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ: أَكَانَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ السَّيْفِ، قَالَ: "لَا مِثْلَ الْقَمَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه. دابواسحاق بيان دي فرمائي چې دبراء بن عازب رضي الله عنه نه چا تپوس اوکړو ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم مخ مبارك دتوري پشان وو؟ براء اوونيل نه دسپوږمۍ پشان وو.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي.

د ابو اسحاق مناقب

دده نوم سعد او کنيه ابو اسحاق او دپلار نوم مالك چې کنيه يي ابو وقاص وه او دمور نوم يي حمنه وو په رشته کې درسول الله په ماماخيلو کي راتلو (اسد الغابه ۲۹۱/۲) دنولسو کالو په عمر کي دصديق اکبر رضي الله عنه سره دربار نبوت ته حاصر شو او مسلمان شو او دمکي نه يي مديني ته هجرت اوکړو او دخپل ورور عقبه بن ابي وقاص په کور کي يي اوسيدل شروع کړل (طبقات ابن سعد ۹۹/۳) دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره يي په ډيرو غزواتو کي شرکت کړی وو او دعشره مبشره نه وو ، عشره مبشره لس صحابه وو کوم چې عراقي په دي شعر کي جمع کړي دي.

وافضل اصحاب نبي مكانة ومنزلة من بشر واعنان

سعيد زبير سعد عثمان عامر علي ابن عوف طلحه الحران

په غزوه احد کې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو "ارم ياسعد فداك ابي وامي" بخاري کتاب المغازي باب غزوه احد)

دا جمله دسعد دپاره دډير فخر او فضيلت خبره ده او همدا جمله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په يو بله موقعه کي دطلحه او زبير رضي الله عنهما دپاره هم فرمائيلي وه.

عمر رضي الله عنه دکوفي والي مقرر کړی وو ليکن وروسته يي معزول کړو مګر عثمان رضي الله عنه دوباره بحال کړو.

سعد په اخري وخت کي عقيق مقام ته لاړو کوم چې دمديني نه په لس ميله فاصله کي پروت وو او هلته د۵۵ کالو په عمر کي وفات شو.

---

[1] _ انظر حديث رقم ١٤٢٢

مرويات: دابن جوزي په قول دده دمروياتو تعداد ۲۷۱دی چې ۲۵په بخاري او مسلم دواړو کې دي.

****

۳٦۳۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ، شَثْنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، ضَخْمَ الرَّأْسِ ضَخْمَ الْكَرَادِيسِ، طَوِيلَ الْمَسْرُبَةِ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا انْحَطَّ مِنْ صَبَبٍ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله نه ډيرلوړ قد والا وو او نه ډير ټيټ وو دهغه ورغوي او خپې دغوښو نه ډکي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم لوي سر والا او پيړو جوړونو والا انسان وو (يعني زنگنان يي دغوښو نه برابر ډك وو) دسيني نه دنوم پوري يي په بدن دويختو يوه نرۍ كرخه وه، كله چې به روان وو مخكي طرف ته به زوړند ښكاريدو په مزل كي به داسي ښكاريدو لكه دلوړي نه چې څوك ښكته كوزيږي نه مادرسول الله نه مخكي او نه دهغه نه پس دهغه پشان بل څوك ليدلي دي.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم حليه مباركه

رسول الله صلي الله عليه وسلم ددرميانه قد اود سپين سوربخن رنګ مالك وو او پراخه سينې والا وو، او ويخته مبارك به يي د غوړونو دنرمۍ پوري اوږده ساتل او سپين شوي هم نه وو اوبه ږيره او سر مبارك كي يي تول شل ويښته سپين شوي وو چې چمك دار به ښكاريدل ، اومخ مبارك به يي د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ پشان پرقيدلو، معتدل جسم والا وو، او د خاموشۍ په وخت كي به يي د رعب او جلال باران كولو، اود ګفتګو په وخت كي به ورنه لطف او لطافت څڅيدلو، هرچا چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د لرې نه كتل نو دحسن او جمال مظهر به يي ګڼلو اوچې چا به ورته د نزدې نه كتل نو ملاحت او خوږوالي به يي محسوسولو. رسول الله صلي الله عليه وسلم شيرين ګفتاره او پراخه تندي والا او اوږدو ورځو والا انسان

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۲۸۹)

وو،د غير پيوسته او لوړي پوزي او نرم رخسار خاوند وو ازادي خولي والا وو، اود غابنونو مينځ كي فاصله موجود وه اوسپين غابنونه به يې د لري نه پړقيدل،اود اوږو په مينځ كي يې مهر دنبوت وو.[1]

د يو مداح بيان دى چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ، نه مخكي او نه وروسته دده پشان چرته څوك ليدلى شوي دى. (شاه ولي الله،مختصر سيرت الرسول)

****

٣٦٣٨_حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ أَبِي حَلِيمَةَ مِنْ قَصْرِ الْأَحْنَفِ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى غُفْرَةَ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: كَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَمْ يَكُنْ بِالطَّوِيلِ الْمُمَّغِطِ وَلَا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ، وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ، وَلَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا بِالسَّبِطِ، كَانَ جَعْدًا رَجِلًا وَلَمْ يَكُنْ بِالْمُطَهَّمِ وَلَا بِالْمُكَلْثَمِ، وَكَانَ فِي الْوَجْهِ تَدْوِيرٌ أَبْيَضُ مُشْرَبٌ، أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ أَهْدَبُ الْأَشْفَارِ، جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ أَجْرَدُ ذُو مَسْرُبَةٍ، شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَمْشِي فِي صَبَبٍ، وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، أَجْوَدُ النَّاسِ كَفًّا، وَأَشْرَحُهُمْ صَدْرًا، وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً، وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً، وَأَكْرَمُهُمْ عِشْرَةً، مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ، وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ، يَقُولُ نَاعِتُهُ: لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ. قَالَ أَبُو جَعْفَرٍ: سَمِعْتُ الْأَصْمَعِيَّ يَقُولُ فِي تَفْسِيرِهِ صِفَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُمَّغِطُ الذَّاهِبُ طُولًا، وَسَمِعْتُ أَعْرَابِيًّا يَقُولُ: تَمَغَّطَ فِي نُشَّابَةٍ أَيْ مَدَّهَا مَدًّا شَدِيدًا، وَأَمَّا الْمُتَرَدِّدُ: فَالدَّاخِلُ بَعْضُهُ فِي بَعْضٍ قِصَرًا، وَأَمَّا الْقَطَطُ فَالشَّدِيدُ الْجُعُودَةِ، وَالرَّجِلُ الَّذِي فِي شَعْرِهِ حُجُونَةٌ أَيْ يَنْحَنِي قَلِيلًا، وَأَمَّا الْمُطَهَّمُ فَالْبَادِنُ الْكَثِيرُ اللَّحْمِ، وَأَمَّا الْمُكَلْثَمُ فَالْمُدَوَّرُ الْوَجْهِ، وَأَمَّا الْمُشْرَبُ فَهُوَ الَّذِي فِي نَاصِيَتِهِ حُمْرَةٌ، وَالْأَدْعَجُ الشَّدِيدُ سَوَادِ الْعَيْنِ، وَالْأَهْدَبُ الطَّوِيلُ الْأَشْفَارِ، وَالْكَتَدُ مُجْتَمَعُ الْكَتِفَيْنِ وَهُوَ الْكَاهِلُ، وَالْمَسْرُبَةُ هُوَ الشَّعْرُ الدَّقِيقُ الَّذِي هُوَ كَأَنَّهُ قَضِيبٌ مِنَ الصَّدْرِ إِلَى السُّرَّةِ، وَالشَّثْنُ الْغَلِيظُ الْأَصَابِعِ مِنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، وَالتَّقَلُّعُ أَنْ يَمْشِيَ بِقُوَّةٍ، وَالصَّبَبُ الْحُدُورُ، يَقُولُ: انْحَدَرْنَا فِي صَبُوبٍ وَصَبَبٍ وَقَوْلُهُ: جَلِيلُ الْمُشَاشِ يُرِيدُ رُءُوسَ الْمَنَاكِبِ، وَالْعِشْرَةُ الصُّحْبَةُ، وَالْعَشِيرُ

---

[1] مهر دنبوت ددوارو اوږو په مينځ كي وو دا سره غوښه وه اود نبوت د سيد المرسلين علامه وه..

الصَّاحِبُ. وَالْبَدِيهَةُ الْمُفَاجَأَةُ يُقَالُ بَدَهْتُهُ بِأَمْرٍ أَيْ فَجَأْتُهُ. (١)

ترجمه : ابراهيم بن محمد چې دعلي رضي الله عنه په اولاد كي دي دعلي رضي الله عنه نه روايت نقل كوي وئيل يې چې كله علي رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم حليه بيانوله نو داسي يې وئيل رسول الله نه ډير لوړقد والا وو او نه ډير ټيټ قد والا وو بلكه د درميانه قد مالك وو ويخته يې نه ډير ګونجي وو او نه بالكل نيغ وو بلكه په درميانه حالت كي وو چې نه ډير څورب وو او نه يې مخ مكمل ګول وو مګر لږ شان ګولائي پكې ضرور وه رنګ يې سپين سوروالي ته مائل وو او سترګي يې توري وي اوږدو ورخو والا وو او لويو بندونو والا وو او لويو اوږو والا وو او په جسم يې ډير زيات ويخته نه وو صرف دويختو يوه كرخه يې دسيني نه نوم پوري پرته وه دواړه ورغوي او دواړه خپي يې دغوښي نه ډكي وي كله چې به روان وو نو په زمكه به يې خپي مضبوطي ايخودلي او چې راګرځيدلو نو مكمل به راګرځيدلو او ددواړو اوږو مينځ كي يې مهر دنبوت وو او هغه خاتم النبيين وو په خلقو كي دټولو نه زيات سخي وو او ډير زيات فراخه زړه والا وو يعني درسول الله سينه دبغض او حسد نه د ائيني پشان پاكه وه او دټولو نه زيات رښتيا ويونكي او نرم مزاج والاانسان وو او دټولو نه بهتر معاشرت كونكي وو كله چې به چا په تنهائي كي اوليدلو نو خلق به ورنه ويريدل او چاچې به دمعرفت په حال كي غاړه وركوله نو محبت به يې ورسره كولو ، د رسول لله صلي الله عليه وسلم توصيف كونكو به وئيل ستاسو نه مخكي نه مونږ ستاسو پشان څوك ليدلي دي او نه ستاسو نه وروسته.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب دي او سند يې متصل نه دي دنسايي شيخ ابو جعفر وائي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دحليه مبارك تفسير داصمعي نه په دي الفاظو اوريدلي دي چې د "الممغط" معني په اوږد والي كي تلل دي ما ديو بانډچې نه واوريدل چې داسي يې وئيل "تمغط في نشابة" يعني هغه خپل غشي ډير زيات رابښكلو او متعدد داسي كس وي چې اندامونه يې يو په بل كي ورننوتلي وي او قطط ګونجي ويختو والاته وئيلي شي او "رجل" هغه سړي ته وائي چې ويخته يې نيغ وي او "مطهم" داسي جسم والاته وائي چې څورب وي او ډيري غوښي والا وي او "مكلثم" هغه چاته وائي چې مخ يې ګول وي او "مشدب" هغه څوك دي چې په تندي كي يې سوروالي وي او "ادعج" هغه څوك دي چې سترګي يې توري وي او "اهدب" هغه څوك دي چې وريخي يې اوږدي وي او "كتدد" د دواړو اوږو پيوند ته وئيلي شي او "مسربة" دسيني نه نوم پوري دويختو كرخي ته وائي او ښن هغه څوك دي چې ورغوي او خپي يې دغوښي نه ډك وي او د "تقلع" نه مراد خپي مضبوطي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٩)

ايخودل دي او "صبب" په معني دكوزيدو دي لكه چې عرب وائي "انحدرن في صبوب وصبب" يعني مونږ دلوړي نه راكوز شو د "جليل المشاش" نه مراد داوږو سرونه دي او د "عشرة" نه مراد ژوند تيرول دي او "عشيرة" معني ژوند تيرونكي او "بديهة" معني څه كار په يو ځل كول لكه چې عرب وائي "بدهته بامر" يعني ديوي معاملي دپاره زه هغه ته ناځاپه ورغلم.

****

٩_باب فِي كَلاَمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله (صلي الله عليه وسلم) دګفتګو بيان

٣٦٣٩_حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الأَسْوَدِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلاَمٍ بَيْنَهُ فَصْلٌ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، وَقَدْ رَوَاهُ يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ. (١)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائيل يي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ستاسو پشان زر زر خبري نه كولي بلكه داسي خبري به يي كولي په كومو كي چې ځاي په ځاي وقفه وي او چې څوك به ورسره ناست وو هغوئ به يادولي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي مونږ يي صرف دزهري په روايت پيژنو او دا حديث يونس بن يزيد هم دزهري نه نقل كړي دي.

****

٣٦٤٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُثَنَّى، عَنْ ثُمَامَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعِيدُ الْكَلِمَةَ ثَلاَثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُثَنَّى. (٢)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به

---

[1] _ سنن ابي داود/ الأدب ٢١ (٤٨٣٩) (نحوه) سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ١٣٩ (٤١٢) (تحفة الأشراف : ١٦٣٠٦) ، و مسند احمد (٦/١١٨، ١٣٨)

[2] _ انظر حديث رقم ٢٧٢٣

اكثر وختونو كي يوه كلمه دري پيري تكراروله تردي چې په ښه طريقه ياده شي.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف دعبدالله بن مثنى په روايت پيژنو.

****

١٠_باب فِي بَشَاشَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

درسول الله (صلي الله عليه وسلم) دمسكا بيان

٣٦٤١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن حارث بن جزء رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات مسكا والاكوم انسان ما چرته نه دي ليدلي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٦٤٢_وَقَدْ رُوِيَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، مِثْلُ هَذَا. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحِينِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، قَالَ: "مَا كَانَ ضَحِكُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا تَبَسُّمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه: دعبدالله بن حارث بن جزء رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم خندا به صرف مسكي كيدل وو.
امام ترمذي وائي: دا حديث صحيح غريب دي مونږ يي صرف په همدې سند دليث بن سعد په روايت پيژنو.

****

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢٣٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢٣٣)

١١ـ بَابٌ فِي خَاتَمِ النُّبُوَّةِ

دنبوت دمهر بيان

٣٦٤٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنِ الجَعْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ: ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمَسَحَ بِرَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، وَتَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ فَقُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى الخَاتَمِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ فَإِذَا هُوَ مِثْلُ زِرِّ الحَجَلَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: الزِّرُّ يُقَالُ بَيْضٌ لَهَا. وَفِي البَابِ، عَنْ سَلْمَانَ، وَقُرَّةَ بْنِ إِيَاسٍ المُزَنِيِّ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَأَبِي رِمْثَةَ، وَبُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ، وَعَمْرِو بْنِ أَخْطَبَ، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الوَجْهِ.[1]

ترجمه : دسائب بن يزيد رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې زما ترور زه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته بوتلم او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله زما دا خوريي بيمار دي، پس رسول الله زما په سر لاس رابنكلو او زما دپاره يي دبركت دعا اوغوښتله رسول الله چې اودس اوكړو ما دهغه د اودس نه پاتي شوي اوبه اوڅكلي او بيا زه دهغه شاته اودريدم او دهغوئ ددواړو اوږو په مينځ كې مې مهر دنبوت اوليدلو او هغه دكمتري دهګئ پشان وو.

امام ترمذي وائي: دكمتري هګئ ته زر وئيلي شي، او دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي ، او په دي باب كې دسلمان، قره بن اياس مزني، جابر بن سمره، ابورمثه، بريده اسلمي، عبدالله بن سرجش ، عمرو بن اخطب او ابو سعيد خدزي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

دسائب بن يزيد رضي الله عنه مناقب

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه كندي، امام زهري وائي چې كندي په يمن كې داد قبيلي يو شاخ دی مګر په بنوكنانه كې شميرلی شي سائب دعمر كندي خوريی دی ، دهجرت په شلم كال پيدا شوی وو او داوه كالو په عمر كې دخپل پلار سره په حجة الوداع كې شريك شوی دی دده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت كوي ګنړ شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ٨٠كال وفات شوی دی.

---

[1] ـ البخاري في الجامع الصحيح /الوضوء ٣٠ (١٩٠) . والمناقب ٢٢ (٣٥٤٠، ٣٥٤١) . والمرضى ١٨ (٥٦٧٠) . والدعوات٣١ (٦٣٥٢) . صحيح مسلم /الفضائل ٣٠ (٢٣٤٥) (تحفة الأشراف : ٣٧٩٣)

****

٣٦٤٤_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ جَابِرٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ خَاتَمُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي الَّذِي بَيْنَ كَتِفَيْهِ غُدَّةً حَمْرَاءَ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم مهر دنبوت كوم چې دهغه د دوه اوږو په مينځ كې وو دكمتري دهگۍ پشان سره غوټه وه.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

١٢_باب فِي صِفَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دحليه بيان

٣٦٤٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ هُوَ ابْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمُوشَةٌ وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا، وَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه نه مروي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم په دواړو پنډو كې مناسب نري والي وو او خندا يې صرف مسكي كېدل وو كله چې به ورته ما كتل نو ما به وئيل كه په دواړو سترگو كې يې رانجه اچولي دي او حال دادي چې رانجه به يې نه وو اچولي.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب صحيح دي.

****

٣٦٤٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو قَطَنٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنَيْنِ مَنْهُوشَ الْعَقِبِ". قَالَ أَبُو

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢١٣٢)

2 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢١٣٢)

عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم خوله مباركه كولاو وه او دسترگو ډوري يې سري وي او پوندي يې كمو گرخيدو والاوي

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٦٤٧_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنَيْنِ مَنْهُوشَ الْعَقِبِ". قَالَ شُعْبَةُ: قُلْتُ لِسِمَاكٍ: مَا ضَلِيعُ الْفَمِ ؟ قَالَ: وَاسِعُ الْفَمِ، قُلْتُ: مَا أَشْكَلُ الْعَيْنَيْنِ ؟ قَالَ: طَوِيلُ شَقِّ الْعَيْنِ، قَالَ: قُلْتُ: مَا مَنْهُوشُ الْعَقِبِ ؟ قَالَ: قَلِيلُ اللَّحْمِ؟. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم خوله مباركه فراخه وه دسترگو ډوري يې سري وي او پوندي يې كمو گرخيدو والا وي، شعبه وائي ما دسماك نه تپوس اوكړو چې د "ضليع الفم" څه معني ده هغه اووئيل دخولي فراخ والي ورنه مراد دي ما ورنه بيا تپوس اوكړو د "اشكل العينين" څه معني ده هغه اووئيل غټو سترگو والا شعبه وائي ما بيا تپوس اوكړو د "منهوش العقب" څه معني ده هغه اووئيل ددي معني كمي غوښي والاكيدل دي

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

تخريج: صحيح مسلم/الفضائل ٢٧ (٢٣٣٩) (تحفة الأشراف : ٢١٨٣)

****

٣٦٤٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي يُونُسَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ، وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مِشْيَتِهِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَأَنَّمَا الْأَرْضُ تُطْوَى لَهُ، إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ

[1] _ صحيح مسلم/الفضائل ٢٧ (٢٣٣٩) (تحفة الأشراف : ٢١٨٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف)

مُكْثَرِثٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات ښانسته ماچرته هيڅوك نه دي ليدلي داسي به ښكاريدله لكه چې په مخ يې نمر ګرځي، او نه ما دهغه نه بل څوك په رفتار كي تيز ليدلي دي داسي په ښكاريده لكه چې زمكه دده دپاره رانغښتلي كيږي او مونږ به ورسره ډير په مشكله ګرځيدلو او هغه به بغير دڅه تكليف برداشت كولو نه ګرځيدو.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي.

****

٣٦٤٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عُرِضَ عَلَيَّ الأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِذَا أَقْرَبُ النَّاسِ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ، وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دِحْيَةُ هُوَ ابْنُ خَلِيفَةَ الْكَلْبِيُّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[2]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي انبياء چې كله ماته پيش كړي شول نو موسي عليه السلام چست بدن والا ځوان وو، څنګه چې دشنوءه قبيلي خلق وي او چې عيسي عليه السلام مي اوليدو نو دهغه سره راته زيات مشابه عروه بن مسعود رضي الله عنه ښكاره شو، او ابراهيم عليه السلام ستاسو ددي ملګري (رسول الله صلي الله عليه وسلم) سره مشابهت لرلو او چې جبرائيل ته مي اوكتل نو د دحيه كلبي سره مشابه وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

١٣ـ بَاب فِي سِنِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمْ كَانَ حِينَ مَاتَ

دوفات وخت كي د نبي كريم صلي الله عليه وسلم دعمر بيان

٣٦٥٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَيَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، قَالَا: أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف)

[2] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٧٤ (١٦٧) (تحفة الأشراف: ٢٩٢٠)

عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَمَّارٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ: "تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ".[1]

ترجمه : دخالد الحذاء بيان دي دابن عباس رضي الله عنهما نه مي اوريدلي دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو عمر يي ٦٥ كاله وو.

****

٣٦٥١_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، حَدَّثَنَا عَمَّارٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنُ الإِسْنَادِ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو عمر يي ٦٥ كاله وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي.

تخريج : صحيح مسلم/الفضائل ٢٣ (٢٣٥٣) (تحفة الأشراف : ٦٢٩٣)

****

٣٦٥٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاق، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "مَكَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً، يَعْنِي يُوحَى إِلَيْهِ، وَتُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَدَغْفَلِ بْنِ حَنْظَلَةَ، وَلَا يَصِحُّ لِدَغْفَلٍ سَمَاعٌ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا رُؤْيَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَسَنٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ.[3]

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم (دنبوت دملاويدو نه پس) په مكه كي ديارلس كاله تير كړل ، او لس كاله ورته په مدينه كي وحي راتلله او د ٦٣ كالو په عمر كي وفات شو.

---

[1] _ صحيح مسلم/الفضائل ٢٣ (٢٣٥٣) (تحفة الأشراف : ٦٢٩٣)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٤٥ (٣٩٠٢) ، صحيح مسلم/الفضائل ٢٣ (٢٣٥١) (تحفة الأشراف : ٦٣٠٠)

[3] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف)

امام ترمذي وائي: دابن عباس دا حديث دعمرو بن دينار په روايت حسن غريب دي، او په دي باب كي دعائشه، انس، او دغفل بن حنظله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دعمرو ليدل او سماع كول ثابت نه دي.

****

٣٦٥٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُهُ يَخْطُبُ يَقُولُ: "مَاتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ وَأَنَا ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دجرير بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دمعاويه رضي الله عنه نه واوريدل چې خطبه يي وركوله او فرمائيل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم د ٦٣ كالو په عمر كي وفات شوي وو او ابوبكر رضي الله عنه هم د ٦٣ كالو په عمر كي وفات شوي وو او زه هم دي وخت كي د ٦٣ كالو يم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

دمعاويه رضي الله عنه حالات

نوم معاويه كنيه ابو عبدالرحمان دپلار نوم ابو سفيان او دمور نوم يي هنده وه دجاهليت په زمانه كي هم ددي خاندان ممتاز وو دفتح مكي په ورځ معاويه رضي الله عنه او دده پلار ابو سفيان مسلمانان شول دبعضو روايتونو نه معلوميږي چې دصلح حديبيه په زمانه كي معاويه رضي الله عنه ته داسلام حقانيت معلوم شوى وو ليكن دخاندان ديري نه يي اظهار نشو كولى ليكن اولنى روايت زيات قوي دى بيايي په غزوه حنين او طائف كي درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګرتيا كړي ده دحنين دغنيمت په مال كي ده ته رسول الله صلي الله عليه وسلم سل اوښان او څلويښت اوقي سپين زر وركړل (طبقات ابن سعد).

حسن بن علي رضي الله عنه دهجرت په څلويښتم كال ده ته خلافت حواله كړو او ددينه پس هغه نولس كاله او درې مياشتي حكومت كړى دى او ډيري علاقي يي په دي دوران كي فتح كړي دي.

وفات: دهجرت په ٦٠ كال درجب په مياشت دپنځه اويا كالو په عمر كي په لقوه بيمارئ وفات شو په اخري عمر كي به يي وئيل كاش چې زه دقريشو يو عام كس وى او حكومت راسره نه وى

1 _ صحيح مسلم/الفضائل ٣٣ (٢٣٥٢) (تحفة الأشراف: ١١٤٠٢)

دده سره درسول الله صلي الله عليه وسلم څادر او قميص او څه وينبته او نوکان موجود وو هغه دا نصيحت کړی وو چې ماته به درسول الله په قميص او څادر کي کفن راکوئ او زما په مخ او تندي باندي به درسول الله نوکان ايږدئ شايد چې ددي په وجه به ماته مغفرت اوشي ضحاك ورباندي جنازه اوکړه او په دمشق کي دفن کړی شو تقريبا ۱۲۳ روايات ورنه مروي دي چې څلور په دي کي متفق عليه دي او پنځه صرف په مسلم کي دي.

****

٣٦٥٤_حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الْعَنْبَرِيُّ، وَالْحُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَقَالَ الْحُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ فِي حَدِيثِهِ: ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ ابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ مِثْلَ هَذَا. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو عمر يي ۶۳ کاله وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي ، او دا حديث دزهري وراره محمد بن عبدالله بن مسلم هم دزهري نه او زهري دعروه په واسطه دعائشه رضي الله عنها نه په همدي مضمون نقل کړي دي.

****

١٤_بَاب مَنَاقِبِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضى الله عنه

دصديق اکبر رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله کنيه ابوبکر عتيق او صديق يي لقب وو دپلار نوم يي عثمان وو چې په ابو قحافه مشهور وو او دمور نوم يي سلمي وه چې په ام الخير مشهوره وه دپلار دطرفه يي نسب نامه داده عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تيم بن مره بن کعب بن لوئ القريشي التيمي او دمور دطرفه يي نسب نامه داده ام الخير بنت الصخر بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تيم بن مره (طبقات ابن سعد).

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ١٩ (٣٥٣٦) ، والمغازي ٨٥ (٤٤٦٦) . صحيح مسلم /الفضائل ٣٢ (٢٣٥٠) (تحفة الأشراف : ١٦٥٣٢)

شپږم پشت مره کي صديق اکبر رضي الله عنه نسب درسول الله صلي الله عليه وسلم دنسب سره يوځاي کيږي دماشوموالي نه يي درسول الله سره دوستي وه او په تجارت کي به هم ورسره يوځاي تلو (کنز العمال ۳۱۳/۲).
دټولو انسانانو نه مخکي داسلام قبلولو سعادت ورته هم په نصيب شوی وو او په هره غزوه کي درسول الله سره شريك شوی وو او هيڅ کله درسول الله صلي الله عليه وسلم نه جدا شوی نه وو نه داسلام نه مخکي او نه داسلام نه پس بلکه په ژوندگئ کي او دمرگ نه پس هم يوځاي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس دهجرت په يولسم کال تمامو خلقو په اتفاق سره اولنی خليفه مقرر کړو دخلافت موده يي دوه کاله او څلور مياشتي وه واضحه کارنامه يي داده چي دقران کريم متفرق اجزاء يي ديو کتاب په شکل کي جمع کړل او ددينه مخکي به قران په يوځاي نشو موندلی او په څلورو واړو اطرافو کي چي داسلام خلاف کومي خبري خوريدلي دهغي مخه يي اونيوله او دين ته يي دوباره هغه نوی ترتيب ورکړو په کوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پريخودلی وو.
وفات: په صديق اکبر رضي الله عنه باندي تبه راغله او تقريبا پنځلس ورځي په همدي حالت کي تيري شوي چي بيا دگل په ورځ دسه شنبي په شپه د ۳۲ کلونو په عمر کي او دجمالي الاولي په ديارلسم ددي دنيا نه سفر اوکړو (ربيع الاول).
دمروياتو شمير يي ۱۴۲ دی چي شپږ پکي متفق عليه دي او يولس صرف په بخاري کي دي او يو په مسلم کي دی.

۳٦٥٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبْرَأُ إِلَى كُلِّ خَلِيلٍ مِنْ خِلِّهِ وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ ابْنَ أَبِي قُحَافَةَ خَلِيلًا، وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ الزُّبَيْرِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دهر خليل (دوست) دخلت (دوستئ) نه بي پراه يم او که ما څوك خليل جوړولي نو ابن ابي قحافه (ابوبکر) به مي خليل جوړ کړي وو.
امام ترمذي واني: په دي باب کي دابوسعيد خدري، ابو هريره، ابن زبير او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

[1] _ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۱ (۲۳۸۳) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۹۳) (تحفة الأشراف : ۹۵۱۳) ، و مسند احمد (۳۷۷/۱، ۳۸۹، ۳۹۵)

****

٣٦٥٦_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي أُوَيْسٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: " أَبُو بَكْرٍ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا وَأَحَبُّنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه : ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها د عمر فاروق رضي الله عنه روايت نقل كوي چې فرمائيل يې ابوبكر زمونږ سردار دي او په مونږ كې بهتر دي او په مونږ كې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته زيات محبوب دي.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح غريب دي.

****

٣٦٥٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَيُّ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ؟ قَالَتْ: أَبُو بَكْرٍ، قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَتْ: عُمَرُ، قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَتْ: ثُمَّ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ، قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: فَسَكَتَتْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : عبد الله بن شقيق فرمائي چې ماد عائشه رضي الله عنها نه تپوس وكړوچې دنبي عليه السلام نه پس په خلقوكي څوك ډير بهتردي؟هغي ووئيل ابوبكر ﷺ مابياتپوس وكړوچې دده نه پس بل كوم يوډيرغوره دي؟ هغي ووئيل عمر، مابياتپوس وكړوچې دده نه پس بل كوم يوډيرغوره دي؟ هغي ووئيل ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه، مابياتپوس وكړوچې دده نه پس بل كوم يوډيرغوره دي؟ نو هغه خاموش شوه او جواب يې رانكړو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

شقيق بن عبدالله مناقب

شقيق د ال حضرمي مولي (ازاد كړي غلام) دی دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت نقل كوي او دده په شاګردانو كي يحيي بن قطان او وكيع وغيره قابل ذكر دي اكثر محدثينو دده توثيق كړی دی تردي پوري چې علامه نووي دده په عظمت دعلماؤ اتفاق نقل كړی دی.

****

[1] _ تفرد به المؤلف.

[2] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٠٢) (تحفة الأشراف: ١٦٢١٣)

٣٦٥٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي حَفْصَةَ، وَالأَعْمَشِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَهْبَانَ، وَابْنِ أَبِي لَيْلَى، وَكَثِيرٍ النَّوَّاءِ كُلِّهِمْ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَهْلَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَى لَيَرَاهُمْ مَنْ تَحْتَهُمْ كَمَا تَرَوْنَ النَّجْمَ الطَّالِعَ فِي أُفُقِ السَّمَاءِ، وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ مِنْهُمْ وَأَنْعَمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. ([1])

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي لوړو درجو والا به په جنت كي ټيټو درجو والاته داسي ښكاري لكه تاسو چي داسمان په كنارو كي راختونكي ستوري وينئ او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما دواړه به ددوئ نه وي او څومره ډير ښه دي دا دواړه.

امام ترمذي وائي: دا حديث عافيه او ابوسعيد خدري نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

١٥_باب

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٦٥٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي الْمُعَلَّى، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمًا، فَقَالَ: "إِنَّ رَجُلًا خَيَّرَهُ رَبُّهُ بَيْنَ أَنْ يَعِيشَ فِي الدُّنْيَا مَا شَاءَ أَنْ يَعِيشَ، وَيَأْكُلَ فِي الدُّنْيَا مَا شَاءَ أَنْ يَأْكُلَ، وَبَيْنَ لِقَاءِ رَبِّهِ فَاخْتَارَ لِقَاءَ رَبِّهِ". قَالَ: فَبَكَى أَبُو بَكْرٍ. فَقَالَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلَا تَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا الشَّيْخِ، إِذْ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا صَالِحًا خَيَّرَهُ رَبُّهُ بَيْنَ الدُّنْيَا وَبَيْنَ لِقَاءِ رَبِّهِ، فَاخْتَارَ لِقَاءَ رَبِّهِ قَالَ: فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ أَعْلَمَهُمْ بِمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: بَلْ نَفْدِيكَ بِآبَائِنَا وَأَمْوَالِنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنَ النَّاسِ أَحَدٌ أَمَنَّ إِلَيْنَا فِي صُحْبَتِهِ وَذَاتِ يَدِهِ مِنَ ابْنِ أَبِي قُحَافَةَ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ ابْنَ أَبِي قُحَافَةَ خَلِيلًا، وَلَكِنْ وُدٌّ وَإِخَاءُ إِيمَانٍ، وُدٌّ وَإِخَاءُ إِيمَانٍ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(٩٦) (تحفة الأشراف: ٤٢٠٢، و٤٢٠٦، و٤٢١٢، و٤٢٢٣، ٤٢٢٤)

اللّٰهِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. وَهٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَقَدْ رُوِيَ هٰذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ بِإِسْنَادٍ غَيْرِ هٰذَا. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: أَمَنَّ إِلَيْنَا يَعْنِي أَمَنَّ عَلَيْنَا. [1]

ترجمه: دابو المعلي نه مروي دي فرمائي چې يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم خطبه ورکړه او ويې فرمائيل يو کس ته الله تعالي اختيار ورکړو چې په دنيا کي دي ځومره خوښه وي دومره ژوند تير کړه او چې ځومره رزق دي په دنيا کي خوښ وي دومره اوخوره او يا خو خپل رب سره ملاويدو ته ترجيح ورکړه نو هغه خپل رب سره ملاقات کول خوښ کړل راوي وائي چې ددي خبري په اوريدو ابوبکر رضي الله عنه په ژړا شو صحابه کرامو اووئيل ايا ته دهغه بوډا په ژړا تعجب نه کوي کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو نيك بنده ذکر اوکړو چې خپل رب ورته په دوه خبرو کي ديوي خبري اختيار ورکړي وو چې يا دي په دنيا کي پاتي شي او يا دي دخپل رب سره ملاقات ته لاړ شي او هغه دخپل رب سره ملاقات کول خوښ کړل، مګر ابوبکر رضي الله عنه په صحابه کرامو کي دټولو نه زيات په هغه خبرو پوهيدونکي وو کومي چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وي او يا به يي درسول الله نه اوريدلي وي ابوبکر رضي الله عنه اووئيل بلکه مونږ به خپل ټول مال په تا باندي قربان کړو، رسول الله اوفرمائيل هيڅ يو سړي داسي نشته چې دابن ابي قحافه نه زيات زما د دوستئ حق اداء کونکي وي او په ماباندي خپل مال خرچ کونکي وي که چري ما چالره په دوستئ نيولي نو ابن ابي قحافه به مي نيولي وو ليکن زمونږ او دده په مينځ کي دايمان دوستي موجود ده او دا کلمه رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه يا دري پيري تکرار کړه او بيا يي اوفرمائيل ستاسو دا ملګري (يعني زه) دالله تعالي دوست دي.

امام ترمذي وائي: په دي باب کي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او دا حديث حسن غريب دي، دا حديث دابو عوانه په واسطه دعبدالملك بن عمير نه په يو بل سند هم وارد دي او په "امن الينا" کي الي په معني دعلي دي يعني ځوك چې په ما باندي زيات احسان کونکي وي.

****

٣٦٦٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ: "إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ، فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهُ"،

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢١٤٦)

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: فَدَيْنَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا. قَالَ: فَعَجِبْنَا. فَقَالَ النَّاسُ: انْظُرُوا إِلَى هَذَا الشَّيْخِ يُخْبِرُ رَسُولُ اللَّهِ عَنْ عَبْدٍ خَيَّرَهُ اللَّهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَ اللَّهِ. وَهُوَ يَقُولُ: فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا. قَالَ: فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ هُوَ الْمُخَيَّرُ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ هُوَ أَعْلَمَنَا بِهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِي صُحْبَتِهِ وَمَالِهِ أَبُو بَكْرٍ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا، وَلَكِنْ أُخُوَّةُ الْإِسْلَامِ لَا تُبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ خَوْخَةٌ إِلَّا خَوْخَةُ أَبِي بَكْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر كيناستو او ويې فرمائيل يو بنده ته الله تعالي اختيار وركړو چې دي ددنيا رونق خوبنوي او كه هغه څيزونه خوبنوي كوم چې دالله تعالي سره دي هغه هغه څيزونه خوبښ كړل كوم چې دالله تعالي سره دي ددي خبري په اوريدو ابوبكر رضي الله عنه عرض اوكړو اي دالله رسوله مونږ خپل پلار نيكه او خپلي ميندي په تاباندي قربان كړي ايا مونږ په دي باندي تعجب اوكړو خلقو اوئيل دي بوډا ته اوګورئ دالله رسول ديوداسي بنده په باره كي خبر وركوي چاته چې الله تعالي اختيار وركړي وو چې يا خو دي هغه ددنيا رنګيني او رونق خوښ كړي او يا دي هغه څيزونه خوښ كړي كوم چې دالله تعالي سره دي او دي دا خبره كوي چې مونږ خپل پلار نيكه او ميندي په تاباندي قربان كړي، كوم بنده ته چې الله تعالي اختيار وركړي وو هغه پخپله رسول الله وو او ابوبكر رضي الله عنه په مونږ كي په دي خبرو دهر چاته زيات پوهيدونكي وو، دابوبكر دخبرو په اوريدو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دهرچانه زيات زما د دوستئ حق اداء كونكي او په ماباندي خپل مال خرچ كونكي ابوبكر دي او كه ما څوك په دوستئ نيولي نو ابوبكر به مي نيولي وو ليكن اخوت داسلام كافي دي او مسجد طرف ته دي دابوبكر نه علاوه بل هيڅوك كړكئ نه پريږدي

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٦٦١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مَحْبُوبُ بْنُ مُحْرِزٍ الْقَوَارِيرِيُّ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ يَزِيدَ الْأَوْدِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا لِأَحَدٍ عِنْدَنَا يَدٌ

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلاة ٨٠ (٤٦٦)، وفضائل الصحابة ٣ (٣٦٥٤)، ومناقب الأنصار ٤٥ (٣٩٠٤). صحيح مسلم /فضائل الصحابة ١ (٢٣٨٢) (تحفة الأشراف: ٤١٣٥)

إِلَّا وَقَدْ كَافَيْنَاهُ مَا خَلَا أَبَا بَكْرٍ، فَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا يَدًا يُكَافِيهِ اللَّهُ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَا نَفَعَنِي مَالُ أَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِي مَالُ أَبِي بَكْرٍ، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله سلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيڅا په مونږ باندي کوم داسي احسان نشته چې ما يي حق اداء کړي نه وي مګر علاوه دابوبکر نه خکه چې دهغه په مانباندي دومره لوي احسان دي چې پوره بدله به يي دقيامت په ورځ الله تعالي اداء کوي او دهيڅا دمال نه هيڅ کله ماته دومره فائده نه ده رسيدلي څومره چې ماته دابوبکر دمال نه رسيدلي ده او که ما چالره دوست جوړولي نو ابوبکر به مي خليل جوړ کړي وو، واورئ ستاسو دا ملګري (يعني زه) دالله تعالي خليل يم.

امام ترمذي وائي: دا حديث په دي سند حسن غريب دي.

****

١٦_باب فِي مَنَاقِبِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما كِلَيْهِمَا

دابوبکر او عمر رضي الله عنهما دواړو (مشترک) فضائل او مناقب

٣٦٦٢_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ وَهُوَ ابْنُ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ". وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. (2)

ترجمه: دحذيفه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اقتداء اوکړئ په هغه دوه کسانو پسي کوم چې زما نه پس راتلونکي دي يعني دابوبکر او عمر.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او په دي باب کي دابن مسعود رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، سفيان ثوري دا حديث دعبدالملك بن عمير نه او هغه دربعي د ازاد کړي غلام په واسطه د ربعي نه او هغه دحذيفه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي.

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٨٣٩)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٨٣٩)

عُمَيْرٍ نَحْوَهُ، وَكَانَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ يُدَلِّسُ فِي هَذَا الحَدِيثِ، فَرُبَّمَا ذَكَرَهُ عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، وَرُبَّمَا لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ زَائِدَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ ابْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مَوْلًى لِرِبْعِيٍّ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى هَذَا الحَدِيثَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ هِلَالٍ مَوْلَى رِبْعِيٍّ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ أَيْضًا، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَاهُ سَالِمٌ الأَنْعُمِيُّ كُوفِيٌّ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ. (1)

ترجمه سفيان بن عيينه هم دعبدالملك بن عمير نه دماقبل حديث هم معني روايت نقل كړي دي مګر سفيان بن عيينه به په دي حديث كي تدليس كولو ډير كرته به يي په عن زائده عن عبدالملك بن عمير سند سره ذكر كولو او كله كله به يي دزائده واسطه نه ذكر كوله.
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي، سفيان ثوري دا حديث دعبدالملك بن عمير نه نقل كړي دي او هغه دربعي د ازاد كړي غلام په واسطه دحذيفه رضي الله عنه نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم د ربعي نه او هغه دحذيفه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي دارنګي دا روايت سالم انعمي دكوفي نه او هغه دربعي بن حراش په واسطه دحذيفه رضي الله عنه نه هم نقل كړي دي.

****

٣٦٦٣_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سَالِمٍ أَبِي العَلَاءِ المُرَادِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ هَرِمٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "إِنِّي لَا أَدْرِي مَا بَقَائِي فِيكُمْ فَاقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي". وَأَشَارَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ. (2)

ترجمه : : دحذيفه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په مجلس كي موجود وو چې ويي فرمائيل ماته پته نشته چې زه به په تاسو كي څو پوري موجود يم لهذا تاسو دهغه دوه كسانو پيروي اوكړئ څوك چې به زما نه پس راځي او رسول الله

---

1 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(٩٧) (تحفة الأشراف : ٣٣١٤)

2 ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(٩٧) (تحفة الأشراف : ٣٣١٤)

دي وخت کي ابوبکر او عمر رضي الله عنهما ته اشاره اوکړه.

****

٣٦٦٤_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ هَذَانِ سَيِّدَا كُهُولِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ، لَا تُخْبِرْهُمَا يَا عَلِيُّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دابوبکر او عمر رضي الله عنهما متعلق اوفرمائيل دوئ دواړه دجنت دخوانانو سرداران دي برابره خبره ده چې دتير شوي خلقو وي او که دراتلونکو مگر علاوه دانبياؤ او رسولانو نه (اورسول الله اوفرمائيل) اي علي دوئ دواړو ته ددي خبري خبر مه ورکوه.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٣٦٦٥_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُوَقَّرِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ طَلَعَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَذَانِ سَيِّدَا كُهُولِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ، يَا عَلِيُّ لَا تُخْبِرْهُمَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْوَلِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُوَقَّرِيُّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَسْمَعْ عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ مِنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَلِيٍّ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. (٢)

ترجمه: دعلي رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وم چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما راغلل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا دواړه دجنت د ځوانانو سرداران دي په تيرو شوو راتلونکو ټولو خلقو کي مگر دانبياء او مرسلين نه علاوه او اي علي دوئ ته خبر مه ورکوه.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي او وليد بن محمد په باب دحديث کي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٦)

ضعيف دي او علي بن حسين دعلي رضي الله عنه نه اوريدل نه دي كړي او دا حديث دعلي رضي الله عنه نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او په دي باب كي د انس او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٦٦٦ـ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: ذَكَرَ دَاوُدُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ مَا خَلاَ النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ، لاَ تُخْبِرْهُمَا يَا عَلِيُّ". [1]

ترجمه دعلي رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ابوبكر او عمر به دجنت دځوانانو سرداران وي برابره خبره ده چي دراتلونكو خلقو وي او كه دتيرو شوو خلقو وي مگر دانبياؤ او رسولانون نه علاوه ليكن اي علي دوئ ته مه وايه.

****

٣٦٦٧ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: "أَلَسْتُ أَحَقَّ النَّاسِ بِهَا، أَلَسْتُ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ، أَلَسْتُ صَاحِبَ كَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ. وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَهَذَا أَصَحُّ.

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: فَذَكَرَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَهَذَا أَصَحُّ. [2]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي يو خل ابوبكر رضي الله عنه اوونيل ايا زه هغه كس نه يم چاچي دټولو نه اول ايمان راوړي دي؟ او ايا زه دداسي داسي خوبيانو مالك نه يم؟

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي بعضي راويانو دا حديث دشعبه نه او هغه دجريري نه او هغه دابو نضره نه نقل كړي دي چي ابوبكر رضي الله عنه اوونيل، او دا روايت زيات صحيح دي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(٩٥) (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٥٩٦)

****

٣٦٦٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا الحَكَمُ بْنُ عَطِيَّةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَخْرُجُ عَلَى أَصْحَابِهِ مِنَ المُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ، وَهُمْ جُلُوسٌ فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَلَا يَرْفَعُ إِلَيْهِ أَحَدٌ مِنْهُمْ بَصَرَهُ إِلَّا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَإِنَّهُمَا كَانَا يَنْظُرَانِ إِلَيْهِ وَيَنْظُرُ إِلَيْهِمَا، وَيَتَبَسَّمَانِ إِلَيْهِ وَيَتَبَسَّمُ إِلَيْهِمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الحَكَمِ بْنِ عَطِيَّةَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُهُمْ فِي الحَكَمِ بْنِ عَطِيَّةَ. (١)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په مهاجرينو او انصارو كي خپلو صحابه كرامو ته راوتلو او دوئ سره به كيناستلو چي په دوئ كي به ابوبكر او عمر رضي الله عنهما هم موجود وو او په خلقو كي به هيچا رسول الله صلي الله عليه وسلم طرف ته نظر نه پورته كولو مگر علاوه دابوبكر او عمر نه څكه چي دوئ دوارو به ورته كتل او خاندل به يي اورسول الله به دوئ دوارو ته كتل او خاندل به يي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي داحديث مونږ صرف دحكيم بن عطيه په روايت پيژنو او بعضي محدثينو په حكيم بن عطيه باندي كلام كړي دي.

****

٣٦٦٩_حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ أُمَيَّةَ، عَنِ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ فَدَخَلَ المَسْجِدَ، وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِينِهِ، وَالآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ وَهُوَ آخِذٌ بِأَيْدِيهِمَا، وَقَالَ: "هَكَذَا نُبْعَثُ يَوْمَ القِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، وَسَعِيدُ بْنُ مَسْلَمَةَ لَيْسَ عِنْدَهُمْ بِالقَوِيِّ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ أَيْضًا مِنْ غَيْرِ هَذَا الوَجْهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ. (٢)

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه ورځ راووتلو او مسجد ته داخل شو چي ابوبكر او عمر رضي الله عنهما كي يو كس يي ښي طرف ته روان وو او بل كس يي كس طرف ته روان وو او رسول الله ددوئ لاسونه نيولي وو او فرمائيل يي همداسي به مونږ دقيامت په ورځ راپورته كيږو.

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٨٦)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٦٤٦)

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي او سعيد بن مسلمه دمحدثينو په نزد قوي نه دي او دارنګي دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي په سند د نافع عن ابن عمر.

تخريج: سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (٩٩) (تحفة الأشراف: ٧٤٣٩٩)

****

٣٦٧٠ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى الْقَطَّانُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ أَبِي الأَسْوَدِ، حَدَّثَنِي كَثِيرٌ أَبُو إِسْمَاعِيل، عَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ التَّيْمِيِّ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: " أَنْتَ صَاحِبِي عَلَى الْحَوْضِ، وَصَاحِبِي فِي الْغَارِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ابو بکر رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته به په حوض کوثر کي زما ملګرى يې، او ته په غار حرا کي زما ملګري وي.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح غريب دى.

****

٣٦٧١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى أَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ، فَقَالَ: " هَذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَنْطَبٍ لَمْ يُدْرِكِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه: دعبدالله بن حنطب نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل ابوبکر او عمر اوليدل نو ويي فرمائيل دوئ دواړه داسلام غوږونه او سترګي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث مرسل دي او عبدالله بن حنطب درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملاقات نه دي کړي او په دي باب کي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

****

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢٢٦) (الصحيحة ٨١٢)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف)

٣٦٧٢_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ هُوَ ابْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ ". فَقَالَتْ عَائِشَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ مَقَامَكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَأْمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، قَالَتْ: فَقَالَ: " مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ ". قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ لِحَفْصَةَ: قُولِي لَهُ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ مَقَامَكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ، فَأْمُرْ عُمَرَ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ، فَفَعَلَتْ حَفْصَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّكُنَّ لأَنْتُنَّ صَوَاحِبَاتُ يُوسُفَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ ". فَقَالَتْ حَفْصَةُ لِعَائِشَةَ: مَا كُنْتُ لأُصِيبَ مِنْكِ خَيْرًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَسَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ. [1]

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ابوبكر ته اووائي چې خلقو ته مونځ وركړئ ددي په جواب كي عائشه رضي الله عنها اووئيل اي دالله رسوله ابوبكر چې كله ستا په ځاي مونځ وركوي نو د ژړا په وجه خلقو ته قراءت نشي اورولي په دي وجه تاسو عمر ته اووائي چې خلقو ته مونځ وركړي رسول الله بيا اوفرمائيل ابوبكر ته حكم اوكړئ چې خلقو ته مونځ وركړي، عائشه رضي الله عنها وائي ما حفصي ته اوونيل ته ورته اووايه چې ابوبكر كله ستاسو په ځاي مونځ وركوي نو دژړا په وجه خلق دهغه قراءت نشي اوريدي په دي وجه مناسب ده چې تاسو عمر ته حكم اوكړئ چې خلقو ته مونځ وركړي، نو حفصه رضي الله عنها همداسي اوكړل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو هم هغه ښځ چاچې يوسف عليه السلام تنګ كړي وو او ابوبكر ته اووائي چې خلقو ته مونځ وركړي حفصه عائشي ته په طور شكايت اووئيل ستا نه ماته هيڅ كله خير نه دي رارسيدلي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعبدالله بن مسعود، ابوموسي اشعري، ابن عباس، سالم بن عبيد، او عبدالله بن زمعه رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ٣٩ (٦٦٣)، و٤٦ (٦٧٩)، و٦٧ (٧١٣)، و٧٠ (٧١٦)، والاعتصام (٧٣٠٣)، صحيح مسلم/الصلاة ٢١ (٤١٨)، سنن النسائي/الإمامة ٤٠ (٨٣٤)، سنن ابن ماجه/الإقامة ١٤٢ (١٢٣٢) (تحفة الأشراف: ١٦١٥٣)، ومسند احمد (٣٤/٦، ٩٦، ٩٧، ٢١٠، ٢٢٤)، وسنن الدارمي/المقدمة ١٤ (٨٣)

تشريح : "مروا ابا بكر فليصل بالناس" دا حكم رسول الله صلي الله عليه وسلم په مرض الوفات كي كړى وو هم ددي حديث په وجه به علي رضي الله عنه فرمائيل چې كوم كس رسول اله زمونږ دپاره ددين په لحاظ خوښ كړى دى هغه زمونږ ددنيا په لحاظ هم خوښ دى خو په دي وجه به مونږ ده لره ددين او دنيا خليفه جوړوو او همدا وجه وه چې صحابه كرامو ده لره خليفه منتخب كړو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په مصلي يي اودرولو.

صديق اكبر رضي الله عنه به دقران لوستلو په وخت كي ژړل

لم يسمع الناس من البكاء : يعني دده دژړا په وجه به خلقو خپل اوازونه نه اوريدل دا دصديق اكبر رضي الله عنه خاص صفت وو چې دتلاوت په وخت كي به يي ډيرژړل دده په باره كي امام نووي ليكلي دي چې دى په صحابه كرامو كي انتهائي نرم دل وو او چې كله به يي قران لوستلو نو دومره به متاثر شو چې بي اختياره به په ژړا شو.

****

٣٦٧٣ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ عِيسَى بْنِ مَيْمُونٍ الأَنْصَارِيِّ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْبَغِي لِقَوْمٍ فِيهِمْ أَبُو بَكْرٍ أَنْ يَؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيڅ يو قوم دپاره مناسب نه دي چې دابوبكر په موجودګئ كي دهغه نه علاوه بل څوك امامت دپاره خوښ كړي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي

****

٣٦٧٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ نُودِيَ فِي الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ ". فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي مَا عَلَى مَنْ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٧٥٣٨)

دُعِيَ مِنْ هَذِهِ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ. فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا ؟ قَالَ: " نَعَمْ، وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دځه څيز يو جوړه دالله په نوم خيرات کړي هغه ته به په جنت کي اواز ورکولی شي چې ای دالله بنده دا دروازه درته ښه ده (په دی جنت ته ننوزه)، څوك چې ډير مونځ گذار وي، دباب الصلاه نه به ورته اواز کيږي، او څوك چې مجاهد وي دباب الجهاد نه به ورته اواز کيږي ، او څوك چې ډير خيراتونه کوي دباب الصدقه نه به ورته اواز کيږي او څوك چې ډيری روژې نيسي ، دباب الريان نه به ورته اواز کيږي ، ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل يا رسول الله څما مور او پلار درنه قربان شه، چې ديوی دروازی نه اووبلی شي نو نوروته خويي ضرورت پاتي نشو، خو ايا داسي بنده به هم وي چې دټولو دروازو نه به اووبللی شي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اميد کوم چې په هغو کي به يو ته هم يی .

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: انفق: انفق ينفق انفاقا دباب افعال نه معني خرج کول نفقه معني خرچه.

تشريح: "څوك چې دالله په لاره کي جوړه څيزونه خرج کړي" دجوړي نه مراد دوه اسونه يا دوه چيلئ يا دوه غواګاني دي يا مطلب دادی چې يو نر او يو ښځه.تردي چې صرف دوه پاتي نشي بلکه نسل يي چالو پاتي شي اوددوئ دپاره ددي ثواب جاري پاتي شي.

دعي من باب الصلاة: دمونځ ددروازي نه به راوبللي شي ، مطلب دادي په چا کي چې دکوم عبادت غلبه وي چې د فرائضو سره سره نوافل هم ادا کوي ده ته به ددي دروازي نه بلنه اوشي او جنت ته به داخل شي.

"دعي من باب الريان" سيرابئ ته وئيلی شي يعني روژه دارته به دباب الصوم په ځاي دباب الريان نه دعوت ورکولی شي په دي کي ديته اشاره ده چې په دنيا کي روژه دار کومه تنده تيره کړي وه اوس به تاسو هميشه دداسي تندي نه محفوظ يئ.

"ان تكون منهم" يعني ته به ددوئ نه يي په دي کي دصديق اکبر رضي الله عنه دفضيلت ذکر دی دويمه خبره داده چې په کوم څيز کي دتکبر خطره نه وي نو په خوله يي ذکر کول جائز دي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصوم ٤ (١٨٩٧) . والجهاد ٣٧ (٢٨٤١) . وبدء الخلق ٦ (٣٢١٦) . وفضائل الصحابة ٥ (٣٦٦٦) . صحيح مسلم /الزكاة ٢٧ (١٠٢٧) . سنن النسائي/الصيام ٤٣ (٢٢٤٠) . والزكاة ١ (٢٤٤١) . والجهاد ٢٠ (٣١٣٧) (تحفة الأشراف : ١٢٢٧٩) . وط /الجهاد ١٩ (٤٩) . ومسند احمد (٢/٢٦٨، ٣٣٦)

* * * * * * * * * * * * * * * *

١٧_باب

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٣٦٧٥_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْبَزَّازُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَصَدَّقَ فَوَافَقَ ذَلِكَ عِنْدِي مَالًا. فَقُلْتُ: الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا. قَالَ: فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟". قُلْتُ: مِثْلَهُ، وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟". قَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللهَ وَرَسُولَهُ. قُلْتُ: وَاللهِ لَا أَسْبِقُهُ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دعمر فاروق رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته دصدقي كولو حكم اوكړو او اتفاقا په دغه ورځو كي زما سره مال هم موجود وو ما په زړه كي اووئيل كه چري كومه ورځ زه دابوبكر نه مخكي كيدي شم نو هغي دپاره نن ورځ زياته مناسب ده زه لاړم او خپل نيم مال مي راوړو رسول الله صلي الله عليه وسلم رانه تپوس اوكړو ايا دخپل كور والا دپاره دي څه پريخودلي دي؟ ما عرض اوكړو څومره چې مي راوړي دي دومره مي هغوئ ته هم پريخودلي دي، او ابوبكر رضي الله عنه خپل ټول مال راوړو چې كوم ورسره موجود وو رسول الله ورنه تپوس اوكړو خپل كور والاته دي څه پريخودلي دي؟ هغه عرض اوكړو هغوئ دپاره مي الله او دهغوئ رسول پريخودلي دي ما په زړه كي اووئيل په الله قسم زه دده نه هيڅ كله مخكي كيدلي نشم.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دى.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٣٦٧٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ، فَكَلَّمَتْهُ فِي شَيْءٍ، وَأَمَرَهَا بِأَمْرٍ، فَقَالَتْ: أَرَأَيْتَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ لَمْ أَجِدْكَ؟

---

[1] _ سنن ابي داود/ الزكاة ٤٠ (١٦٧٨) (تحفة الأشراف: ١٠٣٩٠)، وسنن الدارمي/الزكاة ٢٦ (١٧٠١)

قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَا بَكْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه: دجبير بن مطعم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يوه ښځه راغله او دځه مسئلي باره کي يي خبري اوکړي رسول الله ورته دځه خبري حکم اوکړو نو هغي اووئيل ماته اووايه زه تا موجود اونه وينم (نوچاته ورشم) رسول الله اوفرمائيل که زه دي اونه موندلم نو ابوبکر ته ورشه.

امام ترمذي وائي: دا حديث غريب صحيح دي.

د جبير بن مطعم رضي الله عنه مناقب

نوم جبير کنيه ابو محمد اوډپلار نوم يي معلم قريشي وو ، دصحيح قول مطابق جبير دصلح حديبيه او فتح مکي په درمياني زمانه کي مسلمان شوي وو (الاصابه)

په غزوه حنين کي شريك شو اويه واپسئ کي درسول الله سره يو ځاي وو(مسند احمد: ۴ج/۸۴)

جبير دعلم الانساب لوي عالم او تجربه کار وو چې د ابوبکر صديق رضي الله عنه نه يي دا علم حاصل کړي وو ، عمر فاروق رضي الله عنه چې به کله تحقيقاتو کولو ته مجبور شو نودده دعلم نه به يي استفاده کوله ، جبير اګرچې دقوم سردار هم وو ليکن دتکبر دشائبي نه بلکل پاك وو ، دقريشو په حکيم ترينو خلقو کي شميرلي شو ،اويه ۵۷ هجري کي په مدينه طيبه کي وفات شو(اسد الغابه)

دجبير دمروياتو شمير شپيتو ته رسيګي چې بعضي پکي متفق عليه او بعضي صرف دبخاري نقل کړده دي.

****

٣٦٧٧ـحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ رَاكِبٌ بَقَرَةً إِذْ قَالَتْ: لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ". فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آمَنْتُ بِذَلِكَ أَنَا، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ". قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: وَمَا هُمَا فِي الْقَوْمِ يَوْمَئِذٍ وَاللَّهُ أَعْلَمُ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٥ (٣٦٥٩) ، والأحكام ٥١ (٧٢٢٠) ، والاعتصام ٢٥ (٧٣٦٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١(٢٣٨٦) (تحفة الأشراف: ٣١٩٢)

هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يو خل يو كس په غوايي باندي سور وو نو غويي اوونيل زه خو ددي دپاره نه يم پيدا كړى شوي زه خو د فصل دپاره پيدا شوي يم رسول الله اوفرمائيل زما په دي باندي ايمان دي اود ابو بكر او عمر هم درباندي ايمان دى. ابو سلمه وايي چې هغوى پدغه ورځ دلته موجود نه وو.

تخريج:

****

٣٦٧٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ رَاشِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَ بِسَدِّ الأَبْوَابِ إِلَّا بَابَ أَبِي بَكْرٍ". هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. (2)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم مسجد طرف ته دتمامو راماتو شوو دروازو دبندولو حكم اوكړو مګر علاوه دابوبكر رضي الله عنه د دروازي نه.

امام ترمذي وائي: داحديث په مذكوره سند غريب دي اوپه دي باب كي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه هم حديث وارد دى.

****

٣٦٧٩_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَمِّهِ إِسْحَاقَ بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " أَنْتَ عَتِيقُ اللَّهِ مِنَ النَّارِ " فَيَوْمَئِذٍ سُمِّيَ عَتِيقًا. هَذَا غَرِيبٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ مَعْنٍ، وَقَالَ: عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ. (3)

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الحرث والمزارعة ٣ (٢٣٢٤) . وأحاديث الأنبياء ٥٢ (٣٤٧١) . وفضائل الصحابة ٥ (٣٦٦٣) . و٦ (٣٦٩٠) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١ (٢٣٨٨) (تحفة الأشراف : ١٤٩٥١)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٢١٠)

[3] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٩٢١) (الصحيحة ١٥٧٤)

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي ابوبكر رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو رسول الله ورته اوفرمائيل ته دجهنم نه دالله تعالي په ازادو کړو خلقو کي يي او هم ددغه ورځي نه په هم هغه باندي عتيق نوم کيخودي شو.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي بعضي راويانو دا حديث دمعن نه نقل کړي دي او په سند کي يي عن موسي بن طلحه عن عائشه ذکر کړي دي.

****

٣٦٨٠ـحَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا تَلِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي الجَحَّافِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا لَهُ وَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيرَانِ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ، فَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ: فَجِبْرِيلُ وَمِيكَائِيلُ، وَأَمَّا وَزِيرَايَ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ: فَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو الجَحَّافِ اسْمُهُ: دَاوُدُ بْنُ أَبِي عَوْفٍ، وَيُرْوَى عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الجَحَّافِ وَكَانَ مَرْضِيًّا، وَتَلِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ يُكْنَى: أَبَا إِدْرِيسَ وَهُو شيعي. (1)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ يو نبي داسي نشته دچاچې په اسمان والا مخلوق کي دوه وزيران نه وي او دوه وزيران يي دزمکي په مخلوق کي نه وي پاتي شو زما دوه داسمان والا وزيران نو هغه جبرائيل او ميکائل عليهما السلام دي او په زمکي والا مخلوق کي زما دوه وزيران ابوبکر او عمر دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي او دابو الحجاف نوم داود بن ابوعوف دي دسفيان ثوري نه روايت دي فرمائي چې مونږ ته ابوالحجاف روايت بيان کړي دي (او هغه يو بهترين شخصيت دي) او د تليد بن سليمان اسم کنيه اوبو ادريس ده او دي اهل شيعه دي.

تشريح: دلته دنيك او بد حاكم علاماتو ته اشاره ده نيك حاكم هغه څوك دى چې نيك وزيران يي ساتلي وي او دنيکو کارونو مشوري ورته کوي او دهيريدو په وخت کي ورته يادول کوي او بد حاكم هغه څوك دى چې نه ورته وزير صحيح مشوره ورکوي او نه دی پخپله صحيح کارکوي. په دي حديث کي دي خبري ته ترغيب دى چې امير دي خپلو وزيرانو لره ايماندار او تقوي دار جوړ کړي تردي چې صحيح مشوري ورته ورکړي او دبدو کارونو نه يي منع کړي او که وزيران داسي نه شي نو بادشاه ته به دشر اوفساد مشوره ورکړي دکوم په وجه چې به دده دپاره حکومت دندامت سبب اوګرځي.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤١٩٦)

****

١٨_بَاب فِي مَنَاقِبِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضي الله عنه

د امير المؤمنين عمر بن الخطاب مناقب

نوم عمر ، كنيه يي ابوحفص لقب يي فاروق د پلار نوم خطاب اود مور نوم يي فتحه وو (الاصابة: ٢/٥١٨).

د عمر فاروق خاندان دجاهليت په ايامو كي هم ډير ممتاز وو، عمر فاروق رضي الله عنه دهجرت نبوي نه ۴۰ كاله مخكي پيدا شوى وو.

دطفوليت حالات يي مستور دي ، كله چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم دنبوت اعلان وكړو نو دى يي په دشمنئ كي سرگرم وو ، خو رسول الله دده دپاره دعا اوغوښتله (ترمذي)

چې دعا قبوله شوه نو په اسلام كي داخل شو، څلوېښتم نبمر مسلمان وو اوداد نبوت اوم كال وو، مديني ته يي هجرت كړي وو اوپه تمامو غزواتو كي شريك شوي وو.

عمر فاروق رضي الله عنه په دور خلافت كي ډير فتوحات وشول چې شام ، عراق، بيت المقدس پكي شامل دي ، په عمر فاروق رضي الله عنه كي اصحاب سيرت يو څو خصوصيات ليكلي دي كوم چې مندرجه ذيل دي:

(١) خوف الهي: عمر فاروق رضي الله عنه دالله تعالي نه ډير يريدونكي وو اود قران لوستو په وخت كي به يي خوف الهي ډير زياتيدو كله كله به يي دخوف الهي په وجه فرمائيل چې كاش شه خس او خاشاك وى او دسره پيدا شوي نوي.

(٢) حب رسول او اتباع سنت: دوفات نبوي نه پس به يي هم درسول پاك په ياد كي ژړل كله چې بلال رضي الله عنه په مسجد اقصي كي اذان وكړو نو دور نبوي ورته راياد شو او بيا يي ډير زيات وژړل (فتوح الشام : فتح بيت المقدس)

(٣) زهد او قناعت: په جامو كي به يي دولس دولس پيوندونه وو او خوراك ، لباس، بستره به يي انتهايي ساده وو.

(۴) تواضع: دصدقي اوښان به يي پخپله غوړول او وئيل به يي چې دمسلمانانو والي ددوئ غلام هم وي(كنز العمال).

شهادت: دمغيره بن شعبه غلام ابو لؤلؤ فيروز د چارشنبي دسحر په مونځ كي ورباندي شپږ وارونه وكړل دكوم په وجه چې يوڅو ورځي پريوتو اود هفتي په ورځ په اول محرم ۲۴ هجري كي شهيد شو. اود رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوا كي دفن كړي شو ،دجنازي مونځ ورباندي صهيب رومي وكړو چې ۵۳۹ روايات ورنه مروي دي.

٣٦٨١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا خَارِجَةُ

بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اللَّهُمَّ أَعِزَّ الإِسْلاَمَ بِأَحَبِّ هَذَيْنِ الرَّجُلَيْنِ إِلَيْكَ: بِأَبِي جَهْلٍ، أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ". قَالَ: وَكَانَ أَحَبَّهُمَا إِلَيْهِ عُمَرُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه . دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي الله په دي دواړو كسانو يعني ابوجهل او عمر بن خطاب كي چې څوك ستا خوښ وي دهغه په ذريعه اسلام ته قوت وركړي رسول الله اوفرمائيل په دوئ دواړو كي عمر الله تعالي ته محبوب اووتلو.

امام ترمذي وائي: دابن عمر رضي الله عنهما داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٦٨٢ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ العَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا خَارِجَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ هُوَ الأَنْصَارِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ جَعَلَ الحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهِ". وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: مَا نَزَلَ بِالنَّاسِ أَمْرٌ قَطُّ فَقَالُوا فِيهِ، وَقَالَ: فِيهِ عُمَرُ، أَوْ قَالَ: ابْنُ الخَطَّابِ فِيهِ شَكَّ خَارِجَةُ إِلَّا نَزَلَ فِيهِ القُرْآنُ عَلَى نَحْوِ مَا قَالَ عُمَرُ. وَفِي البَابِ عَنِ الفَضْلِ بْنِ العَبَّاسِ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الوَجْهِ، وَخَارِجَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ هُوَ ابْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَهُوَ ثِقَةٌ. ([2])

ترجمه : د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې نبي كريمﷺ فرمائيلي دي:الله تعالي دعمرفاروق په ژبه او زړه باندي حق جاري كړي دي (دی چې څه وائي حق وائي).

ابن عمر رضي الله عنهما وايي كله داسي واقعه نه ده راغلي په كومه كي چې خلقو خپلي رائي ګاني پيش كړي وي او عمر رضي الله عنه هم رائي پيش كړي وي او قران په دغه واقعه كي دعمر رضي الله عنه درائي خلاف نازل شوي وي.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، دخارجه بن عبدالله انصاري پوره نوم خارجه بن عبدالله بن سليمان بن زيد بن ثابت دي او ثقه دي، په دي باب كي دفضل بن عباس، ابوذر او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٦٥٥). و مسند احمد (٢/٩٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٦٥٦). و مسند احمد (٢/٥٣، ٩٥)

٣٦٨٣_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنِ النَّضْرِ أَبِي عُمَرَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اللَّهُمَّ أَعِزَّ الإِسْلاَمَ بِأَبِي جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ، أَوْ بِعُمَرَ". قَالَ: فَأَصْبَحَ فَغَدَا عُمَرُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُهُمْ فِي النَّضْرِ أَبِي عُمَرَ وَهُوَ يَرْوِي مَنَاكِيرَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي الله اسلام ته په ابوجهل بن هشام يا عمر په ذريعه قوت وركړي كله چې سحر شو عمر درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او اسلام يي قبول كړو.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي، بعضي محدثينو په نضر ابو عمر راوي باندي دحفظ په اعتبار كلام كړي دي او هغه به منكر احاديث نقل كول.

****

٣٦٨٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ الْوَاسِطِيُّ أَبُو مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ ابْنُ أَخِي مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ لأَبِي بَكْرٍ: يَا خَيْرَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ. فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَمَا إِنَّكَ إِنْ قُلْتَ ذَاكَ فَلَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَى رَجُلٍ خَيْرٍ مِنْ عُمَرَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ. ([2])

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې عمر رضي الله عنه ابوبكر ته اووئيل اي درسول الله نه پس په ټول مخلوق كي بهتر انسانه ددي خبري په اوريدو ابوبكر رضي الله عنه اوفرمائيل كه چرې ته داسي وائي نو ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي دعمر نه په بهتر انسان باندي نمر لانه دي راختلي.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او سند يي څه خاص قوي نه دي او په دي باب كي د ابو الدرداء رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٦٨٥_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ،

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٢٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٥٨٩)

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، قَالَ: " مَا أَظُنُّ رَجُلًا يَنْتَقِصُ أَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ يُحِبُّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دمحمد بن سيرين قول دي ماته داسي څوك نه دي معلوم چې هغه درسول الله سره محبت کوي او د ابوبکر او عمر تنقيص اوکړي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٦٨٦_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا الْمُقْرِئُ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ مِشْرَحِ بْنِ هَاعَانَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مِشْرَحِ بْنِ هَاعَانَ. (2)

ترجمه : دعقبه بن عامر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري زما نه پس دبل نبي راتلل ممکن وي نو عمر بن خطاب ته به نبوت ورکړي شوي وو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف دمشرح بن هاعان په روايت پيژنو.

****

٣٦٨٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَأَيْتُ كَأَنِّي أُتِيتُ بِقَدَحٍ مِنْ لَبَنٍ، فَشَرِبْتُ مِنْهُ، فَأَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ". قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " الْعِلْمَ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (3)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما په خوب کي اوکتل چې ماته دپيو جام راکړي شو چې څه ورنه ما اوڅکل او بيا مي باقي پاتي شوي عمر بن خطاب ته ورکړل خلقو اووئيل اي دالله رسوله تاسو ددي څه تعبير اوويستلو رسول الله اوفرمائيل ددي تعبير علم دي.

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٣٠٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٩٦٦) ، ومسند احمد (٤/١٥٤)

3 _ انظر حديث رقم ٢٢٨٣

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

۳٦٨٨_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِقَصْرٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ قَالُوا: لِشَابٍّ مِنْ قُرَيْشٍ فَظَنَنْتُ أَنِّي أَنَا هُوَ، فَقُلْتُ: وَمَنْ هُوَ؟ فَقَالُوا: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه جنت ته داخل شوم او هلته مي دسرو زرو يو محل اوليدو ماتپوس اوكړو دا محل دچا دي فرشتو راته اووئيل دا په قريشو كي ديو ځوان دي ما سوچ اوكړو چي شايد هغه به زه يم تپوس مي اوكړو چې هغه ځوان څوك دي فرشتو راته اووئيل هغه عمر بن خطاب دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳٦٨٩_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ أَبُو عَمَّارٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي بُرَيْدَةَ، قَالَ: أَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِلَالًا، فَقَالَ: "يَا بِلَالُ بِمَ سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ؟ مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ إِلَّا سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي، دَخَلْتُ الْبَارِحَةَ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي، فَأَتَيْتُ عَلَى قَصْرٍ مُرَبَّعٍ مُشْرِفٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ فَقَالُوا: لِرَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ، فَقُلْتُ: أَنَا عَرَبِيٌّ، لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ قَالُوا: لِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ، قُلْتُ: أَنَا قُرَشِيٌّ، لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ قَالُوا: لِرَجُلٍ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ، قُلْتُ: أَنَا مُحَمَّدٌ، لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟ قَالُوا: لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ". فَقَالَ بِلَالٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ إِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهَا وَرَأَيْتُ أَنَّ لِلَّهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بِهِمَا". وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَمُعَاذٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "رَأَيْتُ فِي الْجَنَّةِ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا؟ فَقِيلَ: لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ أَنِّي دَخَلْتُ الْبَارِحَةَ الْجَنَّةَ يَعْنِي رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنِّي دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، هَكَذَا رُوِيَ فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ، وَيُرْوَى عَنِ ابْنِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٩٠)، ومسند احمد (١٠٧/٣، ١٤٩)

عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَالَ: رُؤْيَا الأَنْبِيَاءِ وَحْيٌ. (١)

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم شپه سبا کړه او بلال رضي الله عنه يي راوغوښتلو او تپوس يي اوکړو اي بلال څه وجه ده چې ته په جنت کې زما نه مخکې مخکې روان وې زه کله هم جنت ته نه يم داخل شوي مګر په خان پسې مي ستا کښار اوريدلي دي نن شپه زه جنت ته داخل شوم نو په خان پسي مي ستا کښار واوريدو زما تيريدل اوشول په يو څورس لوړ محل باندي چې دسرو زرو نه جوړ وو ما تپوس اوکړو دا محل دچا دي فرښتو راته اوونيل په عربو کې ديو کس دي ما په زړه کې اوونيل عربي خو زه يم دا محل دچا دي چا راته اوونيل په قريشو کې ديو کس دي نو ما اوونيل قريشي زه يم دا محل دچا دي ماته اوونيلي شول دمحمد په امت کې ديو کس دي ما ورته اوونيل محمد خو زه يم دا محل دچا دي فرښتو راته اوونيل دعمر بن الخطاب دي، بلال رضي الله عنه اوونيل اي دالله رسوله داسي وخت کله هم نه دي راغلي چې ما اذان کړي وي او دوه رکعاتونه مي نه وي کړي او نه کله داسي وخت راغلي دي چې زما اودس مات شوي وي او په همدغه وخت مي اودس نه وي کړي او دا ګمان مي نه وي کړي چې دالله تعالي دپاره په ما باندي دوه رکعاتونه واجب دي دي باره کي رسول الله اوفرمائيل دهمدغه دوه رکعاتونو په وجه دا مرتبه تاته حاصل شوي ده.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب کي دجابر، معاذ، انس، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما په جنت کي دسرو زرو يو محل اوليدو ما اوونيل دا محل دچا دي راته اوونيلي شول دعمر بن خطاب دي او په دي حديث کي ددي کلماتو "اني دخلت البارحة الجنة" مفهوم دادي چې ما په خوب کي اوليدل چې زه جنت ته داخل شوي يم، په بعضي روايتونو کي همداسي دي، دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائيل يي چې دانبياؤ خوب وحي وي.

****

٣٦٩٠_حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَال: سَمِعْتُ بُرَيْدَةَ، يَقُولُ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ جَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللَّهُ سَالِمًا أَنْ أَضْرِبَ بَيْنَ يَدَيْكَ بِالدُّفِّ وَأَتَغَنَّى، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِي وَإِلَّا فَلَا". فَجَعَلَتْ تَضْرِبُ، فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ

١_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٩٦)، ومسند احمد (٥/٣٥٢، ٣٦٠)

عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ، فَأَلْقَتِ الدُّفَّ تَحْتَ اسْتِهَا، ثُمَّ قَعَدَتْ عَلَيْهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا عُمَرُ، إِنِّي كُنْتُ جَالِسًا وَهِيَ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُو بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَهِيَ تَضْرِبُ، فَلَمَّا دَخَلْتَ أَنْتَ يَا عُمَرُ أَلْقَتِ الدُّفَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ بُرَيْدَةَ، وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَعَائِشَةَ. (1)

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم يوې غزوې ته تلي وو بيا چې کله واپس راغي نو يوه توررنګې حبشي وينځه راغله ونيل يې چې اې دالله رسوله ما نذر منلي وو که چرې ته دالله تعالي دجهاد نه واپس روغ او سالم خير او عافيت سره واپس راورسولې نو زه به ستا مخې ته دف وهم او سندره به وايم رسول الله ورته اوفرمائيل که نذر دې منلي وې نو دف اووهه او که نه وې نو بيا دف وهل پکار نه دي چنانچې هغې دف وهل شروع کړل او په همدې دوران کې ابوبکر رضي الله عنه داخل شو او هغې دف وهل بند نکړل بيا علي رضي الله عنه داخل شو بيا يې هم بند نکړل بيا عثمان رضي الله عنه داخل شو نو هغې خپل دف بند نکړو بيا عمر رضي الله عنه داخل شو کله چې يې عمر اوليدلو نو هغې خپل دف دخان نه شاته اوغورځولو او دپاسه ورباندې کيناستله ددې حالت په ليدو باندې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې عمر ستا نه شيطان هم تختې زه خو ناست وم چې دې دف وهلو تردې چې ابوبکر راغي نو بند يې نکړو بيا علي رضي الله عنه راغلو نو هم يې بند نکړو بيا عثمان رضي الله عنه راغلو نو هم يې بند نکړو مګر کله چې ته راغلې نو دې شاته اوغورځولو.

امام ترمذي وائي: دبريده دا حديث حسن صحيح غريب دي، او په دې باب کې دعمر، سعد بن ابي وقاص، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٦٩١_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ رُومَانَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا، فَسَمِعْنَا لَغَطًا وَصَوْتَ صِبْيَانٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا حَبَشِيَّةٌ تُزْفِنُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهَا، فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ تَعَالَيْ فَانْظُرِي". فَجِئْتُ فَوَضَعْتُ لَحْيَيَّ عَلَى

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٦٤)، و مسند احمد (٥/٣٥٣)

مَنْكِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهَا مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى رَأْسِهِ. فَقَالَ لِي: " أَمَا شَبِعْتِ أَمَا شَبِعْتِ ". قَالَتْ: فَجَعَلْتُ أَقُولُ: لَا. لِأَنْظُرَ مَنْزِلَتِي عِنْدَهُ. إِذْ طَلَعَ عُمَرُ قَالَتْ: فَارْفَضَّ النَّاسُ عَنْهَا. قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَنْظُرُ إِلَى شَيَاطِينِ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ قَدْ فَرُّوا مِنْ عُمَرَ ". قَالَتْ: فَرَجَعْتُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم موجود وو چې په دغه دوران کي مونږ يو شور واوريدو او دماشومانو داوازونو پشان اوازونه مو واوريدل چنانچې رسول الله اودريدلو نو ويې کتل چې يوه حبشي ښځه ګډيږي او ماشومان ورنه راچاپير شوي دي رسول الله اوفرمائيل اي عائشي راشه ته هم اوګوره نو زه هم راغلم او درسول الله صلي الله عليه وسلم په اوګه مي خپله ځنه ايخودلي وه او درسول الله دسر او اوګور په مينځ کي مي ورته کتل بيا راته رسول الله اوفرمائيل ايا شوق دي پوره شوي نه دي ما ورته اوونيل لاته دي پوره شوي ما دا کتل چې درسول الله په زړه کي زما دپاره څومره مقام دي تردي چې په دي دوران کي عمر رضي الله عنه راغلو نو ټولو خلقو ددي ښځي دخوانه منډه کړل ددي حالت په ليدو رسول الله اوفرمائيل زه جني او انساني شيطانان وينم چې دعمر په ليدو باندي منډي وهي او تختي ام المؤمنين وائي چې بيا زه هم راواپس شوم.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

****

٣٦٩٢ـ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عُمَرَ الْعُمَرِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ، ثُمَّ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ عُمَرُ، ثُمَّ آتِي أَهْلَ الْبَقِيعِ فَيُحْشَرُونَ مَعِي، ثُمَّ أَنْتَظِرُ أَهْلَ مَكَّةَ حَتَّى أُحْشَرَ بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَعَاصِمُ بْنُ عُمَرَ لَيْسَ بِالْحَافِظِ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. (2)

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه هغه اولني کس يم دچا نه چې به زمکه اوشليږي بيا به ابوبکروي او بيا به عمر وي ريه مايسي چې زمکه به ورنه اوشليږي بيا به زه بقيع (قبرستان) والاته ورځم او دوئ به خما سره راپورته

---

1 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٧٢٥٥) ، ومسند احمد (٦/٥٧، ٢٣٣)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٢٠٠)

کیږي او بیا به زه دمکي والا دراتلو انتظار کوم تردي پورې چې زما حشر به دحرمینو په مینځ کې اوشي.
امام ترمذي وائي: داحدیث حسن غریب دي او عاصم بن عمر دمحدثینو په نزد قابل اعتبار حافظ نه دي.

****

۳۶۹۳ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " قَدْ كَانَ يَكُونُ فِي الْأُمَمِ مُحَدَّثُونَ، فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ. قَالَ: حَدَّثَنِي بَعْضُ أَصْحَابِ سُفْيَانَ، قَالَ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: مُحَدَّثُونَ يَعْنِي مُفَهَّمُونَ. ([1])

ترجمه :دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په تیرو شوو امتونو کي بعضي داسي کسان وو چې محدث به ورته وئیلي کیدل که چرې زما په امت کي داسي څوك وي نو هغه به عمر بن خطاب وي.
امام ترمذي وائي: داحدیث صحیح دي ماته دسفیان په شاګردانو کي کوم شاګرد وئیلي دي چې سفیان بن عیینه د "محدثون" باره کي اووئیل محدثون هغه چاته وائي چاته چې ددین پوهه ورکړې شوې وي.

****

۳۶۹٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْقُدُّوسِ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلِمَةَ، عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَاطَّلَعَ أَبُو بَكْرٍ، ثُمَّ قَالَ: يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ عُمَرُ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي تاسو ته په جنتیانو کي یو کس راروان دي، او بیا ابوبکر رضي الله عنه راغلو بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل تاسو ته په جنتیانو کي یو کس راروان دي نو عمر رضي الله

[1] ـ صحیح مسلم /فضائل الصحابة ۲ (۲۳۹۸) (تحفة الأشراف : ١٧٧١٤) . ومسند احمد (٦/٥٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٠٦)

عنه راغي.
امام ترمذي وائي: دابن مسعود داحديث غريب دي، په دي باب كي دابوموسي اشعري او جابر رضي الله عنه نه هم احاديث وار دي.

****

٣٦٩٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَمَا رَجُلٌ يَرْعَى غَنَمًا لَهُ إِذْ جَاءَ ذِئْبٌ فَأَخَذَ شَاةً، فَجَاءَ صَاحِبُهَا فَانْتَزَعَهَا مِنْهُ، فَقَالَ الذِّئْبُ: كَيْفَ تَصْنَعُ بِهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي؟ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَآمَنْتُ بِذَلِكَ أَنَا، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ ". قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: وَمَا هُمَا فِي الْقَوْمِ يَوْمَئِذٍ.
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو خل يو كس خپلي گډي څرولي چې يو شرمخ راغي او يوه گډه يي اونيوله نو دگډي مالك راغي او گډه يي ورنه راوتختوله شرمخ اووئيل د درنده گانو په ورځ به ته څه كوي په كومه ورځ چې به زما نه علاوه ددوئ بل څرونكي نه وي؟ نو دي باره كي رسول الله اوفرمائيل ما په دي باندي يقين اوكړو او ابوبكر او عمر هم په دي يقين اوكړو ابوسلمه وائي حال دا دي هغوئ دواړه په دي وخت كي موجود نه وو.

****

١٩_باب فِي مَنَاقِبِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضى الله عنه

داميرالمؤمنين عثمان بن عفان (خليفه ثالث) رضي الله عنه مناقب

نوم عثمان كنيه ابوعبدالله، ابو عمر، ابوليلي او ذي النورين يي لقب وو دپلار نوم يي عفان وو او دمورنوم يي اروي، دعثمان رضي الله عنه خاندان داسلام نه مخكي هم ډير عزت او اقتدار لرلو.
دعام الفيل په شپږم كال يي پيدائش شوى دى او په اسلام كي يي دداخليدو نمبر ٣۴ دى.
رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلي لور روقيه رضي الله عنها نكاح چونكه دعتبه بن ابو

[1] ــ انظر حديث رقم ٣٦٤٤

لهب سره كړي وه ليكن چې عتبه طلاق وركړل نو دعثمان رضي الله عنه سره يې نكاح اوشوه حبشې ته دهجرت كونكو نه وو ليكن كله چې مدينې ته هجرت شروع شو نو ده هم هجرت اوكړو(طبقات ابن سعد).

په غزوه بدر كي يې دروقيه رضي الله عنها دبيمارۍ په وجه شركت اونكړى شو او ددينه علاوه په نورو تمامو غزواتو كي شريك شوى دى، عثمان رضي الله عنه كاتب دوحي هم وو (كنز العمال).

دقران پاك سره يې ډيره مينه وه ددنيا نه چې رخصتيدو نو رخصتي يې هم دقران لوستلو په حال كي شوي وه ددينه علاوه پكي نوري ډيري خوبياني هم وي لكه خوف الهي ، حب رسول ، اتباع سنن، احترام رسول، حياء ، تواضع، زهد، سخاوت، ايثار، حسن سلوك.

وفات: دجمعي په ورځ دمازيګر په وخت كي په ظالمانه طور سره شهيد شو چې دوه ورځو پوري بې كفه او بې ګوره پروت وو او بيا يو څو كسانو دفن كړو ، دمسند احمد دروايت نه معلوميږي چې جنازه وربانذي زبير رضي الله عنه كړي وه او دابن سعد دروايت نه معلوميږي چې زبير بن مطعم وربانذي جنازه كړي وه، دجنت البقيع نه شاته په حش كوكب كي خاوررو ته اوسپارلى شو او بيا دغه ديوال مات كړى شو او په جنة البقيع كي شامل كړى شو.

مرويات: چونكه په نقل دروايت كي ډير محتاط وو نو په دي وجه ورنه صرف ۱۴۲روايات منقول دي چې اته پكي متفق عليه دي او پنځه په مسلم كي دي او ۱۲ په بخاري كي دي.

٣٦٩٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى حِرَاءَ هُوَ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعَلِيٌّ، وَعُثْمَانُ، وَطَلْحَةُ، وَالزُّبَيْرُ، فَتَحَرَّكَتِ الصَّخْرَةُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اهْدَأْ إِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عُثْمَانَ، وَسَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَبُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم، عمر، علي، عثمان، طلحه، او زبير رضي الله عنهم په حرا غر كي موجود وو او په كوم كاڼري چې دوئ ناست وو دا كاڼړي خوزيدلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اودريږه په تاباندي نبي او صديق او شهيد ناست دي.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي ، او په دي باب كي دعثمان، سعيد بن زيد، ابن

[1] ـ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٦ (٢٤١٧) (تحفة الأشراف: ١٢٧٠٠)

عباس، سهل بن سعد، انس بن مالك، او بريده رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٦٩٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ حَدَّثَهُمْ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَعِدَ أُحُدًا، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ فَرَجَفَ بِهِمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ، وَصِدِّيقٌ، وَشَهِيدَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په احد غر كي ناست وو او ابوبكر او عمر او عثمان رضي الله عنهم هم وسره وو او داحد غر خوزيدلو رسول الله اوفرمائيل اي احد اودريږه په تاباندي يو نبي او يو صديق او دوه شهيدان ناست دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٦٩٨_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، عَنْ شَيْخٍ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ، عَنْ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي ذُبَابٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيقٌ، وَرَفِيقِي يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ عُثْمَانُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَهُوَ مُنْقَطِعٌ. ([2])

ترجمه: دطلحه بن عبيدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر يو نبي دپاره يو دوست وي او زما دوست به يعني په جنت كي عثمان وي.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي او سند يي قوي نه دي مگر منقطع دي.

دطلحه بن عبيدالله مناقب

نوم طلحه كنيه ابو محمد او خير دده لقب دي دپلار نوم يي عبيدالله او دمور نوم يي صعبه وو دطلحه نسب په شپږم پوښت كي درسول الله سره يوځاي كيږي دهجرت نبوي نه ٢۴ يا ٢۵ كلونه مخكي دده پيدائش شوى دى داتلسو كالو په عمر كي بصري ته لاړو او هلته ورته يو راهب دبعثت نبوي خبر وركړو او بيا دابوبكر رضي الله عنه په دعوت سره په اسلام كي داخل

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٥ (٣٦٧٥)، و٦ (٣٦٨٦)، و٧ (٣٦٩٩)، سنن ابي داود/ السنة ٩ (٤٦٥١) (تحفة الأشراف: ١١٤٢)، ومسند احمد (٣/١١٢)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٩٩٦)

شو طلحه دغزوه بدر په موقعه په مدينه کي موجود وو ددينه علاوه يي په تمامو غزواتو کي شرکت کړی وو او په بيعة الرضوان کي هم شامل وو او دنورو خلفاؤ په جنګونو کي هم شريك پاتي شوی وو. ع/7

طلحه به دير زيات سخاوت کولو دفقيرانو مسکينانو دپاره به يي دروازه هر وخت پرانيستلي وه، دقيس بن ابي هاضم بيان دی چي ما دطلحه نه زيات سخاوت کونکی بل څوك نه دی ليدلی الله تعالي ورته فراخه مال هم ورکړی وو چي روزانه اوسط امدن يي زر دينارو ته رسيدو (طبقات ابن سعد).

په جنګ جمل کي شهيد شو او پدغه وخت کي دده عمر ۲۲ يا ۲۴کلونه وو او په همدي ميدان کي دفن کړی شو ليکن دلته به اوبه اودريدلي نو په خوب کي اوليدلی شو ونيل يي چي زما قبر کوم محفوظ خاي ته منتقل کړئ نو عبدالله بن عباس رضي لله عنهما دابوبکر رضي الله عنه کور په لس زره درهم واخستو او هلته يي منتقل کړو او په دومره ورخو کي دده جسم بالکل محفوظ وو خراب شوی نه وو تردي چي په سترګو يي کافور لګولی شوي وو هغه هم محفوظ وو دده دمروياتو شمير ۳۸ دی چي دوه په دي کي متفق عليه دي او دوه په مسلم کي دي او دوه په بخاري کي دي. (طبقات ابن سعد).

****

٣٦٩٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ زَيْدٍ هُوَ ابْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: لَمَّا حُصِرَ عُثْمَانُ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ فَوْقَ دَارِهِ، ثُمَّ قَالَ: أُذَكِّرُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ حِرَاءَ حِينَ انْتَفَضَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اثْبُتْ حِرَاءُ فَلَيْسَ عَلَيْكَ إِلاَّ نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ ". قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: أُذَكِّرُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي جَيْشِ الْعُسْرَةِ: " مَنْ يُنْفِقُ نَفَقَةً مُتَقَبَّلَةً وَالنَّاسُ مُجْهَدُونَ مُعْسِرُونَ فَجَهَّزْتُ ذَلِكَ الْجَيْشَ ". قَالُوا: نَعَمْ. ثُمَّ قَالَ: أُذَكِّرُكُمْ بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ بِئْرَ رُومَةَ لَمْ يَكُنْ يَشْرَبُ مِنْهَا أَحَدٌ إِلاَّ بِثَمَنٍ فَابْتَعْتُهَا، فَجَعَلْتُهَا لِلْغَنِيِّ، وَالْفَقِيرِ، وَابْنِ السَّبِيلِ. قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ، وَأَشْيَاءَ عَدَّدَهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ. [1]

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الوصايا ٣٣ (تعليقاً). سنن النسائي/الاحباس ٤ (٣٦٣٩) (تحفة الأشراف: ٩٨١٤) ، و مسند احمد (١/٥٩)

ترجمه دابو عبدالرحمن سلمي بيان دي فرمائي چې كله عثمان رضي الله عنه محاصره كړې شو نو د محاصره كونكو دليدلو دپاره دكوټې سر ته اوختل چې دوئ يې اوليدل نو ويې وئيل زه تاسو ته الله تعالي رايادوم او دا درته وايم ايا تاسو ته معلومه ده كله چې حرا غر خوزيدلو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته فرمائيلي وو اي حرا اودريږه خكه چې په تاباندې يو نبي او يو صديق او يو شهيد نه علاوه نور څوك نشته؟ خلقو اووئيل هو (مونږ ته معلومه ده) بيا عثمان رضي الله عنه اووئيل زه تاسو ته الله تعالي رايادوم ايا تاسو ته معلومه ده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دجيش عسره (غزوه تبوك) باره كې فرمائيلي وو څوك چې ددې غزوې خرچې برداشت كوي هغه به دالله تعالي په نزد مقبول وي (او خلق په دغه وخت كې په تنګئ او پريشانئ كې مبتلا وو) نو ما خرچې برداشت كړه او لښكر مې تيار كړو خلقو اووئيل هو (مونږ ته معلومه ده) بيا عثمان رضي الله عنه اووئيل زه تاسو ته الله تعالي رايادوم ايا تاسو ته معلومه ده چې دبئر رومه اوبه هيچا بغير دقيمت نه نه شوې څكلې نو ما دا اوبه واخستلې او غنيانو او محتاجانو او مسافرو ته مې وقف كړې؟ خلقو اووئيل هو(مونږ ته معلومه ده) او دا رنګې ددې پشان نور ډير څيزونه يې دوئ ته راياد كړل.

امام ترمذي وائي: داحديث په دې سند يعني دعبدالرحمن په روايت چې د عثمان نه يې نقل كوي حسن صحيح غريب دې.

د ابو عبد الرحمن عوف بن مالك رضي الله عنه مناقب

نوم عوف دپلار نوم مالك كنيه ابو عبدالرحمان قبيله يې اشجعي وه دخيبر په غزوه كې دټولو نه مخكې شريك شوی وو او اسلامي جهنډه ورسره وه دفتح مكې په ورځ هم دده دقوم جهنډه دده سره وه چې په شام كې اوسيدو او هم هلته يې په ۷۳هجري كې انتقال شوی وو.

مرويات: ۶۷احاديث ورنه مروي دي چې شپږ متفق عليه دي او يو په بخاري كې دی او باقي په مسلم كښې.

****

۳۷۰۰ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبِي دَاوُدَ. حَدَّثَنَا السَّكَنُ بْنُ الْمُغِيرَةِ وَيُكْنَى أَبَا مُحَمَّدٍ مَوْلًى لِآلِ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي هِشَامٍ، عَنْ فَرْقَدٍ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَبَّابٍ، قَالَ: شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ. فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَيَّ مِائَةُ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ. ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ، فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ

عفَّانَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا، وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ. ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ، فَقَامَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ بَعِيرٍ بِأَحْلَاسِهَا، وَأَقْتَابِهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُولُ: " مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هَذِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ السَّكَنِ بْنِ الْمُغِيرَةِ. وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ. (1)

ترجمه : دعبدالرحمن بن خباب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او رسول الله صلي الله عليه وسلم دجيش عسره (غزوه تبوك) دسامان باره كي خلقو ته ترغيب وركولو عثمان رضي الله عنه اودريدو او ويې وئيل اي دالله رسوله په مابندي دالله په لاره كي سل اوښان شول سره دسامانونو رسول الله بيا دي باره كي ترغيب وركړو نو عثمان رضي الله عنه اودريدو او ويې وئيل اي دالله رسوله په مابندي دالله په لاره كي سره دسامانونو دوه سوه اوښان شول ، رسول الله بيا دي باره كي ترغيب وركړو نو عثمان رضي الله عنه اودريدو او ويې وئيل اي دالله رسوله په مابندي دالله په لاره كي سره دسامانونو دري سوه اوښان شول ، ما په دغه وخت كي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې دمنبر نه په كوزيدو كي يې فرمائيل اوس چې عثمان هر څه كوي دده مواخذه به نه كيږي اوس چې عثمان هر څه كوي دده مواخذه به نه كيږي.

امام ترمذي وائي داحديث په دي سند غريب دي مونږ يې صرف دسكن بن مغيره په سند پيژنو. او په دي باب كي دعبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي

****

٣٧٠١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ وَاقِعٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ضَمْرَةُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَوْذَبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ كَثِيرٍ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: جَاءَ عُثْمَانُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَلْفِ دِينَارٍ، قَالَ الْحَسَنُ بْنُ وَاقِعٍ: وَكَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مِنْ كِتَابِي فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَيَنْثُرُهَا فِي حِجْرِهِ، قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَلِّبُهَا فِي حِجْرِهِ وَيَقُولُ: " مَا ضَرَّ عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٦٩٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٦٩٦)

ترجمه : دعبدالرحمن بن سمره رضي الله عنه بيان دي يو خل عثمان رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته زر دينار راوړل ،دحديث راوي حسن بن واقع وائي په يو بل مقام کي زما په کتاب کي داسي دي چې پخپل نستونړي کي يي راوړل، چې کله هغه جيش عصره تيارولو نو دا څيزونه يي درسول الله په لمن کي واچول مانبي کريم صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې دا يي پخپله لمن کي اړول راړول او دا مي ورنه واوريدل دنن نه پس به عثمان ته هيڅ بد عمل ضرر نه رسوي او دا کلمات يي دوه پيري تکرار کړل.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٣٧٠٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ، حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا الحَكَمُ بْنُ عَبْدِ المَلِكِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَمَّا أُمِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَيْعَةِ الرِّضْوَانِ كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ، قَالَ: فَبَايَعَ النَّاسَ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ عُثْمَانَ فِي حَاجَةِ اللَّهِ وَحَاجَةِ رَسُولِهِ "، فَضَرَبَ بِإِحْدَى يَدَيْهِ عَلَى الأُخْرَى، فَكَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُثْمَانَ خَيْرًا مِنْ أَيْدِيهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دبيعت رضوان باره کي حکم اوکړي شو نو عثمان بن عفان رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم دقاصد په صفت مکي ته لاړو کله چې رسول الله دخلقو سره بيعت اوکړو نو ويي فرمائيل عثمان دالله تعالي او دهغه درسول په کار پسي تلي دي او بيا رسول الله پخپلو دواړو لاسونو کي يو لاس په بل لاس باندي کيخودلو او رسول الله چې خپل کوم لاس دعثمان دپاره په بل لاس کيخودلو دا لاس يي دخلقو دلاسونو نه بهتر اوګنړلو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٧٠٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، وغير واحد المعنى واحد، قَالُوا: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي الحَجَّاجِ المَنْقَرِيِّ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الجُرَيْرِيِّ، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنٍ القُشَيْرِيِّ، قَالَ: شَهِدْتُ الدَّارَ حِينَ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٥٥)

أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ: ائْتُونِي بِصَاحِبَيْكُمُ اللَّذَيْنِ أَلَّبَاكُمْ عَلَيَّ. قَالَ: فَجِيءَ بِهِمَا فَكَأَنَّهُمَا جَمَلَانِ، أَوْ كَأَنَّهُمَا حِمَارَانِ، قَالَ: فَأَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ، فَقَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ رُومَةَ، فَقَالَ: " مَنْ يَشْتَرِي بِئْرَ رُومَةَ فَيَجْعَلَ دَلْوَهُ مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِينَ بِخَيْرٍ لَهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ ؟ ". فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أَشْرَبَ حَتَّى أَشْرَبَ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ. قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ. قَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ يَشْتَرِي بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ فَيَزِيدَهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ " فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِي، فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُونِي أَنْ أُصَلِّيَ فِيهَا رَكْعَتَيْنِ. قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ. قَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالإِسْلَامِ، هَلْ تَعْلَمُونَ أَنِّي جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِي ؟ قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ. ثُمَّ قَالَ: أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ وَالإِسْلَامِ هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَى ثَبِيرِ مَكَّةَ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَأَنَا فَتَحَرَّكَ الْجَبَلُ حَتَّى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالْحَضِيضِ. قَالَ: فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ وَقَالَ: اسْكُنْ ثَبِيرُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ، وَصِدِّيقٌ، وَشَهِيدَانِ. قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَمْ. قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ شَهِدُوا لِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ أَنِّي شَهِيدٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عُثْمَانَ. (1)

ترجمه : دثمامه بن حزن قشيري بيان دي زه په هغه وخت کي موجود وم کله چې عثمان رضي الله عنه کوټې ته اوختلو او دوئ ښي اوليدل نو ويې وئيل تاسو ماته خپل هغه دوه ملګري رامخامخ کړئ چاچې تاسو زما په خلاف راجمع کړي يئ چنانچې هغوئ دواړه راوستلي شول او هغوئ دواړه دوه اوښان يا دوه خره وو يعني ډير طاقتور او مضبوط وو عثمان رضي الله عنه هغوئ ته اوکتل او ويې وئيل زه تاسو ته الله او دهغه رسول واسطه درکوم او تپوس درنه کوم ايا تاسو ته معلومه ده کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف راوړو دغه وخت په مدينه کي دبئر رومه نه علاوه بل چرته خوږي اوبه نه وي چې خلقو څکلي وي رسول الله اوفرمائيل څوک به بئر رومه واخلي او خپله بوکه دمسلمانانو دبوکي سره برابره کړي او ددي په عوض کي به په جنت کي دده دپاره بهتره بدله وي يعني دخان سره دنورو مسلمانانو دپاره هم په اوبو کي برابر حق ورکړي؟ نو ما دا اوبه پخپل اصل مال واخستلي او نن تاسو ما ددي دڅکلو نه بندوئ تردي چې اوس زه دسمندر تروي اوبه څکم ؟ خلقو اووئيل هو همدا خبره ده هغه بيا اووئيل زه تاسو ته دالله تعالي او داسلام واسطه درکوم او تپوس درنه کوم چې

---

1 ـ سنن النسائي: الاحباس ٣(٣٦٣٨) تحفة الأشراف: ٩٧٨٥)

مسجد په خلقو تنګ شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك به دفلانئ قبيلي زمکه په مسجد کي دشامليدو دپاره په قيمت واخلي او په جنت کي به دهغه دپاره ددينه بهتره بدله وي نو ما دا پخپل اصل مال واخستل او نن يکي تاسو ما دوه رکعاته نفلي مونځ کولو ته نه پريږدئ خلقو اووئيل همداسي ده هغه بيا اووئيل زه تاسو ته دالله تعالي او داسلام واسطه درکوم او تپوس درنه کوم ايا تاسو ته معلومه ده چي يو وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم دمکي په ثبير غر کي موجود وو او دا غر رسول الله په خپه اووهلو او ويي فرمائيل اودريږه اي ثبير په تاباندي يو نبي او يو صديق او دوه شهيدانو نه علاوه نور څوك نشته خلقو اووئيل همداسي ده نو هغه اووئيل الله اكبر زما دي دکعبي په رب قسم وي دي خلقو خو زما دشهيد کيدو ګواهي ورکړه او دا جمله يي دري پيري تکرار کړه.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن دي او دعثمان رضي الله عنه نه دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣٧٠٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، أَنَّ خُطَبَاءَ قَامَتْ بِالشَّامِ وَفِيهِمْ رِجَالٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ آخِرُهُمْ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: مُرَّةُ بْنُ كَعْبٍ، فَقَالَ: لَوْلَا حَدِيثٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قُمْتُ، وَذَكَرَ الفِتَنَ فَقَرَّبَهَا، فَمَرَّ رَجُلٌ مُقَنَّعٌ فِي ثَوْبٍ فَقَالَ: " هَذَا يَوْمَئِذٍ عَلَى الهُدَى "، فَقُمْتُ إِلَيْهِ، فَإِذَا هُوَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، قَالَ: فَأَقْبَلْتُ عَلَيْهِ بِوَجْهِهِ، فَقُلْتُ: هَذَا، قَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَوَالَةَ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ.(1)

ترجمه : دابو اشعث الصنعاني نه روايت دي چي مقررين په شام کي دتقرير دپاره اودريدل او په دوئ کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په صحابه کرامو کي هم څه کسان وو بيا دټولو په اخر کي يو کس اودريدو چي کعب بن مره رضي الله عنه به ورته وئيلي کيدل هغه دخپلو خبرو په دوران کي اووئيل که ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يو حديث اوريدلي نه وي نو زه به دخطبي دپاره اودريدلي نه وم او کعب بن مره بيا دفتنو ذکر اوکړو او ويي فرمائيل دفتنو ظهور ډير نزدي دي. بيا يوکس په داسي حال کي تير شو چي خوله يي پټه کړي وه نو کعب بن مره اووئيل يعني درسول الله قول يي نقل کړو "دابه په دغه ورځ په هدايت وي) نو زه دهغه

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٢٢٨)

دليدو دپاره ورباځيدم نو اومي كتل چې هغه عثمان بن عفان رضي الله عنه وو بيا ما دهغه مخ مره طرف ته مخامخ كړو او اومي ونيل دا خو هم هغه دي هغه اوونيل هو هم هغه دي.
امام ترمذي وائي: په دي باب كي دابن عمر، عبدالله بن حواله، او كعب بن عجره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٧٠٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا حُجَيْنُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَا عُثْمَانُ إِنَّهُ لَعَلَّ اللَّهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا، فَإِنْ أَرَادُوكَ عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عثمان شايد الله تعالي به تاته كوم قميص درواغوندوي مگر كه خلق درنه ددي وستل غواړي ته دي لره ددوئ دپاره مه اوباسه، په دي حديث كي يوه اوږده قصه هم ده.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٧٠٦_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مِصْرَ حَجَّ الْبَيْتَ فَرَأَى قَوْمًا جُلُوسًا فَقَالَ: مَنْ هَؤُلَاءِ ؟ قَالُوا: قُرَيْشٌ. قَالَ: فَمَنْ هَذَا الشَّيْخُ ؟ قَالُوا: ابْنُ عُمَرَ. فَأَتَاهُ، فَقَالَ: إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ فَحَدِّثْنِي أَنْشُدُكَ اللَّهَ بِحُرْمَةِ هَذَا الْبَيْتِ، أَتَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَتَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَتَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ يَوْمَ بَدْرٍ فَلَمْ يَشْهَدْ ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ. فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ: تَعَالَ أُبَيِّنْ لَكَ مَا سَأَلْتَ عَنْهُ. أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ عَفَا عَنْهُ وَغَفَرَ لَهُ. وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ يَوْمَ بَدْرٍ فَإِنَّهُ كَانَتْ عِنْدَهُ، أَوْ تَحْتَهُ ابْنَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَكَ أَجْرُ رَجُلٍ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمُهُ". وَأَمَرَهُ أَنْ يَخْلُفَ عَلَيْهَا وَكَانَتْ عَلِيلَةً. وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَانَ عُثْمَانَ. بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُثْمَانَ إِلَى مَكَّةَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ

1_ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١١١) (تحفة الأشرف: ١٦٢٤٥)

الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى: " هَذِهِ يَدُ عُثْمَانَ "، وَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ، فَقَالَ: " هَذِهِ لِعُثْمَانَ، قَالَ لَهُ: " اذْهَبْ بِهَذَا الآنَ مَعَكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دعثمان بن عبدالله بن موهب نه روايت دي فرماني چې په مصريانو کي يو کس دبيت الله حج اوکړو هلته يي څه کسان ناست اوليدل نو تپوس يي اوکړو دا کسان څوک دي خلقو ورته اووئيل دا دقريشو دقبيلي خلق دي ده اووئيل دا کس چې ناست دي دا څوک دي خلقو ورته اووئيل دا ابن عمر رضي الله عنهما دي نو دي هغه ته ورغلو او ويي وئيل زه درنه ديو څيز باره کي تپوس کوم که راته دي بيان کړو زه تاته ددي کور دحرمت واسطه درکوم او تپوس درنه کوم ايا تاته معلومه ده چې عثمان رضي الله عنه داحد په ورځ تختيدلي وو؟ هغه اووئيل هو ماته معلومه ده او بيا يي اووئيل ايا تاته معلومه ده چې هغه دبيعت الرضوان په وخت کي موجود نه وو؟ هغه اووئيل هو ده بيا اووئيل ايا تاته معلومه ده چې عثمان په بدر کي موجود نه وو ابن عمر اووئيل هو نو مصري دتعجب په طور الله اکبر اووئيل ابن عمر رضي الله عنهما ورته اووئيل راشه چې ستا دسوالونو جوابات درته واضح کړم پاتي شوه دا خبره چې عثمان داحد په ورځ تختيدلي وو ته په دي خبره ګواه شه چې الله تعالي هغه معاف کړي دي او بخلي يي وو بله دا خبره چې دبدر په ورځ موجود نه وو نو دده په نکاح کي درسول الله صلي الله عليه وسلم لور وه او رسول الله ورته فرمائيلي وو تاته به دهغه کس برابر ثواب او دهغه کس برابر په غنيمت کي حصه ملاويږي څوک چې په بدر کي حاضر وي، پاتي شوه په بيعت الرضوان کي دهغه غيرحاضري نو ددي وجه دا وه که چري په دغه مقام کي دعثمان نه زيات عزتمند بل څوک وي نو رسول الله به دعثمان په ځاي هغه ليږلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم عثمان مکي ته اوليږلو او بيعت الرضوان مکي ته دعثمان دليږلو نه پس شوي دي او رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل لاس داشاري کولو په حال کي اوفرمائيل دا دعثمان لاس دي او خپل لاس يي په بل لاس کيخودلو او بيا يي اوفرمائيل دا دعثمان دطرفه بيعت دي ابن عمر رضي الله عنهما مصري ته اووئيل اوس دا جواب دخان سره اوړه.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الخمس ١٣ (٣١٣٠) (بعضه) وفضائل الصحابة ـ (٣٦٩٨) . والمغازي ١٩ (٤٠٦٦)
(تحفة الأشراف: ٧٣١٩)

٣٧٠٧_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ. حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ. حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ عُمَيْرٍ. عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. عَنْ نَافِعٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ: "كُنَّا نَقُولُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيٌّ أَبُو بَكْرٍ. وَعُمَرُ. وَعُثْمَانُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په زندګئ کي داسي وئيلي: ابوبکر، عمر، او عثمان.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح دي او دعبدالله بن عمر په سند غريب دي او دا حديث دابن عمر نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣٧٠٨_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ. حَدَّثَنَا شَاذَانُ الْأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ. عَنْ سِنَانِ بْنِ هَارُونَ الْبُرْجُمِيِّ. عَنْ كُلَيْبِ بْنِ وَائِلٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً. فَقَالَ: "يُقْتَلُ فِيهَا هَذَا مَظْلُومًا لِعُثْمَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوي فتني ذکر اوکړو او وېي فرمائيل په دي فتنه کي به عثمان هم مظلوم قتل کيږي (دا خبره رسول الله دعثمان رضي الله عنه متعلق اوکړه).
امام ترمذي وائي: دابن عمر رضي الله عنهما داحديث حسن غريب دي.

****

٣٧٠٩_حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ أَبِي طَالِبٍ الْبَغْدَادِيُّ. وَغَيْرُ وَاحِدٍ. قَالُوا: حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ زُفَرَ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ. عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ جَابِرٍ. قَالَ: أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَنَازَةِ رَجُلٍ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ. فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا رَأَيْنَاكَ تَرَكْتَ الصَّلَاةَ عَلَى أَحَدٍ قَبْلَ هَذَا؟ قَالَ: "إِنَّهُ كَانَ يَبْغَضُ عُثْمَانَ فَأَبْغَضَهُ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٣ (٣٦٥٥)، و٧ (٣٦٩٧)، سنن ابي داود/ السنة ٨ (٤٦٢٧) (تحفة الأشراف: ٧٨٢٠)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٣٦٣)

لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ صَاحِبُ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ ضَعِيفٌ فِي الحَدِيثِ جِدًّا. وَمُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ صَاحِبُ أَبِي هُرَيْرَةَ هُوَ بَصْرِيٌّ ثِقَةٌ، وَيُكْنَى: أَبَا الحَارِثِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ الأَلْهَانِيُّ صَاحِبُ أَبِي أُمَامَةَ ثِقَةٌ، يُكْنَى: أَبَا سُفْيَانَ شَامِيٌّ. (١)

ترجمه : دجابر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه جنازه ددي دپاره راوړلي شوه چې جنازه وړباندي اوکړي نو رسو[1] ياندي جنازه اونکړه عرض اوکړي شو اي دالله رسوله ددينه مخکي مونږ ته چرته نه ي چې په چا باندي دي جنازه نه وي کړي رسول الله اوفرمائيل دي کس به دعثمان سره کينه کوله نو الله تعالي ده لره مبغوض کړو.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، دميمون بن مهران شاګرد محمد بن زياد په باب دحديث کي ضعيف دي او محمد بن زياد چې دابوهريره شاګرد دي دبصري اوسيدونکي او ثقه دي دده اسم کنيه ابوحارث ده او محمد بن زياد الهمامي چې دابوامامه شاګرد دي دهغه اسم کنيه ابوسفيان ده او دشام اوسيدونکي دي.

****

٣٧١٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ حَائِطًا لِلأَنْصَارِ فَقَضَى حَاجَتَهُ، فَقَالَ لِي: "يَا أَبَا مُوسَى أَمْلِكْ عَلَيَّ البَابَ فَلَا يَدْخُلَنَّ عَلَيَّ أَحَدٌ إِلَّا بِإِذْنٍ". فَجَاءَ رَجُلٌ يَضْرِبُ البَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: أَبُو بَكْرٍ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَذَا أَبُو بَكْرٍ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: "ائْذَنْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ"، فَدَخَلَ وَبَشَّرْتُهُ بِالجَنَّةِ، وَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ فَضَرَبَ البَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالَ: عُمَرُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا عُمَرُ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: "افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ"، فَفَتَحْتُ البَابَ وَدَخَلَ وَبَشَّرْتُهُ بِالجَنَّةِ، فَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ فَضَرَبَ البَابَ، فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: عُثْمَانُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ هَذَا عُثْمَانُ يَسْتَأْذِنُ، قَالَ: "افْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، وَفِي البَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَابْنِ

---

[1] ـ دبه المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٩٤٣)

عُمَرَ. (1)

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي فرماني چې زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره روان وم چې دانصارو يو باغ ته داخل شو او خپل حاجت يې پوره کړو او بيا يې ماته اوفرمائيل اې ابو موسي داجازت نه بغير په دروازه داخليدو ته څوك مه پريږده بيا يو کس راغلو او دروازه يې اوټکوله ما ورته اووئيل ته څوك يې؟ هغه اووئيل ابوبکر يم ما عرض اوکړو اې دالله رسوله ابوبکر د داخليدو دپاره اجازت غواړي رسول الله اوفرمائيل اجازت ورته ورکړه او هغه ته يې دجنت بشارت ورکړو چنانچې هغه دننه داخل شو او ما ورته دجنت زيري ورکړو، بيا يو بل کس راغي او هغه هم دروازه اوټکوله ما ورنه تپوس اوکړو څوك يې؟ هغه اووئيل عمر يم ما عرض اوکړو اې دالله رسوله عمر دراتلو دپاره اجازت غواړي رسول الله اوفرمائيل دروازه ورته پرانيزه او دجنت زيري ورته ورکړه، چنانچې ما دروازه پرانيستله او هغه دننه داخل شو او ما ورته دجنت زيري ورکړو، بيا يو دريم کس راغي او هغه هم دروازه اوټکوله ما ورنه تپوس اوکړو څوك يې هغه اووئيل عثمان يم ما عرض اوکړو اې دالله رسوله عثمان دننه دراتلو دپاره اجازت غواړي رسول الله اوفرمائيل ده ته هم دروازه پرانيزه او ده ته هم دجنت زيري ورکړه او ورسره ديو ازمائش خبر هم ورکړه چې په ده باندي به راځي.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث په نورو سندونو هم دعثمان مهدي نه مروي دي، او په دي باب کي دجابر او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٧١١_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ: حَدَّثَنِي أَبُو سَهْلَةَ، قَالَ: قَالَ عُثْمَانُ يَوْمَ الدَّارِ: " إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَهِدَ إِلَيَّ عَهْدًا فَأَنَا صَابِرٌ عَلَيْهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ. (2)

ترجمه : دابو سهله بيان دي فرماني چې عثمان رضي الله عنه ماته په هغه ورځ اووئيل په کومه ورځ چې دي ګير کړي شوي وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم زما نه وعده اخستلي وه

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٥ (٣٦٧٤)، و٦ (٣٦٩٣)، و٧ (٣٦٩٥). والأدب ١١٩ (٦٢١٦). والفتن ١٧ (٧٠٩٧). وخبر الواحد ٣ (٧٢٦٢). صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٣ (٢٤٠٣) (تحفة الأشراف : ٩٠١٨). و مسند احمد (٣٩٣/٤، ٤٠٦، ٤٠٧)

2 _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١١٣) (تحفة الأشراف : ٩٨٤٢)

او زه په هغه وعده صابر يعني قائم يم.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف داسماعيل بن ابي خالد په روايت پيژنو.

****

۲۰_باب مَنَاقِبِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضى الله عنه

دعلي رضي الله عنه دمناقبو بيان

نوم علي ابو الحسن او ابو تراب كنيه او حيدر يي لقب دى دپلار نوم يي ابو طالب او دمور نوم يي فاطمه وه علي رضي الله عنه نجيب الطرفين هاشمي وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم دتره حقيقي خوي وو علي رضي الله عنه دبعثت نبوي نه لس كاله مخكي پيدا شوى دى تقريبا دلسو كالو په عمر كي په اسلام مشرف شوى دى دبعضو قول دى چې دخديجه رضي الله عنها نه ابوبكر رضي الله عنه مسلمان شو او دبعضو قول دى چې دخديجي نه پس علي رضي الله عنه مسلمان شوى دى په مكه كي يي ديارلس كاله درسول پاك سره تير كړل او بيا دعثمان رضي الله عنه دشهادت نه په دريمه ورځ ۲۱ذي الحجه ددشنبي په ورځ په مسجد نبوي كي خليفه مقرر كړى شو (طبري).
وفات: ۴۰هجري كي دسحر دمونځ په امامت كي مشغول وو چې ابن ملجم ورباندي دتوري يو مضبوط وار اوكړو چې سر يي زخمي شو خلقو ابن ملجم اونيولو (طبري).
بيا په همدي ورځ په شلم رمضان دهجرت په ۴۰كال ددنيا نه رخصت شو.
دماشوموالي نه واخله دوفات كيدو پوري تقريبا ديرشت كاله يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خدمت كړى دى ليكن داحاديثو په نقل كولو كي دډير احتياط مالك وو دحديث په كتابونو كي دده روايات ډير كم موندلى شي چې ټوټل ورنه ۵۸۲روايات منقول دي چې شل په دي كي متفق عليه دي نهه صرف په بخاري كي دي لس په مسلم كي دي او باقي اصحاب السنن ذكر كړي دي.

۳۷۱۲_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا، وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ فَمَضَى فِي السَّرِيَّةِ، فَأَصَابَ جَارِيَةً، فَأَنْكَرُوا عَلَيْهِ، وَتَعَاقَدَ أَرْبَعَةٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: إِذَا لَقِينَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرْنَاهُ بِمَا صَنَعَ عَلِيٌّ، وَكَانَ الْمُسْلِمُونَ إِذَا رَجَعُوا مِنَ السَّفَرِ بَدَءُوا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَلَّمُوا عَلَيْهِ، ثُمَّ

انْصَرَفُوا إِلَى رِحَالِهِمْ. فَلَمَّا قَدِمَتِ السَّرِيَّةُ سَلَّمُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَامَ أَحَدُ الأَرْبَعَةِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَمْ تَرَ إِلَى عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ صَنَعَ كَذَا وَكَذَا. فَأَعْرَضَ عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ قَامَ الثَّانِي فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ. فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ قَامَ الثَّالِثُ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ. فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ قَامَ الرَّابِعُ فَقَالَ مِثْلَ مَا قَالُوا. فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالغَضَبُ يُعْرَفُ فِي وَجْهِهِ فَقَالَ: "مَا تُرِيدُونَ مِنْ عَلِيٍّ. مَا تُرِيدُونَ مِنْ عَلِيٍّ. مَا تُرِيدُونَ مِنْ عَلِيٍّ. إِنَّ عَلِيًّا مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ، وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ بَعْدِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ. ([1])

ترجمه: دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه سريه (لښكر) اوليږلو او ددغه لښكر امير يي علي رضي الله عنه مقرر كړو چنانچې علي به دي سريه كي لاړو او هلته يې د يوي وينځي سره جماع وكړله نو خلقو به ده باندي اعتراض اوكړو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په صحابه كرامو كي څلورو كسانو دا خبره اوكړه او ونيل يي چې كله مونږه درسول الله په خدمت كي حاضر شو نو علي چې څه كړي دي ددي خبر به ورته وركوو، مسلمانان چې به كله دسفر نه واپس راغلل نو اول به رسول الله ته ورتلل او سلام به يي ورته كولو او بيا به خپلو خپلو كورونو ته تلل چنانچې كله ددي سريه كسان واپس راغلل او خلقو رسول الله ته سلام اوكړو نو په دي څلورو كسانو كي يو كس اودريدو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ايا تاته معلومه نه ده چې علي داسي داسي كړي دي؟ نورسول الله ورنه مخ واړولو، بيا دويم كس اودريدو او هغه هم دا خبره اوكړه كومه چې مخكني كس كړي وه نورسول الله دده نه هم مخ واړولو بيا دريم كس هم داسي اوكړل نو دده نه يي هم مخ واړولو بيا څلورم كس اودريدو او هغه هم هغه خبري اوكړي كومي چې دده ملګرو كړي وي نورسول الله صلي الله عليه وسلم ورته متوجه شو چې په مخ مبارك يي دخفګان اثر ښكاريدو اوفرمائيل يي تاسو دعلي باره كي څه غواړئ، تاسو دعلي باره كي څه غواړئ، تاسو دعلي باره كي څه غواړئ علي زما نه دي او زه دعلي نه يم او علي دوست دي دهر هغه مومن كوم چې به زما نه پس راځي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دجعفر بن سليمان په سند پيژنو.

****

٣٧١٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، قَالَ:

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٠٨٦١). ومسند احمد (٤/٤٣٨،٤٣٨)

سَمِعْتُ أَبَا الطُّفَيْلِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَرِيحَةَ أَوْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ مَيْمُونٍ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَأَبُو سَرِيحَةَ هُوَ حُذَيْفَةُ بْنُ أَسِيدٍ الْغِفَارِيُّ صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه: دابوسريحه يا زيد بن ارقم رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچاچې زه دوست يم علي هم دهغه دوست دي.

امام ترمذي واني: داحديث حسن غريب دي، شعبه دا حديث دميمون ابو عبدالله نه نقل كړي دي او هغه دزيد بن ارقم نه او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه او ابو سريحه درسول الله صلي الله عليه وسلم صحابي دي چې نوم يې حذيفه بن اسيد غفاري دي.

****

٣٧١٤ـحَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَتَّابٍ سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا الْمُخْتَارُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَحِمَ اللَّهُ أَبَا بَكْرٍ زَوَّجَنِي ابْنَتَهُ، وَحَمَلَنِي إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ، وَأَعْتَقَ بِلَالًا مِنْ مَالِهِ، رَحِمَ اللَّهُ عُمَرَ يَقُولُ الْحَقَّ، وَإِنْ كَانَ مُرًّا تَرَكَهُ الْحَقُّ. وَمَا لَهُ صَدِيقٌ، رَحِمَ اللَّهُ عُثْمَانَ تَسْتَحْيِيهِ الْمَلَائِكَةُ، رَحِمَ اللَّهُ عَلِيًّا اللَّهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ حَيْثُ دَارَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْمُخْتَارُ بْنُ نَافِعٍ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ كَثِيرُ الْغَرَائِبِ، وَأَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ اسْمُهُ: يَحْيَى بْنُ سَعِيدِ بْنِ حَيَّانَ التَّيْمِيُّ كُوفِيٌّ وَهُوَ ثِقَةٌ. [2]

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي په ابوبكر رحم اوكړي هغه دخپلې لور سره زما واده اوكړو او زه يې دارالهجرت (مدينه) ته راوستلم او بلال يې پخپل مال واخستلو او ازاد يې كړو. الله تعالي دي په عمر رحم اوكړي يقينا چې هغه حقې خبرې كوي اګر كه حقې خبرې ترخې وي حق هغه لره په داسې حال كې پريخودلې دي چې دالله او دهغه درسول نه علاوه دده بل څوك دوست نشته، او الله دي په عثمان رحم اوكړي دهغه نه فرشتې هم حيا كوي، او الله دي په علي رحم اوكړي او اې الله حق

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٣٢٩٩) ، و٣٦٦٩) . ومسند احمد (٣٦٨/٤، ٣٧٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠١٠٤)

دهغه سره هغه خاي ته بوخه چرته چې دي خي
امام ترمذي وائي داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، مختار بن نافع كثير الغرائب او دبصري اوسيدونكي شيخ دي او دابوحيان تميمي نوم يحي بن سعيد بن حيان تميمي دي او دكوفي اوسيدونكي او ثقه دي

****

۳۷۱۵ـحَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، بِالرَّحَبَةِ، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْحُدَيْبِيَةِ خَرَجَ إِلَيْنَا نَاسٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فِيهِمْ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو، وَأُنَاسٌ مِنْ رُؤَسَاءِ الْمُشْرِكِينَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ خَرَجَ إِلَيْكَ نَاسٌ مِنْ أَبْنَائِنَا، وَإِخْوَانِنَا، وَأَرِقَّائِنَا وَلَيْسَ لَهُمْ فِقْهٌ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا خَرَجُوا فِرَارًا مِنْ أَمْوَالِنَا وَضِيَاعِنَا، فَارْدُدْهُمْ إِلَيْنَا، قَالَ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ فِقْهٌ فِي الدِّينِ سَنُفَقِّهُهُمْ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ لَتَنْتَهُنَّ أَوْ لَيَبْعَثَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ رِقَابَكُمْ بِالسَّيْفِ عَلَى الدِّينِ، قَدِ امْتَحَنَ اللَّهُ قَلْبَهُ عَلَى الْإِيمَانِ "، قَالُوا: مَنْ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ: مَنْ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ وَقَالَ عُمَرُ: مَنْ هُوَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ: " هُوَ خَاصِفُ النَّعْلِ وَكَانَ أَعْطَى عَلِيًّا نَعْلَهُ يَخْصِفُهَا. ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيْنَا عَلِيٌّ "، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ رِبْعِيٍّ عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: وَسَمِعْت الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا يَقُولُ: لَمْ يَكْذِبْ رِبْعِيُّ بْنُ حِرَاشٍ فِي الْإِسْلَامِ كَذْبَةً، وَأَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الْأَسْوَدِ، قَال: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ مَهْدِيٍّ، يَقُولُ: مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ أَثْبَتُ أَهْلِ الْكُوفَةِ. (۱)

ترجمه دربعي بن حراش بيان دي فرمائي چې مونږ ته علي رضي الله عنه په رحبيه (مخصوص بيټك) كې اوفرمائيل دحديبيه په ورځ په مشركانو كې څه كسان زمونږ طرف ته راووتل او په دوئ كې سهل بن عمرو او دمشركينو سرداران هم وو دوئ تول چې راغلل نو وئيل يي اې دالله رسوله زمونږ په خامنو او ورونړو او غلامانو كې بعضې كسان ستا طرف ته درغلي دي چې ددين باره كې پوهه نه لري او هغوئ زمونږ دمالونو او سامانونو دمينځ نه درتختيدلي دي تاسو دوئ لره واپس كړئ او كه هغوئ په دين پوهه نه لري نو مونږ به يي پوهه كړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې دقريشو ډلې تاسو دخپل نفسانيت نه منع شئ كنه نو

[1] ـ سنن ابي داود/ الجهاد ۱۳٦ (۲۷۰۰) . وانظر أيضا حديث رقم ۲٦٦۰ (تحفة الأشراف : ۱۰۰۸۸)

الله تعالي به په تاسو داسي څوك مسلط كړي چي ستاسو څټونه به په توره اووهي الله تعالي ددوئ زړونه دايمان دپاره منتخب كړي دي خلقو عرض اوكړو هغه كس څوك دي اي دالله رسوله او ابوبكر رضي الله عنه ورنه هم تپوس اوكړو چي اي دالله رسوله دغه كس څوك دي او عمر رضي الله عنه هم تپوس اوكړو چي دا كس څوك دي رسول الله اوفرمائيل هغه به پيزارونو كي پيوند اچونكي دي او هغه خپل پيزار علي رضي الله عنه ته وركړي دي چي هغه به پيوند كول راوي وائي چي بيا علي رضي الله عنه مونږ ته متوجه شو او وئيل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په ماپوري دروغ اوتړي هغه دپاره پكار دي چي په جهنم كي دخان دپاره خاي جوړ كړي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي، مونږ يي صرف په همدي سند دربعي په روايت پيژنو چي د علي رضي الله عنه نه يي نقل كوي، مادجارود نه اوريدلي دي وئيل يي چي ما دوكيع نه اوريدلي دي چي ربعي بن حراش داسلام راوړلو نه پس هيڅ كله دروغ نه دي وئيلي، او ماته محمد بن اسماعيل بخاري خبر راكړي دي چي دعبدالله بن ابي اسود نه يي روايت نقل كولو هغه وائي چي ما دعبدالرحمن بن مهدي نه اوريدلي دي چي منصور بن معتمر په تمام اهل كوفه كي زيات ثقه راوي دي.

د ربعي بن حراش رضي الله عنه حالات:

نوم ربعي دپلار نوم حراش دلويو تابعينو دجملي نه دی علامه ذهبي وائي چي هيڅ كله يي دروغ نه دي وئيلي دهجرت په سلم كال وفات شوی دی او بعضو علماؤ ددينه علاوه كال هم بيان كړی دی (تقريب).

****

٣٧١٦_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ إِسْرَائِيلَ. ح وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: "أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْكَ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته زما نه يي او زه ستا نه يم او په دي حديث كي يوه اوږده واقعه ده.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي

[1] ـ تفرد به المؤلف

****

۲۱_باب
د ماقبل باب متعلق يوبل باب

۳۷۱۷_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي هَارُونَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "إِنَّا كُنَّا لَنَعْرِفُ الْمُنَافِقِينَ نَحْنُ مَعْشَرَ الأَنْصَارِ بِبُغْضِهِمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي هَارُونَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ شُعْبَةُ فِي أَبِي هَارُونَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ انصارو به منافقانو لره دعلي رضي الله عنه سره په بغض او حسد کولوپيژندل.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دابوهارون په روايت پيژنو اوشعبه په ابوهارون راوي کلام کړي دي دا حديث داعمش نه هم منقول دي چې هغه دابوصالح نه او هغه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبِي نَصْرٍ، عَنِ الْمُسَاوِرِ الْحِمْيَرِيِّ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَسَمِعْتُهَا تَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ، وَلَا يَبْغَضُهُ مُؤْمِنٌ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ هُوَ أَبُو نَصْرٍ الْوَرَّاقُ، وَرَوَى عَنْهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. ([2])

ترجمه : مساور حميري دخپلي مور نه روايت نقل کوي فرمائيل يي چې دام سلمه رضي الله عنها کره ورغلم ما ورنه واوريدل چې وئيل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل منافق بنده هيڅ کله دعلي سره محبت نه کوي او مومن بنده هيڅ کله دعلي سره بغض او حسد نه کوي.

امام ترمذي وائي: په دي باب کي دعلي رضي الله غنه نه هم حديث وارد دي او دا حديث په دي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۴۲۶۴)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۴۲۶۴)

سند حسن غریب دي، او د عبدالله بن عبدالرحمن اسم کنیه ابونصراو لقب یي وراق دي سفیان ثوري ورنه نقل دروایت کړي دي.

****

٣٧١٨ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ ابْنُ بِنْتِ السُّدِّيِّ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي بِحُبِّ أَرْبَعَةٍ، وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ "، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ سَمِّهِمْ لَنَا؟ قَالَ: " عَلِيٌّ مِنْهُمْ يَقُولُ ذَلِكَ ثَلَاثًا، وَأَبُو ذَرٍّ، وَالْمِقْدَادُ، وَسَلْمَانُ، أَمَرَنِي بِحُبِّهِمْ وَأَخْبَرَنِي أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ. (١)

ترجمه: بریده دخپل پلار نه روایت نقل کوي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي یقینا الله تعالي ماته دځلورو کسانو سره دمحبت کولو حکم کړي دي او ماته یي خبر راکړي دي چې زه هم ددوئ سره محبت وکړم چا عرض اوکړو اي دالله رسوله مونږ ته یي نومونه واخله چې دا څوك دي رسول الله اوفرمائیل علي هم ددوئ نه دي او داجمله یي دري پیري تکرار کړه، او بل ابوذر او بل مقداد او بل سلمان دي ماته یي دوئ سره په محبت کولو حکم اوکړو او ماته یي خبر راکړو چې زه هم ددوئ سره محبت کوم.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن غریب دي مونږ یي صرف دشریك په روایت پیژنو.

دبریده رضي الله عنه مناقب

نوم بریده کنیه ابو عبدالله او دپلار نوم مصیب بن عبدالله.

کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم مدیني ته ورسیدو نو بریده یي په خدمت کي حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت ورکړو نو دی فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتیا کسان په اسلام کي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حدیبیه او بیعة الرضوان کي یي هم شرکت کړی دی (اسد الغابه).

او په فتح مکه کي یي هم ملګرتیا کړي وه (مسند احمد).

تقریبا په شپاړسو غزواتو کي شریك پاتي شوی دی (بخاري کتاب المغازي).

کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم داسامه په مشرئ کي اخر لښکر تیار کړو نو په دي کي هم شریك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چې دده په رګ رګ کي دجهاد جذبي توپونه وهل او دژوند مزه به یي داسونو په

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٤٩) (تحفة الأشراف: ٢٠٠٨)، ومسند احمد (٥/٣٥٦)

زغلولو کي ليدله (طبقات ابن سعد).
ديزيد په زمانه کي دهجرت په ۷۳ کال وفات شو چې دمروياتو شمير يې ۱۲۴ دی يو متفق عليه دی او دوه په بخاري کي دي يو لس په مسلم کي دي (تهذيب الکمال).

****

۳۷۱۹ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلِيٌّ مِنِّي، وَأَنَا مِنْ عَلِيٍّ، وَلَا يُؤَدِّي عَنِّي إِلَّا أَنَا أَوْ عَلِيٌّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه: دحبشي بن جناده بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي علي زما نه دي اوزه دعلي نه يم او زما پاره کي به دنقض عهد تاوان زما او دعلي نه علاوه بل څوك نه اداء کوي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

۳۷۲۰ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى الْقَطَّانُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ قَادِمٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ صَالِحِ بْنِ حَيٍّ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ التَّيْمِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: آخَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ عَلِيٌّ تَدْمَعُ عَيْنَاهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ آخَيْتَ بَيْنَ أَصْحَابِكَ وَلَمْ تُؤَاخِ بَيْنِي وَبَيْنَ أَحَدٍ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنْتَ أَخِي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أَوْفَى. ([2])

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلو صحابه کرامو په مينځ کي ورورولي قائمه کړه نو علي رضي الله عنه دژړا په حال کي راغلو او ويې ونيل اي دالله رسوله تاخپل صحابه کرام پخپل مينځ کي وروڼه ګرځولي دي مګر زما ورورولي دي دچاسره نه ده قائمه کړي رسول الله ورته اوفرمائيل ته زما ورور يې دنيا او اخرت دواړو کي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي، او په دي باب کي دزيد بن ابي اوفي رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۱۹) (تحفة الأشراف: ۳۲۹۰)، و مسند احمد (۱۶۴/۴، ۱۶۵)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٤٤)

****

٣٧٢١_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ عِيسَى بْنِ عُمَرَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَيْرٌ، فَقَالَ: " اللَّهُمَّ ائْتِنِي بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِي هَذَا الطَّيْرَ ". فَجَاءَ عَلِيٌّ فَأَكَلَ مَعَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ السُّدِّيِّ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ، وَعِيسَى بْنُ عُمَرَ هُوَ كُوفِيٌّ، وَالسُّدِّيُّ اسْمُهُ: إِسْمَاعِيل بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَقَدْ أَدْرَكَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَرَأَى الْحُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ، وَثَّقَهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَزَائِدَةُ، وَوَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه مرغۍ وه دعا يي اوغوښتله اي الله ماته يو داسي كس راولي څوك چې تاته ستا په مخلوق كي زيات محبوب وي ترڅو چې هغه زما سره ددي مرغۍ غوښته اوخوري دي وخت كي علي رضي الله عنه راغلو او هغه ورسره خوراك اوكړو.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي دسدي په روايت صرف په همدي سند پيژنو، دا حديث دانس نه په نورو سندونو هم مروي دي، عيسي بن عمر كوفي دي، او دسدي نوم اسماعيل بن عبدالرحمن دي او سماع يي دانس بن مالك نه ثابت ده او دحسين بن علي رضي الله عنه سره يي هم ملاقات شوي دي شعبه او سفيان ثوري او زائده وغيره محدثينو دده توثيق كړي دي او يحي بن سعيد القطان هم دده توثيق كړي دي.

****

٣٧٢٢_حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ أَسْلَمَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا عَوْفٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ هِنْدٍ الْجَمَلِيِّ، قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ: "كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي، وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مابه كله څه څيز درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوغوښتلو نوماته به يي راكړو او چې كله به چوپ پاتي شونوبيخپله به يي راكړو.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٨)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٠٠)

****

٣٧٢٣_حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ الرُّومِيِّ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ، عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَا دَارُ الحِكْمَةِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ مُنْكَرٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَرِيكٍ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ وَاحِدٍ مِنَ الثِّقَاتِ، عَنْ شَرِيكٍ، وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (١)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دحکمت کور يم او علي يي دروازه ده.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب او منکر دي، بعضي راويانو دا حديث دشريك نه نقل کړي دي خو هغوئ ددي په سند کي د صنابحي واسطه نه ده ذکر کړي او مونږ ته نه ده معلومه چي دا حديث کوم ثقه راوي دشريك نه نقل کړي دي، او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي.

****

٣٧٢٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ مِسْمَارٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَمَّرَ مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ سَعْدًا، فَقَالَ: مَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَسُبَّ أَبَا تُرَابٍ؟ قَالَ: أَمَّا مَا ذَكَرْتُ ثَلَاثًا قَالَهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَنْ أَسُبَّهُ لَأَنْ تَكُونَ لِي وَاحِدَةٌ مِنْهُنَّ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِعَلِيٍّ وَخَلَفَهُ فِي بَعْضِ مَغَازِيهِ، فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ تَخْلُفُنِي مَعَ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى، إِلَّا أَنَّهُ لَا نُبُوَّةَ بَعْدِي". وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ خَيْبَرَ: "لَأُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ رَجُلًا يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ". قَالَ: فَتَطَاوَلْنَا لَهَا، فَقَالَ: "ادْعُوا لِي عَلِيًّا". فَأَتَاهُ وَبِهِ رَمَدٌ فَبَصَقَ فِي عَيْنِهِ، فَدَفَعَ الرَّايَةَ إِلَيْهِ فَفَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ، وَأُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةَ نَدْعُ أَبْنَاءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ وَنِسَاءَنَا وَنِسَاءَكُمْ (آل عمران : ٦١)، دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا، وَفَاطِمَةَ، وَحَسَنًا، وَحُسَيْنًا، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٢٠٩)

حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : د عامر بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روایت دی چې معاویه رضي الله عنه سعد لره امیر مقرر کړو او ورته یي ووئیل ته د ابو تراب (علي) بد ولې نه بیانوي، هغه ووئیل څو پورې چې ماته هغه درې خبرې یاد وي کومې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي وي ترهغې به زه د علي رضي الله عنه بد ونه وایم او په هغه درې خبرو کې یوه هم زما دپاره د سرو اوښانو نه بهتره ده ، ماد رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي وو چې علي رضي الله عنه ته یې فرمایلي وو: (کله چې یې هغه لره په کومې غزوې کې په مدینه کې علي لره خپل قائم مقام مقرر کړی وو) علي رضي الله عنه رسول الله ته عرض وکړو تاسو ما لره دښځو او ماشومانو سره پریږدئ ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل ایا ستا دا خوښه نه ده چې ته داسې شې څنګه هارون علیه السلام د موسی علیه السلام قائم مقام وو، مګر فرق صرف دومره دې چې زما نه پس نبوت نشته ، بله دا چې ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه دخیبر دجنګ په ورځ اوریدلي وو ، سبا به زه دا جهنډه داسې سړي ته ورکوم چې دهغه په لاس به الله دا قلعه فتح کوي هغه دالله او دالله درسول سره محبت کوي، په مونږ کې د هر چا دا خواهش وو چې جهنډه ماته راکړی شي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل علي چرته دې دلته یې را اوغواړئ ؟ خلقو اووئیل یا رسول الله ! دهغه سترګې خوږ دي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل خبر ورکړئ چې راشي هغه راوستی شو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته خپلې مبارکې لاړې په سترګو پورې کړې بیایې جهنډه ورکړه، چنانچې الله تعالی ورته فتح ورکړه، دریمه خبره داده چې کله ایت کریمه: ندع ابناءنا وابناءکم ونساءنا ونساءکم نازل شو نو رسول الله علي، فاطمه، حسن، حسین را اوغوښتل او وې فرمایل اې الله دا کسان زما اهل دي.

امام ترمذي وائي: دا روایت په دې سند حسن صحیح غریب دی.

لغات: یشتکي: اشتکي اشتکاء دباب افتعال نه په معنی دبیماریدو دی.

تشریح : "یوم خیبر" یعني دخیبر ورځ ،یوم من ایام خیبر ، ددینه مراد دخیبر په ورځو کې یوه ورځ ده عرب یې مختصر کوي او صرف یوم خیبر وائي.

غزوه خیبر دهجرت په اوم کال واقع شوې وه اوخیبر دیهودیانو دیو کلي نوم دی.

"لاعطین هذه الرایة غدا" یعني سبا به زه دا جهنډه داسې کس ته ورکوم دچا په لاس چې به الله

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ۹ (۳۷۰۶) . والمغازي ۷۸ (۴۴۱۶) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۴(۳۲/۲۴۰۴) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱(۱۲۱) . (تحفة الأشراف : ۳۸۷۲) . و مسند احمد (۱۷۰/۱. ۱۷۷)

تعالي مونږ ته فتح راکوي، راية جهنډي ته وئيلى شي او جهنډه عموما دلښکر دامير سره وي.
"يحبه الله ورسوله" يعني دداسي کس سره به وي چې دالله اودهغه درسول به ورسره محبت وي، په يو بل روايت کي راغلي دي "لايرجع حتي يفتح الله له" يعني تردي به واپس نه راخي ترڅو چې ورته الله تعالي فتح نه وي ورکړي.
ددي روايت نه علماؤ دعلي رضي الله عنه دفضيلت باندي هم استدلال کړی دی چې دالله اودهغه درسول ورسره محبت دی.

****

۳۷۲۵ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الأَحْوَصُ بْنُ جَوَّابٍ أَبُو الجَوَّابِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ البَرَاءِ، قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشَيْنِ، وَأَمَّرَ عَلَى أَحَدِهِمَا عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، وَعَلَى الآخَرِ خَالِدَ بْنَ الوَلِيدِ، وَقَالَ: "إِذَا كَانَ القِتَالُ فَعَلِيٌّ". قَالَ: فَافْتَتَحَ عَلِيٌّ حِصْنًا فَأَخَذَ مِنْهُ جَارِيَةً. فَكَتَبَ مَعِي خَالِدٌ كِتَابًا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشِي بِهِ. قَالَ: فَقَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ الكِتَابَ فَتَغَيَّرَ لَوْنُهُ، ثُمَّ قَالَ: "مَا تَرَى فِي رَجُلٍ يُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، وَيُحِبُّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ". قَالَ: قُلْتُ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَغَضَبِ رَسُولِهِ، وَإِنَّمَا أَنَا رَسُولٌ فَسَكَتَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ.[1]

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خاي ته دوه لښکرونه اوليږل او په دوئ کي ديو لښکر امير علي رضي الله عنه مقرر کړو او ددويم لښکر امير يي خالد بن وليد رضي الله عنه مقرر کړو او بيا يي اوفرمائيل که دجنګ موقعه راشي نو امير به علي وي چنانچې علي رضي الله عنه يوه قلا فتح کړه او ددي قلا نه يي دغنيمت په مال کي يوه وينځه راوستله، راوي وائي چې زماپه لاس خالد رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم وسلم ته يو خط اوليکلو او ويي ليږلو په کوم کي چې هغه دعلي رضي الله عنه نه شکايت ليکلي وو براء وائي چې زه درسول الله په خدمت کي حاضر شوم او خط يي اولوستلو نو دمخ رنګ يي بدل شو او ويي فرمائيل تاسو څه غواړئ ديو داسي کس په باره کي څوک چې دالله اودهغه درسول سره محبت لري او الله او دهغه رسول دده سره محبت کوي براء وائي ما عرض اوکړو زه دالله اودهغه درسول دغضب نه پناه غواړم زه خو يو قاصد يم، بيارسول الله خاموش شو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي، مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

---

[1] ــ انظر رقم: ۱۸۰۳

تشريح: د رسول الله غزوات([1])

په دي موده کي ټول ۲۵ یا ۲۷ غزوات شوي دي، په کومو کي چي په اوه غزوو بدر، احد، خندق، بني قريظه، بني مصطلق،، خيبر، طائف، کي جنګونه واقع شوي دي، اوپه يو روايت کي په وادي القراي، غابه، بني نضير کي هم جنګ واقع شوى وو، دارنګي ۵۰ بعوثو ته هم ضرورت راغلى وو، بعث هغه مهم ته وئيلى شي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم کوم لښکر چرته ليږلي وي او پخپله ورسره بنفس نفيس شريك شوي نه وي.([2])

****

۳۷۲٦_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الأَجْلَحِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: دَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا يَوْمَ الطَّائِفِ فَانْتَجَاهُ، فَقَالَ النَّاسُ: لَقَدْ طَالَ نَجْوَاهُ مَعَ ابْنِ عَمِّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا انْتَجَيْتُهُ وَلَكِنَّ اللَّهَ انْتَجَاهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ الأَجْلَحِ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ ابْنِ فُضَيْلٍ أَيْضًا، عَنِ الأَجْلَحِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: وَلَكِنَّ اللَّهَ انتجاه يَقُولُ: اللَّهُ أَمَرَنِي أَنْ أَنْتَجِيَ مَعَهُ.([3])

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه دطائف په ورځ راوغوښتلو او دېټي جرګي په طور يي ورسره يو څو خبري اوکړي خلقو اووئيل رسول الله خو دخپل تره دخوي سره ډير ساعته پوري پټي خبري اوکړي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما ورسره پټي خبري نه دي کړي بلکه الله تعالي ورسره پ- . جرګه کړي ده.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي مونږ يي صرف د اجلح په روايت پيژنو او دا حديث دابن فضيل نه علاوه نورو راويانو هم داجلح نه نقل کړي دي او درسول الله ددي قول "بلکه الله ورسره پټه جرګه کړي ده، مطلب دادي چې الله تعالي ماته دده سره په پټو خبرو کولو حکم کړي دي.

****

۳۷۲۷_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي حَفْصَةَ، عَنْ عَطِيَّةَ،

---

[1]. غزوات د غزوة جمع ده يعني جنګونه.

[2]. بعث ته سريه هم وئيلى شي دواړه يو شي دي.

[3] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۲٦۵۳)

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: "يَا عَلِيُّ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُجْنِبَ فِي هَذَا الْمَسْجِدِ غَيْرِي وَغَيْرِكَ". قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ: قُلْتُ لِضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ: مَا مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ؟ قَالَ: لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يَسْتَطْرِقُهُ جُنُبًا غَيْرِي وَغَيْرِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ سَمِعَ مِنِّي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل هَذَا الْحَدِيثَ فَاسْتَغْرَبَهُ. ([1])

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل اي علي زما او ستا نه علاوه دهيچا دپاره جائز نه دي چې هغه په دي مسجد کي دجنابت په حال کي ناست وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، علي بن منذر وائي ما دضرار بن صرد نه تپوس اوکړو چې ددي حديث مفهوم څه دي هغه اووئيل ددي مطلب دادي چې زما او ستا نه علاوه دبل چا دپاره داجائز نه دي چې دجنابت په حالت کي په دي مجلس کي تير شي، محمد بن اسماعيل بخاري چې دا حديث زما نه واوريدو نو ډير ناشنا يي اوګڼړلو او په تعجب کي پريوتلو.

****

٣٧٢٨_حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَابِسٍ، عَنْ مُسْلِمٍ الْمُلَائِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ، وَصَلَّى عَلِيٌّ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَهَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُسْلِمٍ الْأَعْوَرِ، وَمُسْلِمٌ الْأَعْوَرُ لَيْسَ عِنْدَهُمْ بِذَلِكَ الْقَوِيِّ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ مُسْلِمٍ، عَنْ حَبَّةَ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَ هَذَا. ([2])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بعثت د دوشنبي په ورځ شوي دي او علي رضي الله عنه دسه شنبي په ورځ مونځ کړي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دمسلم اعور په روايت پيژنو او مسلم اعور دمحدثينو په نزد قوي نه دي دا رنګي دا حديث دمسلم اعور نه هم مروي دي او مسلم دحبه په واسطه دعلي رضي الله عنه نه نقل کړي دي او په دي باب کي دعلي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢٠٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٨٩)

۳۷۲۹_حَدَّثَنَا خَلادُ بْنُ أَسْلَمَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا عَوْفٌ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ هِنْدٍ الْجَمَلِيِّ قَالَ: قَالَ عَلِيٌّ: كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْطَانِي وَإِذَا سَكَتُّ ابْتَدَأَنِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : عبدالله بن عمرو بن هند جملي نه مروي دي چې علي رضي الله عنه به ونيل كله چې به ما درسول الله نه څه اوغوښتل نو ماته به يي راكړل او چې كله به چوپ پاتي شو نو پخپله به يي راكړل.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

۳۷۳۰_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ: " أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. (2)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته زما دپاره داسي يي څنګه چې هارون عليه السلام دموسي عليه السلام دپاره وو البته فرق دومره دي چې زما نه پس بل نبي راتلونكي نشته (اوهارون عليه السلام دالله تعالي نبي وو).

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب كي دسعد، زيد بن ارقم، ابوهريره، او ام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

۳۷۳۱_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، أن النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ: " أَنْتَ مِنِّي بِمَنْزِلَةِ هَارُونَ مِنْ مُوسَى إِلَّا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَيُسْتَغْرَبُ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ

---

1 انظر حديث رقم ۳۷۲۲.

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۲۲۷۰)

حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ. (١)

ترجمه . د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته زما دپاره داسي يې څنګه چې هارون عليه السلام دموسي عليه السلام دپاره وو البته فرق دومره دي چې زما نه پس بل نبي راتلونكي نشته (اوهارون عليه السلام دالله تعالي نبي وو).

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح دي، او د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په واسطه د نورو سندونو هم د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي اودا روايت د يحي بن سعيد انصاري په سند غريب ګڼلی شي.

****

٣٧٣٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَمَرَ بِسَدِّ الأَبْوَابِ إِلاَّ بَابَ عَلِيٍّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ عَنْ شُعْبَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مسجدنبوي طرف ته دجوړو شوو دروازو دبندولو حكم اوكړو مګر علاوه دعلي رضي الله عنه د دروازي نه.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يې دشعبه په روايت صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣٧٣٣ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنِي أَخِي مُوسَى بْنُ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ حَسَنٍ، وَحُسَيْنٍ، فَقَالَ: " مَنْ أَحَبَّنِي وَأَحَبَّ هَذَيْنِ، وَأَبَاهُمَا، وَأُمَّهُمَا كَانَ مَعِي فِي دَرَجَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ إِلاَّ مِنْ هَذَا

---

[1] ــ انظر حديث رقم ٢٨٢٠

[2] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣١٣)

الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم حسن او حسين رضي الله عنهما دلاس نه اونيول او ويي فرمائيل څوك چې زما سره محبت كول غواړي نو هغوئ دي ددوئ دواړو سره او ددوئ دواړو دپلار سره او ددوئ دواړو دمور سره محبت اوكړي هغه كس به دقيامت په ورځ زما سره په درجه كې وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي دجعفر بن محمد په روايت صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣٧٣٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَوَّلُ مَنْ صَلَّى عَلِيٌّ". قَالَ: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي بَلْجٍ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ حُمَيْدٍ، وَأَبُو بَلْجٍ اسْمُهُ: يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ. وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ عَلِيٌّ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ مِنَ الرِّجَالِ أَبُو بَكْرٍ، وَأَسْلَمَ عَلِيٌّ وَهُوَ غُلَامٌ ابْنُ ثَمَانِ سِنِينَ، وَأَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ مِنَ النِّسَاءِ خَدِيجَةُ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي دټولو نه اول اول چې چامونځ كړي وو هغه كس علي رضي الله عنه دي.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي، دشعبه دا حديث كوم چې هغه دابوبلج نه نقل كوي مونږ يي صرف دمحمد بن حميد په روايت پيژنو او دابو بلج نوم يحي بن سليم دي په اهل علمو كې دده باره كې اختلاف دي بعضي راويان وائي په ټولو كې اول چې چا اسلام قبول كړي دي هغه كس ابوبكر صديق رضي الله عنه دي او دبعضو قول دادي چې دټولو نه اول اسلام علي رضي الله عنه قبول كړي وو مګر بعضي اهل علم وائي په مشرانو سړو كې چې اول چا اسلام قبول كړي وو هغه ابوبكر رضي الله عنه دي او علي رضي الله عنه چې كله اسلام قبول كړو دهغه عمر اته كاله وو او په ښځو كې چې چا دټولو نه اول اسلام قبول كړي وو هغه خديجه رضي الله عنها ده.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٠٤٢) ، ومسند احمد (٧٧/١)

[2] _ تفرد به المؤلف (٦٣١٥)

****

۳۷۳۵_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ، يَقُولُ: "أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ عَلِيٌّ". قَالَ عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِإِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، فَأَنْكَرَهُ فَقَالَ: أَوَّلُ مَنْ أَسْلَمَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ وَأَبُو حَمْزَةَ اسْمُهُ: طَلْحَةُ بْنُ زَيْدٍ. (١)

ترجمه : دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرمائي دېتولو نه اول چې چا اسلام قبول کړي دي هغه علي رضي الله عنه دي، عمرو بن مره وائي ما دا حديث ابراهيم نخعي ته ذکر کړو نو هغه ددينه انکار اوکړو او وئيل يي دېتولو نه اول چې چا اسلام قبول کړي وو هغه ابوبکر صديق رضي الله عنه دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

د زيد بن ارقم راوي مناقب

نوم زيد کنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشوموالي کي يتيم شوی وو او پرورش يي خپل تره عبدالله بن رواح رضي الله عنه اوکړو او همدا دزيد په اسلام کي دداخليدو سبب اوګرځيدو دماشوموالي په وجه په عزواتو کي شريك شوی نه وو او شرکت يي په غزوه خندق کي کړی وو دی پخپله وائي ما په اولس غزواتو کي شرکت کړی دی، په دربار رسالت کي ډير مقرب وو کله چې به بيمار شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي عيادت له راتلو يو خل يي په سترګه درد راغلی وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دعيادت دپاره راغی دجوړيدو نه پس يي ورنه تپوس اوکړو که دا مرض اوس هم باقي پاتي شوی وی نو څه به دي کول زيد صبر اوکړو چې صبر او داجر اميد به مي کولو رسول الله ورته اوفرمائيل که داسي دي کولی نو دالله تعالي په وړاندي به بي ګناه ګرځيدلی وی (مسند احمد).

په ۲۸هجري کي په کوفه کي وفات شوی دی او دا دمختار بن ابي عبيد ثقفي زمانه وه دمروياتو شمير يي ۹۰ دی مزيد حالات يي ابن سعد په طبقات کي ذکر کړي دي.

****

۳۷۳٦_حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ عُثْمَانَ ابْنِ أَخِي يَحْيَى بْنِ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو عِيسَى الرَّمْلِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٣٦٦٢)

عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: " لَقَدْ عَهِدَ إِلَيَّ النَّبِيُّ الأُمِّيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ لاَ يُحِبُّكَ إِلاَّ مُؤْمِنٌ، وَلاَ يَبْغَضُكَ إِلاَّ مُنَافِقٌ ". قَالَ عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ: أَنَا مِنَ الْقَرْنِ الَّذِينَ دَعَا لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل تاسره به صرف مومن محبت کوي او صرف منافق به تاسره بغض کوي، عدي بن ثابت وائي زه دخلقو دهغه طبقي نه يم دچا دپاره چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دعا غوښتلي وه.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن ضحيح دي.

****

۳۷۳۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَيَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ صُبَيْحٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ شَرَاحِيلَ، قَالَتْ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا فِيهِمْ عَلِيٌّ، قَالَتْ: فَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَقُولُ: " اللَّهُمَّ لاَ تُمِتْنِي حَتَّى تُرِيَنِي عَلِيًّا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه : دام عطيه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم يو لښکر اوليږلو په کوم کي چې علي رضي الله عنه موجود وو ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه واوريدل چې خپل دواړه لاسونه يي پورته کړي وو او دا دعا يي غوښتله "اللهم لاتمتني حتي تريني عليا" يعني اي الله ماته هغه وخته پوري مرګ رانه ولي ځوپوري چې تا په ما باندي علي (رضي الله عنه) ليدلي نه وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

دام عطيه رضي الله عنها دزندګئ مناقب

نوم نسيبه دپلار نوم حارث دهجرت نه مخکي مسلمانه شوي وه او کله چې رسول الله مديني ته

[1] _ صحيح مسلم/الإيمان ۳۳ (۷۸) . سنن النسائي/الإيمان ۱۹ (۵۰۲۱) ، و۲۰ (۵۰۲۵) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۱۴) (تحفة الأشراف : ۱۰۰۹۲) ومسند احمد (۸۴/۱، ۹۵)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۸۱۳۲)

راغی نو دانصاري ښځو نه یي بیعت واخستلو او په دوی کي دا هم شامله وه ام عطیه درسول الله صلي الله علیه وسلم سره په جنګونو کي هم شریکه شوي وه چې خوراك به یي تیارولو او دسامانونو حفاظت به یي کولو او دزخمیانو دمرهم پټۍ کاربه یي کولو (مسلم).

دهجرت په اتم کال چې درسول الله صلي الله علیه وسلم زینب لور وفات شوه نو ام عطیه دیو څو ښځو په ملګرتیا کي هغي ته غسل ورکړل ددي یو خوبی هم وو چې په کومه غزوه کي شریك شوی وو او دبیمارېدو نه پس بصري ته تلی وو په دي وخت کي ام عطیه په مدینه کي وه ځنګه چې خبر شوه نوسم دست بصري ته روانه شوه لیکن ددي درسیدو نه دوه ورځي مخکي هغه وفات شوی وو په دریمه ورځ یي خوشبو راوغوښتله او استعمال یي کړه او ونیل یي چې دخاوند نه علاوه دهیچا په مرګ د دري ورځو نه زیات ماتم کول جائز نه دي (بخاري).

ددي دوفات تعریف معلوم نه دی داحادیثو شمیر یي څلویښت دی چې نهه په دي کي متفق علیه دي.

****

۲۲_باب مَنَاقِبِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ رضی الله عنه

دطلحه بن عبید الله رضي الله عنه مناقب

نوم طلحه کنیه ابو محمد او خیر دده لقب دي دپلار نوم یي عبید الله او دمور نوم یي صعبه وو دطلحه نسب په شپږم پوښت کي درسول الله سره یوځاي کیږي دهجرت نبوي نه ۲۴یا ۲۵ کلونه مخکي دده پیدائش شوی دی داتلسو کالو په عمر کي بصري ته لاړو او هلته ورته یو راهب دبعثت نبوي خبر ورکړو او بیا دابوبکر رضي الله عنه په دعوت سره په اسلام کي داخل شو طلحه دغزوه بدر په موقعه په مدینه کي موجود وو ددینه علاوه یي په تمامو غزواتو کي شرکت کړی دی او په بیعة الرضوان کي هم شامل وو او دنورو خلفاؤ په جنګونو کي هم شریك پاتي شوی دی.

طلحه به دیر زیات سخاوت کولو دفقیرانو مسکینانو دپاره به یي دروازه هر وخت پرانیستلي وه، دقیس بن ابي هاضم بیان دی چې ما دطلحه نه زیات سخاوت کونکی بل څوك نه دی لیدلی الله تعالي ورته فراخه مال هم ورکړی وو چې روزانه اوسط امدن یي زر دینارو ته رسیدو (طبقات ابن سعد).

په جنګ جمل کي شهید شو او پدغه وخت کي دده عمر ۲۲ یا ۲۴کلونه وو او په همدي میدان کي دفن کړی شو لیکن دلته به اوبه اودریدلي نو په خوب کي اولیدلی شو وئیل یي چې زما قبر کوم محفوظ ځاي ته منتقل کړئ نو عبدالله بن عباس رضي لله عنهما دابوبکر رضي الله عنه کور په لس زره درهم واخستو او هلته یي منتقل کړو او په دومره ورځو کي دده جسم

بالكل محفوظ وو خراب شوی نه وو تردي چې په سترګو يې کافور لګولی شوي وو هغه هم محفوظ وو دده دمروياتو شمير ۳۸ دی چې دوه په دي کي متفق عليه دي او دوه په مسلم کي دي او دوه په بخاري کي دي.

۳۷۳۸_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: كَانَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ، فَنَهَضَ إِلَى صَخْرَةٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ، فَأَقْعَدَ تَحْتَهُ طَلْحَةَ، فَصَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَوْجَبَ طَلْحَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دزبير بن عوام رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دغزوه احد په ورځ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په جسم يوه زغره پرته وه رسول الله په يو ګټه ختلو ليکن اونه ختلي شو نو هغوئ طلحه بن عبيدالله دخان نه لاندي کينولو او بيا په هغه باندي اودريدو تردي چې کانړي ته سيده وروختلو او ورباندي اودريدو زبير وائي مادنبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې طلحه (پخپل عمل جنت) دخان دپاره واجب کړو.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۷۳۹_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ مُوسَى الطَّلْحِيُّ مِنْ وَلَدِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ الصَّلْتِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، قَالَ: قَالَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى شَهِيدٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الصَّلْتِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الصَّلْتِ بْنِ دِينَارٍ، وَفِي صَالِحِ بْنِ مُوسَى مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِمَا. ([2])

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې دچا دا خواهش وي چې په دنيا کي جنتي اوګوري چې په زمکه کي روان وي هغه لره پکار دي چې طلحه ته اوګوري.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يې صرف دصلت په روايت پيژنو، بعضي اهل

[1] _ انظر حديث رقم ۱۶۹۲

[2] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۲۵) (تحفة الأشراف : ۳۱۰۳)

علمو په صلت بن دينار او صالح بن موسي راويانو دحفظ په اعتبار كلام كړي دي.

****

۳۷٤۰_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ يَحْيَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَمِّهِ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: أَلَا أُبَشِّرُكَ ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "طَلْحَةُ مِمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ". قَالَ: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه: دموسي بن طلحه بيان دي فرمائي چې معاويه رضي الله عنه ته ورغلم نو هغه راته اووئيل ايا زه تاته زيري درنكړم رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي طلحه دهغه كسانو نه دي دچا باره كي چې الله تعالي فرمائيلي دي "هغه خپل كار پوره كړي دي".

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي دمعاويه په روايت صرف په همدي سند پيژنو.

تخريج: انظر حديث رقم ۳۲۰۲

****

۳۷٤۱_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنُ مَنْصُورٍ الْعَنَزِيُّ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَلْقَمَةَ الْيَشْكُرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: سَمِعَتْ أُذُنِي مِنْ فِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ يَقُولُ: "طَلْحَةُ، وَالزُّبَيْرُ جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ: هَذَا غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه: دعقبه بن علقمه بيان دي فرمائي چې مادعلي رضي الله عنه نه واوريدل فرمائيل يي چې زما غوږونو درسول الله صلي الله عليه وسلم دژبي نه اوريدلي دي چې فرمائيل يي طلحه او زبير به دواړه په جنت كي زما ګاونډيان وي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

۳۷٤۲_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا طَلْحَةُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ مُوسَى، وَعِيسَى ابني طلحة، عَنْ أَبِيهِمَا طَلْحَةَ، أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا لِأَعْرَابِيٍّ جَاهِلٍ: سَلْهُ عَمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ مَنْ هُوَ ؟ وَكَانُوا لَا يَجْتَرِئُونَ هُمْ عَلَى مَسْأَلَتِهِ يُوَقِّرُونَهُ

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۰۲۳۳)

2_ انظر حديث رقم: ۳۲۰۲

وَيَهَابُونَهُ. فَسَأَلَهُ الأَعْرَابِيُّ. فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ سَأَلَهُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ سَأَلَهُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ إِنِّي اطَّلَعْتُ مِنْ بَابِ الْمَسْجِدِ وَعَلَيَّ ثِيَابٌ خُضْرٌ. فَلَمَّا رَآنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَيْنَ السَّائِلُ عَمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ؟". قَالَ الأَعْرَابِيُّ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: "هَذَا مِمَّنْ قَضَى نَحْبَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي كُرَيْبٍ. عَنْ يُونُسَ بْنِ بُكَيْرٍ. وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ كِبَارِ أَهْلِ الْحَدِيثِ. عَنْ أَبِي كُرَيْبٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ. وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يُحَدِّثُ بِهَذَا. عَنْ أَبِي كُرَيْبٍ وَوَضَعَهُ فِي كِتَابِ الْفَوَائِدِ.[1]

ترجمه : دطلحه رضي الله عنه بيان دي صحابه كرامو يو جاهل باندېچي ته اوونيل ته درسول الله صلي الله عليه وسلم نه د "من قضي نحبه" باره كي تپوس اوكړه چې مراد ورنه څوك دي دصحابه كرامو حال دا وو درسول الله صلي الله عليه وسلم به يي دومره احترام كولو چې درسول الله دومره هيبت به په دوئ راغلي وو چې دسوال كولو جرئت به يي ورنه نشو كولو چنانچې دي باندېچي درسول الله نه تپوس اوكړو نو رسول الله خپل مخ واړولو هغه بيا تپوس اوكړو رسول الله بيا مخ واړولو بيا دمسجد د دروازي نه اووتلو او ما شني جامي اغوستلي وې هلته چې رسول الله ماته اوكتل نو ويې فرمائيل "من قضي نحبه" باره كي تپوس كونكي چرته دى ؟ اعرابي اوونيل زه موجود يم اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل دا كس د "عمن قضي نحبه" دجملي نه دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دې، مونږ يي صرف دابوكريب په روايت پيژنو چې ديونس بن بكير نه يي نقل كوي، په لويو محدثينو كي متعددو خلقو دابوكريب نه اخذ دروايت كړي دي، مادامام بخاريْ نه دابوكريب په واسطه روايت بيانول اوريدلي دي او هغوئ دا حديث پخپل كتاب "كتاب الفوائد" كي ذكر كړي دي.

****

٢٣_باب مَنَاقِبِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ رضى الله عنه

دزبير بن عوام رضي الله عنه مناقب

٣٧٤٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ. عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ. عَنِ الزُّبَيْرِ. قَالَ: جَمَعَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ قُرَيْظَةَ. فَقَالَ: "بِأَبِي وَأُمِّي".

[1] _ انظر حديث رقم: ٣٢٠٢

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دزبير رضي الله عنه بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني قريظه په ورځ خپل مور او پلار دواړه زما دپاره جمع كړل او ويې فرمائيل زما مور او پلار دې په تا قربان شي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٤_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٧٤٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا، وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَيُقَالُ: الْحَوَارِيُّ هُوَ النَّاصِرُ، سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي عُمَرَ يَقُولُ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: الْحَوَارِيُّ هُوَ النَّاصِرُ. (2)

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر نبي دپاره حواريان وي او زما حواري زبير بن عوام دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او حواري مددګار ته وئيلي شي ما دابن ابي عمر نه اوريدلي دي دسفيان بن عيينه قول ذي دحواري معني مددګار دي.

****

٢٥_باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٣٧٤٥_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ لِكُلِّ

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ١٣ (٣٧٢٠)، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٦ (٢٤١٦)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٢٣) (تحفة الأشراف: ٣٦٢٢)

[2] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٠٩٦)

نَبِيٍّ حَوَارِيًّا، وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ ". وَزَادَ أَبُو نُعَيْمٍ فِيهِ يَوْمَ الْأَحْزَابِ، قَالَ: مَنْ يَأْتِينَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ؟ قَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا. قَالَهَا ثَلَاثًا. قَالَ الزُّبَيْرُ: أَنَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي دهر نبي دپاره حواريان وي او زما حواري زبير بن عوام دي، او ابونعيم په دي کي د "يوم الاحزاب" اضافه کړي ده، رسول الله اوفرمائيل څوك به ماته دکافرانو خبر راوړي؟ زبير رضي الله عنه اووئيل زه به يي راوړم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه دري پيري همدا تپوس اوکړو او زبير به همدا اوئيل زه به يي خبر راوړم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٤٦_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ صَخْرِ بْنِ جُوَيْرِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، قَالَ: أَوْصَى الزُّبَيْرُ إِلَى ابْنِهِ عَبْدِ اللَّهِ صَبِيحَةَ الْجَمَلِ، فَقَالَ: " مَا مِنِّي عُضْوٌ إِلَّا وَقَدْ جُرِحَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَهَى ذَاكَ إِلَى فَرْجِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. (2)

ترجمه : دهشام بن عروه نه روايت دي فرمائي چې زبير رضي الله عنه خپل ځوي عبدالله ته دجنګ جمل په سحر وصيت اوکړو او ورته يي اووئيل زما هيڅ يو اندام داسي نشته کوم چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په ملګرتيا کي زخمي شوي نه وي تردي پوري چې زما شرمګاه هم دهغوئ په ملګرتيا کي زخمي شوي ده.

امام ترمذي وائي: دحماد بن زيد په روايت داحديث حسن غريب دي.

****

٢٦_باب مَنَاقِبِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ رضی الله عنه

دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه مناقب

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٤٠ (٢٨٤٦) ، و٤١ (٢٨٤٧) ، ١٣٥ (٢٩٩٧) ، وفضائل الصحابة ١٣ (٣٧١٩) ، والمغازي ٢٩ (٤١١٣) ، والآحاد ٢ (٧٢٦١) ، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٦ (٢٤١٥) ، سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٢٢) (تحفة الأشراف : ٣٠٢٠)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٦٢٤)

٣٧٤٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ، وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ، وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعْدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَسَعِيدٌ فِي الْجَنَّةِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ".

أَخْبَرَنَا أَبُو مُصْعَبٍ قِرَاءَةً، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ. (1)

ترجمه دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، ابوبكر جنتي دي، عمر جنتي دي، عثمان جنتي، علي جنتي دي، طلحه جنتي دي، زبير جنتي دي، عبدالرحمن بن عوف جنتي دي، سعد جنتي دي، سعيد بن زيد جنتي دي، او ابو عبيده بن جراح (رضي الله عنهم) جنتي دي.

ابو مصعب مونږ ته خبر راکړي دي چې ما دعبدالعزيز بن محمد په وړاندي دا روايت بيان کړو او عبدالعزيز دعبدالرحمن بن حميد نه او عبدالرحمن دخپل پلار حميد په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه همدي مضمون موافق حديث نقل کړو ليکن په دي کي دعبدالرحمن بن عوف دواسطي ذکر نشته.

امام ترمذي وائي داحديث دعبدالرحمن بن حميد په سند "عن ابيه عن سعيد بن زيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم مروي دي او دا سند دمخکني نه زيات صحيح دي.

****

٣٧٤٨_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ مِسْمَارٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ يَعْقُوبَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ زَيْدٍ حَدَّثَهُ فِي نَفَرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عَشَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ: أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ، وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ، وَعُثْمَانُ، وَعَلِيٌّ، وَالزُّبَيْرُ، وَطَلْحَةُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ، وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ". قَالَ: فَعَدَّ هَؤُلَاءِ التِّسْعَةَ وَسَكَتَ عَنِ الْعَاشِرِ، فَقَالَ الْقَوْمُ: نَنْشُدُكَ اللَّهَ يَا أَبَا الْأَعْوَرِ مَنِ الْعَاشِرُ؟ قَالَ: "نَشَدْتُمُونِي بِاللَّهِ أَبُو

---

(1) ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٩٧١٨)

الْأَعْوَرِ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: أَبُو الْأَعْوَرِ هُوَ سَعِيدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَقُولُ: هُوَ أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ. (1)

ترجمه. دحميد نه روايت دي فرمائي چې سعيد بن زيد رضي الله عنه ماته دا حديث ديو څو كسانو په موجودګئ كي بيان كړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل لس كسان جنتيان دي ابوبكر جنتي دي، عمر جنتي دي، عثمان جنتي دي، علي، زبير، طلحه، عبدالرحمن، ابوعبيده، او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم جنتيان دي ، راوي وائي چې نهه كسان يي اوشميرل او دلسم كس باره كي يي څه اونه وئيل خلقو ورنه تپوس اوكړو اي ابوالاعور مونږ تاته دالله واسطه دركوو او تپوس درنه كوو چې لسم كس څوك دي؟ هغه اوونيل تاسو ماته دالله واسطه واسطه راكړه او سوال مو راته اوكړو نو مجبور يم چې درته اووايم چې هغه ابوالاعور دي.

امام ترمذي وائي: مادامام بخاري نه اوريدلي دي چې دا حديث دمخكني حديث نه زيات صحيح دي، او دابوالاعور نه مراد پخپله سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل دي.

تشريح: رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو مجلس كي د لسو صحابه كرامو متعلق دا زيري وركړې وو چي دوئ جنتيان دي ، ددوئ نه علاوه د بعضي نورو صحابه كرامو دپاره هم دا زيري مذكور دی مګر هغوئ په دي مجلس كي شامل نه دي نو ځكه هغوئ په دي روايت كي ندي شميرلی شوي.

څلور خلفاء راشدين او سعد بن ابي وقاص او زبير بن العوام او عبد الرحمن بن عوف او طلحه بن عبيد الله او ابو عبيده بن الجراح او سعيد بن زيد دي. (مختصر سيرت الرسول)

د سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل حالات

نوم سعيد كنيه ابو الاعور دپلار نوم زيد دمور نوم يي فاطمه بنت لعجه وو، داسلام راوړو واقعه يي داده چې دی دحق په تلاش كي يو يهودي عالم ته ورغلو او ورته يي اوونيل كه چري ته دالله په غضب ګرفتاريدل غواړي نو زمونږ مذهب حاضر دی هغه ورته اوونيل ددين حنيف اتباع اوكړه همدا رنګي يو بل يهودي عالم هم اوونيل بيا دی ددينه پس دخپلي ښخي سره په اسلام كي داخل شو دده ښځه د عمر رضي الله عنه حقيقي خور وه چې نوم يي فاطمه وو.

دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو كي خپل شجاعت خودلی دی سعيد رضي الله عنه ددنيوي جاه او جلال نه مستغني وو صرف دعقيق مقام په جائيداد يي ګذاره كوله په اخره كي ورته عثمان رضي الله عنه په عراق كي څه جائيداد وركړی وو، دی په عشره مبشره كي هم

---

(1) ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ۴۴۵۳)

شامل وو چاته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په دنيا کي دجنت زيری ورکړی وو دجاهليت په زمانه کي چې به په عربو کي چا خپله لور ژوندي خښوله نو ده به دهغي په بچ کولو کي مدد کولو او چې کله به کوم ظالم دخپل بي ګناه بچي په مرئ چاړه راښکله نو ده به يي کفالت کولو او دځوانيدو نه پس به يي دهغه پلار ته ونيل اوس که دي زړه غواړي نو دخان سره يي بوځه او يايي زما سره پريږده دهجرت په پنځوسم يا يوپنځوسم کال دمديني په عقيق مقام کي خاورو ته وسپارلی شو، دجمعې په ورځ داويا کالو په عمر کي ددنيا نه رخصت شو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورته غسل ورکړو او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورباندي جنازه اوکړه او په مدينه کي يي خاورو ته اوسپارلو ۴۸روايات ورنه منقول دي چې دوه به دي کي متفق عليه دي او نوز په نورو کتابونو کي مذکور دي.

****

۳۷٤۹ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ، عَنْ صَخْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "إِنَّ أَمْرَكُنَّ مِمَّا يُهِمُّنِي بَعْدِي، وَلَنْ يَصْبِرَ عَلَيْكُنَّ إِلَّا الصَّابِرُونَ". قَالَ: ثُمَّ تَقُولُ عَائِشَةُ: فَسَقَى اللَّهُ أَبَاكَ مِنْ سَلْسَبِيلِ الْجَنَّةِ تُرِيدُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ، وَكَانَ قَدْ وَصَلَ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ يُقَالُ: بِيعَتْ بِأَرْبَعِينَ أَلْفًا. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپلو بيبيانو ته فرمائيل يقينا ستاسو معامله داسي ده چې ما په پريشانئ کي ساتي چې زما نه پس به ستاسو څه کيږي؟ ستاسو دحقوقو د ادائيګي په معامله کي صرف صبر کونکي صبر کولي شي، بيا عائشه رضي الله عنها ابوسلمه ته اووئيل الله تعالي دي ستا پلار يعني عبدالرحمن بن عوف لره دجنت په سلسبيل نهر کي سيراب کړي هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم دبي بيانو سره ديو داسي مال په ذريعه کوم چې په څلويښت زره دينارو خرڅ شو ديو ښه سلوك مظاهره اوکړه.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

۳۷۵۰ـحَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ الْبَصْرِيُّ، وَإِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٧٧٢٦)

الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا قُرَيْشُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ" أَوْصَى بِحَدِيقَةٍ لِأُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ، بِيعَتْ بِأَرْبَعِ مِائَةِ أَلْفٍ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دابوسلمه نه روايت دي فرمائي چې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه دامهات المؤمنين دپاره ديو باغ وصيت اوكړو چې په څلور لاكه درهم خرڅ كړي شي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي.

****

٢٧_باب مَنَاقِبِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رضى الله عنه

دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دمناقبو بيان

دده نوم سعد او كنيه ابو اسحاق او دپلار نوم مالك چې كنيه يې ابو وقاص وه او دمور نوم يې حمنه وو په رشته كي درسول الله په ماماخيلو كي راتلو (اسد الغابه ٢٩١/٢) دنولسو كالو په عمر كي دصديق اكبر رضي الله عنه سره دربار نبوت كي حاصر شو او مسلمان شو او دمكي نه يي مديني ته هجرت اوكړو او دخپل ورور عقبه بن ابي وقاص په كور كي يې اوسيدل شروع كړل (طبقات ابن سعد ٩٩/٣) دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره يې په ډيرو غزواتو كي شركت كړى دى او دعشره مبشره نه دى ، عشره مبشره لس صحابه وو كوم چې عراقي په دي شعر كي جمع كړي دي.

وافضل اصحاب نبي مكانة	ومنزلة من بشر واعنان
سعيد زبير سعد عثمان عامر	علي ابن عوف طلحه الحران

په غزوه احد كي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو "ارم ياسعد فداك ابي وامي" بخاري كتاب المغازي باب غزوه احد)

دا جمله دسعد دپاره دډير فخر او فضيلت خبره ده او همدا جمله نبي كريم صلي الله عليه وسلم په يو بله موقعه كي دطلحه او زبير رضي الله عنهما دپاره هم فرمائيلي وه.

عمر رضي الله عنه دكوفي والي مقرر كړى وو ليكن وروسته يې معزول كړو مګر عثمان رضي الله عنه دوباره بحال كړو.

وفات سعد په اخري وخت كي عقيق مقام ته لاړو كوم چې دمديني نه په لس ميله فاصله كي پروت دى او هلته د ٥٥ كالو په عمر كي وفات شو.

مرويات دابن جوزي په قول دده دمروياتو تعداد ٢٧١ دى چې ٢٥ په بخاري او مسلم

---

[1] ـ تفرد به المؤلف.

دوارو كي دي.

٣٧٥١_حَدَّثَنَا رَجَاءُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعُذْرِيُّ بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَعْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اللَّهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ إِسْمَاعِيل، عَنْ قَيْسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اللَّهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ"، وَهَذَا أَصَحُّ.(١)

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې الله سعد چې كله ستا نه دعا غواړي نو ته دده دعا قبوله كړه.

امام ترمذي وائي: داحديث داسماعيل بن ابي خالد نه دقيس بن حازم په واسطه نقل كړې شوي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې الله سعد چې كله دعا غواړي نو دعا يې قبوله كړې، او دا روايت زيات صحيح دي (يعني مرسل زيات صحيح دي).

****

٣٧٥٢_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَأَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، قَالا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَقْبَلَ سَعْدٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَذَا خَالِي فَلْيُرِنِي امْرُؤٌ خَالَهُ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُجَالِدٍ، وَكَانَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ، وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي زُهْرَةَ، فَلِذَلِكَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا خَالِي".(٢)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرماني چې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه راغي نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سعد زما ماما دي تاسو هم مانه خپل خپل ماماگان اوښايئ.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب دي مونږ يې دمجالد په روايت پيژنو، سعد بن ابي وقاص دبني زهره قبيلې يو فرد وو، او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دوالدې محترمې قبيله بني زهره وه نو په همدې وجه رسول الله اوفرمائيل چې دا كس زما ماما دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف

[2] ـ تفرد به المؤلف

٣٧٥٣_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، سمعا سعيد بن المسيب، يَقُولُ: قَالَ عَلِيٌّ: مَا جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَاهُ وَأُمَّهُ لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدٍ، قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ: " ارْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي، وَقَالَ لَهُ: ارْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ سَعْدٍ. (1)

ترجمه : علي بن زيد او يحي بن سعيد روايت بيانوي دوئ دواړو دسعيد بن مسيب نه اوريدلي دي چې علي رضي الله عنه اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دسعد نه علاوه دبل هيچا دپاره خپل مور او پلار نه دي جمع کړي داحد په ورځ يې سعد ته اوفرمائيل غشي وله زما مور او پلار دي په تاباندي قربان شي او غشي وله اي پهلوانه خوانه.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي داحديث دمتعددو راويانو نه مروي دي او دوئ تولو ديحي بن سعيد نه او هغه دسعيد بن مسيب ه واسطه دسعد رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

٣٧٥٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: " جَمَعَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم داحد په ورځ خپل مور او پلار دواړه زما دپاره جمع کړل.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي دا حديث دعبدالله بن شداد بن الهاد نه هم مروي دي او هغوئ دعلي رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي.

****

٣٧٥٥_حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ،

---

1 _ انظر حديث رقم ٢٨٢٨

2 _ انظر حديث رقم ٢٨٣٠

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفَدِّي أَحَدًا بِأَبَوَيْهِ إِلَّا لِسَعْدٍ، فَإِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ يَوْمَ أُحُدٍ: "ارْمِ سَعْدُ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي". قَالَ: هَذَا صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دسعد نه علاوه دبل هيچا باره کي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نه دي اوريدلي چې د هغه دپاره يې خپل مور او پلار جمع کړي وي، ما داحد په ورځ درسول الله نه واوريدل فرمائيل يې اي سعد غشي وله زما مور او پلار دي په تاباندي قربان شي.
امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي.

تخريج: انظر حديث رقم ٣٨٢٨

****

٣٧٥٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَهِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْدَمَهُ الْمَدِينَةَ لَيْلَةً، قَالَ: "لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا يَحْرُسُنِي اللَّيْلَةَ". قَالَتْ: فَبَيْنَمَا نَحْنُ كَذَلِكَ إِذْ سَمِعْنَا خَشْخَشَةَ السِّلَاحِ، فَقَالَ: "مَنْ هَذَا؟". فَقَالَ: سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا جَاءَ بِكَ؟". فَقَالَ سَعْدٌ: وَقَعَ فِي نَفْسِي خَوْفٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ، فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ نَامَ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې يو ځل نبي کريم صلي الله عليه وسلم دکوم جنګ نه مديني ته راروان وو نو دشپي مي خوب اونه کړو (اوتختيدو) فرمائيل يې چې کاش داسي يو نيک انسان وي چې نن شپه يې زما دحفاظت دپاره پهره کړي وي دام المؤمنين بيان دي چې مونږ اوس همدا سوچ کولو چې ناځاپه مو دځا داسلحي شرنګا واوريدله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوک دي عرض اوکړي شو سعد بن ابي وقاص يم رسول الله اوفرمائيل څنګه راغلي يې عرض يې اوکړو ماسره ويره پيدا شوه چې چرته رسول الله ته څه ضرر اونه رسيږي لهذا زه ستاسو دحفاظت دکولو دپاره راغلي يم نو رسول الله صلي الله عليه

---

1 _ انظر حديث رقم ٣٨٣٠

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٧٠ (٢٨٨٥) . والتمنى ٣ (٧٢٣١) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٥ (٢٤١٠)
(تحفة الأشراف: ١٦٢٢٥)

وسلم دده دپاره دعا اوغوښتله او بيا اوده شو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨ــ بَاب مَنَاقِبِ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

دسعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل مناقب

نوم سعيد كنيه ابو الاعور دپلار نوم زيد دمور نوم يي فاطمه بنت لعجه وو، داسلام راوړو واقعه يي داده چې دى دحق په تلاش كي يو يهودي عالم ته ورغلو او ورته يي اوونيل كه چري ته دالله په غضب گرفتاريدل غواړي نو زمونږ مذهب حاضر دى هغه ورته اوونيل ددين حنيف اتباع اوكړه همدا رنگي يو بل يهودي عالم هم اوونيل بيا دى ددينه پس دخپلي ښځي سره په اسلام كي داخل شو دده ښځه د عمر رضي الله عنه حقيقي خور وه چې نوم يي فاطمه وو.
دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو كي خپل شجاعت خودلى دى سعيد رضي الله عنه ددنيوي جاه او جلال نه مستغني وو صرف دعقيق مقام په جائيداد يي گذاره كوله په اخره كي ورته عثمان رضي الله عنه په عراق كي څه جائيداد وركړو، دى په عشره مبشره كي هم شامل وو چاته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په دنيا كي دجنت زيرى وركړى وو دجاهليت په زمانه كي چې به په عربو كي چا خپله لور ژوندي ښخوله نو ده به دهغي په بچ كولو كي مدد كولو او چې كله به كوم ظالم دخپل بي گناه بچي په مرئ چاړه راښكله نو ده به يي كفالت كولو او دخوانيدو نه پس به يي دهغي پلار ته ونيل اوس كه دي زړه غواړي نو دخان سره يي بوځه او ياي زما سره پريږده دهجرت په پنځوسم يا يوپنځوسم كال دمديني په عقيق مقام كي دجمعي په ورځ داويا كالو په عمر كي ددنيا نه رخصت شو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورته غسل وركړو او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورباندي جنازه اوكړه او په مدينه كي يي خاورو ته اوسپارلو ۴۸روايات ورنه منقول دي چې دوه په دي كي متفق عليه دي او نور په نورو كتابونو كي مذكور دي.

****

٣٧٥٧ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يِسَافٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ظَالِمٍ الْمَازِنِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ، أَنَّهُ قَالَ: أَشْهَدُ عَلَى التِّسْعَةِ أَنَّهُمْ فِي الْجَنَّةِ، وَلَوْ شَهِدْتُ عَلَى الْعَاشِرِ لَمْ آثَمْ. قِيلَ: وَكَيْفَ ذَلِكَ؟ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِرَاءَ. فَقَالَ: "اثْبُتْ حِرَاءُ فَإِنَّهُ لَيْسَ عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ". قِيلَ: وَمَنْ هُمْ؟ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ، وَعَلِيٌّ، وَطَلْحَةُ، وَالزُّبَيْرُ، وَسَعْدٌ،

وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ. قِيلَ: فَمَنِ الْعَاشِرُ؟ قَالَ: أَنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي شُعْبَةُ، عَنِ الْحُرِّ بْنِ الصَّيَّاحِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الأَخْنَسِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ. [1]

ترجمه : دسعيد بن زير بن عمرو بن نفيل رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه دنهه کسانو باره کې ددې خبري ګواهي ورکوم چې دوئ جنتيان دي او که د لسم باره کې هم ګواهي ورکړم نو ګنهګار به نشم چا اوونيل دا څنګه ؟ لږ وضاحت اوکړئ، هغه اوونيل مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په حرا غار کې موجود وو رسول الله اوفرمائيل اې حرا اودريږه ستا دپاسه يو نبي يا صديق او يا شهيد نه علاوه نوم څوك نشته عرض اوکړي شوهغوئ څوك دي چې رسول الله ورته صديق او شهيدونيلي دي هغه اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه ابوبکر، عمر ، عثمان، علي، طلحه، زبير، سعد، او عبدالرحمن بن عوف دي تپوس ورنه اوکړي شو لسم څوك دي سعيد اوونيل هغه زه يم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي داحديث په يو څو سندونو دسعيد بن زيد په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلمنه مروي دي.

****

۲۹_باب مَنَاقِبِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رضى الله عنه

دعباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه مناقب

عباس رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم سکه تره دی او دی درسول الله نه دوه يا دري کاله مشردی الله تعالي ورته دجاهليت په زمانه کې هم ډير شرف او عزت ورکری وو او داسلام قبلولونه پس هم ډير معزز وو دجاهليت په زمانه کې ورته حاجيانو ته داوبو ورکولو خدمت سپارلی شوی وو او داسلام قبلولو نه پس هم رسول الله پخپل کار قائم پريخودو په غزوه بدر کې خو درسول الله په خلاف دمشرکينو سره راغلی وو ليکن وروسته مسلمان شو او په غزوه حنين وغيره کې يې درسول الله سره ملګرتيا وکړه يو وخت داسي وو چې ټول خلق تختيدلي وو او دی درسول الله صلي الله عليه وسلم سره کلك ولاړ وو.

---

[1] _ ابي داود/ السنة ۹ (۲٦۲۸) . سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۳۲) (تحفة الأشراف : ۲۲۵۸) . وانظر ماتقدم برقم ۳۷۴۷ (تحفة الأشراف : ۲۲۵۹)

په مدينه کي درجب په مياشت کي په هجرت ۳۴کال وفات شو او دوفات په وخت کي دده عمر اتيا يا نهه اتيا کاله وو او عثمان رضي الله عنه ورباندي جنازه اوکړه او په جنة البقيع کي دفن کړی شو ۳۵روايات ورنه منقول دي چې يو په دوئ کي متفق عليه دي يو صرف په بخاري کي دي او دري صرف په مسلم کي دي.

٣٧٥٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ المُطَّلِبِ بْنُ رَبِيعَةَ بْنِ الحَارِثِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، أَنَّ العَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ المُطَّلِبِ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: " مَا أَغْضَبَكَ ؟ ". قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ إِذَا تَلَاقَوْا بَيْنَهُمْ تَلَاقَوْا بِوُجُوهٍ مُبْشَرَةٍ، وَإِذَا لَقُونَا لَقُونَا بِغَيْرِ ذَلِكَ. قَالَ: فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ، ثُمَّ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الإِيمَانُ حَتَّى يُحِبَّكُمْ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ، ثُمَّ قَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ آذَى عَمِّي فَقَدْ آذَانِي، فَإِنَّمَا عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعبدالمطلب بن ربيعه بن حارث بن عبدالمطلب بيان دي فرمائي چې عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دغصي په حالت کي راغلو او زه ورسره ناست وم رسول الله ورنه تپوس اوکړو ولي غصه يي؟ هغه اووئيل اي دالله رسوله دقريشو زمونږ سره څه دشمني ده چې هغوئ خپله خپل مينځ کي ملاوېږي نو په خوشحالئ ملاوېږي او چې کله زمونږ سره ملاوېږي نو په بل شان ملاوېږي ددي خبري په اوريدو رسول الله ته غصه ورغله تردي پوري چې دمخ رنګ يي سور شو او بيا يي اوفرمائيل زما دي قسم وي په هغه ذات دچا په لاس کي چې زما روح دي دهيچا زړه ته هغه وخته پوري ايمان داخليدي نشي ترڅو پوري چې هغه دالله او دهغه درسول دپاره محبت نه وي کړي او بيا يي اوفرمائيل اي خلقو چاچې زما تره ته تکليف اورسولو نو هغه ماته تکليف اورسولو ځکه چې دهر چا تره دهغه دپلار پشان وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

****

حدثنا أحمدُ الدورقيُّ، أخبرنا إسماعيلُ بنُ إبراهيمَ، عن الجريريِّ، عن عبدِاللهِ بن شقيقٍ، قَالَ: قلتُ لعائشةَ: أيُّ أصحابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كانَ أحبَّ إليهِ؟ قالتْ: أبو بكرٍ، قلتُ: ثم

[1] _ تفرد به المؤلف. وانظر ماتقدم عنده برقم ٣٦٠٤ (تحفة الأشراف : ١١٢٨٩)

مَنْ؟ قالتْ: ثم عمرُ، قلتُ: ثم مَنْ؟ قالتْ: ثم أبو عُبيدةَ بن الجراح، قلتُ: ثم مَنْ؟ فسكتتْ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن شقيق نه روايت دي فرمائي چې ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته مي اوونيل په صحابه كراموكې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته څوك زيات محبوب وو؟ راته يي اوفرمائيل ابوبكر ما بيا عرض اوكړو په هغه پسې بل څوك وو پسې دي نو ويي فرمائيل عمر ما بيااوونيل په هغه پسې بيا څوك دي راته يي اوفرمائيل ابوعبيده بن الجراح ما بيا اوونيل په هغه پسې بل څوك وو پسې دي نو خاموشي يي اختيار كړه (او جواب يي رانكړو).

تخريج : سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٠٢) (تحفة الأشراف : ١٦٢١٢) وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢١٨)

****

٣٧٥٩_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْعَبَّاسُ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عباس زما نه دي او زه دهغه نه يم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي صرف داسرائيل په روايت پيژنو.

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو بَكْرٍ، نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ، نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ". [3]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ابوبكر يو بهترين انسان دي او عمر يو بهترين انسان دي او عبيده بن الجراح يو بهترين انسان دي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ٥٥٢٢)

[2] ـ (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٢٤٠٨)

[3] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠١١٣)

****

٣٧٦٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ الأَعْمَشَ يُحَدِّثُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعُمَرَ فِي الْعَبَّاسِ: "إِنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ". وَكَانَ عُمَرُ كَلَّمَهُ فِي صَدَقَتِهِ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم عمر فاروق رضي الله عنه ته دعباس په باره کي اوفرمائيل يقينا تره دسړي دهغه دپلار پشان وي او عمررضي الله عنه دغه وخت کي رسول الله سره دهغه دصدقي باره کي څه خبري کړي وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٦١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللَّهِ، وَإِنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ، أَوْ مِنْ صِنْوِ أَبِيهِ". هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي الزِّنَادِ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عباس دالله درسول تره دي او دهر چا تره دهغه دپلار پشان وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يي دابوالزناد په روايت صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣٧٦٢_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ: "إِذَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠١١٢)

[2] ـ صحيح مسلم/الزكاة ٣ (٩٨٣) . سنن ابي داود/ الزكاة ٢١ (١٦٢٣) . سنن النسائي/الزكاة ١٥ (٢٤٦٦) (تحفة الأشراف : ١٣٩٢٢) (وأخرجه البخاري في الزكاة (٤٩/ح ١٤٦٨) . بدون قوله: ''عم الرجل صنو أبيه'') . و مسند احمد (٢/٣٢٢)

كَانَ غَدَاةَ الِاثْنَيْنِ فَأْتِنِي أَنْتَ وَوَلَدُكَ حَتَّى أَدْعُوَ لَهُمْ بِدَعْوَةٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهَا وَوَلَدَكَ ". فَغَدَا وَغَدَوْنَا مَعَهُ وَأَلْبَسَنَا كِسَاءً. ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً، وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا. اللَّهُمَّ احْفَظْهُ فِي وَلَدِهِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١) 8/10

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم عباس رضي الله عنه ته اوونيل د دوشنبي دورځي په سحر ته او ستا خوي ماته راشئ تردي چې زه درته يو داسي دعا اوکړم دکوم په ذريعه چې به الله تعالي تاته او ستا بچي ته فائده ورسوي، کله چې سحر شو نو عباس رضي الله عنه ورغلو او مونږ هم ورسره وو رسول الله زمونږ دپاره يو څادر خور کړو او بيا يي دا دعا اوغوښتله " "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً، وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا. اللَّهُمَّ احْفَظْهُ فِي وَلَدِهِ " يعني اې الله عباس او دهغه خوي ته مغفرت اوکړي او داسي مغفرت ورته اوکړي چې په ظاهري او باطني دواړو اعتبارونو سره داسي وي چې هيڅ يوه ګناه باقي پرې نږدي اې الله ته دده حفاظت اوکړي او دده دخوي په باره کي يعني دهغه دحقوقو اداء کولو باره کي دده ته بهترين توفيق ورکړي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣٠_باب مَنَاقِبِ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه

دجعفر بن ابي طالب رضي الله عنه دمناقبو بيان

٣٧٦٣_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيرُ فِي الْجَنَّةِ مَعَ الْمَلَائِكَةِ ". قَالَ: هَذَا غَرِيبٌ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، وَقَدْ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ وَغَيْرُهُ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ وَالِدُ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ، وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (٢)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما جعفر په جنت کي دفرشتو سره دالوتلو په حال کي اوليدلو.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣٦٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٠٢٥)

امام ترمذي وائي: دابوهريره دا حديث غريب دي مونږ يې صرف دعبدالله بن جعفر په روايت پيژنو او يحي بن معين وغيره محدثينو دده تضعيف کړي دي او عبدالله بن جعفر دعلي بن المديني پلار دي، او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي

****

٣٧٦٤_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "مَا احْتَذَى النِّعَالَ وَلَا انْتَعَلَ، وَلَا رَكِبَ الْمَطَايَا، وَلَا رَكِبَ الْكُورَ بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ مِنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَالْكُورُ: الرَّحْلُ. ([1])

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نه چا چاته پيزار اغوستولي دي او نه يې اغوستلي دي، نو څوك په سورلۍ سور شوي دي او نه څوك دسورلۍ خاي ته درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس ختلي وي چې هغه دجعفر بن ابي طالب نه بهتر او افضل وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي، او دکور معني کجاوه ده،

****

٣٧٦٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: "أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي" وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ إِسْرَائِيلَ نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته په صورت او سيرت دواړو کي زما سره مشابه يې، او په دي حديث کي يوه اوږده قصه ده.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي مونږ ته سفيان بن وکيع روايت بيان کړي دي وئيل يې چې مونږ ته زما پلار داسرائيل په واسطه ددي حديث پشان حديث بيان کړي دي.

****

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١٢٢٢٦)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٠٣)

٣٧٦٦_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَبُو يَحْيَى التَّيْمِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ أَبُو إِسْحَاقَ الْمَخْزُومِيُّ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "إِنْ كُنْتُ لأَسْأَلُ الرَّجُلَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الآيَاتِ مِنَ القُرْآنِ أَنَا أَعْلَمُ بِهَا مِنْهُ، مَا أَسْأَلُهُ إِلَّا لِيُطْعِمَنِي شَيْئًا. فَكُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ لَمْ يُجِبْنِي حَتَّى يَذْهَبَ بِي إِلَى مَنْزِلِهِ، فَيَقُولُ لِامْرَأَتِهِ: يَا أَسْمَاءُ أَطْعِمِينَا شَيْئًا، فَإِذَا أَطْعَمَتْنَا أَجَابَنِي، وَكَانَ جَعْفَرٌ يُحِبُّ الْمَسَاكِينَ، وَيَجْلِسُ إِلَيْهِمْ، وَيُحَدِّثُهُمْ وَيُحَدِّثُونَهُ، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَنِّيهِ بِأَبِي الْمَسَاكِينِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، وَأَبُو إِسْحَاقَ الْمَخْزُومِيُّ هُوَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْفَضْلِ الْمَدَنِيُّ، وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ وَلَهُ غَرَائِبُ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما به دقراني ايتونو باره کي دصحابه کرامو نه تپوسونه کول اګر که زه به ددوئ نه په دي باره کي زيات خبردار وم، او داسي به مي ځکه کول چي دوئ راباندي خوراك اوکړي چنانچې ما به کله دجعفر بن ابي طالب نه تپوس اوکړو هغه به ماته هغه وخته پوري جواب نه راکولو چې څو پوري به يي زه خپل کور ته بوتلي نه وم او څو پوري چې به يي خپلي ښځي ته دا نه وو ويلي چې اسماء په مونږ باندي خوراك اوکړه کله چې به هغي په مونږ خوراك اوکړو بيا به ماته جعفر بن ابي طالب جواب راکولو، غرض دا چې جعفر رضي الله عنه دمسکينانو سره ډير محبت کولو، ددوئ سره به يي ناسته کوله او دوئ سره به يي خبري اتري کولي او ددوئ خبري به يي اوريدلي همدا وجه وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه ته ابو المساکين ويلي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي، دابواسحاق مخزومي نوم ابراهيم بن فضل مدني دي اوبعضي محدثينو هغه باندي دحفظ په اعتبار کلام کړي دي او غرائب احاديث ورنه مروي دي.

****

٣٧٦٧_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ حَاتِمُ بْنُ سِيَاهٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كُنَّا نَدْعُو جَعْفَرَ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَبَا الْمَسَاكِينِ، فَكُنَّا إِذَا أَتَيْنَاهُ قَرَّبَنَا إِلَيْهِ مَا حَضَرَ فَأَتَيْنَاهُ يَوْمًا، فَلَمْ يَجِدْ عِنْدَهُ شَيْئًا فَأَخْرَجَ جَرَّةً مِنْ عَسَلٍ فَكَسَرَهَا فَجَعَلْنَا نَلْعَقُ مِنْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٧ (٤١٢٥) (تحفة الأشراف: ١٢٩٢٢)

غَرِيبٌ حَدِيثِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ به جعفر بن ابي طالب ته په ابو المساكين نوم باندي اواز كولو چنانچې كله به مونږ هغه ته ورغلو نو چې څه به ورسره موجود وو زمونږ په وړاندي به يې راوړل او كيخودل يوه ورځ مونږ هغه ته ورغلو او په دغه ورځ دهغه سره هيڅ څيز موجود نه وو (چې مونږ ته يې راوړي وي) نو دشهدو يو منګي يې راوويستلو او مات يې كړو او مونږ شروع شو چې څټل مو.

امام ترمذي وائي: داحديث دابوسلمه په روايت چې دابوهريره نه يې نقل كړي دي حسن غريب دي.

****

٣١ـ بَاب مَنَاقِبِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ

دحسن او حسين رضي الله عنهما دمناقبو بيان

نوم حسن كنيه ابو محمد لقب شبيه رسول الله صلي الله عليه وسلم ، دپلار نوم يې علي او دمور نوم يې فاطمه بنت رسول الله صلي الله عليه وسلم دي چې دهجرت په دريم كال اودرمضان په مياشت كي پيدا شوي ده دده دلادت په مناسبت رسول الله صلي الله عليه وسلم دفاطمه كور ته لاړو او تپوس يې اوكړو څه نوم مو درباندي ايخودلى دى؟ هغوئ اووئيل حرب رسول الله اوفرمائيل دده نوم حسن دى او دپيدائش په اومه ورځ ورله عقيقه اوكړى شوه، حسن داتو كالو وو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ددنيا نه رخصت شو رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات نه وروسته ابوبكر رضي الله عنه سره هم ډير محبت كولو يو ځل يې په لوبو كولو اوليدو نو اوچت يې كړو او پخپله اوږه يې كينولو اوبيا يې اووئيل په الله قسم دى درسول الله سره ډير مشابه دى او دعلي سره مشابه نه دى ددې په اوريدو سره علي رضي الله عنه هم په خندا شو (بخاري كتاب مناقب الحسن والحسين).

عمر رضي الله عنه ورسره هم ډير محبت كولو او دده دپاره يې پنځه زره ماهانه وظيفه مقرر كړه (فتوح البلدان بلازري).

حسن رضي الله عنه دعثمان رضي الله عنه دمحاصري په وخت كي هم دحفاظت كردار ادا كړو حسن بن علي رضي الله عنه دجنګ جمل نه منع كړو او چې علي رضي الله عنه وفات شو نو هغه درباندي جنازه اوكړه او بيا خلقو دده سره بيعت اوكړو.

دويم اميرمعاويه رضي الله عنه دعلي دشهادت نه پس فوجي پيش قدمي شروع وكړه او په دي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف

وخت كي حسن په كوفه كي وو نو په دغه وخت كي حسن رضي الله عنه دصلح په وجه دامير معاويه ته دبيعت نه دبيزارئ اعلان اوكړو ددي دپاره چې په مسلمانانو كي خون ريزي اونه شي نو ددي په وجه درسول الله هغه پيشن ګويي پوره شوه چې زما دا بچى به سردار وي او الله تعالي به دده په ذريعه دمسلمانانو په دوه فرقو كي صلح راولي (مشكواة).
دده دخلافت موده شپږ يا اوه مياشتي يا ددينه څه زياته وه.
په حسن رضي الله عنه كي نور هم ډير بهترين اوصاف وو چې بعضي دهغي نه دا وو حسن رضي الله عنه داعلي درجي يو بهترين خطيب وو دهغه اشعا او حكيمانه اقوال هم ډير منقول دي ددنيا نه استغني او بي نيازي او صدقات وركول او زيات وخت په عبادت كي تيرول خوش اخلاقي كول دده صفات وو.
لكه چې تير شول درسول الله دوفات په وخت كي دحسن رضي الله عنه عمر اته كاله وو نو ددي باوجود هغه بيا هم درسول الله نه ديارلس روايتونه ياد كړي وو كوم چې اصحاب سنن نقل كړي دي.
وفات: غرض دا چې دهجرت په ۵۰ كال ورته زهر وركړى شول او ددي په نتيجه كي دري ورځي پس د ۴۷يا ۴۸ كالو په عمر كي وفات شو دده ارمان دا وو چې دده قبر دي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم يو اړخ ته وي نو په دي بنا دده دنيا عائشه رضي الله عنها نه اجازت اوغوښتلى شو ليكن مروان مخالفت اوكړو او بيا ددينه پس په جنت البقيع كي دخپلي مور خاتمي يو اړخ ته دفن كړى شو په جنازه كي يي دومره ګڼره وه چې په مدينه كي ددينه مخكي چرته دومره ګڼره نه وه ليدلى شوي ګڼره ددومره حده پوري وه چې ستن په زمكه غورځولى شوي وى نو دخلقو دزياتوالي په وجه به زمكي ته نه وه رسيدلي (تهذيب التهذيب ۳۰۱/۲).

۳۷٦۸ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الحَسَنُ، وَالحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الجَنَّةِ".
حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ يَزِيدَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَابْنُ أَبِي نُعْمٍ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي نُعْمٍ البَجَلِيُّ الكُوفِيُّ وَيُكْنَى: أَبَا الحَكَمِ. (1)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حسن اوحسين دجنت دځوانانو سرداران دي.

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۱۳۳)، و مسند احمد (۳/۳، ۶۲، ۶۴، ۸۰)

****

٣٧٦٩_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، قَالَا: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ زَيْدِ بْنِ الْمُهَاجِرِ، أَخْبَرَنِي مُسْلِمُ بْنُ أَبِي سَهْلٍ النَّبَّالُ، أَخْبَرَنِي الْحَسَنُ بْنُ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: طَرَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي بَعْضِ الْحَاجَةِ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى شَيْءٍ لَا أَدْرِي مَا هُوَ، فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ حَاجَتِي، قُلْتُ: مَا هَذَا الَّذِي أَنْتَ مُشْتَمِلٌ عَلَيْهِ؟ قَالَ: فَكَشَفَهُ فَإِذَا حَسَنٌ، وَحُسَيْنٌ عَلَى وَرِكَيْهِ، فَقَالَ: " هَذَانِ ابْنَايَ وَابْنَا ابْنَتِيَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا، فَأَحِبَّهُمَا، وَأَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: داسامه بن زيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه يوه شپه دځه ضرورت په وجه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او داسي څيز يي دځان نه راتاو كړي وو چې ما اونه پيژندلو دا څه څيز دي بيا چې كله زه دخپل ضرورت نه فارغ شوم نو عرض مي اوكړو چې دا څه څيزدي كوم چې تادځان نه راتاو كړي دي؟ نو رسول الله هغه پرانيستلو ما چې اوكتل حسن او حسين رضي الله عنهما وو، اوبيا يي اوفرمائيل دا دواړه زما بچي دي او دا دواړه زما دلور بچي دي اي الله زه ددوئ سره محبت كوم او ته هم ددوئ سره محبت اوكړي او اي الله دهغه چاسره محبت اوكړي څوك چې ددوئ سره محبت كوي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

د اسامه بن زيد رضي الله عنه مناقب

نوم اسامه كنيه ابو محمد لقب حب رسول الله صلي الله عليه وسلم او دپلار نوم يي زيد دي، دبعثت نبوي په اوم كال په مكه كي پيدا شوي دي.

اسامه په فتح مكه كي شريك شوي وو درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يو خاي وو، د بلال او عثمان بن طلحه رضي الله عنهما سره مكي ته داخل شوي وو، (مسلم كتاب الايمان).

رسول الله صلي الله عليه وسلم ډيرو سريو ته مجاهدين د اسامه بن زيد رضي الله عنه په مشرئ كي ليكلي دي پدي ټولو كي اهمه سريه هغه وه په كومه كي چې صحابه كرام هم موجود وو اوداد رسول الله اخري مقرر كړي سريه وه.

درسول الله نه عمر فاروق رضي الله عنه هم د اسامه بن زيد رضي الله عنه سره ډير محبت

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٦)

كولو، اود خپل خوي عبدالله وظيفه يې دوه نيم زره ديناره اود اسامه وظيفه درې زره ديناره مقرر کړې وه او بيايې اوفرمائيل چې دده سره درسول الله ستا نه زيات محبت وو (مستدرک حاکم ۳۵۵۹)

د علي کرم الله وجهه او معاويه رضي الله عنه په جنګ کې يې بلکل غير جانبداري اختيار کړې وه (الاصابه ۱/۲۹)

مروي دي چې يو خل اسامه بن زيد رضي الله عنه په يو چوکاټ راپريوتو او تندي يې زخمي شو رسول الله صلي الله عليه وسلم عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل دتندي نه يې وينه وچې کړه نو ام المؤمنين دده وينه پاکه کړه. که چرې پدې کې څه کراهت وي نو رسول الله به پخپله داسې کړې وو. او بيا يې ورباندې خپلې لاړې مبارکې پورې کړې.

وفات: دمعاويه رضي الله عنه دامارت په اخرې مراحلو کې په مدينه کې وفات شو (الاستيعاب: ۱/۲۹)

مرويات: دده دمروياتو شمير ۱۲۸ دی ۱۵ پکې متفق عليه دي او دوه صرف په بخاري کې دي او دوه صرف په مسلم کې دي.

(۱) کما في رواية مصنف ابن ابي شيبه

(۲) دبعضو په قول خوي د رقيه رضي الله عنها وو يعني عبد الله بن عثمان اوبعضي وايي دفاطمې رضي الله عنها خوي وو يعني محسن بن علي ليکن اولنلي قول زيات راجح دي کوم چې په شرح کې تير شو.

****

۳۷۷۰ـ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْعَمِّيُّ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي نُعْمٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنْ دَمِ الْبَعُوضِ يُصِيبُ الثَّوْبَ. فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: انْظُرُوا إِلَى هَذَا يَسْأَلُ عَنْ دَمِ الْبَعُوضِ وَقَدْ قَتَلُوا ابْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَتَايَ مِنَ الدُّنْيَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا صَحِيحٌ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَمَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. [1]

ترجمه : دعبدالرحمن بن ابي نعم نه روايت دي فرمائي چې په عراقيانو کې يو کس دابن عمر رضي الله عنهما نه دماشي دويني باره کې تپوس اوکړو چې دچا په جامه باندې پريوځي چې

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ۱۸ (۵۹۹۴) (تحفة الأشراف: ۷۳۰۰)

ددي حكم څه دي؟ ابن عمر رضي الله عنهما اوونيل ده ته اوګورئ چې دماشي دويني باره کې تپوس کوي او حال دادي چې دوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم نوسي قتل کړي وو او مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي حسن او حسين دواړه په ددنيا کې زما کشمالي دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي داحديث شعبه او مهدي بن ميمون هم دمحمد بن ابي يعقوب نه نقل کړي دي، او دابوهريره په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٣٧٧١_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، حَدَّثَنَا رَزِينٌ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي سَلْمَى، قَالَتْ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ وَهِيَ تَبْكِي، فَقُلْتُ: مَا يُبْكِيكِ؟ قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي فِي الْمَنَامِ، وَعَلَى رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ التُّرَابُ، فَقُلْتُ: مَا لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "شَهِدْتُ قَتْلَ الْحُسَيْنِ آنِفًا". قَالَ ابو عيسي: هَذَا غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: دسلمي بيان دي فرمائي چې ام سلمي رضي الله عنها ته ورغلم چې ژړل يې ما ورنه تپوس اوکړو ولي ژاړې؟ هغې اوونيل ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي دي (يعني په خوب کې) چې په سر اوګيره يې خاوره پرته وه ما عرض اوکړو څه درباندې شوي دي اې دالله رسوله؟ رسول الله اوفرمائيل ما دحسين قتل همدا اوس اوليدلو.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي.

****

٣٧٧٢_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنِي يُوسُفُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ أَهْلِ بَيْتِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: "الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ". وَكَانَ يَقُولُ لِفَاطِمَةَ: "ادْعِي لِيَ ابْنَيَّ". فَيَشُمُّهُمَا وَيَضُمُّهُمَا إِلَيْهِ. قَالَ ابو عيسي: هَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ. [2]

ترجمه: ديوسف بن ابراهيم بيان دي فرمائي چې دانس بن مالك رضي الله عنه نه مې واوريدل وئيل يې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړې شو چې په اهل بيتو کې

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٢٤٩)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٠٦)

څوك تاته زيات محبوب دي دي؟ رسول الله اوفرمائيل حسن او حسين او رسول الله به فاطمه رضي الله عنها ته فرمائيل زما دواړه ځامن راوله او بيا به يې هغوئ ښكل كړل او په سينه پورې به يې جوخت كړل
امام ترمذي وائي: دانس روايت په دي سند غريب دي.

****

٣٧٧٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا الأَشْعَثُ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: صَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ: " إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ يُصْلِحُ اللَّهُ عَلَى يَدَيْهِ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: يَعْنِي الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ. ([1])

ترجمه : دابوبكره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر كيناستو او ويې فرمائيل زما دا بچي به سردار وي او الله تعالي به دده په ذريعه په دوه لويو ډلو كې صلح راولي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او د هذا ابني نه مراد حسن بن علي رضي الله عنهما دي.

****

٣٧٧٤ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُنَا إِذْ جَاءَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ عَلَيْهِمَا قَمِيصَانِ أَحْمَرَانِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ، فَنَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمِنْبَرِ فَحَمَلَهُمَا، وَوَضَعَهُمَا بَيْنَ يَدَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: " صَدَقَ اللَّهُ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ سورة التغابن آية ١٥ فَنَظَرْتُ إِلَى هَذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ يَمْشِيَانِ وَيَعْثُرَانِ، فَلَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قَطَعْتُ حَدِيثِي وَرَفَعْتُهُمَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ.

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الصلح ٩ (٢٧٠٤) ، والمناقب ٢٥ (٣٦٢٩) ، وفضائل الصحابة ٢٢ (٣٧٤٦) ، والفتن ٢٠ (٧١٠٩) . سنن ابي داود/ السنة ١٣ (٤٦٦٢) . سنن النسائي/الجمعة ٢٧ (١٤١١) (تحفة الأشراف : ١١٦٥٨) . و مسند احمد (٥/٣٧، ٤٤، ٤٩، ٥١)

([1])

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل مونږ ته خطبه راکوله چې ناڅاپه حسن او حسين رضي الله عنهما سره قميصونه اغوستلي وو چې په لاره کې غورځيدل او پاڅيدل او راروان وو، رسول الله (دخطبي په دوران کې) دمنبر نه کوز شو او دوئ دواړه يې راپورته کړل او خپلي مخي ته يې کينول او بيا يې اوفرمائيل الله تعالي رښتيا فرمائيلي دي "انما اموالکم واولادکم فتنة" يعني يقينا ستاسو مالونه او اولاد ستاسو دپاره ازمائش دي ماچې دوئ په غورځيدو او راپاڅيدو کې راتلونکي اوليدل نو صبر رانه اونه شو تردي چې خپلي خبري مي بندي کړي او دوئ مي راپورته کړل.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف دحسين بن واقد په سند پيژنو.

****

٣٧٧٥ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " حُسَيْنٌ مِنِّي وَأَنَا مِنْ حُسَيْنٍ، أَحَبَّ اللَّهُ مَنْ أَحَبَّ حُسَيْنًا، حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الأَسْبَاطِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ، وَإِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ. ([2])

ترجمه : ديعلي بن مره بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حسين زما نه دي او زه دحسين نه يم او الله تعالي دهغه چا سره محبت کوي څوك چې دحسين سره محبت ساتي، حسين په قبائلو کې ديوي قبيلي نوم دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي مونږ يې صرف دعبدالله بن عثمان بن خثيم په روايت پيژنو، او دعبدالله بن خثيم نه دا روايت متعددو راويانو نقل کړي دي.

****

٣٧٧٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " لَمْ يَكُنْ مِنْهُمْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِرَسُولِ اللَّهِ مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ ". قَالَ ابو عيسي: هَذَا

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٢٢٣ (١١٠٩) . سنن النسائي/الجمعة ٣٠ (١٤١٤) . والعيدين ٢٧ (١٥٨٦) . سنن ابن ماجه/اللباس ٢٠ (٣٦٠٠) (تحفة الأشراف : ١٩٥٨) . ومسند احمد (٥/٣٥٤)

[2] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٤٤) (تحفة الأشراف : ١١٨٥٠) . ومسند احمد (٤/١٧٢)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

تخريج : اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٢ (٣٧٥٢) (تحفة الأشراف : ١٥٣٩)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي په خلقو كي دحسن بن علي رضي الله عنه نه زيات مشابه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره بل څوك نه وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٧٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ، قَالَ: " رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ ". هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ ابو عيسى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ الزُّبَيْرِ. (2)

ترجمه : دابو جحيفه بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چې حسن بن علي رضي الله عنه ورسره زيات مشابهت لرلو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوبكر صديق، ابن عباس، او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

د ابوجحيفه وهب بن عبدالله رضي الله عنه مناقب

نوم وهب كنيه ابوجحيفه اودپلارنوم يي عبدالله عامري دى دكوفي اوسيدونكى دى اودكشرانو صحابه كرامو دجملي نه دى درسول الله صلي الله عليه وسلم په مباركه زمانه كي بالغ شوى نه وو او ددي باوجود يي درسول پاك صلي الله عليه وسلم نه نقل درروايت كړى دى دهجرت په ٧٤كال په كوفه كي وفات شوى دى.

****

٣٧٧٨ـ حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ أَسْلَمَ أَبُو بَكْرٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، قَالَتْ: حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ زِيَادٍ فَجِيءَ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ، فَجَعَلَ يَقُولُ بِقَضِيبٍ لَهُ فِي أَنْفِهِ وَيَقُولُ: " مَا رَأَيْتُ مِثْلَ هَذَا حُسْنًا. قَالَ: قُلْتُ: أَمَا إِنَّهُ كَانَ مِنْ أَشْبَهِهِمْ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٣٢) (تحفة الأشراف : ١١٨٥٠) . و مسند احمد (٤/١٤٣)

[2] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٣٢) (تحفة الأشراف : ١١٨٥٠) . و مسند احمد (٤/١٤٣)

غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرماني چې زه دعبيدالله بن زياد سره موجود وم چې په دغه وخت كي دحسين رضي الله عنه سر راوړلي شو نو هغه دده په پوزه كي خپله چوكه اووهله او ونيل يي ما دده پشان ښائسته بل څوك نه دي ليدلي څكه چې دده ذكر دحسن نه شوي دي (داجمله يي استهزاء وئيلي وه) انس رضي الله عنه ورته په جواب كي اوونيل واوره په اهل بيتو كي دا كس درسول الله صلي الله عليه وسلم سره زيات مشابه وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٣٧٧٩_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هَانِئِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "الْحَسَنُ أَشْبَهُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ الصَّدْرِ إِلَى الرَّأْسِ، وَالْحُسَيْنُ أَشْبَهُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ". قَالَ ابو عِيسَى هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرماني چې حسن رضي الله عنه دسيني نه دسر پوري حصه كي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره زيات مشابهت لرلو او حسين رضي الله عنه په هغه حصه كي كومه چې ددينه ښكته ده دهرچانه زيات مشابهت والا وو درسول الله صلي الله عليه وسلم سره.

امام ترمذي واي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٣٧٨٠_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، قَالَ: "لَمَّا جِيءَ بِرَأْسِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زِيَادٍ، وَأَصْحَابِهِ نُضِدَتْ فِي الْمَسْجِدِ فِي الرَّحَبَةِ، فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِمْ وَهُمْ يَقُولُونَ: قَدْ جَاءَتْ قَدْ جَاءَتْ، فَإِذَا حَيَّةٌ قَدْ جَاءَتْ تَخَلَّلُ الرُّءُوسَ حَتَّى دَخَلَتْ فِي مَنْخَرَيْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زِيَادٍ، فَمَكَثَتْ هُنَيْهَةً، ثُمَّ خَرَجَتْ، فَذَهَبَتْ حَتَّى تَغَيَّبَتْ، ثُمَّ قَالُوا: قَدْ جَاءَتْ

1_ تفرد به المؤلف

2_ تفرد به المؤلف

قَدْ جَاءَتْ. فَفَعَلْتُ ذَلِكَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا. قال ابو عيسى هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعماره بن عمير بيان دي فرمائي چې كله دعبيدالله بن زياد او دهغه دملګرو سرونه راوړلي شول او دكوفي په يو مسجد كې په ترتيب سره كېښودلي شول او زه هلته اورسيدم نو خلقو داسي وئيل راغلو راغلو، څه ګورم چې يو مار ددوئ دسرونو دطرف نه راووتلو او دعبيدالله بن زياد په پوزه كې داخل شو يو شيبه په دي كي موجود وو او بيا راووتلو تردي پوري چې غائب شو بيا خلقو اووئيل راغلو راغلو، او دا كار دوه يا دري خله اوشو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٨١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَإِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالاَ: أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ مَيْسَرَةَ بْنِ حَبِيبٍ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: سَأَلَتْنِي أُمِّي مَتَى عَهْدُكَ؟ تَعْنِي بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: مَا لِي بِهِ عَهْدٌ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا. فَنَالَتْ مِنِّي، فَقُلْتُ لَهَا: دَعِينِي آتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُصَلِّيَ مَعَهُ الْمَغْرِبَ وَأَسْأَلُهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي وَلَكِ. فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْمَغْرِبَ فَصَلَّى حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ، ثُمَّ انْفَتَلَ فَتَبِعْتُهُ، فَسَمِعَ صَوْتِي، فَقَالَ: "مَنْ هَذَا حُذَيْفَةُ". قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "مَا حَاجَتُكَ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ وَلأُمِّكَ؟ قَالَ: إِنَّ هَذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الأَرْضَ قَطُّ قَبْلَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ أَنْ يُسَلِّمَ عَلَيَّ، وَيُبَشِّرَنِي بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَأَنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ". قَالَ ابو عيسى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ. (2)

ترجمه: دحذيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما نه زما مور تپوس اوكړو وئيل يي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته څه وخت ورغلي وي؟ ما اووئيل دومره دومره ورځي كيږي چې ورتلل مي نه دي شوي ددي خبري په كولو زما مور زما نه خفه شوه ما ورته اووئيل اوس مي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ورتلو ته پريږده زه به ورسره دماښام مونځ اوكړم او دځپل ځان باره كي او ستا باره كي به ورته دمغفرت دعا غوښتلو درخواست اوكړم چنانچې زه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او دماښام مونځ مي ورسره اوكړو بيا رسول الله نوافل كول تردي چې دماخوستن مونځ يي اوكړو بيا رسول الله دمونځ نه راستون شو نو زه هم وريسي

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩١٣٠)
2 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٣٣٢٣)

شاته شاته روان شوم رسول الله چې زما اواز واوريدو نو ويي فرمائيل څوك يي؟ حذيفه خو نه يي؟ ما عرض اوكړو هو حذيفه يم راته يي اوفرمائيل څه كار دلته راوستلي يي الله تعالي دي تاته او ستا مور ته مغفرت اوكړي او بيا رسول الله اوفرمائيل دا يوه فرشته وه كومه چې ددي شپي نه مخكي زمكي ته كله نه ده راكوزه شوي دي فرشتي دخپل رب نه ماته دسلام كولو او دزيري راكولو اجازت اوغوښتلو چې فاطمه دجنت دښځو سرداره ده او حسن او حسين رضي الله عنهما دجنت دځوانانو سرداران دي.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، مونږ يي صرف داسرائيل په روايت پيژنو.

د حذيفه بن اليمان رضي الله عنه مناقب

نوم حذيفه كنيه ابو عبدالله صاحب السر لقب دقبيله بن غطفان سره يي تعلق وو دده پلار حذيفه په جاهليت كي څوك قتل كړى وو نو په دي وجه ددشمنئ نه دبچ كيدو دپاره په مدينه كي اوسيدو حذيفه دمديني نه مكي ته لاړو داسلام قبلولو دپاره، دغزوه بدر نه پس په تمامو عزواتو كي شريك پاتي شوى دى او عهد نبوي يي په مدينه كي تير كړى دى او بيا ددينه پس عراق، كوفه، نصيبين او مدائن ته منتقل شو او په نصيبين كي يي شاگردي هم وكړله (اسد الغابه).

عمر فاروق رضي الله عنه دعراق فتح كيدو نه پس په دجله كي حذيفه رضي الله عنه امير مقرر كړو (كتاب الخراج لامام ابي يوسف) او بيا دمدائن والي مقرر كړى شو.

حذيفه رضي الله عنه دفقه او حديث لوي عالم وو او دمنافقانو په پيژندو كي يي خصوصي مهارت وو په همدي وجه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم رازدار وئيلى شي دى پخپله وائي ددي وخت نه دقيامته پوري راتلونكي ټولي فتني پيژنم، ليكن ددينه دي څوك دا معلومه نكړي چې زما نه علاوه بل چاته نه دي معلومي وجه داده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي باره كي مونږ ټولو ته په يو مجلس كي خبر راكړى وو خو اوس په هغوئ كي زما نه علاوه بل هيڅوك ژوندى نشته.

دزهد او تقوي يي دا حالت وو چې دامارت باوجود يي په معاشرت كي څه تغير نه وو راغلى دتواضع په وجه به يي دسورلئ كار دخر نه اخستلو او په ډير لږ قوت لايموت رزق به يي گذاره كوله او ددينه زيات به يي دخان سره نه ساتلو عمر رضي الله عنه ورته څه مال هم اوليږلو ليكن هغه يي په خلقو تقسيم كړو.

وفات: دهجرت په ۳۲كال عثمان رضي الله عنه دوفات نه څلويښت ورځي پس وفات شو چې په اخري عمر كي په ډيره ژړا كي مصروف وو خلقو ورنه دوجي تپوس اوكړو نو په جواب كي يي اووئيل ددنيا دپريښودو غم راسره نشته مرگ خو يو دوست دى ليكن په دي خفه يم چې زما

انجام او حشر به څه وي كله چې يې اخري ساه واخستله نو ويې فرمائيل ستا ملاقات دې زما سره ماته مبارك شي ځكه چې زما درسره ا‌ﺳﺘﻬﺎﻧي زياته مينه ده (مسند احمد).
دحذيفه رضي الله عنه نه دسلو نه زيات روايات منقول دي چې دولس متفق عليه دي او اته صرف په بخاري كې دي او اولس په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).

****

٣٧٨٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ الْبَرَاءِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْصَرَ حَسَنًا وَحُسَيْنًا، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم يو ځل حسن او حسين رضي الله عنهما اوليدل نو ويې فرمائيل "اللهم اني احبهما فاحبهما" يعني اې الله زه دحسن او حسين سره محبت كوم او ته هم ددوئ سره محبت اوكړې.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٨٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعًا الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ، وَهُوَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الْفُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ. (2)

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې پخپله اوږه يې حسن بن علي رضي الله عنه كينولي وو او فرمائيل يې "اللهم اني احبه فاحبه" يعني اې الله زه دده سره محبت كوم او ته هم ورسره محبت اوكړې.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او دا روايت دفضيل بن مرزوق دمذكوره روايت نه زيات صحيح دي.

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٢ (٣٧٤٩). صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٨ (٢٤٢٢) (تحفة الأشراف: ١٧٩٣)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٢ (٣٧٤٩). صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٨ (٢٤٢٢)

دبراء بن عازب رضي الله عنه دزندګئ مناقب

نوم براء کنيه ابو عماره او دبنو حارثه سره يې تعلق وو دپلار نوم يې عازب دی دده ماما ابوبرده بن نبار چې بدري صحابي دی په عقبه کې اسلام قبول کړی دی او دهغه په برکت سره دهغه په خاندان کې اسلام خور شو او چې مسلمان شو نو په مدينه کې يې دمصعب بن عمير او ابن ام مکتوم نه قران يادول شروع کړل په بدر کې براء حاضر شوی وو ليکن دماشوم توب په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس کړی وو (بخاري).

عرض دا چې په احد ، خندق، خديبيه، خيبر، او حنين کې يې شرکت کړی دی او دطائف په محاصره حجة الوداع کې يې هم درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګرتيا کړې ده تردې چې په پنخلس عزواتو کې شريك شوی دی (مسند احمد).

تواضع او عاجزي او انکساري يې امتيازي صفات دي خپل ځان به يې ناچيز ګڼړلو په کوفه کې يې يو کور جوړ کړی وو او په هغې کې اوسيدو په رواياتو کې به يې ډير احتياط کولو چې دمروياتو شمير يې ۳۰۵ دی ۳۲ متفق عليه دي په احاديثو نقل کولو کې به يې داحتياط په مناسبت ونيل "ماکل الحديث سمعناه من رسول الله صلي الله عليه وسلم کان يحدثنا اصحابنا عنه کانت شغلنا عنه رعية الابل ، مسند احمد".

يعني ټومره احاديث چې زه بيانوم په هغې کې دا ضروري نه ده چې ټول مې دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي مونږ خو به اوښان څرول نو په دې وجه به هر وخت درسول الله په خدمت کې حاضريدی نشو.

****

۳۷۸٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا زَمْعَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ وَهْرَامٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَامِلَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ عَلَى عَاتِقِهِ، فَقَالَ رَجُلٌ: نِعْمَ الْمَرْكَبُ رَكِبْتَ يَا غُلَامُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَنِعْمَ الرَّاكِبُ هُوَ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَزَمْعَةُ بْنُ صَالِحٍ قَدْ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم حسين بن علي رضي الله عنهما پخپله اوږه باندې کينولي وو دې وخت کې يو کس اوونيل اې ماشومه ټومره ښکلي سورلي ده په کومه چې ته سور يې نبي کريم صلي الله عليه

(1) ـ تفرد به المؤلف

وسلم اوفرمائيل او سورلي كونكي هم څومره بنه دي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو بعضي محدثينو دحفظ په اعتبار سره دزمعه بن صالح تضعيف کړي دي.

****

٣٧٨٥ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ كَثِيرٍ النَّوَّاءِ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ، عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ نَجَبَةَ، قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ كُلَّ نَبِيٍّ أُعْطِيَ سَبْعَةَ نُجَبَاءَ، أَوْ نُقَبَاءَ، وَأُعْطِيتُ أَنَا أَرْبَعَةَ عَشَرَ". قُلْنَا: مَنْ هُمْ؟ قَالَ: "أَنَا، وَابْنَايَ، وَجَعْفَرٌ، وَحَمْزَةُ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَمُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ، وَبِلَالٌ، وَسَلْمَانُ، وَالْمِقْدَادُ، وَحُذَيْفَةُ، وَعَمَّارٌ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا. (1)

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر نبي دپاره الله تعالي اوه نقيبان مقرر کړي دي او زما دپاره څوارلس نقيبان دي ، مونږ عرض اوکړو څوك څوك دي؟ رسول الله اوفرمائيل زه او زما دوه نوسي، جعفر، حمزه، ابوبكر، عمر، مصعب بن عمير، بلال، سلمان، مقدار، حذيفه، عمار، او عبدالله بن مسعود (رضي الله عنهم).
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او دا حديث دعلي رضي الله عنه نه موقوفا هم مروي دي.

****

٣٢ـ باب مَنَاقِبِ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

داهل بيتو دمناقبو بيان

الله تعالي د اهل بيتو په شان كي فرمائيلي دي: إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (الاحزاب: ٣٣)
يقينا غواړی الله تعالی چې لری کړی ستاسو نه پليتی ای کورنۍ د نبی صلی الله عليه وسلم او پاك كړی تاسو په پوره پاك والی سره.
رِجْسْ شامل دی غلطی عقيدی. غلط عمل. بداخلاقی. فسق وفجور او د منافقت طريقی ته.

1 ـ تفرد به المؤلف

خکه چې په سورة توبه ایت ۹ کې یې منافقانو ته اِنَّهُمۡ رِجۡسٌ ونیلی دی. او د دنیا او آخرت عذابونو ته هم رِجۡس ونیلی شی. اَهۡلَ الۡبَیۡتِ د لغت په لحاظ سره د دی معنی ده لائق د شپې تیرولو. نو اصل مصداق د دی ښخه (زوجه) ده. لکه سورة هود ایت ۷۳ کې د ابراهیم علیه السلام زوجه مراد ده. او دلته هم اول صرف بیبیانو د نبی صلی الله علیه وسلم ته خطابات شوي دي نو معلومه شوه چې د اهل بیت نه اول بیبیانی مراد دی بیا روستو اولاد وغیره ته شامل دی. او دا صریح ردّ دی په شیعه گانو باندی چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانی د اهل بیت نه، نه گنړی. وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرًا. یعنی په دی احکامو باندی عمل کول دوه فائدی لری.
اول د رِجس او رذائیلو نه بچ کیدل او دویم د باطنی طهارت او فضائیلو حاصلیدل. او دا د نبی صلی الله علیه وسلم د اهل بیتو لویٔ فضیلت دی د عمل کولو په شرط سره.
وَأَزۡوَاجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡ [اوبیبیاني د رسول الله میندي د امتیانو دي (احزاب: ۶)
یعني ستاسو دحقیقي میندو پشان معظمي اومحترمي دي اودمیندو پشان حق لري اوهمیشه یي دهرمومن سره نکاح حرامه ده ، ددي دا مطلب نه دي لکه څنګه چې میندو ته کتل اوددوئ سره په خلوت کي کیناستل جائز دي چې داسي دپیغمبر بیبیانوته کتل اویه تنهایئ کي کیناستل هم جائز وګرځي، (یعني داسي جائز نه دي) امهات المؤمنین ته کتل اوددوئ سره په خلوت کي کیناستل داسي ناجائز دي لکه څنګه چې داجنبي ښځو سره ناجائزدي، الله تعالي فرمائیلي دي: "وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعًا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖ" (الاحزاب).
دامهات المؤمنین لونړو ته دامت خویندي نه دي ونیلي شوي اونه ددوئ خویندي اوروڼړ دامت ترورياني او ماماګان دي ، دامام شافعیي قول دي چې زبیر رضي الله عنه داسماء رضي الله عنها سره نکاح کړي وه او اسماء دعائشه رضي الله عنها خور وه لیکن دا هیڅا نه دي ونیلي چې اسماء دمومنانو ترور وه همدارنګي رسول الله صلي الله علیه وسلم دخپلو لونړو نکاح ګاني د عثمان بن عفان او علي رضي الله عنهما سره کړي وي نو که درسول الله لونړه دامت خویندي وي نو ددوئ سره به یي نکاح کول جائز نه وو.
شعبي دمسروق نه روایت بیان کړي دي چې یوي ښځي عائشه رضي الله عنها ته ونیل اي موري هغي ورته اوفرمائیل زه ستاسو مور نه یم ستاسو دسړو مور یم ، بیهقي هم په سنن کي دا روایت ددي مضمون نقل کړي دي.
الله تعالي چې درسول الله بیبیانو ته دمومنانو میندي ونیلي دي ددي مطلب دادي چې همیشه یي ورسره نکاح حرامه ده ، دأبیٔ بن کعب رضي الله عنه په قراءت کي راغلي دي: "وَأَزۡوَاجُهُۥٓ

أُمَّهَاتُهُمْ وهو اب لهم" يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم دمومنانو ديني پلار وو، او هريو پيغمبر د خپل امت ديني پلار وي او پيغمبر دهر امت ابدي جرړه وي او په همدي وجه مومنان ټول په خپل مينځ کي رونړه ګرځولي شوي دي.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم ترونه او تروريانی

د رسول الله صلي الله عليه وسلم ترونه يولس وو چي نومونه دادي:

(۱) حارث	(۲) قثم	(۳) زبير
(۴) حمزه	(۵) عباس	(۶) ابو طالب
(۷) عبد الكعبه	(۸) حجل	(۹) غيداق
(۱۰) ابو لهب	(۱۱) مغيره.	

او تروريانی يي شپږ وي چي نومونه يي دادي:

(۱) صفيه	(۲) عاتكه	(۳) اروای
(۴) ام حكيم	(۵) بره	(۶) اميمه.

په دوی ټولو کي صرف دري کسان حمزه، عباس او صفيه په اسلام مشرف شوي وو.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم مخصوص اصحاب

کوم صحابه کرام چي د زيات عنايت سره مخصوص وو هغه خلفاء راشدين ، او حمزه او جعفر، ابوذر، مقداد، سلمان، حذيفه، عبد الله بن مسعود، عمار، بلال، رضي الله عنهم اجمعين وو.

اسماء د عشره مبشره

ف: رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو مجلس کي د لسو صحابه کرامو متعلق دا زيري ورکړی وو چي دوی جنتيان دي ، ددوی نه علاوه د بعضي نورو صحابه کرامو دپاره هم دا زيري مذکور دی مګر هغوی په دي مجلس کي شامل نه دي نو ځکه هغوی په دي روايت کي ندي شميرلی شوي.

څلور خلفاء راشدين او سعد بن ابي وقاص او زبير بن العوام او عبد الرحمن بن عوف او طلحه بن عبيد الله او ابو عبيده بن الجراح او سعيد بن زيد دي. (مختصر سيرت الرسول از شاه ولي الله محدث دهلوي)

٣٧٨٦ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحَسَنِ هُوَ الأَنْمَاطِيُّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّتِهِ يَوْمَ عَرَفَةَ وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنْ

أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا، كِتَابَ اللَّهِ وَعِتْرَتِي أَهْلَ بَيْتِي ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، قَالَ: وَهَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الوَجْهِ، قَالَ: وَزَيْدُ بْنُ الحَسَنِ قَدْ رَوَى عَنْهُ سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ العِلْمِ. (١)

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په حجة الوداع کې دعرفې په ورځ اوليدلو چې پخپله قصوا اوښه سور وو او مونږ ته يي خطبه راکوله ما ورنه واوريدل چې فرمائيل يي اي خلقو زه په تاسو کې دداسې څيزونو دپريخودلو په حال کې ستاسو نه تلونکي يم که تاسو په دي باندي منګولي اولګوئ نو هيڅ کله به ګمراه نشئ، يو دالله کتاب دي او دويم زما عترت يعني اهل بيت.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي دزيد بن حسن نه سعيد بن سليمان او ډيرو اهل علمو نقل دروايت کړي دي، په دي باب کې دابوذر، ابوسعيد خدري، زيد بن ارقم، او حذيفه بن اسيد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح **د رسول الله صلي الله عليه وسلم سورلئ او څاروي**

د رسول الله صلي الله عليه وسلم لس آسونه وو پدي عدد کې هم اختلاف دی او هغه دادي:

(١) سکب: دا هغه سورلئ ده چې په غزوه احد کېورباندي سور وو د دي رنګ کميت وو ليکن تندي او دري خپي يي سپيني وي او يوه ښي خپه يي د جسم هم رنګه وه څورب والي يي د جسم سره مناسب وو رسول الله صلي الله عليه وسلم زغلولی وو او مقابله يي ورباندي ګټلي وو، او خوشحاله شو.

(٢) مر: دا هغه څاروي دی د کوم دپاره چې خزيمه بن ثابت ګواهي ورکړي وه (٢).

(٣) لزاز: دا څاروی دمقوقس دهديې حصه وه.

(۴) لحيف: دا ربيعه په هديه کې پيش کړی وو.

(۵) ظرب: دا فروه جذامي په هديه کې پيش کړی وو.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٦١٥) (تراجع الألباني ٦٠١)

[2]. واقعه داسې وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم د سوار بن قيس محاربي نه يو اوښ واخستلو نو هغه انکار وکړو نو خزيمه بن ثابت رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم دطرفه ګواهي ورکړله رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه تپوس وکړو چې تا څنګه ګواهي ورکړله ته خو د خريدارئ په وخت کې موجود نه وي خزيمه ووئيل چې د الله دطرفه څه راوړي دي ما دهغې تصديق کړی دی او ته دربښتيا و نه علاوه نور څه نه وايي نو ما ستا دا خبره هم ربښتيا وګڼله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د خزيمه شهادت په هره معامله کې کافي دی.

(٦) ورد: دا تميم داري رضي الله عنه په هديه کي پيش کړی وو.
(٧) ضريس:
(٨) ملاوح:
(٩) سبحه: داد يمن دتاجرانو نه اخستلی شوی وو او دا يي دري خله زغلولی دی او لاس مبارك يي دده په مخ راخکلي وو او بيا يي ما الت الا بحر اوفرمائيل.(د لسم نوم مذکور نه دی)
بحر: دا قدم باز او تيز ترين اس ته ونيلی شي.
او دري سورلئ ورسره د دلدل په نوم قچري وي کومي چي مقوقس بادشاه په هديه کي پيش کړی وي، اودا اولنئ قچري دي په اسلام کي ورباندي سورلي شوي ده [1]، ددويمي قچري نوم فضه وو دا ابوبکر الصديق رضي الله عنه په هديه کي پيش کړی وه. دريمه د ايلياء باد شاه په هديه کي پيش کړی وه.
اود سرور کائنات سره د اوږدو غوږونو والا يو خاروی هم د يعفور په نوم موجود وو اود رسول الله صلي الله عليه وسلم د غوا ميښو وجود ثابت نه دی.
دارنګي په غابه(مديني ته نزدي د يو مقام نوم دی) کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ملکيت کي شل لنګي اوښي موجود وي او يوه لنګه اوښه سغد بن عباده رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په هديه کي پيش کړي وه کومه چي د بني عقيل د خاروو نه وه.
درسول الله صلي الله عليه وسلم سره د قصواء په نوم يوه اوښه هم وه او په همدي باندي يي هجرت کړی وو، کله چي به وحي نازليدله نو د قصوي نه علاوه بلي کومي سورلئ د رسول الله صلي الله عليه وسلم وزن نشو برداشت کولي او قصوي اوښه په جدعا او عضباء نومونو هم ياده شوي ده.
د يو وخت واقعه ده چي قصوي د يو اعرابي د اوښ سره منډه اووهله اود اعرابي اوښ مسابقه وګټله نو دا کار مسلمانانو برداشت نکړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي الله د حکمت په مقتضاء دا لازم کړي دي چي په دنيا کي کوم څيز غالب کيږي دا به يو وخت کي ضرور مغلوب کيږي.
اود رسول الله صلي الله عليه وسلم په ملکيت کي سل چيلئ هم موجود وي. (مختصر سيرت الرسول از شاه ولي الله محدث دهلوي)

د رسول الله د حجونو او عمرو بيان

د حجة الوداع دپاره د پير (دوشنبي) په ورځ روانګي وشوه ويخته يي ګومنز کړل او تيل يي

[1] څکه چي قچر ددي نه مخکي په عربو کي موجود نه وو دا اولني قچر دي د عجمو نه عربو ته راغلو.

ولګول او په جسم مبارك يي خوشبو ولګوله او په ذو الحليفه مقام[1] كي يي قيام وكړو او دلته يي شپه تيره كړه او بيا يي اوفرمائيل چي زما دپروردګار دطرفه پيغام راغلى دى چي په دي مبارك مقام كي مونځ ادا كړه ، اود "عمرة في حجة" معني داده چي د حج او عمري دواړو نيت وكړه او ديته د علم فقه په اصطلاح كي قِران وئيلى شي.

پس رسول الله صلي الله عليه وسلم ددواړو دپاره احرام وتړلو اود اتوار په ورځ د كدا مقام دغره د طرفه مكي ته داخل شو او طواف قدوم يي وكړو[2].

اوپه دي طواف كي رسول الله صلي الله عليه وسلم دري پيري په تيزه منډه او څلور پيري نارمل رفتار اختيار كړى وو او بيا ددي نه پس صفا غر طرف ته بهر روان شو او په سور سور حالت كي يي په دي ميدان كي منډه اووهله[3] او چي كومو كسانو د ځان سره قرباني نه وه راوستلي هغوئ ته يي حكم وكړو چي د حج نيت فسخ كړي او عمره تمامه كړي او بيايي د حجون غر نه نزول شروع كړو او په اتم ذي الحجه منيٰ ته لاړو ، او هلته يي د ماسپخين او مازيګر او ماښام او ماخوستن مونځونه ادا كړل او دسحر مونځ ادا كولو نه پس د نمر راختو وخت كي عرفات ته روان شو.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم درسيدونه مخكي په نمره مقام خيمه ودرولى شوه، او په دي كي رسول الله صلي الله عليه وسلم قيام وكړو، اود ماسپخين مونځ نه پس يي خطبه وركړله، اود ماسپخين او مازيګر مونځونه يي په يو اذان او دوه اقامتونو سره په جمع ادا كړل.

بيا ددي نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم موقف (جبل الرحمة) چي د عرفات په مينځ كي واقع دى طرف ته روان شو ، او هلته دنمر پريوتو پوري په دعا او لااله الاالله وئيلو كي مشغول وو. اود نمر پريوتو نه پس مزدلفي ته روان شو. او شپه يي هلته تيره كړه، اود سحر مونځ نه پس مشعر الحرام طرف ته منتقل شو، اود رڼا خوريدو نه پس د نمر ختو نه پس مني ته روان شو. اوجمره عقبه يي په اوه كاڼو وويشتله او دري واړه جمرات يي په ايام تشريق كي پيدل په كاڼو ويشتل او ابتداء به يي دهغه جمري نه كوله كومه چي مسجد خيف[4] ته متصل وه، او بيا به يي د جمره وسطي او جمره عقبه(جمره عقبه هغه جمره ده كومه چي مكي طرف ته واقع ده) او جمره اولي او جمره ثانيه سره اوږده دعا كوله بيا ددي نه پس حرم ته داخل شو او اوه

---

1. داد مديني نه په دري فرسخه كي د يو واقع مقام نوم دى.

2. طواف قدوم هغه طواف دى كوم چي حاجيان كعبي ته دداخليدو وخت كي كوي او دا طواف واجب دى.

3. دا مقام د صفا او مروه په مينځ كي واقع دى چرته چي حاجيان د سعي اوه چكرونه لګوي.

4. خيف نشيبي زمكي ته ونيلي شي ا و دي سره متصل جمره اولي وي.

پيري يې طواف وكړو(دا فرض طواف دی) اود طواف نه پس د حرم نه سقايه مقام ته روان شو، سقايه هغه مقام دی چرته چي حاجيانو ته زمزم د څكلو دپاره وركولی شي، او چرته چي د حاجيانو دپاره زمزم جمع كولی شي، او بيا يې زمزم طلب كړل او ونې څكلي، او بيا منیٰ ته واپس راغلو، اود تشريق په دريمه ورځ يې كوچ وكړو، اوپه محصب مقام [1]كي يې قيام وكړو، او عائشه رضي الله عنها ته يې حكم وكړو چي دتنعيم[2] نه احرام وتړي اود عمري تعميل وكړي.

او بيا يې قافلي ته دسفر كولو حكم وكړو، او طواف وداع [3] كولو په موقع مديني طرف ته روان شو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم څلور عمري [4] ادا كړي كومي چي په ذي قعد مياشت كي ادا شوي. (مختصر سيرت الرسول از شاه ولي الله محدث دهلوي)

****

٣٧٨٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الأَصْبَهَانِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ رَبِيبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (الأحزاب : ٣٣) فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ. فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ، وَحَسَنًا، وَحُسَيْنًا فَجَلَّلَهُمْ بِكِسَاءٍ، وَعَلِيٌّ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَجَلَّلَهُ بِكِسَاءٍ، ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي فَأَذْهِبْ عَنْهُمُ الرِّجْسَ وَطَهِّرْهُمْ تَطْهِيرًا ". قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: وَأَنَا مَعَهُمْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ ؟ قَالَ: " أَنْتِ عَلَى مَكَانِكِ وَأَنْتِ إِلَى خَيْرٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَأَبِي الْحَمْرَاءِ، وَأَنَسٍ، قَالَ ابو عيسى: وَهَذَا غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ. (٥)

---

1. دا مقام د مكي او منی مينځ كي واقع دی.
2. تنعيم په حدودو د حرم كي واقع دی بيت الله قريب تر د يو مقام نوم دی.
3. دي ته طواف صدر هم وايي او دا هغه طواف دی كوم چي حاجيان د واپسۍ وخت كوي او دا واجب دی.
4. عمره د حج پشان يو عبادت دی چي د احرام په حالت كي ادا كولی شي فرق دومره دی چي حج فرض دی او عمره فرض نه ده، اود حج دپاره وخت مقرر دی اوعمره هر وخت كي دي شي، په عمره كي صرف طواف او سعي وي او باقي اركان د حج نه وي.
5. _ انظر حديث رقم ٣٢٠٥

ترجمه : دعمر بن ابي سلمه بيان دي فرمائي چې ايت كريمه" إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا" دام سلمي رضي الله عنها په كور كي نازل شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم فاطمه ، حسن، او حسين رضي الله عنهم راوغوښتل او په دوئ يې يو څادر خور كړو او علي رضي الله عنه درسول الله شاته وو چنانچې په دي ټولو دڅادر خورولو نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي الله دا زما اهل بيت دي ددوئ نه ناپاكي لري كړې او دوئ په ښه شان سره پاك كړې، دي وخت كي ام سلمه رضي الله عنها عرض اوكړو اي دالله رسوله زه هم ددوئ نه يم رسول الله اوفرمائيل ته پخپل ځاي يې او په نيكئ باندي يې، او په دي باب كي دام سلمه، معقل بن يسار، ابوحمراء، او انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داحديث په دي سند غريب دي.

****

٣٧٨٨_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَالأَعْمَشُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ مَا إِنْ تَمَسَّكْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدِي، أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الآخَرِ. كِتَابُ اللَّهِ حَبْلٌ مَمْدُودٌ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الأَرْضِ، وَعِتْرَتِي أَهْلُ بَيْتِي، وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ، فَانْظُرُوا كَيْفَ تَخْلُفُونِي فِيهِمَا". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه په تاسو كي ديو داسي څيز پريخودونكي يم كه چري تاسو دا مضبوط اونيولو نو هركز به ګمراه نشئ او په دي څيزونو كي يو دبل نه لوي دي او هغه دالله كتاب دي ګويا كي دا يوه رسئ ده چي داسمان نه زمكي ته زوړنده كړې شوي ده او دويم څيز زما عترت دي يعني زما اهل بيت دي دا دواړه به يو بل نه هيڅ كله نه جدا كيږي تردي پوري چې دا دواړه څيزونه به ماته حوض كوثر كي راشي تاسو به اوګورئ چې ددي دواړو څيزونو باره كي تاسو به ما څنګه جانشيني كوئ.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٧٨٩_حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ الأَشْعَثِ، قَالَ: أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٥٩)

يُوسُفَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُلَيْمَانَ النَّوْفَلِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَحِبُّوا اللَّهَ لِمَا يَغْذُوكُمْ مِنْ نِعَمِهِ، وَأَحِبُّونِي بِحُبِّ اللَّهِ، وَأَحِبُّوا أَهْلَ بَيْتِي لِحُبِّي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.(1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي سره محبت اوکړئ ځکه چې هغه په تاسو خپل نعمتونه خوري او ماسره محبت اوکړئ او زما داهل بيت سره زما په وجه محبت اوکړئ.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

۳۳_باب مَنَاقِبِ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَأُبَيٍّ وَأَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ رضی الله عنهم

دمعاذ بن جهل اوزيد بن ثابت اوابو عبيده بن الجراح رضي الله عنهم مناقب

معاذ بن جبل رضی الله عنه مناقب

نوم : معاذ ، کنيت : ابوعبد الرحمٰن ، القاب : امام الفقهاء ، نزيل العلماء او عالم ربانی . د قبيله خزرج سره ئې تعلق وو ، د اتلسو کالو په عمر کي د مصعب بن عمير په لاس باندی مسلمان شو ، د رسول الله (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دوی سره ډير زيات محبت وو ، د رسول الله (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره په تمامو غزواتو کي شريک شو نبي کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چي کله دوی لره يمن طرف ته اوليږل نو اهلِ يمن والو ته ئې اوليکل " انی بعثت لکم خير اهلی " زه د خپلو خلقو نه بهترين کس تاسو ته درليږم .

عمر (رضي الله عنه) چي کومه مجلسِ شوریٰ جوړه کړی وه د هغی يو رکن معاذ (رضي الله عنه) هم وو - (طبقات ابن سعد)

نبي کريم (صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د معاذ (رضي الله عنه) په باره کي فرمائيلی وو " اعلمهم بالحلال والحرام معاذ بن جبل " زما په صحابه کرامو کي د ټولو نه زيات د حلالو او حرامو عالم معاذ بن جبل (رضي الله عنه) دی او عمر (رضي الله عنه) په يوه موقع باندی اوفرمائيل "

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣٩١)

لولا معاذ لهلک عمر " که معاذ نه وو نو عمر به هلاک شوی وو ، او په يو موقع باندی عمر(رضي الله عنه) اوفرمائيل "من اراد الفقه فليأت معاذًا " څوک چې فقه زده کوی نو معاذ ته دی ورشي .

وفات : په طاعون عمواس کي دده انتقال اوشو په دی وخت کي دده عمر ٣٦ کاله وو په ١٨ هجری کي په هغه ځاي باندی دفن کړی شو کوم ځاي ته چې قريب عيسیٰ عليه السلام اسمان ته خيژولی شوی وو .

مروايات : دده نه ١٥٧ روايات منقول دی ددی نه په دوو باندی بخاری او مسلم دواړه متفق دی .

دزيد بن ثابت رضي الله عنه مناقب

نوم زيد کنيه ابوسعيد ، ابوخارجه ، ابوعبدالرحمان لقب مقري ، فرضي، کاتب الوحي ، حبرالامر.

په خزرج قبيله کي دبنو نجار سره تعلق لري او دشپږو کالو عمر کي يي پلار وفات شوی و او ديولسو کالو په عمر کي دمصعب بن عمير په لاس مسلمان شوی وو کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مدينې ته راغلی نو دی داولسو سورتونو حافظ وو دده عمر په ديارلسو کالو کي روان وو چې دبدرغزوه راغله دده دا خواهش وو چې دی هم پکي شرکت اوکړي مګر دعمر دکموالي په وجه واپس کړی شو او په غزوه خندق کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په جهاد کي شامل وو.

په جنګ يمامه کي هم شريك شوی وو او په دي جنګ کي په يو غشي هم لګيدلی وو ليکن جسم ته يي څه نقصان نه وو رسيدلی ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دوحي دليکلو کار دډيرو صحابه کرامو نه اخستلی وو په دوئ کي زيد بن ثابت رضي الله عنه هم شامل وو.

زيد يو عقلمند او انتهائي زکي انسان وو دهجرت په پنځم کال رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته دخلقو خطونه راځي چې په عبراني ژبه کي دي په يهوديانو مي اعتبار نشته نو په دي وجه زيد صرف په پنځلسو ورځو کي عبراني او سرياني ژبي زده کړي (مسند احمد).

زيد دفقه امام وو ګويا کي زيد دخلفاء راشده او معاويه رضي الله عنه په زمانه کي مفتي اعظم وو (اعلام الموقعين).

دهجرت په ۴۵کال د ۵۵يا ۵۶کالو په عمر کي وفات شو دده دوفات کيدو په مناسبت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل نن دعلم يوه خزانه ختمه شوه دده دمرورياتو شمير ۹۲دی پنځه په دي کي متفق عليه دي. (اعلام الموقعين).

دابي بن كعب رضي الله عنه مناقب

نوم ابئ كنيه ابوالطفيل لقب سيد القري ، سيدالانصار ، سيدالمسلمين دمور نوم يې صهيله وو په عقبه ثانيه کې مسلمان شوی وو دبدر نه واخله دطائفه پورې په تمامو جنګونو کې شریك شوی وو ابوبکر رضي الله عنه دقران د تدوین او ترتیب دپاره یو څو صحابه کرام مقرر کړي وو چې یو په دوئ کې ابئ بن کعب هم وو عمر رضي الله عنه ورته صرف د دارالافتاء کار حواله کړی وو کله چې ده درخواست اوکړو چې ما هم چرته عامل مقرر کړه نو عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائیل زه ستا دین په دنیا خرابول او خیرنول نه غواړم (بخاري).

ابئ بن کعب دقران سره سره د تورات او انجیل هم عالم وو دده د درست په حلقه کې عرف عجم روم او شام او ډیرو علاقو نه راغلي خلق شریك وو .

دحب رسول یې دا حالت وو چې استوانه حنانه یې پخپل کور کې په طور دتبرك ساتلې وه.

وفات: ۳۹ هجري کې دعثمان دخلافت په زمانه کې وفات شو او عثمان رضي الله عنه وریاندې جنازه اوکړه او په مدینه کې خاورو ته اوسپارلی شو

مرویات: چونکه داحادیثو په بیانولو کې یې زیات احتیاط کولو نو په دې وجه ورنه صرف ۱۴۲ روایات منقول دي چې درې پکې متفق علیه دي یو په بخاري کې دی او اوه په مسلم کښې.

ابوعبيده بن جراح رضي الله عنه مناقب

ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه هغه جلیدل القدر صحابي دي څوك رسول الله صلي الله علیه وسلم په یوه اهم ترینه نوکرئ مقرر کړی وو لکه چې د مسلم په لاندني حدیث کې راغلي دي:

عمرو بن عوف انصاري رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم امین الامة ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه دبحرین نه دجزیې راوړلو دپاره اولیږلو، کله چې دبحرین نه مال راوړلو په حال کې واپس راغی او دمدینې انصارو ته پته اولګیده چې هغوي مال سره واپس راغلي دي.نو هغوي دسحر دمانځه دپاره د رسول الله صلي الله علیه وسلم خدمت کې حاضر شول او رسول الله صلي الله علیه وسلم چې اولیدل نو مسکی شو او ارشاد یې اوفرمائیلو خما خیال دی چې تاسو دا اوریدلي دي چې ابو عبیده دبحرین نه څه مال راوړی دی . هغوي عرض اوکړو چې همدا خبره ده. رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل چې خوشحاله شئ او د داسي څیز امید ساتئ چې کوم ستاسو دخوشحالئ باعث دی په الله تعالي قسم! ماسره ستاسو دفقراوفاقې دومره ویره نشته څومره چې راسره ددې خبرې ویره ده چې دنیا به تاسو باندې راوخورد کړی شي څنګه چې ستاسو نه وړاندې خلقو باندې فراخه کړی شوی وه او تاسو به هم دنیا کې داسې اونخلئ څنګه چې پکې هغوي انختي وو او بیا به دهغوي پشان تاسو هم په هلاکت کې پریوځئ (بخاري ومسلم).

٣٧٩٠_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ دَاوُدَ الْعَطَّارِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُو بَكْرٍ، وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمْرِ اللَّهِ عُمَرُ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ، وَأَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، وَأَفْرَضُهُمْ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَأَقْرَؤُهُمْ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَالْمَشْهُورُ حَدِيثُ أَبِي قِلَابَةَ. [1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت كي دټولو نه زيات په امت رحم كونكي ابوبكر دي او دالله تعالي په معامله كي دهر چانه زيات سخت عمر دي او دهر چانه زيات رښتوني او حياناك عثمان بن عفان دي او دحلال او حرام پيژندونكي معاذ بن جبل دي او په فرائضو دټولو نه زيات پوهيدونكي زيد بن ثابت دي او دټولو نه لوي قاري ابيّ بن كعب دي او په هر امت كي يو امين وي او ددي امت امين عبيده بن الجراح دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند دقتاده په روايت پيژنو، دا روايت ابوقلابه دانس رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په همدي مضمون نقل كړي دي مګر دابوقلابه والا روايت مشهور دي.

****

٣٧٩١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُو بَكْرٍ، وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمْرِ اللَّهِ عُمَرُ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ، وَأَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللَّهِ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، وَأَفْرَضُهُمْ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَأَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينًا وَإِنَّ أَمِينَ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ ". هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت كي دټولو نه زيات په امت رحم كونكي ابوبكر دي او دالله تعالي په معامله كي

[1] _ تفرد به المؤلف، وانظر ما بعده (تحفة الأشراف: ١٣٢٢)

[2] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥٤)

دهر چانه زيات سخت عمر دي او دهر چانه زيات ربښتوني او حياناك عثمان بن عفان دي دالله دكتاب دټولو نه لوي قاري ابئ بن كعب دي او په فرائضو زيات پوهيدونكي زيد بن ثابت دي او دحلال او حرام دټولو نه لوي عالم معاذ بن جبل دي واورئ په هر امت كي يو امين وي او ددي امت امين ابوعبيده بن جراح دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٩٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا قَالَ: وَسَمَّانِي، قَالَ: "نَعَمْ"، فَبَكَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَذَكَرَ نَحْوَهُ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله سلي الله عليه وسلم ابئ بن كعب رضي الله عنه ته اوفرمائيل الله تعالي ماته حكم كړي دي چي تاته "لم يكن الذين كفروا" واوروم ابئ بن كعب اووئيل ايا الله تعالي زما نوم اخستلي دي؟ رسول الله اوفرمائيل هو، ددي خبري په اوريدو ابئ بن كعب اوژړل.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، دابئ بن كعب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل او بيا يي دماقبل هم معني مضمون ذكر كړو.

****

٣٧٩٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ فَقَرَأَ عَلَيْهِ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ فَقَرَأَ فِيهَا: إِنَّ ذَاتَ الدِّينِ عِنْدَ اللَّهِ الْحَنِيفِيَّةُ الْمُسْلِمَةُ لَا الْيَهُودِيَّةُ، وَلَا النَّصْرَانِيَّةُ، مَنْ يَعْمَلْ خَيْرًا فَلَنْ يُكْفَرَهُ، وَقَرَأَ عَلَيْهِ: وَلَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَانِيًا، وَلَوْ كَانَ لَهُ ثَانِيًا لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَالِثًا، وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ١٦ (٣٨٠٩) . وتفسير سورة البينة (٤٩٥٩/٤٩٦١) . صحيح مسلم/المسافرين ٣٩ (٧٩٩) . وفضائل الصحابة ٢٣ (١٢١/٧٩٩) (تحفة الأشراف : ١٢٤٧)

آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ. وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ ". وَقَدْ رَوَى قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيٍّ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ ".[1]

ترجمه : دابئ بن كعب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي ماته حكم كړي دي چې زه تاته قران واوروم او بيا رسول الله "لم يكن الذين كفروا من اهل الكتاب" واورولو او په دي كي يي دا هم اولوستل "ان ذات الدين عندالله الحنيفية المسلمة لا اليهودية ولا النصرانية من يعمل خيرا فلن يكفره" يقينا دين والا بنخه دالله تعالي په نزد هغه ده چې دباطل دينونو سره رشتي كټ كړي او الله تعالي طرف ته متوجه شي داسي ښځه مسلمانه وي نه چې يهوديه او نصرانيه. اوځوك چې دنيكئ كوم كار اوكړي دا دهغي هيڅ كله ناقدري نه كوي او رسول الله ددوئ په وړاندي دا هم اولوستل " وَلَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَانِيًا. وَلَوْ كَانَ لَهُ ثَانِيًا لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَالِثًا. وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ. وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ " يعني كه چري دبني ادم سره دمال نه يوه كنده ډكه وي نو دي به د دويمي خواهش هم كوي او كه دويمه ورته ملاؤ شي نو د دريمي به خواهش كوي او دبني ادم خيټه صرف خاوره ډكولي شي او چې څوك توبه اوباسي الله تعالي دهغه توبه قبلوي.

امام ترمذي وائي: داحديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او دا حديث عبدالله بن عبدالرحمن بن ابضي دخپل پلار عبدالرحمن بن ابي نه نقل كړي دي او هغه دابئ بن كعب رضي الله عنه نه نقل كړي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ابئ بن كعب ته اوفرمائيل الله تعالي ماته حكم كړي دي چې ستا په وړاندي قران اولولم، قتاده دانس نه نقل كړي دي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ابئ بن كعب ته اوفرمائيل الله تعالي ماته حكم كړي دي چې ستا په وړاندي قران اولولم.

****

٣٧٩٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَةٌ كُلُّهُمْ مِنَ الْأَنْصَارِ: أُبَيٌّ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢١)

بْنُ كَعْبٍ، وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَأَبُو زَيْدٍ "، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: مَنْ أَبُو زَيْدٍ ؟ قَالَ: أَحَدُ عُمُومَتِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه مباركه كي قران كريم څلورو كسانو جمع كړو او هغوئ څلور واړه انصاريان وو ابيّ بن كعب، معاذ بن جبل، زيد بن ثابت، او ابوزيد رضي الله عنهم دي. قتاده وايي چي انس بن مالك ته مي ووئيل ابو زيد څوك دى؟ هغه ووئيل زما په ترونو كي يو كس دى.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٧٩٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو بَكْرٍ، نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ، نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ، نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، نِعْمَ الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُهَيْلٍ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ابوبكر، عمر، ابوعبيده بن الجراح، اسيد بن حضير، ثابت بن قيس بن شماس، معاذ بن جبل، او معاذ بن عمرو بن جموح (رضي الله عنهم) څومره ښه خلق دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي موني يي صرف دسهيل په روايت پيژنو.

تخريج اورده ابن حبان في الصحيح كتاب اخباره صلي الله عليه وسلم عن مناقب. وابن ابي شيبه برقم: ٣٢٦٠٧

****

٣٧٩٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ صِلَةَ بْنِ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الأنصار ١٧ (٣٨١٠) . وفضائل القرآن ٨ (٥٠٠٣) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢٣ (٢٤٦٥) (تحفة الأشراف : ١٢٢٨)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢١ (٣٧٤٥) . والمغازي ٧٢ (٤٣٨٠، ٤٣٨١) . وأخبار الآحاد ١ (٧٢٥٤) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٧ (٢٤٢٠) . سنن ابن ماجه/ المقدمة ١١ (١٣٥) (تحفة الأشراف : ١٢٣٥٠)

زُفَرَ. عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، قَالَ: جَاءَ الْعَاقِبُ، وَالسَّيِّدُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَا: ابْعَثْ مَعَنَا أَمِينًا، فَقَالَ: " فَإِنِّي سَأَبْعَثُ مَعَكُمْ أَمِينًا حَقَّ أَمِينٍ ". فَأَشْرَفَ لَهَا النَّاسُ، فَبَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: وَكَانَ أَبُو إِسْحَاقَ إِذَا حَدَّثَ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ صِلَةَ، قَالَ: سَمِعْتُهُ مُنْذُ سِتِّينَ سَنَةً. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ".

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَخْبَرَنَا سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، وَأَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: قَالَ حُذَيْفَةُ: قَلْبُ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ مِنْ ذَهَبٍ. (1)

ترجمه: دحذيفه بن اليمان رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ديوقوم نائب او سردار دواړه نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راغلل او عرض يې اوكړو زمونږ سره خپل څوك امين اوليږه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه به ستاسو سره يو داسي امين اوليږم چې امانت به په بنه شان سره اداء كوي نو دي طرف ته دخلقو نظرونه متوجه شو او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوعبيده بن الجراح رضي الله عنه اوليږلو، دحديث راوي ابواسحاق سبيعي وائي كله چې هغه دا حديث دصله نه نقل كولو نو وئيل يې شپيته كاله پوره شو چې دا حديث ما دهغه نه اوريدلي وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، دا حديث دابن عمر او انس رضي الله عنهما په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چې فرمائيل يې په هر يو امت كي يو امين وي او په دي امت كي امين ابوعبيده بن الجراح دي.

****

٣٤ـ باب مَنَاقِبِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رضي الله عنه

دسلمان فارسي رضي الله عنه مناقب

نوم مجوسي مايه وو داسلام قبلولو نه پس وربانديِ سلام نوم كيخودى شو كنيه يي ابو عبدالله ده نسب نامه يي داسي ده مايه بن لوذ خشان بن مرسلان بن بهنوذان بن پيروز بن سهرك.

دجاهليت په زمانه كي په مجوسيت كي هم ډير كلك وو دده شمير په هغه اورپرست خلقو كي شوى دى كومو چې به په هيڅ وخت كي اور وژلو ته نه پريخودو بيا عيسائي مذهب ته مائل شو

---

1 _

او په دي سلسله کي يي دمتعددو فادريانو سره وخت تير کړو اخري فادري ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم دراتلو بشارت ورکړی وو کله چې دی رسول الله ته راورسيدو نو مسلمان شو رسول الله دده او دابوالدرداء وروروليي قائمه کړه.

8/12 دده اولنئ غزوه خندق وه او دخندق نه پس بيا په تمامو غزواتو کي شريك شوی دی (مسند احمد).

عمر رضي الله عنه ده لره دمدائن والي مقرر کړی دی دده په زندګئ کي يو څو صفات ډير پرقيدونکي وو اول زهد او تقوي دويم درهبانيت نه نفرت ، دريم صداقت، څلورم سخاوت، پنځم دصدقات اخستلو نه اجتناب کول . مروي دي چې دعثمان رضي الله عنه په زمانه کي وفات شوی دی دده عمر دبعضو په نزد دوه پنځوس يا دري پنځوس کاله وو دده دمروياتو تعداد ۶۰ دی ابوسعيد خدري ، ابن عباس. اوس بن مالك رضي الله عنهم وغيره دده شاګردان دي مزيد حالت يي طبقات ابن سعد او تهذيب الکمال کي کتلی شئ.

٣٧٩٧ـحَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي رَبِيعَةَ الْإِيَادِيِّ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْجَنَّةَ لَتَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ: عَلِيٍّ، وَعَمَّارٍ، وَسَلْمَانَ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحٍ. ([1])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جنت د دري کسانو د داخليدو شوق مند وي، علي، عمار، او سلمان رضي الله عنهم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دحسن بن صالح په روايت پيژنو.

****

٣٥ـباب مَنَاقِبِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رضي الله عنه

دعماربن ياسر رضي الله عنه مناقب

نوم عمار کنيه ابو اليقظان دپلار نوم ياسر د مور نوم سميه عمار او صهيب بن ثنان په يو ځاي دارقم بن ابي ارقم په کور کي مسلمانان شوي وو او تردغه وخته تقريبا ديرش کسان مسلمانان شوي وو (فتح الباري).

دي خاندان ددين دپاره ډير مشقت برداشت کړو دده مور داسلام په تاريخ کي هغه اولنئ زنانه ده کومه چې داسلام دپاره شهيده شوي ده او دده پلار ياسر او دده ورور عبدالله هم شهيدان

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٢)

شوي وو (اصابه).
بوخل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اى دعمار خاندان ستاسو دپاره دي بشارت وي جنت ستاسو انتظار كوي.
ليكن دتاريخ والا په دي كي اختلاف دى چې حبشي ته يي هجرت كړى وو او كه نه وو ليكن 8/12
مديني ته يي هجرت كړى وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده ورورولي دحذيفه بن اليمان انصاري سره مقرر كړي وه په ټولو غزواتو كي درسول الله سره شريك شوى وو او په جنګ يمامه كي يي يوغوږ شهيد شو بياعمر رضي الله عنه دكوفي والي مقرر كړو يو كال او نهه مياشتي والي پاتي شوى.
شهادت په جنګ صفين كي شهيد شو كله چې ده ته دڅكلو دپاره شوده وركړى شو نو وئيل يي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې په دنيا كي به ستا اخري توخه شوده وي ابن الغاويه په نيزه اووهلو او زخمي شو او بيايو بل شامي دده سر دتن نه جدا كړو (طبقات ابن سعد).
علي رضي الله عنه ورباندي جنازه اوكړه او په دي وخت كي دده عمر ۹۱ كلونه وو او په كوفه كي همدا صحابي دفن شوى دى.
۱۲۲احاديث دده نه مروي دي چې دوه په دي كي متفق عليه دي.

****

۳۷۹۸_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ هَانِئِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: جَاءَ عَمَّارٌ يَسْتَأْذِنُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "ائْذَنُوا لَهُ مَرْحَبًا بِالطَّيِّبِ الْمُطَيَّبِ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې عمار دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او د دننه د داخليدو اجازت يي اوغوښتلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د داخليدو اجازت وته وركړئ، او بيا يي اوفرمائيل دپاك ذات او پاكو صفاتو والا دي په خير راشي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۱ (۱۴۶) (تحفة الأشراف: ۱۰۳۰۰)

٣٧٩٩_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ سِيَاهٍ كُوفِيٌّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا خُيِّرَ عَمَّارٌ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَرْشَدَهُمَا". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ سِيَاهٍ وَهُوَ شَيْخٌ كُوفِيٌّ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ النَّاسُ لَهُ ابْنٌ يُقَالُ لَهُ: يَزِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ ثِقَةٌ، رَوَى عَنْهُ يَحْيَى بْنُ آدَمَ. ([1])

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل عمار ته چې هر كله په دوه خبرو كي ديوي اختيار وركړي شوي دي نو ده هميشه هغه اختيار كړي ده كومه چې په دواړو كي ډيره بهتر او حق ته قريب تر وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي دعبدالعزيز بن سياح په روايت صرف په همدي سند پيژنو او عبدالعزيز يو كوفي شيخ دي دده نه متعددو راويانو نقل دعروايت كړي دي او دده ديو خوي نوم يزيد بن عبدالعزيز وو چې يحي بن ادم ورنه نقل دروايت كوي.

****

٣٨٠٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مَوْلًى لِرِبْعِيٍّ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "إِنِّي لَا أَدْرِي مَا قَدْرُ بَقَائِي فِيكُمْ، فَاقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي، وَأَشَارَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، وَاهْتَدُوا بِهَدْيِ عَمَّارٍ، وَمَا حَدَّثَكُمُ ابْنُ مَسْعُودٍ فَصَدِّقُوهُ". هَذَا حَسَنٌ، وَرَوَى إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ هِلَالٍ مَوْلَى رِبْعِيٍّ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَدْ رَوَى سَالِمٌ الْمُرَادِيُّ الْكُوفِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ هَرِمٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. ([2])

ترجمه: دحذيفه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست وو چې ويي فرمائيل ماته معلومه نه ده چې زه به څو پوري په تاسو كي موجود يم لهذا زما نه روسته راتلونكي خلق دي دابوبكر او عمر پيروي كوي او دعمار په لاره باندي ځي او چې ابن مسعود درته كومه خبره بيان كړي دهغي تصديق كوئ.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٣٦) (تحفة الأشراف: ١٧٣٩٦)

[2] ـ انظر حديث رقم ٣٦٦٣

امام ترمذي وائي داحديث حسن دي، ابراهيم بن سعد دا حديث دسفيان ثوري نه او هغه دعبدالملك بن عمر نه او هغه دهلال نه او هغه دربعي نه او هغه دحذيفه رضي الله عنه نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي پشان روايت نقل كړي دي، سالم مرادي كوفي په واسطه دعمرو بن حزم او ربعي بن حراش دحذيفه رضي الله عنه نه ددي هم معني مرفوع روايت نقل كړي دي، دابومصعب مديني، عبدالعزيز بن محمد ، علاء بن عبدالرحمن.

****

٣٨٠٠_حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَبْشِرْ عَمَّارُ تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي الْيَسَرِ، وَحُذَيْفَةَ، قَالَ: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ حَدِيثِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. (1)

ترجمه: عبدالرحمن دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل كوي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عمار تاته زيري دركوم چې باغيان به دي قتل كوي، په دي باب كي دام سلمه، عبدالله بن عمرو، ابواليسر او حذيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دا حديث دعلاء بن عبدالرحمن په روايت حسن صحيح غريب دي.

****

٣٦_باب مَنَاقِبِ أَبِي ذَرٍّ رضى الله عنه

دابوذر رضي الله عنه مناقب

نوم جندب كنيه ابو ذر دپلار نوم جناده او دمور نوم يي رمله وو چې دبني غفار قبيلي سره يي تعلق وو ، په شروع كي مشهور ډاكو وو خو يك دم يي په ژوند ګئ كي انقلاب راغي پخپله دابوذر رضي الله عنه بيان دى چې داسلام راوړو نه دري كاله مخكي هم ما مونځونه كول (طبقات ابن سعد).

كله چې درسول الله ددعوت نه خبر شو نو خپل وررور انيس يي دتحقيق كولو دپاره اوليږلو او پخپله دعلي رضي الله عنه سره ملاؤ شو او درسول الله په خدمت كي حاضر شو او اسلام يي قبول كړو نو رسول الله دى دده قوم ته دتبليغ دپاره اوليږلو ددينه پس به يي خپل ټول وخت په تبليغ اودعوت كي خرچ كولو تردي چې نيمه قبيله په همدي وخت مسلمانه شوه او نيمه قبيله يي دهجرت نه پس مسلمانه شوه (مسند احمد).

1_ تفرد به المؤلف. وهو جماعة من الصحابة غيره (تحفة الأشراف: ١٤٠٨١)

درسول الله د هجرت نه پس هغوئ مديني ته هجرت كړې دى (طبقات ابن سعد).
ابوذر يو تارك الدنيا او زاهد انسان وو درسول الله او ابوبكر په زمانه كي په مدينه كي پاتي شوى دى او بيا يي شام ته هجرت كړى دى.
وفات: كله چي دده طبعيت خراب شو نو ښځي يي ژړل چي په دي صحرا كي به څوك زمونږه انتظام كوي هغه ورته اووئيل زه تاسو ته زيرى دركوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي په تاسو كي به يو تن په صحرا كي مري او هلته به د مسلمانانو يو جماعت راځي او هغوئ به دده تدفين كوي زما نه چي علاوه كوم خلق وو هغوئ په ابادئ كي مړه شوي دي چنانچي همداسي اوشول عبدالله بن مسعود ديوي ډلي سره راغى او هغه عراق ته روان وو په دده باندي يي جنازه اوكړه او هم دلته يي دفن كړو (مستدرك حاكم).
مرويات: دده درواياتو شمير ٢٨١ دى چي دولس متفق عليه دي او ده په بخاري كي دي او اوه په مسلم كي دي (تهذيب الكمال ٤٤٩).

٣٨٠١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عُمَيْرٍ وَهُوَ أَبُو الْيَقْظَانِ، عَنْ أَبِي حَرْبِ بْنِ أَبِي الأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ، وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ أَصْدَقَ مِنْ أَبِي ذَرٍّ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِي ذَرٍّ. قَالَ: وَهَذَا حَسَنٌ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي داسمان دسوري دلاندي داسي كس چي زمكي ورته پناه وركړي وي نشته څوك چي دابوذر نه زيات رښتوني وو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او په دي باب كي دابوالدرداء او ابوذر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٨٠٢ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي أَبُو زُمَيْلٍ هُوَ سِمَاكُ بْنُ الْوَلِيدِ الْحَنَفِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَاءُ، وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَاءُ مِنْ ذِي لَهْجَةٍ أَصْدَقَ، وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِي ذَرٍّ شِبْهِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ". فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كَالْحَاسِدِ يَا رَسُولَ اللَّهِ

١ ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٥٦) (تحفة الأشراف: ٨٩٥٤)، ومسند احمد (١٦٣/٢، ١٧٥)

أَفَتَعْرِفُ ذَلِكَ لَهُ؟ قَالَ: "نَعَمْ، فَاعْرِفُوهُ لَهُ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: أَبُو ذَرٍّ يَمْشِي فِي الْأَرْضِ بِزُهْدِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَام. (1)

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل داسمان دسوري دلاندي داسي كس چې زمكي ورته پناه وركړي وي نشته څوك چې دابوذر(چې دعيسي بن مريم سره زيات مشابه دي) نه زيات رښتوني وي او دده زيات لحاظ كونكي وي ددي خبري په اوريدو سره عمررضي الله عنه دتمني په حال كي اووئيل اي دالله رسوله ايا ددي خبري خبر ورته وركړو ؟ رسول الله اوفرمائيل هو خبر ورته وركړئ.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، او بعضي راويانو په دي حديث كي دا الفاظ نقل كړي دي ابوذر په زمكه كي دعيسي بن مريم عليه السلام په زاهدانه رفتار روان وي.

****

٣٧_باب مَنَاقِبِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رضى الله عنه

دعبدالله بن سلام رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله كنيه ابو يوسف لقب حبر ذمديني په يهودو كي دبني قنقاع قبيلي سره يي تعلق وو دده دنسب سلسله يوسف عليه السلام ته رسيدلي وه دجاهليت په زمانه كي دده نوم حصين وو رسول الله صلي الله عليه وسلم وربانذي عبدالله نوم كيخودو.

كله چې مديني ته راغى نو يو څو سوالات يي اوكړل او دايي هم اووئيل چې دنبي نه علاوه بل څوك ددي سوالاتو جواب نشي كولي او بيا ددينه پس مسلمان شو په بدر او احد كي دده دشركت باره كي اختلاف دي مګر په خندق كي په اتفاق سره شريك شوى وو.

علامه ذهبي دده په باره كي داسي ليكلي دي:

كان عبدالله بن سلام عالم اهل الكتاب وفاضلهم في زمانه بالمدينه (تذكرة الحفاظ) رسول الله صلي الله عليه وسلم دده په باره كي فرمائيلي دي عاشر عشرة في الجنة (ترمذي).

ددينه علاوه انتهائي تواضع والاانسان يو ځل خلقو ليدلى وو چې دلرګو ګيډۍ يي پشا وو چا ورنه تپوس اوكړو چې دا ولي نو ويى فرمائيل چې دخپل كبر او غرور دختمولو دپاره داسي كوم ، امير معاويه رضي الله عنه په زمانه كي په ۴۳هجري كي په مدينه كي وفات شو ۱۳۵احاديث ورنه منقول دي.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٩٧٦)

٣٨٠٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُحَيَّاةَ يَحْيَى بْنُ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ أَخِي عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: لَمَّا أُرِيدَ قَتْلُ عُثْمَانَ جَاءَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: مَا جَاءَ بِكَ؟ قَالَ: جِئْتُ فِي نَصْرِكَ. قَالَ: اخْرُجْ إِلَى النَّاسِ فَاطْرُدْهُمْ عَنِّي، فَإِنَّكَ خَارِجًا خَيْرٌ لِي مِنْكَ دَاخِلًا. فَخَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ إِلَى النَّاسِ. فَقَالَ: " أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ كَانَ اسْمِي فِي الْجَاهِلِيَّةِ فُلَانٌ فَسَمَّانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ اللَّهِ، وَنَزَلَتْ فِيَّ آيَاتٌ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، فَنَزَلَتْ فِيَّ: وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (الأحقاف: ١٠) وَنَزَلَتْ فِيَّ: قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ (الرعد: ٤٣) إِنَّ لِلَّهِ سَيْفًا مَغْمُودًا عَنْكُمْ، وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ قَدْ جَاوَرَتْكُمْ فِي بَلَدِكُمْ هَذَا الَّذِي نَزَلَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاللَّهَ اللَّهَ فِي هَذَا الرَّجُلِ أَنْ تَقْتُلُوهُ، فَوَاللَّهِ لَئِنْ قَتَلْتُمُوهُ لَتَطْرُدُنَّ جِيرَانَكُمُ الْمَلَائِكَةَ، وَلَتَسُلُّنَّ سَيْفَ اللَّهِ الْمَغْمُودَ عَنْكُمْ، فَلَا يُغْمَدُ عَنْكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. قَالُوا: اقْتُلُوا الْيَهُودِيَّ، وَاقْتُلُوا عُثْمَانَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، وَقَدْ رَوَى شُعَيْبُ بْنُ صَفْوَانَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، فَقَالَ: عَنِ ابْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ.[1]

ترجمه : دعبدالله بن سلام رضي الله عنه وراره واني كله چې خلقو دعثمان رضي الله عنه دقتل كولو اراده اوكړه نو عبدالله بن سلام رضي الله عنه عثمان ته ورغلو عثمان رضي الله عنه ورته اوويل دخه دپاره راغلي يې؟ هغه اوويل ستا دمدد دپاره راغلي يم، عثمان رضي الله عنه اوويل خلقوته ورشه او زما نه يې اوشړه ځكه چې ستا بهر اودريدل زما په حق كې د دننه اودريدو نه زيات بهتر دي، چنانچې عبدالله بن سلام اووتلو او خلقو ته ورغلو او دوئ ته يې اوويل اې خلقو په جاهليت كې زما فلاني نوم وو ليكن رسول الله صلي الله عليه وسلم په ما باندې عبدالله نوم كيخودو او زما باره كې دالله تعالى په كتاب كې يو څو ايتونه نازل شوي دي چنانچې "«وشهد شاهد من بني إسرائيل على مثله فآمن واستكبرتم إن الله لا يهدي القوم الظالمين» " او " قُلْ كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ" زما په باره كې نازل شوي دي، دالله تعالى توره په مينځ كې ده او فرشتې ستاسو په دې ښار كې كوم ته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم راليږلي شوي وو ګاونډياني دي لهذا ددې كس قتل كولو باره

[1] ـ انظر حديث رقم ٢٢٥٦ .

کي تاسو دالله نه اويرېږئ، زما دي په الله قسم وي که تاسو ده لره قتل کړو نو تاسو به خپلو ګاونديانو فرشتو لره اوزغلوئ او دالله تعالي کومه توره چې په مينځ کي ده دا به بهر راکاږئ او بيا به دا توره دقيامت دورځي پوري ستاسو مينځ ته رانشي خلقو چې دده نصيحت واوريدو نو ويي ونيل دايهودي هم قتل کړئ او عثمان هم قتل کړئ.
امام ترمذي وائي داحديث غريب دي مونږ يي صرف دعبدالملك بن عمير په روايت پيژنو، شعيب بن صفوان هم دا حديث دعبدالملك بن عمير نه نقل کړي دي او هغوئ په سند کي "عن ابن محمد بن عبدالله بن سلام عن جده عبدالله بن سلام" واسطي ذکر کړي دي

****

٣٨٠٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عُمَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا حَضَرَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ الْمَوْتُ قِيلَ لَهُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَوْصِنَا، قَالَ: أَجْلِسُونِي، فَقَالَ: إِنَّ الْعِلْمَ وَالْإِيمَانَ مَكَانَهُمَا مَنِ ابْتَغَاهُمَا وَجَدَهُمَا، يَقُولُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، وَالْتَمِسُوا الْعِلْمَ عِنْدَ أَرْبَعَةِ رَهْطٍ: عِنْدَ عُوَيْمِرٍ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَعِنْدَ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ، وَعِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَعِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ الَّذِي كَانَ يَهُودِيًّا فَأَسْلَمَ. فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّهُ عَاشِرُ عَشَرَةٍ فِي الْجَنَّةِ". وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: وَهَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.(1)

ترجمه: د يزيد بن عميره بيان دي فرمائي کله چې دمعاذ بن جبل رضي الله عنه دمرګ وخت راغي او هغه ته اوونيلي شول اي ابوعبدالرحمن مونږ ته څه وصيت اوکړه معاذ اوونيل ماکينوئ او بيا يي اوونيل علم او ايمان دواړه پخپل ځاي قائم دي څوك چې ددي تلاش کوي ضرور به يي بيامومي او دا خبره يي دري پيري تکرار کړه او بيا يي اوونيل که علم مو پکار وي نو دڅلورو کسانو سره يي اولټوئ، عويمر ، ابوالدردا سره، دسلمان فارسي سره، عبدالله بن مسعود سره. او عبدالله بن سلام سره (چې يهودي وو او بيا يي اسلام قبول کړو) څکه چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې عبدالله بن سلام په عشره مبشره کي (په هغه لسو کسانو کي چې دجنت زيري ورته په ژوندګئ کي شوي وو) لسم کس دي.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن غريب دي.

****

1 _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١١٣٦٨)

٣٨_ باب مَنَاقِبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضی الله عنه

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله کنیه ابو عبدالرحمان او دپلار نوم مسعود او دمور نوم یې ام عبد وه. اسد الغابه کې دده داسلام راوړو واقعه داسې لیکلې ده چې یوه ورځ رسول الله صلي الله علیه وسلم دابوبکر رضي الله عنه سره روان وو او عبدالله بن مسعود په لاره کې چیلۍ سرولې صدیق اکبر ورنه پئ اوغوښتل عبدالله ورته اووئیل دا چیلۍ ما سره امانت دی څکه یې نشم درکولی رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل ایا ستا سره داسې چیلۍ هم شته چې بچي یې نه وي راوړي عرض یې اوکړو هو نوهغه چیلۍ یې پیش کړه رسول الله وربانديې لاس راښکل نو غلانز یې دشودونه ډکه شوه غرض دا چې دوئ دري واړو په مړه خیټه اوڅکل نو ابن مسعود ددي معجزي دلیدو نه پس مسلمان شو او ددینه پس یې خپل ټول ژوند په خدمت نبوي صلي الله علیه وسلم کې تیر کړو (اسد الغابه).

کله چې د مدیني ته هجرت اوکړو او راغی نو رسول الله ورته دمسجد نبوي سره متصل یوه ټوټه زمکه ورکړه (طبقات ابن سعد).

په تمامو غزواتو کې رسول الله سره ملګری پاتي شوی دی او دهجرت په شلم کال دکوفي قاضي مقرر شو او لس کاله یې هلته قضاوت اوکړو خصوصي اوصاف یې دادي چې دعلم سره یې انتهائي شوق وو او دقران کریم دتفسیر ماهر هم وو په قرءت کې ورته هم کمال حاصل وو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورنه پخپله هم قران اوریدلی دی ابن مسعود به دروایت په بیانولو کې ډیر احتیاط کولو او دخپلې زماني دفقهاؤ سردار هم وو. شقیق ابن ابراهیم به په مسجد کې ناست وو اودابن مسعود دراوتو انتظار به یې کولو (مسند احمد).

وفات: ۳۲هجري کې دشپیته کالو په عمر کې وفات شو او عثمان بن عفان رضي الله عنه وربانديې جنازه اوکړه او دعثمان بن مزعون په خوا کې دفن کړی شو طبقات ابن سعد.

مروایات: دده دمرویاتو شمیر ۸۴۸ دی ۶۴ متفق علیه دي ۲۱ صرف په بخاري کې او ۳۵ صرف په مسلم کي (تهذیب الکمال ۲۳۴).

٣٨٠٥_ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ يَحْيَى بْنِ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي الزَّعْرَاءِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اقْتَدُوا بِاللَّذَيْنِ مِنْ بَعْدِي مِنْ أَصْحَابِي أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، وَاهْتَدُوا بِهَدْيِ عَمَّارٍ، وَتَمَسَّكُوا بِعَهْدِ ابْنِ مَسْعُودٍ ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، وَيَحْيَى بْنُ سَلَمَةَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَأَبُو الزَّعْرَاءِ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ

هَانِئٍ، وَأَبُو الزَّعْرَاءِ الَّذِي رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ اسْمُهُ: عَمْرُو بْنُ عَمْرٍو وَهُوَ ابْنُ أَخِي أَبِي الأَحْوَصِ صَاحِبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو دهغه دوه کسانو پيروي اختيار کړئ څوك چې به زما په صحابه کرامو کې زما نه پس راځي يعني ابوبکر او عمر او دعمار روش اختيار کړئ او دابن مسعود وصيت مضبوط اونيسئ.

امام ترمذي وائي: دابن مسعود داحديث په دې سند حسن غريب دي مونږ يې صرف ديحي بن سلمه بن کهيل په روايت پيژنو او يحي بن سلمه په باب دحديث کې ضعيف دي او د ابو الزعراء نوم عبدالله بن هاني دي او دکوم ابوالزعراء نه چې شعبه اوسفيان ثوري او ابن عيينه روايت نقل کوي دهغه نوم عمرو بن عمرو دي او دعبدالله بن مسعود دشاګرد ابوالاحوص وراره دي.

****

٣٨٠٦ـحَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا مُوسَى يَقُولُ: "لَقَدْ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ، وَمَا نُرَى حِينًا إِلَّا أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا نَرَى مِنْ دُخُولِهِ، وَدُخُولِ أُمِّهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ. ([2])

ترجمه : داسود بن يزيد نه روايت دي فرمائي چې دموسي اشعري رضي الله عنه نه مې اوريدلي دي فرمائي چې زه او زما ورور ديمن نه راغلو او ديوې زماني پورې مونږ دا ګمان کولو چې عبدالله بن مسعود داهل بيتو يو فرد دي ځکه چې مونږ هغه لره او دهغه مور لره نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته په کثرت سره په راتلو کې ليدل.

امام ترمذي وائي: داحديث په دې سند حسن صحيح غريب دي، سفيان ثوري هم دا روايت دابواسحاق نه نقل کړي دي.

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٥٢)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٧ (٣٧٦٣) . والمغازي ٧٤ (٤٣٨٤) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٢ (٢٤٦٠) (تحفة الأشراف : ٨٩٧٩)

داسود بن يزيد رضي الله عنه حالات

نوم اسود کنيه ابو عمرو او دپلار نوم يې يزيد وو دفضل او کمال زهد او عبادت په لحاظ سره اسود دکوفې په علماؤ کې دامتياز مالك وو علامه ذهبي دده په باره کې ليکلي دي چې اسعد زاهد او عابد وو او عالم وو دکوفې (تذکرة الحفاظ).

دامام نووي قول دی چې دده په توثيق دتمامو علماؤ اتفاق دی (تهذيب الاسماء).

دده په باره کې دا مشهور دي چې روزانه به يې روژه نيوله اګر که ګرمي به هر څومره وه دمابنام او ماخوستن مينځ کې به يې ارام کولو او بيابه يې تمامه شپه قران کريم لوستلو (طبقات ابن سعد).

په ۷۵هجري کې وفات شوی وو او دوفات نه مخکې يې خپل خوريي ابراهيم نخعي ته اوفرمائيل چې ماته به په اخري وخت کې دکلمې تلقين کوي (طبقات ابن سعد).

****

۳۸۰۷_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: أَتَيْنَا عَلَى حُذَيْفَةَ. فَقُلْنَا: حَدِّثْنَا مَنْ أَقْرَبُ النَّاسِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدْيًا وَدَلًّا فَنَأْخُذَ عَنْهُ وَنَسْمَعَ مِنْهُ، قَالَ: "كَانَ أَقْرَبُ النَّاسِ هَدْيًا، وَدَلًّا، وَسَمْتًا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنُ مَسْعُودٍ حَتَّى يَتَوَارَى مِنَّا فِي بَيْتِهِ. وَلَقَدْ عَلِمَ الْمَحْفُوظُونَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ هُوَ مِنْ أَقْرَبِهِمْ إِلَى اللَّهِ زُلْفَى". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دعبدالرحمن بن يزيد بيان دي فرمائي چې مونږ حذيفه رضي الله عنه ته ورغلو او ورته مو اووئيل داراته اووائي چې په خلقو کې په چال چلن کې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره څوك زيات قريب دي چې مونږ دهغه طور او طريقې خپلې کړو او خبرې يې واورو هغه راته اووئيل په خلقو کې دچال او چلن په لحاظ او دطريقو په لحاظ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره قريب تر عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دي، ځکه چې دي به زمونږ نه پټ شو او درسول الله کور ته به يې دننه هم تلل راتلل کول او درسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته څوك چې دهر قسم تحريف او نسيان نه محفوظ وو دا خبره په ښه شان سره معلومه ده چې دام عبد خوي يعني عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په دوی تولو کې الله تعالي ته زيات نژدې دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/فضائل الصحابة ۲۷ (۳۷۶۲) (تحفة الأشراف: ۳۳۸۳)

****

٣٨٠٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا صَاعِدٌ الحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا أَحَدًا مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنْهُمْ لَأَمَّرْتُ عَلَيْهِمُ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ. ([1])

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چري ما بغير دمشوري نه په خلقو چالره امير مقررولي نو عبدالله بن مسعود به مي امير مقرر كړي وو.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي مونږ يي صرف دحارث په روايت پيژنو چي دعلي رضي الله عنه يي نقل كړي دي.

****

٣٨٠٩_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كُنْتُ مُؤَمِّرًا أَحَدًا مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ لَأَمَّرْتُ ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ". ([2])

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چري ما بغير دمشوري نه په خلقو چالره امير مقررولي نو عبدالله بن مسعود به مي امير مقرر كړي وو.

****

٣٨١٠_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذُوا القُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ: مِنَ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([3])

---

[1] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٣٨) (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٥)

[2] _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٣٨) (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٥)

[3] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٦ (٣٤٥٨)، و٢٧ (٣٧٦٠)، وفضائل الأنصار ١٣ (٣٨٠٦)، و١٦ (٣٨٠٨)، وفضائل القرآن ٨ (٤٩٩٩)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٢ (٢٤٦٣) (تحفة الأشراف: ٨٩٣٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي (که څوك قران ازده كول غواړي) نو دڅلورو کسانو نه دي قران زده کړي، ابن مسعود ، ابئ بن كعب، معاذ بن جبل، او سالم دابوحذيفه ازاد كړي غلام.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

د شقيق بن سلمه رضي الله عنه حالات

نوم شقيق كنيه ابو وائيل قبيله بني اسد ، دكوفي اوسيدونكي وو، دتابعينو دجملي نه دي، دابن حجر په قول په ۷۴ هجري كي وفات شوي دي (التقريب).

****

۳۸۱۱ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا الْجَرَّاحُ بْنُ مَخْلَدٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خَيْثَمَةَ بْنِ أَبِي سَبْرَةَ، قَالَ: أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَسَأَلْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسا صالحا، فيسر لِي أَبَا هُرَيْرَةَ، فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ، فَقُلْتُ لَهُ: إِنِّي سَأَلْتُ اللَّهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِي جَلِيسا صالحا فوفقت لِي، فَقَالَ لِي: " مِنْ أَيْنَ أَنْتَ؟ "، قُلْتُ: مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ جِئْتُ أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ وَأَطْلُبُهُ، قَالَ: " أَلَيْسَ فِيكُمْ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ مُجَابُ الدَّعْوَةِ، وَابْنُ مَسْعُودٍ صَاحِبُ طَهُورِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَعْلَيْهِ، وَحُذَيْفَةُ صَاحِبُ سِرِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَمَّارٌ الَّذِي أَجَارَهُ اللَّهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ، وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ ". قَالَ قَتَادَةُ: وَالْكِتَابَانِ: الْإِنْجِيلُ، وَالْفُرْقَانُ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَخَيْثَمَةُ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَبْرَةَ إِنَّمَا نُسِبَ إِلَى جَدِّهِ. (۱)

ترجمه : دخيثمه بن ابو سبره بيان دي فرمائي چې زه مديني ته راغلم نو دالله تعالي نه مي دخان دپاره ديو صالح ملګري دعا اوغوښتله چنانچې الله تعالي ماته دابوهريره رضي الله عنه دملګرتيا توفيق راكړو، ما هغه سره كيناستل شروع كړل نو عرض مي ورته اوكړو چې ما دالله تعالي نه دخان دپاره ديوصالح ملګري ميسر كولو دتوفيق دعا غوښتلي وه چنانچې ستا دملګرتيا توفيق راته راكړي شو ابوهريره زما نه تپوس اوكړو ته دكوم ځاي نه راغلي يې؟ ما عرض اوكړو زما تعلق داهل كوفه سره دي او دخير په لټون پسي دلته راغلي يم هغه اووئيل ايا تاسو سره هلته سعد بن مالك نه وو چې مستجاب الدعوات دي او ايا تاسو سره ابن مسعود نه وو چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره داودس داوبو انتظام كونكي وو او درسول الله دپيزار ګرځونكي وو او ايا تاسو سره حذيفه نه وو څوك چې درسول الله صلي الله عليه وسلم

(۱) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۳۰۶)

رازدار دي او ايا تاسو ره عمار نه وو چاته چې الله پاك دشيطان نه دخپل نبي په ژبه پناه ورکړي ده او سلمان تاسو سره موجودنه وو څوك چې د دوه کتابونو والا دي، قتاده راوي وائي د دوه کتابونو نه مراد انجيل او قران دي.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح غريب دي او خيثمه دعبدالرحمن بن ابوسبره څوي دي چې نسبت يي خپل نيکه ته شوي دي.

****

۳۹ـ باب مَنَاقِبِ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رضى الله عنه

د حذيفه بن يمان رضي الله عنه مناقب

نوم حذيفه کنيه ابو عبدالله صاحب السر لقب دقبيله بن غطفان سره يي تعلق وو دده پلار حذيفه په جاهليت کي څوك قتل کړی وو نو په دي وجه ددشمنئ نه دبچ کيدو دپاره په مدينه کي اوسيدو حذيفه دمديني نه مکي ته لاړو داسلام قبلولو دپاره، دغزوه بدر نه علاوه په تمامو غزواتو کي شريك پاتي شوی دی او عهد نبوي يي په مدينه کي تير کړی دي او بيا ددينه پس عراق، کوفه، نصيبين او مدائن ته منتقل شوی دی او په نصيبين کي يي شاگردي هم کړي ده (اسد الغابه).
عمر فاروق رضي الله عنه دعراق فتح کيدو نه پس په دجله کي حذيفه رضي الله عنه امير مقرر کړو (کتاب الخراج لامام ابو يوسف) او بيا دمدائن والي مقرر کړی شو.
حذيفه رضي الله عنه دفقه او حديث لوي عالم وو او دمنافقانو په پيژندو کي يي خصوصي مهارت وو په همدي وجه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم رازدار وئيلی شي دی پخپله وائي ددي وخت نه دقيامته پوري راتلونکي ټولي فتني پيژنم، ليکن ددينه دي څوك دا معلومه نکړي چې زما نه علاوه بل چاته نه دي معلومي وجه داده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي باره کي مونږ ټولو ته په يو مجلس کي خبر راکړی دی خو اوس په هغوئ کي زما نه علاوه بل هيڅوك ژوندی موجود نشته.
دزهد او تقوي يي دا حالت وو چې دامارت باوجود يي په معاشرت کي څه تغير نه وو راغلی دتواضع په وجه به يي دخورلئ کار دخر نه اخستلو او په ډير لږ قوت لايموت رزق به يي گذاره کوله او ددينه زيات به يي دخان سره نه ساتلو عمر رضي الله عنه ورته څه مال هم اوليږلو ليکن هغه يي په خلقو تقسيم کړو.
وفات: دهجرت په ۳۲کال عثمان رضي الله عنه دوفات نه څلويښت ورځي پس وفات شو چې په اخري عمر کي په ډيره ژړا کي مصروف وو خلقو ورنه دوجي تپوس اوکړو نو په جواب کي يي اووئيل ددنيا دپريښودو غم راسره نشته مرگ خو يو دوست دی ليکن په دي خفه يم چې زما

انجام او حشر به څه وي کله چې يې اخري ساه واخستله نو ويې فرمائيل ستا ملاقات دي زما سره ماته مبارك شي ځکه چې زما درسره انتهائي زياته مينه ده (مسند احمد).
دحذيفه رضي الله عنه دسلو نه زيات روايات منقول دي چې دولس متفق عليه دي او اته صرف په بخاري کي دي او اولس په مسلم کي دي (تهذيب الكمال).

٣٨١٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عِيسَى، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ زَاذَانَ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَوِ اسْتَخْلَفْتَ، قَالَ: "إِنِ اسْتَخْلَفْتُ عَلَيْكُمْ فَعَصَيْتُمُوهُ عُذِّبْتُمْ، وَلَكِنْ مَا حَدَّثَكُمْ حُذَيْفَةُ فَصَدِّقُوهُ، وَمَا أَقْرَأَكُمْ عَبْدُ اللَّهِ فَاقْرَءُوهُ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَقُلْتُ لِإِسْحَاقَ بْنِ عِيسَى: يَقُولُونَ هَذَا عَنْ أَبِي وَائِلٍ ؟ قَالَ: لَا، عَنْ زَاذَانَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ. قَالَ: هَذَا حَسَنٌ حَدِيثُ شَرِيكٍ. ([1])

ترجمه : د حذيفه رضي الله عنه بيان دی فرمائي چې خلقو عرض وکړو اي د الله رسوله که تاسو د خپل ځان په ځاي زمونږ دپاره خپل قائم مقام مقرر کړئ (نو بهتره به وي) رسول الله اوفرمائيل که چري زه خپل خليفه مقرر کړم او تاسي يې نافرماني وکړئ نو عذاب به دربانلدي راشي، البته حذيفه چې درته څه اووايي دهغي تصديق وکړئ او څه چې درته عبد الله بن مسعود بيانوي هغه اورئ او تصديق يې کوئ.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن دی اودا روايت د شريك په سند مروي دی.

****

٤٠_باب مَنَاقِبِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رضى الله عنه

دزيد بن حارثه رضي الله عنه مناقب

د زيد بن حارثه رضي الله عنه د شان متعلق امام ترمذي د عائشه رضي الله عنها نه پخپل سند روايت نقل کړی دی : عن عائشة رضي الله عنها، قالت: قَدِمَ زَيْدُ بْنُ حَارِثَةَ الْمَدِينَةَ وَرَسُولُ اللهِ ﷺ فِي بَيْتِي، فَأَتَاهُ فَقَرَعَ الْبَابَ، فَقَامَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ يَجُرُّ ثَوْبَهُ، فَاعْتَنَقَهُ وَقَبَّلَهُ. رواه الترمذي، وقال: ((حديث حسن)).
دعائشی رضي الله عنها نه روايت دی چه زيد ابن حارثه چه دمکي معظمی نه مديني منوری ته راغلو تنبه يی اووهله رسول الله صلي الله عليه وسلم په تلووار ورپاځيدو څادر مبارك يی

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٣٢٢)

ځان پسې راښکلو هغه يې غاړه ورکړه او ښکل يې کړو، امام ترمذي روايت کړی دی او حديث حسن يې ورته ويلی دی.

فاعتنقه: اعتناق معني په غيږ کي نيول، ورغاړه وتل.

خلاصه داده چه زيد بن حارثه رضي الله عنه کله درسول الله کورته راغی نورسول الله صلی الله عليه وسلم په جلتئ سره پاځيدو تردي چه څادر يي په زمکه راښکلی شو او په جلتئ يي ورسره معانقه هم وکړله ددي حديث مضمون دجعفر بن ابي طالب نه هم منقول دی کله چه دحبشي نه راغی نو رسول الله ورسره معانقه اوکړله.

په اصل کي معانقه يو بل لره غاړه ورکول دي لکه څرنګه چه دعربو عادت دی او که څوك سينه لګوي نو داهم په بعضو رواياتو کي وارد دي خو په اکثرو احاديثو کي معانقه لفظ راغلی دی علماء وائي چه کله څوك دسفر نه راشي نو په دي صورت کي معانقه جائز ده او که چري په کومه شبهه يا بدئ کي دمبتلا کيدو خطره وي نو بيا معانقه جائز نه ده يعني دجنسي جذباتو په وجه يا دبربندوالي په وجه بالکل جائز نه دي.

****

٣٨١٣_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ. عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ. عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عُمَرَ. أَنَّهُ فَرَضَ لِأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ وَخَمْسِ مِائَةٍ. وَفَرَضَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فِي ثَلَاثَةِ آلَافٍ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيهِ: لِمَ فَضَّلْتَ أُسَامَةَ عَلَيَّ ؟ فَوَاللَّهِ مَا سَبَقَنِي إِلَى مَشْهَدٍ. قَالَ: "لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيكَ. وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكَ. فَآثَرْتُ حُبَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حُبِّي". قَالَ: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دعمر رضي الله عنه دازاد کړي غلام اسلم عدوي بيان دي فرمائي چي اميرالمؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه داسامه بن زيد دپاره دبيت المال نه اوه نيم زره وظيفه مقرر کړه او دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما دپاره يي دري زره وظيفه مقرر کړه ابن عمر رضي الله عنهما خپل پلار عمر رضي الله عنه ته عرض اوکړو تا په ماباندي اسامه ته ترجيح ورکړي ده په الله قسم هغه په هيڅ يوه غزوه کي زما نه مخکي نه دي تلي اميرالمؤمنين اووئيل داځکه چي زيد رسول الله ته ستا دپلار نه او اسامه رسول الله ته ستا نه زيات محبوب دي نو په دي وجه ما درسول الله محبوب ته پخپل محبوب ترجيح ورکړه.

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٠١)

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٨١٤_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " مَا كُنَّا نَدْعُو زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَتْ: ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ (الأحزاب: ٥)". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې مونږ به زيد بن حارثه ته په زيد بن محمد نوم باندي اواز کولو تردي پوري چې ايت کريمه "ادعوهم لابائهم هواقسط عندالله" نازل شو يعني تاسو متبني خامنو ته دخپلو پلرونو په نومونو اواز کوئ او همدا خبره دالله تعالي په نزد انصاف ته قريب تر ده.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي.

****

٣٨١٥_حَدَّثَنَا الْجَرَّاحُ بْنُ مَخْلَدٍ الْبَصْرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ الرُّومِيِّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي جَبَلَةُ بْنُ حَارِثَةَ أَخُو زَيْدٍ، قَالَ: قَدِمْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ابْعَثْ مَعِي أَخِي زَيْدًا، قَالَ: " هُوَ ذَا، قَالَ: فَإِنِ انْطَلَقَ مَعَكَ لَمْ أَمْنَعْهُ ". قَالَ زَيْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَاللَّهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ أَحَدًا، قَالَ: فَرَأَيْتُ رَأْيَ أَخِي أَفْضَلَ مِنْ رَأْيِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ الرُّومِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُسْهِرٍ. ([2])

ترجمه: دزيد بن حارثه رضي الله عنه د ورور جبله بن حارثه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه درسول الله په خدمت کي حاضرشوم او عرض مي اوکړو چې اي دالله رسوله زما ورور زيد ماسره اوليږئ رسول الله اوفرمائيل هغه موجود دي که چري تاسو سره تلل غواړي نو زه بي نه منع کوم، ددي خبري په اوريدو زيد اووئيل اي دالله رسوله زما دي په الله قسم وي زه ستاسو په مقابل کي بل هيڅوک نشم اختيارکولي، جبله وائي ما اوليدل چې زما د ورور رائي زما درائي نه افضله وه.

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٢٠٩ .

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣١٨٢)

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دابن رومي په روايت پيژنو چې دعلي بن مسهر نه يي نقل كوي.

****

٣٨١٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، فَطَعَنَ النَّاسُ فِي إِمَارَتِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنْ تَطْعَنُوا فِي إِمْرَتِهِ، فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُونَ فِي إِمْرَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ، وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ، وَإِنَّ هَذَا مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. ([1])

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يو لښكر اوليږلو او په دوئ يي اسامه بن زيد امير مقرر كړو خلقو دهغه په امارت تنقيدونه شروع كړل چنانچې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چري تاسو دده په امارت كي عيبونه لټوئ او بد ورباندي وائي نو دده نه مخكي دده دپلار په امارت باندي هم طعن وئيلي شوي وو، قسم په الله چې زيد دامارت مستحق وو او هغه په خلقو كي ماته زيات محبوب وو او دهغه نه پس اسامه ماته په خلقو كي زيات محبوب دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٤١_باب مَنَاقِبِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضى الله عنه

داسامه بن زيد رضي الله عنه مناقب

نوم اسامه كنيه ابو محمد لقب حب رسول الله صلي الله عليه وسلم او دپلار نوم يي زيد دي، دبعثت نبوي په اوم كال په مكه كي پيدا شوي دي.

اسامه په فتح مكه كي شريك شوي وو درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يو ځاي وو، د بلال او عثمان بن طلحه رضي الله عنهما سره مكي ته داخل شوي وو، (مسلم كتاب الايمان).

رسول الله صلي الله عليه وسلم ډيرو سريو ته مجاهدين د اسامه بن زيد رضي الله عنه په مشرئ

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٨٧ (٤٢٦٩) (تحفة الأشراف: ٧٢٢٦)

کي ليګلي دي پدي تيولو کي اهمه سريه هغه وه په کومه کي چې صحابه کرام هم موجود وو اوداد رسول الله اخري مقرر کړي سريه وه.
درسول الله نه عمر فاروق رضي الله عنه هم د اسامه بن زيد رضي الله عنه سره ډير محبت کولو، اود خپل خوي عبدالله وظيفه يي دوه نيم زره ديناره اود اسامه وظيفه دري زره ديناره مقرر کړي وه.او بيا يي اوفرمائيل چې دده سره درسول الله ستا نه زيات محبت وو.(مستدرک حاکم: ۳۵۵۹)
د علي کرم الله وجهه او معاويه رضي الله عنه په جنګ کي يي بلکل غير جانبداري اختيار کړي وه (الاصابه: ۲۹/۱)
مروي دي چې يو ځل اسامه بن زيد رضي الله عنه په يو چوکاټ راپريوتو او تندي يي زخمي شو رسول الله صلي الله عليه وسلم عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل دتندي نه يي وينه وچې کړه نو ام المؤمنين دده وينه پاکه کړه.که چري پدي کي څه کراهت وي نو رسول الله به پخپله داسي کړي نه وو. او بيا يي ورباندي خپلي لاړي مبارکي پوري کړي.
وفات: دمعاويه رضي الله عنه دامارت په اخري مراحلو کي په مدينه کي وفات شو (الاستيعاب: ۲۹/۱)
مرويات: دده دمروياتو شمير ۱۲۸ دی ۱۵ پکي متفق عليه دي او دوه صرف په بخاري کي دي او دوه صرف په مسلم کي دي. کما في رواية مصنف ابن ابي شيبه
دبعضو په قول خوي د رقيه رضي الله عنها وو يعني عبد الله بن عثمان اوبعضي وايي دفاطمن رضي الله عنها خوي وو يعني محسن بن علي ليکن اولني قول زيات راجح دي.

٣٨١٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَبَطْتُ وَهَبَطَ النَّاسُ الْمَدِينَةَ، فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ أُصْمِتَ، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَيْهِ عَلَيَّ وَيَرْفَعُهُمَا، فَأَعْرِفُ أَنَّهُ يَدْعُو لِي".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : اسامه بن زيد رضي الله عنه وائي کله چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بيماري سخته شوه نو زه د "جرف" مقام نه مديني ته راغلم او څو کسان نور هم راسره راغلل زه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورداخل شوم نو ژبه يي بنده شوي وه او بيا يي دهغي نه پس

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۲۲)

څه نه دي وئيلي رسول الله خپل دواړه لاسونه پورته کړل او زما دا خيال راغي چې زما دپاره دعا غواړي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

اسامه بن زيد بن حارثه رضى الله عنه حالات

نوم: اسامه ، كنيت : ابومحمد لقب حب رسول (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) ، د پلار نوم ئي زيد او د مور نوم ئي بركه وو د بعثت نه اووه كاله مخكښ په مكه مكرمه كي پيدا شو دده پلار د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) متبني وو (يعني نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) په خوي باندى نيولى وو) دى د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) ډير زيات محبوب وو.
په فتح مكه كي اسامه(رضيَ الله عنه) شريک وو دنبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) سره په سورلي باندى سور وو. د بلال(رضي الله عنه) ، عثمان(رضي الله عنه) بن طلحه وغيره سره اسامه(رضي الله عنه) هم بيت الله شريف ته داخل شوى وو. (صحيح مسلم كتاب الايمان)
نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) زياتى سريى د اسامه بن زيد(رضي الله عنه) په مشري كي ليږلى وى په دى ټولو كي ډيره اهمه سريه هغه وه چې په هغى كي لوي لوي صحابه كرام هم وو او دا د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) د زندگي اخري سريه وه.
د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) د وفات نه بعد عمر فاروق(رضي الله عنه) به هم دوي سره ډير زيات محبت كولو او د خپل خوي عبد الله وظيفه ئي دوه نيم زره او د اسامه(رضي الله عنه) وظيفه درى زره مقرر كړه او خپلو خامنو ته ئي اوفرمائيل چې نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) به له هغه سره ستاسو نه زياته مينه كوله. (مستدرک حاكم ۵۵۹/۳)
د علي(رضي الله عنه) او د امير معاويه(رضي الله عنه) په مينځ كي د جنګ نه ډير لرى او جُدا اوسيدو د اهل علمو قول دي چې د اسامه بن زيد(رضي الله عنه) په بارګاه نبوت كي څومره محبوبيت وو هغه بغير د استثناء نه بل كوم صحابي ته حاصل نه وو نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ) په يوه موقع باندى اوفرمائيل چې اسامه(رضي الله عنه) ماته د ټولو خلقو نه زيات محبوب تر دى. (مستدرک حاكم ۳/ ۵۹۶)
يو ځل اسامه(رضي الله عنه) په چوكاټ باندى راپريوتلو او تندي ئي زخمي شو ، نبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائيل چې دده وينه صفا كړه ، هغى ته څه كراهت غوندى معلوم شو نو نبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) خپله پاسيدو او صفا ئي كړو او خپل لعاب مبارک ئي پرى واچول. (طباقات ابن سعد ۴۳/۴)
وفات: د امير معاويه (رضي الله عنه) د امارت په اخري دور ۵۴ هجري كي په مدينه منوره كي وفات شو. (استيعاب ۱...۲۹) په دى وخت كي دده عمر شپيته كاله وو.

مرويات: دده نه د روایاتو تعداد ۱۲۸ دی ۱۵ په بخاري او مسلم دواړو کي دي اوددی نه علاوه په دوو دوو کي امام بخاري او امام مسلم منفرد دی.

****

٣٨١٨_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ، قَالَتْ عَائِشَةُ: دَعْنِي حَتَّى أَكُونَ أَنَا الَّذِي أَفْعَلُ، قَالَ: "يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيهِ فَإِنِّي أُحِبُّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه: دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم (داسامه دماشوموالي په وخت کي یو ځل) دهغه دپوزي اوچولو اراده اوکړه ما ورته اووئيل تاسو يې پريږدئ زه به يې صفا کړم رسول الله اوفرمائيل اي عائشي دده سره محبت کوه ځکه چې زه دده سره محبت کوم.
امام ترمذي وائي: داحدیث حسن غریب دي.

****

٣٨١٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ عَلِيٌّ، وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ، فَقَالَا: يَا أُسَامَةُ اسْتَأْذِنْ لَنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ عَلِيٌّ، وَالْعَبَّاسُ يَسْتَأْذِنَانِ، فَقَالَ: "أَتَدْرِي مَا جَاءَ بِهِمَا؟". قُلْتُ: لَا أَدْرِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَكِنِّي أَدْرِي". فَأَذِنَ لَهُمَا، فَدَخَلَا فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ أَيُّ أَهْلِكَ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: "فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ". فَقَالَا: مَا جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ أَهْلِكَ، قَالَ: "أَحَبُّ أَهْلِي إِلَيَّ مَنْ قَدْ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ، وَأَنْعَمْتُ عَلَيْهِ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ". قَالَا: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "ثُمَّ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ". قَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ جَعَلْتَ عَمَّكَ آخِرَهُمْ. قَالَ: لِأَنَّ عَلِيًّا قَدْ سَبَقَكَ بِالْهِجْرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ وَكَانَ شُعْبَةُ يُضَعِّفُ عُمَرَ بْنَ أَبِي سَلَمَةَ. (2)

ترجمه: داسامه بن زید رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٧٨٤٥)
2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٢)

سره ناست وم چې دي وخت کي علي او عباس رضي الله عنهما دواړو د دننه راتلو دپاره اجازت اوغوښتلو هغوئ ماته اوونيل اي اسامه زمونږ دپاره درسول الله نه د داخليدو اجازت اوغواړه ما عرض اوکړو اي دالله رسوله علي او عباس دواړه د دننه راتلو اجازت غواړي رسول الله اوفرمائيل ايا تاته معلومه ده چې هغوئ څنګه راغلي دي ما عرض اوکړو ماته پته نشته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته خو معلومه ده او بيا يي دوئ ته د داخليدو اجازت ورکړو دننه چې راغلل نو عرض يي اوکړو مونږ تاته ددي دپاره راغلي يو چې تپوس درنه اوکړو چې تاته په ټول اهل کي څوک زيات محبوب دي؟ رسول الله اوفرمائيل فاطمه بنت محمد هغوئ دواړو اوونيل مونږ درنه د اولاد باره کي تپوس نه کوو رسول الله اوفرمائيل زما په کورنئ کي ماته دټولو نه زيات محبوب هغه کس دي په چا باندي چې الله تعالي انعام کړي وي او ما ورباندي انعام کړي وي او هغه اسامه بن زيد دي هغوئ دواړو اوونيل بيا څوک دي؟ رسول الله اوفرمائيل بيا علي بن ابي طالب دي عباس اوونيل اي دالله رسوله تاخو تره شاته کړو رسول الله اوفرمائيل علي ستا نه مخکي هجرت کړي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي شعبه راوي دعمر بن ابي سلمه تضعيف کړي دي.

****

٤٢_باب مَنَاقِبِ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ رضى الله عنه

دجرير بن عبدالله بجلي مناقب

٣٨٢٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو الأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلاَ رَآنِي إِلاَّ ضَحِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دجرير بن عبدالله بجلي بيان دي دکله نه چې ما اسلام قبول کړي دي دهغه نه پس د داخليدو دپاره داجازت غوښتلو نه پس رسول الله زه د دننه داخليدو نه منع کړي نه يم او چې هر کله يي ماته کتلي دي نو د مسکا په حالت کي مي ليدلي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٦٢ (٣٠٣٥) ، وفضائل الأنصار ٢١ (٣٨٢٢) ، والأدب ٦٨ (٦٠٩٠) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٩ (٢٤٧٥) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥٩) (تحفة الأشراف : ٣٢٢٣)

٣٨٢١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: " مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دجرير بن عبدالله بجلي بيان دي دكله نه چې ما اسلام قبول كړي دي دهغه نه پس د داخليدو دپاره داجازت غوښتلو نه پس رسول الله زه د دننه داخلېدو نه منع كړي نه يم او چې هر كله يې ماته كتلي دي نو د مسكا په حالت كې مې ليدلي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح :په پورتنو دواړو روايتونو كې معنوي او لفظي فرق نشته صرف اسنادي فرق دى ، از شارح غفر الله له.

****

٤٣ـ باب مَنَاقِبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضى الله عنه

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دمناقبو بيان

نوم : عبد الله ، كنيت ابن عباس ، د پلار نوم ئي عباس ، د مور بي بي نوم ئي ام الفضل بنت لبابه وو.

ولادت : دده پيدائش د هجرت نه درى كاله مخكښ په هغه غونډي كي اوشو چې په هغى كي مشركينو بنو هاشم قيد كړى وو . دده په پيدائش باندى حضور(صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دده په خُله كي لاړى مباركى هم واچولى او دُعائي ورته هم وكړله . (اسد الغابه تذكره عبد الله بن عباس)

د خپلى مور ام الفضل سره مسلمان شو . په ٨ هجري كي په فتح مكه كي چې كله عباس رضي الله عنه مسلمان شو نو بيا هغه خپل كور والا راوستل او د مكى نه ئي مدينى ته تشريف يوړو ، په دوي كي عبد الله بن عباس رضي الله عنه هم وو په دى وخت كي دده عمر يوولس كاله وو . (بخاري ٦٦٠/٢)

د موصوف فطرةً ذهين او سليم الطبع وو د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په صحبت كي اوسيدل به يي سعادت ګڼړلو . يو خلى دوي د اودس دپاره اوبه د نبي كريم (صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دپاره كېخودلى ، ميمونه (رضي الله عنها) كومه چې دده ترور وه ددى نه يى تپوس

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٦٢ (٣٠٣٥) . وفضائل الأنصار ٢١ (٣٨٢٢) . والأدب ٦٨ (٦٠٩٠) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢٩ (٢٤٧٥) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥٩) (تحفة الأشراف : ٣٢٢٤)

اوکړو چې دا د ادوس اوبه چا کیخودلی دي هغی ورته د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نوم واخستو نو په دی باندی نبي کریم (صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دوي ته دُعا اوکړه "اللهم فقهه في الدين وعلّمه التأويل" (مسند احمد ۳۲۸/۱ ومستدرک ۳/ ۵۳۴)

ابن عبد البر فرمائي "كان عمر يحبّ ابن عباس ويقرّبه" د نبي کريم (صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د دُعاګانو په برکت سره الله پاک ابن عباس رضي الله عنه ته د قران ډیر پوهه عطاء کړی وه د احادیثو په کتابونو کې د ډیرو ایتونو تفسیر دده نه منقول دی د قران سره سره ني د احادیثو سره هم خصوصي شغف وو په هم دی بناء باندی دده د مرویاتو تعداد ۲۶۶۰ دی چې ددی نه (۷۵) په بخاري او مسلم کي دي - او ۱۸ په بخاري کي او ۲۹ په مسلم کي دي - (تهذيب الکمال ۲۰۲)
د هغه خصوصي وصف د بدعت نه نفرت ، د نبي کريم (صَلّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) محبت او خدمت او د امهات المومنين احترام وو-

وفات : په ۶۸ هجري کي وفات شو - محمد بن حنفيه ئي مونځ د جنازی ورکړو او هغه اوفرمائیل چې په الله قسم ! نن د دنیا نه حبر امت اوچت کړی شو - د غیب نه اواز راغی ای نفس مطمئنه خپل رب طرف ته په خوشالي خوشالي واپس شه - (الاصابة ۱۲/۲)

ابن عباس رضي الله عنه فرمائي دعمر فاروق رضي الله عنه دا عادت وو چې زه به یی دبدروالو مشرانو صحابو سره دتنه غوښتم نو خني کسانو دا محسوسه کړه دده هومره خو زمونږ زامن دي هغه وته اوونیل ددي وجه تاسو ته معلومه ده (چې داهل بیتو نه دی او دقران شریف عالم دی) (ابن عباس رضي الله عنه فرمائي) چې یوه ورځ عمر ددي مشرانو سره راوغوښتم او زما دا خیال دی چې هغوئ ته یی زما دقدر خودلو دپاره راغوښتي وم بیایی هغوئ نه تپوس اوکړو چې په دي کي "اذا جاء نصرالله والفتح" تاسو څه وائي؟ خنو اوونیل مونږ ته حکم شوی دی چې کله په مشرکانو غلبه او فتحه بیاموموچې دالله تعالي شکر اداء کړو او حمد وثنا اووایو او خني غلي پاتي شو ، عمر رضي الله عنه ماته اوونیل ابن عباس ! ستا هم دغه خیال دی؟ ما ورته اوونیل نه هغه اوونیل نو بیا تهٔ پکي څه وائي؟ ما ورته اوونیل دا درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات اطلاع ده الله تعالي خبر ورکړو چې کله ته غلبه او فتح بیامومي نو پوهه شه چې ستا کار پوره شو ، درحلت وخت دی نزدي شو نو دالله تعالي صفت او ثنا ډیره وایه او بخښنه ترینه غواړه بیشکه هغه ډیر توبه قبلونکی دی عمر رضي الله عنه اوونیل تاچي څه اوونیل ددي نه علاوه یی بله معني ماته نه ده معلومه (بخاري).

****

٣٨٢٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ

لَيْثٍ، عَنْ أَبِي جَهْضَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ " أَنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام مَرَّتَيْنِ، وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِأَبِي جَهْضَمٍ سَمَاعًا مِنَ ابْنِ عَبَّاسٍ وَقَدْ، رَوَى عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبُو جَهْضَمٍ اسْمُهُ: مُوسَى بْنُ سَالِمٍ. (1)

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې ماجبرائيل عليه السلام دوه پيري ليدلي دي او نبي كريم صلي الله عليه وسلم زما دپاره دوه پيري دعاګاني غوښتلي دي.
امام ترمذي وائي: داحديث مرسل دي مونږ ته معلومه نه ده چې دابن عباس نه دابن جهضم سماع ثابت ده او كنه؟ داحديث دعبيدالله بن عبدالله بن عباس نه هم دابن عباس په واسطه مروي دي او دابوجهضم نوم موسي بن سالم دي.

****

٣٨٢٣ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُكْتِبُ الْمُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مَالِكٍ الْمُزَنِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " دَعَا لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُؤْتِيَنِي اللَّهُ الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ عَطَاءٍ، وَقَدْ رَوَاهُ عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. (2)

ترجمه: دعبدالله بن عباسرضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه پيري زما دپاره دعا غوښتلي ده چې الله تعالي دي تاته حكمت دركړي.
امام ترمذي وائي: داحديث دعطاء په روايت په مذكوره سند غريب دي چې عكرمه دابن عباس نه نقل كړي دي.

****

٣٨٢٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: ضَمَّنِي إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: " اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ ".

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٥٠٢)

2 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زه خپل خان پوري راجوخت کړم او ويې فرمائيل اي الله دحکمت پوهه ورته ورکړي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٤٤_باب مَنَاقِبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما.

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله کنيه ابو عبدالرحمان او دپلار نوم يې امير المومنين خليفه ثاني عمر بن الخطاب رضي الله عنهما او دمور نوم يې زينب بنت مظعون وو.

عبدالله دخپل پلار سره مسلمان شوی وو او د هغه سره يې دمکې نه مدينې ته هجرت کړی وو په غزوه بدر او احد کې ورته دماشوم توب په وجه دشرکت کولو اجازت نه وو ملاؤ شوی (طبقات ابن سعد).

په غزوه خندق، خيبر، بيعة الرضوان، فتح مکه، حنين، طائف، حجة الوداع، تبوک کې يې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملګرتيا کړي ده، دفتنې نه به ډير لري اوسيدو ديزيد سره يې بيعت اوکړو او ويې فرمائيل که چري دا خير وي نو مونږ به دي باندې راضي يو او که شر وي نو مونږ صبر اوکړو (طبقات ابن سعد).

ابن عمر رضي الله عنهما به خلقو دعلم او عمل مجمع البحرين ګڼړلو (تذکرة الحفاظ ١/٣٥).

عثمان رضي الله عنه ورته دقضا عهده پيش کول اوغوښتل ليکن هغه معذرت اوکړو په ملکي انتظام کې به يې بلکل شرکت نه کولو.

په زندګئ کې يې يو څو مخصوص عادتونه وو (١) اتباع سنت (٢) خشية الهي (٣) عبادت او رياضت (۴) دمشتبهاتو نه اجتناب (۵) زهد او تقوي (٦) دمسکينانو سره همدردي (٧) سخاوت (٨) مساوات (٩) دامت داختلاف نه بچ کيدل.

دقران کريم سره يې خصوصي مينه وه او په قران کې به يې ډير سوچ او فکر کولو ددې اندازه ددينه لګيدی شي چې صرف سورة بقره يې په څوالس کلونو کې زده کړي وه (مؤطا امام مالك).

دقران کريم نه پس دحديث نبوي صلي الله عليه وسلم درجه ده نو په دې وجه دابن عمر رضي

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٢٢ (٣٧٥٦). والاعتصام ١ (٧٢٧٠). سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٦٦) (تحفة الأشراف: ٦٠٣٩)

الله عنهما داحاديث نبوي سره ډير زيات شوق وو کله چې به دغير حاضرئ په وجه دده نه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم بعضي اقوال او افعال تيري شوي وو نو وروسته به يي دهغي په باره کي دخلقو نه معلومات حاصلولو او بيابه يي زياتول (اصابه ۴/۱۰۹).
وفات: په مدينه کي دوفات کيدو ډير شوق مند وو او دا يي غوښتل چې کومي زمکي ته مي هجرت کړی دی هم دلته وفات شم (طبقات ابن سعد ۴/۱۳۸).
هغه دا وصيت کړی وو که چري زه په مکه کي مړ شوم نو دحرم نه به مي بهر دفن کوئ نو دی په مکه کي وفات شو او دحرم نه بهر په قبرستان کي دفن کړی شو او حجاج بن يوسف ورباندي جنازه اوکړه (طبقات ابن سعد).
مرويات: دده دمروياتو شمير ۱۲۳۰ دي چې ۱۷۰ پکي متفق عليه دي او اته دبخاري دي او دري صرف په مسلم کي دي (تهذيب الکمال).

۳۸۲۵ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّمَا فِي يَدِي قِطْعَةُ إِسْتَبْرَقٍ وَلَا أُشِيرُ بِهَا إِلَى مَوْضِعٍ مِنَ الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ بِي إِلَيْهِ، فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ، فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ أَخَاكِ رَجُلٌ صَالِحٌ، أَوْ إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ رَجُلٌ صَالِحٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې ما په خوب کي اوليدل لکه چې زما په لاس کي دريښمو يوه ټکړه وي او په دي چې زه دجنت کوم ځاي ته اشاره اوکړم نو هغه راوالوزي او ماته راورسيږي (بهر حال ماخپل خوب ام المؤمنين حفصه رضي الله عنها ته بيان کړو) او بيا حفصه نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته بيان کړو رسول الله دتعبيرورکولو په حال کي اوفرمائيل ستا ورور يو صالح انسان دي، او که داسي يي اوفرمائيل عبدالله يو صالح سړي دي (دراوي شك دي).
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي

****

۴۵ـ باب مَنَاقِبِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

دعبدالله بن زبير رضي الله عنهما مناقب

نوم عبدالله کنيه ابو حبيب ، ابوبکر، او ابو خبيب دپلار نوم يي زبير وو او دمور نوم يي اسماء

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التهجد ۲۱ (۱۱۵۶) ، والتعبير ۲۵ (۶۹۹۱) ، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ۳۱ (۲۴۷۸) (تحفة الأشراف : ۷۵۱۳)

او لقب يي ذات النطاقين وو چې دهجرت په ړومبي كال پيدا شوى دى په مهاجرينو كې دا اولنى ماشوم پيدا شوى وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په طور دتبرك كجوره په خوله كې اوچوپله او بيايي دده په خوله كې واچوله.

داوه كالو په عمر كې يي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره بيعت كړى دى (مستدرك حاكم) دټولو نه رومبى هغه جنګ چې عبدالله بن زبير پكې شريك شوى وو غزوه يرموك دي (الاصابه) او چې په دې جنګ كې كومه توره دده لاس ته ورغلي وه نو دمرګه پورې يي دلاس نه كوزه نكړه عبدالله بن زبير دډيرو ژبو ماهر وو او دډيرو غلامانو مالك وو چې مختلفي ژبي به يي وئيلې عبدالله بن زبير به ددوئ ټولو سره ددوئ په مورنئ ژبو كې خبرې كولې (تاريخ الخلفاء سيوطي).

وفات، په ۷۲هجري كې په ذي قعد كې عبدالملك بن مروان حجاج بن يوسف دعبدالله بن زبير مقابلې ته اوليږلو او پدغه وخت كې يي په حرم كې پناه اخستلې وه دډيرو ورځو پورې په حرم كې دمحاصرې په حال كې پروت وو او دډيرو مياشتو پورې ورباندې داور او كاڼوخطرناك بارانونه كيدل خو اخر دا چې ۷۳هجري جمادي ثاني كې وفات شو دمرواياتو شمير يي ۳۳دى چې دوه په دې كې متفق عليه دي او شپږ په بخاري كې او دوه په مسلم كښې.

****

٣٨٢٦ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِسْحَاقَ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُؤَمَّلِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى فِي بَيْتِ الزُّبَيْرِ مِصْبَاحًا، فَقَالَ: "يَا عَائِشَةُ مَا أُرَى أَسْمَاءَ إِلَّا قَدْ نُفِسَتْ، فَلَا تُسَمُّوهُ حَتَّى أُسَمِّيَهُ". فَسَمَّاهُ عَبْدَ اللَّهِ، وَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دبي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم په خوب كې دزبير په كور كې يو چراغ اوليدو عائشه رضي الله عنها ته يي اوفرمائيل اي عائشي ماته همداسي ښكاري چې داسماء دلته اولاد پيداكيدونكي دي (اسماء دعائشي خور ده) خو په ده باندې به نوم تاسو پخپله نه ايږدئ زه به دده دپاره نوم منتخب كړم رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندې عبدالله نوم كيخودو او پخپل لاس يي په خوله كې يوه كجوره اوچوپله او دده تحنيك يي اوكړو (تحنيك ديته وائي چې په خوله كې څوك كجوره وجووي او دماشوم په خوله كې يي واچوي).

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٢٣٢)

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٤٦_باب مَنَاقِبِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه

دا انس بن مالک رضي الله عنه مناقب

نوم انس او كنيه يي ابو حمزه او لقب يي خادم رسول الله قبيله يي بنو نجار وه او دپلار نوم يي مالك او دمور نوم يي ام سليم سهله بنت ملحان انصاريه وه درشتي په لحاظ سره ام سليم درسول الله صلي الله عليه وسلم ترور كيدله.

انس رضي الله عنه داته يا نهه كالو په عمر كي دخپلي مور سره يو خاي مسلمان شوى وو كله چي لسو كالو ته ورسيدو نو مور يي اوونيل اى دالله رسوله انس پخپله غلامئ كي قبول كړه نو رسول الله قبول كړو تقريبا لس كاله درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي پاتي شو په سفر او حضر كي به ورسره يو خاي وو او په صلح حديبيه، بيعت رضوان، خيبر طائف، او حجة الوداع كي يي درسول الله سره ملګرتيا كړي ده.

صديق اكبر رضي الله عنه دبحرين عامل مقرر كړو او عمر فاروق رضي الله عنه دتعليم او تربيت دپاره بصري ته وليږلو دفتني په زمانه كي ګوشانشين شو، دده په زندګئ په خصوصي عاداتو كي حق ګويي، تواضع، اشاعت اسلام حب رسول او اتباع رسول شامل وو.

مرويات: انس رضي الله عنه دمكثرينو صحابه كرامو دجملي نه وو دده دمروياتو تعداد ١٢٨٢ دی چي ١٣٨ يكي متفق عليه دي او ٨٢صرف په بخاري كي دي او ٧١صرف په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

وفات: د هجرت په ٩٣كال كي دسلو كالو نه په زيات عمر كي وفات شو دوفات كيدو نه مخكي يي خپل شاګرد ثابت بناني ته اوونيل چي زما دژبي نه لاندي درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته مبارك كيږده نو هغه دحكم تعميل اوكړو او په همدي حال كي ورنه روح پرواز اوكړو غرض دا چي قسطن بن كلاب ورباندي جنازه اوكړه او خپل كور ته نزدي په لف مقام كي دفن كړى شو.

٣٨٣٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنِ الْجَعْدِ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَتْ أُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ صَوْتَهُ. فَقَالَتْ: بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللَّهِ أُنَيْسٌ، قَالَ: فَدَعَا لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ دَعَوَاتٍ قَدْ رَأَيْتُ مِنْهُنَّ اثْنَتَيْنِ فِي الدُّنْيَا، وَأَنَا أَرْجُو الثَّالِثَةَ فِي الْآخِرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا

الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم تيريدلو او دهغوئ دتيريدو په وخت كي ام سليم (دانس مور) دهغوئ اواز واوريدو ام سليم اووئيل زما مور او پلار دي په تاقربان شي اي دالله رسوله دا انيس دي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دپاره دري دعاګاني اوغوښتلي چې په هغوئ كي د دوه دعاګانو نتيجه ما په دنيا كي اوليدله او د دريمي په اخرت كي اميد لرم.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دا حديث دانس رضي الله نه نه په نورو سندنو هم مروي دي چې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كوي.

****

٣٨٢٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: رُبَّمَا قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا ذَا الأُذُنَيْنِ". قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: يَعْنِي يُمَازِحُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله كله ماته فرمائيل اي دوه غوږونو والا ابو اسامه راوي وائي يعني رسول الله به ورته دټوقو په طور داسي فرمائيل.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب صحيح دي.

****

٣٨٢٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ، أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ ادْعُ اللَّهَ لَهُ، قَالَ: "اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ، وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (3)

ترجمه : داسم سليم رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما عرض اوكړو اي دالله رسوله انس ستا خدمت ګار دي تاسو دالله تعالي نه دده دپاره دعا اوغواړئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل " اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ، وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ" يعني اي الله دده مال او اولاد

---

1 ـ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٣٢ (٢٢٨١) (تحفة الأشراف: ٥١٥)

2 ـ انظر حديث رقم ١١٩٢

3 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الدعوات ٤٧ (٦٣٧٨، ٦٣٨٠)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٣٢ (٢٣٨٠)

زيات کړي او چې ته ورته څه ورکوي په هغې کې دده دپاره برکت واچوي.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٨٣٠ـ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ أَبِي نَصْرٍ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "كَنَّانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَقْلَةٍ كُنْتُ أَجْتَنِيهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ جَابِرٍ الْجُعْفِيِّ، عَنْ أَبِي نَصْرٍ، وَأَبُو نَصْرٍ هُوَ خَيْثَمَةُ بْنُ أَبِي خَيْثَمَةَ الْبَصْرِيُّ رَوَى عَنْ أَنَسٍ أَحَادِيثَ. [1]

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما اسم کنيه ديو ساګ (ګيا) په شان کېخودله چې ما هغه انتخاب کړه.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دجابر جعفي په روايت پيژنو چې دابونصر نه يي نقل کوي، او دابو نصر نوم خيثمه بن ابي خيثمه بصري دي هغوئ دانس رضي الله عنه نه متعدد روايات نقل کړي دي.

****

٣٨٣١ـ حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا مَيْمُونٌ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، قَالَ: قَالَ لِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ: "يَا ثَابِتُ خُذْ عَنِّي، فَإِنَّكَ لَنْ تَأْخُذَ عَنْ أَحَدٍ أَوْثَقَ مِنِّي، إِنِّي أَخَذْتُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ جِبْرِيلَ، وَأَخَذَهُ جِبْرِيلُ عَنِ اللَّهِ تَعَالَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ حُبَابٍ. [2]

ترجمه: دثابت بناني بيان دي فرمائي چې ماته انس بن مالك رضي الله عنه اوويل اي ثابت زما نه ددين علم حاصل کړه ځکه چې تاته زما نه ددين باره کې زيات معتبر انسان نشي ملاويدي ما ددين علم براه راست درسول الله صلي الله عليه وسلم نه حاصل کړي دي اورسول الله دجبرائيل عليه السلام نه حاصل کړي دي او جبرائيل عليه السلام دالله تعالي نه حاصل کړي دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دزيد بن حباب په روايت پيژنو.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٢٦)
[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٩١)

٣٨٣٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ مَيْمُونٍ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ نَحْوَ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ يَعْقُوبَ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ: " وَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ جِبْرِيلَ".([1])

ترجمه : په مذكوره سند هم دانس بن مالك رضي الله عنه نه دابراهيم بن يعقوب دحديث پشان روايت مروي دي ليكن په دي كي ددي خبري ذكر نشته چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دا دجبرائيل عليه السلام نه حاصل كړي دي.

****

٣٨٣٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ أَبِي خَلْدَةَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي الْعَالِيَةِ: سَمِعَ أَنَسٌ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَدَمَهُ عَشْرَ سِنِينَ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ لَهُ بُسْتَانٌ يَحْمِلُ فِي السَّنَةِ الْفَاكِهَةَ مَرَّتَيْنِ، وَكَانَ فِيهَا رَيْحَانٌ كَانَ يَجِيءُ مِنْهُ رِيحُ الْمِسْكِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو خَلْدَةَ اسْمُهُ: خَالِدُ بْنُ دِينَارٍ وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَقَدْ أَدْرَكَ أَبُو خَلْدَةَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ وَرَوَى عَنْهُ.([2])

ترجمه : دابو خلده بيان دي فرمائي چې مادابوالعاليه نه تپوس اوكړو ايا انس رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدل كړي دي؟ هغوئ په جواب كي اوويل انس رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم لس كاله خدمت كړي دي او رسول الله دهغه دپاره دعا غوښتلي ده او دانس رضي الله عنه يو باغ وو چې په كال كي به يي دوه خله ميوه نيوله او په دي باغ كي كشمالي يو خوشبودار بوټي وو چې دمشكو بوي به ورنه تللو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او د ابو خلده نوم خالد بن دينار دي او دمحدثينو په نزد ثقه راوي دي او ابوخلده دانس بن مالك رضي الله عنه زمانه موندلي وه او هغه ددوئ نه نقل دروايت هم كړي دي.

****

٤٧ـ باب مَنَاقِبِ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه

دابوهريره رضي الله عنه د مناقبو بيان

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٩١)

[2] ـ تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف : ٨٣٥)

نوم عمرو كنيه ابوهريره او دپلار نوم يي عامر وو خانداني نوم يي عبدالشمس وو، كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خيبر ته تلى وو نو په هغه وخت كي مديني ته دوفد سره داسلام قبلولو دپاره حاضر شو بيا دا وفد خيبر ته ورسيدو او هم هلته مسلمان شو (طبقات ابن سعد).
درسول الله سره په اسلام باندي دبيعت كولو نه پس يي هيڅ كله درسول الله لمن پرېښودي نه وه، عمر رضي الله عنه دبحرين عامل مقرر كړى وو، ابوهريره رضي الله عنه دعلم ډير شوقي وو عموما به خلقو درسول الله نه ډيرو سوالاتو كولو نه ځان ساتلو ليكن ابوهريره به په جرئت سره تپوسونه كول همداوجه ده چې په كتابونو كي دده د رواياتو شمير زيات دى، بعضي كسان دده په كثرت روايت كي په شك كي پراته و نو په دي وجه به ده ويل چې زما مهاجرين وروڼه به بازارونو كي كاروبارونه كوي او انصار پخپلو پټو كي مصروف وي زه يو محتاج سړى وم زما ټول وخت به درسول الله په صحبت كي تيريدو (طبقات ابن سعد ۵۲/۲).
اوصاف: ابوهريره رضي الله عنه په يو څو اوصافو مشهور دى (۱) دقيامت نه ويريدل په دومره اندازه كي چې بيهوش به شو (۲)په عبادت كي رياضت كول (۳)درسول الله سره محبت كول (۴)دخپلي مور سره محبت كول(۵)او درسول الله دخاندان سره محبت كول(۲)سادګي.
وفات: دوليد په زمانه كي په مدينه كي بيمار شو او هم دلته وفات شو وليد وربانديي دجنازي مونځ اوكړو اودعثمان رضي الله عنه ځامنو په خپلو اوګو ددفن كولو دپاره بقيع ته ورسولو او هلته اكابر صحابه موجود وو (طبقات اب سعد) دوفات كيدو په وخت كي عمر يي اته اويا كاله وو.
دده دمروياتو شمير ۵۳۷۴دى په دي كي ۳۲۵په بخاري او مسلم دواړو كي دي او صرف ۷۹ په بخاري كي دي او صرف ۹۳ په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

٣٨٢٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ أَبِي الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَسَطْتُ ثَوْبِي عِنْدَهُ، ثُمَّ أَخَذَهُ فَجَمَعَهُ عَلَى قَلْبِي، فَمَا نَسِيتُ بَعْدَهُ حَدِيثًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم نو ما ورته خپل څادر اوغوړولو رسول الله واپس راټول كړو او راپورته يي كړو او زما په زړه كي يي كيخودو بيا دهغي نه پس زما نه كوم څيز چرته هير شوي نه دي.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

(1) ـ تفرد به المؤلف، وانظر مابعده (تحفة الأشراف: ۱۴۸۸۵)

****

۳۸۳۵_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَسْمَعُ مِنْكَ أَشْيَاءَ فَلَا أَحْفَظُهَا، قَالَ: " ابْسُطْ رِدَاءَكَ ". فَبَسَطْتُهُ فَحَدَّثَ حَدِيثًا كَثِيرًا فَمَا نَسِيتُ شَيْئًا حَدَّثَنِي بِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ماعرض اوکړو اي دالله رسوله زه ډير څيزونه ستانه واورم مګر ياد نه پاتي کيږي رسول الله اوفرمائيل څپل څادر خور کړه، نو ما څپل څادر اوغوړولو بيارسول الله ډير احاديث بيان کړل، څومره احاديث چې بې بيان کړي وو په هغې کي زما نه يو هم هير نشو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث دابوهريره نه په يو څو نورو سندونو هم مروي دي.

****

۳۸۳٦_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ: " يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَنْتَ كُنْتَ أَلْزَمَنَا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَحْفَظَنَا لِحَدِيثِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې ماابوهريره رضي الله عنه ته اووئيل اي ابوهريره ته زمونږ نه زيات درسول الله صلي الله عليه وسلم سره نزدي او هم مجلس پاتي شوي يې او تاته زمونږ نه زيات احاديث ياد دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي.

****

۳۸۳۷_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدَّارِمِيُّ، أَخْبَرَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْحَرَّانِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، فَقَالَ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ أَرَأَيْتَ هَذَا الْيَمَانِيَّ يَعْنِي أَبَا

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٤٢ (١١٩)، والمناقب ٢٨ (٣٦٤٨) (تحفة الأشراف: ١٣٠١٥)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٥٥٤)

هُرَيْرَةَ. أَهُوَ أَعْلَمُ بِحَدِيثِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكُمْ؟ نَسْمَعُ مِنْهُ مَا لَا نَسْمَعُ مِنْكُمْ. أَوْ يَقُولُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ يَقُلْ؟ قَالَ: "أَمَّا أَنْ يَكُونَ سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ نَسْمَعْ فَلَا أَشُكُّ. إِلَّا أَنَّهُ سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ نَسْمَعْ. وَذَاكَ أَنَّهُ كَانَ مِسْكِينًا لَا شَيْءَ لَهُ. ضَيْفًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَدُهُ مَعَ يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَكُنَّا نَحْنُ أَهْلَ بُيُوتَاتٍ وَغِنًى وَكُنَّا نَأْتِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَفَيِ النَّهَارِ. فَلَا أَشُكُّ إِلَّا أَنَّهُ سَمِعَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ نَسْمَعْ. وَلَا نَجِدُ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ يَقُولُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ يَقُلْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ. وَقَدْ رَوَاهُ يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ. وَغَيْرُهُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ. (١)

ترجمه: دمالك بن ابوعامر بيان دي فرمائي چې يو كس طلحه بن عبيدالله ته ورغلو او وې وئيل اې ابو محمد ايا دا يمني سړي يعني ابوهريره درسول الله په احاديثو ستاسو نه زيات پوهيدونكي دي مونږ دده نه داسې احاديث اورو كوم چې مو ستاسو نه نه دي اوريدلي او كنه ده په رسول الله پورې دخان نه خبرې تړلي دي چې هغوئ نه دي فرمائيلي؟ ابوطلحه اووئيل داسې خبره نه ده واقعي ابوهريره دا خبرې درسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې مونږ نه دي اوريدلي او ددې وجه دا وه چې هغه يو مسكين سړې وو هيڅ يو څيز ورسره نه وو او درسول الله صلى الله عليه وسلم ميلمه وو دده لاس به دخوړلو څكلو په معامله كې درسول الله صلى الله عليه وسلم دلاس سره يوځاې كيدلو، او مونږ دكورونو او زمكو والامالدار خلق وو مونږ به رسول الله ته سحر او مابنام راتلو او په دې كې هيڅ شك نشته چې ابوهريره درسول الله نه داسې څيزونه اوريدلي دي كوم چې مونږ نه دي اوريدلي او تاسو به يو داسې سړي بيانه مومئ چې په هغه كې كوم خير وي او په رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې دروغ اوتړي.

امام ترمذي وائي- داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف دمحمد بن اسحاق په روايت پيژنو. دا روايت يونس بن بكير او دهغه نه علاوه نورو راويانو هم دمحمد بن اسحاق نه نقل كړي دي.

****

٣٨٣٨ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ ابْنِ بِنْتِ أَزْهَرَ السَّمَّانِ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ.

١ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٠١٠)

حَدَّثَنَا أَبُو خَلْدَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْعَالِيَةِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِمَّنْ أَنْتَ؟". قَالَ: قُلْتُ: مِنْ دَوْسٍ، قَالَ: "مَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي دَوْسٍ أَحَدًا فِيهِ خَيْرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو خَلْدَةَ اسْمُهُ: خَالِدُ بْنُ دِينَارٍ، وَأَبُو الْعَالِيَةِ اسْمُهُ: رُفَيْعٌ. (١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته دكومي قبيلي سره تعلق لري ما عرض اوكړو زه د دوس قبيلي سره تعلق لرم رسول الله اوفرمائيل ماته معلومه نه ده چې په دوس كي به هم داسي كوم سړي وي چې په هغه كي خير وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي، او دابوخلده نوم خالد بن دينار دي او دابو العاليه نوم رفيع دي.

****

٣٨٣٩ـ حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مُوسَى الْقَزَّازُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْمُهَاجِرُ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ الرِّيَاحِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمَرَاتٍ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ، فَضَمَّهُنَّ ثُمَّ دَعَا لِي فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ، فَقَالَ لِي: "خُذْهُنَّ وَاجْعَلْهُنَّ فِي مِزْوَدِكَ هَذَا، أَوْ فِي هَذَا الْمِزْوَدِ، كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ فِيهِ يَدَكَ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا، فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذَلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ وَسْقٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ". فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ وَكَانَ لَا يُفَارِقُ حِقْوِي، حَتَّى كَانَ يَوْمُ قَتْلِ عُثْمَانَ فَإِنَّهُ انْقَطَعَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (٢)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما يو ځل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي كجوري پيش كړي او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله په دي كي دبركت دپاره دعا اوغواړئ نورسول الله كجوري راجمع كړي او بيا يي په دي كي دبركت نازليدو دپاره دعا اوغوښتله او ويي فرمائيل دا ويسه او پخپل توشدان كي يي كيږده او كله چې ددينه دكجورو راخستلو اراده اوكړي نو لاس پكي داخل كړه او كجوري راواخله مګر خوروي به يي نه چنانچې مونږ ددينه دومره دومره وسق كجوري دالله په لار كي وركړي او مونږ به ورنه پخپله هم خوړلي او په خلقو به هم خوړلي او دغه بوجئ زما دملا نه هيڅ كله جداشوي نه وه تردي پوري چې په كومه ورځ عثمان رضي الله عنه قتل كړي شو نو دا اوشليده او چرته پريوتله.

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٨٩٢)

[2] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٨٩٣)

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او داحديث دابوهريره رضي الله عنه نه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣٨٤٠_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْمُرَابِطِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي هُرَيْرَةَ: لِمَ كُنِّيتَ أَبَا هُرَيْرَةَ؟ قَالَ: أَمَا تَفْرَقُ مِنِّي؟ قُلْتُ: بَلَى وَاللَّهِ إِنِّي لَأَهَابُكَ. قَالَ: "كُنْتُ أَرْعَى غَنَمَ أَهْلِي وَكَانَتْ لِي هُرَيْرَةٌ صَغِيرَةٌ، فَكُنْتُ أَضَعُهَا بِاللَّيْلِ فِي شَجَرَةٍ، فَإِذَا كَانَ النَّهَارُ ذَهَبْتُ بِهَا مَعِي، فَلَعِبْتُ بِهَا، فَكَنَّوْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دعبدالله بن رافع بيان دي فرمائي چې مادابوهريره رضي الله عنه نه تپوس اوكړو ستا اسم كنيه ابوهريره ولي ده په جواب كې يې ورته اووئيل ايا ته زما نه نه ويريږې؟ ما اووئيل ولي نه په الله مې دي قسم وي چې زه ستا نه ويريږم بيا هغه اووئيل ما به دخپل كور چيلئ څرولې او زما يوه وړه شان پيشو وه چې دشپې به مې په ونه كې كينوله او دورځې به مې دخان سره بوتله او ددې سره به مې لوبې كولې نو خلقو راباندې ابوهريره اسم كنيه مشهوره كړه.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٨٤١_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَخِيهِ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "لَيْسَ أَحَدٌ أَكْثَرَ حَدِيثًا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّي إِلَّا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، فَإِنَّهُ كَانَ يَكْتُبُ وَكُنْتُ لَا أَكْتُبُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم احاديث بل چاته زما نه زيات ياد نه دي مګر علاوه دعبدالله بن عمرو نه ځكه چې هغه به ليكل كول او ما به ليكل نه كول.

****

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٥٦٠)

[2] _ انظر حديث رقم ٢٦٦٨)

٤٨_ باب مَنَاقِبِ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ رضي الله عنه

دمعاويه رضي الله عنه د مناقبو بيان

نوم معاويه كنيه ابو عبدالرحمان دپلار نوم ابو سفيان او دمور نوم يي هنده وه دجاهليت په زمانه كي هم ددي خاندان ممتاز وو دفتح مكي په ورځ معاويه رضي الله عنه او دده پلار ابو سفيان مسلمانان شول دبعضو روايتونو نه معلوميږي چې دصلحه حديبيه په زمانه كي معاويه رضي الله عنه ته داسلام حقانيت معلوم شوى وو ليكن دخاندان ديري نه يي اظهار نشو كولى ليكن اولنى روايت زيات قوي دى بيايي په غزوه حنين او طائف كي درسول الله صلي الله عليه وسلم ملگرتيا كړي ده دحنين دغنيمت په مال كي ده ته رسول الله صلي الله عليه وسلم سل اوښان او څلويښت اوقي سپين زر وركړل (ترقات ابن سعد).

حسن بن علي رضي الله عنه دهجرت په څلويښتم كال ده ته خلافت حواله كړو او ددينه پس هغه نولس كاله او دري مياشتي حكومت كړى دى او ډيري علاقي يي په دي دوران كي فتح كړي دي.

وفات: دهجرت په ۶۰ كال درجب په مياشت دپنځه اويا كالو په عمر كي په لقوه بيمارئ وفات شو په اخري عمر كي به يي وئيل كاش چې زه دقريشو يو عام كس وى او حكومت راسره نه وى دده سره درسول الله صلي الله عليه وسلم څادر او قميص او څه ويښته او نوكان موجود وو هغه دا نصيحت كړى وو چې ماته به درسول الله په قميص او څادر كي كفن راكوئ او زما په مخ او تندي باندي به درسول الله نوكان ايږدئ شايد چې ددي په وجه به ماته مغفرت اوشي ضحاك درباندي جنازه اوكړه او په دمشق كي دفن كړى شو تقريبا ۱۶۳ روايات ورنه مروي دي چې څلور په دي كي متفق عليه دي او پنځه صرف په مسلم كي دي.

۳۸۴۲_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ عَبْدُ الأَعْلَى بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ: "اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا وَاهْدِ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دعبدالرحمن بن ابو عميره (چې درسول الله صلي الله عليه وسلم صحابي دي) نه روايت دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمعاويه رضي الله عنه باره كي اوفرمائيل اي الله ده ته هدايت اوكړي او هدايت يافته يي اوگرځوي او دده په ذريعه خلقو ته

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۹۷۰۸)

هدايت اوکړي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

٣٨٤٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ حَلْبَسٍ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، قَالَ: لَمَّا عَزَلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عُمَيْرَ بْنَ سَعْدٍ، عَنْ حِمْصَ وَلَّى مُعَاوِيَةَ. فَقَالَ النَّاسُ: عَزَلَ عُمَيْرًا وَوَلَّى مُعَاوِيَةَ. فَقَالَ عُمَيْرٌ: لَا تَذْكُرُوا مُعَاوِيَةَ إِلَّا بِخَيْرٍ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ اهْدِ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَعَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ يُضَعَّفُ. (١)

ترجمه : دابوادريس خولاني بيان دي فرماني چې کله عمرفاروق رضي الله عنه عمير بن سعد د "حمص" مقام نه معزول کړو نو دهغه په ځاي يې معاويه رضي الله عنه والي مقرر کړو خلقو اووئيل هغوئ عمير معزول کړو او معاويه يې والي مقرر کړو عمير اووئيل تاسو لره پکار دي چې دمعاويه رضي الله عنه ذکر په ښه طريقه اوکړئ ځکه چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يې چې "اللهم اهدبه" يعني اي الله دده په ذريعه خلقو ته هدايت اوکړي.
امام ترمذي وائي:داحديث غريب دي او محدثينو په باب دحديث کي دعمرو بن واقد تضعيف کړي دي.

دابوادريس خولاني مناقب

نوم عائذ الله کنيه ابوادريس نسبت خولاني دده ولادت دعزوه حنين په کال شوى دى او په کبار تابعين کي شميرلى شوى دى او په شام کي دابو الدرداء رضي الله عنه نه پس دټولو نه لوي عالم وو چې په اتيا هجري کي وفات شوى دى.

****

٤٩_باب مَنَاقِبِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضى الله عنه

عمروبن العاص رضي الله عنه مناقب

نوم عمرو کنيه ابو عبدالله يا ابو محمد دپلار نوم عاص او دمورنوم يي نابغه وه دقبيله بنوسليم سره يي تعلق وو دا قبيله دجاهليت په زمانه کي هم معززه ګڼړلی کيدله ترڅو چې عي

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨٩٢)

اسلام نه وو راوړی په هغي وخت کي ورنه اسلام او مسلمانانو ته ډير ضرر رسيدلی وو دمسلمانانو چې کوم اولنی جماعت حبشي ته تلی وو او دهغوئ د ويستلو دپاره چې حبشي ته دقريشو کوم وفد نجاشي ته ورغلی وو دهغوئ سرکرده عمرو بن العاص وو ليکن الله تعالي دغزوه احزاب نه پس ده ته داسلام قبلولو توفيق ورکړواو اسلام يي قبول کړو او بيايي خپله ټوله زندګي داسلام دپاره وقف کړه او ددينه پس په غزواتو کي داسلام دطرف نه اوجنګيدو مثلا سريه ذات السلاسل سريه مراغ، فتنه ارتداد، فتوحات شام، يرموك، فحل، بيت المقدس، فتوحات مصر، غزوه عريش يا فسطاط، فتح اسکندريه، فتوحات خوب برقه، زويله، طرابلس الغرب وغيره عمر رضي الله عنه دمصر والي مقرر کړی وو او دعمرو بن العاص رضي الله عنه زياته زندګي دجنګ په ميدانونو کي تيره شوي وه دهغه په زندګئ کي يو څو زليدونکي خوبياني وي مثلا ايماني قوت، حق پسندي، تدبير، جهاد في سبيل الله، او صدقات ورکول، غرض دا چې دهجرت په ۴۳يا ۴۰يا ۵۱کي په مصر کي بيمار شو او په همدي دوران کي دکلمه توحيد دوئيلو په حال کي وفات شو او خپل ځوي ورباندي جنازه اوکړه.

دده د مروياتو شمير ۳۹دی چې دري په دي کي متفق عليه دي يو په بخاري کي دی او دري په مسلم کي دي مزيد حالات يي طبقات دابن سعد ، الاصابه ، الاستيعاب، اسد الغابه، فتوح البلدان بلازري ، ابن اسير، تاريخ طبري تهذيب الکمال ، تهذيب التهذيب وغيره ليکلي دي.

٣٨٤٤ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ مِشْرَحِ بْنِ هَاعَانَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَسْلَمَ النَّاسُ، وَآمَنَ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ مِشْرَحِ بْنِ هَاعَانَ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. ([1])

ترجمه: دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلقو اسلام قبول کړو خوعمرو بن العاص دزړه نه ايمان راوړي دي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي مونږ يي صرف دابن لهيعه په روايت پيژنو چې دمشرح نه يي نقل کوي او ددي حديث سند قوي نه دي

****

٣٨٤٥ـحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ عُمَرَ الْجُمَحِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٩٦٤)

مُلَيْكَةَ، قَالَ: قَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ مِنْ صَالِحِي قُرَيْشٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ نَافِعِ بْنِ عُمَرَ الْجُمَحِيِّ، وَنَافِعٌ ثِقَةٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، وَابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ لَمْ يُدْرِكْ طَلْحَةَ. [1]

ترجمه: دطلحه بن عبيدالله رضي الله عنه بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يې چې عمرو بن العاص په قريشو کي دصالحينو او نيکو خلقو دجملې نه وي.

امام ترمذي وائي: مونږ دا حديث صرف دنافع بن عمرو الجمحي په روايت پيژنو او نافع ثقه راوي دي ليکن ددي روايت سند متصل نه دي ځکه چې ابن مليکه دطلحه سره ملاقات نه دي کړي.

****

٥٠_باب مَنَاقِبِ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ رضى الله عنه

دابوسليمان خالد بن وليد مناقب

نوم خالد کنيه ابو سليمان لقب سيف الله دا دام المومنين ميمونه رضي الله عنها نزدي رشته دار وو دخالد خاندان به دجاهليت په زمانه کي ډير معزز ګنړلی کيدل په غزوه احد کي يې دمسلمانانو خلاف په ډير شجاعت سره جنګ اوکړو تردي چې دمسلمانانو خپې اوخويدلي، دبعضو په قول دهجرت په ٦او دبعضو په قول دهجرت په اتم کال مسلمان شو (مسند احمد).

داسلام راوړو نه پس اولنی هغه جنګ چې خالد پکي شريك شوی دی غزوه موته وه په دي جنګ کي دده په لاس کي نهه توري ماتي شوي او په همدي جنګ کي ورته رسول الله صلي الله عليه وسلم دسيف الله لقب ورکړو او بيا ددينه پس فتح مکه ، غزوه حنين، غزوه طائف، غزوه تبوك، سريه بن خزيمه ، سريه نجران سريه يمن او سريه عزينه علاوه نورو ډيرو جنګونو کي شريك شوی دی.

دهجرت په ١٧کال عمر رضي الله عنه معزول کړو دعامو خلقو دا خيال پيدا شو چې دعامو فتوحاتو دارومدار دخالد رضي الله عنه په مټ باندي دی اودا خبره دعمر فاروق رضي الله عنه خوښه نه وه (ابن اسير).

ددينه علاوه بعضي نور وجوهات هم وو چې دهغي په وجه خالد معزول شو عمر رضي الله عنه دحران او موته والي مقرر کړو ليکن هغه پخپله يوکال پس پريخودل دنبي کريم صلي الله عليه

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٠٠١)

وسلم سره يي ډيره مينه وه دخان دپاره يي يوه ټوپۍ په چا جوړه کړي وه او په هغې کي يي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم مبارك ويښته ساتلي وو دجنګ په ميدان کي به يي همدا پسرولې په جنګ يرموك کي ورنه چرته پريوته نو ډيرو لټولو نه پس يي پيدا کړه.
وفات: په مدينه کي په ۲۲ هجري کي وفات شو او بعضو دده دوفات حمص خودلی دی ليکن اولنی قول راجح دی عمرفاروق رضي الله عنه دده په جنازه کي شريك وو دمروياتو تعداد يي اتلس دی چې دوه په دي کي متفق عليه دي دده مزيد حالاتو دپاره استيعاب طبقات ابن سعد، اسد الغابه، زرقاني تاريخ الخلفاء تاريخ ابن خلدون او طبري وغيره هم کتلی شی.

٣٨٤٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: نَزَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلًا، فَجَعَلَ النَّاسُ يَمُرُّونَ، فَيَقُولُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ هَذَا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟"، فَأَقُولُ: فُلَانٌ، فَيَقُولُ: "نِعْمَ عَبْدُ اللَّهِ هَذَا"، وَيَقُولُ: "مَنْ هَذَا؟"، فَأَقُولُ: فُلَانٌ، فَيَقُولُ: "بِئْسَ عَبْدُ اللَّهِ هَذَا"، حَتَّى مَرَّ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَقَالَ: "مَنْ هَذَا؟"، فَقُلْتُ: هَذَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَقَالَ: "نِعْمَ عَبْدُ اللَّهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِزَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ سَمَاعًا مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَهُوَ عِنْدِي حَدِيثٌ مُرْسَلٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ په يو سفر کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو او په يو مقام کي مو قيام اوکړو خلق به زمونږ په خوا کي تيريدل او رسول الله به زما نه تپوس کولو اي ابو هريره دا تيريدونکي څوك دي؟ ما به ورته وئيل فلاني فلاني کس دي رسول الله به دافرمائيل چې دا دالله تعالي څومره ښه بنده دي او بيا به يي تپوس کولو دا څوك دي ما به ورته وئيل فلاني دي رسول الله به اوفرمائيل دا دالله څومره بد بنده دي تردي پوري چې خالد بن وليد تير شو رسول الله اوفرمائيل دا څوك دي ما اووئيل خالد بن وليد دي نو ويي فرمائيل خالد بن وليد څومره ښه سړي دي خالد دالله تعالي په تورو کي يوه توره ده.
امام ترمذي وائي: دا حديث غريب دي مونږ ته علم نشته چې زيد بن اسلم د ابوهريره رضي الله عنه نه سماع کړي ده او کنه، زما په نزد دا حديث مرسل دي، او په دي باب کي دابوبکر صديق رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

1 _ : تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٠٤) (الصحيحة ١٢٣٤، ١٨٢٦)

٥١_باب مَنَاقِبِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

دسعد بن معاذ رضي الله عنه مناقب

٣٨٤٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبُ حَرِيرٍ، فَجَعَلُوا يَعْجَبُونَ مِنْ لِينِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَعْجَبُونَ مِنْ هَذَا، لَمَنَادِيلُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ أَحْسَنُ مِنْ هَذَا". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو خل نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته يوه ريشمي كپړه په طور دهديه راوليږلي شوه چې خلقو يي دنرم والي نه تعجب كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو ددي كپړي دنرموالي په تعجب كي مبتلا شوي يئ او حال دادي چې په جنت كي به سعد بن معاذ يو رومال هم ددي كپړي نه ډير بهتر دي.

امام ترمذي وائي: په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٨٤٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَجَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ: "اهْتَزَّ لَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَرُمَيْثَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي په داسي حال كي يي فرمائيل چې دسعد بن معاذ جنازه زمونږ په وړاندي كيخودلي شوه نو دهغي په وجه رحمان ذات عرش اولړزيدو

امام ترمذي وائي: په دي باب كي داسيد بن حضير او ابوسعيد او رمثه رضي الله عنهم نه هم

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٨ (٣٢٤٩). مناقب الأنصار ١٢ (٣٨٠٢). واللباس ٢٦ (٥٨٣٦). والأيمان والنذور ٣ (٦٦٤٠). صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢٤ (٢٤٦٨). سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥٧) (تحفة الأشراف: ١٨٥٠)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ١٢ (٣٨٠٣). صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢٤ (٢٤٦٦). سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥٨) (تحفة الأشراف: ٢٨١٥)

احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

۳۸٤۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: لَمَّا حُمِلَتْ جَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ قَالَ الْمُنَافِقُونَ: مَا أَخَفَّ جَنَازَتَهُ، وَذَلِكَ لِحُكْمِهِ فِي بَنِي قُرَيْظَةَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې کله دسعد بن معاذ رضي الله عنه جنازه پورته کړې شوه نو منافقينو دا وينا شروع کړه چې دده جنازه څومره سپکه ده ځکه چې هغه دبني قريظه فيصله کړې وه داخبر چې کله نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته ورسيدو نو وې فرمائيل دهغه جنازه فرشتو پورته کړې وه.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح غريب دي.

****

٥٢_باب فِي مَنَاقِبِ قَيْسِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ رضى الله عنه

دقيس بن سعد بن عباده رضي الله عنه مناقب

۳۸٥۰_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ ثُمَامَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْزِلَةِ صَاحِبِ الشُّرَطِ مِنَ الأَمِيرِ". قَالَ الأَنْصَارِيُّ: يَعْنِي مِمَّا يَلِي مِنْ أُمُورِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الأَنْصَارِيِّ.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيُّ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ قَوْلَ الأَنْصَارِيِّ. ([2])

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يې چې دقيس بن سعد مرتبه درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندې داسې وه لکه ديو امير په نزد چې دسپاهي مرتبه وي، دحديث راوي وائي قيس بن سعد رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم دوړرد

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۳۲٥)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الأحكام ۱۲ (۷۱٥٥) (تحفة الأشراف: ٥۰۱)

حکمونو تعمیل کړي وو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف دانصاري په روايت پيژنو، محمد بن يحي هم دانصاري نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي ليكن په دي سند كي دانصاري خپل قول مذكور نه دي.

****

۵۳ـ باب فِي مَنَاقِبِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضى الله عنهما

د جابر رضى الله عنه مناقب

نوم جابر ، كنيت ابوعبد الله ، د قبيله خزرج نه وو ، د پلار نوم ئي عبد الله او د مور نوم ئي نسيبه رضي الله عنها وو ، دده نيكه عمرو د خپل خاندان رئيس وو ، په عقبه ثانيه كي ئې د خپل پلار سره ايمان راوړو او مسلمان شو ، د احد نه بعد په تمامو غزواتو كي شريک شو د نبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره په نولسو (۱۹) غزواتو كي شريک وو. (مسند احمد ۳/۳۲۹)
په ۳۷ هجري كي جابر رضي الله عنه د علي رضي الله عنه اود معاويه رضي الله عنه په جنگ كي د علي رضي الله عنه د طرف نه اوجنگيدو. (اسد الغابه ۲/۲۵۷)
جابر رضي الله عنه د نبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نه بعد د نورو خلقو نه هم علم دين زده كړو چې په دوى كي ابوبكر ، عمر ، علي ، ابوعبيده ، طلحه ، معاذ بن جبل ، خالد بن وليد ، ابوهريره ، ابو سعيد الخدري ، عبد الله بن انيس رضي الله عنهم اجمعين هم شامل دي. يو خل معلومه شوه چې د عبد الله بن انيس رضي الله عنه سره يو حديث دى او هغه په شام كي اوسيږي نو جابر رضي الله عنه په اوښ سور شو او روان شو او بيا هلته ورسيدو او د هغه نه ئې هغه حديث واوريدو. (الادب المفرد)
دده شاګردان هم ډير دي ، لكه امام باقر ، عبد الله بن منكدر ، حسين بن محمد بن حنفيه وغيره. په اخري عمر كي نابينا شوى وو. (بخاري ۲/ ۵۹۸)
وفات : د حجاج بن يوسف په زمانه كي د څلور نوي (۹۴) كالو په عمر كي وفات شو او دا وصيت يې كړى وو چې حجاج دى زما مونځ د جنازى نه ادا كوي. (تهذيب التهذيب)
مرويات : دده د رواياتو تعداد ۵۴۰ دى په احاديثو كي به ئي ډير زيات احتياط كولو ، د شخصيت په خاي باندى به ئي په خپل خان باندى موقوف كولو د ويرى له وجى نه. (مسند احمد ۳/ ۳۳۰)

۳۸۵۱ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: " جَاءَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِرَاكِبِ بَغْلٍ

وَلَا بِرْذَوْنٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما د بيمارپرسۍ دپاره زما خواته تشريف راوړو چې نه په قچره سور وو او نه په كوم تركي اس باندي (بلكه پيدل راغلو).
امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي.

****

٣٨٥٢_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: " اسْتَغْفَرَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْبَعِيرِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: لَيْلَةَ الْبَعِيرِ مَا رُوِيَ عَنْ جَابِرٍ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ أَنَّهُ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَبَاعَ بَعِيرَهُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَاشْتَرَطَ ظَهْرَهُ إِلَى الْمَدِينَةِ، يَقُولُ جَابِرٌ: لَيْلَةَ بِعْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَعِيرَ اسْتَغْفَرَ لِي خَمْسًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً، وَكَانَ جَابِرٌ قَدْ قُتِلَ أَبُوهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَرَامٍ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ بَنَاتٍ، فَكَانَ جَابِرٌ يَعُولُهُنَّ وَيُنْفِقُ عَلَيْهِنَّ وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبَرُّ جَابِرًا، وَيَرْحَمُهُ لِسَبَبِ ذَلِكَ. هَكَذَا رُوِيَ فِي حَدِيثٍ عَنْ جَابِرٍ نَحْوَ هَذَا. (2)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم داوښانو والا شپه كي ۲۵ پيري زما دپاره دمغفرت دعا اوغوښتله.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي او داوښانو دشپي نه مراد هغه شپه ده دكومي په باره كي چې په ډيرو سندونو منقول دي چې جابر رضي الله عنه اوفرمائيل زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو سفر كي موجود وم او خپل اوښ مي په رسول الله په دي شرط خرڅ كړو چې دمديني پوري به په دي باندي سورلي كوم، جابر به هميشه دا وئيل په كومه شپه چې به ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل اوښ خرڅ كړو په هغه شپه رسول الله زما دپاره ۲۵ پيري دمغفرت دعا غوښتلي ده او دجابر پلار عبدالله بن عمرو بن حزام په جنګ احد كي شريك شوي وو چې يو څو لوڼه ورنه پاتي شوي وي جابر بن عبد الله دهغوئ پرورش كولو او په هغوئ

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المرضى ١٥ (٥٦٦٣) . سنن ابي داود/ الجنائز ٢ (٣٠٩٦) . تقدم برقم ٢٠٩٤) (تحفة الأشراف: ٣٠٢١)

2 ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي) (تحفة الأشراف: ٢٦٩١)

به يې خرڅې کوله اوپه همدې وجه رسول الله صلى الله عليه وسلم دجابر سره ډير ښه سلوک کولو او په ده به يې رحم کولو، اودجابر نه په يو روايت کې همداسې مروي دي.

****

٥٤_باب فِي مَنَاقِبِ مُصْعَبِ بْنِ عُمَيْرٍ رضي الله عنه

د مصعب بن عمير رضي الله عنه مناقب

عمر فاروق رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله مصعب بن عمير پداسې حال کې اوليدو چې دګډ څرمن يې اغوستلې وه اوکمر بند يې تړلې او مخامخ راروان وو نو رسول الله اوفرمايل ده ته اوګورئ چې الله يې زړه نوراني کړې دې ما هغه وخت هم ليدلې وو چې دده مور اوپلار به ده ته اعلى قسم خوراک ورکولو اودده په بدن به يوه جوړه صرف ددوه سوه درهمو وه ، ليکن دالله اودهغه رسول محبت دده داحالت کړې دې کوم چې ستاسو په وړاندې دي. (قاضي ثناء الله پاني پتي تفسير مظهري).

٣٨٥٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ خَبَّابٍ، قَالَ: هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِي وَجْهَ اللَّهِ، فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى اللَّهِ فَمِنَّا مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا، وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا، وَإِنَّ مُصْعَبَ بْنَ عُمَيْرٍ مَاتَ، وَلَمْ يَتْرُكْ إِلَّا ثَوْبًا كَانُوا إِذَا غَطَّوْا بِهِ رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ، وَإِذَا غُطِّيَ بِهَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " غَطُّوا رَأْسَهُ وَاجْعَلُوا عَلَى رِجْلَيْهِ الإِذْخِرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ خَبَّابِ بْنِ الأَرَتِّ نَحْوَهُ.[1]

ترجمه : دخباب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلى الله عليه وسلم سره هجرت اوکړو او مونږ دالله تعالى درضاخواهش مند وو نو زمونږ اجر په الله تعالى باندې ثابت شو چنانچې بعضې کسان په مونږ کې داسې وو چې هغوئ دخپل اجر نه په دنيا کې هيڅ هم نه وو خوړلي او څه کسان داسې وو چې دهغوئ د اميد ونه بارنيونکي ګرځيدلې وه او ميوه يې

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٢٧ (١٢٧٦) . ومناقب الأنصار ٤٥ (٣٨٩٧) . والمغازي ١٧ (٤٠٤٧) ، و٢٦ (٤٠٨٢) . والرقاق ٧ (٦٤٣٢) ، ١٦ (٦٤٤٨) . صحيح مسلم/الجنائز ١٣ (٩٤٠) . سنن ابي داود/ الوصايا ١١ (٢٨٧٦) . سنن النسائي/الجنائز ٤٠ (١٩٠٣) (تحفة الأشراف : ٣٥١٤) . ومسند احمد (١٠٩/٥، ١١٢)

هغوئ شوكولي وه مصعب بن عمير رضي الله عنه په داسي وخت كي وفات شو چې هيڅ يو ځيز يي نه وو پريخودلي مګر علاوه ديوي كپړي نه په كومه چې به دهغه سر خلقو پټولو نو دواړه خپي به يي بربنډي شوي او كه دده دواړه خپي به يي پړي پټولي نو سر به يي بربنډ شو ددي حالت په ليدو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سريي پټ كړئ او په خپو يي اذخر ګيا واچوئ

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

خباب بن الارت رضي الله عنه مناقب

نوم خباب كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم يي ارت بن جندله دجاهليت په زمانه كي دغلامئ په صفت په مكه كي خرڅ كړى شوى وو (اسد الغابه).

داسلام په ابتدائي زمانه كي دزيد بن ارقم رضي الله عنه په كور كي مسلمان شوى وو (طبقات ابن سعد ۱۱۲/۳).

په اسلام راوړونكو كي دى شپږم نمبر شخصيت دى په ابتداء كي مسلمان شوى غلام وو نو په دي وجه ورته مشركانو سختي سزاګاني وركړي وي او په بربنډه خيټه يي په سكروټو څملولى وو او په سينه يي ورله درانه درانه كاڼړي ايخودلي وو تردي چې دسكروټو اور به دده د بدن درطوبت په وجه پخپله مړ شو (طبقات ابن سعد ۱۱۷/۳).

مديني ته چې كله هجرت اوشو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دخراش بن صمه سره دده اخوت قائم كړو او په تمامو عزاواتو كي يي شركت كړى دى (طبقات ابن سعد).

دتورو جوړولو كاروبار به يي كولو او عمرفاروق رضي الله عنه به هم دده ډير احترام كولو يو ځل عمرفاروق رضي الله عنه ده لره پخپله ګدئ كينولو او په خلقو كي يي اعلان اوكړو چې دده نه علاوه صرف يو كس بل شته كوم چې په دي ګدئ دكيناستو مستحق دى خباب رضي الله عنه تپوس اوكړو هغه كس څوك دى عمر فاروق اووئيل بلال دى خباب اووئيل هغه زما سره برابر څنګه كيدى شي په مشركانو كي خو دده مددګاران وو ليكن دالله نه علاوه په دوئ كي زما هيڅوك مددګار نه وو او بيا يي ددينه پس دخپلو مصيبتونو قصه بيان كړه (مستدرك حاكم).

وفات: دهجرت په ۳۷ كال په كوفه كي بيمار شو او د دوه اويا كالو په عمر كي وفات شو او په دغه وخت كي علي رضي الله عنه دجنګ صفين نه واپس راغلو څنګه چې ورته دده دوفات خبر ورسيدونو فورا حاضر شو او جنازه يي ورباندي اوكړه.

مرويات: دده دمرورياتو شمير ۳۳ دى چې دري په دي كي متفق عليه دي ، او دوه صرف په بخاري كي دي او يو په مسلم كي دى. (طبقات ابن سعد ۱۱۲/۳).

****

٥٥_باب مَنَاقِبِ الْبَرَاءِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه

دبراء بن عازب رضي الله عنه مناقب

نوم براء کنیه ابو عماره او دبنو حارثه سره يې تعلق وو دپلار نوم يې عازب دی دده ماما ابوبرده بن نيار چې بدري صحابي دی په عقبه کې اسلام قبول کړی دی او دهغه په برکت سره دهغه په خاندان کې اسلام خور شو او چې مسلمان شو نو په مدينه کې يې دمصعب بن عمير او ابن ام مکتوم نه قران يادول شروع کړل په بدر کې براء حاضر شوی وو ليکن دماشوم توب په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس کړی وو (بخاري).

عرض دا چې په احد ، خندق، خديبيه، خيبر، او حنين کې يې شرکت کړی وو او دطائف په محاصره حجة الوداع کې يې هم درسول الله صلي الله عليه وسلم ملګرتيا کړي وه تردي چې په پنځلس عزواتو کې شريك شوی دی (مسند احمد).

تواضع او عاجزي او انکساري يې امتيازي صفات دي خپل ځان به يې ناچيز ګڼرلو په کوفه کې يې يو کور جوړ کړی وو او په هغې کې اوسيدو په رواياتو کې به يې ډير احتياط کولو چې دمروياتو شمير يې ۳۰۵ دی ۲۲ متفق عليه دي په احاديثو نقل کولو کې به يې داحتياط په مناسبت ونيل "ماكل الحديث سمعناه من رسول الله صلي الله عليه وسلم كان يحدثنا اصحابنا عنه كانت شغلنا عنه رعية الابل . مسند احمد".

يعني ټول هغه احاديث چې زه بيانوم په هغې کې دا ضروري نه ده چې ټول مې دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي مونږ خو به اوښان څرول نو په دي وجه به هر وخت درسول الله په خدمت کې حاضريدی نشو.

٣٨٥٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا سَيَّارٌ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ، وَعَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَمْ مِنْ أَشْعَثَ أَغْبَرَ ذِي طِمْرَيْنِ لَا يُؤْبَهُ لَهُ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ مِنْهُمُ الْبَرَاءُ بْنُ مَالِكٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځومره بېرسري او په ګرد غبار خړپړ او زړو جامو والا خلق دي چې څوك يې هډو خيال نه ساتي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٤٥، و١١٠١) . و مسند احمد (٣/١٣٥)

او دوئ داسي دي كه په الله تعالى اعتماد اوكړي او قسم اوخوري نو الله تعالى به ددوئ قسم رېښتوني كوي او يو دهغوئ دجملي نه براء بن مالك دي.
امام ترمذي وائي: دا حديث په دي سند حسن صحيح دى.
****

٥٦_باب فِي مَنَاقِبِ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رضى الله عنه

دابو موسى اشعري رضي الله عنه مناقب

اشعري ديوي قبيلي نوم دى كومه چې اشعر ته منسوب ده ددي قبيلي باني شيث بن اود بن يشجب بن يعرب بن قحطان وو او ددي مشهوري قبيلي سره دابو موسى اشعري رضي الله عنه تعلق وو.

جمعوا ماكان عندهم . يعني تمام سامان يې يو خاي ته راجمع كړل، په دي كي داشعريانو ديو عادت بيان دى او هغه دادى چې كله به ددوئ سره خوراك كم شو نو څه چې به ورسره وو تول به يې په يو څادر كي راجمع كړل او بيابه يې برابر پخپل مينځ كي تقسيمول چې په دي ذريعه ديو بل سره تعاون اوكړي .

"فهم مني وانا منهم" يعني هغوئ زما نه دي او زه ددوئ نه يم مطلب دادى چې اشعري قبيلي والاخلق او زه په اخلاقو كي يو شان يو، علامه نووي ليكلي دي ددي مطلب دادى چې دالله تعالى متعلق په مونږ دواړو كي اتفاق او اتحاد دى.

٣٨٥٥_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " يَا أَبَا مُوسَى لَقَدْ أُعْطِيتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيرِ آلِ دَاوُدَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ. (1)

ترجمه : دابوموسى اشعري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي ابو موسى تاته دال داود دخوش اوازيانو نه يوخوش اوازي دركړي شوي ده.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي او په دي باب كي دبريده، ابوهريره، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل القرآن ٣١ (٥٠٣٨) . صحيح مسلم/ المسافرين ٣٤ (٧٩٣) (تحفة الأشراف : ٩٠٦٨)

****

٣٨٥٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَحْفِرُ الْخَنْدَقَ، وَنَحْنُ نَنْقُلُ التُّرَابَ فَيَمُرُّ بِنَا، فَقَالَ: " اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو حَازِمٍ اسْمُهُ: سَلَمَةُ بْنُ دِينَارٍ الْأَعْرَجُ الزَّاهِدُ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. [1]

ترجمه : دسهل بن سعد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ په غزوه خندق كي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چې رسول الله پخپله خندق كنستلو او مونږ به ورنه خاوري چلولي او په مونږ به تير شو او دا كلمات به يي وئيل " اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ " يعني اي الله اصل زندگي خو زندگي داخرت ده پس مغفرت اوكړي ته انصارو او مهاجرينو ته.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دابوحازم نوم سلمه بن دينار دي چې په اعرج او ظاهر مشهور دي او په دي باب كي دانس بن مالك رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٨٥٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: " اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةْ فَأَكْرِمِ الْأَنْصَارَ وَالْمُهَاجِرَةْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. [2]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عيه وسلم به دا كلمات وئيل " اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ " يعني اي الله اصل زندگي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٩ (٣٧٩٥) . والمغازي ٢٩ (٣٠٩٨) . والرقاق ١ (٦٤١٣) (تحفة الأشراف: ٤٧٣٤)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٩ (٣٧٩٥) . والرقاق ١ (٦٤١٣) . صحيح مسلم/الجهاد ٤٣ (١٨٠٥) (تحفة الأشراف: ١٢٤٦)

خو زندګي داخرت ده پس مغفرت اوکړي ته انصارو او مهاجرينو ته

امام ترمذي وائي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او دانس رضي الله عنه نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي

****

٥٧_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ مَنْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَحِبَهُ

فضيلت دهغه چا چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم يي ليدلي وي او دهغوئ په صحبت کې پاتي شوي وي

٣٨٥٨_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ كَثِيرٍ الأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ طَلْحَةَ بْنَ خِرَاشٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تَمَسُّ النَّارُ مُسْلِمًا رَآنِي، أَوْ رَأَى مَنْ رَآنِي". قَالَ طَلْحَةُ: فَقَدْ رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَقَالَ مُوسَى: وَقَدْ رَأَيْتُ طَلْحَةَ، قَالَ يَحْيَى: وَقَالَ لِي مُوسَى: وَقَدْ رَأَيْتَنِي وَنَحْنُ نَرْجُو اللَّهَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ إِبْرَاهِيمَ الأَنْصَارِيِّ، وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْحَدِيثِ، عَنْ مُوسَى هَذَا الْحَدِيثَ. [1]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي دجهنم اور به داسي مسلمان ته اونه رسيږي چې زه يي ليدلي يم او ياي داسي کس ليدلي وي چاچې زه ليدلي يم طلحه راوي وائي ما جابر اوليدلو او موسي وائي ماطلحه اوليدلو او يحي وائي ماته موسي اووئيل تاته بنه معلومه ده چې مونږ تول دالله تعالي نه اميد لرونکي يو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دموسي بن ابراهيم انصاري په سند پيژنو. علي بن المديني او بعضي نورو محدثينو دا حديث دموسي نه نقل کړي دي.

****

٣٨٥٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ هُوَ السَّلْمَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي قَوْمٌ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ تَسْبِقُ أَيْمَانُهُمْ شَهَادَاتِهِمْ أَوْ شَهَادَاتُهُمْ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٨٨)

أَيْمَانَهُمْ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَبُرَيْدَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه عبد الله بن مسعود رضي الله عنهما روايت كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو: زما په زمانه كي چې تاسو كي څوك موجود دي هغه بهترين خلق دي بيابه هغه بهتر وي چې ددی موجودينو نه پس راشي او بيا هغه چې ددوي نه پس وي. بيابه ددوي نه پس داسي خلق راشي چې قسمونه به يي په ګواهئ وركولو مخكي كيږي. او كه داسي يې اوفرمائيل چې شهادتونه به يي په قسمونو مخكي كيږي

امام ترمذي وائي: او په دي باب كي دعمر اوعمران بن حصين اوبريده رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي او داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: "خير الناس قرني" قرن زماني ته ونيلى شي ددي دمقدار په باره كي ډير اقوال دي دبعضو په قول قرن څلويښت كاله وي او دبعضو په قول اتيا كاله وي او دبعضو په قول سل كاله وي او دبعضو په قول دهم عمره خلقو زماني ته قرن وئيلى شي نو په دي اعتبار سره دقرني نه مراد دصحابه كرامو زمانه ده كومه چې تر يوسل شلو كالو پوري وه او بيا دهغي نه پس تر يو سل اويا كالو پوري دتابعينو زمانه وه او بيا دهغي نه پس ددوه سوه شلو كالو پوري بل قرن وو ددي دري قرنونو پوري دبركتونو وخت وو او بيا ددينه پس فتني او بدعتونه شروع شول.

ليكن بعضي اهل علم وائي چې د قرني نه مراد دخلفاء راشدينو دور دی څكه چې د "ق" نه مراد صديق دی او د "ر" نه مراد عمر دی او د "ن" نه مراد عثمان دی او د "ي" نه مراد علي رضي الله عنه دی.

بعضي وايي چې د قرني نه مراد ظرف ندي بلكه مظروف دي يعني هغه اعمال كوم چې ددوئ په زمانه كي كيدل او ددغه زماني عملونه دري دي يعلمهم الكتاب. والحكمة. ويزكيهم. دقران خودل دحكمت خودل او تزكيه دا اعمال چې په هره زمانه كي وي هغه بهترينه زمانه ده اګر كه دا زمانه هره يوه وي

سوال: په داسي حال كي ګواهي وركولو باره كي وعيد راغلى دی كومه چې غوښتلى شوي نه وي او حال دادی چې په يو بل حديث كي بغير دطلب كولو نه ګواهي وركول بهتر عمل ګڼړلی

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشهادات ٩ (٢٦٥٢) . وفضائل الصحابة ١ (٣٦٥١) . والأيمان والنذور ١٠ (٦٦٢٩) . والرقاق ٧ (٦٤٢٩) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٥٢ (٢٥٣٣) . سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٧ (٢٣٦٢) (تحفة الأشراف : ٩٤٠٣) . ومسند احمد (١/٣٧٨، ٤١٧، ٤٣٤)

شوی دی

جواب دواړه احادیث دجدا جدا واقعو متعلق دي. په کوم کي چې دطلب کولو نه بغیر ګواهي ورکول بد ګنړلی شوي دي دهغي مطلب دادی چې ددي ګواه په باره کي هر چاته معلومه ده چې دا ګواه دی خو دی دطلب کولو نه بغیر ورشي خو په دي صورت کي دده ګواهي غیر معتبر وګرخي ، او په کوم کي چې بنه عمل ګنړلی شوی دی دا دهغه وخت خبره ده کله چې واقعه اهمیت لري لیکن دده دګواهۍ چاته پته نه وي او دده دګواهۍ په وجه حق فیصله کیدی شي نو په دي صورت کي دده دپاره تلل او ګواهي ورکول بهتر دي او که دی داسي اونکړي نو دده دګواهۍ نه ورکولو په وجه به ناحقه فیصله اوشي

****

٥٨_باب فِي فَضْلِ مَنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ

دبیعت الرضوان دشرکاؤ دفضیلت بیان

٣٨٦٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ. عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ جَابِرٍ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : جابر ﷺ درسول الله ﷺ نه روایت بیانوي چې نبي علیه السلام فرمائیلي دي داخل به نه شي اور ته هیڅ یو کس دهغه کسانو نه چاچې زماسره دوني لاندي بیعت کړی وي.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دي.

****

٥٩_باب فِيمَنْ سَبَّ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دصحابه کرامو پشان کي دګستاخي کونکو دپاره دوعید بیان

٣٨٦١_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ. قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ. عَنِ الْأَعْمَشِ. قَالَ: سَمِعْتُ ذَكْوَانَ أَبَا صَالِحٍ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي. فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا

---

[1] _ سنن ابي داود/ السنة ٩ (٣٨٥٣) (تحفة الأشراف : ٢٩١٨) ، و مسند احمد (٣/٣٥٠)

نَصِيفَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: نَصِيفَهُ يَعْنِي نِصْفَ الْمُدِّ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چې نبي عليه السلام فرمائيلي دي زما دصحابه كرامو بدمه وايئ زمادي قسم وي په هغه ذات دچاپه اختيار اوقبضه كي چې زماروح دى كه چري يوكس ستاسو داحدد غر برابر سره زرخرچ كړي (بطور صدقه، نوددوي ديومد اودنيمي برابر(په اجر كښي) نشي جوړيدي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او د نصيفه نه مراد نيم دي.

****

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ وَكَانَ حَافِظًا، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (2)

تخريج: انظر ماقبله

ترجمه : ابوصالح دابوسعيد خدري رضي الله عنه په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

٣٨٦٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ أَبِي رَائِطَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ، وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي، وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ، وَمَنْ آذَى اللَّهَ فَيُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.

ترجمه : عبدالله بن مغفل وائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د الله نه اويريږئ او د الله نه اوويريږئ زما دصحابه كرامو په باره كي مه ګرځوئ دوئ لره زما نه پس نشانه او هدف څوك چې دوئ سره محبت كوي هغه زما سره دمحبت كولو په وجه دوئ سره محبت كوي او څوك چې دوئ سره بغض كوي هغه به زما سره دبغض كولو په وجه ددوئ سره بغض كوي او چاچې دوئ ته تكليف اورسولو يقينا چې هغه ماته تكليف اورسولو او چاچې ماته تكليف اورسولو هغه الله تعالي ته تكليف اورسولو او چاچې الله تعالي ته تكليف اورسولو ډيره نزدي

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٥ (٣٦٧٣) ، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٥٤ (٢٥٤١) ، سنن ابي داود/ السنة ١١ (٤٦٥٨) (تحفة الأشراف : ٤٠٠١) ، و مسند احمد (٣/١١)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٦٦٣) ، و مسند احمد (٤/٨٧)

ده چې الله تعالى به يې اونيسي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو.

****

۳۸٦۳_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ السَّمَّانُ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ خِدَاشٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مَنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خامخا به جنت ته داخليږي هغه څوك چې دوني لاندي په بيعت كي شريك شوي وو مګر خاوند دسور اوښ والابه نه داخليږي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

****

۳۸٦٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْكُو حَاطِبًا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيَدْخُلَنَّ حَاطِبٌ النَّارَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا، فَإِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَالْحُدَيْبِيَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دحاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه غلام دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او دحاطب نه يې شكايت شروع كړو ونيل يې چې اي دالله رسوله حاطب به ضرور جهنم ته ځي رسول الله ورته اوفرمائيل دروغ دي اووئيل هغه به جهنم ته نه ځي ځكه چې هغه په بدر او حديبيه دواړو كي شريك وو
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۸٦٥_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ نَاجِيَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ أَبِي طَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي يَمُوتُ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۲۷۰۲)

2 _ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۳٦ (۱٦۲/۲۴۹۵) (تحفة الأشراف: ۲۹۱۰)

بِأَرْضٍ إِلَّا بُعِثَ قَائِدًا وَنُورًا لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمٍ أَبِي طَيْبَةَ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَهُوَ أَصَحُّ. (١)

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي زما په صحابه كرامو كي چې څوك په هره زمكه مړ كيږي هغه به دقيامت په ورځ ددغه سرزمين والا خلقو پيشوا وي او ددوئ دپاره به دنور په شكل كي راپورته كيږي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي داحديث د عبدالله بن مسلم ابوطيبه نه مروي دي او هغه دبريده رضي الله عنه دخوي په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي او داسند زيات صحيح دي.

دبريده رضي الله عنه مناقب

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله.

كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كي حاضر شو او رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دى فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان په اسلام كي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كي يي هم شركت كړى دى (اسد الغابه).

او په فتح مكه كي يي هم ملګرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كي شريك پاتي شوى دى (بخاري كتاب المغازي).

كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشرئ كي اخر لښكر تيار كړو نو په دي كي هم شريك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چې دده په رګ رګ كي دجهاد جذبي توپونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كي ليدله (طبقات ابن سعد).

ديزيد په زمانه كي دهجرت په ۶۳ كال وفات شو چې دمروياتو شمير يي ۱۶۴ دى يو متفق عليه دى او دوه په بخاري كي دي يولس په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

****

(١) ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٨٣)

٦٠_بَابٌ

دسابقه باب متلق يو بل باب

٣٨٦٦_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا سَيْفُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِينَ يَسُبُّونَ أَصْحَابِي فَقُولُوا: لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى شَرِّكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالنَّضْرُ مَجْهُولٌ، وَسَيْفٌ مَجْهُولٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې تاسو داسي خلق اووينئ څوك چې زما صحابه كرامو ته بد رد وائي نو تاسو ورته اووائي چې ستاسو په شر دي دالله لعنت وي.

امام ترمذي وائي: داحديث منكر دي مونږ يي دعبيدالله بن عمر په روايت صرف په همدي سند پيژنو، نضر او سيف دواړه مجهول روايان دي.

****

٦١_باب فَضْلِ فَاطِمَةَ بِنْتِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِمَا وَسَلَّمَ

دفاطمه رضي الله عنها دمناقبو بيان

ارشاد نبوي دي: اى فاطمى ايا ته په دي خبره خوشحاله نه يي چې ته به دجنت دښځو سرداره يي؟ ددي حديث نه علماؤ استدلال كړى دى چې فاطمه رضي الله عنها په ټولو ښځو كي افضله وه امام سيوطي وائي بعضي علماؤ عائشه رضي الله عنها افضله ګرځولى، وه ليكن په دي كي دري مذاهب دي او صحيح ترمذهب هم دادى چې فاطمه رضي الله عنهادعائشى نه افضله ده او دبعضو په نزد دواړه يو برابر دي، او بعضو علماؤ خاموشي اختيار كړي ده، يو خل دامام مالك نه تپوس اوشو چې فاطمه رضي الله عنها افضله ده او كه عائشه امام مالك اوفرمائيل فاطمه افضله ده ځكه چې دا درسول الله دغوښو تكړه ده او زه درسول الله په غوښتو هيچاته فضيلت نه وركوم ليكن علامه سيوطي وائي دټولو ښځو نه افضله دفاطمه رضي الله عنها مور خديجه رضي الله عنها ده او بيا عائشه ده، بعضي علماؤ خديجه افضل ګرځولى ده او بعضو عائشه بهر حال دا ټولي جليل القدر زنانه دي او هري يوي ته دخپل حيثيت په اعتبار خصوصيت حاصل دى.

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٤١٣)

په حفظ حديث كې د زنانوو كارنامه

په دې ميدان كې ښځو هم د سړو سره مقابله كړې ده په ښځو كې هم يوه دوه نه بلكه په زرګونو ښځې دي چې هغه احاديث نبوي په حفظ باندې ياد كړي وو. امام ذهبي په تذكرة الحفاظ كې د حافظات حديث نومونه ليكلي دي :

(۱) اسماء بنت امير المؤمنين ابي بكر صديق رضي الله تعالىٰ عنهما.
(۲) ام المومنين جويريه بنت حارث مصطلقيه رضي الله تعالىٰ عنهما
(۳) ام المومنين حفصه بنت عمر بن الخطاب رضي الله تعالىٰ عنهما
(۴) ام المومنين ام حبيبه رمله بنت ابوسفيان امويه رضي الله تعالىٰ عنهما
(۵) ام المومنين زينب بنت جحش اسديه رضي الله تعالىٰ عنهما
(۶) زينب بنت ابوسلمه مخزوميه رضي الله تعالىٰ عنها
(۷) فاطمه بنت رسول صلي الله عليه وسلم
(۸) ميمونه رضي الله تعالىٰ عنها
(۹) ام عطيه نسيبه انصاريه رضي الله تعالىٰ عنها
(۱۰) ام المومنين ام سلمه هند مخزوميه رضي الله عنها
(۱۱) ام حرام بنت ملحان انصاريه رضي الله تعالىٰ عنها
(۱۲) د ام حرام خور ام سلمه رضي الله تعالىٰ عنها
(۱۳) ام هاني بنت ابو طالب رضي الله تعالىٰ عنها-(تذكرة الحفاظ ۱/ ۴۵) رساله معارف ۳۵۱ بابت ماه مئ. دارنګي رسالة الابقاء ۱۷ بابت ماه رمضان ۱۳۵۷ هجري

عائشې رضي الله تعالىٰ په كور كې يوه پرده زوړنده كړې وه چې د هغې نه شاته به هغې خلقو ته د احاديثو تعليم فرمائيلو - د قاهره مشهور محدثه نفيسې به خلقو ته د احاديثو درس وركولو چې د هغې د درس نه امام شافعي هم فائده واخسته - (كتاب الاموال ۵۱۵)

د بخاري په مشهور نسخو كې يوه نسخه د احمد د لور كريمې ده چې دا د خپل وخت استاذ حديث وه. د شپږمې صدي د مشهور محدث علي ابن عساكر په استاذانو كې زيات مقدار ښځې استاذه دي - علامه ذهبي ليكلي دي چې ام احمد زينب به تر څلور اتيا كالو پورې د احاديثو درس وركولو . ددې نه علاوه فرمائي "وازدحم عليها الطلبة" (العبر ۵ / ۳۵۸) په دې باندې به د طلباؤ ازدحام او ګڼړه وه.

ددې نه علاوه د ام عبد الله زينب كمال الدين په باره كې ليكي "وتكاثروا عليها وتفردت وروت كباراً رحمها الله " (العبر ۵/۲۱۳) په هغې باندې به د طلبانو ګڼړه وه هغه په ډيرو احاديثو روايت كولو كې منفرده وه هغې د احاديثو د لويو لويو كتابونو درس وركولو -

٣٨٦٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: "إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُونِي فِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، فَلَا آذَنُ، ثُمَّ لَا آذَنُ، ثُمَّ لَا آذَنُ، إِلَّا أَنْ يُرِيدَ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنْ يُطَلِّقَ ابْنَتِي وَيَنْكِحَ ابْنَتَهُمْ، فَإِنَّهَا بَضْعَةٌ مِنِّي يَرِيبُنِي مَا رَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ نَحْوَ هَذَا. [1]

ترجمه: دمسور بن مخرمه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دَرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي په منبر يې فرمائيل دهشام بن مغيره خامنو زما نه اجازت غوښتلي دي چې خپله لور علي ته په نکاح ورکړي نو زه ددې اجازت نه ورکوم ، زه ددې اجازت نه ورکوم، زه ددې اجازت نه ورکوم، مګر که علي زما لور ته طلاق ورکول غواړي نو طلاق دې ورکړي او دهغوئ سره دې رشته اوکړي ځکه چې زما لور زما دجسم ټکړه ده په ما هغه څيز بد لګي کوم چې په هغې بد لګي او ماته هغه څيز تکليف رارسوي کوم چې هغې ته تکليف رسوي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دې دا روايت عمرو بن دينار په همدې مضمون دابن ابي مليکه نه او هغه دمسور بن مخرمه نه نقل کړې دې.

****

٣٨٦٨_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ جَعْفَرٍ الْأَحْمَرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كَانَ أَحَبَّ النِّسَاءِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةُ، وَمِنَ الرِّجَالِ عَلِيٌّ". قَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ، يَعْنِي مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه: دبريده رضي الله عنه بيان دې فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په ښځو کې دهرچانه زيات محبوب فاطمه رضي الله عنها وه او په سړو کې ورته زيات محبوب علي

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الخمس ٥ (٣١١٠) . وفضائل الصحابة ٢٩ (٣٧٦٧) . والنكاح ١٠٩ (٥٢٣٠) . والطلاق ١٣ (٥٢٧٨) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٣٨٣) . سنن ابي داود/ النكاح ١٣ (٢٠٧١-٢٠٦٩) . سنن ابن ماجه/النكاح ٥٦ (١٩٩٨) (تحفة الأشراف : ١١٢٦٧) . ومسند احمد (٣/٣٢٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٩٨١)

رضي الله وو. ابراهيم بن سعد وائي يعني په اهل بيتو كي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

تشريح: د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اولاد بيان

١ د رسول الله صلي الله عليه وسلم په اولاد كي د يو بچي نوم قاسم دى د رسول الله صلي الله عليه وسلم اسم كنيه ابو القاسم دده د نوم نه وه.

٢ عبدالله، دده دوه لقبونه طيب او طاهر وو، اوپه يو روايت كي دي طيب او طاهر جدا جدا وو.

٣ د رسول الله صلي الله عليه وسلم څلور لونړه وي زينب، رقيه، ام كلثوم. فاطمة الزهراء، او فاطمه رضي الله عنها يي په ټولو كي كشرئ لور وه، د رسول الله خامن په ماشوم توب كي وفات شوي وو ليكن لونړه يي لوي عمر ته رسيدلي وي، او ټولو اسلام هم راوړى وو، رضي الله عنهن اجمعين.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم تمام اولاد د ام المؤمنين خديجة الكبري رضي الله عنها د بطن نه وو، البته د ماريه قبطيه د بطن نه ابراهيم [1] پيدا شوى وو. څوك چي د ولادت په ورځ وفات شو. اود يو قول مطابق چي كله اوه مياشتو ته ورسيدواود بل قول مطابق چي اتلس مياشتو ته ورسيدو نو وفات شو.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم تمام اولاد وفات د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي شوي وو، علاوه د فاطمه رضي الله عنها نه څكه چي داد رسول الله صلي الله عليه وسلم د وفات نه شپږ مياشتي پس وفات شوه.

د زينب [2] بنت رسول الله ﷺ عقد د ابو العاص سره شوي وو چي د علي په نوم يو خوي ورنه پيدا شوي وو، او په ماشوموالي كي وفات شوي وو، اود امامه په نوم يوه لور هم وه چي څواني ته ورسيدو نه پس د فاطمه رضي الله عنها دوفات نه پس علي رضي الله عنه په نكاح كړه، او كله چي علي رضي الله عنه وفات شو نو د مغيره بن نوفل ابن الحارث سره يي نكاح وشوه چي د يحي په نوم يو خوي يي پيدا شو.

فاطمة الزهراء رضي الله عنها د علي رضي الله عنه په نكاح كي وه چي د بطن مبارك نه يي حسن [3] او حسين او محسن دري خامن او رقيه، زينب، ام كلثوم دري لونړه پيدا شوي او

---

[1] د ابراهيم پيدائش په اتم ذي الحجة ٨ هجري كي شوى دى (قرة العيون حصه چهارم جلد اول)
[2] دا بي بي په ٨ هجري كي وفات شوي ده.
[3] د حسن پيدا ئش نصف رمضان دريم هجري كي شوى دى (قرة العيون حصه دوم جلد اول)، اود حسين پيدائش ۴ يا ۵ شعبان ۴ هجري كي شوى دى (قرة العيون حصه دوم جلد اول)

محسن په ماشوم والي کي وفات شو او رقيه هم بلوغ ته د رسيدو نه مخکي وفات شوه ، اود زينب عقد د عبد الله بن جعفر سره وشو ، اود علي په نوم يو خوي ورنه پيدا شو ، چي د خاوند په ورانډي وفات شو ، د ام کلثوم عقد د امير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه سره وشو ، اود زيد په نوم يو خوي ورنه پيدا شو ، اود عمر فاروق نه پس ددي نکاح دعبدالله بن جعفر سره وشوه ، او رقيه درسول الله د زړه ټوکري عقد د امير المؤمنين عثمان بن عفان رضي الله عنه سره شوي وو ، چي دعبدالله په نوم يوخوي ورنه پيدا شو او په ماشوموالي کي وفات شو ، اوپه کومه ورځ چي زيد بن الحارث د جنګ بدر دفتح کيدو خوشخبري مديني ته راوړله نو په همدغه ورځ رقيه رضي الله عنها وفات شوه درقيه د وفات نه پس چي کله عثمان رضي الله عنه د ام کلثوم [1] رضي الله عنها سره عقد وکړو نو دا هم شپږ مياشتي پس د عثمان رضي الله عنه په ورانډي وفات شوه .

دعثمان رضي الله عنه دعقد نه مخکي رقيه رضي الله عنها دعتبه بن ابي لهب په نکاح کي وه.

ف: د اسلام په ابتداء کي د مسلمانانو او مشرکينو يو بل سره مناکحت جائز وو ، وروسته چي کله ايت لاهن حل لهم ولا هم يحلون لهن نازل شو نو د مشرکانو سره د مسلمانانو نکاح حرامه کړی شوه او همدا حکم د هميشه دپاره باقي پريښودلی شو. (سيرت الرسول).

****

. ٣٨٦٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل ابْنُ عُلَيَّةَ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ. أَنَّ عَلِيًّا ذَكَرَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ. فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " إِنَّمَا فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي يُؤْذِينِي مَا آذَاهَا، وَيُنْصِبُنِي مَا أَنْصَبَهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. هَكَذَا قَالَ أَيُّوبُ. عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ. وَقَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ: عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ. وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ رَوَى عَنْهُمَا جَمِيعًا. [2]

ترجمه دعبدالله بن زبير رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي علي رضي الله عنه دابوجهل دلور ذکر اوکړو نو ددي خبري خبر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورسيدو رسول الله اوفرمائيل فاطمه زما دجسم ټکړه ده کوم څيز چي ماته تکليف رارسوي هغه څيز هغي ته هم تکليف رسوي اوهغه څيز ما په مشقت کي اچوي کوم چي هغي لره په مشقت کي غورځوي.

---

[1] د ام کلثوم سره عقد په ٣ هجري کي وشو.

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٢٨١)

امام ترمذي وائي. داحديث حسن صحيح دي ددي پشان روايت ابوايوب دابي مليكه نه او هغه دابن زبير نه نقل کړي دي مګر متعدد دو راويانو دابن ابي مليکه په واسطه دمصور بن مخرمه نه نقل کړي دي (لکه چې مخکني حديث کي تير شول). او ممکن ده چي ابن ابي مليکه ددواړو نه نقل کړی وي.

عبدالله بن زبير رضي الله عنهما مناقب

نوم عبدالله کنيه ابو حبيب ، ابوبکر. او ابو خبيب دپلار نوم يي زبير وو او دمور نوم يي اسماء او لقب يي ذات النطاقين وو چې دهجرت په ړومبي کال پيدا شوی دی په مهاجرينو کي دا اولنی ماشوم پيدا شوی وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په طور دتبرك کجوره په خوله کي اوچوپله او بيا يي دده په خوله کي واچوله .

داوه کالو په عمر کي يي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره بيعت کړی دی (مستدرك حاكم).

دټولو نه ړومبی هغه جنګ چې عبدالله بن زبير پکي شريك شوی وو غزوه يرموك ده (الاصابه) او چې په دي جنګ کي کومه توره دده لاس ته ورغلي وه نو دا توره يي دمرګه پوري يي دلاس نه کوزه نکړه عبدالله بن زبير دديرو ژبو ماهر وو او دډيرو غلامانو مالك وو چې مختلفي ژبي به يي وئيلي عبدالله بن زبير به ددوئ ټولو سره ددوئ په مورنئ ژبو کي خبري کولي (تاريخ الخلفاء سيوطي).

وفات. په ۷۲هجري کي په ذي قعد کي عبدالملك بن مروان حجاج بن يوسف دعبدالله بن زبير مقابلي ته اوليږلو او پدغه وخت کي يي په حرم کي پناه اخستلي وه دډيرو ورځو پوري په حرم کي دمحاصري په حال کي پروت وو او دډيرو مياشتو پوري ورباندي داور او کاڼوخطرناك بارانونه کيدل خو اخر دا چي په ۷۳هجري جماد الثاني کي وفات شو دمرواياتو شمير يي ۳۳دی چې دوه په دي کي متفق عليه دي او شپږ په بخاري کي او دوه په مسلم کښي.

****

۳۸۷۰_حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ الْبَغْدَادِيُّ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ قَادِمٍ. حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ نَصْرٍ الْهَمْدَانِيُّ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ صُبَيْحٍ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ، وَفَاطِمَةَ، وَالْحَسَنِ، وَالْحُسَيْنِ: " أَنَا حَرْبٌ لِمَنْ حَارَبْتُمْ، وَسَلْمٌ لِمَنْ سَالَمْتُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَصُبَيْحٌ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ. ([1])

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٤٥) (تحفة الأشراف : ٣٦٦٣)

ترجمه : دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم علي، فاطمه، حسن، او حسين رضي الله عنهم ته اوفرمائيل زه جنګيدونكي يم دهغه چاسره چې تاسو ورسره جنګيږئ او صلح كونكي يم دهغه چا سره دچاسره چې تاسو ورسره صلح كوئ.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او دام سلمه ازاد كړي غلام صبيح معروف راوي نه دي.

****

٣٨٧١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَّلَ عَلَى الْحَسَنِ، وَالْحُسَيْنِ، وَعَلِيٍّ، وَفَاطِمَةَ كِسَاءً، ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ هَؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِي وَخَاصَّتِي أَذْهِبْ عَنْهُمُ الرِّجْسَ، وَطَهِّرْهُمْ تَطْهِيرًا". فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: وَأَنَا مَعَهُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "إِنَّكِ إِلَى خَيْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ، وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَأَبِي الْحَمْرَاءِ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَعَائِشَةَ. (١)

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم حسن، حسين، علي، فاطمه ديو څادر لاندي كينول او ويي فرمائيل :«اللهم هؤلاء أهل بيتي وخاصتي أذهب عنهم الرجس وطهرهم تطهيرا» يعني اي الله دا زما اهل بيت او زما ملګري دي ته ددوئ نه ګندګي لري كړي او په ښه شان سره دوئ پاك كړي ام سلمه رضي الله عنها اوونيل زه خو هم ددوئ سره يم اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل ته هم په خير باندي يې.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي په دي باب كي چې څومره احاديث مروي دي دا روايت په هغو ټولو كي بهتر دي، په دي باب كي دعمر بن ابي سلمه، انس بن مالك، ابوالحمراء، معقل بن يسار، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٨٧٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ مَيْسَرَةَ بْنِ حَبِيبٍ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: " مَا رَأَيْتُ أَحَدًا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف، وانظر ماتقدم برقم ٣٢٠٥، و٣٧٨٧ (تحفة الأشراف : ١٨١٦٥)

أَشْبَهَ سَمْتًا، وَدَلًّا ، وَهَدْيًا بِرَسُولِ اللَّهِ فِي قِيَامِهَا، وَقُعُودِهَا مِنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَتْ: وَكَانَتْ إِذَا دَخَلَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ إِلَيْهَا فَقَبَّلَهَا، وَأَجْلَسَهَا فِي مَجْلِسِهِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ عَلَيْهَا قَامَتْ مِنْ مَجْلِسِهَا فَقَبَّلَتْهُ وَأَجْلَسَتْهُ فِي مَجْلِسِهَا، فَلَمَّا مَرِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَتْ فَاطِمَةُ فَأَكَبَّتْ عَلَيْهِ، فَقَبَّلَتْهُ، ثُمَّ رَفَعَتْ رَأْسَهَا، فَبَكَتْ، ثُمَّ أَكَبَّتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ رَفَعَتْ رَأْسَهَا فَضَحِكَتْ، فَقُلْتُ: إِنْ كُنْتُ لَأَظُنُّ أَنَّ هَذِهِ مِنْ أَعْقَلِ نِسَائِنَا فَإِذَا هِيَ مِنَ النِّسَاءِ، فَلَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ لَهَا: أَرَأَيْتِ حِينَ أَكْبَبْتِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَفَعْتِ رَأْسَكِ، فَبَكَيْتِ، ثُمَّ أَكْبَبْتِ عَلَيْهِ، فَرَفَعْتِ رَأْسَكِ، فَضَحِكْتِ، مَا حَمَلَكِ عَلَى ذَلِكَ ؟ قَالَتْ: إِنِّي إِذًا لَبَذِرَةٌ أَخْبَرَنِي أَنَّهُ مَيِّتٌ مِنْ وَجَعِهِ هَذَا، فَبَكَيْتُ، ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي أَسْرَعُ أَهْلِهِ لُحُوقًا بِهِ، فَذَاكَ حِينَ ضَحِكْتُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَائِشَةَ. (1)

ترجمه دام المومنين عائشه رضي الله عنهانه روايت دی فرماني چې ما دفاطمې رضي الله عنهانه علاوه بل څوك دنبي عليه السلام سره په چال چلن اوخبرو او ناسته ولاړه کې مشابه ندی ليدلی هغه چې به کله نبي عليه السلام ته راتله نونبي عليه السلام به پاڅيدو اوخکل به يې کړه اوپخپل ځايی به يی کينولو ، اوهمدارنګي کله چې به نبي عليه السلام فاطمې رضي الله عنها ته لاړو نوهغه به هم پاڅيده اوپخپل ځايی باندي به يی کينوله. کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شو نو فاطمه راغله او په رسول الله راټيټه شوه او خکل يې کړو او بيا يې سر پورته کړو او په ژړا شوه ، او بيا وورباندي راټيټه شوه او بيا يې سر پورته کړو او ويې خندل . ما دا ګمان کولو چې دا زمونږ په ښځو کې د ټولول نه زياته عقل منده ښځه مګر دلته د يوي عامي ښځي پشان وليدلي شوه هر کله چې رسول الله وفات شو ما ورته ووئيل يو ځل تا داسي کار کړي وو چې په رسول الله راټيټه شوي او ودي ژړل او سر دي پورته کړو خو بيا ورباندي راټيټه شوي او چې سر دي پورته کړو نو ودي خاندل ددي کار څه وجوهات دي؟ راته يي ووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم چې ما ته خبر راکړو چې زه به په همدي درد کي وفات کيږم نو ما وژړل ، خو چې کله يي خبر راکړو چې په ټول خاندان کي ته په ما پسي زر راتلونکي يي نو ما بيا ونخاندل پس خما د خاندلو وجه همدا ده.

امام ترمذي واني: داحديث په دي سند حسن غريب دي او دعائشه رضي الله عنها نه په متعددو سندونو مروي دي.

1 ـ سنن ابي داود/ الأدب ١٥٥ (٥٢١٧) (تحفة الأشراف: ١٧٨٨٣)

تشريح: دلته دقيام تعظيمي مسئله وضاحت طلب ده ددي دجواز اود عدم جواز متعلق روايات متعارض دي په پورتني حديث كي جواز معلوم شو چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم بنوقريظة قبيلي والاخلقوته وونيل چې ,,قوموا الى سيدكم ،، يعني خپل سردار سعد رضي الله ته دهغه دعزت دپاره پاځئ ، اودعدم جوازپه باره كي هم امام ابوداود باب قائم كړي دي اوروايات ئي ذكركړي دي چې يودهغوي نه دادي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَكِّئًا عَلَى عَصًا فَقُمْنَا إِلَيْهِ فَقَالَ لَا تَقُومُوا كَمَا تَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهَا بَعْضًا(باب قيام الرجل للرجل). يعني دعجميانويشان خلقوته مه پاځئ ددي روايت نه ممانعت معلوم شو په دواړو روايتونو كي دتطبيق صورت دادي چې كله راتلونكي دقيام خواهشمند وي چې خلق دي ورته پاخي نوبيا ودريدل ممنوع دي ، اوكه چري راتلونكي دخان دپاره دخلقود دودريدو خواهش نه لري او بد يي ګني نوپاڅيدل دمحبت دزياتيدو اود راتلونكي داكرام په وجه جائز دي. هذا ماعندي والله اعلم بالصواب.

****

٣٨٧٣ـ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ. قَالَ: حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، عَنْ هَاشِمِ بْنِ هَاشِمٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ وَهْبٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فَاطِمَةَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا، فَبَكَتْ، ثُمَّ حَدَّثَهَا، فَضَحِكَتْ. قَالَتْ: فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا عَنْ بُكَائِهَا وَضَحِكِهَا. قَالَتْ: " أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَمُوتُ، فَبَكَيْتُ، ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ ابْنَةَ عِمْرَانَ فَضَحِكْتُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دام سلمه رضي الله عنها بيان دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دفتح مكي په كال فاطمه رضي الله عنها راوغوښتله او په غوږ كي يي ورته څه اوونيل فاطمي چې واوريدل نو په ژړا شوه خوبيا ورته رسول الله كومه بله خبره هم وكړه چې دهغي په اوريدو سره يي اوخاندل مګر كله چې رسول الله وفات شو نوماد فاطمي نه ددي دژړا او بيا دخاندلو دسبب تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل رسول الله اول ماته دا فرمائيلي وو ديره نژدي ده چې زه به وفات شم ماچې دا واوريدل نو اومي ژړل خوبيايي چې اوفرمائيل علاوه د مريم بنت عمران نه ته به دتمامو جنتي ښځو سرداره يي پس دا چې مي واوريدل نو اومي خاندل.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (وهو عند الجماعة من حديث فاطمة نفسها) (تحفة الأشراف: ١٨١٨٤)

امام ترمذي وايي دا روايت په دي سند غريب حسن دی.

****

٣٨٧٤ـ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ أَبِي الْجَحَّافِ، عَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ التَّيْمِيِّ، قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ عَمَّتِي عَلَى عَائِشَةَ، فَسُئِلَتْ: أَيُّ النَّاسِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: "فَاطِمَةُ". فَقِيلَ: مِنَ الرِّجَالِ؟ قَالَتْ: "زَوْجُهَا إِنْ كَانَ مَا عَلِمْتُ صَوَّامًا قَوَّامًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَأَبُو الْجَحَّافِ اسْمُهُ: دَاوُدُ بْنُ أَبِي عَوْفٍ، وَيُرْوَى عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْجَحَّافِ وَكَانَ مَرْضِيًّا. (1)

ترجمه: دجميع بن عمير تميمي بيان دي فرمائي چې زه دخپلي ترور سره عائشه رضي الله عنها ته راغلم نو تپوس يي ورنه اوکړو په خلقو کي زيات محبوب رسول الله صلي الله عليه وسلم ته څوك وو په جواب کي يي اوونيل فاطمه، بيايي تپوس اوکړو په سړو کي څوك وو په جواب کي يي اوونيل دهغي خاوند يعني علي او ماته ډيره ښه معلومه ده چې هغه ډير لوي روژه دار او تهجد ګذار انسان وو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي دابو حجاف نوم داود بن ابي عوف دي، اودسفيان ثوري نه د عن ابي الحجاف په ځاي باندي داسي مروي دي "حدثنا ابوالحجاف وكان مرضيا".

****

٦٢ـ باب فَضْلِ خَدِيجَةَ رضى الله عنها

دام المؤمنين خديجة الكبري رضي الله عنها مناقب

عن عبد اللهِ بن أَبِي أَوفى رضي الله عنهما: أَنَّ رسول الله ﷺ بَشَّرَ خَدِيجَةَ رضي اللهُ عنها بِبَيْتٍ في الجَنَّةِ مِن قَصَبٍ، لاَ صَخَبَ فِيهِ، وَلاَ نَصَبَ. متفقٌ عَلَيْهِ.

ابوابراهيم يا أبو محمد يا ابو معاويه عبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ام المومنين خديجة الكبري رضي الله عنها ته په جنت کي ديو محل خوشخبري ورکړه چې په هغی کي به نه څه چغی سوری وي او نه څه قسمه سرګرداني.

"قصب" هغه ملغلره چې مينځ يی خالي وي "صخب" چغی سوری "نصب" سرګرداني ستړی والی.

په دي حديث کي دام المومنين خديجه رضي الله عنها يوڅو فضائل بيان شوي دي يو فضيلت

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٠٥٣)

يي دادی چې دادنبي کريم صلي الله عليه وسلم په ټولو بيبيانو کي ړومبۍ بي بي وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم دابراهيم څوي نه علاوه تمام اولاد ددينه پيداشوی دی اورسول الله صلي الله عليه وسلم ددي په موجودګۍ کي دهيڅ چاسره نکاح نه وه کړي.

"بشر خديجة رضي الله عنها" يعني په دنيا کي خديجه رضي الله عنها ته دجنت بشارت ورکړی شو. ليکن ددي سره سره په دي روايت کي ددي په جنت کي دخصوصياتو بيان هم شوی دی لکه د قصب کيدل، يعني داسي ملغلري به ورسره وي چې په مينځ کي به سورۍ وي چې دنته به پکي محل جوړشوی وي او په جنت کي به يي داسي مقام وي چې شور شغب به پکي نه وي په خلاف ددنيا چې دلته خو به لازما دا څيزونه اوريدلی شي مګر په جنت کي به سکون وي او هيڅ قسم بي ارامي به نه وي.

علماؤ ليکلي دي چې خديجه رضي الله عنها ډيره عبادت ګذاره او پرهيزګاره وه او په نبي کريم صلي الله عليه وسلم يي دټولو نه مخکي ايمان راوړی وو او په دين يي خپل مال خرچ کړی وو.

"وربما ذبح شاة" يعني چې کله به يي ګډ ذبح کړو نو دهغي غوښه به يي دخديجي دهمزولو او ملګرو کره ليږله دا ورسره درسول الله صلي الله عليه وسلم محبت وو چې دهغي دوفات نه پس يي هم دهغي دهمزولو سره صله رحمي کوله دهغي يو فضيلت دا هم دی چې درسول الله صلي الله عليه وسلم تمام اولاد دهغي دخيټي نه پيدا دی ليکن علاوه د ابراهيم نه کوم چې دماريه نه پيداشوی وو

خديجه رضي الله عنها درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ۲۴ کلونه او شپږ يا پنځه مياشتي تيري کړي وي او ددي په موجودګۍ کي رسول الله صلي الله عليه وسلم کومه بله نکاح نه وه کړي

امام سيوطي وائي بعضي علماؤ عائشه رضي الله عنها افضله ګرځولی وه ليکن په دي کي دري مذاهب دي او صحيح ترمذهب هم دادی چې فاطمه رضي الله عنهادعائشي نه افضله ده او دبعضو په نزد دواړه يو برابر دي، او بعضو علماؤ خاموشي اختيار کړي ده، يو ځل دامام مالك نه تپوس اوشو چې فاطمه رضي الله عنها افضله ده او که عائشه امام مالك اوفرمائيل فاطمه افضله ده ځکه چې دا درسول الله دغوښو ټکړه ده او زه درسول الله په غوښو هيڅاته فضيلت نه ورکوم ليکن علامه سيوطي وائي دټولو ښځو نه افضله دفاطمه رضي الله عنها مور خديجه رضي الله عنها ده او بيا عائشه ده، بعضي علماؤ خديجه افضل ګرځولی ده او بعضو عائشه بهر حال دا ټولي جليل القدر زنانه دي او هري يوي ته دخپل حيثيت په اعتبار خصوصيت حاصل دی.

٣٨٧٥_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ، وَمَا بِي أَنْ أَكُونَ أَدْرَكْتُهَا وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِكَثْرَةِ ذِكْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهَا، وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِهَا صَدَائِقَ خَدِيجَةَ فَيُهْدِيهَا لَهُنَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه. دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما دهيچا متعلق دومره ارمان نه دي کړي څومره چې مي د ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها متعلق کړي وو، او که ما هغه موندلي وي نو زما به څه حال وو، او ددي وجه دا وه چې رسول الله به هغه ډيره ډيره ياودله ، که رسول الله به چرته چيلئ هم ذبح کړه نو د خديجي دوستانو ته به يي د تحفي په طور ليږله.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٨٧٦_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " مَا حَسَدْتُ أَحَدًا مَا حَسَدْتُ خَدِيجَةَ، وَمَا تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا بَعْدَ مَا مَاتَتْ، وَذَلِكَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَّرَهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، مِنْ قَصَبٍ قَالَ: إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ قَصَبَ اللُّؤْلُؤِ. (2)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما دهيچا متعلق دومره ارمان نه دي کړي څومره چې مي د ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها متعلق کړي وو چنانچې ماسره خو نکاح هم رسول الله هغه وخت کي کړي وه کله چې خديجه وفات شوي وه او دهغي دمقام دارمان کولو وجه دا وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم هغي ته په جنت کي ديو داسي کور زيري ورکړي وو په کوم کي چې به نه شورشرغب وي او نه به دتکليف او ضرر رسونکو خبرو اوريدل دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او د "من قصب" نه مراد دملغلرو بانړسونه دي.

---

1 ـ انظر حديث رقم ٣٠١٧

2 ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٦١٣٢)

لغات: "قصب" هغه ملغلره چې مينځ يې خالي وي "صخب" چغې سورى "نصب" سرگرداني ستړې والى

«القصب» هغه ملغلري چې په مينځ كې تشې وي مصدر دي دضرب نه «سخب» شور شغب په مجردو كې دسمع باب نه مستعمل دي «نصب» ستړي كيدل ، باب سمع «النصب» ودرولى شوي علامه جمع يي انصاب راځي

تشريح : په دي حديث كي دام المومنين خديجه رضي الله عنها يوځو فضائل بيان شوي دي يو فضيلت يي دادى چې دادنبي كريم صلي الله عليه وسلم په ټولو بيبيانو كي ړومبۍ بي بي وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم دابراهيم څوي نه علاوه تمام اولاد ددينه پيداشوى دى اورسول الله صلي الله عليه وسلم ددي په موجودگۍ كي دهيچاسره نكاح نه وه كړي.

"بشرها ببيت في الجنة" يعني په دنيا كي يي خديجه رضي الله عنها ته دجنت بشارت وركړو، ليكن ددي سره سره په دي روايت كي ددي په جنت كي دخصوصياتو بيان هم شوى دى لكه د قصب كيدل، يعني داسي ملغلري به ورسره وي چې په مينځ كي به سورۍ وي چې دننه به پكي محل جوړشوى وي او په جنت كي به يي داسي مقام وي چې شور شغب به پكي نه وي په خلاف ددنيا چې دلته خو به لازما دا ځيزونه اوريدلى شي مگر په جنت كي به سكون وي او هيڅ قسم بي ارامي به نه وي.

****

٣٨٧٧_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ. عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ. قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " خَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَخَيْرُ نِسَائِهَا مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ. وَابْنِ عَبَّاسٍ. وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرماني چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ددنيا په ښځو كي دټولو نه بهتره ښځه (پخپله زمانه كي) خديجه بنت خويلد وه او مريم بنت عمران وه.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دانس، ابن عباس، عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٤٥ (٣٤٣٢) ، وفضائل الأنصار ٢٠ (٣٨١٥) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٢ (٢٤٣٠) (تحفة الأشراف : ١٠١٦١)

****

٣٨٧٨_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ زَنْجُوَيْهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " حَسْبُكَ مِنْ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ: مَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ، وَخَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ، وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كافي دي ستاسو دپاره دټول جهان په ښځو كي ځلور ښځي مريم بنت عمران، خديجه بنت خويلد، فاطمه بنت محمد، او دفرعون ښځه اسيه.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي.

****

٦٣_باب فَضْلِ عَائِشَةَ رضی الله عنها

دعائشه رضي الله عنها دمناقبو بيان

نوم عائشه صديقه لقب حميراء كنيه ام عبدالله د پلار نوم يي ابو بكر صديق رضي الله عنه اود مور نوم يي زينب وو او ام رمان يي هم كنيه ده، چي دهجرت په څلورم كال پيدا شوي ده، په مكه كي يي درسول الله سره نكاح كي شوي ده، اود ٩ كالو په عمر كي په مدينه كي واده شوي دد، په غزوه احد كي شريكه شوي وه (بخاري: ٥٨١/٢)

معلوميږي چي په غزوه بني المصطلق كي هم شريكه وه په كومه كي چي يي هار هم ورك شوي وو.

عائشه صديقه رضي الله عنها ته په نورو ښيانو فوقيت هم حاصل وو ، دابو موسي اشعري رضي الله عنه بيان دي كله چي به مونږ ته كوم مشكل پيښ شو نو عائشه صديقه رضي الله عنها ته به ورتلو (عمدة القاري: ٣٨/١)

سخاوت او تواضع او عبادت يي انتهايي زيات وو اكثر به يي روژه وه او هركال به يي حج كولو عائشه صديقه رضي الله عنها په مكثرين روايت شخصياتو كي هم شامل ده چي ١٢٢١٠ روايات ورنه مروي دي. چي ١٧۴ پكي متفق عليه دي ۵۴ صرف په بخاري كي دي او ٦٨ په مسلم كي دي (عمدة القاري: ١٣٨)

وفات: دمعاويه رضي الله عنه په زمانه كي په ۵٨ هجري كي وفات شوه او پدغه وخت كي يي

---

(١) ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٣٦)

عمر ۲۳ کلونه وو. او ددي دوصيت مطابق په جنت البقيع کي دښخ دفن کړي شوه. (عمدة القاري ۱۳۸)

۳۸۷۹_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ دُرُسْتَ بَصْرِيٌّ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ. قَالَتْ: فَاجْتَمَعَ صَوَاحِبَاتِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ. فَقُلْنَ: يَا أُمَّ سَلَمَةَ إِنَّ النَّاسَ يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ. وَإِنَّا نُرِيدُ الْخَيْرَ كَمَا تُرِيدُ عَائِشَةُ فَقُولِي لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرِ النَّاسَ يُهْدُونَ إِلَيْهِ أَيْنَمَا كَانَ. فَذَكَرَتْ ذَلِكَ أُمُّ سَلَمَةَ. فَأَعْرَضَ عَنْهَا ثُمَّ عَادَ إِلَيْهَا. فَأَعَادَتِ الْكَلَامَ. فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ صَوَاحِبَاتِي قَدْ ذَكَرْنَ أَنَّ النَّاسَ يَتَحَرَّوْنَ بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ. فَأْمُرِ النَّاسَ يُهْدُونَ أَيْنَمَا كُنْتَ. فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ قَالَتْ ذَلِكَ. قَالَ: " يَا أُمَّ سَلَمَةَ لَا تُؤْذِينِي فِي عَائِشَةَ. فَإِنَّهُ مَا أُنْزِلَ عَلَيَّ الْوَحْيُ وَأَنَا فِي لِحَافِ امْرَأَةٍ مِنْكُنَّ غَيْرِهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ هَذَا الْحَدِيثُ. عَنْ عَوْفِ بْنِ الْحَارِثِ. عَنْ رُمَيْثَةَ. عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ شَيْئًا مِنْ هَذَا. وَهَذَا حَدِيثٌ قَدْ رُوِيَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَلَى رِوَايَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ. وَقَدْ رَوَى سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ. عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. (1)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چي خلقو به درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره دهديو او تحفو راليږلو دپاره دعائشه رضي الله عنها دنمبر ورځي ته انتظار کولو نو زما بني تولي دام سلمي رضي الله عنه کره جمع شوي او ونيل يي اي ام سلمه خلق خو دهديو راليږلو دپاره دعائشي دورځي په تلاش کي دي او مونږ تولي هم دخير داسي غوښتونکي يو څنګه چي عائشه دد ته ورته او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اووايه چي خلقوته اووائي چي ته هر چرته يي هم هلته دي تاته تحفي راليږي چنانچي ام سلمه رضي الله عنها ددي ذکر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوکړو نو رسول الله اعراض اوکړو او دام سلمه خبرو ته يي توجه اونکړه. رسول الله چي دوي ته راوګرځيدو نه دوي خپله خبره بيا تکرار کړه او ونيل يي زما بني وائي چي خلق دهديو راليږلو دپاره دعائشي دنمبر انتظار کوي تاسو خلقو ته

1_ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الهبة ٤ (٢٥٧٤)، و٨ (٢٥٨٠، ٢٥٨١)، وفضائل الصحابة ٣٠ (٣٧٧٥)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤١)، سنن النسائي/عشرة النساء ٣ (٣٣٩٦) (تحفة الأشراف: ١٦٨٦١)، و مسند احمد (٦/٢٩٣)

اووانې چې نه هر چرته یې هم هلته دې تحفې رالیږې، بیا چې هر کله هغوئ په دریم ځل خپله خبره تکرار کړه نورسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل اې ام سلمې دعائشې په باره کې ماته تکلیف مه راکوه ځکه چې دعائشې نه په تاسو تبولو کې کومه بله داسې ښځه نشته دچا په بړستن کې چې په ماباندې وحي نازل شوې وي

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن غریب دې، بعضې راویانو داحدیث دحماد بن زید نه او هغه دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار عروه په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه مرسل نقل کړې دې، داحدیث دهشام بن عروه په سند دعوف بن حارث نه هم مروي دې کوم چې هغه درمثه په واسطه دام سلمه رضي الله عنها نه ددې څه حصه نقل کړې ده. اودهشام بن عروه نه مروي داحدیث په یو څو سندونو منقول دې، سلیمان بن بلال هم په سند دهشام بن عروه عن ابیه عن عائشه دحماد بن زید دحدیث پشان حدیث نقل کړې دې.

دعائشه رضي الله عنها خصوصیات

امام قرطبي وائي کله چې په یوسف علیه السلام تهمت اولګیدو نو الله تعالي دیو وړوکي ماشوم په ذریعه دده برائت ظاهر کړو او چې په مریم علیها السلام تهمت اولګیدو نو دهغې بچي عیسي علیه السلام دهغې برائت ښکاره کړو لیکن کله چې په عائشه رضي الله عنها تهمت اولګیدو نو الله تعالي پخپله ددې دبرائت اعلان اوکړو.

****

۳۸۸۰ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ الْمَكِّيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي حُسَيْنٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ جِبْرِيلَ جَاءَ بِصُورَتِهَا فِي خِرْقَةِ حَرِيرٍ خَضْرَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " إِنَّ هَذِهِ زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ، وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ، وَقَدْ رَوَى أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مِنْ هَذَا. (۱)

ترجمه : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دې فرمائي چې جبرائیل علیه السلام دریښمو یوه شنه کپړه کې زما تصویر نبي کریم صلي الله علیه وسلم ته راوړو او وئیل یې دا

۱ ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۶۲۵۸)

ستا بي بي ده په دنيا او اخرت دواړو کي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دعبدالله بن عمرو بن علقمه په روايت پيژنو، عبدالرحمن مهدي دا حديث دعبدالله بن عمرو بن علقمه نه په همدي سند مرسل نقل کړي دي او په دي کي يي دعائشي واسطه نه ده ذکر کړي، ابواسامه ددي حديث څه حصه دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دعائشه رضي الله عنها په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي ده.

****

٣٨٨١ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَا عَائِشَةُ هَذَا جِبْرِيلُ وَهُوَ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلاَمَ ". قَالَتْ: قُلْتُ: وَعَلَيْهِ السَّلاَمُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ تَرَى مَا لاَ نَرَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دا جبرائيل دي په تا باندي سلام وائي عائشه رضي الله عنها وائي ما ورته اووئيل وعليه السلام ورحمة الله وبركاته.او جبريل عليه السلام هغه څه وينې کوم چې مونږ نه وينو.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: جبريل او جبرائيل: ديوي مشهوري فرشتي نوم دي کومي ته چې په پيغمبرانو وحي راوړل سپارلي شوي دي.

تشريح: دبخاري او مسلم په څنی رواياتو کي دغه شان دی برکاته هم ورسره دی او په څنو کي ورسره نشته صرف ورحمه الله دی او دثقه راوي زيادت مقبول دی ددی حديث شريف نه دا ثابته شوه چې دبل په خوله غائبانه هم دغه شان سلام استولی شي،څنګه چې مخامخ وئيلی شي، او هغه به هم دغه شان په هنو الفاظو جواب ورکوي.
جبريل ديو مشهوري فرشتي نوم دي چې پيغمبرانو ته به يي وحي راوړله
يقرء عليك السلام: يعني جبريل په تا باندي سلام وايي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٦ (٣٢١٧) . وفضائل الصحابة ٣٠ (٣٧٦٨) . والأدب ١١١ (٦٢٠١) . والاستئذان ١٦ (٦٢٤٩) . و١٩ (٦٢٥٣) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤٧) . سنن النسائي/عشرة النساء ٣ (٣٤٠٥، ٣٤٠٦) (تحفة الأشراف: ١٧٧٦٦) . ومسند احمد (٦/١٤٦، ١٥٠، ٢٠٨، ٢٢٤)

ددي نه دعائشه رضي الله عنها فضيلت معلوميږي ، په امهات المومنين کي صرف ددوو په باره کي دجبريل سلام ثابت دي چې عائشه او خديجه رضي الله عنهما دي.

"وعليه السلام " په دي جمله کې دغانبانه سلام جواب ورکولو طريقه بيانولی شي چې په جواب کي به د وعليکم په خاي باندي دغائب ضميرذکر کوي دا هم معلومه شود چې په جواب کي زائد دعائيه کلمه ذکر کول افضل دي.

****

٣٨٨٢ـحَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّا، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ جِبْرِيلَ يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ"، فَقُلْتُ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دا جبرائيل دي په تا باندي سلام وائي عائشه رضي الله عنها وائي ما ورته اووئيل وعليه السلام ورحمة الله وبركاته.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٨٨٣ـحَدَّثَنَا حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمَخْزُومِيُّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: "مَا أَشْكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه : ابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په مونږ درسول الله په صحابه کرامو کي چې په چا باندي کوم حديث مشکل شو او مونږ به دهغه باره کي دعائشه نه تپوس اوکړو نو مونږ ته به دهغه په باره کي ضرور دحل کومه لاړ ملاويدله.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

---

[1] ـ انظر ماقبله. وحديث رقم ٢٦٩٣

[2] ـ تفرد به المؤلف

****

٣٨٨٤_حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا القَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه: دموسى بن طلحه بيان دي فرمائي چې دعائشه رضي الله عنها نه زيات فصاحت والا انسان ما بل څوك نه دي ليدلي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٨٨٥_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَاللَّفْظُ لِابْنِ يَعْقُوبَ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ المُخْتَارِ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ العَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السُّلَاسِلِ، قَالَ: فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ قَالَ: "عَائِشَةُ"، قُلْتُ: مِنَ الرِّجَالِ؟ قَالَ: "أَبُوهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه دعمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زه په ذات السلاسل غزوي په لښكر باندي امير مقرر كړم، عمرو وائي چې زه په خدمت نبوي كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله تاته په خلقو كي زيات محبوب څوك دي نو وبي فرمائيل عائشه ما بيا تپوس اوكړو په سړو كي څوك دي نو وبي فرمائيل دهغي پلار.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٨٨٦_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ العَاصِ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَبُّ النَّاسِ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٦٦٨)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٥ (٣٦٦٢)، والمغازي ٦٣ (٤٣٥٨)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١ (٢٣٨٤) (تحفة الأشراف: ١٠٧٣٨)

إِلَيْكَ؟ قَالَ: "عَائِشَةُ". قَالَ: مِنَ الرِّجَالِ؟ قَالَ: "أَبُوهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ إِسْمَاعِيل، عَنْ قَيْسٍ. [1]

ترجمه: دعمرو بن العاص رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما عرض اوکړو اې دالله رسوله په خلقو کې زيات محبوب تاته څوك دي رسول الله اوفرمائيل عائشه هغه بيا تپوس اوکړو په سړو کې څوك دي نو ويې فرمائيل دهغې پلار.

امام ترمذي وائي: داحديث په دې سند يعني داسماعيل په سند چې دقيس نه يې نقل کوي حسن غريب دي.

****

٣٨٨٧_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ هُوَ أَبُو طُوَالَةَ الْأَنْصَارِيُّ الْمَدَنِيُّ ثِقَةٌ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ. [2]

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ټولو ښځو دعائشې فضيلت داسې دی څنګه چې په نورو طعامونو دثريد فضيلت ثابت دی.

امام ترمذي وائي: دا حديث حسن دی، او په دې باب کې دعائشه او ابو موسي اشعري رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي، او دعبدالله بن عبدالرحمن بن معمرو انصاري نه مراد ابو طواله انصاري مدني دی او دا يو ثقه راوي دی چې مالك بن انس ورنه هم نقل درروايت کړي دي.

****

٣٨٨٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر ماقبله (تحفة الأشراف : ١٠٧٤٥)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٣٠ (٣٧٧٠) . والأطعمة ٢٥ (٥٤١٩) . و٣٠ (٥٤٢٨) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٣ (٢٤٤٦) . سنن ابن ماجه/الأطعمة ١٤ (٣٢٨١) (تحفة الأشراف : ٩٧٠) . و مسند احمد (٣/١٥٦، ٢٦٤)

عَنْ عَمْرِو بْنِ غَالِبٍ، أَنَّ رَجُلًا نَالَ مِنْ عَائِشَةَ عِنْدَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، فَقَالَ: "أَغْرِبْ مَقْبُوحًا مَنْبُوحًا أَتُؤْذِي حَبِيبَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعمرو بن غالب بيان دي فرمائي چې يو كس دعمار بن ياسر رضي الله عنه په وړاندي دعائشه رضي الله عنها عيب ذكر كړو نو عمار ورته اووئيل اخوا شه مردوده او په خلقو كي بدترين انسانه ايا ته درسول الله صلي الله عليه وسلم محبوبي ته تكليف رسوي؟.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٨٨٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زِيَادٍ الأَسَدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمَّارَ بْنَ يَاسِرٍ، يَقُولُ: "هِيَ زَوْجَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ يَعْنِي عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن زياد اسدي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دعمار بن ياسر رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمائيل يي چې دا يعني عائشه رضي الله عنها په دنيا او اخرت دواړو كي درسول الله صلي الله عليه وسلم بي بي ده.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او په دي باب كي دعلي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٣٨٩٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيْكَ؟ قَالَ: "عَائِشَةُ". قِيلَ: مِنَ الرِّجَالِ؟ قَالَ: "أَبُوهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ. (3)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله په وړاندي عرض اوكړي شو چې اي دالله رسوله تاته په خلقو كي زيات محبوب څوك دي ويي فرمائيل عائشه عرض اوكړي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٣٦٣)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ١٨ (٧١٠٠، ٧١٠١) (تحفة الأشراف: ١٠٣٥٦)

[3] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٠١) (تحفة الأشراف: ٦٤٣)

شوي په سرو کي درته څوك زيات محبوب دي ويې فرمانيل دهغي پلار.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند يعني دانس په روايت حسن صحيح غريب دي.
****

٦٤ـ باب فَضْلِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دبيبيانو دفضيلت بيان

٣٨٩١ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ الْعَنْبَرِيُّ أَبُو غَسَّانَ، حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَكَانَ ثِقَةً، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ: مَاتَتْ فُلَانَةُ لِبَعْضِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَجَدَ، فَقِيلَ لَهُ: أَتَسْجُدُ هَذِهِ السَّاعَةَ؟ فَقَالَ: أَلَيْسَ قَدْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوا". فَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه: عكرمه وائي چې ابن عباس﷜ خبرراكړې دى چې دنبي ﷺپه بيبيانوكي فلانكۍ وفات شوله نوهغه په سجده پريوتو هغه ته اوونيلى شوچې ته په دي موقع باندي سجده كوى؟ هغه جواب وركړو چې رسول الله ﷺفرمانيلي دي كله چې يوه لويه واقعه ياحادثه اووينۍ نوسجده كوئ نودنبي ﷺدبي بي دوفات نه به بله كومه حادثه زياته لويه كيدي شي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو.

تشريح: درسول الله صلي الله عليه وسلم ازواج مطهرات
دكوموسره چې دزفاف موقع راغلي ده:

(١) **خديجه بنت خويلد رضي الله عنها**: د تولو بيبيانو نه مخكي رسول الله صلي الله عليه وسلم د ام المؤمنين خديجه بنت خويلد رضي الله عنها سره نكاح كړي وه چې ذكر يې په ماقبل قريب كي تير شو.

(٢) **ام المؤمنين سودة بنت زمعه رضي الله عنها**: اوداد رسول الله صلي الله عليه وسلم سره بوډۍ شوي وه رسول الله صلي الله عليه وسلم وغوښتل چې طلاق ورته وركړي ليكن هغې دا خواهش وكړو چې زما دا ارمان دى چې زما حشر په قيامت كي په ازواج نبوي كي وشي او زما خاوند ته هيڅ ضرورت نشته اود خپلي شپې نمبر يې عائشه رضي الله عنها ته وركړو.

1 ـ سنن ابي داود/ الصلاة ٢٦٩ (١١٩٧) (تحفة الأشراف: ٦٠٢٧)

(۳)ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها: د عائشه سره يي دشپږو کالو په عمر کي په مکه مکرمه کي د هجرت نه دوه کاله مخکي نکاح شوي وه اود يو قول مطابق دري کاله مخکي د شوال مياشت کي په مدينه کي شوي وه ، اود اتلسو کالو په عمر کي وه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه وفات شو.

او عائشه رضي الله عنها په ولسم رمضان ۵۸ هجري کي وفات شوي وه اوپه جنت البقيع کي دفن شوه، رسول الله صلي الله عليه وسلم د عائشه رضي الله عنها نه علاوه د بلي کومي پيغلي سره نکاح نه ده کړي اواسم کنيه ام عبدالله وه.

(٤)ام المؤمنين حفصه بنت عمر رضي الله عنها(١) ، مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دي ته طلاق ورکړل او جبريل عليه السلام نازل شو او وئيل يي چي الله تعالي فرمائي چي حفصه ته رجوع وکړه ځکه چي هغه ډيره روژه داره او مونځ گذاره ده.

مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په عمر رضي الله عنه دډير مهربانۍ په وجه حفصه رضي الله عنها ته رجوع کړي وه.

(۵)ام المؤمنين ام حبيبه (٢) بنت ابي سفيان رضي الله عنها: وه چي د عقد په وخت کي په حبشه کي وه او مهر يي سل دیناره وو، کوم چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم د طرفه نجاشي بادشاد ادا کړی وو، اود نکاح متولي يي عثمان بن عفان رضي الله عنه وو او ددويم قول مطابق خالد بن سعد بن العاص رضي الله عنه ووچي په ۴۴ هجري کي وفات شوه.

(۶)ام المؤمنين ام سلمه(٣) رضي الله عنها: چي په ۶۲ هجري کي وفات شوي ده، اود وفات په اعتبار ام سلمه رضي الله عنها په تمامو ازواجو کي اخري بي بي ده، اود بل روايت مطابق اخري زوجه ميمونه رضي الله عنها ده.

(۷)ام المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله عنها: داد رسول الله صلي الله عليه وسلم د ترور لور وه، اول ددي نکاح د رسول الله صلي الله عليه وسلم د غلام زيد بن حارثه رضي الله عنه سره شوي وه بيا دهغه د طلاق ورکولو نه پس په ازواج مطهرات او امهات المومنين کي داخل شوه. اوپه ۲۰ هجري کي وفات شوه اودا په ټولو کي اولنۍ بي بي ده چي په جنازه يي د لښتو

---

1. حفصه رضي الله عنها د رسول الله نه مخکي د خنيس بن حذافه بدري صحابي په نکاح کي وه چي په مدينه منوره کي وفات شو او دده دوفات نه پس هغه د شعبان په مياست دريم هجري کال کي د رسول الله په نکاح کي راغله (قرة العيون حصه دوم جلد اول).

2. د ام حبيبه سره درسول الله عقد د هجرت په اوم کال شوی دی. قرة العيون حصه دوم جلد اول.

3. د رسول الله سره د ام سلمه عقد په څلورم هجري شوال کي شوي وو، (قرة العيون حصه دوم جلد اول)

ينجره ايښودلی شوي وه [1].

(۸) اتم ام المؤمنين جويريه بنت الحارث رضي الله عنها: دا بي بي د بني مصطلق په قيديانو کي د ثابت بن قيس رضي الله عنه په حصه کي راغلي وه ، ثابت چي د جويريه رضي الله عنها نه بدل کتابت اوغوښتلو نو دا په خدمت نبوي کي حاضره شوه چي د بدل کتابت [2] دپاره دځه مال وغيره مطالبه وکړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ايا زه ددي نه بهتر کار ونکړم چي مال دکتابت ادا کړم او عقد درسره وکړم؟ نو دي وخت کي جويريه رضي الله عنها راضي شوه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم بدل دکتابت ادا کړو او عقد دنکاح يي ورسره وکړو، بيا په ۵۶ هجري کي وفات شوه.

(۹) ام المؤمنين صفيه بنت حيي بن احطب [3] رضي الله عنها: دا بي بي د هارون عليه السلام په اولاد کي ده اود غزوه خيبر په قيديانو کي نيولي شوي وه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ازاده کړه او خاص ازادول يي ددي مهر مقرر کړو [4]، اوپه ۵۰ هجري کي وفات شوه.

(۱۰) ام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها: دا بي بي د عبدالله بن عباس او خالد بن وليد رضي الله عنهما ترور وه په سرف مقام کي ددي بي بي سره عقد شوی دی او هم هلته په ۶۱ هجري کي وفات شوه، اوپه يو روايت کي دي چي په ۶۲ هجري کي وفات شوه اود اخري روايت په اعتبار دا بي بي په وفات کي د ټولو نه اخري زوجه ده.

په مذکوره نهه بيبيانو کي د خديجه رضي الله عنها علاوه نوري ټولي د رسول الله دوفات نه پس وفات شوي دي.

(۱۱) ام المؤمنين زينب بنت خزيمه [5] رضي الله عنها: دي بي بي سره دهجرت په دريم کال عقد شوي وو، ليکن زندګئ ورسره وفا ونکړه او دري مياشتي په عقد کي پاتي شوه او بيا دار البقاء ته رخصت شوه.

د کومو بيبيانو سره چي د زفات نوبت نه وه راغلي:

(۱) اوله فاطمه بنت ضحاك : دمذکوره ازواجو نه علاوه يو څو بيبياني نوري داسي وي چي

---

[1] په عربئ کي ورته نعش ونيلي شي.
[2] بدل کتابت هغه مال ته وايي چي مالك يي د غلام نه د ازادولو په عوض کي طلب کړي.
[3] د صفيه عقد د رسول الله سره په ۷ هجري کي شوي وو(قرة العيون حصه دوم جلد اول).
[4] داد رسول الله خصوصيت وو د امت دپاره جائز نه دي مهر د ازادولو عوض وګرځوي.
[5] ام المساکين ددي بي بي لقب دی يعني مسکينانو ته به يي خوراك ورکولو، ددي صفت په وجه ورسره رسول الله عقد وکړو.

رسـول الله ورته دنكاح پیغام ورکړی وو لیکن د عقد تکمیل نه وو شوي، چي يوه په هغوئ کي فاطمه بنت ضحاك ده ، رسول الله صلي الله علیه وسلم ددي سره عقد وکړو مګر کله چي ايت دتخير[1] نازل شو نوهغوئ ته اختیار ورکړی شو چي په صحبت نبوي کي پاتي کيږي او که دنيا اختياروي نو هغي دنيا اختيار کړه او رسول الله صلي الله علیه وسلم بيا جدا کړه او ددي نه پس به يي بيا د اوښانو پچي جمع کولي او وئيل به يي چي دا زما بد نصيبي ده چي ما دنيا اختيار کړه.

(۲) دويمه: شراف اخت دحيه کلبي ده، ليکن ددي بي بي د زفاف او رخصتئ موقع نصيب نشـوه.

(۳) دريمه : خوله بنت بذيل ده او دا هغه بي بي ده چاچي خپل ځان بغير دمهر نه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته سپارلي وو، يعني بغير دمهر نه په نکاح کي راغلي وه ، اوبه يو روايت کي داسي دي چي بغير دمهر نه خپل ځان په نکاح ورکونکي ام شريك وه.

(۴) څلورمه: اسمـاء جونيه ده د علماؤ قول دي چي کله رسول الله صلي الله عليه وسلم دنکاح نه پس دي ته لاس وروړل نو هغي اَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ووئيـل نو دي وخت کي رسـول الله صلي الله عليه وسـلم دد ي نه جدايي اختيار کړه.

(۵) پنځمه عمرة بنت يزيد ده:

(۶) شپږمه د بني غفار قبيلي يوه ښځه وه

(۷) اومه عاليه بنت طبيان ده دي دري واړو ته د رخصتئ نه مخکي طلاق ورکړی شوي دي

(۸) اتمه بنت الصلـه ده دي د قربت کولو نه مخـي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شوی وو

(۹) نهمه هغه يوه ښځه وه چاته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم هب لي نفسـك ووئيل نو هغي جواب ورکړو چي ايا کومه رئيسه يا باعصمت ښځه هم خل نفس لره کوم بازاري ته ورکوي نو رسـول الله صلي الله عليه وسلم ورنه جدايي اختيار کړه.

(۱۰) لـسمه هغه ښځه وه چاچي سره چي کوژدن وشوه نو دهغي پلار دهغي صفتونه بيانول شروع کړل او وئيل چي د تولو نه لويه خبره داده چي دا هيڅ کله ناجوړه شوي نه ده نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيـل چي ددي دپاره د الله تعالي سره هيڅ خير نشته [2] نو لهذا

---

[1]. ايت دتخير هغه ايت دی په کوم چي ازواج مطهرات ته اختيـار ورکړی شوي وو چي تاسو الله اود الله رسول اختيـاروئ اوکه دنيا اختياروئ يعني په وچو سـوررو قبلولو سره په عقد کي پاتي کيږئ اوکه طلاق غواړئ : يا نسـاء النبي ان كنتن تردن الحيوة الدنيا فتعالـين الخ. (سورة التحريم)

[2]. ځکه چي کله کله بيماريدل يا په تکليف کي مبتلا کيدل دمومنانو مخصوص علامه ده.

رسول الله صلي الله عليه وسلم دا پريښودله.
د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ازواج مطهراتو کي د هري يوي مهر پنځه سوه درهم وو، مګر علاوه د صفيه او ام حبيبه نه چي ذکر يي ماقبل کي تير شوي دي او دا قول د اقوال صحيحه نه دی

****

٣٨٩٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا هَاشِمٌ هُوَ ابْنُ سَعِيدٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا كِنَانَةُ، قَالَ: حَدَّثَتْنَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ. قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ بَلَغَنِي عَنْ حَفْصَةَ، وَعَائِشَةَ كَلَامٌ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: " أَلَا قُلْتِ: فَكَيْفَ تَكُونَانِ خَيْرًا مِنِّي وَزَوْجِي مُحَمَّدٌ، وَأَبِي هَارُونُ، وَعَمِّي مُوسَى ". وَكَانَ الَّذِي بَلَغَهَا أَنَّهُمْ قَالُوا: نَحْنُ أَكْرَمُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا، وَقَالُوا: نَحْنُ أَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَنَاتُ عَمِّهِ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ صَفِيَّةَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَاشِمٍ الْكُوفِيِّ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَلِكَ الْقَوِيِّ. (1)

ترجمه: دام المؤمنين صفيه بن حيي رضي الله عنها بيان دي فرماني چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم زما خواته تشريف راوړو او دغه ورځ ماته دحفصه او عائشه دطرف نه يوه تکليف رسونکي خبره رارسيدلي وه چې مادهغي ذکر رسول الله ته اوکړو راته يي اوفرمائيل تا ورته داسي ولي نه ونيل چې تاسو دواړه زما نه څنګه بهتري کيدي شئ او حال دادي چې زما خاوند محمد صلي الله عليه وسلم دي او پلار مي هارون عليه السلام دي او تره مي موسي عليه السلام دي، او چې کومه خبره ورته رارسيدلي وه هغه دا وه چې حفصه او عائشه رضي الله عنهما ونيلي وو چې مونږ ستا په نسبت درسول الله صلي الله عليه وسلم په نزد زياتي عزتمندي يو څکه چې مونږ درسول الله بيباني يو او دتره لونړه يي يو.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ دصفيه داحديث دهاشم کوفي په روايت پيژنو او سند يي څه خاص قوي نه دي، او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٣٨٩٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ ابْنُ عَثْمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، عَنْ هَاشِمِ بْنِ هَاشِمٍ، أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ وَهْبِ بْنِ زَمْعَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٩٠٥)

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا فَاطِمَةَ عَامَ الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا، فَبَكَتْ، ثُمَّ حَدَّثَهَا، فَضَحِكَتْ. قَالَتْ: فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا عَنْ بُكَائِهَا وَضَحِكِهَا، قَالَتْ: "أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ يَمُوتُ، فَبَكَيْتُ، ثُمَّ أَخْبَرَنِي أَنِّي سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ بِنْتَ عِمْرَانَ فَضَحِكْتُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه: دام سلمه رضي الله عنها بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مکي په کال فاطمه رضي الله عنها راوغوښتله او په غوږ کې يې ورته څه اووئيل فاطمي چې واوريدل نو په ژړا شوه خوبيا ورته رسول الله کومه بله خبره هم وکړه چې دهغي په اوريدو سره يې اوخاندل مګر کله چې رسول الله وفات شو نوماد فاطمي نه ددي دژړا او بيا دخاندلو دسبب تپوس اوکړو نو ويې فرمائيل رسول الله اول ماته دا فرمائيلي وو ډيره نزدي ده چې زه به وفات شم ماچې دا واوريدل نو اومي ژړل خوبيايي چې اوفرمائيل علاوه د مريم بنت عمران نه ته به دتمامو جنتي ښځو سرداره يې پس دا چې مي واوريدل نو اومي خاندل .

(امام ترمذي وايي دا روايت په دي سند غريب حسن دی).

****

٣٨٩٤- حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَعَبْدُ بْنُ حميد، قَالَا: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: بَلَغَ صَفِيَّةَ أَنَّ حَفْصَةَ قَالَتْ: بِنْتُ يَهُودِيٍّ فَبَكَتْ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ تَبْكِي، فَقَالَ: "مَا يُبْكِيكِ؟". فَقَالَتْ: قَالَتْ لِي حَفْصَةُ: إِنِّي بِنْتُ يَهُودِيٍّ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكِ لَابْنَةُ نَبِيٍّ، وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ، وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ، فَفِيمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ؟ ثُمَّ قَالَ: اتَّقِي اللهَ يَا حَفْصَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ام المؤمنين صفيه رضي الله عنها ته دا خبره رسيدلي وه چې حفصي ورته ديهودي دلور کيدو پيغور ورکړي دي نو هغه په ژړا شوه اورسول الله ته راغله چې ژړل يې رسول الله ورنه دژړا کولو په وجه تپوس اوکړو نو هغي اووئيل حفصه راته دا پيغور راکړي دي چې زه ديهودي لور يم نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته ديو نبي لور يې او ستا تره هم نبي دي او ته ديو نبي په نکاح کې يې هغوئ په څه خبره په تاباندي فخر کوي او بيا يې حفصه ته اوفرمائيل اي حفصه دالله نه اوويريږه.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (وهو عند الجماعة من حديث فاطمة نفسها) (تحفة الأشراف: ١٨١٨٤)

[2] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى)

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

****

٣٨٩٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ، وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي، وَإِذَا مَاتَ صَاحِبُكُمْ فَدَعُوهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، مَا أَقَلَّ مَنْ رَوَاهُ عَنِ الثَّوْرِيِّ، وَرُوِيَ هَذَا عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. [1]

ترجمه: ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي بهتر هغه څوك دي څوك چې دخپل كور والا دپاره بهتردي او زه هم په تاسو كي دخپل كور والا دپاره بهتريم او كله چې څوك په تاسو كي مړ شي نو پري يې ږدئ يعني بديانې يې مه بيانوئ.

امام ترمذي وائي: داحديث دثوري په سند حسن غريب صحيح دي او دثوري نه روايت كونكي ډير كم خلق دي او دا حديث د عروه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل هم مروي دي.

****

٣٨٩٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ الْوَلِيدِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي شَيْئًا، فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْهِمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَأُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ فَقَسَمَهُ، فَانْتَهَيْتُ إِلَى رَجُلَيْنِ جَالِسَيْنِ وَهُمَا يَقُولَانِ: وَاللَّهِ مَا أَرَادَ مُحَمَّدٌ بِقِسْمَتِهِ الَّتِي قَسَمَهَا وَجْهَ اللَّهِ وَلَا الدَّارَ الْآخِرَةَ، فَتَثَبَّتُّ حِينَ سَمِعْتُهُمَا، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخْبَرْتُهُ، فَاحْمَرَّ وَجْهُهُ وَقَالَ: " دَعْنِي عَنْكَ فَقَدْ أُوذِيَ مُوسَى بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ زِيدَ فِي هَذَا الْإِسْنَادِ رَجُلٌ. [2]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف بهذا التمام (تحفة الأشراف: ١٦٩١٩). وأخرج الجملة الأخيرة " إذا مات " كل من: اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٩٧ (٣٨٩٩). وسنن النسائي/ الجنائز ٥٢ (١٩٣٨). ومسند احمد (٦/١٨٠)

[2] ـ سنن ابي داود/ الأدب ٣٣ (٣٨٦٠) (تحفة الأشراف: ٩٢٢٤)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په صحابه كرامو كي دي هيڅوك ماته دكوم يو بد نه رارسوي ځكه چې زه دا خوښوم چې زه كله ددوئ طرف ته ورو خم او زما زړه پاك وي، دعبدالله بن مسعود بيان دي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دكوم طرف نه څه مال راغلو او په خلقو يې تقسيم كړو زه ديو دوه كسانو په خوا كي تيريدم چې ناست وو او داسي يې ونيل قسم په الله محمد (صلي الله عليه وسلم) پخپل دي تقسيم كي دالله درضا كوشش اوطلب نه دي كړي او نه يې داخرت څه خيال ساتلي دي ما چې كله واوريدل نو دا خبري راباندي ډير بدي اولګيدلي چنانچې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او خبر مي ورته وركړو ددي په اوريدو درسول الله دمخ رنګ تك سور شو او ويې فرمائيل ماپريږده چې لاړشم ځكه چې موسي عليه السلام ته ددينه هم زيات تكليف رسولي شوي وو مګر هغه بيا هم صبر كړي وو.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سندغريب دي او ددي حديث په سند كي ديو راوي اضافه شوي ده

****

٣٨٩٧ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى، وَالْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ أَبِي هِشَامٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا". وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مِنْ هَذَا مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅوك دي ماته دهيچا خبري نه رارسوي
امام ترمذي وائي ددي حديث څه حصه ددي سند نه علاوه هم په بل سند دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مرفوعا مروي ده

****

٦٥ـباب مِنْ فَضَائِلِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضى الله عنه

دابي بن كعب رضي الله عنه مناقب

١_

نوم ابئ كنيه ابوالطفيل لقب سيد القري ، سيدالانصار ، سيدالمسلمين دمور نوم يې صهيله وو په عقبه ثانيه كې مسلمان شوى وو دبدر نه واخله دطائفه پورې په تمامو جنگونو كې شريك شوى دى ابوبكر رضي الله عنه دقران د تدوين او ترتيب دپاره يو څو صحابه كرام مقرر كړي وو چې يو په دوئ كې ابئ بن كعب هم وو عمر رضي الله عنه ورته صرف د دارالافتا كار حواله كړى وو كله چې ده درخواست اوكړو چې ما هم چرته عامل مقرر كړه نو عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل زه ستا دين په دنيا خرابول او خيرنول نه غواړم (بخاري).

ابئ بن كعب دقران سره سره د تورات او انجيل هم عالم وو دده د درس په حلقه كې عرف عجم روم او شام او ډيرو علاقو نه راغلي خلق شريك وو.

دحب رسول يې دا حالت وو چې استوانه حنانه يې پخپل كور كې په طور دتبرك ساتلي وه.

وفات: ۳۹ هجري كې دعثمان دخلافت په زمانه كې وفات شو او عثمان رضي الله عنه ورباندې جنازه اوكړه او په مدينه كې خاورو ته اوسپارلى شو.

مرويات: چونكه داحاديثو په بيانولو كې يې زيات احتياط كولو نو په دې وجه ورنه صرف ۱۴۲ روايات منقول دي چې درې پكې متفق عليه دي يو په بخاري كې دى او اوه په مسلم كنبې

٣٨٩٨ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، قَال: سَمِعْتُ زِرَّ بْنَ حُبَيْشٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ. فَقَرَأَ عَلَيْهِ "لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا" وَقَرَأَ فِيهَا: إِنَّ ذَاتَ الدِّينِ عِنْدَ اللَّهِ الْحَنِيفِيَّةُ الْمُسْلِمَةُ لَا الْيَهُودِيَّةُ، وَلَا النَّصْرَانِيَّةُ، وَلَا الْمَجُوسِيَّةُ، مَنْ يَعْمَلْ خَيْرًا فَلَنْ يُكْفَرَهُ، وَقَرَأَ عَلَيْهِ: لَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَانِيًا، وَلَوْ كَانَ لَهُ ثَانِيًا لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَالِثًا، وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ". وَقَدْ رَوَاهُ قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ: "إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ".[1]

ترجمه: دابئ بن كعب رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل

---

[1] ـ انظر حديث رقم ۳۷۹۳ وفضائل الصحابة ۳۳ (۱۲۱/۷۹۹) (تحفة الأشراف : ۱۲۲٤)

الله تعالي ماته حکم کړي دي چې زه تاته قران واوروم او بیا رسول الله "لم یکن الذین کفروا من اهل الکتاب" واورولو او په دي کي یي دا هم اولوستل "ان ذات الدین عندالله الحنیفیة المسلمة لا الیهودیة ولا النصرانیة من یعمل خیرا فلن یکفره" یقینا دین والا بنخه دالله تعالي په نزد هغه ده چې دباطل دینونو سره رشتي کټ کړي او الله تعالي طرف ته متوجه شي داسي بنخه مسلمانه وي نه چې یهودیه او نصرانیه، اوڅوك چې دنیکۍ کوم کار اوکړي دهغي به هیڅ کله ناقدري او نشي، او رسول الله ددوئ په وړاندي دا هم اولوستل " وَلَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَانِيًا. وَلَوْ كَانَ لَهُ ثَانِيًا لَابْتَغَى إِلَيْهِ ثَالِثًا. وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ. وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ " يعني كه چرې دبني ادم سره دمال نه یوه کنده ډکه وي نو دي به د دویمي خواهش هم کوي او که دویمه ورته ملاؤ شي نو د دریمي به خواهش کوي او دبني ادم خیټه صرف خاوره ډکولي شي او چې څوك توبه اوباسي الله تعالي دهغه توبه قبلوي.

امام ترمذي وائي: دا حدیث حسن صحیح دي، داحدیث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او دا حدیث عبدالله بن عبدالرحمن بن ابزي دخپل پلار عبدالرحمن بن ابي ابزي نه نقل کړي دي او هغه دابئ بن کعب رضي الله عنه نه نقل کړي دي چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم ابئ بن کعب ته اوفرمائیل الله تعالي ماته حکم کړي دي چې ستا په وړاندي قران اولولم، قتاده دانس نه نقل کړي دي چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم ابئ بن کعب ته اوفرمائیل الله تعالي ماته حکم کړي دي چې ستا په وړاندي قران اولولم.

****

٦٦_باب في فضل الأنصار وقريش

دانصارو دقریشو دفضیلت بیان

دمدیني دانصارو مختصر تاریخ

دانصارو اطلاق دمدیني په اوسیدونکو کیږي درسول الله صلي الله علیه وسلم په زمانه کي په مدینه کي دوه مشهوري قبیلي ابادي وي یوه داوس په نوم وه او بله دخزرج اوس او خزرج د دوه رونړو نومونه دي او بیا ددینه دوه لوي لوي قبیلي جوړي شوي دي په مدینه کي هم دا دوه قبیلي ابادي وي او په همدوئ باندي دانصارو اطلاق کیږي، انصارو درسول الله او دمهاجرینو اوداسلام مدد اوکړو او داسلام تمام دشمنان یي برباد کړل په دوئ کي داسي اخلاص وو کوم چې دالله خوښ وي همدا وجه ده چې علماء وائي په همدي سبب دا ضروري شوي دي چې ددوئ سره محبت ایمان او عداوت دکفر علامه وګرځولی شي.

یعني څوك چې ددوئ سره محبت کوي دهغوي سره محبت کوي اوددوئ سره چې څوك بغض

كوي دهغوئ سره بغض كوي (روضة الصالحين شرح رياض الصالحين)

٣٨٩٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الْأَنْصَارِ". [1]

ترجمه : دابئ بن كعب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه چري هجرت نه وي نو زه به هم په انصارو كي يو فرد وم، په همدي سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چې وبي فرمائيل كه چري انصار دغر يوي څوكي يا يوي بلي دري ته روان شي (اومدينه پريږدي) نوزه به هم ورسره يم.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي.

د طفيل بن ابي بن كعب رضي الله عنه مناقب

نوم طفيل د پلار نوم ابي بن كعب چې تابعي او بعضو صحابي ليكلي دي، ليكن دا قول صحيح ندي، غزير الحديث، دده احاديث زيات تره په اهل حجاز كي موندلي شي، چې دخپل پلار ابئ بن كعب او نورو صحابه كرامو نه نقل دروايت كوي.

****

٣٩٠٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَنْصَارِ: "لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ، وَلَا يَبْغَضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ، مَنْ أَحَبَّهُمْ فَأَحَبَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَأَبْغَضَهُ اللَّهُ، " فَقُلْتُ لَهُ: أَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنَ الْبَرَاءِ ؟ فَقَالَ: إِيَّايَ حَدَّثَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَوْ سَلَكَ الْأَنْصَارُ وَادِيًا، أَوْ شِعْبًا لَكُنْتُ مَعَ الْأَنْصَارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [2]

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې مادنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او كه داسي يي اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دانصارو باره كي اوفرمائيل ددوئ سره صرف مومن محبت كوي او صرف منافق ددوئ سره حسد او كينه او

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢)، و مسند احمد (٥/١٣٤، ١٣٨)

[2] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٤ (٣٧٨٣)، صحيح مسلم/الإيمان ٣٣ (٧٥)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٦٣) (تحفة الأشراف : ١٧٩٢)

بغض كوي، څوك چې دوئ سره محبت كوي الله تعالي به هغه سره محبت كوي او څوك چې دوئ سره بغض كوي الله تعالي به هغه سره بغض اوكړي.

امام ترمذي وائي: داحديث صحيح دي.

تشريح : په يو بل حديث كي داسي راغلي دي "اية الايمان حب الانصار واية النفاق بغض الانصار" ، يعني د ايمان علامه دانصارو سره محبت كول دي او دنفاق علامه دنصارو سره بغض كول دي، بهر حال دپورتني حديث پشان پدي باب كي نور ډير احاديث هم وارد دي په كوموكي چې دانصارو سره دمحبت كولو تاكيد دي.

****

٣٩٠١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَال: سَمِعْتُ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ، فَقَالَ: "هَلْ فِيكُمْ أَحَدٌ مِنْ غَيْرِكُمْ ؟". قَالُوا: لَا إِلَّا ابْنَ أُخْتٍ لَنَا، فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ ابْنَ أُخْتِ الْقَوْمِ مِنْهُمْ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ قُرَيْشًا حَدِيثٌ عَهْدُهُمْ بِجَاهِلِيَّةٍ، وَمُصِيبَةٍ، وَإِنِّي أَرَدْتُ أَنْ أَجْبُرَهُمْ، وَأَتَأَلَّفَهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَرْجِعَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَتَرْجِعُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بُيُوتِكُمْ". قَالُوا: بَلَى، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا وَسَلَكَتِ الأَنْصَارُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الأَنْصَارِ أَوْ شِعْبَهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم (دفتح مكه په موقعه) څه كسان راجمع كړل او ورته يي اوفرمائيل ايا په تاسو كي ستاسو نه علاوه بل څوك شته؟ خلقو عرض اوكړو نشته مګر علاوه زمونږ دخور دخوي نه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديو قوم خوريي په دوئ كي داخل وي او بيا يي اوفرمائيل قريش دخپل جاهليت او دكفر دمصيبت نه تازه راوتلي دي او نوي په اسلام كي داخل شوي دي زه غواړم چې ددوئ څه حوصله افزائي اوكړم او داسلام سره يي اشنا كړم (نو په دي وجه يي هغوئ ته دغنيمت په مال كي څه قدري مال وركړو) ايا تاسو دا نه خوښوئ چې نور خلق دنيا اوګټي او خپلو كورونو ته

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ١٣ (٣٥٢٨) . ومناقب الأنصار ١ (٣٧٧٨) . والمغازي ٥٦ (٤٣٣٢) . والفرائض ٢٣ (٦٧٦٢) . صحيح مسلم /الزكاة ٣٦ (١٠٥٩) . سنن النسائي/الزكاة ٩٦ (٢٦١١) (تحفة الأشراف : ١٢٤٤) . ومسند احمد (٣/٢٠١، ٢٣٦) . وسنن الدارمي/السير ٨٢ (٢٥٣٠)

بي راوړي او تاسو دالله رسول خپل خاي ته راولي خلقو عرض اوکړو ولي نه مونږ په دي باندي راضي يو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چري نور خلق يو غر ته يا يوي دري ته روان شي او انصار بل غر يا يوي بلي دري ته روان شي نو زه به هم دانصار غر او انصارو دري ته ځم

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٠٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدِ بْنِ جُدْعَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يُعَزِّيهِ فِيمَنْ أُصِيبَ مِنْ أَهْلِهِ وَبَنِي عَمِّهِ يَوْمَ الحَرَّةِ، فَكَتَبَ إِلَيْهِ: إِنِّي أُبَشِّرُكَ بِبُشْرَى مِنَ اللَّهِ، إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلأَنْصَارِ، وَلِذَرَارِيِّ الأَنْصَارِ، وَلِذَرَارِيِّ ذَرَارِيهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدِ بْنِ جُدْعَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ أَنَسٍ، وَقَدْ رَوَاهُ قَتَادَةُ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ. (1)

ترجمه: دزيد بن ارقم رضي الله عنه نه مروي دي چې هغه انس بن مالك رضي الله عنه ته خط اوليږلو او په دي خط کي يي دهغه خلقو باره کي تعزيت کول غوښتل څوك چې ددوئ دکورونو نه او ددوئ دترونو دخامنو نه دحره په ورځ په کار راغلي وو هغوئ په دي خط کي اوليکل زه تاسو ته دالله تعالي دطرف نه يو زيري اوروم ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمائيل يي اي الله انصارو ته دانصارو اولادته او دهغوئ د اولاد اولاد ته مغفرت اوکړي

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث قتاده هم دنضر بن انس نه او هغه دزيد بن ارقم رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

٣٩٠٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الخُزَاعِيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، وَعَبْدُ الصَّمَدِ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَابِتٍ البُنَانِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَقْرِئْ قَوْمَكَ السَّلَامَ فَإِنَّهُمْ مَا عَلِمْتُ أَعِفَّةٌ صُبُرٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 ـ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٤٣ (٢٥٠٦) (تحفة الأشراف: ٣٦٨٦)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابوطلحه بيان دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل خپل قوم ته زما سلام اووايه ځکه چې هغوئ پاکي کونکي او صبرناك قوم دي لکه چې ماته هم معلومه ده.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٠٤_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنِي الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَلَا إِنَّ عَيْبَتِيَ الَّتِي آوِي إِلَيْهَا أَهْلُ بَيْتِي، وَإِنَّ كَرِشِيَ الْأَنْصَارُ، فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ. (٢)

ترجمه : دابوسعيد خدري رض الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: خبردار زما رازدار او خاص خلق چې زه ورته ورځم زما اهل بيت دي، او زما مخلص او رازدار دوستان انصار دي لهذا تاسو دهغوئ د ګنهګار باره کي درګذر اوکړئ او دهغوئ دنيك نه عذر قبول کړئ.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او په دي باب دانس رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٩٠٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْهَاشِمِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يُرِدْ هَوَانَ قُرَيْشٍ أَهَانَهُ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ. (٣)

ترجمه : دسعد رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٧٧٤)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤١٩٨)

[3] ـ :تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٩٢٥)

دقریشو رسوائي غواړي الله تعالي به هغه لره رسوا کړي.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي، مونږ ته عبد بن حميد حديث بيان کړي دي او هغه ته يعقوب بن ابراهيم خبر ورکړي دي ونيل يي چې ماته زما پلار خبر راکړي دي او هغه ته صالح بن کيسان او هغه ته ابن شهاب په همدي سند ددي حديث پشان روايت بيان کړي دي.

****

٣٩٠٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، وَالْمُؤَمَّلُ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَبْغَضُ الْأَنْصَارَ أَحَدٌ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې په الله او په ورځ داخرت ايمان لري هغه دانصارو سره بغض نشي کولي.
امام ترمذي وائي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٠٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْأَنْصَارُ كَرِشِي وَعَيْبَتِي، وَإِنَّ النَّاسَ سَيَكْثُرُونَ وَيَقِلُّونَ فَاقْبَلُوا مِنْ مُحْسِنِهِمْ، وَتَجَاوَزُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي انصار زما رازداران او خاص خلق دي ډيره نږدي ده چې خلق به زيات شي او انصار به کم شي نوتاسو په دوئ کي دنيکو خلقو نيکياني قبلوئ او ګنهګارانو ته يي معافي کوئ.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي

****

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٤٨٣)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ١١ (٣٨٠١) . صحيح مسلم/فضائل الأنصار ٤٣ (٢٥١٠) (تحفة الأشراف: ١٢٢٥)

۳۹۰۸_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ طَارِقِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اللَّهُمَّ أَذَقْتَ أَوَّلَ قُرَيْشٍ نَكَالًا، فَأَذِقْ آخِرَهُمْ نَوَالًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.
حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الْوَرَّاقُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي الله دقريشو په اولنو خلقودي د (دقتل او قيد او ذلت) عذاب اوڅکلو، پس د دوئ په روستنو او اخرنو خلقو باندي عنايت او كرم اوكړي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي. عبد الوهاب وراق هم د يحي بن سعيد اموي په واسطه داعمش نه د ماقبل هم معني روايت نقل كړى دى.

****

۳۹۰۹_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ جَعْفَرٍ الأَحْمَرِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلأَنْصَارِ، وَلأَبْنَاءِ الأَنْصَارِ، وَلأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الأَنْصَارِ، وَلِنِسَاءِ الأَنْصَارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلأَنْصَارِ، وَلأَبْنَاءِ الأَنْصَارِ، وَلأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الأَنْصَارِ، وَلِنِسَاءِ الأَنْصَارِ "يعني اي الله انصارو ته او دانصارو بچو ته او د دوئ دبچو بچو ته او د دوئ ښځو ته مغفرت اوكړي.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي.

****

٦٧_بابٌ فِي أَيِّ دُورِ الأَنْصَارِ خَيْرٌ
دانصارو په كومو كورونو او قبيلو كي خير دي

۳۹۱۰_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٥٢٢)
[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٥٢٢)

مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ دُورِ الْأَنْصَارِ أَوْ بِخَيْرِ الْأَنْصَارِ؟ ". قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: " بَنُو النَّجَّارِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو عَبْدِ الْأَشْهَلِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ بَنُو سَاعِدَةَ. ثُمَّ قَالَ بِيَدِهِ، فَقَبَضَ أَصَابِعَهُ ثُمَّ بَسَطَهُنَّ كَالرَّامِي بِيَدَيْهِ. قَالَ: وَفِي دُورِ الْأَنْصَارِ كُلِّهَا خَيْرٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا أَيْضًا عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا زه تاسو ته په انصارو کي دبهترينو کورونو يا په انصارو کي دبهترينو خلقو باره کي خبر درنکړم؟ عرض يي اوکړو ولي نه اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل دانصارو په ټولو قبيلو کي بهتره قبيله بني نجار دي او بيا بني عبدالاشهل دي او بيا هغه څوك دي كوم چې دوئ ته قريب دي او بيا بني حارث بن خزرج دي او بيا هغه څوك دي كوم چې دوئ ته نزدي دي بيا بني ساعده دي بيا رسول الله پخپلو دواړو لاسونو اشاره اوکړه او خپلي ګوتي يي بندي کړي او بيا يي پرانيستل لکه چې څوك پخپلو لاسونو يو څيز غورځوي او وبي فرمائيل دانصارو په ټولو کورونو کي خير (برکت) دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث دانس رضي الله عنه نه دابواسيد الساعدي په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٣٩١١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. قَالَ: سَمِعْتُ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ دُورِ الْأَنْصَارِ دُورُ بَنِي النَّجَّارِ، ثُمَّ دُورُ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ، ثُمَّ بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ، ثُمَّ بَنِي سَاعِدَةَ، وَفِي كُلِّ دُورِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ ". فَقَالَ سَعْدٌ: مَا أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا قَدْ فَضَّلَ عَلَيْنَا فَقِيلَ: قَدْ فَضَّلَكُمْ عَلَى كَثِيرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو أُسَيْدٍ السَّاعِدِيُّ اسْمُهُ: مَالِكُ بْنُ رَبِيعَةَ، وَقَدْ رُوِيَ نَحْوُ هَذَا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الطلاق ٢٥ (٥٣٠٠). صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٤٤ (٢٥١١) (تحفة الأشراف: ١٢٥٢)

مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَعُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دابواسيد الساعدي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانصارو په تولو كورونو كي بهتركور بني نجار والا دي بيا بني عبدالشهل دي بيا بني حارث بن خزرج دي بيا بني ساعده دي او دانصارو په تولو كورونو كي خير او بركت دي سعد اووئيل ما دا گمان اوكړو چې رسول الله خلقو ته په مونږ باندي فضيلت وركړه نوما اووئيل تاسو ته هم په نورو ډيرو خلقو فضيلت دركړي شوي دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او دابو اسيد الساعدي نوم مالك بن ربيعه دي، ددي پشان روايت دابوهريره رضي الله عنه نه هم مرفوعا مروي دي، دا روايت معمرو دزهري نه او هغه دابوسلمه او عبيدالله بن عبدالله بن عتبه نه او دوئ دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

****

٣٩١٢_حَدَّثَنَا أَبُو السَّائِبِ سَلْمُ بْنُ جُنَادَةَ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ دِيَارِ الأَنْصَارِ بَنُو النَّجَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانصارو په قبيلو كي بهترينه قبيله بني نجار دي.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند غريب دي.

****

٣٩١٣_حَدَّثَنَا أَبُو السَّائِبِ سَلْمُ بْنُ جُنَادَةَ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ الأَنْصَارِ بَنُو عَبْدِ الأَشْهَلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (3)

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٧ (٣٧٨٩، و٣٧٩٠) ، و١٥ (٣٨٠٧) ، والأدب ٣٧٤ (٢٠٥٣) ، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٤٤ (٢٥١١) (تحفة الأشراف : ١١١٨٩)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٣٥٣)

3 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٣٥٣)

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانصارو په قبيلو کي بهترينه قبيله بني نجار دي بيا بني عبدالاشهل دي.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

8/18

****

٦٨ـ باب فِي فَضْلِ الْمَدِينَةِ

دمکي او مديني خصوصيت

عن أنس ﷺ قال : قال رسول الله ﷺ : ((لَيسَ مِنْ بَلَدٍ إلاَّ سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إلاَّ مَكَّةَ وَالمَدِينَةَ وَلَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهِمَا إلاَّ عَلَيْهِ المَلاَئِكَةُ صَافِّينَ تَحْرُسُهُمَا ، فَيَنْزِلُ بالسَّبَخَةِ([1]) ، فَتَرْجُفُ المَدِينَةُ ثَلاَثَ رَجَفَاتٍ ، يُخْرِجُ اللهُ مِنْهَا كُلَّ كافِرٍ وَمُنَافِقٍ)) .

أخرجه : مسلم كتاب الفتن باب في الدجال وهو اهون علي الله عز وجل . ٢٠١/٨ (٢٩٤٠) (١١٦) وابن حبان ٧٣٥٣.

د انس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مکی معظمی او مدينی منوری نه علاوه يو ښار هم داسی نشته چې دجال به يی خپو لاندی نه کړي مکي او مديني ته دننوتو په ټولو لاروبه فرشتې صفونه صفونه ولاړی وي، حفاظت به يی کوي دجال چې سبخه نومی ځايی ته رااورسي نو مدينه منوره کي به دری ځله زلزله راشي او ټول کافران او منافقان بهمدينی منوری نه اووزي دجال سره به ملګري شي.

دمکي او مديني په خصوصياتو کي يو خصوصيت دا هم دی چې دجال به هلته نشي ورتلی او په دغه وخت کي به دمکي او مديني حفاظت فرشتي کوي دجال به دورتلو کوشش کوي مګر فرشتي به يي داخليدو ته نه پريږدي په بعضي روايتونو کي دمسجد اقصي او جبل طور ذکر هم راغلی دی.

مګر ددجال منونکي چې به څوك په مکه او مدينه کي وي نو هلته به زلزله راشي او ددي زلزلي په وجه به ددجال ملګري بهر راوځي او دده سره به يو ځاي شي.

رجفات: جمع د راجفة ده معني يي دشپيلۍ پوکل دي چې دقيامت په ورځ به پوکلي شي.

٣٩١٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِحَرَّةِ السُّقْيَا الَّتِي كَانَتْ لِسَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

[1] هي الأرض التي تعلوها الملوحة ولا تكاد تنبت إلا بعض الشجر . النهاية ٢/٣٣٣ .

وَسَلَّمَ: " ائْتُونِي بِوَضُوءٍ ". فَتَوَضَّأَ. ثُمَّ قَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ عَبْدَكَ وَخَلِيلَكَ، وَدَعَا لِأَهْلِ مَكَّةَ بِالْبَرَكَةِ، وَأَنَا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ أَدْعُوكَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ أَنْ تُبَارِكَ لَهُمْ فِي مُدِّهِمْ، وَصَاعِهِمْ مِثْلَيْ مَا بَارَكْتَ لِأَهْلِ مَكَّةَ مَعَ الْبَرَكَةِ بَرَكَتَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره روان شو تردي چې مونږ حره سقيا ته ورسيدو كومه چې دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه محله وه نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته د اودس دپاره اوبه راكړئ چنانچې اودس يي اوكړو او بيا قبلي ته مخامخ اودريدو او ويي فرمائيل «اللهم إن إبراهيم كان عبدك وخليلك ودعا لأهل مكة بالبركة وأنا عبدك ورسولك أدعوك لأهل المدينة أن تبارك لهم في مدهم وصاعهم مثلي ما باركت لأهل مكة مع البركة بركتين»اي الله ابراهيم عليه السلام ستا بنده او ستا دوست وو او هغه دمكي داوسيدونكو دپاره دعا غوښتلي وه او زه هم ستا بنده او ستا رسول يم ستا نه دمديني دپاره دعا غواړم چې ته ددوئ په مد او صاع كي داسي بركت واچوي څنګه چې تا دمكي والا دپاره اچولي وو او دهغوئ دوه دومره بركت په مديني والا باندي نازل كړي او دهر يو بركت سره دوه دوه بركتونه نازل كړي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعائشه، عبدالله بن زيد، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٩١٥ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا أَبُو نُبَاتَةَ يُونُسُ بْنُ يَحْيَى بْنِ نُبَاتَةَ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ وَرْدَانَ، عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) وانظر مسند احمد (١/١١٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٧، ١٣٩٢٩)

دکور او زما دمنبر مینځ کي چې (دمسجد نبوي) کومه حصه ده دا دجنت په باغچو کي یوه باغچې ده.
امام ترمذي وائي: دا حدیث په دي سند حسن غریب دي او داحدیث دابوهریره رضي الله عنه نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مرفوعا مروي دي.

****

٣٩١٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَامِلٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ الزَّاهِدُ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ ".([1])

ترجمه : دابوهریره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي زما دکور او زما دمنبر مینځ کي چې (دمسجد نبوي) کومه حصه ده دا دجنت په باغچو کي یوه باغچې ده.

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " صَلاَةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلاَةٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِلاَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ.([2])

ترجمه : په مذکوره سند دامضمون هم درسول الله صلي الله علیه وسلم نه مروي دي فرمائیل یي چې زما په دي مسجد (مسجد نبوي) کي یو مونځ کول په نورو مسجدونو کي د زر مونځونو کولو نه افضل دي مګر علاوه دمسجد الحرام نه.
امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دي او داحدیث دابوهریره رضي الله عنه په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه په نورو ډیرو سندونو هم مروي دي.

د مسجد نبوي تاریخي حیثیت

علماء وایي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په زمانه کي دمسجد نبوي ستني دوچو کجورو دتنو نه جوړي شوي وي او تر څو پوري چې منبر لاته وو جوړ شوی نو دهغه وخته پوري به نبي کریم صلي الله علیه وسلم په دي ستنو کي یوي ستني ته ودره وهله او خطبه به یي ورکوله لیکن

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٣٨١٠)

[2] ـ تفرد به المؤلف (١٣٨١١)

کله چې منبر جوړ شو نو رسول الله په منبر کيناستل شروع کړل او دغه ستنو ددي سعادت نه دمحرومۍ په وجه په ژړا شروع اوکړه ددي واقعي نه پس دا ستن اسطوانه حنانه باندي مشهوره شوه دا حديث ډيرو صحابه کرامو نقل کړی دی ترديي چې بعضي علماؤ ددي په متواتر کيدو حکم کړی دی دکوم چې دروغ ګڼړل محال دي.

****

۳۹۱۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا، فَإِنِّي أَشْفَعُ لِمَنْ يَمُوتُ بِهَا "، وَفِي الْبَابِ عَنْ سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ الْأَسْلَمِيَّةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې په مدينه کي مرکيدي شي هغه دپاره پکار دي چې هم دلته مرشي ددي وجه دادا څوك چې په مدينه کي مرشي زه به (دقيامت په ورځ) دهغه په حق کي سفارش کوم.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند يعني دايوب سختياني په روايت حسن صحيح غريب دي. او په دي باب کي دسبيعه بنت حارث اسلميه نه هم روايت وارد دي.

****

۳۹۱۸_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَال: سَمِعْتُ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ مَوْلَاةً لَهُ أَتَتْهُ، فَقَالَتْ: اشْتَدَّ عَلَيَّ الزَّمَانُ وَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أَخْرُجَ إِلَى الْعِرَاقِ، قَالَ: فَهَلَّا إِلَى الشَّامِ أَرْضِ الْمَنْشَرِ، اصْبِرِي لَكَاعِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ صَبَرَ عَلَى شِدَّتِهَا وَلَأْوَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا أَوْ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَسُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ، وَسُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ. (٢)

ترجمه: مروي دي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته دهغه يوه ازاده کړي وينځه راغله او وئيل يې چې زه دزماني دګردش ښکارشوي يم (په مصيبتونو کي ګيره شوي يم) او عراق ته تلل غواړم ابن عمر ورته اووئيل شام ته ولي نه ځي له چې هغه دحشر او نشر زمکه ده ورته

[1] ــ سنن ابن ماجه/الحج ۱۰۴ (۳۱۱۲) (تحفة الأشراف : ۷۵۵۳)

[2] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۸۱۲۲)

اوونيل "اصبري لګاع" يعني اي ناداني صبر اوکړه ځکه چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يې چې چاچې د مدينې په سختئ او تنګ ژوند باندي صبر اوکړو زه به د قيامت په ورځ د هغه سفارشي يم
امام ترمذي وائي داحديث دعبيدالله په روايت حسن صحيح غريب دي. او په دي باب کي دابوسعيد خدري، سفيان بن ابي زهير او سبيعه اسلميه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٨١٩_حَدَّثَنَا أَبُو السَّائِبِ سَلْمُ بْنُ جُنَادَةَ، أَخْبَرَنَا أَبِي جُنَادَةُ بْنُ سَلْمٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آخِرُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الإِسْلاَمِ خَرَابًا الْمَدِينَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ جُنَادَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، قَالَ: تَعَجَّبَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ هَذَا. (1)
ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اسلامي ښارونو کي دخرابئ په اعتبار مدينه دټولو نه اخري ښار دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف دجناده په روايت پيژنو چې دهشام بن عروه نه يې نقل کوي، امام بخاري دابوهريره ددي حديث نه تعجب کړي دي (يعني داسي خبري څنګه صحيح کيدي شي).

****

٣٩٢٠_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ. ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الإِسْلاَمِ فَأَصَابَهُ وَعَكٌ بِالْمَدِينَةِ، فَجَاءَ الأَعْرَابِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَخَرَجَ الأَعْرَابِيُّ، ثُمَّ جَاءَهُ، فَقَالَ: أَقِلْنِي بَيْعَتِي، فَأَبَى، فَخَرَجَ الأَعْرَابِيُّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ، تَنْفِي خَبَثَهَا، وَتَنْصَعُ

---
1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١٦٦)

طَيِّبَهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو بانډچي درسول الله صلى الله عليه وسلم سره په اسلام باندي بيعت اوکړو او بيا ورباندي په مدينه کي تبه راغله نو بانډچي په دربار نبوي کي حاضر شو او ونيل يي ماته زما بيعت راواپس کړئ، نورسول الله ددينه انکار اوکړو بيا ورته هغه دوباره راغي او ونيل يي ماته زما بيعت واپس راکړي رسول الله ورنه انکار اوکړو بيا دغه بانډچي مدينه پريخوده او لاړو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل مدينه د يوي بټۍ پشان ده چې خيري غورځوي او پاکو لره جدا کوي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٣٩٢١ـ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ. ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: لَوْ رَأَيْتُ الظِّبَاءَ تَرْتَعُ بِالْمَدِينَةِ مَا ذَعَرْتُهَا، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا حَرَامٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَسَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائيل يي که چري زه په مدينه کي د هوسۍ په ځريدو اووينم نو دوئ نه ويروم ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي ددي د دوه کاڼجنو زمکو په مينځ کي حرم دي.

امام ترمذي وائي: دابوهريره رضي الله عنه داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دسعد، عبدالله بن زيد، انس، ابوايوب، زيد بن ثابت، رافع بن خديج، سهل بن حنيف، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل المدينة ١٠ (١٨٨٣)، والأحكام ٣٥ (٧٢٠٩)، و٤٧ (٧٢١١)، و٥٠ (٧٢١٦)، والاعتصام ١٦ (٧٣٢٢). صحيح مسلم/الحج ٨٨ (١٣٨٣) (تحفة الأشراف: ٣٠٧١). موطا امام مالک/الجامع ٢ (٤) ١٠ مسند احمد (٣/٢٩٢)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل المدينة ٤ (١٨٧٣). صحيح مسلم/الحج ٨٥ (١٣٧٢) (تحفة الأشراف: ١٣٢٣٥). وط/الجامع ٣ (١١). ومسند احمد (٢/٢٣٦، ٢٨٧)

****

٣٩٢٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، ح وحَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ، فَقَالَ: " هَذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ، اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نظر په احد غر اولګيدو نو ويي فرمائيل دا يو داسي غر دي چي مونږ سره محبت کوي او مونږ دده سره محبت کوو او اي الله ابراهيم عليه السلام مکه حرم ګرځولي ده او زه دمديني د دوه کاڼجنو زمکو په مينځ کي حصي لره حرم ګرځول غواړم.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٢٣_حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عِيسَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ غَيْلَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ العَامِرِيِّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَيَّ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ نَزَلْتَ فَهِيَ دَارُ هِجْرَتِكَ: المَدِينَةَ، أَوْ البَحْرَيْنِ، أَوْ قِنَّسْرِينَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الفَضْلِ بْنِ مُوسَى تَفَرَّدَ بِهِ أَبُو عَمَّارٍ. ([2])

ترجمه: دجرير بن عبدالله بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي ماته وحي راوليږله چي په مدينه، بحرين، او قنسرين په دي دري ځايونو کي چي ته هر ځاي ته لاړي هغه به ستا دارالهجرت وي.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دفضل بن موسي په روايت پيژنو او دهغه نه ابوعمار يعني حسين بن حريث په روايت نقل کولو کي منفرد دي.

****

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ٧١ (٢٨٨٩)، وأحاديث الأنبياء ١١ (٣٣٦٧)، والمغازي ٢٨ (٤٠٨٣، ٤٠٨٤)، والاعتصام ١٦ (٧٣٣٣)، صحيح مسلم /الحج ٨٥ (١٣٦٥) (تحفة الأشراف : ١١١٦)، ومسند احمد (٣/١٤٠، ١٤٩، ٢٤٠)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢٢١)

٣٩٢٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا أَوْ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَسُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ، وَسُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةِ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. قَالَ: وَصَالِحُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ أَخُو سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې دمديني په تنګ معيشت او سختيانو باندي صبر كوي زه به دقيامت په ورځ دهغه دپاره ګواه او سفارشي يم.

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب كي دابوسعيد خدري، سفيان بن ابي زهير، او سبيعه اسلميه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. اوصالح بن ابي صالح دسهيل بن ابي صالح ورور دي.

****

٦٩_باب فِي فَضْلِ مَكَّةَ

دمكي دفضيلت بيان

٣٩٢٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ ابْنِ حَمْرَاءَ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ، فَقَالَ: "وَاللَّهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللَّهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللَّهِ إِلَى اللَّهِ، وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، نَحْوَهُ. وَرَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ ابْنِ حَمْرَاءَ، عِنْدِي أَصَحُّ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عدي بن حمراء زهري بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په "حزوراء" مقام ديركي باندي ولاړ اوليدلو او فرمائيل يي په الله قسم ته دالله تعالي په زمكو كي دټولو نه بهتره زمكه يي كه چري زه ستا نه نه ويستلي كيدي نو هيڅ كله به دزنه

---

[1] _ صحيح مسلم /الحج ٨٦ (١٣٧٨) (تحفة الأشراف: ١٢٨٠٣)

[2] _ سنن ابن ماجه/المناسک ١٠٣ (٣١٠٨) (تحفة الأشراف: ٦٦٣١)

ږخپله وتلي نه وم.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب صحيح دي داحديث يونس هم دزهري نه نقل كړي دي او محمد بن عمرو هم په سند دابي سلمي عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، او دزهري كوم حديث چې په سند د عن ابي سلمه عن عبدالله بن عدي بن حمراء مروي دي هغه زما په نزد زيات صحيح دي.

****

٢٩٢٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ، وَأَبُو الطُّفَيْلِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَّةَ: "مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ، وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم مكي ته دخطاب كولو په حال كي اوفرمائيل ته څومره پاك ښار يي او ته څومره ماته محبوب ښار يي زما قوم زه ستانه نه ويستلي نو زه به ستانه علاوه بل كوم خاي ته نه وم تلي.
امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

تشريح: د مكي د حرمت او فضيلت باره كي نصوص قاطعه صريحه متواتره په كثرت سره وارد دي من جمله دهغي نه دا ارشاد الهي دى:
إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ ۝ فِيْهِ اٰيٰتٌ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ إِبْرٰهِيْمَ. وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ اٰمِنًا (ال عمران:٩٥)
يعني دټولونه مخكښي كور كوم چې دخلقودپاره قائم شوي دي يقينا هغه كور چې په مكه كي دي كعبه بركت والاده اوباعث دهدايت دي دټولوخلقو دپاره ، پدي كښي (دصداقت اوحقانيت) واضح دلائل په كثرت سره موجود دي پدي نښانو كي يوه نښاني مقام ابراهيم ده اوځوك چې حرم ته ورداخل شي هغه دقتل كيدو اولوټ كيدو نه بي خوفه كيږي،
تفسير مظهري ددي ايت شاندار تفسير كړى دى فرمائي چې :حسن اوكلبي وئيلي دي چې ددينه اول ترين مسجد اوعبادت خانه مراد ده كوم چې دالله دعبادت دپاره مقرركړي شوي دي لكه چې په بل ايت كريمه كي راغلي دي : في بيوت اذن الله ان ترفع ، دلته هم دبيوت نه مراد مسجدونه دي.

---

١ - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٥٢٩)

بکه او مکه دواړه هم معني الفاظ دي اهل عرب کله کله باء په میم سره بدلوي لکه نمیط او نبیط لازم او لازب ، راتب او راتم ، بعضي علماؤ وئیلي دي مکه دټول ښار نوم دي او بکه صرف دکعبي نوم دي یا د طواف دمقام نوم دي بکه په معني دګنړي دي اودحج په ورځو کي په مکه کي هم ګنړه ګونړه وي نوځکه ورته بکه وئیلي شي.

بِبَكَّةَ : عبدالله بن زبیر رضي الله عنه فرمائیلي دي مکه دلویو لویو جابرانو څټونه ماتوي لکه چي یي داصحاب فیل والا څټونه مات کړي وو مکي ته مکه ځکه وئیلي شي چي مك په معني دقلت داوبو سره دي اوپه مکه کي به اوبه کمي وي ، په ایت کریمه کي داولیت دبیت نه څه مراد دي په دي باره کي دعلماؤ اقوال مختلف دي ، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما مجاهد ، قتاده او سدي وئیلي دي چي دزمکي او اسمان دپیدائش په ورځ داوبو سطح دټولونه اول دکعبي په مقام باندي ښکاره شوه په ابتداء کي دا سپین زګ وو (کوم چي منجمد شوي وو) دزمکي دپیدائش نه دوه زره کاله مخکي ددي تخلیق شوي وو بیا هم ددي دلاندي زمکي اوغوړولي شوه ، علي بن الحسین رضي الله عنهما فرمائیلي دي چي الله تعالي دعرش لاندي یو کور جوړ کړو چي نوم یي بیت المعمور دي اوداسمان فرشتو ته یي ددینه دطواف کولو حکم اوکړو اوبیا یي په زمکه باندي اوسیدونکو فرشتو ته حکم اوکړو چي دبیت المعمور پشان په زمکه کي هم یو کور جوړ کړئ فرشتو دحکم مطابق دکعبي تعمیر اوکړو او صراح نوم یي ورباندي کیخودو بیا الله تعالي زمکي والاته حکم اوکړو لکه څنګه چي اسمان والاد بیت المعمور نه طواف کوي دا رنګي تاسو هم ددي کور طواف اوکړئ ، په بعضي روایتونو کي راغلي دي چي دادم علیه السلام دپیدائش نه دوه زره کاله مخکي فرشتو دکعبي عمارت جوړ کړي وو اوددي حج به یي کولو کله چي ادم علیه السلام حج اوکړو نو فرشتو اووئیل ستا حج مبرور دي مونږ ستا نه دوه زره کاله مخکي ددي حج کړي دي.

په یو روایت کي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته ددي قول نسبت شوي دي چي ادم علیه السلام دټولو نه مخکي په زمکه دکعبي عمارت جوړ کړي وو او دا روایت ازرقي په تاریخ مکه کي نقل کړي دي.

د بعضي اهل علمو قول دي دکعبي اولیت دزماني په لحاظ سره مراد نه دي بلکه دفضیلت په اعتبارسره مراد دي یعني کعبه افضل ترین عمارت دي ددي قول نسبت علي کرم الله وجهه ته شوي دي ضحاك وئیلي دي کعبه دټولو نه مخکني کور دي کوم ته چي برکت ورکړي شوي دي ځکه چي الله تعالي ددینه پس فرمائیلي دي.

مُبٰرَكًا ... یعني کعبه برکت والاده ، اوددي اجر اوثواب زیات دي، بعضي عبادتونه خود کعبي سره مخصوص دي (په کوم بل ځاي کي نه شي کیدي) لکه حج یا حج ته دقربانۍ ځاروي لیږل ،

او عمره او بعضي نور عبادتونه ، اوبعضي عبادتونه دلته په ادا كولوسره يي ثواب دومره زيات وي چې په كوم بل ځي كي ادا كول ورسره برابرنه وي لكه مونځ ، روژه، او اعتكاف په هم دي وجه امام ابو يوسف فرمائيلي دي چاچې په مسجد حرام كي ددوه ركعتاته مونځ كولو نذرمنلي وي اوپه بل ځاي كي يي اداكړي نوكافي به نه وي ځكه چې دانس بن مالك په روايت كي راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پخپل كوركي دنته يو مونځ كول ديو مونځ سره برابر دي اودمحلي په مسجد كي يومونځ كول دپنځه ويشتومونځونوسره برابردي اوپه جامع مسجد كي مونځ كول دپنځه سوه مونځونوسره برابردي اوپه مسجد اقصي كي مونځ كول دزرو مونځونوسره برابردي او زما په مسجد كي مونځ كول دپنځوس زره مونځونوسره برابردي اوپه مسجد حرام كي يومونځ كول دسل زره مونځونوسره برابردي (ابن ماجه).

په طحاوي كي دعطاء بن زبير په روايت سره منقول دي چې رسول الله صلي اله عليه وسلم فرمائيلي دي زماپه دي مسجد كي يومونځ كول دمسجد حرام نه علاوه دنورو مسجدونونه زرچنده زيات دي اوپه مسجدحرام كي يومونځ كول زماپه مسجد كي دسلومونځونونه بهتردي ، عبدالله بن زبير رضي الله عنه دعمر بن خطاب په روايت سره هم دا حديث نقل كړي دي مګر غير مرفوع دي اودجابر بن عبدالله په روايت سره داحديث مرفوع هم مروي دي ابن جوزي په روايت دجابر رضي الله عنه سره په دي الفاظو مرفوع روايت ذكركړي دي چې په مسجد حرام كي يو مونځ دسلو مونځونونه افضل دي ، ليكن دامام ابو حنيفه او امام محمد قول دادي چې دمونځونو دا ترتيبي فضيلت صرف دفرض مونځونو سره متعلق دي په نوافلوكي دا فضيلت نشته ځكه چې دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دفرضو نه علاوه دسړي دپاره ټول مونځونه پخپل كوركي كول افضل دي (بخاري اومسلم)

وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا... اوڅوك چې حرم ته ورداخل شي هغه دقتل كيدو اولوټ كيدو نه بې خوفه كيږي. داجمله ابتدائيه ده يا شرطيه ده اوپه معنوي اعتبار سره په مقام ابراهيم باندي عطف ده ، يعني دايات بينات نه يوه نښاني داهم ده چې حرم ته داخليدونكي مامون كيږي ، داسلام نه مخكي به اهل عرب په قتل اوغارت كي مشغول وو ليكن څوك چې به حرم ته داخل شويه هغه باندي به چا څه قسم تعارض نه كولو ، دحسن بصري، قتاده او اكثر اهل تفسير داقول دي چې ددي ايت پشان يوبل ايت هم دي الله تعالي فرمائيلي دي: أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ . امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائيلي دي څوك چې حرم ته داخل شي هغه په امن كيږي، اوقتل كول يي جائز ندي، پس كه چري چا دحرم نه بهركوم

موجب قصاص ياموجب حد جرم كړي وي اوحرم ته راشي اوپناه واخلي نوپه حرم كي به دننه ورنه قصاص نشي اخستلي اونه به وربانديي حد جاري كولي شي، البته خوراك څښاك وربانديي بندولي شي اوخريدوفروخت دي ورسره هم پريخودلي شي تردي چې دحرم په پريخودلو بانديي مجبوره شي اوبهر را اوځي، اوبهر ورته سزا وركړي شي، ابن عباس رضي الله عنهما ته هم ددي قول نسبت شوي دي ، امام شافعي رحمة الله عليه فرمائيلي دي دحرم نه بهر جرم كونكي چې په حرم كي پناه واخلي قصاص به ورنه اخستلي شي.ليكن كه څوك په حرم كي دننه جرم وكړي نوپه اتفاق دعلماؤ سره به ورته په حرم كي دننه سزا وركولي شي.

همدارنګي ارشاد الهي دي: وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا :(انعام: ٩٢) اودمكي والااودمكي هرجانب والالره او يروئ ، ولتنذر په فعل محذوف عطف دي دكوم مفهوم چې دمبارك لفظ نه معلوميږي يعني تردي چې تاسو ورنه نفع واخلئ اوتمامو انسانانو لره اويروئ ، د ام القري نه مراد مكه اود من حولها نه مراد مشرق مغرق اوشمال اوجنوب يعني دتمامو اطرافو اوسيدونكي ، دام القري نه مخكي مضاف محذوف دي يعني دام القري اوسيدونكي ، مكي ته ام القري ځكه وائي چې همددي ځاي نه تمامه زمكه غوړولي شوي ده يا داچې دادهرځاي داوسيدونكو دپاره قبله اودحج مقام دي . داولنئ وجه تسميه په بنياد به ام په معني داصل وي اوددويمي په بناء به ام په معني د عموم يعني مقصود وي.

****

٧٠ ـ باب مَنَاقِبَ فِي فَضْلِ الْعَرَبِ

داهل عرب دفضيلت بيان

٢٩٢٧ ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الأَزْدِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ شُجَاعُ بْنُ الْوَلِيدِ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا سَلْمَانُ، لاَ تَبْغَضْنِي فَتُفَارِقَ دِينَكَ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ أَبْغَضُكَ وَبِكَ هَدَانَا اللَّهُ؟ قَالَ: "تَبْغَضُ الْعَرَبَ فَتَبْغَضُنِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَدْرٍ شُجَاعِ بْنِ الْوَلِيدِ، وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: أَبُو ظَبْيَانَ لَمْ يُدْرِكْ سَلْمَانَ، مَاتَ سَلْمَانُ قَبْلَ عَلِيٍّ. (1)

ترجمه : دسلمان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل اي سلمان ته ماسره بغض مه كوه په دي خبره چې چې ستا دين ستادلاس نه اوځي ما عرض اوكړو

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٤٨٨)

اي دالله رسوله زه تاسره ځنګه بغض کولي شم او حال دادي الله تعالي ستا په ذريعه مونږ ته هدايت کړي دي رسول الله اوفرمانيل که دعربو سره دي بغض اوکړو نو زما سره دي بغض اوکړو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دابوبدر شجاع بن وليد په روايت پيژنو ما دامام بخاري نه اوريدلي دي وئيل يي ابوظبيان دسلمان زمانه نه دده موندلي اوسلمان رضي الله عنه دعلي صاحب نه مخکي وفات شوي دي.

****

٣٩٢٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ الْعَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عُمَرَ الْأَحْمَسِيِّ، عَنْ مُخَارِقِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ غَشَّ الْعَرَبَ لَمْ يَدْخُلْ فِي شَفَاعَتِي وَلَمْ تَنَلْهُ مَوَدَّتِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حُصَيْنِ بْنِ عُمَرَ الْأَحْمَسِيِّ، عَنْ مُخَارِقٍ، وَلَيْسَ حُصَيْنٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِذَاكَ الْقَوِيِّ. [1]

ترجمه: دعثمان بن عفان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چاچي عربو ته دهوکه ورکړه هغه به زما په شفاعت کي شامل نه وي او زما محبت به يي نصيب نشي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف خصيم بن عمر احمسي په روايت پيژنو چي دمخارق نه روايت کوي اوحسين دمحدثينو په نزد دزيات قوت حامل نه دي.

****

٣٩٢٩_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، قَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي رَزِينٍ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: كَانَتْ أُمُّ الْحُرَيْرِ إِذَا مَاتَ أَحَدٌ مِنَ الْعَرَبِ اشْتَدَّ عَلَيْهَا. فَقِيلَ لَهَا: إِنَّا نَرَاكِ إِذَا مَاتَ رَجُلٌ مِنَ الْعَرَبِ اشْتَدَّ عَلَيْكِ. قَالَتْ: سَمِعْتُ مَوْلَايَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مِنَ اقْتِرَابِ السَّاعَةِ هَلَاكُ الْعَرَبِ ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي رَزِينٍ: وَمَوْلَاهَا طَلْحَةُ بْنُ مَالِكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ حَرْبٍ. [2]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٨١٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٠٢٢)

ترجمه: دمحمد بن رزين دمور بيان دي وئيل يي چې كله به عرب مړكيدل نو په ام جرير به سخت خفگان تيريدو هغې ته اووئيلي شول مونږ تالره وينو چې كله كوم عرب مړكيږي نو تاته سخته صدمه رسيږي هغې اوونيل مادابومالك نه اوريدلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعربو هلاكت دقيامت دنژدې كيدو او رارسيدو نشاني ده، محمد بن رزين وائي دمالك نوم طلحه بن مالك دي.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دسليمان بن حرب په روايت پيژنو.

****

٣٩٣٠ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الأَزْدِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ شَرِيكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ حَتَّى يَلْحَقُوا بِالْجِبَالِ "، قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: " هُمْ قَلِيلٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه: دام شريك بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق به د دجال نه تختي تردي چې غرونو ته به اورسيږي ام شريك عرض وكړو اي دالله رسوله هغه وخت كي به عرب چرته وي؟ رسول الله اوفرمائيل دهغوئ تعداد به ډير كم وي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي.

دام شريک خوله بنت حکيم رضي الله عنها مناقب

نوم خوله كنيه ام شريك قبيله اسلم سره تعلق لري او دا درسول الله صلي الله عليه وسلم ترور وه چې دعثمان بن مظعون سره يي نكاح شوي وه كله چې په دويم هجري كي عثمان بن مضعون وفات شو نو خوله رضي الله عنها دويمه نكاح اونكړه علامه ابن اسير وائي كانت امرئة صالحة يعني خوله يوه نيكه بي بي وه په مسند احمد كي راځي تصوم النهار تقوم الليل دورځي به يي روژې نيولي او دشپې به يي تهجد كول دمروياتو شمير يي پنځلس دی.

****

٣٩٣١ـحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ الْعَقَدِيُّ بَصْرِيٌّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " سَامٌ أَبُو الْعَرَبِ، وَيَافِثُ أَبُو الرُّومِ، وَحَامٌ أَبُو الْحَبَشِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَيُقَالُ: يَافِثُ،

[1] ـ صحيح مسلم/الفتن ٢٥ (٢٩٤٥) (تحفة الأشراف: ١٨٣٣٠)

وَيَافِثُ. وَيفِثُ. (1) .

ترجمه : دسمره بن جندب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سام دعربو نيکه دي او يافث درومیانو نیکه دي او حام دحبشيانو نيكه دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن دي او "يافث" او "يافت" او "يفت" دري واړه لغتونه دي.

تشريح: ابو نعيم الاصبهاني په صفة اهل الجنة کي يو حديث نقل کړی دي فرماني چي: حدثنا أبو أحمد زهير بن محمد بن يعقوب الموصلي ثنا أبو عبد الله الحسين بن عمر بن أبي الأحوص الكوفي ثنا العلاء بن عمرو الحنفي ثنا يحيى بن بريد الشعري عن ابن جريج عن عطاء عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أحبوا العرب لثلاث لأني عربي والقرآن عربي وكلام أهل الجنة عربي (صفة اهل الجنة برقم ٢٧٩ باب لسان اهل الجنة عربي)

****

٧١ـ باب فِي فَضْلِ الْعَجَمِ

دعجميانو دفضيلت بيان

د عجمو په فضیلت کي امام ترمذي د سورة الجمعه په تفسیر کي په دي الفاظو يو مرفوع روايت نقل کړی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: قَالَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرَ اللَّهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوا بِنَا ثُمَّ لَمْ يَكُونُوا أَمْثَالَنَا؟ قَالَ: وَكَانَ سَلْمَانُ بِجَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخِذَ سَلْمَانَ، وَقَالَ: " هَذَا وَأَصْحَابُهُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ مَنُوطًا بِالثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ فَارِسَ ".

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي په صحابه کرامو کي بعضي کسانو اووئيل اي دالله رسوله داخوك دي دچا باره کي چي الله تعالي فرمائيلي دي که چري مونږ ددين نه واپس شو نو هغوئ به زمونږ په بدل کي راوستلي شي او هغوئ به زمونږ پشان نه وي؟ دي وخت کي سلمان رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم په اړخ کي ناست وو رسول الله دسلمان په زنګون لاس کيخودو او ويې فرمائيل دا کس او دده ملګري، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چي زما روح دي که ايمان دثريا سره هم معلق کړي شي نو بيا به يي

---

1 ـ انظر حديث رقم ٢٢٢١

هم بعضي فارسيان بيامومي.
امام ترمذي وايي دا كس عبدالله بن جعفر بن نجيح دعلي بن المديني پلار دي، علي بن حجر دعبدالله بن جعفر نه په كثرت سره احاديث نقل كړي دي.

۳۹۳۲_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: ذُكِرَتِ الأَعَاجِمُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَأَنَا بِهِمْ أَوْ بِبَعْضِهِمْ أَوْثَقُ مِنِّي بِكُمْ أَوْ بِبَعْضِكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، وَصَالِحُ بْنُ أَبِي صَالِحٍ هَذَا يُقَالُ لَهُ: صَالِحُ بْنُ مِهْرَانَ مَوْلَى عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په وړاندي يو ځل دعجميانو ذكر اوشو نو وېي فرمائيل زما په دوئ باندي يا ددوئ په بعضي كسانو باندي ستاسو نه يا په تاسو كي دبعضي كسانو نه زيات اعتماد دي.
امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دابوبكر بن عياش په سند پيژنو، او صالح بن ابي صالح ته صالح بن مهران مولي عمرو بن حريث هم ونيلي كيږي.

****

۳۹۳۳_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي ثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ الدِّيلِيُّ، عَنْ أَبِي الْغَيْثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أُنْزِلَتْ سُورَةُ الْجُمُعَةِ، فَتَلَاهَا. فَلَمَّا بَلَغَ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ (الجمعة : ۳) ، قَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِنَا؟ فَلَمْ يُكَلِّمْهُ. قَالَ: وَسَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ فِينَا. قَالَ: فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ. فَقَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ كَانَ الْإِيمَانُ بِالثُّرَيَّا لَتَنَاوَلَهُ رِجَالٌ مِنْ هَؤُلَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَبُو الْغَيْثِ اسْمُهُ: سَالِمٌ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُطِيعٍ مَدَنِيٌّ. ([2])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي كله چې سورة جمعه نازل شو مونږ درسول الله صلي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۳۵۰۲)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /تفسير سورة الجمعة ۱ (۴۸۹۷) ، ۴۸۹۸) ، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ۵۹ (۲۵۴۶) (تحفة الأشراف : ۱۲۹۱۷) ، ومسند احمد (۲/۲۹۷، ۴۲۰، ۴۶۹)

الله عليه وسلم سره موجود وو، رسول الله ددي تلاوت اوکړو هر کله چې "واخرين منهم لما يلحقوا بهم" ته ورسيدو نو يو کس ورنه تپوس اوکړو اي دالله رسوله دا خلق څوك دي کوم چې تر اوسه پوري مونږ سره مخامخ شوي نه دي؟ (رسول الله خاموش شو) دده سره يې څه خبري اونکړي سلمان فارسي رضي الله عنه زمونږ په مينځ کي موجود وو نو رسول الله خپل لاس په سلمان کيخودو او ويې فرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس کي چې زما روح دي که ايمان سريه ستوري ته ختلي وي نو بيا به هم دي خلقو دهغه خاي نه حاصل کړي وو او ددوئ قوم به حاصل کړي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي اود ابو هريره په واسطه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي، او او د ابو الغيث نوم سالم دي دي دعبدالله بن مطيع ازاد کړي غلام دي دمديني اوسيدونکي دي

****

٧٢_باب فِي فَضْلِ الْيَمَنِ

ديمن دفضيلت بيان

٣٩٣٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْقَطَوَانِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ قِبَلَ الْيَمَنِ، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِمْرَانَ الْقَطَّانِ.[1]

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته اوکتل او ويې فرمائيل اي الله ددوئ زړونه زمونږ طرف ته راواړوي او زمونږ په صاع او مد کي برکت واچوي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ يې صرف دزيد بن ثابت په روايت دعمران قطان په سند پيژنو.

****

٣٩٣٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٩٧)

هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَضْعَفُ قُلُوبًا، وَأَرَقُّ أَفْئِدَةً الإِيمَانُ يَمَانٍ، وَالحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ ". وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو ته اهل يمن راغلل او هغوئ رقيق القلب او نرم دل دي اصل ايمان يمني دي او حكمت هم يمني دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابن عباس ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٩٣٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مَرْيَمَ الأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُلْكُ فِي قُرَيْشٍ، وَالقَضَاءُ فِي الأَنْصَارِ، وَالأَذَانُ فِي الحَبَشَةِ، وَالأَمَانَةُ فِي الأَزْدِ يَعْنِي: الْيَمَنَ ".(٢)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سلطنت به په قريشو كي جاري وي او قضاء به په انصارو كي باقي وي او اذان به په حبشه كي باقي وي او امانت به په ازد قبيله كي يعني په يمن كي باقي وي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي مَرْيَمَ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ حُبَابٍ. (٣)

ترجمه: ابومريم انصاري هم پخپل سند دابوهريره رضي الله عنه دحديث هم معني روايت نقل كوي مګر مرفوع يې نه ذكر كوي او دابومريم حديث دزيد بن حباب دحديث نه زيات صحيح دي

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٧٤ (٤٣٨٨، ٤٣٩٠) . صحيح مسلم /الإيمان ٢١ (٨٤/٥٢) (تحفة الأشراف : ـ ١٥٠٤) . و مسند احمد (٢/٢٥٢، ٢٥٨، ٢٥٨، ٢٨٠، ٥٢١)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٤٦١)

[3] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٤٦١)

****

٣٩٣٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ. حَدَّثَنِي عَمِّي صَالِحُ بْنُ عَبْدِ الْكَبِيرِ بْنِ شُعَيْبِ بْنِ الْحَبْحَابِ. حَدَّثَنِي عَمِّي عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ شُعَيْبٍ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْأَزْدُ أُسْدُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ. يُرِيدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوهُمْ. وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يَرْفَعَهُمْ. وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَقُولُ الرَّجُلُ: يَا لَيْتَ أَبِي كَانَ أَزْدِيًّا. يَا لَيْتَ أُمِّي كَانَتْ أَزْدِيَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ بِهَذَا الْإِسْنَادِ عَنْ أَنَسٍ مَوْقُوفٌ وَهُوَ عِنْدَنَا أَصَحُّ. (1)

ترجمه. دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ازديان (يمنيان) په زمكه كي دالله تعالي ازمري دي خلق دوئ لره راغورځول غواړي او الله تعالي دوئ لره پورته كول غواړي او په خلقو به يوه داسي زمانه هم راشي چې يو كس به وائي كاش زما پلار ازدي وي او كاش چې زما مور ازديه وي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو داحديث په دي سند دانس رضي الله عنه نه په موقوف سند مروي دي او دا زمونږ په نزد موقوف زيات صحيح دي.

****

٣٩٣٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ. حَدَّثَنِي غَيْلَانُ بْنُ جَرِيرٍ. قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ. يَقُولُ: "إِنْ لَمْ نَكُنْ مِنَ الْأَزْدِ. فَلَسْنَا مِنَ النَّاسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي كه چري مونږ د ازد قبيلي سره تعلق نه لرلي نو مونږ به بالكل انسانان نه وي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

٣٩٣٩_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ زَنْجُوَيْهِ بَغْدَادِيٌّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ. أَخْبَرَنِي أَبِي. عَنْ مِينَاءَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ. قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ. يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ

---

1. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩١٩)
2. تحفة الأحوذي (٢١٩٦/١٠/٣٠٢)

رَجُلٌ أَحْسِبُهُ مِنْ قَيْسٍ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الْعَنْ حِمْيَرًا فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ. ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الآخَرِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رَحِمَ اللَّهُ حِمْيَرًا أَفْوَاهُهُمْ سَلاَمٌ، وَأَيْدِيهِمْ طَعَامٌ، وَهُمْ أَهْلُ أَمْنٍ وَإِيمَانٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، وَيُرْوَى عَنْ مِينَاءَ هَذَا أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ. (١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په مجلس كي موجود وو چې په دي دوران كي يو كس راغي (زما خيال دي چې ازد قبيلي والاوو) او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله په حمير قبيله لعنت اووايه، رسول الله ورنه مخ اوگرځولو بيا ورته دبل طرف نه راغي نو رسول الله ورنه بيا مخ اوگرځولو بيا دبل طرف نه راغي نو مخ يي ورنه دمخكي پشان اوگرځولو چې دڅلورم طرف نه راغي نو هم يي ورنه مخ اوگرځولو او وېي فرمائيل الله تعالي دي په حمير والا رحم اوكړي ددوئ په خوله كي سلام وي او په لاسو كي يي خوراك وي او دوئ امن او ايمان والا خلق دي.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب دي مونږ يي صرف دعبدالرزاق په روايت په همدي سند پيژنو. او دميناء راوي نه ډير منكر احاديث مروي دي.

****

٧٣_باب مَنَاقِبِ لِغِفَارٍ وَأَسْلَمَ وَجُهَيْنَةَ وَمُزَيْنَةَ

دبني غفار او اسلم او جهينه او مزينه قبيلو بيان

٣٩٤٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا أَبُو مَالِكٍ الأَشْجَعِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الأَنْصَارُ، وَمُزَيْنَةُ، وَجُهَيْنَةُ، وَغِفَارٌ، وَأَشْجَعُ، وَمَنْ كَانَ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ مَوَالِيَّ، لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى دُونَ اللَّهِ، وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ مَوْلاَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه: دابوايوب انصاري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې په انصارو كي دمزينه او جهينه او غفار او اشجع او عبدالدار قبيلو سره تعلق

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٦٢٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٤٦٣)

لري هغوئ زما دوستان دي او دالله نه علاوه ددوئ بل څوك دوست نشته الله او رسول دهغوئ دوستان دي.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي
****

٣٩٤١_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللَّهُ. وَغِفَارٌ غَفَرَ اللَّهُ لَهَا. وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بني اسلم قبيلي والا دي الله تعالي تندرست او سالم اوساتي او بني غفار والاته دي الله مغفرت اوكړي او عصيه قبيلي والا دالله او دهغه درسول نافرماني كړي ده.
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.
****

٧٤_باب فِي ثَقِيفٍ وَبَنِي حَنِيفَةَ

دبني ثقيف او بني حنيفه قبيلو دمناقبو بيان

٣٩٤٢_حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ. عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ جَابِرٍ. قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ. أَحْرَقَتْنَا نِبَالُ ثَقِيفٍ فَادْعُ اللَّهَ عَلَيْهِمْ. قَالَ: "اللَّهُمَّ اهْدِ ثَقِيفًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (٢)

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې خلقو عرض اوكړو اي دالله رسوله دبني ثقيف قبيلي والاخلقو غشو مونږ زخمي كړو پس تاسو دالله تعالي نه دعا اوغواړئ (خيري ورته اوكړئ) رسول الله اوفرمائيل "اللهم اهد ثقيفا" يعني اي الله ثقيف قبيلي والاته هدايت اوكړي
امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح غريب دي.
****

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/المناقب ٢ (٣٥١٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٧٤٩)

٣٩٤٣_حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقَاهِرِ بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: "مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ: ثَقِيفًا، وَبَنِي حَنِيفَةَ، وَبَنِي أُمَيَّةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه . دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم وفات شو او حال دا وو چې دري قبيلي ثقيف، بني حنيفه، او بني اميه يې نه خوښولي.
امام ترمذي وائي. داحديث غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو.

****

٣٩٤٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُصْمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فِي ثَقِيفٍ كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ". (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ثقيف قبيله كي به يو دروغژن او تبائي خورونكي انسان پيدا كيږي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ وَاقِدٍ أَبُو مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُصْمٍ يُكْنَى أَبَا عُلْوَانَ وَهُوَ كُوفِيٌّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ، وَشَرِيكٌ يَقُولُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُصْمٍ، وَإِسْرَائِيلُ، يروي عَنْ هَذَا الشَّيْخِ، وَيَقُولُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِصْمَةَ، وَفِي الْبَاب عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ. (٣)

ترجمه : عبدالرحمن بن واقع ابو مسلم دشريك نه پخپل سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي. او دعبدالله بن عصم اسم كنيه ابوعلوان ده او دكوفي اوسيدونكي دي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف دشريك په سند پيژنو. شريك به وئيل عبدالله بن عصم او اسرائيل دا حديث دهمدي شيخ نه نقل كړي دي او عبدالله بن عصم به وئيل په دي باب كي داسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها نه هم حديث وارد دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨١٣)

[2] ـ انظر حديث رقم ٢٢٢٠

[3] ـ انظر حديث رقم ٢٢٢٠

٣٩٤٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنِي أَيُّوبُ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَهْدَى لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرَةً، فَعَوَّضَهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ، فَتَسَخَّطَهَا، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ فُلَانًا أَهْدَى إِلَيَّ نَاقَةً فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ، فَظَلَّ سَاخِطًا، وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ، أَوْ أَنْصَارِيٍّ، أَوْ ثَقَفِيٍّ، أَوْ دَوْسِيٍّ". وَفِي الحَدِيثِ كَلَامٌ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، يَرْوِي عَنْ أَيُّوبَ أَبِي العَلَاءِ وَهُوَ أَيُّوبُ بْنُ مِسْكِينٍ وَيُقَالُ: ابْنُ أَبِي مِسْكِينٍ، وَلَعَلَّ هَذَا الحَدِيثَ الَّذِي رَوَاهُ عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ هُوَ أَيُّوبُ أَبُو العَلَاءِ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چې يو باندچي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يوه خوانه اوښه ورکړه او رسول الله دهغي په عوض کي اوښي والاته شپږ اوښي ورکړي او باندچي بيا هم درسول الله نه خفه پاتي شو دا خبر چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورسيدو دالله تعالي حمد او ثناء يي بيان کړه او بيا يي اوفرمائيل فلاني ماته يوه اوښه په هديه کي راکړي وه او ما ورته دهغي په عوض کي شپږ اوښي ورکړي مګر هغه بيا هم په خفګان کي پاتي شو، ما اراده کړي ده چې اوس به دقريشو نه علاوه يا دانصارو او يا د ثقفي او دوسي قبيلي والانه علاوه دبل چا هديه نه اخلم، او په دي حديث کي څه نوري خبري هم شته.

امام ترمذي وائي: داحديث په متعددو سندونو دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي، دا حديث ديزيد بن هارون ، ايوب، او ابو العلاء نه مروي دي او هغه ايوب بن مسکين دي چې ابن مسکين ورته هم وئيلي شي او شايد چې دا هغه حديث دي کوم چې هغه دايوب نه او ايوب دسعيد مقبري نه نقل کړي دي او دايوب نه مراد ابوالعلاء دي.

****

٣٩٤٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الوَهْبِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَهْدَى رَجُلٌ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَةً مِنْ إِبِلِهِ الَّتِي كَانُوا أَصَابُوا بِالغَابَةِ، فَعَوَّضَهُ مِنْهَا بَعْضَ العِوَضِ، فَتَسَخَّطَهُ، فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى هَذَا المِنْبَرِ يَقُولُ: "إِنَّ رِجَالًا مِنَ العَرَبِ

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر ما يأتي (تحفة الأشراف: ١٣٩٥٢). وانظر مسند احمد (٢/٢٩٢)

يُهْدِي أَحَدُهُمُ الْهَدِيَّةَ فَأُعَوِّضُهُ مِنْهَا بِقَدْرِ مَا عِنْدِي، ثُمَّ يَتَسَخَّطُهُ، فَيَظَلُّ يَتَسَخَّطُ فِيهِ عَلَيَّ، وَايْمُ اللَّهِ لَا أَقْبَلُ بَعْدَ مَقَامِي هَذَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ، أَوْ أَنْصَارِيٍّ، أَوْ ثَقَفِيٍّ، أَوْ دَوْسِيٍّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ هَارُونَ، عَنْ أَيُّوبَ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دبني فزاره قبيلي يو كس نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته پخپلو اوبنانو كي چې كومي ورته په غابه كي وركړي شوي وي يوه اوبنه په هديه كي وركړه او رسول الله هغه ته ددي څه عوض وركړو ليكن هغه په دي باندي خفه پاتي شو نو ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په منبر واوريدل او فرمائيل يي چې په عربو كي بعضي كسان ماته هديه راكوي او ماسره چې هر څه موجود وي زه يي ورته دهغي په بدل كي وركوم مگر هغوئ بياهم خفه پاتي كيږي او مسلسل ماته خپل خفگان رايادوي، په الله قسم ددينه پس به زه په عربو كي دهيڅا هديه نه قبلوم مگر علاوه دقريشو او انصارو او يا د ثقفيانو او يا د دوسيانو نه.

امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او دا روايت ديزيد بن هارون دروايت نه چې دايوب نه يي نقل كوي زيات صحيح دي.

****

٣٩٤٧ـ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَال: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَلَاذٍ يُحَدِّثُ، عَنْ نُمَيْرِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مَسْرُوحٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الْأَشْعَرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ وَالْأَشْعَرِيُّونَ، لَا يَفِرُّونَ فِي الْقِتَالِ وَلَا يَغُلُّونَ، هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ ". قَالَ: فَحَدَّثْتُ بِذَلِكَ مُعَاوِيَةَ، فَقَالَ: لَيْسَ هَكَذَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " هُمْ مِنِّي وَإِلَيَّ ". فَقُلْتُ: لَيْسَ هَكَذَا حَدَّثَنِي أَبِي وَلَكِنَّهُ حَدَّثَنِي، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " هُمْ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُمْ ". قَالَ: فَأَنْتَ أَعْلَمُ بِحَدِيثِ أَبِيكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ وَهْبِ بْنِ جَرِيرٍ، وَيُقَالُ: الْأَسْدُ هُمُ الْأَزْدُ. [2]

ترجمه : دابو عامر اشعري رضي الله عنه بيان دي فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] ـ تفرد به المؤلف، وانظر ما يأتي (تحفة الأشراف: ١٢٩٥٣)، وانظر مسند احمد (٢/٢٩٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٠٦٦) وانظر مسند احمد (٣/١٢٩)

اوفرمائيل څومره ډير ښه دي داسد او اشعري قبيلي خلق چې دجنګ نه هم نه تختي او په مال دغنيمت کي هم خيانت نه کوي هغوئ زما نه دي او زه دهغوئ نه يم، عامر رضي الله عنه وائي بيا ما دا حديث معاويه رضي الله عنه ته بيان کړو نو هغه اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي نه دي فرمائيلي (لکه چې تا اوونيل) بلکه داسي يي فرمائيلي دي هغوئ زما نه دي او زه دهغي نه يم ما ورته اوونيل زما پلار خو دا روايت ماته داسي نه دي فرمائيلي بلکه هغه ماته بيان کړل چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي هغوئ زما نه دي او زه دهغوئ نه يم، معاويه رضي الله عنه اوونيل پس ته دخپل پلار په احاديثو زيات پوهيدونکي يي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف دوهب بن جرير په روايت پيژنو او ونيلي کيږي د اسد قبيلي والانه ازديان مراد دي.

****

٣٩٤٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللَّهُ، وَغِفَارٌ غَفَرَ اللَّهُ لَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، وَأَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ، وَبُرَيْدَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي اسلم قبيلي والاسالم اوساتي او غفار قبيلي والاته دي مغفرت اوکړي او عصيه قبيلي والا دالله اودرسول نافرماني کړي ده.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوذر او ابوبرزه اسلمي او بريده او ابوهريره رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٩٤٩_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَسْلَمُ سَالَمَهَا اللَّهُ، وَغِفَارٌ غَفَرَ اللَّهُ لَهَا، وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

[1] ـ انظر حديث رقم ٣٩٢١ (تحفة الأشراف: ٤١٩٣)

[2] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٤١٦٨)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، نَحْوَ حَدِيثِ شُعْبَةَ، وَزَادَ فِيهِ: "وَعُصَيَّةُ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي اسلم قبيلي والا سالم اوساتي او غفار قبيلي والا ته دي مغفرت اوكړي او سيه قبيلي والا دالله اودرسول نافرماني كړي ده.

امام ترمذي واني: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٠٥٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَغِفَارٌ، وَأَسْلَمُ، وَمُزَيْنَةُ، وَمَنْ كَانَ مِنْ جُهَيْنَةَ، أَوْ قَالَ: جُهَيْنَةُ، وَمَنْ كَانَ مِنْ مُزَيْنَةَ خَيْرٌ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ أَسَدٍ، وَطَيِّئٍ، وَغَطَفَانَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس كي چي دمحمد (صلي الله عليه وسلم) روح دي غفار او اسلم او مزينه او جهينه قبيلي والا خلق او مزينه قبيلي والا نه به دالله تعالي په نزد دقيامت په ورځ داسد او طئ او غطفان قبيلي والو نه بهتروي.

امام ترمذي واني: داحديث حسن صحيح دي.

****************.

٣٩٥١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: جَاءَ نَفَرٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "أَبْشِرُوا يَا بَنِي تَمِيمٍ". قَالُوا: بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا. قَالَ: فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَجَاءَ نَفَرٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ، فَقَالَ: "اقْبَلُوا الْبُشْرَى إِذْ لَمْ تَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ". قَالُوا: قَدْ قَبِلْنَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

[1] ـ صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٤٧ (١٩١/٢٥٢٠) (تحفة الأشراف: ١٣٨٨١)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١ (٣١٩٠)، والمغازي ٦٧ (٤٣٦٥)، و٧٤ (٤٣٨٦)، والتوحيد ٢٢ (٤١٨/٤٣) (تحفة الأشراف: ١٠٨٢٩)

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې دبني تميم قبيلي والاخلق درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شول نو رسول الله اوفرمائيل اي بني تميم خوشحاله شئ هغوئ اووئيل تاسو مونږ ته بشارت راکړئ نو څه راته راکړئ راوي وائي ددي خبري په اوريدو درسول الله صلي الله عليه وسلم دمخ رنګ بدل شو او په دي دوران کي ديمن څه کسان راغلل رسول الله اوفرمائيل تاسو بشارت قبول کړئ مګر بني تميم والا قبول نکړو نو هغوئ اووئيل مونږ بشارت قبول کړو.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٣٩٥٢ـحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَسْلَمُ، وَغِفَارٌ، وَمُزَيْنَةُ، خَيْرٌ مِنْ تَمِيمٍ، وَأَسَدٍ، وَغَطَفَانَ، وَبَنِي عَامِرِ بْنِ صَعْصَعَةَ"، يَمُدُّ بِهَا صَوْتَهُ، فَقَالَ الْقَوْمُ: قَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا، قَالَ: "فَهُمْ خَيْرٌ مِنْهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه : دابوبكره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اسلم او غفار او مزينه قبيلو والا دتميم او اسد او غطفان او بني عامر بني صعصعه قبيلو والانه بهتر دي اورسول الله صلي الله عليه وسلم په دغه وخت كي په دي كلماتو خپل اواز تيزولو خلقو اووئيل نامراده او تاوانيان ياتي شول رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغوئ د (يعني تميم او اسد او غطفان او بني عامر او صعصعه) نه بهتر دي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٥ـباب فِي فَضْلِ الشَّأْمِ وَالْيَمَنِ

دشام او ديمن دفضيلت بيان

٣٩٥٣ـحَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ ابْنُ ابْنَةِ أَزْهَرَ السَّمَّانِ، حَدَّثَنِي جَدِّي أَزْهَرُ السَّمَّانُ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا، اللَّهُمَّ

---

(١) ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٦ (٣٥١٥، و٣٥١٦)، والأيمان والنذور ٣ (٦٦٣٥). صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٤٧ (٢٥٢٢) (تحفة الأشراف: ١١٦٨)

بَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا ". قَالُوا: وَفِي نَجْدِنَا. قَالَ: " اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي شَأْمِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي يَمَنِنَا ". قَالُوا: وَفِي نَجْدِنَا. قَالَ: " هُنَاكَ الزَّلَازِلُ وَالْفِتَنُ، وَبِهَا، أَوْ قَالَ: مِنْهَا، يَخْرُجُ قَرْنُ الشَّيْطَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَوْنٍ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي الله زمونږ دپاره زمونږ په شام كي بركت واچوي او اي الله زمونږ دپاره زمونږ په يمن كي بركت واچوي، خلقو عرض اوكړو ايا زمونږ په نجد كي هم رسول الله اوفرمائيل په نجد كي به زلزلي او فتني وي او هم ددينه به دشيطان ښكر راوخي (يعني دشيطان لښكر او دهغه مددګاران).

امام ترمذي وائي: داحديث په دي سند يعني دابن عون په روايت حسن صحيح غريب دي، او داحديث په سند دسالم بن عبدالله بن عمر عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم مروي دي.

****

٣٩٥٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ أَيُّوبَ يُحَدِّثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِمَاسَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُؤَلِّفُ الْقُرْآنَ مِنَ الرِّقَاعِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " طُوبَى لِلشَّأْمِ ". فَقُلْنَا: لِأَيٍّ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الرَّحْمَنِ بَاسِطَةٌ أَجْنِحَتَهَا عَلَيْهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ. [2]

ترجمه : دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره دكاغذ په پرزو قران مرتب كولو رسول الله اوفرمائيل مبارك بادي دي وي دشام دپاره مونږ عرض اوكړو دكوم څيز اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل ددي خبري چې درحمان ذات فرشتي دهغوئ دپاره وزري غوړوي.

امام ترمذي وائي: داحديث حسن غريب دي مونږ يي صرف د يحي بن ايوب په روايت پيژنو.

****

[1] ــ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاستسقاء ٢٧ (١٠٣٧)، والفتن ١٦ (٧٠٩٤) (تحفة الأشراف : ٧٧٢٥)

[2] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٧٢٨)، وانظر: مسند احمد (٥/١٨٣)

٣٩٥٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ العَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمُ الَّذِينَ مَاتُوا، إِنَّمَا هُمْ فَحْمُ جَهَنَّمَ، أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي يُدَهْدِهُ الخِرَاءَ بِأَنْفِهِ، إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ، إِنَّمَا هُوَ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ، النَّاسُ كُلُّهُمْ بَنُو آدَمَ، وَآدَمُ خُلِقَ مِنْ تُرَابٍ ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دې شي هغه قوم څوك چې پخپلو پلرونو او نيكونو فخر كوي كوم چې مړه شوي دي او دجهنم سكاره ګرځيدلي دي او كنه نو هغوئ به دالله تعالي په نزد دخوشيانو او دچينجي نه زيات ذليل شي چې دخان نه مخكې پخپله پوزه نجاست ته ديكي وركوي او الله تعالي ستاسو نه دجاهليت بدبويي ختمه كړي ده اوس تاسو مومنان او متقيان يئ او يا به فاجران او بدبخت يئ تمام خلق د ادم عليه السلام اولاد دي او ادم عليه السلام دخاوري نه پيدا كړي شوي دي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي. په دې باب كې دابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٩٥٦_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُوسَى بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ الفَرْوِيُّ المَدَنِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَدْ أَذْهَبَ اللَّهُ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالآبَاءِ، مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ، وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ، وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ، وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهَذَا أَصَحُّ عِنْدَنَا مِنَ الحَدِيثِ الأَوَّلِ، وَسَعِيدٌ المَقْبُرِيُّ قَدْ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، وَيَرْوِي عَنْ أَبِيهِ أَشْيَاءَ كَثِيرَةً، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وَقَدْ رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي عَامِرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ. ([2])

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٣)

[2] - سنن ابي داود/ الأدب ١٢٠ (٥١١٦) (تحفة الأشراف: ١٢٩٣٣)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي ستاسو نه دجاهليت بدبويي او په پلرونو او نيکونو فخر کول ختم کړي دي اوس به تاسو مومنان او متقيان يئ او يا به فاجران او بدبخت يئ او ټول خلق د ادم عليه السلام اولاد دي او ادم دخاورې نه جوړ کړي شوي دي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او دا زمونږ په نزد دمخکني روايت نه زيات صحيح دي، او سعيد مقبري دابوهريره نه اوريدلي دي او هغه دخپل پلار په واسطه ډير څيزونه دابوهريره رضي الله عنه نه نقل کوي، سفيان ثوري او نورو ډيرو راويانو دا حديث دهشام بن سعد نه او هغه دسعيد مقبري نه او هغه دابوهريره په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دابوعامر دحديث پشان روايت نقل کړي دي چې دهشام بن سعد نه يي نقل کوي.
سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

****

كتاب العلل

١_(باب)

قال ابو حفص عمر بن طبرزد البغدادي ، اخبرنا الكروخي، نا القاضي ابو عامر الازدي، والشيخ الغورجي، و ابو المظفر الدهان، قالوا نا ابو محمد الجراحي، نا ابو العباس المحبوبي، قَالَ: نا أَبُو عِيسَى جَمِيعُ مَا فِي هَذَا الْكِتَابِ مِنَ الْحَدِيثِ فَهُوَ مَعْمُولٌ بِهِ. وَقَدْ أَخَذَ بِهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مَا خَلا حَدِيثَيْنِ:

١ حَدِيثَ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِالْمَدِينَةِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ مِنْ غَيْرِ خَوْفٍ وَلا مَطَرٍ.

٢وَحَدِيثَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ:"إِذَا شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ؛ فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ". وَقَدْ بَيَّنَّا عِلَّةَ الْحَدِيثَيْنِ جَمِيعًا فِي الْكِتَابِ.

ترجمه : ددي كتاب تمام احاديث معمول بها دي او بعضي اهل علمو خپل مستدل گرځولي دي مگر علاوه د دوه حديثونو نه چې اول يکي دابن عباس حديث دي:

ابن عباس رضي الله عنهماواني چې رسول الله ﷺ (به په مديني كي مقيم هم وو او) بغير دځه ويرى يادباران نه دماسپښين اومازيگر اودماښام اودماسخوتن مونځونه يوځائي كړي وو.

او دويم ارشاد نبوي دي چې كله څوك شراب اوڅكي نو په كوړو يې اووهئ بيا كه هغه په څلورم ځل هم شراب اوڅكي نو قتل يې كړئ، مونږ په دي دواړو حديثونو كي دعلت نه موجود كيدو په وجه دا مونږ په كتاب كي بيان كړي دي.

تشريح: دويمه خبره امام ترمذي پوري دفقهاؤ داقوالو رسيدو دسند متعلق بحث:

امام ترمذي په دي كتاب كي داكابرينو فقهاؤ اقوال دسند نه بغير بيان كړي دي ليكن ددي اقوالو سندونه اجمالا دلته ذكر كوي او دنورو اهل علمو داقوالو سندونه په كتاب كي مذكور دي

(١) دسفيان ثوري دقول دوه سندونه دي او هغه دادي (١) محمد بن عثمان الكوفي عن عبيدالله بن موسي عن سفيان (٢) ابوالفضل مكتوم الترمذي، عن محمد بن يوسف الفريابي عن سفيان.

دامام مالك داكثرو اقوالو سند دادي اسحاق بن موسي الانصاري عن معن بن عيسي القزاز عن مالك بن انس او په كتاب الصوم كي چې دمالك كوم اقوال دي دهغي سند دادي

ابومصعب المدني عن انس بن مالك او د امام مالك دبعضي اقوالو سند دادي موسي بن حزام عن عبيدالله بن مسلمه القعنبي عن مالك بن انس.

دابن مبارك دقول سندونه: دابن مبارك اقوال امام ترمذي ته داحمد بن عبدة املي په ذريعه رارسيدلي دي كوم چې دابن مبارك متعددو شاګردانو نقل كړي دي مثلا ابووهب محمد بن مزاحم عن ابن المبارك، علي بن الحنس عن ابن المبارك، عبدان عن سفيان بن عبدالملك عن ابن المبارك، دابن مبارك اقوال دمذكورينو نه علاوه دهغه نورو شاګردانو هم نقل كړي دي.

دامام شافعي داقوالو سندونه.

دامام شافعي داكثرو اقوالو سند حسن بن محمد الزعفراني نقل كړي دي او دامام شافعي كوم اقوال چې په كتاب الطهارت او كتاب الصلواة كي وارد دي دهغي سندونه دادي ابو الوليد المكي عن الشافعي (۲) ابو اسماعيل الترمذي عن يوسف بن يحي القرشي البويطي عن الشافعي.

ربيع دامام شافعي كوم اقوال براه راست دهغه نه اوريدلي دي په دي كي بعضي اقوال هغه امام ترمذي ته ليكلي پريخودلي دي او پخپل سند سره يې دهغي دبيانولو اجازه وركړي ده پس په سنن ترمذي كي دامام شافعي بعضي اقوال عن ربيع عن الشافعي سند سره مذكور دي او په دي طريقه دحديث ليكلو نوم مكاتبه دي، دمتقدمينو په نزد مكاتبه معتبر ګڼړلي كيدله او دصريح اجازت ضروري نه وو مګر دمتاخرينو په نزد صرف دشيخ ليكلو سره حديث ليږل كافي نه دي روايت كولو صريح اجازت ضروري دي او كه داسي نه وي نو هر څوك به كتاب ليكي او په پټه به يې شايع كوي او نقل كوي به يې.

دامام احمد او امام اسحاق داقوالو سندونه: دامام احمد او اسحاق داكثرو اقوالو سند دادي: اسحاق بن منصور عن احمد واسحاق، امام ترمذي وائي ددوئ كوم اقوال چې په ابواب الحج او ابواب الديات او ابواب الحدود كي وارد دي هغه اقوال ما داسحاق بن منصور نه دمحمد بن موسي الاصم په واسطه اوريدلي دي يعني په دي دري بابونو كي دامام احمد او اسحاق داقوالو سند دادي: محمد بن موسي الاصم عن اسحاق بن منصور عن احمد واسحاق او داسحاق دبعضي اقوال سند دادي محمد بن افلح عن اسحاق.

****

۲_(باب)

قَالَ: وَمَا ذَكَرْنَا فِي هَذَا الْكِتَابِ مِنْ اخْتِيَارِ الْفُقَهَاءِ:

۱ فَمَا كَانَ مِنْهُ مِنْ قَوْلِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ فَأَكْثَرُهُ:

مَا حَدَّثَنَا بِهِ مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ سُفْيَانَ.

٢ وَمِنْهُ مَا حَدَّثَنِي بِهِ أَبُو الْفَضْلِ مَكْتُومُ بْنُ الْعَبَّاسِ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ.

٣ وَمَا كَانَ فِيهِ مِنْ قَوْلِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ فَأَكْثَرُهُ مَا حَدَّثَنَا بِهِ إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى الْقَزَّازُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ.

٤ وَمَا كَانَ فِيهِ مِنْ أَبْوَابِ الصَّوْمِ؛ فَأَخْبَرَنَا بِهِ أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدِينِيُّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ.

٥ وَبَعْضُ كَلَامِ مَالِكٍ مَا أَخْبَرَنَا بِهِ مُوسَى بْنُ حِزَامٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ.

٦ وَمَا كَانَ فِيهِ مِنْ قَوْلِ ابْنِ الْمُبَارَكِ فَهُوَ مَا حَدَّثَنَا بِهِ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الْآمُلِيُّ عَنْ أَصْحَابِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، عَنْهُ.

٧ وَمِنْهُ مَا رُوِيَ عَنْ أَبِي وَهْبٍ مُحَمَّدِ بْنِ مُزَاحِمٍ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ.

٨ وَمِنْهُ مَا رُوِيَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحَسَنِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن المبارك.

٩ وَمِنْهُ مَا رُوِيَ عَنْ عَبْدَانَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ.

١٠ وَمِنْهُ مَا رُوِيَ عَنْ حِبَّانَ بْنِ مُوسَى عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ.

١١ وَمِنْهُ مَا رُوِيَ عَنْ وَهْبِ بْنِ زَمْعَةَ، عَنْ فَضَالَةَ النَّسَوِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ.

١٢ وَلَهُ رِجَالٌ مُسَمَّوْنَ سِوَى مَنْ ذَكَرْنَا عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ.

١٣ وَمَا كَانَ فِيهِ مِنْ قَوْلِ الشَّافِعِيِّ فَأَكْثَرُهُ مَا أَخْبَرَنَا بِهِ الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، عَنِ الشَّافِعِيِّ.

١٤ وَمَا كَانَ مِنَ الْوُضُوءِ وَالصَّلَاةِ فَحَدَّثَنَا بِهِ أَبُو الْوَلِيدِ الْمَكِّيُّ، عَنِ الشَّافِعِيِّ.

١٥ وَمِنْهُ مَا حَدَّثَنَا بِهِ أَبُو إِسْمَاعِيلَ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ يَحْيَى الْقُرَشِيُّ الْبُوَيْطِيُّ، عَنِ الشَّافِعِيِّ.

١٦ وَذُكِرَ مِنْهُ أَشْيَاءُ عَنِ الرَّبِيعِ، عَنِ الشَّافِعِيِّ، وَقَدْ أَجَازَ لَنَا الرَّبِيعُ ذَلِكَ وَكَتَبَ بِهِ إِلَيْنَا.

١٧ وَمَا كَانَ مِنْ قَوْلِ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، وَإِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ فَهُوَ مَا أَخْبَرَنَا بِهِ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ.

١٨ إِلا مَا فِي أَبْوَابِ الْحَجِّ وَالدِّيَاتِ وَالْحُدُودِ فَإِنِّي لَمْ أَسْمَعْهُ مِنْ إِسْحَاقَ بْنِ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنِي بِهِ مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الأَصَمُّ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ مَنْصُورٍ، عَنْ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ.

١٩ وَبَعْضُ كَلامِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا بِهِ مُحَمَّدُ بْنُ أَفْلَحَ، عَنْ إِسْحَاقَ، وَقَدْ بَيَّنَّا هَذَا عَلَى وَجْهِهِ فِي الْكِتَابِ الَّذِي فِيهِ الْمَوْقُوفُ. 1/20

ترجمه دفقهاؤ هغه خوښ کړي شوي اقوال کوم چې مونږ په دي کتاب کي بيان کړي دي په دي کي دسفيان ثوري اکثر اقوال هغه دي کوم چې مونږ ته محمد بن عثمان کوفي الخ، بيان کړي دي او بعضي اقوال هغه دي کوم چې مونږ دا ابوالفضل مکتوم بن العباس ترمذي الخ، بيان کړي دي او دامام مالك کوم اقوال چې په دي کتاب کي مذکور دي دا مونږ ته اسحاق بن موسي انصاري الخ. بيان کړي دي او په ابواب الصوم کي چې کوم اقوال دي ددي خبر مونږ ته ابومصعب مدني الخ، راکړي دي، او دامام مالك بعضي اقوال هغه دي کوم چې مونږ ته موسي بن حزام الخ، بيان کړي دي.

او دامام مالك چې کوم اقوال په ترمذي کي دي دا هغه دي کوم چې مونږ ته احمد بن عبدة املي د ابن مبارك دمختلفو شاګردانو نه نقل کړي دي چې هغوئ ټول يي دابن مبارك نه نقل کوي په دغه اقوالو کي بعضي دادي کوم چې ابووهب محمد بن حزام په واسطه نقل شوي دي او بعضي هغه دي کوم چې دعلي بن الحسن په واسطه نقل شوي دي او بعضي د عبدان عن سفيان بن عبدالملك په واسطه نقل دي او بعضي هغه دي کوم چې دحبان بن موسي په واسطه نقل دي او بعضي هغه دي کوم چې دوهب بن زمعه عن فضالة النسوي او ددوئ نه علاوه دامام مالك نور شاګردان هم شته.

دامام شافعي رحمة الله عليه هغه اکثر اقوال کوم چې په دي کتاب کي مذکور دي دا مونږ ته حسن بن محمد زعفراني الخ، بيان کړي دي او چې کوم اقوال دهغوئ په کتاب الطهارة او کتاب الصلاة کي وارد دي دا مونږ ته ابو الوليد مکي الخ ، بيان کړي دي مګر بعضي اقوال دامام شافعي هغه دي کوم چې مونږ ته ابو اسماعيل ترمذي بيان کړي دي.

او دامام احمد او اسحاق بن راهويه کوم اقوال چې په ترمذي کي مذکور دي دا هغه دي کوم چې مونږ ته اسحاق بن منشور دامام احمد او اسحاق نه نقل کړي دي، مګر هغه اقوال ورنه مستثني دي کوم چې په ابواب الحج او ابواب الديات او ابواب الحدود کي وارد دي هغه اقوال مونږ د اسحاق بن منصور نه نه دي اوريدلي دا مونږ ته محمد بن موسي اصم بيان کړي دي. او دامام اسحاق بعضي اقوال مونږ ته محمد بن افلح بيان کړي دي.

قوله وقد بينا هذا علي وجهه الخ. يعني مونږ چې کوم اقوال په ترمذي کي بې سنده ليکلي دي په هغوئ کي هر هغه قول لره پخپل خاص سند سره مونږ په کتاب الموقوف ليکلى دى، کتاب

الموقوف د امام ترمذي يو ضخيم كتاب دي، په كوم كي مقطوع او موقوف احاديث او اقوال فقهاؤ او نور ضروري مضامين مندرج دي، پدي كتاب كي دفقهاؤ هر قول پخپل خاص سند سره مذكور دى ، پس څوك چي دفقهاؤ هر قول لره په مستقل سند پيژندل غواړي هغه دي كتاب الموقوف مطالعه كړي مګر ددي كتاب لاس ته راوړل او پيدا كول مشكل دى ددنيا په مطابعو كي ددي موندل چرته وجود نه لري.

تشريح: دريمه خبره داده امام ترمذي چي پخپل كتاب كي د كومو روايتونو علتونه (يعني خرابياني) ذكر كړي دي يا يي په بعضي راويانو كلام كړي دي يا يي ددوی تاريخي حالات بيان كړي دي، ددي ماخذ د امام بخاري كتاب التاريخ الكبير دی دا كتاب اوس چاپ شوی دی او پدي سلسله كي اكثر هغه خبري دي كومي چي د امام بخاري نه مخامخ په مخامخ مستفاد شوي دي.

فائده: امام ترمذي وايي په عراق او خراسان كي د حديث په علتونو اود راويانو په حالاتو اود سند په معرفت كي د امام بخاري نه لوي عالم ما هيچرته ندي ليدلي يعني امام بخاري په دي باب كي مهارت تامه حاصل كړي وو.

****

٣_(باب)

٢٠ وَمَا كَانَ فِيهِ مِنْ ذِكْرِ الْعِلَلِ فِي الأَحَادِيثِ وَالرِّجَالِ وَالتَّارِيخِ فَهُوَ مَا اسْتَخْرَجْتُهُ مِنْ كِتَابِ التَّارِيخِ، وَأَكْثَرُ ذَلِكَ مَا نَاظَرْتُ بِهِ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، وَمِنْهُ مَا نَاظَرْتُ بِهِ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَأَبَا زُرْعَةَ، وَأَكْثَرُ ذَلِكَ عَنْ مُحَمَّدٍ، وَأَقَلُّ شَيْءٍ فِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَأَبِي زُرْعَةَ، وَلَمْ أَرَ أَحَدًا بِالْعِرَاقِ، وَلا بِخُرَاسَانَ فِي مَعْنَى الْعِلَلِ وَالتَّارِيخِ وَمَعْرِفَةِ الأَسَانِيدِ كَبِيرَ أَحَدٍ أَعْلَمَ مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْمَاعِيلَ.

ترجمه : او چي كومي خبري په ترمذي كي دي يعني داحاديثو علتونه او دراويانو د تاريخي حالاتو ذكر دا خبري ما دكتاب التاريخ نه راويستلي دي په دي كي اكثر هغه خبري دي دكومو باره كي چي امام بخاري بحث كړي دي (ناظرة به فلانا يعني په كومه معامله كي بحث كول او صحيح خبري ته خان رسول) او څه خبري داسي دي دكومو باره كي چي ما دامام دارمي او ابوذرعه سره بحث كړي دي او په دي كي اكثر خبري دامام بخاري نه مروي دي او په ترمذي كي په دي سلسله كي څه خبري د دارمي او ابوذرعه نه مروي دي او ما داسي څوك په عراق او خراسان كي نه دي ليدلي چي دامام بخاري نه دحديث دعلتونو په پيژندلو او دراويانو دحالاتو په معرفت او په سندونو زيات پوهيدونكي وي.

****

٤_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا حَمَلَنَا عَلَى مَا بَيَّنَّا فِي هَذَا الْكِتَابِ مِنْ قَوْلِ الْفُقَهَاءِ وَعِلَلِ الْحَدِيثِ لِأَنَّا سُئِلْنَا عَنْ هَذَا؛ فَلَمْ نَفْعَلْهُ زَمَانًا. ثُمَّ فَعَلْنَاهُ، لِمَا رَجَوْنَا فِيهِ مِنْ مَنْفَعَةِ النَّاسِ.

لِأَنَّا قَدْ وَجَدْنَا غَيْرَ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ تَكَلَّفُوا مِنَ التَّصْنِيفِ مَا لَمْ يُسْبَقُوا إِلَيْهِ؛ مِنْهُمْ:

١ هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ.٢ وَعَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ.٣ وَسَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ ٤ وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ.٥ وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ.٦ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ.٧ وَيَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ.٨ وَوَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ.٩ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، وَغَيْرُهُمْ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ وَالْفَضْلِ صَنَّفُوا فَجَعَلَ اللهُ فِي ذَلِكَ مَنْفَعَةً كَثِيرَةً؛ فَنَرْجُو لَهُمْ بِذَلِكَ الثَّوَابَ الْجَزِيلَ عِنْدَ اللهِ لِمَا نَفَعَ اللهُ بِهِ الْمُسْلِمِينَ؛ فَهُمُ الْقُدْوَةُ فِيمَا صَنَّفُوا.

ترجمه : مونږ چې په دي کتاب کي دفقهاؤ او مجتهدينو داقوالو څه خرابياني ذکر کړي دي ددي دذکر کولو باعث په مونږ باندي هغه سوالات وو کوم چې زمونږ نه شوي وو مګر تريوي اوږدي زماني پوري مونږ په دي باندي عمل نه وو کړي ځکه چې ددي خلقو نه زمونږ دفائدي اميد وو ځکه چې مونږ دمتعددو اهل علمو نه احاديث حاصل کړي دي او دداسي کتابونو په ليکلو کي هغوئ مشقت برداشت کړي دي دکوم چې دمخکي نه نظير نه وو په دوئ کي هشام بن حسان وغيره هم شامل دي کوم چې صاحب دفضل او علم دي چې کتاب يي ليکلي دي پس الله تعالي په دي کتابونو کي لويه فائده واچوله او دوئ ته ددي کتابونو په سبب دالله تعالي دطرفه ثواب ملاؤ شو ځکه چې خلق ددي په سبب فائدي ته ورسيدل پس همدغه ما اسوه اوګرځوله په هغه کتابونو کي کوم چې هغوئ ليکلي دي او دهغه کتابونو دجملي نه په دي دور کي صرف مؤطا موجود ده او په دي کي دوه ثلثه دامام مالك اقوال دي او صرف يو ثلث يي احاديث دي.

****

٥_(باب)

وَقَدْ عَابَ بَعْضُ مَنْ لا يَفْهَمُ عَلَى أَهْلِ الْحَدِيثِ الْكَلامَ فِي الرِّجَالِ، وَقَدْ وَجَدْنَا غَيْرَ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ مِنَ التَّابِعِينَ قَدْ تَكَلَّمُوا فِي الرِّجَالِ مِنْهُمْ: الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ، وَطَاوُسٌ تَكَلَّمَا فِي مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ.وَتَكَلَّمَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ فِي طَلْقِ بْنِ حَبِيبٍ.وَتَكَلَّمَ إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ وَعَامِرٌ الشَّعْبِيُّ فِي الْحَارِثِ

الأَعْوَرِ. وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْنٍ، وَسُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، وَشُعْبَةَ بْنِ الحَجَّاجِ، وَسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالأَوْزَاعِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ المُبَارَكِ، وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ القَطَّانِ، وَوَكِيعِ بْنِ الجَرَّاحِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ وَغَيْرِهِمْ مِنْ أَهْلِ العِلْمِ أَنَّهُمْ تَكَلَّمُوا فِي الرِّجَالِ وَضَعَّفُوا. وَإِنَّمَا حَمَلَهُمْ عَلَى ذَلِكَ عِنْدَنَا وَاللهُ أَعْلَمُ النَّصِيحَةُ لِلْمُسْلِمِينَ. لا يُظَنُّ بِهِمْ أَنَّهُمْ أَرَادُوا الطَّعْنَ عَلَى النَّاسِ أَوْ الغِيبَةَ. إِنَّمَا أَرَادُوا عِنْدَنَا أَنْ يُبَيِّنُوا ضَعْفَ هَؤُلاءِ؛ لِكَيْ يُعْرَفُوا. لأَنَّ بَعْضَ الَّذِينَ ضُعِّفُوا كَانَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ، وَبَعْضَهُمْ كَانَ مُتَّهَمًا فِي الحَدِيثِ، وَبَعْضَهُمْ كَانُوا أَصْحَابَ غَفْلَةٍ وَكَثْرَةِ خَطَإٍ؛ فَأَرَادَ هَؤُلاءِ الأَئِمَّةُ أَنْ يُبَيِّنُوا أَحْوَالَهُمْ شَفَقَةً عَلَى الدِّينِ وَتَثْبِيتًا؛ لأَنَّ الشَّهَادَةَ فِي الدِّينِ أَحَقُّ أَنْ يُتَثَبَّتَ فِيهَا مِنَ الشَّهَادَةِ فِي الحُقُوقِ وَالأَمْوَالِ.

ترجمه : بعضي ناپوهه خلقو په محدثينو په راويانو باندي دکلام کولو په وجه عيب لګولي دي او حال دادي چې مونږ په تابعينو کي ډير اهل علم موندلي دي چې په راويانو يې کلام کړي دي لکه حسن بصري او طاوس په معبد جهني باندي کلام کړي دي، او سعيد بن جبير په طلق بن حبيب باندي کلام کړي دي او ابراهيم نخعي او عامر شعبي په حارث اعور باندي کلام کړي دي او همداسي منقول دي دايوب سختياني ، عبدالله بن عون، سليمان تيمي شعبه بن الحجاج، سفيان ثوري، امام مالك، امام اوزاعي، ابن المبارك، يحي بن سعيد القطان، وكيع بن الجراح، او ابن مهدي وغيره علماء دوئ ټولو په راويانو كلام كړي دي او ددوئ تضعيف يې بيان كړي دي زما په خيال په دي علماؤ ددي كار كولو باعث الله بهتر پوهيږي چې صرف دمسلمانانو خيرخواهي كول دي او ددوئ باره كي دا ګمان نشي كيدي چې دا كار هغوئ په خلقو باندي دطعن او تشنيع او غيبت په نيت باندي كړي دي ددي علماؤ اراده زمونږ په خيال دا وه چې دوئ ددغه راويانو كمزورياني ښكاره كړي تردي چې، اوپيژندلي شي ځكه چې بعضي ضعيف راويانو دګمراه فرقو سره تعلق لرلو او بعضي راويار په باب دحديث كي متهم وو او بعضي راويان په باب دحديث كي غافل او غلطي كونكي وو پس اهل علمو اوغوښتل چې ددوئ حالات بيان كړي په وجه دشفقت كولو په دين باندي او په روايت دحديث كي دمضبوطئ پيدا كولو دپاره ځكه چې ددين په معامله كي ګواهي وركول زيات ضروري دي ځكه چې په دي خبره مضبوطيږي په نسبت دګواهئ وركولو نه په حقوقو او اموالو او معاملاتو كي يعني په باب دحديث كي دراويانو تزكيه كول زيات ضروري دي په نسبت دحقوقو او معاملاتو كي دتزكيه كولو نه.

****

قَالَ: و أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: سَأَلْتُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيَّ، وَشُعْبَةَ، وَمَالِكَ بْنَ أَنَسٍ، وَسُفْيَانَ بْنَ عُيَيْنَةَ عَنِ الرَّجُلِ تَكُونُ فِيهِ تُهَمَةٌ أَوْ ضَعْفٌ؛ أَسْكُتُ أَوْ أُبَيِّنُ؟ قَالُوا: بَيِّنْ.

ترجمه : امام ترمذي وائي يحي بن سعيد القطان وئيلي دي ما دسفيان ثوري، شعبه، امام مالك، او سفيان بن عيينه نه دهغه راوي باره كي تپوس اوكړو په كوم باندي چې څه تهمت يا څه الزام لګيدلي وي او يا پكي كومه كمزوري وي ايا دهغه باره كي خاموش پاتي شم او كه بيان يي كړم؟ ټولو راته اووئيل چې بيان يي كړه (ځكه چې دحديث دحفاظت دپاره داسي كول ضروري دي)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، قَالَ: قِيلَ لأَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ: إِنَّ أُنَاسًا يَجْلِسُونَ وَيَجْلِسُ إِلَيْهِمُ النَّاسُ، وَلا يَسْتَأْهِلُونَ؟! قَالَ: فَقَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ: كُلُّ مَنْ جَلَسَ، جَلَسَ إِلَيْهِ النَّاسُ، وَصَاحِبُ السُّنَّةِ إِذَا مَاتَ أَحْيَا اللَّهُ ذِكْرَهُ، وَالْمُبْتَدِعُ لاَ يُذْكَرُ.

ترجمه دابوبكر بن عياش نه تپوس اوكړي شو چې بعضي كسان دحديث بيانولو دپاره ناست دي او هغوئ ته دحديث اوريدلو دپاره نور خلق ناست وي او حال دادي چې دوئ ددي لائق نه دي ابوبكر بن عياش اووئيل هر څوك چې ناست وي په داسي شان سره چې خلق ورسره ناست وي يعني هر يو ته شاګرد ملاؤ شي، او دحديث لائق خلق چې كله وفات شي نو الله تعالي ددوئ تذكره باقي پريږدي او دګمراهانو تذكره باقي نه پاتي كيږي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ، أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأَصَمُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنْ عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ: كَانَ فِي الزَّمَنِ الأَوَّلِ لاَيَسْأَلُونَ عَنِ الإِسْنَادِ، فَلَمَّا وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ سَأَلُوا عَنِ الإِسْنَادِ، لِكَيْ يَأْخُذُوا حَدِيثَ أَهْلِ السُّنَّةِ، وَيَدَعُوا حَدِيثَ أَهْلِ الْبِدَعِ.

ترجمه : دابن سيرين قول دي په اولني دور كي به خلقو دسند باره كي تپوس نه كولو مګر كله چې فتنه واقع شوه نو خلقو دسند باره كي سوال شروع كړو ترڅو دي ه داهل سنت احاديث قبول كړي شي او دګمراهانو او بدعتيانو احاديث پريخودلي شي.

****

٦_(باب)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ الْحَسَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَانَ يَقُولُ: قَالَ عَبْدُاللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ: الإِسْنَادُ

عِنْدِي مِنَ الدِّينِ، لَوْلا الإِسْنَادُ، لَقَالَ مَنْ شَاءَ مَا شَاءَ، فَإِذَا قِيلَ لَهُ: مَنْ حَدَّثَكَ؟ بَقِيَ.

ترجمه: دابن مبارك قول دي اسناد زما په نزد په دين کي شامل دي او که چري اسناد نه وي نو دچاچې څه زړه غوښتل هغه به يي وئيلي وو کله چې چاته اووئيلي شي دا حديث چا بيان کړي دي نو هغه شرمنده پاتي کيږي.

****

٧_(باب)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى، قَالَ: ذُكِرَ لِعَبْدِاللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ حَدِيثٌ، فَقَالَ: يُحْتَاجُ لِهَذَا أَرْكَانٌ مِنْ آجُرٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: يَعْنِي أَنَّهُ ضَعَّفَ إِسْنَادَهُ.

ترجمه: يو ځل دابن مبارك په وړاندي ديو حديث تذکره اوشوه نو هغه اوفرمائيل ددي دپاره دپخو خښتو ستنو ته ضرورت دي يعني دمذکوره حديث سند يي ضعيف اوګڼړلو (دجرح مختلف اندازونه وي او داهم دهغې دجملي نه يو انداز دي).

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ زَمْعَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ أَنَّهُ تَرَكَ حَدِيثَ الْحَسَنِ بْنِ عُمَارَةَ، وَالْحَسَنِ بْنِ دِينَارٍ، وَإِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدٍ الأَسْلَمِيِّ، وَمُقَاتِلِ بْنِ سُلَيْمَانَ، وَعُثْمَانَ الْبُرِّيِّ، وَرَوْحِ بْنِ مُسَافِرٍ، وَأَبِي شَيْبَةَ الْوَاسِطِيِّ، وَعَمْرِو بْنِ ثَابِتٍ، وَأَيُّوبَ بْنِ خُوطٍ، وَأَيُّوبَ بْنِ سُوَيْدٍ، وَنَصْرِ بْنِ طَرِيفٍ هُوَ أَبُو جَزْءٍ وَالْحَكَمِ. وَحَبِيبٍ الْحَكَمُ رَوَى لَهُ حَدِيثًا فِي كِتَابِ الرِّقَاقِ، ثُمَّ تَرَكَهُ. وَقَالَ: حَبِيبٌ لا أَدْرِي.

ترجمه: وهب بن زمعه دابن مبارك قول نقل کوي چې هغه د ديارلسو راويانو نه حديث نقل کول پريخودلي وو (١) حسن بن عماره (البجلي ابومحمد الکوفي) دبغداد قاضي وو مګر په روايت دحديث کي انتهائي ضعيف وو بلکه متروك ګرځولي شوي وو په بخاري کي دهغه نه تعليقا او په ترمذي او ابن ماجه کي دهغه روايات موجود دي (٢) حسن بن دينار (ابوسعيد تميمي وائي دامام بخاري قول دي يحي بن سعيد قطان، ابن مبارك، وکيع، او ابن مهدي وغيره محدثين په مذکوره راوي اعتماد نه کولو (٣) ابراهيم بن محمد الاسلمي (ابواسحاق المدني دفرقه جهميه سره تعلق لرلو او انتهائي کمزوري راوي دي) (٤) مقاتل بن سليمان (صاحب التفسير ابو الحسن البلخي) ابن مبارك وائي که چري دا کس ثقه وي نو په علم تفسير کي ... امام شميرلي شوي وو، دامام ابو حنيفه قول دي جهمه فرقي والا تشبيه په نفي کي دافراط نه کار اخستلي دي تردي پوري دالله تعالي په باره کي وائي الله ليس بشيئ، او مقاتل

دتفريط نه كار اخستلي دي تردي پوري چې الله تعالي يې دمخلوق په شام ګرځولي دي (۵) عثمان بن مقسم البري (ابوسلمه الكندي البصري) يحي بن سعيد القطان وغيره دده تضعيف کړي دي (۲) روح بن مسافر (ابوالبشر البصري ثقاتو راويانو ته دنسبت کولو په حال کي احاديث بيانول (۷) ابوشيبه الواسطي (عبدالرحمن بن اسحاق) داکثرو محدثينو په نزد متروك راوي دي مګر په ابوداود او نسائي کي دده روايت موجود دي(۸) عمرو بن ثابت (داسي کس وو چې سابقينو سلفو علماؤ ته به يې کنځل کول (۹) ايوب بن خوط (ابواميه البصري دمحدثينو په نزد قابل داعتماد نه دي (۱۰) ايوب بن سويد (ابومسعود رملي دابن مبارك قول نقل کړي دي فرمائيل يې چې "ارم به" يعني دده روايتونه په ردي ټوکرئ کي اوغورځوئ موصوف دابوداود ترمذي او ابن ماجه راوي دي (۱۱) نصر بن طريف ابي جزء (القصاب) دحديث دواضعينو نه دي (۱۲) حکم (بن عبدالله بن سعيد الايلي) يو متروك راوي دي (۱۳) حبيب بن ثابت مجهول راوي دي ددي راويانو احاديث ابن مبارك پريخودلي دي او حکم نه يو حديث ابن مبارك په کتاب الزهد والرقاق کي نقل کړي دي او بيا يې دده نه روايت نقل کول پريخودلي دي (يعني چې کله ورته ددي راوي حالات پوره معلوم نه وو نو دده روايت يې قبولولو مګر بيا چې ورته پوره حال معلوم شو نو ابن مبارك دده نه روايت نقل کول پريخودلو او امام ترمذي وائي حبيب راوي زه نه پيژنم چې څوك دي.

****

قَالَ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ: وَسَمِعْتُ عَبْدَانَ قَالَ: كَانَ عَبْدُاللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ قَرَأَ أَحَادِيثَ بَكْرِ بْنِ خُنَيْسٍ، فَكَانَ أَخِيرًا إِذَا أَتَى عَلَيْهَا أَعْرَضَ عَنْهَا، وَكَانَ لَايَذْكُرُهُ.

ترجمه : دعبدان قول دي چې عبدالله بن مبارك دبکر بن خنيث حديثونه لوستلي وو (يعني شاګردانو ته يې بيان کړي وو) مګر بيا چې کله په اخر کي پخپل کتاب کي دده په روايتونو تيريدلو نو اعراض به يې ورنه کولو او دده روايتونه به يې نه بيانول.

****

قَالَ أَحْمَدُ: حَدَّثَنَا أَبُو وَهْبٍ. قَالَ: سَمَّوْا لِعَبْدِاللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ رَجُلًا يُتَّهَمُ فِي الْحَدِيثِ، فَقَالَ: لَأَنْ أَقْطَعَ الطَّرِيقَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُحَدِّثَ عَنْهُ.

ترجمه : ابووهب وائي يو ځل خلقو دعبدالله بن مبارك په وړاندي ديو داسي کس تذکره اوکړه چې په حديث کي به يې غلطياني کولي ابن مبارك اوونيل ډاکه وهل مي ددينه زيات خوښ دي چې دده نه احاديث نقل کړم.

****

قَالَ: أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ حِزَامٍ، قَالَ: سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ هَارُونَ يَقُولُ: لا يَحِلُّ لأَحَدٍ أَنْ يَرْوِيَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرٍو النَّخَعِيِّ الْكُوفِيِّ.

ترجمه يزيد بن هارون وائي دهيڅا دپاره جائز نه دي چې دسليمان بن عمرو نخعي كوفي نه احاديث نقل كړي ﴿څكه چې هغه به دخان نه احاديث جوړول، او متقدمينو او متاخرينو دده دروايتونو نه اجتناب كولو﴾.

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ، حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى الْحِمَّانِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حَنِيفَةَ يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْذَبَ مِنْ جَابِرٍ الْجُعْفِيِّ، وَلا أَفْضَلَ مِنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَمِعْتُ الْجَارُودَ يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا يَقُولُ: لَوْلا جَابِرٌ الْجُعْفِيُّ لَكَانَ أَهْلُ الْكُوفَةِ بِغَيْرِ حَدِيثٍ، وَلَوْلا حَمَّادٌ لَكَانَ أَهْلُ الْكُوفَةِ بِغَيْرِ فِقْهٍ.

ترجمه : دابويحي حماني قول دي ما دامام ابو حنيفه نه اوريدلي دي چې ما په زندګئ كي دجابر جعفي نه زيات دروغژن انسان چرته نه دي كتلي او دعطا بن ابي رباح نه مي افضل انسان نه دي كتلي، امام ترمذي وائي ما دجارود نه اوريدلي دي وئيل يې ما دوكيع نه اوريدلي دي كه چرې جابر جعفي نه وې نو كوفي والا به بغير دحديث نه پاتې شوي وو ﴿يعني دكوفي دمحدثينو په نزد دجابر جعفي احاديث دين دي﴾.

تشريح: دده سلسله دنسب داسې ده ابو عبدالله جابر بن يزيد جعفي كوفي المتوفي ۱۲۷ چې يو مشهور ضعيف راوي دي، دابو داود او ترمذي او ابن ماجه راوي دي جابر جعفي په اوله كې صحيح وو او بيا تشيع ته مائل شو چنانچې بعضې علماؤ دسابقه احوالو په اعتبار دهغه توثيق كړي دي او دده روايات يې قبول كړي دي مګر بعضې نورو علماؤ دده داخري حالاتو په اعتبار په دده باندې جرح كړې ده او دده روايتونه يې پريخودلي دي چنانچې امام ابو حنيفه هم په دده باندې جرح كړې ده او وكيع اسمان ته خيژولي دي ﴿دا عبارت دهندوستاني نسخو دي چې په مصري او ابن رجب دعلل په شرح باندې اضافه ده﴾

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ؛ فَذَكَرُوا مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ؛ فَذَكَرُوا فِيهِ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ وَغَيْرِهِمْ؛ فَقُلْتُ: فِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ، فَقَالَ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟! قُلْتُ: نَعَمْ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ نُصَيْرٍ، حَدَّثَنَا الْمُعَارِكُ بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ

اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "الْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ".قَالَ: فَغَضِبَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَقَالَ: اسْتَغْفِرْ رَبَّكَ،اسْتَغْفِرْ رَبَّكَ مَرَّتَيْنِ.قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا فَعَلَ هَذَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ لأَنَّهُ لَمْ يُصَدِّقْ هَذَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِضَعْفِ إِسْنَادِهِ. لأَنَّهُ لَمْ يَعْرِفْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالْحَجَّاجُ بْنُ نُصَيْرٍ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيُّ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ جِدًّا فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه : امام ترمزي وائي ما داحمد بن الحسن نه اوريدلي دي وئيل يي چې مونږ دامام احمد سره موجود وو چې خلقو ددي خبري تذكره كوله چې جمعه په چا باندي واجب ده: نو هغوئ په دي مسئله كي دبعضي تابعينو اقوال ذكر كړل، ما اووئيل په دي مسئله كي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه حديث مروي دي، احمد بن حنبل اووئيل ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه؟ ما اووئيل هو ماته حجاج بن نصير حديث بيان كړي دي دمعارك بن عباد نه او هغه دعبدالله بن سعيد مقبري نه اوريدلي دي او هغه دخپل پلار نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه نه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جمعه په هغه چا باندي واجب ده څوك چې دشپې دپاره واپس خپل كور ته رارسيدي شي يعني چې جمعي مونځ اوكړي او پيادل روان شي او دنمر پريوتلو نه مخكي خپل كور ته راورسيږي په داسي كس جمعه واجب ده احمد بن حسن وائي ددي حديث په اوريدو امام احمد بن حنبل په غصه شو او ويي فرمائيل توبه اوباسه او توبه اوباسه دوه پيري يي دا كلمات اووئيل او امام احمد داكار خكه اوكړو چې هغه ددي حديث دتسليمولو نه انكار اوكړواو ددي حديث دسند دكمزورئ وجه داده چې امام احمد دا حديث ددي سند نه علاوه چرته په بل سند باندي نه پيژندلو او حجاج بن نصير په باب دحديث كي ضعيف دي او په عبدالله بن سعيد مقبري يحي بن سعيد القطان كلام كړي دي او انتهائي ضعيف يي ګڼړلي دي يعني ددي دوه راويانو په وجه امام احمد دا حديث قابل داعتبار اونه ګڼړلو.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: فَكُلُّ مَنْ رُوِيَ عَنْهُ حَدِيثٌ مِمَّنْ يُتَّهَمُ أَوْ يُضَعَّفُ لِغَفْلَتِهِ. وَكَثْرَةِ خَطَئِهِ. وَلاَيُعْرَفُ ذَلِكَ الْحَدِيثُ إِلا مِنْ حَدِيثِهِ. فَلا يُحْتَجُّ بِهِ.

ترجمه : هر هغه راوي دكوم نه چې كوم حديث نقل كړي شوي وي او دا راوي دهغه كسانو دجملي نه وي په چاچې د دروغو وئيلو الزام وي او يا دهغه دغفلت په وجه او دهغه دغلطيانو دزياتوالي په وجه دده تضعيف شوي وي او بيا دا حديث صرف په همدي سند پيژندلي كيږي نو دداسي حديث نه به استدلال نشي كولي.

****

٨_(باب)

وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ عَنِ الضُّعَفَاءِ، وَبَيَّنُوا أَحْوَالَهُمْ لِلنَّاسِ. حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُنْذِرِ الْبَاهِلِيُّ. حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عُبَيْدٍ قَالَ لَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: اتَّقُوا الْكَلْبِيَّ. فَقِيلَ لَهُ: فَإِنَّكَ تَرْوِي عَنْهُ؟! قَالَ: أَنَا أَعْرِفُ صِدْقَهُ مِنْ كَذِبِهِ.

ترجمه : متعددو اهل علمو دضعيفو راويانو نه احاديث نقل كړي دي او دي محدثينو دخلقو په وړاندي دضعيفو راويانو حالات بيان كړي دي مثلا (١) يعلاء بن عبيد وائي مونږ ته سفيان ثوري رحمة الله عليه اوونيل دكلبي (ابو النضر محمد بن السائب) كلبي كوفي نه ځان اوساتئ، سفيان ثوري ته چا اوونيل چي ته خو ورنه احاديث نقل كوي؟ سفيان اوونيل زه دده په رښتياؤ او په دروغو پوهيږم يعني زه دده په صحيح او غلط روايتونو كي امتياز كولي شم نو په دي بنا زه دده صحيح روايات اخلم او تاسو په دي كي امتياز نشئ كولئ نو په دي وجه بكار ده چي دده داحاديثو نه ځان اوساتئ.

****

قَالَ: وأَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، عَنْ أَبِي عَوَانَةَ، قَالَ: لَمَّا مَاتَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ اشْتَهَيْتُ كَلَامَهُ، فَتَتَبَّعْتُهُ عَنْ أَصْحَابِ الْحَسَنِ، فَأَتَيْتُ بِهِ أَبَانَ بْنَ أَبِي عَيَّاشٍ، فَقَرَأَهُ عَلَيَّ كُلَّهُ عَنِ الْحَسَنِ فَمَا أَسْتَحِلُّ أَنْ أَرْوِيَ عَنْهُ شَيْئًا.

ترجمه ابو عوانه وضاح بن عبيدالله وائي هر كله چي حسن بصري وفات شو نو زما دا خواهش پيدا شو چي دده ملفوظات جمع كړم چنانچي ما دحسن بصري دشاګردانو لټون شروع كړو او په هغوئ كي مي دحسن ملفوظات جمع كړل او بيا مي دده ملفوظات ابان بن ابي عياش ته راوړل نو هغه هغه ټولي خبري دحسن نه دروايت كولو په حال كي زما په وړاندي اولوستلي يعني احاديث يي اوګڼړل چنانچي ما ددينه هيڅ يو روايت نقل كول درست نه ګڼړل.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: قَدْ رَوَى عَنْ أَبَانَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. وَإِنْ كَانَ فِيهِ مِنَ الضَّعْفِ وَالْغَفْلَةِ مَا وَصَفَهُ أَبُو عَوَانَةَ وَغَيْرُهُ فَلَا يُغْتَرُّ بِرِوَايَةِ الثِّقَاتِ عَنِ النَّاسِ لِأَنَّهُ يُرْوَى عَنِ ابْنِ سِيرِينَ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحَدِّثُنِي فَمَا أَتَّهِمُهُ، وَلَكِنْ أَتَّهِمُ مَنْ فَوْقَهُ.

ترجمه : امام ترمذي وائي دابان نه متعددو اهل علمو نقل دروايت كړي دي (لكه سفيان

ثوري، معمرو، يزيد بن هارون، او ابو اسحاق فزاري وغيره، اګر چې په ده کي هغه کمزوري او غفلت وو کوم چې ابوعوانه وغيره بيان کړي دي، پس دثقه محدثينو دخلقو نه دضعيف روايتونو په ذکر کولو دوکه کيدل پکار نه دي او په همدي وجه دابن سيرين نه دا خبره مروي ده چې فرمائيل يي يو سړي ماته حديث بيانوي او زه هغه لره متهم نه ګنړم ،خکه چې هغه ثقه او قابل داعتماد وي، بلکه زه دده نه پورتني راوي لره متهم ګنړم يعني دده استاذ يا داستاذ استاذ غير ثقه وي، ابن سيرين ددي قول نه ثابته شوه چې کله کله ثقه دغير ثقه نه نقل دروايت کړي وي او په هغي کي کوم مصلحت وي چې ذکر يي په سابقه کرخو کي تير شو. وړاندي امام ترمذي دابان حال بيانوي چې هغه به په روايت کي کوم نقصانات کول.

****

وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْنُتُ فِي وِتْرِهِ قَبْلَ الرُّكُوعِ. وَرَوَى أَبَانُ بْنُ أَبِي عَيَّاشٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْنُتُ فِي وِتْرِهِ قَبْلَ الرُّكُوعِ. هَكَذَا رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنْ أَبَانَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ. وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ أَبَانَ بْنِ أَبِي عَيَّاشٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَ هَذَا: وَزَادَ فِيهِ "قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: وَأَخْبَرَتْنِي أُمِّي أَنَّهَا بَاتَتْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ فِي وِتْرِهِ قَبْلَ الرُّكُوعِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبَانُ بْنُ أَبِي عَيَّاشٍ، وَإِنْ كَانَ قَدْ وُصِفَ بِالْعِبَادَةِ وَالاجْتِهَادِ؛ فَهَذِهِ حَالُهُ فِي الْحَدِيثِ؛ وَالْقَوْمُ كَانُوا أَصْحَابَ حِفْظٍ فَرُبَّ رَجُلٍ وَإِنْ كَانَ صَالِحًا لا يُقِيمُ الشَّهَادَةَ، وَلا يَحْفَظُهَا، فَكُلُّ مَنْ كَانَ مُتَّهَمًا فِي الْحَدِيثِ بِالْكَذِبِ أَوْ كَانَ مُغَفَّلا يُخْطِئُ الْكَثِيرَ، فَالَّذِي اخْتَارَهُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِنَ الأَئِمَّةِ أَنْ لا يُشْتَغَلَ بِالرِّوَايَةِ عَنْهُ. أَلا تَرَى أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الْمُبَارَكِ حَدَّثَ عَنْ قَوْمٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ، فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَمْرُهُمْ تَرَكَ الرِّوَايَةَ عَنْهُمْ.

ترجمه: امام ترمذي وائي متعددو راويانو ابراهيم نخعي نه دا خبره نقل کړي ده چې ابن مسعود رضي الله عنه به په وترو کي درکوع نه مخکي دعاء قنوت لوستلو (دا روايت موقوف او منقطع دي، خکه چې ابراهيم نخعي دابن مسعود زمانه نه ده موندلي او دا روايت امام محمد په کتاب الاثار کي ذکر کړي دي . او ابان بن ابي عياش دابراهيم نخعي نه او هغه دعلقمه نه او هغه دابن مسعود نه روايت نقل کړي دي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په وترو کي درکوع نه مخکي دعاء قنوت لوستلو بعض دا حديث يي مرفوع بيان کړي دي، سفيان ثوري هم دا رنګي دا حديث دابان نه مرفوع نقل کړي دي او دا روايت ابن ابي شيبه په

مصنف کي ذکر کړي دي، او بعضي راویانو لکه یزید بن هارون دابان نه په همدي سند نقل کړي دي او په دي کي دا اضافه ده چې ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل ماته زما مور خبر راکړي دي چې هغي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په کور کي یوه شپه تیره کړي وه او نبي کریم صلي الله علیه وسلم یي لیدلي وو چې په وترو کي یي درکوع نه مخکي دعاء قنوت لوستلو (داحدیث هم ابن ابي شیبه په مصنف کي ذکر کړي دي) غرض دا چې ابان حدیث موقوف بیان کړو او دابن مسعود دمور دحدیث اضافه یي اوکړه مګر په دي دواړه خبرو کي ابان متفرد دي او بل څوك ورسره په دي کي متابعت نه کوي دا دواړه خبري اګر چې ممکن دي مګر چونکه ابان په دي باندي منفرد دي او کوم بل ثقه راوي دا نه دي بیان کړي نو په همدي وجه ابان متهم اوګنړلي شو.

امام ترمذي وائي ابان بن عیاش اګر چې په عبادت او عبادت کي اجتهاد یعني انتهائي محنت کولو باندي متصف شوي دي یعني په اهل ورع کي شمیرلي شوي دي مګر په باب دحدیث کي دهغه دا حالت دي، ابن حبان وائي ابان به دحسن بصري مجلس ته حاضري کوله او چې دهغه نه به یي څه واوریدل هغه به یي دانس رضي الله عنه نه مرفوع نقل کول او دا کار به یي په ناخبرئ کي کولو هغه دانس رضي الله عنه نه تقریبا یونیم زر احادیث په دي شان نقل کړي دي په کومو کي چې داکثرو معتمد سند نشته او محدثین حفظ او اتقان والا وو یعني په حقیقي معني کي محدث هغه څوك دي دچا احادیث چې محفوظ وي څکه چې بعضي کسان اګر چې نیك وي مګر په درسته طریقه ګواهي نشي ورکولي او نه ورته هغه خبره یاده وي دکومي چې دي ګواهي ورکوي او همدا حال دضعیفو محدثینو دي، پس هر څوك چې په باب دحدیث کي متهم بالکذب وي یا په غفلت متهم وي یعني ډیري زیاتي غلطیاني کوي نو په محدثینو کي داکثرو په نزد بهتره خبره داده چې دده نه په احادیث نقل کولو کي اشتغال اونکړي شي، ایا تاسو نه ګورئ دابن مبارك داهل علمو دیو جماعت نه روایتونه نقل کړي دي مګر چې کله ورته دهغوئ حال واضح شو نو ددوئ نه ي نقل دروایت پریخودلو.

****

أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ حِزَامٍ قَالَ: سَمِعْتُ صَالِحَ بْنَ عَبْدِاللهِ يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُقَاتِلٍ السَّمَرْقَنْدِيِّ، فَجَعَلَ يَرْوِي عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي شَدَّادٍ الأَحَادِيثَ الطِّوَالَ الَّتِي كَانَ يَرْوِي فِي وَصِيَّةِ لُقْمَانَ. وَقَتْلِ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ وَمَا أَشْبَهَ هَذِهِ الأَحَادِيثَ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ أَخِي أَبِي مُقَاتِلٍ: يَا عَمِّ! لا تَقُلْ: حَدَّثَنَا عَوْنٌ، فَإِنَّكَ لَمْ تَسْمَعْ هَذِهِ الأَشْيَاءَ. قَالَ: يَا بُنَيَّ! هُوَ كَلامٌ حَسَنٌ.

ترجمه : (لته په مصري نسخه کي دا عبارت زیاتي دي)امام ترمذي وائي ماته موسي بن حزام اووئیل چې ما دصالح بن عبدالله نه اوریدلي دي وئیل یي چې مونږ دابو مقاتل سمرقندي

سره موجود وو دا راوي په تیاحال راویانو کي یو کس دي چې نوم یي حفظ بن سلم دي قتیبه دده تضعیف کړي دي او ابن مهدي دده تکذیب کړي دي او دده ډیر اوږد عمر وو د ۲۰۸هجري پوري ژوندي وو هغه دعون بن ابي شداد نه هغه اوږده احادیث نقل کول شروع کړي وو کوم چې دلقمان دنصیحتونو او دسعید بن جبیر دقتل په سلسله کي وارد دي او هغه خبري کومي چې ددي واقعاتو سره مشابه دي، پس ابو مقاتل ته خپل وراره اوونیل اي تره حدثنا عون مه وایه ځکه چې دا خبري تا دعون بن ابي شداد نه اوریدلي نه دي هغه په جواب کي اوونیل اي زما خوږه بچیه دا نیکي خبري دي عون ته ددي په منسوب کولو کي څه حرج دي.

****

وسمعتُ الجارودَ يقولُ: كنَّا عندَ أبي معاويةَ فذُكِرَ له حديثُ أبي مقاتلٍ، عن سفيانَ الثوريّ، عن الأعمشِ، عن أبي ظبيانَ، قالَ: سُئلَ علي عن كور الزنابيرِ، قالَ: لا بأسَ به هو بمنزلةِ صيدِ البحرِ. فقال أبو معاوية: ما أقولُ: إن صاحبَكم كذاب، ولكن هذا الحديث كذبٌ. وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي قَوْمٍ مِنْ أَجِلَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَضَعَّفُوهُمْ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِمْ، وَوَثَّقَهُمْ آخَرُونَ مِنَ الأَئِمَّةِ لِجَلالَتِهِمْ وَصِدْقِهِمْ وَإِنْ كَانُوا قَدْ وَهِمُوا فِي بَعْضِ مَا رَوَوْا.

ترجمه : امام ترمذي وائي دجارود نه مي اوریدلي دي ونیل یي مونږ دابومعاویه سره ناست وو چې په دي وخت کي هغه ته دمقاتل حدیث ذکر کړي شو چې دسفیان ثوري نه یي نقل کولو او هغه داعمش نه او هغه دابوضبیان نه ابو ضبیان ونیل دعلي رضي الله عنه نه د مچو باره کي تپوس اوکړي شو هغه اوونیل په دي کي څه باك نشته دا دسمندر دښکار پشان دي ابو معاویه اوونیل زه دا نه وایم چې ستاسو دوست دروغژن دي مګر داحدیث د دروغو دي، او یقینا کلام کړي دي بعضي محدثینو په لویو لویو عالمانو باندي او دحفظ په اعتبار یي ضعیف ګڼرلي دي مګر نورو اهل علمو ددوئ دعلمي شان په وجه او دصداقت په وجه ددوئ توثیق کړي دي اګر که دوئ پخپلو بعضو مرویاتو کي دوهم ښکار شوي دي.

****

وقَدْ تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ فِي مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، ثُمَّ رَوَى عَنْهُ.

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ قَالَ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلْقَمَةَ. قَالَ: تُرِيدُ الْعَفْوَ أَوْ تُشَدِّدُ. فَقَالَ: لا. بَلْ أُشَدِّدُ قَالَ: لَيْسَ هُوَ مِمَّنْ تُرِيدُ، كَانَ يَقُولُ: أَشْيَاخُنَا أَبُو سَلَمَةَ وَيَحْيَى بْنُ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ.

قَالَ يَحْيَى: سَأَلْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو فَقَالَ: فِيهِ نَحْوَ مَا قُلْتُ لَكَ.

ترجمه: يحي بن سعيد القطان په محمد بن عمرو راوي باندي کلام کړي دي او بيا يي هغه نه اخذ درروايت هم کړي دي، دعلي بن مديني قول دي ما ديحي بن قطان نه دمحمد بن عمرو بن علقمه باره کي تپوس اوکړو (چې دا څنګه راوي دی) يحي اووئيل معافي کول غواړي او که سختي کول غواړي؟ ما اووئيل سختي کول غواړم يعني پخه خبره اوريدل غواړم يحي اووئيل دي دهغه کسانو نه دي دچاچې تا اراده کړي ده (يعني قابل داعتماد نه دي، او هغه به دهر حديث په سند کي وئيل مونږ ته زمونږ مشانخو حديث بيان کړي دي چې ابو سلمه او يحي بن عبدالرحمن دي (او حال دادي دا خبره ممکن نه ده چې تمام روايات يي دهغوی نه اوريدلي دي ګويا کي يحي ده لره غير محتاط راوي اوګرځو) يحي اووئيل ما دامام مالك نه دمحمد بن عمرو باره کي تپوس اوکړو نودده باره کي يي هغه خبره اوکړه کومه چې ما تاته اوکړله.

****

قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ: يَحْيَى: وَمُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو أَعْلَى مِنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، وَهُوَ عِنْدِي فَوْقَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ. قَالَ عَلِيٌّ: فَقُلْتُ لِيَحْيَى: مَا رَأَيْتَ مِنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ؟ قَالَ: لَوْ شِئْتُ أَنْ أُلَقِّنَهُ لَفَعَلْتُ. قُلْتُ: كَانَ يُلَقَّنُ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ عَلِيٌّ: وَلَمْ يَرْوِ يَحْيَى عَنْ شَرِيكٍ، وَلا عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، وَلا عَنْ الرَّبِيعِ بْنِ صَبِيحٍ، وَلا عَنْ الْمُبَارَكِ بْنِ فَضَالَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنْ كَانَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ قَدْ تَرَكَ الرِّوَايَةَ عَنْ هَؤُلاءِ؛ فَلَمْ يَتْرُكْ الرِّوَايَةَ عَنْهُمْ أَنَّهُ اتَّهَمَهُمْ بِالْكَذِبِ، وَلَكِنَّهُ تَرَكَهُمْ لِحَالِ حِفْظِهِمْ. وذُكِرَ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَنَّهُ كَانَ إِذَا رَأَى الرَّجُلَ يُحَدِّثُ عَنْ حِفْظِهِ مَرَّةً هَكَذَا وَمَرَّةً هَكَذَا، لا يَثْبُتُ عَلَى رِوَايَةٍ وَاحِدَةٍ، تَرَكَهُ. وَقَدْ حَدَّثَ عَنْ هَؤُلاءِ الَّذِينَ تَرَكَهُمْ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَوَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَغَيْرُهُمْ مِنَ الأَئِمَّةِ.

ترجمه: دعبدالرحمن بن حرمله تذکره:

يحي بن قطان واني محمد بن عمرو (چې ماقبل کي ذکر شو) دسهيل بن ابي صالح نه دروايت په نقل کولو کي (چې ذکر يي روسته راروان دي) داعلي درجي راوي دي او محمد بن عمرو زما په نزد دعبدالرحمن بن حرمله نه زيات قوي دي، علي بن مديني واني ما ديحي نه تپوس اوکړو دعبدالرحمن بن حرمله باره کي دي څه خيال دي يحي اووئيل که ما هغه ته تلقين کول غوښتلي نو ورته به مو کړي وو ما عرض اوکړو ايا هغه تلقين قبلولو؟ يحي اووئيل هو،

دشريک، ابوبکر بن عياش، ربيع بن صبيح، مبارک بن فضاله تذکره

علي بن مديني وائي يحي دشريك نه، او ابوبكر بن عياش نه او دربيع بن صبيح نه او د مبارك بن فضاله نه اخذ دروايت نه كولو.

امام ترمذي وائي يحي بن قطان اګر چې ددي راويانو نه ترك دروايت كولو مګر په دي وجه يي نه دي پريخودلي چې متهم بالكذب يي ګڼرلي وو بلكه دحافظي دخرابيدو په وجه يي پريخودلي دي، او ديحي بن سعيد القطان باره كي داخبره هم ذكر شوي ده چې هغه به كله څوك اوليدلو چې ديادو نه به يي كله حديث يو شان بيانولو او كله بل شان او په يو روايت به نه ټينګيدلو نو داسي روايت به يي پريخودلو او كوم مذكوره څلور كسان چې يحي بن سعيد قطان پريخودلي دي ددوئ نه ابن مبارك، وكيع، او ابن مهدي وغيره روايت نقل كولو ځكه چې دا راويان ددوئ په نزد معتبر وو.

تشريح: قاضي شريك بن عبدالله د نخع قبيلي سره تعلق لري او دكوفي اوسيدونكي دي صدوق دي مګر كثير الخطا دي په كوفه كي دقاضي مقرريدو نه پس دهغه حافظه خرابه شوي وه. ابوبكر بن عياش دكوفي اوسيدونكي او عابد او زاهد وو په باب دحديث كي معتبر وو مګر دبوډاوالي په وجه يي حافظه خرابه شوي وه ربيع بن صبيح دبصري اوسيدونكي دي او صدوق دي. مګر سيء الحفظ دي، دالله تعالي يو نيك بنده اوښه عبادت ګذار وو، مبارك بن فضاله دبصري اوسيدونكي او صدوق وو مګر تدليس التسويه به يي كوله يعني: سند داعلي ګرځولو دپاره به يي دخپل استاذ نوم حذف كولو او يا به يي كوم پورتني راوي حذف كولو او هلته به يي داسي لفظ استعمالولو په كوم كي چې دسماع احتمال وو دده نه په بخاري كي تعليقا او دنسائي نه علاوه په سنن ثلاثه كي روايات وارد دي.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، وَمُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، وَحَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، وَمُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، وَأَشْبَاهِ هَؤُلَاءِ مِنَ الْأَئِمَّةِ إِنَّمَا تَكَلَّمُوا فِيهِمْ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِمْ فِي بَعْضِ مَا رَوَوْا، وَقَدْ حَدَّثَ عَنْهُمُ الْأَئِمَّةُ. حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، قَالَ: قَالَ لَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: كُنَّا نَعُدُّ سُهَيْلَ بْنَ أَبِي صَالِحٍ ثَبْتًا فِي الْحَدِيثِ. حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: كَانَ مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ ثِقَةً مَأْمُونًا فِي الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ عِنْدَنَا فِي رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ. أَخْبَرَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ: أَحَادِيثُ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ: بَعْضُهَا "سَعِيدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ"، وَبَعْضُهَا "سَعِيدٌ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ"، فَاخْتَلَطَتْ عَلَيَّ

نَصِيْرَتُهَا" عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ"، فَإِنَّمَا تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عِنْدَنَا فِي ابْنِ عَجْلَانَ لِهَذَا، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى عَنْ ابْنِ عَجْلَانَ الْكَثِيرَ.

ترجمه: او همدارنګي بعضي محدثينو په سهيل بن ابي صالح او محمد بن اسحاق او حماد بن سلمه او محمد بن عجلان او ددوئ پشان د لوړي درجي په راويانو کلام کړي دي او محدثينو په دي راويانو ددوئ دحافظي په وجه ددوئ په بعضي روايتونو کي کلام کړي دي او لويو اهل علمو ددوئ نه هم روايتونه کړي دي.

علي بن مديني وائي مونږ ته ابن عيينه وئيلي دي چي مونږ به سهيل بن ابي صالح په حديث کي مضبوط ګڼړلو ابن عيينه اووئيل محمد بن عجلان په باب دحديث کي ثقه او قابل داعتماد وو.

امام ترمذي وائي زمونږ په خيال يحي بن سعيد القطان دمحمد بن عجلان په هغه روايتونو کلام کړي دي کوم چي هغه دسعيد مقبري نه نقل کول يحي بن سعيد قطان وائي دمحمد بن عجلان قول دي دسعيد مقبري بعضي روايتونه دابوهريره نه بغير دواسطي مروي دي او بعضي په کومه واسطه مروي دي مګر هغه روايتونه زما په مسودو کي ګډوډ شوي دي نو په دي وجه ما ټول دسعيد مقبري په واسطه عن ابي هريره سند سره ذکر کړي دي، امام ترمذي وائي يحي بن سعيد زمونږ په خيال کي په همدي وجه کلام کړي دي او ډير روايتونه يي هم دابن عجلان نه نقل کړي دي.

دسهيل بن ابي صالح، محمد بن اسحاق، حماد بن سلمه، محمد بن عجلان تذکره

سهيل بن ابي صالح دمديني اوسيدونکي وو او دپلار نوم يي ذکوان دي او نسبت يي السمان ته شوي دي يعني غوړي او تيل به يي خرڅول اسم کنيه يي ابو يزيد ده چي صدوق راوي دي مګر په بوډاوالي کي يي حافظه خرابه شوي وه په بخاري کي دده روايات تعليقا مذکور دي.

محمد بن اسحاق بن يسار هم مدني دي او صدوق دي مګر مدلس دي، دتدليس معني ضعيف راوي پټول دي او داسي لفظ استعمالول دي په کوم کي چي دسماع احتمال وي او موصوف دمغازي امام دي مګر بعضي محدثينو دامام مالك وغيره ورباندي جرح کړي ده.

حماد بن سلمه بن دينار دبصري اوسيدونکي دي او يو عابد او زاهد تير شوي دي امام بيهقي به په ائمة المسلمين کي شميرلو مګر دده حافظه هم دبوډاوالي وخت کي خرابه شوي وه او په دي وجه ورنه امام بخاري احاديث نه اخستل.

محمد بن عجلان مدني او صدوق دي مګر دابوهريره رضي الله عنه په احاديثو کي ګډوډي کړي ده په دي وجه به ورباندي يحي بن سعيد قطان کلام کړي دي.

****

دابن ابي ليلي صغير تذکره

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا مَنْ تَكَلَّمَ فِي ابْنِ أَبِي لَيْلَى إِنَّمَا تَكَلَّمَ فِيهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ: رَوَى شُعْبَةُ عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَخِيهِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُطَاسِ. قَالَ يَحْيَى: ثُمَّ لَقِيتُ ابْنَ أَبِي لَيْلَى، فَحَدَّثَنَا عَنْ أَخِيهِ عِيسَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.
قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيُرْوَى عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى نَحْوُ هَذَا غَيْرَ شَيْءٍ، كَانَ يَرْوِي الشَّيْءَ مَرَّةً هَكَذَا، وَمَرَّةً هَكَذَا، يُغَيِّرُ الإِسْنَادَ. وَإِنَّمَا جَاءَ هَذَا مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَأَكْثَرُ مَنْ مَضَى مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ كَانُوا لا يَكْتُبُونَ، وَمَنْ كَتَبَ مِنْهُمْ إِنَّمَا كَانَ يَكْتُبُ لَهُمْ بَعْدَ السَّمَاعِ. و سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ يَقُولُ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يَقُولُ ابْنُ أَبِي لَيْلَى لا يُحْتَجُّ بِهِ.

ترجمه : او همدارنګي چاچې په ابن ابي ليلي صغير باندي کلام کړي دي نو هغه يې هم وړباندي دحافظي په اعتبار کړي دي يحي بن سعيد قطان وائي امام شعبه دابن ابي ليلي نه او هغه دخپل ورور عيسي نه او هغه دخپل پلار عبدالرحمن بن ابي ليلي نه او هغه دابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دپرنجي په سلسله کي روايت نقل کړي دي (چې کله په تاسو کي چاته پرنجي راشي پکار ده چې الحمدلله علي کل حال اووائي) يحي وائي بيادابن ابي ليلي سره زما ملاقات اوشو نو هغه دخپل ورور عيسي نه او هغه دخپل پلار عبدالرحمن نه او هغه دعلي رضي الله عنه نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه حديث بيان کړو (يعني دايوب په ځاي يي په سند کي علي رضي الله عنه ذکر کړل).

امام ترمذي وائي دابن ابي ليلي نه دارنګي متعدد څيزونه نقل کيږي يو روايت به هغه يو ځل داسي بيانولو او بل ځل به يي سند بدلولو او دا کار به دهغه دحافظي دکمزورئ په وجه کيدلو ځکه چې په سابقه اهل علمو کي اکثر علماؤ احاديث نه ليکل (بلکه په حافظه به يي اعتماد کولو) او په دوئ کي چې چا ليکل کړي دي دهغوئ احاديث به دسماع نه پس ليکلي کيدل ما داحمد بن الحسن نه اوريدلي دي ونيل يي ما داحمد بن حنبل نه اوريدلي دي فرمائيل يي چې دابن ابي ليلي په احاديثو استدلال کول پکار نه دي.

****

وَكَذَلِكَ مَنْ تَكَلَّمَ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ لَهِيعَةَ وَغَيْرِهِمَا إِنَّمَا تَكَلَّمُوا فِيهِمْ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِمْ، وَكَثْرَةِ خَطَئِهِمْ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُمْ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. فَإِذَا تَفَرَّدَ أَحَدٌ

مِنْ هَؤُلاءِ بِحَدِيثٍ، وَلَمْ يُتَابَعْ عَلَيْهِ لَمْ يُحْتَجَّ بِهِ، كَمَا قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: ابْنُ أَبِي لَيْلَى لا يُحْتَجُّ بِهِ، إِنَّمَا عَنَى إِذَا تَفَرَّدَ بِالشَّيْءِ. وَأَشَدُّ مَا يَكُونُ هَذَا إِذَا لَمْ يَحْفَظِ الإِسْنَادَ؛ فَزَادَ فِي الإِسْنَادِ أَوْ نَقَصَ أَوْ غَيَّرَ الإِسْنَادَ أَوْ جَاءَ بِمَا يَتَغَيَّرُ فِيهِ الْمَعْنَى.

ترجمه : دمجالد بن سعيد او عبدالله بن لهيعه تذکره

او همدا رنګي په اهل علمو کي چي چا په مجالد بن سعيد ، عبدالله بن لهيعه او ددوئ نه په علاوه راويانو کلام کړي دي هغه يې په راويانو ددوئ دحافظي دکمزورئ په وجه او ددوئ په کثرت سره دغلطيانو کولو په وجه کړي دي مګر ددوئ نه متعدد علماؤ روايتونه نقل کړي دي

ابو عمرو مجالد بن سعيد دهمدان اوسيدونکي وو او په کوفه کي يې رهائش اختيار کړي وو کوم چي داعلي درجي راوي دي تلقين دقبول به يې کولو او په اخري عمر کي يې حافظه خرابه شوي وه.

قاضي ابوعبدالرحمن عبدالله بن لهيعه خضرمي دي او مصر ته منصوب دي صديق شميرلي شوي دي مګر په کور يې اور لګيدلي وو او دکتابونو سوزيدو نه پس به يې دحافظي نه روايتونه بيانول او په دې وجه دده په رواياتو کي تسامح موندلي کيږي

****

٩_(باب)

فَأَمَّا مَنْ أَقَامَ الإِسْنَادَ وَحَفِظَهُ وَغَيَّرَ اللَّفْظَ؛ فَإِنَّ هَذَا وَاسِعٌ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ إِذَا لَمْ يَتَغَيَّرِ الْمَعْنَى. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنِ الْعَلاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الأَسْقَعِ قَالَ: إِذَا حَدَّثْنَاكُمْ عَلَى الْمَعْنَى؛ فَحَسْبُكُمْ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ قَالَ: كُنْتُ أَسْمَعُ الْحَدِيثَ مِنْ عَشَرَةٍ؛ اللَّفْظُ مُخْتَلِفٌ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِاللَّهِ الأَنْصَارِيُّ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ قَالَ: كَانَ إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ، وَالْحَسَنُ، وَالشَّعْبِيُّ يَأْتُونَ بِالْحَدِيثِ عَلَى الْمَعَانِي، وَكَانَ الْقَاسِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سِيرِينَ، وَرَجَاءُ بْنُ حَيْوَةَ يُعِيدُونَ الْحَدِيثَ عَلَى حُرُوفِهِ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، قَالَ: قُلْتُ لأَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ: إِنَّكَ تُحَدِّثُنَا بِالْحَدِيثِ، ثُمَّ تُحَدِّثُنَا بِهِ عَلَى غَيْرِ مَا حَدَّثْتَنَا!؟ قَالَ: عَلَيْكَ بِالسَّمَاعِ الأَوَّلِ. حَدَّثَنَا الجارودُ، قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عن الرَّبِيعِ بن صَبِيحٍ، عن الحسنِ قال: إذا

أصبتَ المعنى أجزأكَ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَيْفٍ هُوَ ابْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ: سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يَقُولُ: أَنْقِصْ مِنَ الحَدِيثِ إِنْ شِئْتَ، وَلا تَزِدْ فِيهِ. حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، أَخْبَرَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ رَجُلٍ قَالَ: خَرَجَ إِلَيْنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ فَقَالَ: إِنْ قُلْتُ لَكُمْ: إِنِّي أُحَدِّثُكُمْ كَمَا سَمِعْتُ فَلا تُصَدِّقُونِي، إِنَّمَا هُوَ المَعْنَى. أَخْبَرَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَ: سَمِعْتُ وَكِيعًا يَقُولُ: إِنْ لَمْ يَكُنِ المَعْنَى وَاسِعًا فَقَدْ هَلَكَ النَّاسُ.

ترجمه : پاتې شو هغه څوك څوك چې سند درست بيان كړي او په ښه شان يې محفوظ كړي وي او دحديث الفاظ بدل كړي نو ددې كار داهل علمويه نزد گنجائش شته خو چې په معني كې تبديلي رانشي، دواثله رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يې چې كله يو راوي ستاسو نه بالمعني حديث بيان كړي دا به ستاسو دپاره كافي وي.

دابن سيرين قول دي ما به يو حديث دلسو كسانو نه واوريدو (يعني دډيرو محدثينو نه به مې واوريدو) الفاظ به يې مختلف وو مگر معني به يې يوه وه.

ابن عون وائي ابراهيم نخعي، حسن بصري، او عامر شعبي به روايت بالمعني كولو، او قاسم اوابن سيرين او رجاء بن حيوه به حديث بلفظه بيانولو.

عاصم احول وائي ما ابو عثمان نهدي ته اووئيل ته كله كله ماته يو حديث بيان كړې او بيا بل خل راته دا حديث په نورو الفاظو بيان كړې يعني خپل مخكني الفاظ بدل كړې (نو مونږ په دې كې كوم ياد كړو) ابو عثمان اووئيل تاچې په اول خل كوم الفاظ اوريدلي وي هغه مه هيروه.

دحسن بصري قول دي كله چې تاسو دحديث معني ته ورسيږئ نو ستاسو دپاره دا كافي ده (يعني بعينه الفاظ ياد ساتل ضروري نه دي) دحديث مفهوم په صحيح طور اداء كول كافي دي.

دمجاهد نه روايت دي كه چرې تاسو اوغواړئ نو په حديث كې كمې يعني اختصار كولې شئ مگر اضافه پكې نشې كولې.

ديو كس قول دي چې مونږ ته سفيان ثوري راغي اويې فرمائيل كه چرې زه تاسو ته اووايم چې زه تاسو ته بالكل حديث هغه شان بيانوم څنګه چې مې اوريدلي دي نو تاسو به زما خبره نه منئ څكه چې دا بالمعني وي.

وكيع وائي كه چرې د بالمعني روايت گنجائش نه وي نو يقينا چې خلق به تباه شوي وو يعني تمام احاديث بلفظه ياد ساتل دخلقو دپاره ممكن نه دي.

****

١٠_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا تَفَاضَلَ أَهْلُ الْعِلْمِ بِالْحِفْظِ وَالإِتْقَانِ وَالتَّثَبُّتِ عِنْدَ السَّمَاعِ مَعَ أَنَّهُ لَمْ يَسْلَمْ مِنَ الْخَطَإِ وَالْغَلَطِ كَبِيرُ أَحَدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ مَعَ حِفْظِهِمْ.

ترجمه : امام ترمذي وائي داهل علمو يعني دحديث دراويانو تفاضل يعني په تفاوت د درجاتو دحفظ او اتقان او دحديث اوريدو وخت کې په مضبوط پاتې کيدو سره کيږي (پس هر محدث چې احفظ او اتقن او اثبت وي هغه دټولو نه افضل دي) مگر دا خبره هم ده چې دغلطيدو نه لوي لوي عالمان محفوظ نه دي پاتې شوي او حال دادي چې احاديث ورته ډير مضبوط ياد وو.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ قَالَ: قَالَ لِي إِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ: إِذَا حَدَّثْتَنِي؛ فَحَدِّثْنِي عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ؛ فَإِنَّهُ حَدَّثَنِي مَرَّةً بِحَدِيثٍ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ بَعْدَ ذَلِكَ بِسِنِينَ فَمَا أَخْرَمَ مِنْهُ حَرْفًا.

ترجمه : عماره بن قعقاع وائي دابراهيم نخعي بيان دي کله چې تاسو ماته حديث بيانوئ نو دابوذرعه احاديث بيان کړئ (ځکه چې هغه په باب دحديث کې ډير مضبوط راوي دي) او همدا وجه ده چې هغوئ يو ځل ماته يو حديث بيان کړو بيا ورنه ډير کلونه پس ما ددغه حديث باره کې تپوس اوکړو نو په دي حديث کې يي يو حرف هم کم نکړو يعني چې څنګه يي اول بيان کړي وو بعينه هم هغه شان يي ډير کلونه پس هم محفوظ ساتلي وو.

****

حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ قَالَ: قُلْتُ لإِبْرَاهِيمَ: مَا لِسَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ أَتَمُّ حَدِيثًا مِنْكَ؟ قَالَ: لأَنَّهُ كَانَ يَكْتُبُ.

ترجمه : منصور وائي ما دابراهيم نخعي نه تپوس اوکړو سالم بن ابي الجعد څنګه ستاسو نه کامل احاديث بيانوي ابراهيم نخعي اووئيل ځکه چې هغه به ليکل کول (نو په دي وجه ورسره احاديث بلفظه محفوظ دي او ما به ليکل نه کول صرف يادول به مي نو ځکه زما په الفاظو کې کمي او زياتي راځي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَلاءِ بْنِ عَبْدِ الْجَبَّارِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ: إِنِّي

لأُحَدِّثُ بِالحَدِيثِ فَمَا أَدَعُ مِنْهُ حَرْفًا.

ترجمه : عبدالملك بن عمير وائي زه حديث بیانوم خو په دي کي يو حرف هم نه پريږدم يعني بلفظه يي نقل کوم او ماته دحديث الفاظ ښه ياد دي

****

حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُالرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، قَالَ قَتَادَةُ: مَا سَمِعَتْ أُذُنَايَ شَيْئًا قَطُّ إِلا وَعَاهُ قَلْبِي.

ترجمه : قتاده وائي زما غوږونو هيڅ کله يو څيز نه دي اوريدلي مگر هغه زما زړه محفوظ کړي دي (مگر ددينه معلومه شوه چې قتاده داعلي درجي حافظ وو)

****

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ المَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَنَصَّ لِلْحَدِيثِ مِنَ الزُّهْرِيِّ.

ترجمه : عمرو بن دينار وائي ما دزهري نه احاديثو لره زيات مرفوع کونکي کس بل نه دي ليدلي.

****

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: قَالَ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ: مَا عَلِمْتُ أَحَدًا كَانَ أَعْلَمَ بِحَدِيثِ أَهْلِ المَدِينَةِ بَعْدَ الزُّهْرِيِّ مِنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ.

ترجمه : ايوب سختياني وائي ماته داسي څوك معلوم نه دي چې دزهري نه پس دمديني والا داحاديثو زيات علم لرونکي وي مگر علاوه ديحي بن ابي کثير نه.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ قَالَ: كَانَ ابْنُ عَوْنٍ يُحَدِّثُ فَإِذَا حَدَّثْتُهُ عَنْ أَيُّوبَ بِخِلافِهِ تَرَكَهُ فَأَقُولُ: قَدْ سَمِعْتُهُ؛ فَيَقُولُ: إِنَّ أَيُّوبَ أَعْلَمُنَا بِحَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ.

ترجمه : حماد بن زيد وائي ابن عون (محمد بن سيرين) احاديث بیانول مگر بيا چې کله ما ورته دايوب سختياني په سند ددي په خلاف احاديث بیانول نو هغه به دابن سيرين نه اوريدلي احاديث پريخودل ما ورته اووئيل تا خو پخپله دا حديث دابن سيرين نه اوريدلي دي (نو بيا دي ولي پريخودو او دايوب سختياني حديث دي ولي واخستلو) هغه به راته په جواب کي وئيل

ایوب زمونږ نه زیات دمحمد بن سیرین په احادیثو پوهیدونکي دي، یعني دابن سیرین په شاګردانو کي ایوب ته دهغه احادیث دهر چانه زیات یاد وو.

* * * * * * * * * * * * * * * *

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قُلْتُ لِيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ: أَيُّهُمَا أَثْبَتُ: هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ أَمْ مِسْعَرٌ؟ قَالَ: مَا رَأَيْتُ مِثْلَ مِسْعَرٍ، كَانَ مِسْعَرٌ مِنْ أَثْبَتِ النَّاسِ.

ترجمه: علي مدیني وائي ما دیحي بن سعید القطان نه تپوس اوکړو چي په مسعر او هشام دستوائي کي احادیث چاته ښه یاد وو یحي اوونیل ما دمسعر پشان راوي نه دي لیدلي مسعر ته دتمامو راویانو نه احادیث مضبوط یاد وو.

* * * * * * * * * * * * * * * *

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ: سَمِعْتُ حَمَّادَ بْنَ زَيْدٍ يَقُولُ: مَا خَالَفَنِي شُعْبَةُ فِي شَيْءٍ إِلا تَرَكْتُهُ. قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَحَدَّثَنِي أَبُو الْوَلِيدِ، قَالَ: قَالَ لِي حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ: إِنْ أَرَدْتَ الْحَدِيثَ فَعَلَيْكَ بِشُعْبَةَ. حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: قَالَ شُعْبَةُ: مَا رَوَيْتُ عَنْ رَجُلٍ حَدِيثًا وَاحِدًا إِلا أَتَيْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ مَرَّةٍ، وَالَّذِي رَوَيْتُ عَنْهُ عَشَرَةَ أَحَادِيثَ أَتَيْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ عَشْرِ مِرَارٍ، وَالَّذِي رَوَيْتُ عَنْهُ خَمْسِينَ حَدِيثًا أَتَيْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ خَمْسِينَ مَرَّةً، وَالَّذِي رَوَيْتُ عَنْهُ مِائَةً أَتَيْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ مَرَّةٍ، إِلا حَيَّانَ الْكُوفِيَّ الْبَارِقِيَّ؛ فَإِنِّي سَمِعْتُ مِنْهُ هَذِهِ الأَحَادِيثَ، ثُمَّ عُدْتُ إِلَيْهِ، فَوَجَدْتُهُ قَدْ مَاتَ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي الأَسْوَدِ، حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: سَمِعْتُ سُفْيَانَ يَقُولُ: شُعْبَةُ أَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ فِي الْحَدِيثِ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ يَقُولُ: لَيْسَ أَحَدٌ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ شُعْبَةَ، وَلا يَعْدِلُهُ أَحَدٌ عِنْدِي، وَإِذَا خَالَفَهُ سُفْيَانُ أَخَذْتُ بِقَوْلِ سُفْيَانَ. قَالَ عَلِيٌّ: قُلْتُ لِيَحْيَى: أَيُّهُمَا كَانَ أَحْفَظَ لِلأَحَادِيثِ الطِّوَالِ سُفْيَانُ أَوْ شُعْبَةُ قَالَ: كَانَ شُعْبَةُ أَمَرَّ فِيهَا. قَالَ يَحْيَى: وَكَانَ شُعْبَةُ أَعْلَمَ بِالرِّجَالِ فُلانٌ عَنْ فُلانٍ، وَكَانَ سُفْيَانُ صَاحِبَ أَبْوَابٍ.

ترجمه دحماد بن زید بیان دي هر کله چي به شعبه ماسره په کوم حدیث کي اختلاف اوکړو نو ما به خپل حدیث پریخودلو (ځکه چي شعبه ته دحماد نه احادیث مضبوط یاد وو).

ابو الولید وائي ماته حماد بن سلمه اوونیل که چري داحادیثو یادولو قصد لري نو شعبه مه پریږده یعني دهغه نه یي یاد کړه.

شعبه وائي ما چي دهر چانه احادیث نقل کړي دي زه هغه ته زر پیري ورغلي یم یعني شعبه به

په یو خل ورتلو اکتفاء نه کوله استاذ ته به بار بار ورتلو او هغه حدیث به یې ورنه اوریدلو او دکوم استاذ نه چې ما لس احادیث نقل کړي دي زه هغه ته دلسو پیرو نه زیات ورغلي یم او دکوم استاذ نه چې ما پنځوس احادیث نقل کړي دي زه هغه ته دپنځوسو پیرو نه زیات ورغلي یم او دچا نه چې مي سل احادیث نقل کړي دي زه هغه ته دسلو پیرو نه زیات ورغلي یم. مګر علاوه دحیان بن ایاس کوفي بارقي نه پس ما دهغه نه دا احادیث اوریدلي دي مګر بیا چې کله زه هغه ته دوباره ورغلم نو هغه وفات شوي وو.

سفیان ثوري وائي شعبه امیرالمؤمنین في الحدیث دي یعني دټولو محدثینو پیشوا دي.

یحي بن سعید قطان وائي دشعبه نه مي زیات هیڅوك خوښ نه دي او نه دهغه سره څوك برابریدي شي کله چې سفیان ثوري دهغه په خلاف حدیث نقل کوي نو زه دسفیان قول اخلم ځکه چې هغه زما په نزد اثبت دي.

علي مدیني وائي ما دیحي نه تپوس اوکړو چې اوږده احادیث چاته یاد وو سفیان ته که شعبه ته؟ هغه اووئیل شعبه په دې کې زیات تیریدونکي وو یعني زر زر به یې اورول یحي دا هم اووئیل چې شعبه ته معرفت درجالو هم زیات حاصل وو او درجال نه مراد فلان عن فلان دي یعني په سند ډیر پوهیدونکي وو او سفیان ثوري صاحب الابواب دي یعني ابواب فقهیه او مسائل شرعیه کې ورته معرفت زیات حاصل وو ځکه چې هغه مجتهد هم وو مګر شعبه مجتهد نه وو.

****

حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَالرَّحْمَنِ بْنَ مَهْدِيٍّ يَقُولُ: الأَئِمَّةُ فِي الأَحَادِيثِ أَرْبَعَةٌ: سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَالأَوْزَاعِيُّ، وَحَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ.

ترجمه : ابن مهدي وائي څلور کسان په احادیثو کې امامان دي سفیان ثوري، امام مالك، اوزاعي، حماد بن زید.

****

حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَ سَمِعْتُ وَكِيعًا يَقُولُ: قَالَ شُعْبَةُ: سُفْيَانُ أَحْفَظُ مِنِّي، مَا حَدَّثَنِي سُفْيَانُ عَنْ شَيْخٍ بِشَيْءٍ فَسَأَلْتُهُ إِلا وَجَدْتُهُ كَمَا حَدَّثَنِي.

ترجمه : شعبه وائي سفیان زما نه لوي حافظ حدیث دي، سفیان چې هر کله هم ماته دکوم شیخ نه روایت بیان کړي دي او بیا ما دهغه شیخ نه تپوس کړي دي نو حدیث مي همداسې موندلي دي څنګه چې ماته سفیان بیان کړي وي.

****

سَمِعْت إِسْحَاقَ بْنَ مُوسَى الأَنْصَارِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ مَعْنَ بْنَ عِيسَى الْقَزَّازَ يَقُولُ: كَانَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ يُشَدِّدُ فِي حَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْيَاءِ وَالتَّاءِ وَنَحْوِهِمَا. حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُرَيْمٍ الأَنْصَارِيُّ قَاضِي الْمَدِينَةِ، قَالَ: مَرَّ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَلَى أَبِي حَازِمٍ وَهُوَ جَالِسٌ؛ فَجَازَهُ فَقِيلَ لَهُ: لِمَ لَمْ تَجْلِسْ؟ فَقَالَ: إِنِّي لَمْ أَجِدْ مَوْضِعًا أَجْلِسُ فِيهِ، وَكَرِهْتُ أَنْ آخُذَ حَدِيثَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا قَائِمٌ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: "مَالِكٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ" أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ "سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ". قَالَ يَحْيَى: مَا فِي الْقَوْمِ أَحَدٌ أَصَحُّ حَدِيثًا مِنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، كَانَ مَالِكٌ إِمَامًا فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: دمعن بن عيسى قول دي امام مالك به په احاديثو كي سختي كوله او د "ي" او د "ت" پشان تبديلي به يې هم جائز نه ګڼرله.

دمديني قاضي ابراهيم انصاري وائي امام مالك دابو حازم سلمه بن دينار مدني د درس د مجلس سره تيرشو او هغه ناست وو احاديث يې بيانول امام مالك ورنه ورمخكي تير شو چا ورته ورنه تپوس اوكړو تا احاديث ولې وانوريدل هغه ورته په جواب كي اووئيل دكيناستلو دپاره مي ځاي اونه موندلو او په ولاړه احاديث اوريدل نه خوښوم.

يحي بن سعيد قطان وائي دامام مالك روايت دسعيد بن المسيب نه دسفيان ثوري دهغه روايتونو نه زما زيات خوښ دي كوم چي دابراهيم نخعي نه بيانوي يحي به دا هم وئيل چي په محدثينو كي دامام مالك نه زيات صحيح حديث بيانونكي هيڅوك نشته امام مالك واقعي په علم حديث كي امام وو.

****

سَمِعْت أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ يَقُولُ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ بِعَيْنِي مِثْلَ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ.

ترجمه: امام احمد فرمائي زما ستركو ديحي بن سعيد القطان پشان بل انسان نه دي ليدلي.

****

قَالَ أَحْمَدُ بن الحسن: وَسُئِلَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، عَنْ وَكِيعٍ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ فَقَالَ أَحْمَدُ: وَكِيعٌ أَكْبَرُ فِي الْقَلْبِ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ إِمَامٌ.

سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ عَمْرِو بْنِ نَبْهَانَ بْنِ صَفْوَانَ الثَّقَفِيَّ الْبَصْرِيَّ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ الْمَدِينِيِّ يَقُولُ: لَوْ حُلِّفْتُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ لَحَلَفْتُ أَنِّي لَمْ أَرَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ.

ترجمه دامام احمد بن حنبل نه دوکيع او ابن مهدي باره کي تپوس اوکړي شو نو ويي فرمائيل په زړه کي مي دوکيع مقام لوي دي او عبدالرحمن بن مهدي هم امام دي (دواړه يي برابر کړل او يا يي عبدالرحمن ته ترجيح ورکړه. ﴿
ابن مديني وائي که چري زه دحجر اسود او مقام ابراهيم په مينځ کي اودريږم او قسم خوړل اوغواړم نو په دي خبره قسم خوړلي شم چي ما دابن مهدي نه لوي عالم نه دي ليدلي.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْكَلَامُ فِي هَذَا وَالرِّوَايَةُ عَنْ أَهْلِ الْعِلْمِ تَكْثُرُ. وَإِنَّمَا بَيَّنَّا شَيْئًا مِنْهُ عَلَى الاخْتِصَارِ لِيُسْتَدَلَّ بِهِ عَلَى مَنَازِلِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَتَفَاضُلِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الْحِفْظِ وَالإِتْقَانِ. وَمَنْ تُكُلِّمَ فِيهِ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ لأَيِّ شَيْئٍ تُكُلِّمَ فِيهِ.

ترجمه (حاصل دکلام) گفتگوپه دي سلسله کي يعني داهل علمو په مراتبو کي او داهل علمو نه په دي سلسله کي ډير روايات راغلي دي مونږ دهغي نه يو څو روايتونه په طريقه داختصار بيان کړي دي تردي چي ددي په ذريعه استدلال اوکړي شي داهل علمو مراتب په حفظ او اتقان کي يو دبل نه زيات دي پس په چاچي اهل علمو په دي باره کي کلام کړي دي په هغي غور کول پکار دي چي په څه باره کي يي کلام کړي دي يعني دهغه دقول مقصد صرف دکوم راوي توثيق کول دي او کنه په دي کي دکوم راوي افضليت بيانول يي مقصود دي.

****

١١_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْقِرَاءَةُ عَلَى الْعَالِمِ إِذَا كَانَ يَحْفَظُ مَا يُقْرَأُ عَلَيْهِ أَوْ يُمْسِكُ أَصْلَهُ فِيمَا يُقْرَأُ عَلَيْهِ إِذَا لَمْ يَحْفَظْ هُوَ صَحِيحٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ مِثْلُ السَّمَاعِ.

ترجمه امام ترمذي وائي دعالم (محدث) په وړاندي دلوستلو حيثيت: کله چي هغه ته هغه احاديث ياد وي کوم چي دده په وړاندي لوستلي کيږي او که دا احاديث ورته ياد نه وي خو دده سره دده مخي ته هغه کتاب وي په کوم کي چي دا احاديث ليکلي شوي وي او دمحدثينو په نزد همدا طريقه صحيح ده لکه څنګه چي داستاذ نه د اوريدو درجه ده.

وضاحت: امام ترمذي هم دتحديث په دواړو طريقو کي دتساوي قائل دي، برابره خبره ده چي استاذ قرائت اوکړي او که شاګرد قرائت اوکړي دواړه خبري يوشان دي البته شرط دادي که استاذ ته هغه احاديث زباني ياد نه وي نو بيا پکار ده چي مخي ته يي هغه کتاب پروت وي په کوم کي چي دا احاديث موجود وي چي دده په وړاندي لوستلي کيږي.

****

حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ فَقُلْتُ لَهُ: كَيْفَ أَقُولُ؟ فَقَالَ: قُلْ: "حَدَّثَنَا". حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِي عِصْمَةَ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ: أَنَّ نَفَرًا قَدِمُوا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ بِكِتَابٍ مِنْ كُتُبِهِ فَجَعَلَ يَقْرَأُ عَلَيْهِمْ فَيُقَدِّمُ وَيُؤَخِّرُ فَقَالَ: إِنِّي بَلِهْتُ لِهَذِهِ الْمُصِيبَةِ؛ فَاقْرَءُوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّ إِقْرَارِي بِهِ كَقِرَاءَتِي عَلَيْكُمْ. حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ الْمُعْتَمِرِ قَالَ: إِذَا نَاوَلَ الرَّجُلُ كِتَابَهُ آخَرَ فَقَالَ: ارْوِ هَذَا عَنِّي؛ فَلَهُ أَنْ يَرْوِيَهُ.

ترجمه : ابن جريج وائي ما دعطاء بن ابي رباح په وړاندي احاديث اولوستل او بيا مي ورنه تپوس اوكړو كله چې زه وړاندي بيانوم نو كوم لفظ استعمال كړم عطاء اووئيل حدثنا وئيلو سره حديث بيانوه (ځكه چې دهغه په نزد په حدثنا او اخبرنا كي هيڅ فرق نه وو، دتحديث په دواړو طريقو كي حدثنا او اخبرنا دواړه استعماليدي شي).

عكرمه وائي دطائف بعضي كسان ابن عباس رضي الله عنهما ته دهغه په كتابونو كي يو كتاب راوړو (په يو كتاب كي چا دابن عباس حديثونه جمع كړي وو) او دغه كتاب ددي خلقو لاس ته ورغلي وو دوئ غوښتل چې ابن عباس هغه احاديث دوئ ته واووي ترڅو چې دوئ يې دهغه په سند نقل كړي، چنانچې ابن عباس ددوئ په وړاندي احاديث بيانول شروع كړل مگر دنظر دكمزورئ په وجه يې مخكي او روسته كيدل كول او ويې فرمائيل زه په دي مصيبت كي گير شوي يم (يعني دنظر په كمزورئ كي)، لهذا تاسو راته واوروئ ځكه چې زما په وړاندي ستاسو لوستل او زما په دغه احاديثو اقرار كول ستاسو په وړاندي زما دلوستلو پشان دي (معلومه شوه چې دابن عباس په نزد هم دتحديث دواړه طريقي په يوه مرتبه كي دي).

****

وسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: سَأَلْتُ أَبَا عَاصِمٍ النَّبِيلَ عَنْ حَدِيثٍ فَقَالَ: اقْرَأْ عَلَيَّ، فَأَحْبَبْتُ أَنْ يَقْرَأَ هُوَ فَقَالَ: أَأَنْتَ لا تُجِيزُ الْقِرَاءَةَ، وَقَدْ كَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ يُجِيزَانِ الْقِرَاءَةَ؟!. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ الْجُعْفِيُّ الْمِصْرِيُّ، قَالَ: قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ وَهْبٍ مَا قُلْتُ: "حَدَّثَنَا" فَهُوَ مَا سَمِعْتُ مَعَ النَّاسِ وَمَا قُلْتُ: "حَدَّثَنِي" فَهُوَ مَا سَمِعْتُ وَحْدِي وَمَا قُلْتُ: "أَخْبَرَنَا" فَهُوَ مَا قُرِئَ عَلَى الْعَالِمِ وَأَنَا شَاهِدٌ، وَمَا قُلْتُ: "أَخْبَرَنِي" فَهُوَ مَا قَرَأْتُ عَلَى

الْعَالِمِ يَعْنِي وَأَنَا وَحْدِي. وسَمِعْت أَبَا مُوسَى مُحَمَّدَ بْنَ الْمُثَنَّى يَقُولُ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ، يَقُولُ: "حَدَّثَنَا" وَ"أَخْبَرَنَا" وَاحِدٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُصْعَبٍ الْمَدِينِيِّ فَقُرِئَ عَلَيْهِ بَعْضُ حَدِيثِهِ فَقُلْتُ لَهُ: كَيْفَ نَقُولُ؟ فَقَالَ: قُلْ: حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ.

ترجمه: دامام بخاري نه مي اوريدي دي ونيل يي چې ما ابوعاصم النبيل ته ديو حديث بيانولو درخواست اوکړو نو هغه اوونيل ته يي راته واوروه پس زما دا خبره خوښه وه چې دي يي راته پخپله واوروي نو هغه راته اوونيل ايا ته داستاذ په وړاندي لوستل جائز نه ګڼړي؟ او حال دادي چې سفيان ثوري او امام مالك دواړو داستاذ په وړاندي احاديث لوستل جائز ګڼړل (يعني ددواړو په وړاندي د تحديث دواړه طريقي يو شان وي).

عبدالله بن وهب وائي زه چې کله حدثنا (جمع متكلم صيغه) استعمال کړم نو دا احاديث ما دخلقو سره اوريدلي دي او کله چې زه حدثني (دواحد متكلم صيغه) استعمال کړم نو هغه حديث ما داستاذ نه يواځي اوريدلي وي او کله چې زه اخبرنا استعمال کړم نو هغه حديث دخلقو او زما په موجودګئ کي دمحدث په وړاندي لوستلي شوي وي او کله چې زه اخبرني اووايم نو دغه حديث ما يواځي دمحدث په وړاندي اورولي وي.

يحي بن سعيد القطان وائي حدثنا او اخبرنا دواړه يو شي دي (يعني دتحديث ددواړو طريقو دپاره دا دواړه لفظونه استعماليدي شي).

امام ترمذي وائي مونږ دابو مصعب مديني سره موجود وو دهغه په وړاندي دهغه څه احاديث اولوستلي شول ما ورته اوونيل مونږ به دتحديث په وخت کي کوم لفظ استعمالوو هغه راته اوونيل حدثنا ابو مصعب وايه.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ أَجَازَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الإِجَازَةَ إِذَا أَجَازَ الْعَالِمُ لأَحَدٍ أَنْ يَرْوِيَ عَنْهُ شَيْئًا مِنْ حَدِيثِهِ فَلَهُ أَنْ يَرْوِيَ عَنْهُ.

ترجمه: امام ترمذي وائي بعضي اهل علمو اجازه په هغه وخت کي معتبر ګرځولي ده کله چې محدث چاته اجازه ورکړي چې هغه دده دطرفه دده په احاديثو کي کوم څيز روايت کړي نو دده دپاره جائز دي چې دده په سند يي نقل کړي.

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُدَيْرٍ، عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ قَالَ: كَتَبْتُ كِتَابًا عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، فَقُلْتُ: أَرْوِيهِ عَنْكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ

الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ عَوْفٍ الأَعْرَابِيِّ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلْحَسَنِ: عِنْدِي بَعْضُ حَدِيثِكَ أَرْوِيهِ عَنْكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ إِنَّمَا يُعْرَفُ بِمَحْبُوبِ بْنِ الْحَسَنِ، وَقَدْ حَدَّثَ عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. حَدَّثَنَا الْجَارُودُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ، عَنْ عُبَيْدِاللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: أَتَيْتُ الزُّهْرِيَّ بِكِتَابٍ، فَقُلْتُ له: هَذَا مِنْ حَدِيثِكَ، أَرْوِيهِ عَنْكَ؟ قَالَ: نَعَمْ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِاللَّهِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: جَاءَ ابْنُ جُرَيْجٍ إِلَى هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ بِكِتَابٍ، فَقَالَ: هَذَا حَدِيثُكَ أَرْوِيهِ عَنْكَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ. قَالَ يَحْيَى: فَقُلْتُ فِي نَفْسِي: لاأَدْرِي أَيُّهُمَا أَعْجَبُ أَمْرًا؟. وَقَالَ عَلِيٌّ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ عَنْ حَدِيثِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ؟ فَقَالَ: ضَعِيفٌ، فَقُلْتُ: إِنَّهُ يَقُولُ: "أَخْبَرَنِي"! فَقَالَ: لا شَيْءَ، إِنَّمَا هُوَ كِتَابٌ دَفَعَهُ إِلَيْهِ.

ترجمه : بشير بن نهيك وائي ما دابوهريره رضي الله عنه داحاديثو نه يو كتاب تيار كړو او د ابو هريره نه مي تپوس اوكړو ايا دا زه ستا په سند بيانولي شم؟ هغه راته اووئيل هو.

عوف اعرابي وائي يو كس دحسن بصري نه تپوس اوكړو ما سره ستا څه احاديث دي ايا دا زه ستا دطرفه بيانولي شم؟ هغه راته اووئيل هو.

عبيدالله عمري وائي ما امام ابن شهاب زهري رحمة الله عليه ته يو كتاب وروړو او تپوس مي ورنه اوكړو چې دا ستا داحاديثو يو كتاب دي ايا دا زه ستا په سند بيانولي شم هغه راته اووئيل هو.

يحي بن سعيد القطان وائي يو ځل ابن جريج هشام بن عروه ته يو كتاب پيش كړو او ورته يي اووئيل دا ستا احاديث دي ايا دا زه ستا په سند ذكر كولي شم هغه اووئيل هو.

يحي بن سعيد القطان وائي بيا ما اووئيل ماته معلومه نه ده چې زما په نزد په دواړو خبرو كي كومه يوه زياته بهتره ده، يعني داستاذ په وړاندي حديث ذكر كول او استاذ ته كتاب وركول دواړه يو شان دي او كنه.

علي مديني وائي ما ديحي بن سعيد القطان نه دابن جريرج داحاديثو باره كي تپوس اوكړو كوم چې هغه دعطاء خراساني نه نقل كول نو راته يي اووئيل هغه ضعيف دي پس ما ورته اووئيل ابن جريج په اخبرني لفظ باندي بيانول يحي اووئيل هيڅ خبره نشته دا هم هغه كتاب دي كوم چې عطاء ابن جريج ته وركړي دي (يعني صرف كتاب يي وركړي دي) او دكتاب سره يي دروايت كولو اجازه نه ده وركړي نو په دي وجه ابن جريرج دغه روايتونه معتبر نه دي.

****

١٢_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالحَدِيثُ إِذَا كَانَ مُرْسَلا، فَإِنَّهُ لا يَصِحُّ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الحَدِيثِ،قَدْ ضَعَّفَهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْهُمْ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا بَقِيَّةُ بْنُ الوَلِيدِ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ أَبِي حَكِيمٍ قَالَ: سَمِعَ الزُّهْرِيُّ إِسْحَاقَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي فَرْوَةَ يَقُولُ:"قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَقَالَ الزُّهْرِيُّ: قَاتَلَكَ اللَّهُ يَا ابْنَ أَبِي فَرْوَةَ! تَجِيئُنَا بِأَحَادِيثَ لَيْسَتْ لَهَا خُطُمٌ وَلا أَزِمَّةٌ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِاللَّهِ، قَالَ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: مُرْسَلاتُ مُجَاهِدٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مُرْسَلاتِ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ بِكَثِيرٍ، كَانَ عَطَاءٌ يَأْخُذُ عَنْ كُلِّ ضَرْبٍ. قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ يَحْيَى: مُرْسَلاتُ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ مُرْسَلاتِ عَطَاءٍ. قُلْتُ لِيَحْيَى: مُرْسَلاتُ مُجَاهِدٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ أَمْ مُرْسَلاتُ طَاوُسٍ؟ قَالَ: مَا أَقْرَبَهُمَا. قَالَ عَلِيٌّ: وَسَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ يَقُولُ: مُرْسَلاتُ أَبِي إِسْحَاقَ عِنْدِي شِبْهُ لا شَيْءَ، وَالأَعْمَشِ، وَالتَّيْمِيِّ، وَيَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، وَمُرْسَلاتُ ابْنِ عُيَيْنَةَ شِبْهُ الرِّيحِ، ثُمَّ قَالَ: إِي وَاللَّهِ! وَسُفْيَانُ بْنُ سَعِيدٍ. قُلْتُ لِيَحْيَى: فَمُرْسَلاتُ مَالِكٍ؟ قَالَ: هِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ، ثُمَّ قَالَ يَحْيَى: لَيْسَ فِي القَوْمِ أَحَدٌ أَصَحُّ حَدِيثًا مِنْ مَالِكٍ. حَدَّثَنَا سَوَّارُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ العَنْبَرِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ القَطَّانَ يَقُولُ: مَا قَالَ الحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ:"قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِلا وَجَدْنَا لَهُ أَصْلا إِلا حَدِيثًا أَوْ حَدِيثَيْنِ.

ترجمه : امام ترمذي وائي كله چې كوم حديث مرسل وي (په عامه معني) نو هغه داكثر محدثينو په نزد صحيح نه وي يعني حجت نه وي متعددو محدثينو دا ضعيف ګڼرلي دي.

ابن شهاب زهري داسحاق بن عبدالله نه قال رسول الله قال رسول الله الفاظ واوريدل يعني هغه دصحابي دنوم ذكر كولو نه بغير احاديث نقل كول زهري ورته اووئيل الله تعالي دي تباه كړه اي ابن ابي فروه ته خو مونږ ته داسي احاديث راوړې دكومو چې بالكل واګي او مهارت نشته يحي بن سعيد القطان وائي دمجاهد دمرسل روايتونو نه زما دعطاء مرسل روايتونه زيات خوښ دي خكه چې عطاء دهر قسم خلقو نه روايتونه اخستل.

يحي بن سعيد القطان وائي دسعيد بن جبير مرسل روايتونه دعطاء دمراسيلو نه زما زيات خوښ دي (خكه چې سعيد دثقه راوياتو نه روايتونه اخستل او عطاء به دهر قسم خلقو نه اخستل).

علي مديني واي ما ديحي بن سعيد القطان نه تپوس اوكړو چې ستا مجاهد مراسيل زيات خوښ دي او كه دطاوس؟ هغه اووئيل دواړه ديو بل سره څه قدري مشابهت لري (ما اقرب فعل

تعجب دي يعني ددوارو مرسل روايتونه ديوې درجې دي او مقبول دي، يحي بن سعيد القطان وائي دابواسحاق همداني مرسل روايتونه زما په نزد مشتبه دي او په هيڅ درجه کې نه دي. يعني انتهائي ضعيف دي ګوئ کي ليس بشيء او همدا حال داعمش، تميمي. او يحي بن ابي کثير نه مرسل روايتونه دي او دابن عيينه مراسيل دهوا پشان دي (يعني دا هم ضعيف دي) او بيا يحي اوونيل هو په الله قسم دثوري مرسل روايتونه هم داسې دي.

يو خل علي مديني ديحي بن سعيد القطان نه دامام مالك دمراسيلو په باره کې تپوس اوکړو چې دا څنګه دي؟ يحي بن سعيد القطان اوونيل دا مې ډير خوښ دي او بيا يې اوونيل په قوم کې يعني په محدثينو کې دامام مالك نه زيات درست احاديث بيانونکي هيڅوك نشته.

يحي بن سعيد القطان وائي حسن بصري چې کوم يو حديث قال رسول الله ونيلو سره بيان کړي دي يعني مرسل يې بيان کړي دي نو مونږ دهغې اصل موندلي دي مګر ديو يا دوه حديثونو اصل مونږ نه دي پيدا کړي (وئيلې شوي دي چې حسن بصري رحمه الله دظالم حجاج په زمانه کې دعلي رضي الله عنه نه اوريدلي مرسل روايتونه بيانول، دحجاج دويرې نه يې دعلي رضي الله عنه نوم نه اخستلو).

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمَنْ ضَعَّفَ الْمُرْسَلَ؛ فَإِنَّهُ ضَعَّفَهُ مِنْ قِبَلِ أَنَّ هَؤُلاءِ الأَئِمَّةَ قَدْ حَدَّثُوا عَنِ الثِّقَاتِ وَغَيْرِ الثِّقَاتِ؛ فَإِذَا رَوَى أَحَدُهُمْ حَدِيثًا، وَأَرْسَلَهُ؛ لَعَلَّهُ أَخَذَهُ عَنْ غَيْرِ ثِقَةٍ. قَدْ تَكَلَّمَ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ فِي مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ، ثُمَّ رَوَى عَنْهُ. حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْحُومُ بْنُ عَبْدِالْعَزِيزِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنِي أَبِي وَعَمِّي قَالا: سَمِعْنَا الْحَسَنَ يَقُولُ: إِيَّاكُمْ وَمَعْبَدًا الْجُهَنِيَّ؛ فَإِنَّهُ ضَالٌّ مُضِلٌّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيُرْوَى عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا الْحَارِثُ الأَعْوَرُ، وَكَانَ كَذَّابًا. وَقَدْ حَدَّثَ عَنْهُ، وَأَكْثَرُ الْفَرَائِضِ الَّتِي يَرْوِيهَا عَنْ عَلِيٍّ وَغَيْرِهِ هِيَ عَنْهُ. وَقَدْ قَالَ الشَّعْبِيُّ: الْحَارِثُ الأَعْوَرُ عَلَّمَنِي الْفَرَائِضَ. وَكَانَ مِنْ أَفْرَضِ النَّاسِ. قَالَ: و سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ بَشَّارٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَالرَّحْمَنِ بْنَ مَهْدِيٍّ يَقُولُ: أَلا تَعْجَبُونَ مِنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ؟! لَقَدْ تَرَكْتُ لِجَابِرٍ الْجُعْفِيِّ بِقَوْلِهِ، لَمَّا حَكَى عَنْهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفِ حَدِيثٍ، ثُمَّ هُوَ يُحَدِّثُ عَنْهُ. قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: وَتَرَكَ عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ حَدِيثَ جَابِرٍ الْجُعْفِيِّ.

ترجمه امام ترمذي وائي کومو علماؤ چې مرسل احاديث ضعيف ګڼرلي دي هغوئ دا روايات په دې وجه ضعيف ګڼرلي دي چې دې عالمانو به دثقه او غير ثقه هر قسم خلقو نه احاديث قبلول او بيانول به يې پس هر کله چې په دوئ کې کوم کس کوم حديث نقل کړي او

مرسل يي ذکر کړي يعني دمروي عنه نوم وانخلي نو په دي صورت کي ددي خبري احتمال دي چې شايد دي کس دا روايت به دکوم غير معتبر نه اخستلي وي (او ددي دليل لاندينې روايتونه دي).

حسن بصري په معبد الجهني کلام کړي دي او بيا يي ورنه روايت هم نقل کړي دي (معبد بن خالد جهني قدري يعني دتقدير نه منکر وو) حسن بصري وائي دمعبد جهني نه ځان اوساتئ. هغه گمراه او گمراه کونکي دي (ددي تنقيد باوجود حسن بصري دهغه نه اخذ دروايت هم کړي دي معلومه شوه چې لويو اهل علمو هم دهر قسم خلقو نه نقل دروايت کولو).

عامر شعبي نه مروي دي فرمائيل يي مونږ ته حارث اعور حديث بيان کړو هغه ډير لوي دروغژن وو (امام عامر بن شراحيل شعبي يو لوي امام دي او دکوفي مجتهد دي چې دابراهيم نخعي سره يي ډغره وهله او حارث بن عبدالله همداني دکوفي اوسيدونکي او لقب يي اعور وو) دعلي رضي الله عنه شاگرد دي په هغه باندي عامرشعبي تنقيد هم کړي دي او په همدي حال کي يي ورنه احاديث هم اخستلي دي معلومه شوه چې لوي اهل علمو به دضعيف راويانو نه هم احاديث نقل کول.

شعبي دحارث اعور نه احاديث نقل کړي دي او دميراث اکثر احکام چې تاسو يي دعلي رضي الله عنه د رواياتو کي وينئ هغه ټول دحارث اعور نه مروي دي او شعبي به پخپله وئيل چې حارث اعور ماته دميراث مسائل خودلي دي او احادث اعور په دي فن کي دټولو نه زيات ماهر وو.

ابن مهدي وائي ايا تاسو دسفيان بن عيينه په دي طريقه حيرانتيا نه کوئ په الله قسم دهغه دخبري په وجه چې کله هغه داخبره دجابر نه نقل کړه نو ما دزرو نه زيات احاديث دجابر پريخودل (ابن عيينه مهدي ته وئيلي وو جابر جعفي درجعت دعقيدي قائل دي يعني دعلي رضي الله عنه د دوباره ژوندي کيدو) مگر بيا به هغه پخپله دجابر نه احاديث نقل کول. محمد بن بشار وائي ابن مهدي دجابر جعفي نه روايت کول ترک کړي وو مگر ابن عيينه به ورنه نقل دروايت کولو معلومه شوه چې لويو اهل علمو هم بغير ثقه راويانو نه روايت نقل کولو پس په همدي وجه مرسل روايتونه مطلقا حجت نه دي.

****

١٣_(باب)

وَقَدِ احْتَجَّ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالْمُرْسَلِ أَيْضًا. حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ ابْنُ أَبِي السَّفَرِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ الأَعْمَشِ قَالَ: قُلْتُ لإِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ: أَسْنِدْ لِي عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ

مَسْعُودٍ؛ فَقَالَ إِبْرَاهِيمُ: إِذَا حَدَّثْتُكَ "عَنْ رَجُلٍ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ"؛ فَهُوَ الَّذِي سَمَّيْتُ. وَإِذَا قُلْتُ. "قَالَ عَبْدُاللّٰهِ": فَهُوَ عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ.

ترجمه: او بعضي اهل علمو (دمسند پشان) په مرسل روايتونو هم استدلال كړي دي سليمان اعمش وائي ابراهيم نخعي ته مي عرض اوكړو ته چې ماته دابن مسعود روايتونه بيانوي دهغي سند راته بيان كړه (يعني تا دا روايتونه دچا نه اوريدلي دي څكه چې ستا ملاقات دابن مسعود سره نه دي شوي) ابراهيم نخعي اوونيل زه چې كله دخلقو په وړاندي دچا نوم واخلم او دابن مسعود نه روايت بيان كړم نو دا روايت ماد همدغه كس نه اوريدلي وي دچا چې مي نوم اخستلي وي او كله چې زه قال عبدالله اووايم يعني په مينځ كي واسطه ذكر نكړم نو هغه روايت ما دعبدالله بن مسعود د ډيرو شاګردانو نه اوريدلي وي (معلومه شوه نخعي چې دابن مسعود احاديث بيان كړي دي او په مينځ كي يي واسطه پريخودلي وي هغه مرسل روايتونه حجت دي څكه چې نخعي دپوخ ثبوت نه پس اكثر ارسال كولو.

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ اخْتَلَفَ الأَئِمَّةُ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَضْعِيفِ الرِّجَالِ كَمَا اخْتَلَفُوا فِي سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْعِلْمِ. ذُكِرَ عَنْ شُعْبَةَ أَنَّهُ ضَعَّفَ أَبَا الزُّبَيْرِ الْمَكِّيَّ، وَعَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَحَكِيمَ بْنَ جُبَيْرٍ. وَتَرَكَ الرِّوَايَةَ عَنْهُمْ. ثُمَّ حَدَّثَ شُعْبَةُ عَمَّنْ هُوَ دُونَ هَؤُلَاءِ فِي الْحِفْظِ وَالْعَدَالَةِ. حَدَّثَ عَنْ جَابِرٍ الْجُعْفِيِّ، وَإِبْرَاهِيمَ بْنِ مُسْلِمٍ الْهَجَرِيِّ، وَمُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِاللّٰهِ الْعَرْزَمِيِّ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِمَّنْ يُضَعَّفُونَ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: امام ترمذي وايي دراويانو دتضعيف باره كي هم په اكابرو اهل علمو كي اختلاف دي څنګه چې ددوئ په مينځ كي په نورو مسائلو كي اختلاف موندلي كيږي، دامام شعبه نه دا خبره منقول ده چې هغوئ دابو الزبير مكي او عبدالملك بن ابي سليمان او حكيم بن جبير تضعيف كړي دي او ددوئ نه يي روايت نقل كول بند كړي دي شعبه دهغه راويانو نه روايتونه بيان كړي دي څوك چې ددوئ نه په حفظ او عدالت كي بالاتر وو، دجابر جعفي نه او دابراهيم هجري نه او دمحمد عرزمي نه او دډيرو داسي راويانو نه څوك چې باب دحديث كي ضعيف ګڼړلي شوي دي روايت كول بند كړي دي (او ددوئ نه روايت كول داسي دي لكه چې څوك دباران نه اوتختي او دناوي لاندي اودريږي)

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ نَبْهَانَ بْنِ صَفْوَانَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ خَالِدٍ، قَالَ: قُلْتُ لِشُعْبَةَ:

تَدَعُ عَبْدَ الْمَلِكِ بْنَ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَتُحَدِّثُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ الْعَرْزَمِيِّ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ كَانَ شُعْبَةُ حَدَّثَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، ثُمَّ تَرَكَهُ، وَيُقَالُ: إِنَّمَا تَرَكَهُ لَمَّا تَفَرَّدَ بِالْحَدِيثِ الَّذِي رَوَى عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الرَّجُلُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ يُنْتَظَرُ بِهِ وَإِنْ كَانَ غَائِبًا إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا". وَقَدْ ثَبَّتَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ، وَحَدَّثُوا عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ وَعَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَحَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ.

ترجمه : اميه بن خالد وائي شعبه ته مې اووئيل ته عبدالملك بن ابي سليمان پرېږدې او دمحمد بن عبيدالله عرزمي نه روايت نقل کوې؟ هغه اووئيل هو په تهذيب التهذيب کې دا روايت داسې دې اميه وائي شعبه ته مې اووئيل څه خبره ده چې ته دعبدالملك نه روايت نه کوې او حال دادې چې دهغه روايتونه ښه دې شعبه اووئيل ددې ښه والي نه زه تختم.

امام ترمذي وائي شعبه اول دعبدالملك بن ابي سليمان نه روايتونه نقل کول مګر بيا يې روسته ورنه روايت نقل کول پرېښودل، او وئيلې کيږي چې شعبه دهغه هغه حديث پرېږدې کوم چې دې يواځې نقل کوې دعطاء بن ابي رباح نه او هغه دجابر بن عبدالله نه او هغه دنبي کريم صلى الله عليه وسلم نه چې بنده دخپلې شفعې زيات حقدار دې او په دې سلسله کې به انتظار کولې شي اګر که هغه غائب وي مګر چې ددوئ دواړو لاره يوه وي

، دا حديث ترمذي والا په همدې سند ذکر کړې دې او ددې حديث په وجه امام شعبه په عبدالملك جرح کړې ده او حال دادې چې هغه دمحدثينو په نزد ثقه او قابل داعتماد دې او ددې حديث په وجه دشعبه نه علاوه هيڅا په عبدالملك جرح نه ده کړې مګر سفيان ثوري وائي عبدالملك کوته دې يعني دده په ذريعه په صحيح او سقيم کې امتياز کيږي.

امام ترمذي وائي متعددو اهل علمو عبدالملك قوي ګرځولې دې او هغوئ به دابو الزبير او عبدالملك او حکيم بن جبير نه احاديث نقل کول.

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، وَابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: كُنَّا إِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ تَذَاكَرْنَا حَدِيثَهُ، وَكَانَ أَبُو الزُّبَيْرِ أَحْفَظَنَا لِلْحَدِيثِ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ أَبِي عُمَرَ الْمَكِّيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ: كَانَ عَطَاءٌ يُقَدِّمُنِي إِلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَحْفَظُ لَهُمُ الْحَدِيثَ.

ترجمه : عطاء بن ابي رباح وائي کله چې به مونږ داحاديثو لوستلو نه پس دجابر بن عبدالله دخوا نه روان شو نو مونږ به پخپل مينځ کې ددې مذاکره کوله او په مونږ کې ابو الزبير

داحاديثو زيات يادونكي وو (معلومه شوه چې ابوالزبير صرف حافظ حديث نه دي بلكه دجابر داحاديثو دنورو خلقو په نسبت زيات يادونكي دي)

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ: سَمِعْتُ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيَّ يَقُولُ: حَدَّثَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، وَأَبُو الزُّبَيْرِ، وَأَبُو الزُّبَيْرِ. قَالَ سُفْيَانُ بِيَدِهِ يَقْبِضُهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: إِنَّمَا يَعْنِي بِذَلِكَ الإِتْقَانَ وَالحِفْظَ. وَيُرْوَى عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ قَالَ: كَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ يَقُولُ: كَانَ عَبْدُالْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ مِيزَانًا فِي العِلْمِ.

ترجمه : ابو الزبير وائي عطاء بن ابي رباح به زه دجابر رضي الله عنه په مجلس كي مخكي كولم تردي چې زه دده دپاره احاديث ياد كړم.

ايوب سختياني به وئيل "حدثني ابوالزبير وابو الزبير وابو الزبير" يعني سفيان بن عيينه به خپل لاسونه بند كړل او اشاره به يي اوكړه، امام ترمذي وائي دايو سختياني مراد حفظ او اتقان وو (يعني دلاس په بندولو به يي دهغه دحافظي قوت ته اشاره كوله)

دابن مبارك نه مروي دي سفيان ثوري به فرمائيل عبدالملك بن ابي سليمان دعلم تله وه (غرض دا چې ابو الزبير داعلي درجي ثقه راوي دي) او په دده باندي دشعبه جرح معتبر نه ده)

****

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِاللَّهِ قَالَ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ فَقَالَ: تَرَكَهُ شُعْبَةُ مِنْ أَجْلِ الْحَدِيثِ الَّذِي رَوَاهُ فِي الصَّدَقَةِ يَعْنِي حَدِيثَ عَبْدِاللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ كَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُمُوشًا فِي وَجْهِهِ. قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا يُغْنِيهِ؟ قَالَ: "خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ".

ترجمه علي مديني د يحي بن سعيد القطان نه دحكيم بن جبير باره كي تپوس اوكړو هغه اووئيل حكيم لره شعبه دهغه حديث په وجه پريخودلي دي كوم چې هغه دصدقي په سلسله كي نقل كړي دي. يعني دابن مسعود رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا روايت نقل كړي دي چې څوك دخلقو نه سوال كوي او حال دادي چې دده سره دومره مال موجود وي چې دده ورباندي گذاره كيږي دي به دقيامت په ورځ په داسي حال كي راشي چې په مخ به يي دخلقو توكلي پراته وي چا سوال اوكړو اي دالله رسوله په څومره مقدار كي مال انسان لره دسوال نه بي حاجته كوي رسول الله اوفرمائيل پنځوس درهمه يا ددي په مقدار سره زر.

****

قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ يَحْيَى: وَقَدْ حَدَّثَ عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَزَائِدَةُ.

قَالَ عَلِيٌّ: وَلَمْ يَرَ يَحْيَى بِحَدِيثِهِ بَأْسًا. حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ. عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ بِحَدِيثِ الصَّدَقَةِ. قَالَ يَحْيَى بْنُ آدَمَ: قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ عُثْمَانَ صَاحِبُ شُعْبَةَ لِسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ: لَوْ غَيْرُ حَكِيمٍ حَدَّثَ بِهَذَا؟ فَقَالَ لَهُ سُفْيَانُ: وَمَا لِحَكِيمٍ لا يُحَدِّثُ عَنْهُ شُعْبَةُ؟ قَالَ: نَعَمْ. فَقَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: سَمِعْتُ زُبَيْدًا يُحَدِّثُ بِهَذَا عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ.

ترجمه : يحي بن سعيد القطان وائي دحكيم بن جبير نه سفيان ثوري او زائده روايت نقل كوي. علي مديني وائي.يحي بن سعيد قطان هم ددوئ په حديث باندي هيڅ قسم جرح نه كوله.

يو ځل سفيان ثوري دحكيم بن جبير په سند دصدقي حديث بيان كړو نو دامام شعبه شاګرد عبدالله بن عثمان سفيان ثوري ته اووئيل كاش چي دحكيم نه علاوه بل چا دا حديث بيان كړي وي. سفيان ثوري ورته اووئيل په حكيم كي څه خبره ده؟ ايا دده نه شعبه روايت نه نقل كولو؟ عبدالله بن عثمان اووئيل يعني زما استاذ به دده نه نقل درروايت نه كولو سفيان ثوري اووئيل ما د زبيد نه دمحمد بن عبدالرحمن بن يزيد په واسطه دا حديث اوريدلي دي (يعني د حكيم نه علاوه زبيد هم دا حديث نقل كوي).

****

١٤_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَمَا ذَكَرْنَا فِي هَذَا الْكِتَابِ "حَدِيثٌ حَسَنٌ"، فَإِنَّمَا أَرَدْنَا بِهِ حُسْنَ إِسْنَادِهِ عِنْدَنَا. كُلُّ حَدِيثٍ يُرْوَى لا يَكُونُ فِي إِسْنَادِهِ مَنْ يُتَّهَمُ بِالْكَذِبِ، وَلا يَكُونُ الْحَدِيثُ شَاذًّا، وَيُرْوَى مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ نَحْوَ ذَاكَ، فَهُوَ عِنْدَنَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه : امام ترمذي وائي هر چرته چي مونږ په دي كتاب كي حديث حسن وئيلي دي هلته زمونږ په نزد دسند دبهترئ بيانولو اراده كول وي (او دا زمونږ اصطلاح ده)، هر حديث چي نقل كيږي چي په سند كي يي داسي راوي نه وي په كوم چي د دروغو الزام لګيدلي وي او نه دغه حديث شاذ وي او ديو نه په زياتو سندونو نقل كيږي داسي حديث زمونږ په نزد حسن دي.

****

١٥_(باب)

وَمَا ذَكَرْنَا فِي هَذَا الْكِتَابِ "حَدِيثٌ غَرِيبٌ" فَإِنَّ أَهْلَ الْحَدِيثِ يَسْتَغْرِبُونَ الْحَدِيثَ لِمَعَانٍ: ١ رُبَّ حَدِيثٍ يَكُونُ غَرِيبًا لا يُرْوَى إِلا مِنْ وَجْهٍ وَاحِدٍ مِثْلُ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ أَبِي الْعُشَرَاءِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ! أَمَا تَكُونُ الذَّكَاةُ إِلا فِي الْحَلْقِ وَاللَّبَّةِ؟ فَقَالَ: "لَوْ طَعَنْتَ فِي فَخِذِهَا أَجْزَأَ عَنْكَ". فَهَذَا حَدِيثٌ تَفَرَّدَ بِهِ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الْعُشَرَاءِ، وَلا يُعْرَفُ لأَبِي الْعُشَرَاءِ، عَنْ أَبِيهِ إِلا هَذَا الْحَدِيثُ، وَإِنْ كَانَ هَذَا الْحَدِيثُ مَشْهُورًا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَإِنَّمَا اشْتُهِرَ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، لا نَعْرِفُهُ إِلا مِنْ حَدِيثِهِ. ٢وَرُبَّ رَجُلٍ مِنَ الأَئِمَّةِ يُحَدِّثُ بِالْحَدِيثِ لا يُعْرَفُ إِلا مِنْ حَدِيثِهِ، فَيَشْتَهِرُ الْحَدِيثُ لِكَثْرَةِ مَنْ رَوَى عَنْهُ مِثْلُ مَا رَوَى عَبْدُ اللهِ بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَلاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ". وَهَذَا حَدِيثٌ لا نَعْرِفُهُ إِلا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِاللهِ بْنِ دِينَارٍ، رَوَاهُ عَنْهُ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، وَشُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. وَرَوَى يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عُبَيْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ؛ فَوَهِمَ فِيهِ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، وَالصَّحِيحُ هُوَ "عَنْ عُبَيْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ". هَكَذَا رَوَى عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، وَعَبْدُاللهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَرَوَى الْمُؤَمَّلُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شُعْبَةَ فَقَالَ شُعْبَةُ: لَوَدِدْتُ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ دِينَارٍ أَذِنَ لِي حَتَّى كُنْتُ أَقُومُ إِلَيْهِ فَأُقَبِّلُ رَأْسَهُ.

ترجمه امام ترمذي وائي په هر ځاي کي چې مونږ په دي کتاب حديث غريب ونيلي دي هلته په دي پوهيدل پکار دي چې محدثين دا حديث ديو څو وجوهاتو په بنا اجنبي ګڼري.

(١) بعضي احاديث غريب وي په دي وجه چې هغه صرف په يو سند مروي وي لکه دحماد بن سلمه حديث دابو العشراء نه حماد دخپل پلار نه روايت کوي فرمائيل يي چې ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا ذبح کول دمرئ او دسيني په مينځ کي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چري ته خاروي په ورون کي په نيزه اوولي نو دا به ستادطرفه کافي وي (په ذبح اضطراري کي دا کافي دي. داحديث په ترمذي کي په ابواب الصيف بأب الذكواة في الحلق واللبة کي وارد دي) دا يو داسي حديث دي په کوم چې حماد بن سلمه متفرد دي هغه دابوالعشراء نه روايت کوي او ابوالعشراء دده دپلار نه او هغه نه ددي حديث نه علاوه په دي سند کوم بل حديث معروف نه دي اګر چې دا حديث دمحدثينو په نزد مشهور شوي دي مګر دحماد په حديث مشهور شوي دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو پس دا حديث دخپلي ابتدائي حصي په اعتبار غريب دي اګر چې بيا روسته مشهور شوي دي.

(که چرې حديث په ابتدائي حصه کې غريب وي او په وړاندې تلو سره مشهور شي دهغې مثال دادې) يعنې په اکابرينو کې څوك يو روايت بيانوي کوم چې دهغه په سند پيژندلې کيږي او بيا حديث مشهور شي ځکه چې ددې لوې کس نه روايت کونکې ډير دې لکه هغه روايت کوم چې عبدالله بن دينار دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه کړې دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دولاء دخرڅولو او بخلو نه منع فرمائيلې ده (ترمذي په ابواب البيوع باب کراهية بيع الولاء وهبته) او دا يو داسې حديث دې کوم چې دعبدالله بن دينار په حديث پيژندلې کيږي دا حديث دده نه عبيدالله عمري، شعبه، ثوري، امام مالك، او ابن عيينه وغيره محدثينو نقل کړې دې (يعنې دعبدالله بن دينار نه پس مشهور شوې دې.

(ددينه پس امام ترمذي ديو سوال مقدره جواب ذکر کړې دې او هغه دادې چې يو کس اووائي دې حديث ته دعبدالله بن دينار دمتفرد کيدو په وجه غريب وئيل صحيح نه دي ځکه چې دا حديث دابن عمر رضي الله عنهما نه نافع هم نقل کړې دې ددې جواب دادې) يحي بن سليم دا حديث دعبيدالله عمري نه او هغه دنافع نه او هغه دابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړې دې، په دې کې يحي بن سليم غلطي کړې ده ددې صحيح سند دادې عن عبيدالله بن عمر، عن عبدالله بن دينار، عن ابن عمر، دا رنګې عبدالوهاب ثقفي او عبدالله بن نمير دعبيدالله عمري نه او هغه دعبدالله بن دينار نه او هغه دابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړې دې (او امام نسائي يحي بن سليم طائفي لره دعبيدالله عمري په حديثونو کې انتهائي ضعيف ګڼلې دې او په دې وجه دده سند لره اعتبار نشته.

(او دا حديث دابن عمر نه صرف عبدالله بن دينار نقل کړې دې او ددې دليل دادې) مومل داحديث دشعبه نه نقل کړې دې او دشعبه قول دادې زما دا خواهش وو چې عبدالله بن دينار راته اجازت راکړې وې چې زه ورته ورتللې او دهغه سر مې ښکل کړې وې (يعنې شعبه په دې حديث ډير خوشحاله شو ځکه چې داحديث دهغه په روايت مشهور شوې دې او دده نه علاوه بل چا نه دې نقل کړې).

****

١٦_(باب)

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرُبَّ حَدِيثٍ إِنَّمَا يُسْتَغْرَبُ لِزِيَادَةٍ تَكُونُ فِي الحَدِيثِ. وَإِنَّمَا يَصِحُّ إِذَا كَانَتِ الزِّيَادَةُ مِمَّنْ يُعْتَمَدُ عَلَى حِفْظِهِ مِثْلُ مَا رَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: "فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى مِنَ المُسْلِمِينَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ". قَالَ: وَزَادَ مَالِكٌ فِي هَذَا الحَدِيثِ "مِنَ المُسْلِمِينَ". وَرَوَى أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ،

وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ: "مِنَ المُسْلِمِينَ". وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ نَافِعٍ مِثْلَ رِوَايَةِ مَالِكٍ مِمَّنْ لا يُعْتَمَدُ عَلَى حِفْظِهِ. وَقَدْ أَخَذَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ بِحَدِيثِ مَالِكٍ، وَاحْتَجُّوا بِهِ، مِنْهُمْ: الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ قَالا: إِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ عَبِيدٌ غَيْرُ مُسْلِمِينَ لَمْ يُؤَدِّ عَنْهُمْ صَدَقَةَ الفِطْرِ، وَاحْتَجَّا بِحَدِيثِ مَالِكٍ. فَإِذَا زَادَ حَافِظٌ مِمَّنْ يُعْتَمَدُ عَلَى حِفْظِهِ قُبِلَ ذَلِكَ عَنْهُ.

ترجمه : او بعضي حديث صرف دهغه زيادت په وجه اجنبي ګڼړلي کيږي کوم زيادت چې په دغه حديث کي موجود وي او مذکوره حديث به په دغه صورت کي صحيح وي خو چې زيادت داسي راوي کړي وي دکوم په حفظ او اتقان چې اعتماد کولي شي (او که دراوي ياداشت قابل داعتماد نه وي نو زيادت والا روايت به ضعيف شميرلي کيږي) لکه هغه روايت کوم چې امام مالك دنافع نه کړي دي او هغه دابن عمر نه چې فرمائيل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم درمضان دروژو ختميدو صدقه مقرر کړه په هر ازاد او غلام مذکر او مؤنث باندي چې مسلمان وي يو صاع دکجورو يا يو صاع دوربشو، امام ترمذي وائي امام مالك په دي کي من المسلمين اضافه کړي ده، ايوب سختياني او عبيدالله عمري او ددوئ نه علاوه متعددو لويو اهل علمو دا حديث دنافع نه نقل کړي دي او هغه دابن عمر نه او هغوئ ټول په دي حديث کي د من المسلمين جملي اضافه نه ده نقل کړي.

(که څوك اووائي امام مالك دمذکوره زيادت په نقل کولو کي متفرد نه دي نورو راويانو يي متابعت کړي دي هغوئ هم من المسلمين اضافه نقل کوي امام ترمذي ددينه دا جواب کوي) او بعضي راويان دنافع نه دامام مالك دروايت پشان روايت نقل کوي مګر مذکوره راويان دهغه خلقو دجملي نه دي دچا په حفظ او ياداشت چې اعتماد نشي کيدي.

(مذاهب دفقهاؤ) په مجتهدينو اهل علمو کي ډيرو کسانو دامام مالك حديث اخستلي دي او استدلال يي ورباندي کړي دي چې يو په دوئ کي امام شافعي او امام احمد هم دي دوئ دواړه وائي کله چې ديو کس په ملکيت کي غير مسلم غلام وي دي به دهغه دطرفه صدقة الفطر نه اداء کوي او دواړو دامام مالك په حديث استدلال کړي دي، غرض دا چې کله چې اضافه يو داسي حافظ حديث کړي وي دچا په ياداشت چې اعتماد دا اضافه به دده دطرف نه قبوله وي.

****

وَرُبَّ حَدِيثٍ يُرْوَى مِنْ أَوْجُهٍ كَثِيرَةٍ، وَإِنَّمَا يُسْتَغْرَبُ لِحَالِ الإِسْنَادِ. حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَأَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، وَأَبُو السَّائِبِ، وَالحُسَيْنُ بْنُ الأَسْوَدِ قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ

أَمْعَاءٍ، وَالْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ. وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَإِنَّمَا يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُوسَى. سَأَلْتُ مَحْمُودَ بْنَ غَيْلَانَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ؟ فَقَالَ: هَذَا حَدِيثُ أَبِي كُرَيْبٍ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ. وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ؟ فَقَالَ: هَذَا حَدِيثُ أَبِي كُرَيْبٍ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ. لَمْ نَعْرِفْهُ إِلا مِنْ حَدِيثِ أَبِي كُرَيْبٍ. عَنْ أَبِي أُسَامَةَ. فَقُلْتُ لَهُ: حَدَّثَنَا غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ بِهَذَا، فَجَعَلَ يَتَعَجَّبُ. وَقَالَ: مَا عَلِمْتُ أَنَّ أَحَدًا حَدَّثَ بِهَذَا غَيْرَ أَبِي كُرَيْبٍ. و قَالَ مُحَمَّدٌ: كُنَّا نَرَى أَنَّ أَبَا كُرَيْبٍ أَخَذَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي أُسَامَةَ فِي الْمُذَا كَرَةِ.

ترجمه : كله كله يو حديث په ډيرو سندونو نقل كيږي او دغه حديث دكوم سند دخاص حالت په وجه اجنبي ګڼړلي كيږي لكه دا ارشاد نبوي چې كافر په اوه كلمو كې خوري او مومن په يوه كولمه كې خوري (يعني كافر په خوراك كې حرص كوي او مومن قناعت اختياروي) ددي هيڅ كله دا مطلب نه دي چې دكافر په خيټه كې كولمې زياتې وي).

امام ترمذي وائي داحديث په دي سند غريب دي دسند په لحاظ په داسي حال كې چې دا حديث په متعددو سندونو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي مګر دابو موسي اشعري رضي الله عنه په روايت غريب او اجنبي ګڼړلي كيږي (داحديث په صحابه كرامو كې دابن عمر، ابوهريره، ابوسعيد خدري، ابو بصره غفاري، جهجاه غفاري، ميمونه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه مروي دي مګر دابو موسي په روايت سره غريب دي ځكه چې ددي صرف همدا يو سند دي كوم چې پورته ذكر شو.

امام ترمذي وائي ما دمحمود بن غيلان نه ددي حديث باره كې تپوس اوكړو چې ايا ددي حديث كوم بل سند شته هغه اوونيل ابوكريب دابواسامه نه روايت نقل كوي (يعني ددي كوم بل سند نشته) او ما دامام بخاري نه ددي حديث باره كې تپوس اوكړو چې ايا ددي كوم بل سند شته نو هغه اوونيل دا دابوكريب حديث دي دابو اسامه نه او مونږ يي صرف دابو كريب عن ابي اسامه په سند پيژنو.

امام ترمذي وائي ما امام بخاري ته اوونيل مونږ ته متعددو راويانو دابو اسامه نه دا حديث بيان كړي دي (يعني صرف ابو كريب يي نه نقل كوي پس امام بخاري حيران شو او وېي فرمائيل څومره پوري چې ماته معلومه ده چې دا حديث دابو كريب نه علاوه بل څوك نه نقل كوي او امام بخاري دا هم اوونيل زما خيال دادي چې ابو كريب دا حديث دابو اسامه نه په مذاكره كې اخستلي دي (يعني باقاعده دسبق په طور يي نه دي اخستلي).

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الدُّبَّاءِ وَالْمُزَفَّتِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، لا نَعْلَمُ أَحَدًا حَدَّثَ بِهِ عَنْ شُعْبَةَ غَيْرَ شَبَابَةَ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَوْجُهٍ كَثِيرَةٍ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُنْتَبَذَ فِي الدُّبَّاءِ، وَالْمُزَفَّتِ وَحَدِيثُ شَبَابَةَ إِنَّمَا يُسْتَغْرَبُ لأَنَّهُ تَفَرَّدَ بِهِ عَنْ شُعْبَةَ. وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ بِهَذَا الإِسْنَادِ عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ عَنْ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "الْحَجُّ عَرَفَةُ" فَهَذَا الْحَدِيثُ الْمَعْرُوفُ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِهَذَا الإِسْنَادِ.

ترجمه: دشبابه بيان دي مونږ ته بكير د شعبه نه حديث بيان كړو چې دعبدالرحمن بن يعمر نه يې روايت كولو چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم په كدو او روغني منګي كې دنبيذ دجوړولو نه ممانعت فرمائيلي دي (ترمذي: ابواب الاشربه باب كراهية ان ينتبذ في الدباء والمزفت). امام ترمذي وائي داحديث داسناد دجانبه غريب دي او زمونږ دعلم مطابق دا حديث دشبابه نه علاوه بل چا دشعبه نه نه دي نقل كړي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په ډيرو سندونو مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په كدو كې او په مرغن منګي كې دنبيذ جوړولو نه ممانعت فرمائيلي دي (يعني دا مضمون غريب دي) او دشبابه حديث صرف په دې وجه غريب ګڼړلي شوي دي چې دي ددې په نقل كولو كې متفرد دي.

او شعبه او سفيان ثوري دا حديث په دې سند يعني عن بكير، عن عبدالرحمن، عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل حج عرفه ده (يعني په حج كې دټولو نه اهم ترين ركن دعرفې وقوف دي) پس دا معروف حديث په دې سند دمحدثينو په نزد زيات صحيح دي (او د دباء او مزفت دممانعت والا روايت غريب دي)

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو مُزَاحِمٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَصَلَّى عَلَيْهَا، فَلَهُ قِيرَاطٌ. وَمَنْ تَبِعَهَا حَتَّى يُقْضَى قَضَاؤُهَا، فَلَهُ قِيرَاطَانِ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْقِيرَاطَانِ؟ قَالَ: "أَصْغَرُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ". حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سَلاَمٍ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُزَاحِمٍ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، عَنْ

النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَلَهُ قِيرَاطٌ..." فَذَكَرَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: وَأَخْبَرَنَا مَرْوَانُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ سَلَامٍ قَالَ: قَالَ يَحْيَى: وَحَدَّثَنِي أَبُو سَعِيدٍ مَوْلَى الْمَهْرِيِّ، عَنْ حَمْزَةَ بْنِ سَفِينَةَ، عَنْ السَّائِبِ سَمِعَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قُلْتُ لِأَبِي مُحَمَّدٍ عَبْدِاللَّهِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمَنِ: مَا الَّذِي اسْتَغْرَبُوا مِنْ حَدِيثِكَ بِالْعِرَاقِ؟ فَقَالَ: حَدِيثُ السَّائِبِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ. و سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يُحَدِّثُ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمَنِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنَّمَا يُسْتَغْرَبُ هَذَا الْحَدِيثُ لِحَالِ إِسْنَادِهِ لِرِوَايَةِ السَّائِبِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چې دجنازي سره لاړو او جنازه يي وربandي اوکړه دده دپاره يو قيراط اجر دي او ځوك چې دجنازي سره پاتي شو تردي پوري چې دمړي دفن کيدل ختم شول دداسي کس دپاره دوه قيراطه اجر دي (قيراط د درهم دپنځم يا دشپږمي حصي نوم دي) صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله د دوه قيراط نه مراد څه دي (يعني په اخرت کي ددي مقدار څومره دي) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دواړو کي چې کوم يو وړوکي وي هغه داحد دغر سره برابر دي، داحديث په متعددو سندونو دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي، امام ترمذي اول دمحمد بن بشار په سند ذکر کړي دي، او بيا يي د عبدالله بن عبدالرحمن يعني د دارمي په سند ذکر کړي دي او بيا يي دامام دارمي يو بل سند ذکر کړي دي وئيل يي چې ما د امام دارمي نه تپوس اوکړو په عراق کي ستا په احاديثو کي خلقو کوم احاديث غريب ګڼړلي دي امام دارمي په جواب کي اووئيل دا دريم سند په کوم کي چې سائب دعائشه رضي الله عنها نه دا حديث نقل کوي.

امام ترمذي وائي امام بخاري هم د: حديث دامام دارمي په سند بيانولو (يعني دهغه سره هم ددي حديث کوم بل سند نه وو).

امام ترمذي وائي دا حديث دعائشه رضي الله عنها نه په متعددو سندونو مرفوعا مروي دي مګر سائب چې په کوم سند دعائشه رضي الله عنها نه کوم روايت نقل کوي دا سند ناشنا او غريب دي نو ځکه دا حديث غريب شو.

****

حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ أَبِي قُرَّةَ

السَّدُوسِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَعْقِلُهَا، وَأَتَوَكَّلُ أَوْ أُطْلِقُهَا وَأَتَوَكَّلُ؟ قَالَ: "اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ". قَالَ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: هَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُنْكَرٌ.

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي چې يو كس تپوس اوكړو اي دالله رسوله ايا زه داوښ خپه اوتړم او په الله تعالي اعتماد اوكړم او كنه همداسي يې خوشې پرېږدم او په الله تعالي اعتماد اوكړم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خپه يې اوتړه او بيا په الله تعالي اعتماد اوكړه ، يحي بن سعيد القطان وائي داحديث زما په نزد منكر دي يعني انتهائي ضعيف دي.

امام ترمذي وائي داحديث په دې سند غريب دې او مونږ يې دانس رضي الله عنه په روايت نه پېژنو مګر صرف په همدې يو سند دا رنګې دا حديث دعمرو بن اميه ضمري په سند هم مرفوعا مروي دي (يعني دانس په سند غريب او ضعيف دي مګر دعمرو بن اميه په سند صحيح دي او ابن حبان دا حديث پخپل صحيح كې ذكر كړي دي.

****

وَقَدْ وَضَعْنَا هَذَا الْكِتَابَ عَلَى الِاخْتِصَارِ لِمَا رَجَوْنَا فِيهِ مِنَ الْمَنْفَعَةِ، نَسْأَلُ اللَّهَ النَّفْعَ بِمَا فِيهِ، وَأَنْ يَجْعَلَهُ لَنَا حُجَّةً بِرَحْمَتِهِ، وَأَنْ لَا يَجْعَلَهُ عَلَيْنَا وَبَالًا بِرَحْمَتِهِ آمِينَ.

ترجمه : امام ترمذي وائي مونږ دا كتاب داختصار په حال كې تصنيف كړي دي (په دې جمله كې دې رسالې ته اشاره كېدې شي مګر صحيح خبره داده چې په دې جمله كې جامع الترمذي ته اشاره ده يعني امام ترمذي سنن ترمذي په مختصر طريقه ليكلي دي، او په هر باب كې يې ټول احاديث نه دي ليكلي، اګر چې مذاهب دفقهاؤ او په اسانيدو حكم كولو او نورو فوائدو ذكر كولو سره په كتاب كې تطويل راتلو مګر درواياتو په اعتبار سره په مختصر طور ليكلي شوي دي) زمونږ په دې كې دفائدې اميد دي (يعني مونږ اختصار دقارئينو دپاره مفيد ګڼړلي دي) او مونږ دالله تعالي نه دعا غواړو چې ددې كتاب په مضامينو مخلوق ته فائده ورسوي او دې لره پخپلې مهربانۍ سره زمونږ دپاره وبال اونه ګرځوي (يعني جامع الترمذي) انتهاء ته اورسېدو او تمام تعريفونه صرف دالله تعالي دپاره دي.

****

بسم الله الرحمن الرحيم

شمائل النبي (صلي الله عليه وسلم).

د رسول الله د حيات طيبه بيان

شمائل د شمال جمع ده لکه خصائل چي د خصال جمع ده، چي په معني د عادت او طبيعت او اخلاقو دی، او مراد ورنه حيات طيبه دی، امام ترمذي په دي کي ۵۲ بابونه او ۳۹۷ احاديث مرتب کړي دي، چي ۲۱۳ پکي په سنن الترمذي کي ذکر شوي دي او باقي احاديث ددي نه علاوه دي، دا احاديث هم اکثر په کتاب المناقب کي بيان شوي دي مګر په کتاب المناقب کي ددي ذکر کيدل امام ترمذي ناکافي وګڼړل او يو مستقله رساله يي د سيرت طيبه په موضوع د خپل سنن په اخر کي ملحق کړه ګويا کي دا رساله د کتاب المناقب مقدمه لاحقه او ددي دپاره تتمه ده، والله اعلم

قال الشيخ الحافظ محمد بن سورة الترمذي:

١ـ باب ما جاء في خَلْقِ رسول الله صلي الله عليه وسلم.

د رسول الله د حليه مباركي بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاء قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلاَ بِالْقَصِيرِ وَلاَ بِالأَبْيَضِ الأَمْهَقِ وَلاَ بِالآدَمِ وَلاَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلاَ بِالسَّبْطِ بَعَثَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ډير لوړ قد والا وو او نه ډير ټيټ قد والا وو بلکه قد مبارك يي درميانه وو او همدا رنګي نه درنګ په اعتبار نه بالکل سپين وو دچوني پشان او نه بالکل غنم رنګي چي د نهه کلن پشان ښکاري (بلکه دځوارلسمي شپي دسپوږمۍ نه زيات منور او د ملاحت حامل ښکاريدو) او درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته نه بالکل نيغ وو او نه بالکل ګونجي (بلکه معمولي شان ګونجي والي يي لرلو) دڅلويښتو کالو په عمر کي الله تعالي په منصب دنبوت مبعوث کړو او بيا يي په مکه مکرمه کي لس کاله قيام اوکړو او لس کاله يي په مدينه کي قيام اوکړو دشپيته کالو نه يي عمر اوړيدلي وو چي الله تعالي وفات کړو او حال دادي چي درسول الله صلي الله عليه

وسلم په سر او ګیره مبارکه کي شل ويختـه هم له سپين شوي نه وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَبْعَةً لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلا بِالْقَصِيرِ حَسَنَ الْجِسْمِ وَكَانَ شَعَرُهُ لَيْسَ بِجَعْدٍ وَلا سَبْطٍ أَسْمَرَ اللَّوْنِ إِذَا مَشَى يَتَكَفَّأُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم درميانه قد والا وو نه بالكل اوږد او نه بالكل لنډ قد والا، انتهائي ښائسته او معتدل بدن والا وو او ويخته يي نه بالكل نيغ وو او نه بالكل ګونجي وو (بلكه لږ شان ګونجي والي پكي وو) او همدا رنګي رسول الله ګندمي رنګ والا وو كله چي به په لاره روان وو داسي به ښكاريدو لكه مخي طرف ته چي سري زوږند وي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاء بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَجُلا مَرْبُوعًا بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ عَظِيمَ الْجُمَّةِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ الْيُسْرَى عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاء مَا رَأَيْتُ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ.

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د درميانه قد مالك وو (چي معمولي شان لوړوالي ته مائل وو) او ددواړو اوږو په مينځ كي يي دنورو خلقو په نسبت فاصله لږه زياته وه (دكوم نه چي دسيني پلنوالي معلوميږي) او په ويختو كي يي ګونجي والي وو چي دغوږونو دنرمۍ پوري رسيدلي وو او په بدن مبارك يي دكرخو والا يود سره جوړه يعني پټكي او څادر وو او مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات حسين كله هم هيڅوك نه دي ليدلي.

٤ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاء بْنِ عَازِبٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاء أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَهُ شَعَرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَمْ يَكُنْ بِالْقَصِيرِ وَلا بِالطَّوِيلِ.

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه دا هم مروي دي فرمائي چي ما په سره جوړه كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات ښائسته بل څوك نه دي ليدلي چي ويخته يي د اوږو پوري وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په ويختو كي د دواړو اوږو مينځني حصه لږ زيات پلنوالي لرلو او رسول الله نه ډير زيات اوږد وو او نه ډير زيات ټيټ قد والا وو.

****

٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِالطَّوِيلِ وَلا بِالْقَصِيرِ شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ ضَخْمُ الرَّأْسِ ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ طَوِيلُ الْمَسْرُبَةِ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صلى الله عليه وسلم

ترجمه : د علي رضي الله عنه بيان دی فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ډېر لوړ قد والاوو او نه ډېر ټيټ قد والا ، ډکو ورغوو او ډکو خپو والاجسامت يې لرلو ، په سر او اوږو کې يې څه قدري غټ والي ووا و د سينه نه يې خيټې پورې د ويختو يوه نرۍ کرخه وه او چې روان به وو مخکې طرف ته به زوړند ښکاريدو لکه څوك چې د لوړې نه کوزيږي او ما دهغه پشان نه ددې مخکې څوك ليدلي دي او نه مې دهغوی نه پس د هغوی پشان څوك وليدل.

****

٦_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنِ الْمَسْعُودِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ . حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ الْبَصْرِيُّ وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ وَأَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَلِيمَةَ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ قَالُوا حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ إِذَا وَصَفَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِالطَّوِيلِ الْمُمَّغِطِ وَلا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ لَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلا بِالسَّبْطِ كَانَ جَعْدًا رَجِلا وَلَمْ يَكُنْ بِالْمُطَهَّمِ وَلا بِالْمُكَلْثَمِ وَكَانَ فِي وَجْهِهِ تَدْوِيرٌ أَبْيَضُ مُشْرَبٌ أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ أَهْدَبُ الأَشْفَارِ جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ أَجْرَدُ ذُو مَسْرُبَةٍ شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ إِذَا مَشَى كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ فِي صَبَبٍ وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ أَجْوَدُ النَّاسِ صَدْرًا وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً وَأَكْرَمُهُمْ عِشْرَةً مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ يَقُولُ نَاعِتُهُ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : ابراهيم بن محمد چې دعلي رضي الله عنه په اولاد کې يو کس دي (يعني نوسي يې دي)، نه روايت دي فرمائي چې کله به علي رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم حليه مبارکه بيانوله نو ويل به يې رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ډېر زيات لوړ وو او نه ډېر زيات ټيټ قد والا بلکه د درميانه قد والا خلقو نه وو او ويښته يې نه بلکل کونجي وو او نه

بلكل سيده بلكه لږ شان ګونجي والي يي لرلو نه رسول الله ډير پيړ بدن والا وو او نه ګول مخ والا البته په مخ کي يي لږه شان ګولايي ضرور موجود وه چې رنګ يي سپين او سور والي ته مائل وو سترګي يي انتهائي توري وي او ورخي يي اوږدي وي او د بدن دجوړونو هډوکي يي پيړ وو لکه زنګنان او همدا رنګي د دواړو اوږو درمياني حصه کي يي هم لږ شان پيړوالي لرلو او دغوږبي نه ډك وو درسول الله په بدن مبارك ډير زيات ويخته نه وو درسول الله صلي الله عليه وسلم دسيني نه دنوم پوري دويختو يوه نرئ کرخه وه او لاسونه او ښپي يي دغوښي نه ډك وو کله چې به روان وو نو قدمونه به يي په قوت سره پورته کول داسې به ښکاريده لکه څوك چې ښکته کوزيږي او کله چې به چاته متوجه کيدو نو توجه به يي په پوره بدن سره کوله (يعني پوره بدن به يي اوګرځولو او داسې نه وه چې بعضي کسان صرف څټ تاؤ کړي او متوجه شي خکه چې په دي طريقو بې پرواهي ظاهريږي او په بعضي وختونو کي ددي په سبب متکبرانه حالت پيدا کيږي بلکه دسيني سره به اوګرځيدلو بعضي علماؤ ددي دا مطلب هم بيان کړي دي چې کله به رسول الله چاته توجه کوله نو په پوره مخ سره به يي کوله او صرف په سترګو به يي ملاحظه نه کوله، مګر دامطلب ښه نه دي (درسول الله صلي الله عليه وسلم ددواړو اوږو په مينځ کي مهر دنبوت وو رسول الله صلي الله عليه وسلم دانبياؤ ختمونکي وو او ډير زيات سخي زړه والا وو او دهر چا نه زيات رښتوني ژبي والا وو او په ټولو مخلوق کي زيات نرم طبيعت والا وو او په ټولو خلقو کي دزيات شريفي کورنئ والا وو (غرض دا چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په ژبه، طبيعت، خاندان، ذاتي اوصافو، او نسب په لحاظ دهر چانه افضل وو) چاچې به رسول الله يواخي اوليدو نو په سرې به رعب راتلو (يعني وقار يي دومره زيات وو) چې داول خل نظر لګيدو په وجه به انسان رعب او هيبت راغلو) اول خو دجمال او ښائست دپاره هم رعب وي البته چاچې به پيژندو نو هغه به ورته مائل کيدلو (او درسول الله صلي الله عليه وسلم اخلاق کريمه او اوصاف جميله خواهش مند به ګرځيدلو) او رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي خپل دوست ګرځولو درسول الله حليه بيانونکي صرف دا ونيلي شي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم پشان جمال او کمال والا انسان نه دهغوئ نه مخکي ليدلي او نه دهغوئ نه روسته.

قَالَ أَبُو عِيسَى سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ مُحَمَّدَ بْنَ الْحُسَيْنِ يَقُولُ سَمِعْتُ الأَصْمَعِيَّ يَقُولُ فِي تَفْسِيرِ صِفَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم الْمُمَّغِطُ الذَّاهِبُ طُولا وَقَالَ سَمِعْتُ أَعْرَابِيًّا يَقُولُ فِي كَلامِهِ تَمَغَّطَ فِي نَشَّابَتِهِ أَيْ مَدَّهَا مَدًّا شَدِيدًا وَالْمُتَرَدِّدُ الدَّاخِلُ بَعْضُهُ فِي بَعْضٍ قِصَرًا وَأَمَّا الْقَطَطُ فَالشَّدِيدُ الْجُعُودَةِ وَالرَّجِلُ الَّذِي فِي شَعَرِهِ حُجُونَةٌ أَيْ تَثَنٍّ قَلِيلٌ وَأَمَّا الْمُطَهَّمُ فَالْبَادِنُ الْكَثِيرُ اللَّحْمِ وَالْمُكَلْثَمُ الْمُدَوَّرُ الْوَجْهِ وَالْمُشْرَبُ الَّذِي فِي بَيَاضِهِ حُمْرَةٌ وَالأَدْعَجُ الشَّدِيدُ سَوَادِ الْعَيْنِ وَالأَهْدَبُ

الطَّوِيلُ الْأَشْفَارِ ، وَالْكَتَدُ: مُجْتَمَعُ الْكَتِفَيْنِ وَهُوَ الْكَاهِلُ، وَالْمَسْرُبَةُ: هُوَ الشَّعْرُ الدَّقِيقُ الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيبٌ مِنَ الصَّدْرِ إِلَى السُّرَّةِ، وَالشَّثْنُ: الْغَلِيظُ الْأَصَابِعِ مِنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، وَالتَّقَلُّعُ: أَنْ يَمْشِيَ بِقُوَّةٍ، وَالصَّبَبُ: الْحُدُورُ، تَقُولُ: انْحَدَرْنَا فِي صَبُوبٍ، وَصَبَبٍ، وَقَوْلُهُ: جَلِيلُ الْمُشَاشِ يُرِيدُ رُءُوسَ الْمَنَاكِبِ، وَالْعِشْرَةُ: الصُّحْبَةُ والعشير الصاحب، وَالْبَدِيهَةُ: الْمُفَاجَأَةُ، بَدَهْتُهُ بِأَمْرٍ: أَيْ فَاجَأْتُهُ "

ترجمه. امام ترمذي وائي: د ابو جعفر قول دى ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دحليه مبارك تفسير داصمعي نه په دي الفاظو اوريدلي دي چې د "الممغط" معني په اوږد والي کي تلل دي ما ديو باندچي نه واوريدل چې داسي يي وئيل "تمغط في نشابة" يعني هغه خپل غشي ډير زيات رابنکلو او متردد داسي کس وي چې اندامونه يي يو په بل کي ورننوتلي وي او قطط ګونجي ويختو والاته وئيلي شي او "رجل" هغه سړي ته وائي چې ويختيه يي نيغ وي او "مطهم" داسي جسم والاته وائي چې څورب وي او ډيري غوښي والا وي او "مکلثم" هغه چاته وائي چې مخ يي ګول وي او "مشدب" هغه څوك دي چې په تندي کي يي سوروالي وي او "ادعج" هغه څوك دي چې سترګي يي توري وي او "اهدب" هغه څوك دي چې وريخي يي اوږدي وي او "کتد" د دواړو اوږو پيوند ته وئيلي شي او "مسربة" دسيني نه نوم پورې دويختو کرخي ته وائي او شثن هغه څوك دي چې ورغوي او خپي يي دغوښي نه ډك وي او د "تقلع" نه مراد خپي مضبوطي ايخودل دي او "صبب" په معني دکوزيدو دي لکه چې عرب وائي "انحدرن في صبوب وصبب" يعني مونږ دلوړي نه راکوز شو د "جليل المشاش" نه مراد داوږو سرونه دي او د "عشرة" نه مراد ژوند تيرول دي او "عشيرة" معني ژوند تيرونکي او "بديهة" معني څه کار په يو ځل کول لکه چې عرب وائي "بدهته بامر" يعني ديوي معاملي دپاره زه هغه ته ناڅاپه ورغلم.

****

٧ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ إِمْلَاءً عَلَيْنَا مِنْ كِتَابِهِ قَالَ أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنٍ لِأَبِي هَالَةَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ خَالِي هِنْدَ بْنَ أَبِي هَالَةَ وَكَانَ وَصَّافًا عَنْ حِلْيَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا أَشْتَهِي أَنْ يَصِفَ لِي مِنْهَا شَيْئًا أَتَعَلَّقُ بِهِ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَخْمًا مُفَخَّمًا يَتَلَأْلَأُ وَجْهُهُ تَلَأْلُؤَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، أَطْوَلُ مِنَ الْمَرْبُوعِ وَأَقْصَرُ مِنَ الْمُشَذَّبِ عَظِيمُ الْهَامَةِ رَجِلُ الشَّعْرِ إِنِ انْفَرَقَتْ عَقِيقَتُهُ فَرَقَهَا وَإِلَّا فَلَا يُجَاوِزُ شَعَرُهُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ إِذَا هُوَ وَفَّرَهُ أَزْهَرُ اللَّوْنِ وَاسِعُ الْجَبِينِ أَزَجُّ الْحَوَاجِبِ سَوَابِغَ فِي غَيْرِ قَرَنٍ بَيْنَهُمَا عِرْقٌ يُدِرُّهُ الْغَضَبُ أَقْنَى

الْعِرْنَيْنِ لَهُ نُورٌ يَعْلُوهُ يَحْسَبُهُ مَنْ لَمْ يَتَأَمَّلْهُ أَشَمَّ كَثُّ اللِّحْيَةِ سَهْلُ الْخَدَّيْنِ ضَلِيعُ الْفَمِ مُفْلَجُ الأَسْنَانِ دَقِيقُ الْمَسْرُبَةِ كَأَنَّ عُنُقَهُ جِيدُ دُمْيَةٍ فِي صَفَاءِ الْفِضَّةِ مُعْتَدِلُ الْخَلْقِ بَادِنٌ مُتَمَاسِكٌ سَوَاءُ الْبَطْنِ وَالصَّدْرِ عَرِيضُ الصَّدْرِ بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ أَنْوَرُ الْمُتَجَرَّدِ مَوْصُولُ مَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَالسُّرَّةِ بِشَعَرٍ يَجْرِي كَالْخَطِّ عَارِي الثَّدْيَيْنِ وَالْبَطْنِ مِمَّا سِوَى ذَلِكَ أَشْعَرُ الذِّرَاعَيْنِ وَالْمَنْكِبَيْنِ وَأَعَالِي الصَّدْرِ طَوِيلُ الزَّنْدَيْنِ رَحْبُ الرَّاحَةِ شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ سَائِلُ الأَطْرَافِ أَوْ قَالَ شَائِلُ الأَطْرَافِ خَمْصَانُ الأَخْمَصَيْنِ مَسِيحُ الْقَدَمَيْنِ يَنْبُو عَنْهُمَا الْمَاءُ إِذَا زَالَ زَالَ قَلِعًا يَخْطُو تَكَفِّيًا وَيَمْشِي هَوْنًا ذَرِيعُ الْمِشْيَةِ إِذَا مَشَى كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ جَمِيعًا خَافِضُ الطَّرْفِ نَظَرُهُ إِلَى الأَرْضِ أَطْوَلُ مِنْ نَظَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ جُلُّ نَظَرِهِ الْمُلاحَظَةُ يَسُوقُ أَصْحَابَهُ وَيَبْدَأُ مَنْ لَقِيَ بِالسَّلامِ.

ترجمه : دحسن بن علي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې ما د خپل ماما هند بن ابي هاله رضي الله عنه نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دحليه مباركي په باره کي تپوس اوکړو او هغه به حليه نبوي په ډير وضاحت او کثرت او شانداري طريقي سره بيانوله زما دا خواهش پيدا شو چې هند داوصاف جميله نه څه اوصاف زما په وړاندي هم بيان کړي ترديچې زه دخپل خان دپاره دده بيان حجت اوګرځولي شم ‹او اوصاف جميله زما دپاره ممکن او ذهن نشين شي او بيا په خان کي ددي دپيدا کولو کوشش اوکړم دحسن بن علي رضي الله عنه عمر درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات کيدو په وخت کي اوه کاله وو نو دکم عمرئ په وجه ورته په اوصاف جميله کي دتامل اوکمال تحفظ موقعه په لاس نه وه ورغلي› غرض داچې زما ماما دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دحليه مبارکي متعلق اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل ذات او صفاتو په اعتبار دشاندار حيثيت مالک وو او دخلقو په نظرونو کي هم دلوړي مرتبي مالک وو مخ مبارک به يي دخوارلسمي سپوږمئ پشان ړقيدلو او بالکل درميانه قد والا انسان وو چې لوړ والي يي څه قدري اوږدوالي ته مائل وو ليکن دډير لوړ په نسبت يي قد ټيټ وو او سر يي داعتدال مطابق لوي والي لرلو په ويختو کي يي څه قدري ګونجي والي وو که په ويختو کي به يي چرته اتفاقا پخپله دمينځ کرخه راغله نو پريخودله به يي کنه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله قصدا په ويختو کي دکرخو ويستلو څه اهتمام نه کولو په کومه زما نه کي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته مبارک ګڼړ وو نو دغوږونو دنرمئ نه به دتيريدو په حالت کي ښکاريدل او رنګ مبارک يي انتهائي ړقيدونکي وو او فراخه تندي والا وو ګڼري وريخي يي وي چې په دواړو کي جداوالي ښکاريدلو او يوه لړوخه يي بلي پوري جوخته نه وه ددي په مينځ کي يو رګ وو چې دغصي په وخت کي به

دپرسوب په حالت کي ښکاريدو پوزه يي لوړوالي ته مائل وه او په دي کي يو چمك او نور وو ناڅاپي ليدونکي به لوي پوزي والا ګڼړلو ليکن په غور او فکر به معلوميدله چې دحسن او چمك په وجه لوړه ښکاري ورنه في نفسه زياته لوړه نه وه، رسول الله صلي الله عليه وسلم ګيره مبارکه ګڼړه وه او سترګي يي نرئ او توري وي او تندي يي داعتدال مطابق فراخه وو (يعني تنګ نه وو) غاښونه مبارك يي باريك وو په مخکنو غاښونو کي يي لږ شان فراخوالي هم وو په سينه يي دويختو نرئ کرخه وه او مرئ يي داسي ښائسته او نرئ وه لکه په لاس دجوړشوي بوت پشان او په رنګ کي دسپوږمئ پشان ښائسته وو درسول الله صلي الله عليه وسلم اعضاء انتهائي معتدل او دغوښي نه ډك وو ډير دروند بدن والانه وو خيټه او سينه يي هواره وه ليکن سينه يي فراخه او پلنه ښکاريدلو او ددواړو اوږو په مينځ کي څه قدري فصل موجود وو دجوړونو او بندونو هډوکي يي قوي او لوي وو (کوم چې دقوت دليل دي) دکپړو ويستلو په حالت کي درسول الله صلي الله عليه وسلم بدن مبارك روښانه او پرقيدونکي ښکاريدله (او يا دبدن هغه حصه کومه چې عموما دجامو نه بهروي دنوم او دسيني مينځ کي يي دويختو يوه نرئ کرخه وه او ددينه يي علاوه نوره سينه او خيټه دويختو نه خالي وه البته په متو او اوږو او دسيني په پورتنئ حصه يي ويخته وو، درسول الله صلي الله عليه وسلم مړوندونه اوږده او ورغوي يي فراخه وو او همدا رنګي دواړه ورغوي او دواړه خپي يي دغوښو نه ډکي وي دلاسونو او خپو ګوتي يي په اوږدوالي کي متناسب وي دخپو په تلو کي يي څه قدري ژوروالي او خپي يي هواري وي دخپو دتلو داحالت وو داسي به ښکاريدل لکه غوږ لاس چې ورباندي رابنکلي شوي وي کله چې به په زمکه روان وو نو خپه به يي په طاقت سره ايخودله او اوچتوله او مخي طرف ته به په رفتار کي زوړند ښکاريدو او خپه به يي په زمکه په ارام ايخودله او په زور سره به يي نه ايخودله رسول الله صلي الله عليه وسلم تيز رفتار وو او قدمونه بي يي څه قدري کولاؤ ايخودل او وړو خپو والاانسان نه وو کله چې به روان وو نو داسي به ښکاريدو لکه سړي چې دلوړي نه لاندي کوزيږي او کله چې به چاته متوجه کيدو نو په متوجه کيدو کي به يي پوره بدن ګرځولو نظر به يي هميشه ټيټ ساتلو او د رسول الله صلي الله عليه وسلم نظر اسمان طرف ته دکتلو په نسبت زمکي طرف ته زيات وو دوحي دراتلو وخت کي به يي اسمان طرف ته زيات کتل او ددينه علاوه وختونو کي به يي توجه او عادت زمکي طرف ته کتل زيات وو او چې څوك به ورسره مخامخ شو نو په سلام کي به ورباندي مخکي کيدلو.

تخريج: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٩)

****

٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ

قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنِ مَنْهُوسَ الْعَقِبِ قَالَ شُعْبَةُ قُلْتُ لِسِمَاكٍ مَا ضَلِيعُ الْفَمِ قَالَ عَظِيمُ الْفَمِ قُلْتُ مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ قَالَ طَوِيلُ شِقِّ الْعَيْنِ قُلْتُ مَا مَنْهُوسُ الْعَقِبِ قَالَ قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم كولاؤ خولي والا انسان وو دسترګو په سپينوالي كي يي سوروالي ښكاريدو او پوندي يي دغوښو ډكي وي دشعبه بيان دي چې ما دسماك نه دضليع الفم باره كي تپوس اوكړو نو راته يي اوونيل چې دا دخولي كولاولي ته وئيلي شي او ما ورنه داكل العينين باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل دا دسترګو دسپينو اوږدوالي دي ما ورته اوونيل منهوس العقب څه څيز دي نو ويي ونيل په پوندو دغوښي كموالي ته وئيلي شي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ أَشْعَثَ يَعْنِي ابْنَ سَوَّارٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاء فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِ وَإِلَى الْقَمَرِ فَلَهُوَ عِنْدِي أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما يو ځل دسپوږمئ په شپه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته كتل چې په دغه وخت كي يي سره جوړه اغوستلي وه ما به كله سپوږمئ ته كتل او كله به مي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته كتل اخر دا چې دا فيصله مي اوكړه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپوږمئ نه زيات ښائسته او منور دي.

****

١٠ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّؤَاسِيُّ عَنْ زُهَيْرٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاء بْنَ عَازِبٍ أَكَانَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِثْلَ السَّيْفِ قَالَ لا بَلْ مِثْلَ الْقَمَرِ.

ترجمه : دابو اسحاق بيان دي فرمائي چې يو كس دبراء بن عازب رضي الله عنه نه تپوس اوكړو ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم مخ مبارك د توري پشان پرقيدونكي وو؟ هغه اوونيل هرګز نه بلكه دخوارلسمي دسپوږمئ پشان روښانه او ګول والي پكي وو.

****

١١ـ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْمَصَاحِفِيُّ سُلَيْمَانُ بْنُ سَلْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي

الأَخْضَرِ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَبْيَضَ كَأَنَّمَا صِيغَ مِنْ فِضَّةٍ رَجِلَ الشَّعْرِ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دومره تازه او ښائسته او پرقيدونکي شخصيت والا وو لکه چې دسپينوزرو نه جوړ کړې شوي وي او ويخته يې څه قدري ګونجي والي والا وو.

****

۱۲_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنِي اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ الأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى بْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دِحْيَةُ.

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي انبياء چې کله ماته پيش کړې شول نو موسي عليه السلام چست بدن والا ځوان وو، څنګه چې دشنوءه قبيلې خلق وي او چې عيسي عليه السلام مې اوليدو نو دهغه سره راته زيات مشابه عروه بن مسعود رضي الله عنه ښکاره شو، او ابراهيم عليه السلام ستاسو ددې دوست «رسول الله صلي الله عليه وسلم» سره مشابهت لرلو او چې جبرائيل ته مې اوکتل نو د دحيه کلبي سره مشابه وو.

****

۱۳_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ الْمَعْنَى وَاحِدٌ قَالَا أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الطُّفَيْلِ يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَمَا بَقِيَ عَلَى وَجْهِ الأَرْضِ أَحَدٌ رَآهُ غَيْرِي قُلْتُ صِفْهُ لِي قَالَ كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا صلوات الله وسلامه عليه.

ترجمه : دسعيد جريري بيان دي فرمائي چې مادابوالطفيل رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمائيل يې درسول الله صلي الله عليه وسلم په ليدونکو کې اوس دزمکې په مخ زما نه علاوه بل څوک باقي نه دي پاتې شوي او ما ورته اووئيل ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم حليه بيان کړه راته يې اووئيل رسول الله سپين رنګ والا بنده وو مګر دملاحت سره يعني سوروالي ته مائل وو او معتدل جسم والا وو. ياد ملاحت مراد رنګ مبارک نمکين دي.

****

١٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْحِزَامِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ الزُّهْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ ابْنُ أَخِي مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ.

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم مخامخ غاښونو کې څه قدري لرې والي وو او ډيرګنړ نه وو کله چې به يې خبري کولي نو ديو نور پشان به ظاهريدو چې دغاښونو دمينځ نه به يې راوتلو.

****

٢ــ باب ماجاء في خاتم النبوة

١ــ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاء قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنِ الْجَعْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ وَتَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ وَقُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ إِلَى الْخَاتَمِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ فَإِذَا هُوَ مِثْلُ زِرِّ الْحَجَلَةِ.

ترجمه: دسائب بن يزيد بيان دي فرماني چې زما ترور زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وروستم او عرض يې اوکړو چې دا زما دخور بچي بيمار دي رسول الله زما په سر لاس رابنکلو او زما دپاره يې دبرکت دعا اوغوښتله او اودس يې اوکړو نو ما دهغه د اودس نه پاتي شوي اوبه اوڅکلي ممکن ده چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دا اودس دځپل کوم شخصي غرض دپاره کړي وي ليکن ظاهره داده چې سائب بن يزيد علاج دپاره او په هغه باندي دڅکلو په غرض رسول الله اودس کړي دي زه اتفاقا يا قصدا په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي شاته اودريدم نو مهر دنبوت مي اوليدو چې دکمتري دهګۍ په شکل وو (شارحينو دحديث ددي جملي مختلفي ترجمي کړي دي ليکن امام نووي دي ترجمي ته ترجيح ورکړي ده).

تشريح: کله چې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم عمر يوه ورځ دپاسه څلويښت کالو ته ورسيدو نو الله تعالي ورته فرمانبردارو ته د زيري ورکولو او نافرمانو ته دتخويف

ورکولو دپاره منصب دنبوت ورکړو[1]. نبي کريم صلي الله عليه وسلم غار حرا ته لاړو او ډيري ورځي يي هلته قيام وکړو، اوهم هلته اولنئ وحي نازل شوه، په غار حراء کي جبريل عليه السلام حاضر شو او ويي فرمائيل "اقرء" يعني اولوله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په جواب کي اوفرمائيل زه لوستونکی نه يم رسول الله صلي الله عليه وسلم فرماني چي بيا زه جبريل عليه السلام ځان پوري راجوښت کړم چي ما ورنه تکليف محسوس کړو نو بيا يي زه پريښودم او بيا يي دوباره و فرمائيل "اقرء" يعني اولوله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په جواب کي اوفرمائيل زه لوستونکی نه يم نو بيا زه جبريل عليه السلام ځان پوري راجوښت کړم او په دريم ځل يي اوفرمائيل ''اقراء باسم ربك'' تر'' مالم يعلم'' پوري او همدا ابتداء دنبوت وه.

د بعضو په نزد دا واقعه په اتم ربيع الاول دوشنبي په ورځ شوي وه بيا ددي نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم د احکام الهيه اعلان په سرګنده طريقه وکړو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم د خپل قوم انتهايي درجه خير خواهي کوله مګر اهل مکه دخپلي نادانئ په وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته تکاليف رسول تردي پوري چي د يو غر په ځوکه کي يي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د اهل بيت محصور کړی وو، اوتقريبا دري کالو پوري يي محاصره کړی وو، هرکله چي ددي محاصري نه ازاد شو نو دغه وخت کي يي عمر نهه ځلويښت کالو ته رسيدلی وو، ددي محاصري نه د ازاديدو نه اته مياشتي يويشت ورځي پس د رسول الله صلي الله عليه وسلم تره ابو طالب وفات شو. او ددي نه دري ورځي پس خديجه رضي الله عنها هم وفات شوه[2].

هر کله چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم عمر مبارك پنځوس کالو ته ورسيدو نو د نصيبين[3] مقام جنات يي په خدمت کي حاضر شول او په اسلام مشرف شول او هرکله چي يي عمر يو پنځوس کالونهو مياشتو ته ورسيدو نو الله تعالي په معراج مشرف کړو . د زمزم او

---

[1] عام قانون دقدرت همدا دی چي نبوت د ۴۰ کالو نه پس ملاويږي تمامو انبياؤ ته د ۴۰ کالو نه پس نبوت ورکړی شوی دی. رسول الله ته ظاهرا منصب دنبوت په دي عمر کي ورکړي شو اګرچي حقيقتا ورته نبوت د آدم عليه السلام د خلقت نه مخکي ورکړی شوی وو.

[2] پدغه کال رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددي دوه کسانو په جدايي سخته صدمه ور ورسيدله او په دي کال يي عام الحزن نوم کيښودو يعني د غم او ماتم کال.

[3] نصيبين د يو ښار نوم دی او ددي جناتو تعداد اوه يا نهه وو اويه هغوئ کي د پنځوو نومونه دادي: (۱) منشي (۲) ناشي (۳) مشاصر (۴) ماضرا (۵) حقب (قرة العيون: ۲۲/۱).

مقام ابراهيم په مينځ كي اول بيت المقدس ته لاړو او بيا دهلته نه په براق سور شو اسمانونو ته وختلو او هلته وربانذي پنځه مونځونه فرض شول.
او چي هركله يي عمر مبارك ٥٣ كالو ته ورسيدو نو په اتم ربيع الاول دوشنبي په ورځ دمكي مكرمي نه مدينه منوري ته هجرت وكړو اود پير «دوشنبي» په ورځ مدينه منوري ته داخل شو.
او هلته د لس كاله رهائش اختيارولو نه پس وفات شو او خپل محبوت رب كبرياء ته ورسيدو.
په مذكوره تاريخ كي دعلماؤ اقوال مختلف دي كوم چي دتاريخ په لويو لويو كتابونو كي درج دي.(قرة العيون)

****

٢ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ جَابِرٍ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ الْخَاتَمَ بَيْنَ كَتِفَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم غُدَّةً حَمْرَاء مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ.

ترجمه: دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم مهر دنبوت دهغوئ د دواړو اوږو په مينځ كي اوليدو چي دسري رسولئ داني پشان وو او په مقدار كي دكمتري دهگئ پشان وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدِينِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ الْمَاجِشُونِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ عَنْ جَدَّتِهِ رُمَيْثَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلَوْ أَشَاء أَنْ أُقَبِّلَ الْخَاتَمَ الَّذِي بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِنْ قُرْبِهِ لَفَعَلْتُ يَقُولُ لِسَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ يَوْمَ مَاتَ اهْتَزَّ لَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ.

ترجمه: درمثه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا مضمون واوريدو او دغه وخت كي زه رسول الله سره دومره نزدي وم چي كه ما غوښتلي وي نو مهر دنبوت به مي ښكل كړي وي او هغه مضمون دادي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسعد بن معاذ په حق كي فرمائيل چي دهغه دمرگ په وجه دالله تعالي عرش هم دهغه دروح دورتلو په خوشحالئ كي اوخوزيدو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ إِذَا

وَصَفَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ وَقَالَ بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ.

ترجمه : دابراهيم بن محمد (چې دعلي رضي الله عنه نوسي دي) نه روايت دي وئيل يې چې علي رضي الله عنه به كله درسول الله صلي الله عليه وسلم صفات بيانول نو داصفتونه به يې بيانول او بيا يې سابقه مذكوره حديث ذكر كړو من جمله دهغې نه يې دا هم وئيل چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ددواړو اوږو په مينځ كې مهر دنبوت وو او هغه خاتم النبيين وو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ حَدَّثَنِي عِلْبَاءُ بْنُ أَحْمَرَ الْيَشْكُرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو زَيْدٍ عَمْرُو بْنُ أَخْطَبَ الأَنْصَارِيُّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَا أَبَا زَيْدٍ ادْنُ مِنِّي فَامْسَحْ ظَهْرِي فَمَسَحْتُ ظَهْرَهُ فَوَقَعَتْ أَصَابِعِي عَلَى الْخَاتَمِ قُلْتُ وَمَا الْخَاتَمُ قَالَ شَعَرَاتٌ مُجْتَمِعَاتٌ.

ترجمه : دعلباء بن احمر بيان دي فرمائي چې ما ته عمرو بن اخطب صحابي داقصه بيان كړه چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته دخپلې ملا سره دملا لګولو ذكر اوكړو نو اتفاقا زما ګوتي په مهر دنبوت اولګيدي علباء وائي مادعمرو نه تپوس اوكړو چې مهر دنبوت څه څيز دي هغه راته په جواب كې اووئيل دا ديو څو ويختو مجموعه وه.

****

٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ يَقُولُ جَاءَ سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم حِينَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ بِمَائِدَةٍ عَلَيْهَا رُطَبٌ فَوَضَعَهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا سَلْمَانُ مَا هَذَا فَقَالَ صَدَقَةٌ عَلَيْكَ وَعَلَى أَصْحَابِكَ فَقَالَ ارْفَعْهَا فَإِنَّا لا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ قَالَ فَرَفَعَهَا فَجَاءَ الْغَدَ بِمِثْلِهِ فَوَضَعَهُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ مَا هَذَا يَا سَلْمَانُ فَقَالَ هَدِيَّةٌ لَكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لأَصْحَابِهِ ابْسُطُوا ثُمَّ نَظَرَ إِلَى الْخَاتَمِ عَلَى ظَهْرِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَآمَنَ بِهِ وَكَانَ لِلْيَهُودِ فَاشْتَرَاهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِكَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا عَلَى أَنْ يَغْرِسَ لَهُمْ نَخْلا فَيَعْمَلَ سَلْمَانُ فِيهِ حَتَّى تُطْعِمَ فَغَرَسَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم النَّخْلَ إِلا نَخْلَةً وَاحِدَةً غَرَسَهَا عُمَرُ فَحَمَلَتِ النَّخْلُ مِنْ عَامِهَا وَلَمْ تَحْمِلْ نَخْلَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا شَأْنُ هَذِهِ النَّخْلَةِ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا غَرَسْتُهَا

فَنَزَعَهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَغَرَسَهَا فَحَمَلَتْ مِنْ عَامِهَا.

ترجمه: دبرده بن الحصيب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې کله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني منوري ته تشريف راوړو نوسلمان فارسي رضي الله عنه يو دسترخوان راوړو چې تازه کجوري پکې موجود وي او درسول الله په خدمت کې يې پيش کړو رسول الله ورنه تپوس اوکړو چې اې سلمان داځنګه کجوري دي سلمان عرض اوکړو دا ستاسو دپاره او ستاسو دملګرو دپاره صدقه کړي شوي دي رسول الله اوفرمائيل مونږ خو صدقه نه خورو نو په دي وجه يې زما دخوا نه اوچتې کړي بيا بله ورځ هم داسي يوه واقعه پيښه شوه چې سلمان يو خانك کجوري راوړي اودرسول الله صلي الله عليه وسلم دسوال په جواب کې يې اووئيل دا ستاسو دپاره تحفه راليږلي شوي ده نورسول الله پخپله هم اوخوړلي او بيا يې درسول الله په شا مهر دنبوت اوليدلو نو مسلمان شو، سلمان رضي الله عنه په دغه وخت کې په يهودو کې دبني قريظه قبيلي غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم واخستلو او بدل دکتابت يې ډير درهم مقرر شول، او دا خبره هم ده چې سلمان ددوئ دپاره دکجورو دري سوه وني اوکرلي او دونو دلوئيدو پوري به او دميوي شروع کيدلو پوري به يې ددي ونو خدمت کولو پس رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل لاس مبارك دا وني اوکرلي او دا درسول الله معجزه وه چې دي ټولو ونو په همدي کال ميوه شروع کړه مګر يوه ونه داسي وه چې هغې په ړومبي کال ميوه اونه نيوله دتحقيق نه پس معلومه شوه چې هغه ونه دسلمان فارسي په لاس کرلي شوي وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل لاس کرلو نه وه غرض داچې رسول الله دا ونه اوويستله او دوباره يې پخپل لاس مبارك اوکرله، درسول الله صلي الله عليه وسلم دويمه معجزه دا وه چې دا وني يې بې موسمه کرلي وي او ددي باوجود يې هم په ړومبي کال ميوه اونيوله.

****

٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْوَضَّاحِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الدَّوْرَقِيُّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ الْعَوَقِيِّ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ عَنْ خَاتَمِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَعْنِي خَاتَمَ النُّبُوَّةِ فَقَالَ كَانَ فِي ظَهْرِهِ بَضْعَةٌ نَاشِزَةٌ.

ترجمه: دابونضره بيان دي فرمائي چې ما دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه رسول الله صلي الله عليه وسلم دنبوت دمهر باره کې تپوس اوکړو نو هغه راته اووئيل چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په ملا مبارکه کې دغوښې يوه بوټه غونتکې توکړه وه.

****

٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ أَبُو الأَشْعَثِ الْعِجْلِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَاصِمٍ

الأَحْوَلِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَدُرْتُ هَكَذَا مِنْ خَلْفِهِ فَعَرَفَ الَّذِي أُرِيدُ فَأَلْقَى الرِّدَاءَ عَنْ ظَهْرِهِ فَرَأَيْتُ مَوْضِعَ الْخَاتَمِ عَلَى كَتِفَيْهِ مِثْلَ الْجُمْعِ حَوْلَهَا خِيلانٌ كَأَنَّهَا ثَآلِيلُ فَرَجَعْتُ حَتَّى اسْتَقْبَلْتُهُ فَقُلْتُ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ وَلَكَ فَقَالَ الْقَوْمُ أَسْتَغْفَرَ لَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ نَعَمْ وَلَكُمْ ثُمَّ تَلا هَذِهِ الآيَةَ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ.

ترجمه: عبدالله بن سرجش رضي الله عنه واني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضرشوم اودرسول الله سره په دغه وخت کي دخلقو يوه ډله موجود وه او ما په دي طريقه درسول الله صلي الله عليه وسلم شاته چکر اولګولو (او راوي پخپل خاي کي دچکر وهلو نه پس دهغه دچکر فعلي صورت بيان کړو) نورسول الله زما دچکر په غرض پوهه شو او دخپلي ملا نه يي څادر لري کړو نو ما د نبوت دمهر خاي درسول الله ددواړو اوږو په مينځ کي دخاورو په شکل اوليدلو ...او بيا زه راواپس شوم او مخامخ راغلم عرض مي اوکړو الله تعالي دي تاسو ته مغفرت اوکړي (او که داسي يي اووئيل الله تعالي تاسو ته مغفرت کړي دي لکه چې په سورة فتح کي راغلي دي (ليغفرلك الله ماتقدم من ذنبك" رسول الله اوفرمائيل الله تعالي دي تاته هم مغفرت اوکړي خلقو ماته اووئيل رسول الله ستا دپاره دمغفرت دعا اوغوښتله ما اووئيل هو او ستاسو ټولو دپاره يي هم اوغوښتله او بيا يي دالله تعالي دا فرمان اولوستلو چې اې محمد خپل خان دپاره هم دمغفرت دعا غواړه او دمومنانو سړو او ښځو دپاره هم غواړه (نو په همدي وجه رسول الله دټولو دپاره دمغفرت دعا غوښتلي وه).

****

٣ـ باب ما جاء في شَعْرِ رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ويښتو بيان

١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ شَعَرُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِلَى نِصْفِ أُذُنَيْهِ.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته دغوږونو دنمائي پوري وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَكَانَ لَهُ شَعَرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ وَدُونَ الْوَفْرَةِ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي چې ما او رسول الله صلي الله عليه وسلم به ديو لوښي نه غسل كولو. او درسول الله دسر ويخته د جمي نه اوږده وو او د وفري نه لنډ وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ كَيْفَ كَانَ شَعَرُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ وَلا بِالسَّبْطِ كَانَ يَبْلُغُ شَعَرُهُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ.

ترجمه : دقتاده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې انس رضي الله عنه ته مي اووئيل درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته څنګه وو هغه اووئيل نه بالكل ګونجي ووا و نه بالكل نيغ وو بلكه لږ شان ګونجي والي يكي وو چې دغوږونو دنرمۍ پوري اوږده وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ أَبِي عُمَرَ الْمَكِّيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ قَالَتْ قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَكَّةَ قَدْمَةً وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ.

ترجمه : دام هاني رضي الله عنها بيان دي چې يو خل دهجرت كولو نه پس نبي كريم صلي الله عليه وسلم مكي مكرمي ته لاړو او ويخته مبارك يې دكمځۍ پشان څلور حصي وي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ شَعَرَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته مبارك دغوږونو دنيمي پوري وو

****

٧ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ

يُسْدِلُ شَعَرَهُ وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرِقُونَ رُؤُوسَهُمْ وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يُسْدِلُونَ رُؤُوسَهُمْ وَكَانَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ بِشَيْءٍ ثُمَّ فَرَقَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم رَأْسَهُ.

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به اول بغير دكرخي ويستلو نه ويخته پريخودل ددي وجه دا وه چې مشركينو به په سر كي كرخه ويستله او اهل كتابو به نه ويستله، رسول الله صلي الله عليه وسلم په ابتداء كي په هغه امورو كي په كومو كي چې حكم نه وو نازل شوي داهل كتابو سره موافقت خوښولو ليكن وروسته منسوخ شو نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم داهل كتابو سره مخالفت كول شروع كړل.

****

٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ نَافِعٍ الْمَكِّيِّ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ذَا ضَفَائِرَ أَرْبَعٍ.

ترجمه : دام هاني رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسې حال كي ليدلي وو چې ويخته يي په څلورو كمڅو مشتمل وو.

****

٤ـ باب ما جاء في ترجل رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دويختو ګمنزولو بيان

١ـ حدثنا إسحاق بن موسى الأنصاري حدثنا مَعْن بن عيسى حدثنا مالك بن أنس عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا حَائِضٌ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چې ما به درسول الله صلي الله عليه وسلم سر ګمنزولو او حال دادي چې زه به بيماره وم.

****

٢ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ صَبِيحٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ هُوَ الرَّقَاشِيُّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهِ وَتَسْرِيحَ لِحْيَتِهِ وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ حَتَّى كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به پخپل سر مبارك اكثر تيل استعمالول او ږيره به يي ګمنزوله او سر به يي په كپړه پټولو تردي چې دسر

دېتولو جامه به يې دتيلو دزيات استعمال په وجه داسې ښكاريدله لكه دتيلي جامه.

****

٣ـ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِي طُهُورِهِ إِذَا تَطَهَّرَ وَفِي تَرَجُّلِهِ إِذَا تَرَجَّلَ وَفِي انْتِعَالِهِ إِذَا انْتَعَلَ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په هر يو كار كې، دښي طرف نه شروع كول خوښول د اودس كولو په وخت كې چې كله به يې اودس كولو او دتيلو لګولو او ګمنزولو په وخت كې چې كله به يې تيل لګول يا به يې ګمنز وهله او دپيزار اغوستلو په وخت كې چې كله به يې پيزار اغوستل.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ التَّرَجُّلِ إِلا غِبًّا.

ترجمه : دعبدالله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په كثرت سره دسر ګمنزولو نه منع فرمائيله مګر دكله كله ګمنزولو نه يې ممانعت نه فرمائيلو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلامِ بْنُ حَرْبٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ أَبِي الْعَلاءِ الأَوْدِيِّ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَرَجَّلُ غِبًّا.

ترجمه : حميد بن عبدالرحمن په صحابه كرامو كې ديو كس نه روايت نقل كوي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله كله ويخته ګمنزول.

****

٥ـ باب ماجاء في شيب رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دويختو سپينيدلو بيان

١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ هَلْ خَضَبَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ إِنَّمَا كَانَ شَيْبًا فِي صُدْغَيْهِ



وَلَكِنْ أَبُو بَكْرٍ خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ.

ترجمه : دقتاده بيان دي فرمائي چې ما دانس رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چې ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به خضاب (ديختو رنګ) استعمالولو؟ انس اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دويختو سپينوالي دي حد ته نه وو رسيدلي چې دخضاب استعمال ته ضرورت پيښ شي، او دويختو سپينوالي يي صرف په دواړو طرفونو غومبرو کي لږ لږ شان وو البته ابوبکر صديق رضي الله عنه به نکريزي او کتم سره ويخته رنګ کول.

****

٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ وَيَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالا حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا عَدَدْتُ فِي رَأْسِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلِحْيَتِهِ إِلا أَرْبَعَ عَشْرَةَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم په سر او ګيره کي دڅوارلسو نه زيات سپين ويخته نه دي شميرلي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ وَقَدْ سُئِلَ عَنْ شَيْبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ إِذَا دَهَنَ رَأْسَهُ لَمْ يُرَ مِنْهُ شَيْبٌ وَإِذَا لَمْ يَدْهِنْ رُئِيَ مِنْهُ شَيْءٌ.

ترجمه : مروي دي چې دجابر رضي الله عنه نه چا رسول الله صلي الله عليه وسلم دويختو دسپينوالي باره کي تپوس اوکړو نو ورته يي اووئيل کله چې به رسول الله تيل استعمالول نو هغه به نه محسوسيدلو او که نه به يي استعمالول بيا به لږ لږ سپينوالي ښکاريدل.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْوَلِيدِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ عَنْ شَرِيكٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ إِنَّمَا كَانَ شَيْبُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم نَحْوًا مِنْ عِشْرِينَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ.

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سپين ويخته تقريبا شلو ته رسيدل.

****

٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ عَنْ شَيْبَانَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ

عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ شِبْتَ قَالَ شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې ابوبکر صديق رضي الله عنه عرض اوکړو اي دالله رسوله ته خو بوډا شوي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه خو سورة هود، سورة واقعه، سورة مرسلات، سورة عم يتسائلون، او سورة تکوير بوډا کړم.

****

٦_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ صَالِحٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ نَرَاكَ قَدْ شِبْتَ قَالَ قَدْ شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَأَخَوَاتُهَا.

ترجمه : دابوجحيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې خلقو عرض اوکړو اي دالله رسوله په تاسو کي دکمزورئ او بوډاوالي اثار ښکاره شول رسول الله اوفرمائيل زه دسورة هود پشان سورتونو بوډا کړم.

****

٧_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ صَفْوَانَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ الْعِجْلِيِّ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ تَيْمِ الرِّبَابِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَمَعِي ابْنٌ لِي قَالَ فَأُرِيتُهُ فَقُلْتُ لَمَّا رَأَيْتُهُ هَذَا نَبِيُّ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ وَلَهُ شَعَرٌ قَدْ عَلاهُ الشَّيْبُ وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ.

ترجمه : دابو رمثه تيمي بيان دي فرمائي چې دخپل خوي سره درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضرشوم او خلقو ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم په باره کي ونيلي وو (چې راروان دي) ممکن ده چې مخکي يې نه پيژندلو، ما چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو په دي خبره مجبور شوم چې اومې ونيل واقعي دالله رښتوني نبي دي او دغه وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه شني جامي اغوستلي وي يعني درسول الله پټکي هم شين وو او څادر يي هم شين وو او په يوڅو ويختو يي دبوډاوالي اثار غالب شوي وو ليکن هغه ويخته سره وو.

****

٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ قِيلَ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ أَكَانَ فِي رَأْسِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم شَيْبٌ قَالَ لَمْ يَكُنْ فِي

رَأْسِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم شَيْبٌ إِلا شَعَرَاتٌ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ إِذَا ادَّهَنَ وَارَاهُنَّ الدُّهْنُ.

ترجمه : مروي دي چې دجابر بن سمره رضي الله عنه نه چا تپوس اوکړو چې ايا درسول الله صلي الله عليه وسلم په سر کي سپين ويخته وو؟ جابر په جواب کي اووئيل دسر دبيلولو خاي دکرخو نه علاوه په بل خاي کي يي سپين ويخته نه وو چې د تيلو لګولو په حالت کي به نه ظاهريدل.

****

٦ـ باب ما جاء في خضاب رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دخضاب داستعمال بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو رِمْثَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَعَ ابْنٍ لِي فَقَالَ ابْنُكَ هَذَا فَقُلْتُ نَعَمْ أَشْهَدُ بِهِ قَالَ لا يَجْنِي عَلَيْكَ وَلا تَجْنِي عَلَيْهِ قَالَ وَرَأَيْتُ الشَّيْبَ أَحْمَرَ.

قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ وَأَفْسَرُ لأَنَّ الرِّوَايَاتِ الصَّحِيحَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَبْلُغِ الشَّيْبَ وَأَبُو رِمْثَةَ اسْمُهُ رِفَاعَةُ بْنُ يَثْرِبِيٍّ التَّيْمِيُّ.

ترجمه : دابو رمثه بيان دي فرمائي چې زه دخپل خوي سره درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضرشوم رسول الله راته اوفرمائيل ايا دا ستا خوي دي ماعرض اوکړو هو دا زما خوي دي رسول الله اوفرمائيل ګواه اوسيږه او بيا يي اوفرمائيل دده دجنايت بدله په ده باندي نه ده. ابو رمثه وائي دغه وخت ما درسول الله صلي الله عليه وسلم بعضي ويخته سره شوي اوليدل.

امام ترمذي وائي دخضاب په باره کي دا حديث دټولو نه زيات صحيح او واضح دي ځکه چې صحيح روايتونه په دي باندي دلالت کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اکثر ويخته نه وو سپين شوي، او دابورمثه نوم رفاعه بن يثربي التميمي دي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ شَرِيكٍ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ سُئِلَ أَبُو هُرَيْرَةَ هَلْ خَضَبَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ نَعَمْ قَالَ أَبُو عِيسَى وَرَوَى أَبُو عَوَانَةَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَوْهَبٍ فَقَالَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ.

ترجمه : موهب دابوهريره رضي الله عنه باره کي نقل کړي دي چې دهغوئ نه چا تپوس اوکړو

ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم خضاب استعمالول؟ هغه اوونيل هو استعمال کړي يې دي.
امام ترمذي وائي ابوعوانه دا حديث دعثمان بن عبدالله بن موهب نه نقل کړي دي او هغوئ پخپل سند کي ام سلمه ذکر کړي ده

****

۳_ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ هَارُونَ قَالَ أَنْبَأَنَا النَّضْرُ بْنُ زُرَارَةَ عَنْ أَبِي جَنَابٍ عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ عَنِ الْجَهْدَمَةِ امْرَأَةِ بِشْرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَةِ قَالَتْ أَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ يَنْفُضُ رَأْسَهُ وَقَدِ اغْتَسَلَ وَبِرَأْسِهِ رَدْغٌ مِنْ حِنَّاءٍ أَوْ قَالَ رَدْغٌ شَكَّ فِي هَذَا الشَّيْخُ.

ترجمه : جهذمه چې دبشير بن خصاصيه ښځه ده وائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم دکور نه دوتلو په حال کي ليدلي وو چې غسل يې کړي وو نو په دي وجه يې خپل سر پټولو او په ويښتو يې دنکريزو اثر وو.

****

٤_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ رَأَيْتُ شَعَرَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَخْضُوبًا.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي ليدلي وو چې خضاب يې استعمال کړي وو.

****

۷_ باب ما جاء في كحل رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم د رنجو استعمالولو بيان

۱_ حدثنا محمد بن حميد حدثنا ابو داود هو الطيالسي عن عباد بن منصور عن عكرمة عن ابن عباس : أن النبي صلى الله عليه و سلم قال اكتحلوا بالإثمد فإنه يجلو البصر وينبت الشعر وزعم أن النبي صلى الله عليه و سلم كانت له مكحلة يكتحل بها كل ليلة ثلاثة في هذه وثلاثة في هذه قال وفي الباب عن جابر و ابن عمر ، قال ابو عيسى حديث ابن عباس حديث حسن غريب لا نعرفه على هذا اللفظ إلا من حديث عباد بن منصور حدثنا علي بن حجر و محمد بن يحيى قالا حدثنا يزيد بن هارون عن عباد بن منصور نحوه وقد روي من غير وجه عن النبي صلى الله عليه و سلم أنه قال عليكم بالإثمد فإنه يجلوا البصر وينبت الشعر.

ترجمه : عکرمه دابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کوي چې فرمائيل يې اثمد رانجه

استعمالوئ او په سترګو کي يي اچوئ ځکه چي دا دسترګو نظر تيزوي او بانړه هم ډير رازرغونوي، ابن عباس به دا هم ونيل چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه سرمه داني وه چي دهغي نه به يي دري دري سلائي په هره سترګه کي اچول.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ عَبَّادِ بْنِ مَنْصُورٍ)ح(وَحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَكْتَحِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ بِالإِثْمِدِ ثَلاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ وَقَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ فِي حَدِيثِهِ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ مِنْهَا عِنْدَ النَّوْمِ ثَلاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به داوده کيدو نه مخکي په هره سترګه کي دري سلائي اثمد رانجه اچول. او په يو روايت کي دابن عباس نه منقول دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه سرمه داني وه چي دهغي نه به يي د اوده کيدو وخت کي دري دري سلائي استعمالول (دواړو روايتونو کي فرق دادي چي په روستني روايت کي داثمد لفظ ذکر نشته).

****

٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَيْكُمْ بِالإِثْمِدِ عِنْدَ النَّوْمِ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ.

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اثمد رانجه ضرور استعمالوئ ځکه چي دا نظر روښانه کوي او بانړه ښه رازرغونوي.

****

٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الإِثْمِدُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ.

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو په ټولو رانجو کي اثمد بهترين رانجه دي سترګو په نظر کي اضافه راولي او بانړه هم

راخيږوي.

****

٥_ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُسْتَمِرِّ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَيْكُمْ بِالإِثْمِدِ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ.

ترجمه : ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو په ټولو رانجو کي اثمد بهترين رانجه دي سترګو په نظر کي اضافه راولي او بانړه هم راخيږوي.

****

٨_ باب ما جاء في لباس رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دلباس بيان

١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى وَأَبُو تُمَيْلَةَ وَزَيْدُ بْنُ حُبَابٍ عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْقَمِيصُ.

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها نه منقول دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ټولو جامو کي قميص زيات خوښولو

تشريح :رسول الله صلي الله عليه وسلم وړين لباس استعمالولو اوپه خپو مباکو کي يي پيوند شوي پيزار وو، اود اغوستلو په اشياؤ کي به يي قطعا تکلف نه کولو، او په ټولو کي بهتر لباس د رسول الله صلي الله عليه وسلم يو قميص وو، او چي کله به يي نوي جامي واغوستلي نو دا دعا"اللهم لك الحمد كما كسوتنيه اسئلك خيره وخير ما صنع له" به يي وئيله

اود شين رنګ لباس به يي زيات خوښولو، او کله کله به ورسره د يو څادر نه علاوه نوري جامي نه وي، چي دهغه جامي دوه ګوټونه به يي د ختې مبارك سره وتړل او مونځ به ادا کړو.
اود پټکي مبارك اطراف چي شمله ورته وئيلي شي به يي ددواړو اوږو په مينځ زوړند وو،

دبعضي علماؤ قول دي چې په دغه څادر کي سري سري کربښي وي (1) اود ګس لاس په ګوته کي يې د سپينو زرو ګوتمه وه چې محمدرسول الله ورباندي ليکلي شوى وو، او کله به يې دا ګوتمه دښي لاس په ګوته کي وه، او خوشبو به يې زيات خوښوله ، اود بويويي نه به يې خان ساتلو، او فرمائيل به يې چې الله زما دپاره دنيوي لذت په ببيانو او خوشبو کي اچولى دى، مګر د سترګو يخوالي په مونځ کي دى.

اوپه خوشبو کي به يې غاليه چې يوه مركبه خوشبو وي خوښوله، همدارنګي خالص مشك به يې هم استعمالول، اوکافور او عود به يې لوګي كول، او اثمد چې يو اعلي قسم رانجه دي استعمالول، په ښي سترګه کي به يې دري خله سلايي رابنکلو اوپه ګسه سترګه کي دوه خله، او روغن زيت به يې په ډيره او سر مبارك لګول او مينځ کي به يې يوه ورځ ناغه كوله (2)، اود رانجو په استعمال کي به يې طاق عدد ته ترجيح ورکوله او ددي رعايت به يې کولو،اود ښي طرف نه به يې د هر کار ابتداء كوله مثلا ګومنزول، پيزار خپو كول، اودس كول، بلکه په تمامو كارونو کي به ښي طرف ته په شروع كولو کي ترجيح وركوله، اوپه ائنه کي به يې هم کتل ، او په سفر کي به يې د خان سره دا څيزونه اکثر په اهتمام سره ساتل: تيل، سرمه داني، ائنه، ګومنز، قينچي، مسواك، ستن، تار وغيره ، او رسول الله صلي الله عليه وسلم به د اوده کيدو نه لږ مخکي دري پيري مسواك استعمالولو، اود بيداريدو نه پس هم دتهجدو په وخت کي اود سحر دمونځ وخت کي به يې هم مسواك استعمالولو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم به د ويښي ويستلو دپاره ښکر هم لګولو(3).

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْقَمِيصُ.

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها نه منقول دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په ټولو جامو کي قميص ډير محبوب وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ

---

1. فقهاؤ ليکلي دي چې خالص سري جامي د سړو دپاره مکروه دي مګر سرو کرخو والا بلا کراهت جائز دي (شامي كتاب الكراهية).

2. يعني په دريمه ورځ.

3. ښکر لګول ويني ويستلو ته وئيلي شي.

بِنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أُمِّهِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَلْبَسُهُ الْقَمِيصُ قَالَ هَكَذَا قَالَ زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ فِي حَدِيثِهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أُمِّهِ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ أَبِي تُمَيْلَةَ مِثْلَ رِوَايَةِ زِيَادِ بْنِ أَيُّوبَ وَأَبُو تُمَيْلَةَ يَزِيدُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ أُمِّهِ وَهُوَ أَصَحُّ.

ترجمه: دام سلمه رضي الله عنها نه بعضي راويانو دا هم نقل كړي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته داغوستلو دپاره په ټولو جامو كي قميص ډير محبوب وو.
امام ترمذي واني دارنګي زياد بن ايوب پخپل سند حديث كي بيان كړي دي چې عبدالله بن بريده دخپلي مور نه او هغه دام سلمه رضي الله عنها نه دمذكوره روايت پشان روايت نقل كړي دي، ددينه علاوه ابوتميله دزياد بن ايوب دحديث پشان حديث ذكر كړي دي مګر ابو تميله پخپل حديث كي د عن امه واسطي اضافه كړي ده او همداپه ټولو سندونو كي زيات صحيح دي.

****

٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَجَّاجِ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ بُدَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ مَيْسَرَةَ الْعُقَيْلِيَّ عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِلَى الرُّسْغِ.

ترجمه: داسماء رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دقميص نستونړي دمړوندونو پوري وو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُشَيْرٍ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ لِنُبَايِعَهُ وَإِنَّ قَمِيصَهُ لَمُطْلَقٌ أَوْ قَالَ زِرُّ قَمِيصِهِ مُطْلَقٌ قَالَ فَأَدْخَلْتُ يَدِي فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ..

ترجمه: دقره بن اياس مزني بيان دي فرمائي چې زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي دمزينه قبيلي ديوي ډلي سره دبيعت دپاره حاضر شوم اودرسول الله صلي الله عليه وسلم دقميص تنړۍ كولاو وي نو مادرسول الله صلي الله عليه وسلم په ګريوان كي لاس داخل كړو او دبركت دپاره مي مهر دنبوت مسح كړو.

****

٦ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ وَهُوَ يَتَّكِئُ عَلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرِيٌّ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بِهِمْ وَقَالَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ سَأَلَنِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَوَّلَ مَا جَلَسَ إِلَيَّ فَقُلْتُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ فَقَالَ لَوْ كَانَ مِنْ كِتَابِكَ فَقُمْتُ لأُخْرِجَ كِتَابِي فَقَبَضَ عَلَى ثَوْبِي ثُمَّ قَالَ أَمْلِهِ عَلَيَّ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ لا أَلْقَاكَ قَالَ فَأَمْلَيْتُهُ عَلَيْهِ ثُمَّ أَخْرَجْتُ كِتَابِي فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اسامه بن زيد ته د تکيا کولو په حال کي کور ته راغلو او په دغه وخت کي د رسول الله سره يوه ګلداره يمني کپړه وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دي کي ارام کولو دا کپړه يي دخان نه تاؤ کړي وه او بهر اووتلو او خلقو ته يي مونځ ورکړو، دامام ترمذي دا استاذ استاذ محمد بن فضل وائي يحي بن معين ددي حديث باره کي تپوس اوکړو او هغه په رومبي ځل زما نه داحاديثو لوستلو دپاره راغلي دي نو ما ورته حديث بيانول شروع کړل ما اووئيل حدثنا حماد بن سلمه هغه راته اووئيل که چري تا ماته دخپل کتاب نه احاديث بيان کړي وي نو بيا به ډير قابل داعتماد وو چنانچي زه پاځيدم او ورغلم چې خپل کتاب راوباسم نو هغه زما جامي اونيولي او ونيل يي اول ماته داحديث اوليکه ځکه چې زما سره دا ويره ده چې هسې نه چرته به دوباره مي درسره زما ملاقات اونه شي چنانچي ما دا حديث دهغي دپاره اوليکلو او بيا ما خپل کتاب راوويستلو او هغه ته مي احاديث بيان کړل.

****

٧ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ إِيَاسٍ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ.

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي کله چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم نوي جامه اغوستله نو دخوشحالي داظهار په طور به يي دهغي نوم اخستلو مثلا داسي به يي ونيل الله تعالي دا قميص راکړي دي. دارنګي دپټکي نوم يا څادر وغيره نوم به يي اخستلو او بيا به يي دا دعا ونيله " اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ

لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ." يعني اي الله ستا دپاره تمام تعريفونه دي او ددي جامي په اغوستلو ستاشكر اداء كړو اي الله خاص ستا نه ددي جامي خير غواړم او ددي دمقصد او بنه والي خير درنه غواړم چې دكوم دپاره دا جوړه شوي ده او خاص ستا نه ددي جامي دشر نه پناه غواړم او دهغه كارونو دشر نه په نا پناه غواړم دكومو دپاره چې دا جوړه كړي شوي ده.

****

٨ـ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُونُسَ الْكُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مَالِكٍ الْمُزَنِيُّ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَحْوَهُ.

ترجمه : ابو نضره هم پخپل سند سره دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه اوهغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل حديث هم معني روايت نقل كړي دي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَلْبَسُهُ الْحِبَرَةُ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې په ټولو جامو كي به رسول الله صلي الله عليه وسلم "حبره" جامي خوښولي او دا به يي اغوستلي.

****

١٠ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَرِيقِ سَاقَيْهِ قَالَ سُفْيَانُ أُرَاهَا حِبَرَةً.

ترجمه : دابو جحيفه بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي ليدلي وو چې سره جوړه يي اغوستلي وه او دهغه دپنډو چمك ګويا كي اوس هم زما دستر ګو په وړاندي دي سفيان راوي وائي ماته چې څومره ياد دي هغه سره جوړه منقش (ګلداره) وه.

****

١١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنْ كَانَتْ جُمَّتُهُ لَتَضْرِبُ قَرِيبًا مِنْ مَنْكِبَيْهِ.

ترجمه : دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما هيڅ كله دكومي سري جوړي

اغوستونکي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات بنانسته ليدلي نه دي او دغه وخت کي درسول الله صلي الله عليه وسلم ويخته اوږو ته رسيدونکي وو.

****

١٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ إِيَادٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ.

ترجمه : دابو رمثه بيان دي فرمائي ما چې رسول الله صلي الله عليه وسلم د دوه شنو څادرونو اغوستلو په حال کي ليدلي وو.

****

١٣_ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ حَسَّانَ الْعَنْبَرِيُّ عَنْ جَدَّتَيْهِ دُحَيْبَةَ وَعُلَيْبَةَ عَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ قَالَتْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهِ أَسْمَالُ مُلَيَّتَيْنِ كَانَتَا بِزَعْفَرَانٍ وَقَدْ نَفَضَتْهُ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ.

ترجمه : قيله بنت مخرمه رضي الله عنها وائي مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي ليدلي وو چې دوه زاړه زعفراني رنګ والا څادرونه ورسره وو دزعفرانو څه اثر وربانذي نه وو، او په دي حديث کي يوه اوږده قصه ده.

****

١٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَيْكُمْ بِالْبَيَاضِ مِنَ الثِّيَابِ لِيَلْبِسْهَا أَحْيَاؤُكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ فَإِنَّهَا مِنْ خِيَارِ ثِيَابِكُمْ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي دسپينو جامو استعمال اختيار کړئ ځکه چې دا بهترين لباس دي، او سپيني جامي دژوند په حالت کي اغوستل پکار دي او په سپينو جامو کي مړي دفن کول پکار دي.

****

١٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْبَسُوا الْبَيَاضَ فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ.

ترجمه : سمره بن جندب رضي الله عنه فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي

خلقو ته هم سپيني جامي داغوستلو دپاره ورکوئ ځکه چې دا ډيري پاکي او صافي دي او په همدي کي خپل مړي هم دفن کوئ.

****

١٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ غَدَاةٍ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مِنْ شَعَرٍ أَسْوَدَ.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم د سحر وخت کي دکور نه روان شو او په بدن يي دوړئ تور ځادر وو.

****

١٧ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم لَبِسَ جُبَّةً رُومِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ.

ترجمه: مغيره بن شعبه رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل يوه رومي جغه اغوستلي وه چې نستونړي يي تنګ وو.

****

٩ـ باب ما جاء في عيش رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دمعيشت بيان

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا حماد بن زيد عن أيوب عن محمد بن سيرين قال كُنَّا عِنْدَ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ مُمَشَّقَانِ مِنْ كَتَّان فَتَمَخَّطَ في أحدهما فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ بَخٍ بَخٍ يَتَمَخَّطُ أَبُو هُرَيْرَةَ فِي الْكَتَّانِ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لأَخِرُّ فِيمَا بَيْنَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وحُجْرَةِ عَائِشَةَ رضي الله عنها مَغْشِيًّا عَلَيَّ فَيَجِيءُ الْجَائِي فَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى عُنُقِي يُرَى أَنَّ بِي جُنُونًا وَمَا بِي جُنُونٍ ومَا هو إِلاَّ الْجُوعُ.

ترجمه: دابن سيرين بيان دي چې مونږ يو ورځ دابوهريره رضي الله عنه سره موجود وو چې يو ښکلي او يو ځادر يي په بدن پراته وو او دا دواړه کتاني وو او خړ رنګ والا وو، ابوهريره رضي الله عنه په دي دوه جامو کي په يوي باندي پوزه پاکه کړه او بيا يي په طور دتعجب اووئيل الله، الله، نن ابوهريره دکتان په جامي پوزه پاکوي او يوه زمانه هغه وه چې دمنبر نبوي او دعائشه

رضي الله عنها دحجري په مينځ کي دډيري ولږي په وجه بيهوشه پروت وم او خلقو به زه ليوني ګنړلم او زما په څټ به يي خپې ايخودلي او په حقيقت کي زه ليوني نه وم بلکه دسختي ولږي په وجه مي دا حالت وو.

****

٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جعفر بن سليمان الضبعي عن مالک بن دينار قال مَا شَبِعَ رَسُولِ اللهِ صل الله عليه وسلم مِنْ خُبْزٍ قَط وَلَحم إلاَّ عَلى ضَفَفَ قال مالک بن دينار سألت رجلا من أهل البادية ما الضفف فقال أن يتناول مع الناس.

ترجمه : دمالك بن دينار بيان دي فرمائي چې هيڅ کله رسول الله صلي الله عليه وسلم په ډوډئ او غوښه موړ شوي نه دي (يعني په مړه خيټه يي نه ده خوړلي) مګر دضعف په حالت کي مالك بن دينار وائي ما ديو بانډچي نه دضعف دمعني تپوس اوکړو هغه راته اووئيل ددي معني دخلقو سره يوځاي خوراك کول دي.

****

١٠_ باب ما جاء في خف رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دموزو بيان

١_ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيّ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ دَلْهَمِ بْنِ صَالِحٍ عَنْ حُجَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى لِلنَّبِيِّ صل الله عليه وسلم خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ فَلَبِسَهُمَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا.

ترجمه : دبريده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نجاشي دحبشي بادشاه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته تور رنګ والا دوه دچرمي موزي په هديه کي ليږلي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم واغوستلي او د اودس نه پس يي په دي باندي مسح هم اوکړه.

****

١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَيَّاشٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ قَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ أَهْدَى دِحْيَةُ لِلنَّبِيِّ صل الله عليه وسلم خُفَّيْنِ فَلَبِسَهُمَا وَقَالَ إِسْرَائِيلُ عَنْ جَابِرٍ عَنْ عَامِرٍ وَجُبَّةٌ فَلَبِسَهُمَا حَتَّى تَخَرَّقَا لا يَدْرِي النَّبِيُّ صل الله عليه وسلم أَذَكِيٌّ هُمَا أَمْ لا. قال ابو عيسي هذا هو ابو اسحاق الشيباني واسمه سليمان.

ترجمه : مغيره بن شعبه رضي الله عنه فرمائي دحيه کلبي د دوه موزو نذر منلي وو، او په يو

بل روايت کي د موزو سره دجبي (چغه) پيش کولو ذکر هم راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا اغوستلي تردي پوري چې اوشليدل، رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي خبري تحقيق هم اونکړو چې دا دذبح شوي څاروي دڅمړي نه جوړ دي او که دغير مذبوح دڅمړي نه، امام ترمذي وائي دا ابو اسحاق شيباني دي او دده نوم سليمان دي.

* * * * * * * * * * * * * * *

١١ـ باب ما جاء في نعل رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دپڼړو (پيزار) بيان

١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَالَ قُلْتُ لأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ كَيْفَ كَانَ نَعْلُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَهُمَا قِبَالانِ

ترجمه : قتاده وائي دانس رضي الله عنه نه مي تپوس اوکړو درسول الله صلي الله عليه وسلم پڼړي (پيزار) څنگه وو؟ هغه اووئيل په هر يو پيزار کي يي دوه دوه تسمي وي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قِبَالانِ مُثَنًّى شِرَاكُهُمَا

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دپيزار تسمي ډبل وي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ قَالَ أَخْرَجَ إِلَيْنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَعْلَيْنِ جَرْدَاوَيْنِ لَهُمَا قِبَالانِ فَقَالَ فَحَدَّثَنِي ثَابِتٌ بَعْدُ عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُمَا كَانَتَا نَعْلَيِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه دعيسي بن طهمان بيان دي چې انس رضي الله عنه مونږ ته دوه پيزار راوويستل او مونږ ته يي اوخودل چې وړې وربانديي نه وه ماته بيا ثابت ددينه پس اووئيل دا دواړه پيزارونه رسول الله صلي الله عليه وسلم پڼړي دي.

* * * * * * * * * * * * * * *

٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ

أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ أَنَّهُ قَالَ لابْنِ عُمَرَ رَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ قَالَ إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا.

ترجمه : مروي دي چې عبيد بن جريج دابن عمر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو ته بغير ويختو والا دچمړي پيزار استعمالوي ددي څه وجه ده هغه اوونيل د مارسول الله صلي الله عليه وسلم دداسي پيزار اغوستلو په حال كي ليدلي وو او په دي كي مي د اودس كولو په حال كي ليدلي وو نو په همدي وجه همداسي پيزار خوښوم.

****

٥ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْأَمَةِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قِبَالانِ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم پيزار دوه دوه تسمو والا وو.

٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ السُّدِّيِّ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ عَمْرَو بْنَ حُرَيْثٍ يَقُولُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي فِي نَعْلَيْنِ مَخْصُوفَتَيْنِ.

ترجمه : عمرو بن حريث فرمائي مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي پيزار كي دمونځ كولو په حال كي ليدلي دي چې دويمي چمړي وربوري گنډلي شوي وي.

****

٧ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لا يَمْشِيَنَّ أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه فرمائي ارشاد نبوي دي په يو پيزار كي مزل مه كوئ يا دواړه پخپو كړئ او خئ او يا دواړه اوباسئ.

****

٨ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم نَهَى أَنْ يَأْكُلَ يَعْنِي الرَّجُلَ بِشِمَالِهِ أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ.

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ددينه

منع فرمائيلي ده چې څوك په ګس لاس خوراك اوكړي او يا صرف يوې خپې ته پيزار واغوندي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ ح حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ فَلْتَكُنِ الْيَمِينُ أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې په تاسو كې څوك پيزار خپو كوي نو دښۍ خپې نه دي ابتداء اوكړي او چې كله پيزار اوباسي نو دګسې خپې نه دي ابتداء كوي ښۍ خپه په پيزار اغوستلو كې مقدم كول پكار دي او په ويستلو كې مؤخر كول پكار دي.

****

١٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا أَشْعَثُ هُوَ ابْنُ أَبِي الشَّعْثَاءِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي تَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَطُهُورِهِ.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په ګومنزولو كې او په پيزار اغوستلو كې او د اودس داندامونو په وينځلو كې حت الوسع دښې طرف نه ابتداء كوله.

****

١٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ أَبُو عَبْدِ اللهِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ قَيْسٍ أَبُو مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قِبَالاَنِ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَأَوَّلُ مَنْ عَقَدَ عَقْدًا وَاحِدًا عُثْمَانُ رضي الله عنه.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دوه تسمې وې او همدا رنګې به ابوبكر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما په پيزار كې هم دبل تسمې وې او ديوې تسمې والا دپيزار داستعمال ابتداء عثمان بن عفان رضي الله عنه كړې وه.

****

١٢ـ باب ما جاء في ذكر خاتم رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دګوتمې بيان

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ وَهْبٍ عَنْ يُونُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِنْ وَرِقٍ وَكَانَ فَصُّهُ حَبَشِيًّا.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ګوتمه دسپينو زرو نه جوړه ده او غمي پکې حبشي لګيدلي دي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ فَكَانَ يَخْتِمُ بِهِ وَلا يَلْبَسُهُ. قال ابو عيسي ابو بشر اسمه جعفر بن ابي وحشية.

ترجمه: دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپينو زرو نه ګوته جوړه کړه او په خطونو وغيره تحريراتو به يې په دي باندي مهر لګولو او په لاس کړي به يې وه امام ترمذي وائي دابوبشر نوم جعفر بن ابي وحشيه دي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عُبَيْدٍ هُوَ الطَّنَافِسِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ أَبُو خَيْثَمَةَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ خَاتَمُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ فِضَّةٍ فَصُّهُ مِنْهُ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم ګوتمه دسپينو زرو نه جوړه ده او غمي يې هم دسپينو زرو وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الْعَجَمِ قِيلَ لَهُ إِنَّ الْعَجَمَ لا يَقْبَلُونَ إِلا كِتَابًا عَلَيْهِ خَاتَمٌ فَاصْطَنَعَ خَاتَمًا فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي كَفِّهِ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم عجميانو ته دتبليغي خطونو ليکلو اراده اوکړه نو خلقو به عرض اوکړو چې عجم دمهر نه بغير خط نه قبلوي نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم ګوته جوړه کړه چې دهغې سپينوالي اوس هم زما دنظر په وړاندي دي.

****

٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ نَقْشُ خَاتَمِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُحَمَّدٌ سَطْرٌ وَرَسُولٌ سَطْرٌ وَاللهُ سَطْرٌ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دګوتمي نقش محمد رسول الله صلي الله عليه واله وسلم، وو په داسي شان سره محمد په يوه کرخه کي وو او رسول لفظ په دويمه کرخه کي وو او الله لفظ په دريمه کرخه کي وو.

****

٦_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ أَبُو عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ عَنْ خَالِدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَتَبَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ فَقِيلَ لَهُ إِنَّهُمْ لا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلا بِخَاتَمٍ فَصَاغَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَاتَمًا حَلْقَتُهُ فِضَّةٌ وَنُقِشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم کسري او قيصر او نجاشي ته دتبلغي خطونو ليکلو اراده اوکړه نو خلقو عرض اوکړو اي دالله رسوله دوئ خو داسي خلق دي چې بغير دمهر نه خط نه قبلوي نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم يو مهر جوړ کړو چې حلقه يي دسپينو زرو وه او په دي کي يي محمد رسول الله منقش کړل.

****

٧_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ وَالْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ عَنْ هَمَّامٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا دَخَلَ الْخَلاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ.

ترجمه : انس رضي الله عنه فرماني کله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيت الخلاء ته تلو نو خپله ګوته به يي اوويستله نو بيا به داخل شو.

****

٨_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ فَكَانَ فِي يَدِهِ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ وَيَدِ عُمَرَ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُثْمَانَ حَتَّى وَقَعَ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ نَقْشُهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ.

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپينو زرو

يوه گوه جوړه کړه او دا ګوته درسول الله صلي الله عليه وسلم په لاس کي وه او بيا دابوبکر په لاس کي وه او بيا دعمر په لاس کي وه او بيا دعثمان په لاس کي وه او بيا دهغه په زمانه کي دهغه نه بير اريس ته اوغورځيده او د دي ګوتمي نقش محمد رسول الله وو.

****

۱۳_ باب ما جاء في ان النبي (صلي الله عليه وسلم) كان يتختم في يمينه

باب دي په بيان ددي کي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ګوتمه په ښي لاس کي اچوله

۱_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ عَسْكَرٍ الْبَغْدَادِيُّ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَا أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُنَيْنٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به ګوتمه دښي لاس په ګوته کي اچوله.

****

۲_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ نَحْوَهُ.

ترجمه : سليمان بن بلال هم دشريك بن عبدالله بن ابي نمر نه دماقبل حديث هم معني روايت نقل کړي دي.

****

۳_ حدثنا أحمد بن منيع حدثنا يزيد بن هارون عن حماد بن سلمة قَالَ رأيت ابن أبي رافع يتختم فِي يَمِينِهِ وقَالَ عَبْدِ اللهِ بن جعفر كان رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يتختم فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دحماد بن ابي سلمه بيان دي فرمائي چې ما ابن ابي رافع اوليدلو چې دښي لاس په ګوته کي يي ګوتمه واچوله دي وخت کي عبدالله بن جعفر اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله.

****

٤_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْفَضْلِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دعبدالله بن جعفر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو الخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَيْمُونٍ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنِ الصَّلْتِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ وَلا أَخَالُهُ إِلا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دصلت بن عبدالله بيان دي فرمائي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما به دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله او زه ګمان نه کوم مګر ددي خبري چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله..

* * * * * * * * * * * * * * * *

٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفيان عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَنَهَى أَنْ يَنْقُشَ أَحَدٌ عَلَيْهِ وَهُوَ الَّذِي سَقَطَ مِنْ مُعَيْقِيبٍ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ.

ترجمه نافع دابن عمر رضي الله عنهما په واسطه روايت نقل کوي چې فرمائيل يي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دسپينو زرو نه ګوتمه جوړه کړه او ددي غمي به دورغوي طرف ته وو او په دي کي يي محمد رسول الله اوليکل او ددي خبري نه يي منع اوفرمائيله چې بل څوك دي پخپله ګوته کي دا ليکل نه کوي او دا هغه ګوتمه وه چې دمعيقيب د بئر اريس ته غورځيدلي وه.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٨ـ حَدَّثَنَا قتيبة بن سعيد حَدَّثَنَا حاتم بن إسماعيل عن جَعْفَرِ بن محمد عن أبيه قَالَ كان الحسن والحسين يتختمان في يسارهما.

ترجمه : جعفر بن محمد دخپل پلار نه روایت نقل کوي چې فرمائیل یې حسن او حسین رضي الله عنهما به پخپلو ګسو لاسونو کي ګوتمي اچولي.

****

۹_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى وَهُوَ ابْنُ الطَّبَّاعِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به دښي لاس په ګوته کي ګوتمه اچوله.

****

۱۰_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اتَّخَذَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَكَانَ يَلْبَسُهُ فِي يَمِينِهِ فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَ مِنْ ذَهَبٍ فَطَرَحَهُ صلى الله عليه وسلم وَقَالَ لا أَلْبَسُهُ أَبَدًا فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ.

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائیل یې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم دسپینو زرو نه ګوتمه جوړه کړي وه او دښي لاس په ګوته کي به یې اچوله نو خلقو دسرو زرو نه ګوتمي جوړي کړي رسول الله صلي الله علیه وسلم دا اوغورځولي او ویې فرمائیل هیڅ کله به دا په لاس کي وانه چوم نو خلقو هم خپلي ګوتمي اوغورځولي.

****

۱٤_ باب ما جاء في صفة سيف رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله علیه وسلم دتوري ذکر

۱_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ فِضَّةٍ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله علیه وسلم دتوري موټي دسپینو زرو نه جوړ وو.

د رسول الله صلي الله علیه وسلم اسلحه او اسباب

اود رسول الله صلي الله علیه وسلم سره ۹ توري وي په دوئ کي د یوي نوم ذو الفقار وو، په

غزوه بدر کي د بني الحجاج په مال کي په غنيمت کي راغلي وه، يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم خوب وليدلو چي ددي توري دواړه جوانب رژيدلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم د خوب دا تعبير وويستلو چي مسلمانان به د يو قسم شکست سره مخامخ کيږي، چنانچي په غزوه احد کي ددي تعبير واقع شو.

او دري توري د قلعي او بتار او حتف په نومونو وي چي د بني قينقاع(يوي يهودي قبيلي) نه په مال د غنيمت کي لاس ته راغلي وي، او دوه توري د مخذم او رسوب په نومونو وي وي ، او يوه بله توره وه چي دپلار نه ورته په ميراث کي پاتي شوي وه، بله توره د عضب په نوم وه چي سعد بن عبادة ورکړي وه، او يوه توره دقضيب په نوم وه داد تولو نه اولنۍ توره وه ، دارنګي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره څلور نيزي وي ، په دوئ کي ديوي نوم مثنٰی وو او باقي دري نيزي د بني قينقاع نه په غنيمت کي حاصل شوي وي، او يوه بله وړه نيزه وه چي د اخترونو په مراسمو کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي د ستري په شکل ودرولی شوه، او يوه کوږ او راتاو شوي سر والا همسا وه چي يو لاس لوړ والي يي وو، او يوه بله همسا د عرجون په نوم وه، او يوه نرۍ لختـه يي وه چي ممشـوق به ورته ونيلی شول، او پنځه ليندي او تير کش يي لرلو او دري ډالونه ورسره وو چي د ګس شکل ورباندي جوړ وو، اود هديه په طور راليږلی شوي وه، رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل دواړه لاسونه په دي باندي کيښودل او هغه تصوير غائب شو.

د انس رضي الله عنه بيان دی چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم د تورو نعل او قبيعه[1] د سپينو زرو وو ، د نعل او قبيعه په مينځ کي هم د سپينوزرو حلقي وي.

او دوه ورسره زغري وي چي د بني قينقاع نه ورته په غنيمت کي لاس ته راغلي وي، د يوي نوم سعديه وو اود بلي نوم فضه وو، او چي کومه زغره يي په غزوه حنين کي اغوستلي وه دهغي نوم ذات الفضول وو.

او په يو روايت کي دي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه زغره هغه وه کومه چي داود عليه السلام جوړه کړي وه، (چي د جالوت دقتل کولو په وخت کي يي اغوستلي وه) اود ذو المسبوغ په نوم ورسره يو خود وو او يو ورسره دچمړي منګي وو چي د سپينو زرو دري کړي پکي پرتي وي، اود رسول الله صلي الله عليه وسلم د جنډي رنګ تك سپين وو.

****

٢ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي

---

[1] په توره کي چي د لاس نيولو دپاره د موتي خاي وي دهغي لاندني حصي ته قبيعه او پورتنۍ حصي ته يي نعل ونيلی شي.

الْحَسَنِ قَالَ كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ فِضَّةٍ.

ترجمه دسعيد بن ابي الحسن نه روايت دي فرمائيل يي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دتوري موټي دسپينو زرو وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ صُدْرَانَ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا طَالِبُ بْنُ حُجَيْرٍ عَنْ هُودٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ جَدِّهِ قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ قَالَ طَالِبٌ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْفِضَّةِ فَقَالَ كَانَتْ قَبِيعَةُ السَّيْفِ فِضَّةً.

ترجمه : هود دمور دطرفه نيکه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم چې کله دفتح مکې په ورځ مکې ته داخل شو نو په توره يي سره او سپين زر استعمال شوي وو ددي حديث راوي طالب وائي ما دخپل استاذ نه تپوس اوکړو چې سپين زر يي په کوم ځاي لګيدلي دي هغه راته اووئيل دتوري په موټي لګيدلي وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا محمد بن شجاع البغدادى حَدَّثَنَا أبو عبيدة الحداد عن عثمان بن سعد عن ابن سيرين قال صنعت سيفي على سيف سمرة بن جندب وزعم سمرة أنه صنع سَيْفِه على سيف رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وكان حنيفيا.

حدثنا عقبة بن مكرم البصري قال حدثنا محمد بن بكر عن عثمان بن سعد بهذا الإسناد نحوه.

ترجمه دابن سيرين بيان دي فرمائي چې ما خپله توره دسمره بن جندب رضي الله عنه د توري موافق جوړه کړي وه او هغه به وئيل دسمره توره دررسول الله صلي الله عليه وسلم دتوري پشان جوړه کړي شوي وه او هغه دقبيله بنو حنيفه دتوري په طريقه جوړه شوي وه.

محمد بن بکر هم پخپل سند دعثمان بن سعد نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

****

١٥ـ باب ما جاء في صفة درع رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دزغري بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعِيدٍ الأَشَجُّ قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ

الْعَوَّامِ قَالَ كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ فَنَهَضَ إِلَى الصَّخْرَةِ فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَأَقْعَدَ طَلْحَةَ تَحْتَهُ وَصَعِدَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ أَوْجَبَ طَلْحَةُ.

ترجمه : زبير بن عوام رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دبدن مبارك داحد په جنګ کي دوه زغري وي (يوه ذات الفضول او بله فضه) رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوغټې کمر دختلو اراده اوکړه مګر (هغه لاندي وو او د دوه زغرو وزن هم وو) او همدارنګي په غزوه احد کي چې کوم تکليفونه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته رسيدلي وو دکومو په وجه چې دهغه مخ په وينو لړلي شوي وو نو په دي وجه رسول الله په دغه لوي کمر ختلي نشو نو په دي وجه يې طلحه رضي الله عنه لاندي کينولو او دهغه په ذريعه په دي کمر وروختلو دزبير بن عوام رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا واوريدل چې فرمائيل طلحه (جنت لره يا زما شفاعت لره) واجب کړو.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا.

ترجمه : سائب بن يزيد رضي الله عنه فرمائي درسول الله صلي الله عليه وسلم دجنګ احد په ورځ دوه زغري وي چې لاندي باندي يې اغوستلي وي.

دسائب بن يزيد رضي الله عنه مناقب

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه کندي، امام زهري وائي چې کندي په يمن کي د ازد قبيلي يو شاخ دی مګر په بنوکنانه کي شميرلی شي سائب دعمر کندي خوريی دی ، دهجرت په شلم کال پيدا شوی دی او داوه کالو په عمر کي دخپل پلار سره په حجة الوداع کي شريك شوی دی دده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت کوي ګڼر شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ٨٠ کال وفات شوی دی.

* * * * * * * * * * * * * * * *

١٦ـ باب ما جاء في صفة مغفر رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دخود (داوسپني توپۍ) بيان

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ مِغْفَرٌ فَقِيلَ لَهُ هَذَا ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ

اقْتُلُوهُ.

ترجمه . انس رضي الله عنه فرمائي كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مكي په ورځ دمكي ښار ته داخل شو نو په سر مبارك يې خود وو (رسول الله چې كله خود دسر نه لري كړو او په اطمينان شو) چا عرض اوكړو اي دالله رسوله ابن حطل خو دكعبي پردي نيولي دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل قتل يې كړئ.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ أَحْمَدَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ قَالَ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلُوهُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَبَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا.

ترجمه : انس رضي الله عنه فرمائي كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مكي په ورځ دمكي ښار ته داخل شو نو په سر مبارك يې خود وو (رسول الله چې كله خوت دسر نه لري كړو او په اطمينان شو) چا عرض اوكړو اي دالله رسوله ابن حطل خو دكعبي پردي نيولي دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دي دامن والا دجملي نه نه دي قتل يې كړئ ، زهري وائي ماته دا خبره معلومه شوه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په دغه ورځ احرام نه وو تړلي.

****

١٧ـ باب ما جاء في صفة عمامة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دپټكي بيان

١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ (ح) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ.

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي كله چې رسول الله صلي الله عليه دفتح مكي په ورځ دمكي ښار ته داخل شو او په سرمبارك يې تور پټكي تړلي وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُسَاوِرٍ الْوَرَّاقِ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَخْطُبُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ.

ترجمه دعمرو بن حريث رضي الله عنه بيان دي فرماني چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم په سر مبارك تور پټكي ليدلى وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالا حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ مُسَاوِرٍ الْوَرَّاقِ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ.

ترجمه : دعمرو بن حريث رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل خطبه وركوله او په سر مبارك يې تور پټكي تړلي وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَدَنِيُّ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ قَالَ نَافِعٌ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذَلِكَ قَالَ عُبَيْدُ اللهِ وَرَأَيْتُ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ وَسَالِمًا يَفْعَلانِ ذَلِكَ.

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي فرماني چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم پټكي تړلو نو ددي شمله به يې ددواړو اوږو په مينځ زوړندوله يعني شا طرف ته، نافع واني ما ابن عمر رضي الله عنهما په همداسي عمل كولو ليدلي وو عبيدالله چې دنافع شاگرد دي واني ما پخپله زمانه كي قاسم بن محمد لره چې دابوبكرصديق نوسي دي او سالم بن عبدالله لره چې دعمر فاروق نوسي دي په داسي عمل كولو ليدليدلي وو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو سُلَيْمَانَ وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِصَابَةٌ دَسْمَاءُ.

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم خطبه وركړه او په سر مبارك يې تور پټكي وو (دسماء پټكي ته وئيلي شي او عصابه هغه څيز ته واني چې تور رنگ وركړي شوي وي. المعي)

****

١٨ـ باب ما جاء في صفة ازار رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دلنګ بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ كِسَاءً مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا فَقَالَتْ قُبِضَ رُوحُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي هَذَيْنِ.

ترجمه : دابوبرده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې عائشه رضي الله عنها مونږ ته يو داسې څادر او لنګ اوخودلو چې پيوند پکي لګيدلي وو او فرمائيل يې چې درسول الله صلي الله عليه وسلم وفات په همدې دوه جامو کي شوي دي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ عَنْ شُعْبَةَ عَنِ الأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَمَّتِي تُحَدِّثُ عَنْ عَمِّهَا قَالَ بَيْنَا أَنَا أَمْشِي بِالْمَدِينَةِ إِذَا إِنْسَانٌ خَلْفِي يَقُولُ ارْفَعْ إِزَارَكَ فَإِنَّهُ أَتْقَى وَأَبْقَى فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّمَا هِيَ بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ قَالَ أَمَا لَكَ فِيَّ أُسْوَةٌ فَنَظَرْتُ فَإِذَا إِزَارُهُ إِلَى نِصْفِ سَاقَيْهِ.

ترجمه : دعبيد بن خالد رضي الله عنه بيان دي چې يو ځل زه مديني منوري ته روان وم چې دشا طرفه مي ديو کس نه واوريدل لنګ دي پورته کړه ځکه چې بيا دظاهري او باطني نجاست او تکبر وغيره نه محفوظ پاتي کيږي، دي وخت کي زه اواز کونکي ته متوجه شوم او ورته مي اوکتل نو هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم وو ما عرض اوکړو چې اي دالله رسوله دا يو معمولي شان څادر دي (په دي کي څه تکبر کيدي شي، او ايا ددي حفاظت ته ضرورت شته) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل (که ستا په ذهن کي کوم مصلحت نه وي نو کم از کم) ستا دپارد زما اتباع کافي ده او ما درسول الله صلي الله عليه وسلم ددي خبري کولو په وخت کي دهغه لنګ ته اوکتل نو دپنډو دنيمي پوري وو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ يَأْتَزِرُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ وَقَالَ هَكَذَا كَانَتْ إِزْرَةُ صَاحِبِي يَعْنِي النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دسلمه بن اکوع رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې دعثمان رضي الله عنه لنګ به دپنډئ دنيمي پوري وو او فرمائيل به يې همدا هيئت او کيفيت درسول الله صلي الله عليه

وسلم دلنگ وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ مُسْلِمِ بْنِ نَذِيرٍ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِعَضَلَةِ سَاقِي أَوْ سَاقِهِ فَقَالَ هَذَا مَوْضِعُ الإِزَارِ فَإِنْ أَبَيْتَ فَأَسْفَلَ فَإِنْ أَبَيْتَ فَلا حَقَّ لِلإِزَارِ فِي الْكَعْبَيْنِ.

ترجمه : دحذيفه بن اليمان رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دپنډۍ يا دخپلي پنډۍ څه حصه اونيوله او داسې يې اوفرمائيل دا دلنگ حد دي که ته په دي قناعت نه کوي نو ددينه لږ لاندي هم خير دي او که په دي هم قناعت نه کوي نو دلنگ گيټو ته درسيدو هيڅ حق نشته لهذا دگيټو پوري رسول ددي پکار نه دي.

****

١٩ـــ باب ما جاء في مشية رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم درفتاربيان

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ أَبِي يُونُسَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ وَلا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مِشْيَتِهِ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَأَنَّمَا الأَرْضُ تُطْوَى لَهُ إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه هيچرته زيات ښائسته بل څوك نه دي ليدلي (دمخ دنورانيت يي دا حال وو)لکه چې مخ يي پرقيږي او مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات تيز رفتار هم څوك نه دي ليدلي داسې به ښکاريده لکه چې زمکه ورته رانغښتلي کيږي (په لږ ساعت کي به دچرته نه چرته رسيدلو) مونږ چې به ورسره روان وو نو په مشقت به تللو او هغه به په خپل طبيعت روان وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ أَخْبَرَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ كَانَ إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ.

ترجمه : دابراهيم بن محمد بيان دي علي رضي الله عنه چې به کله درسول الله صلي الله عليه

وسلم ذكر كولو نو داسي به يي فرمائيل كله چې به رسول الله روان وو نو په همت او طاقت سره به يي خپه اوچتوله راو دبنځو پشان به يي خپې په خان پسې نه رابنکلي، په رفتار كي به يي تيزي كوله او دطاقت په لحاظ به داسي بنكاريدو لكه چې څوك دلوړي نه لاندي كوزيږي

****

٣ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنِ الْمَسْعُودِيِّ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ

ترجمه : دعلي رضي الله عنه بيان دي كله چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم روان وو سر به يي مخې طرف ته لږ ټيټ بنكاريدو داسي به بنكاريدو لكه چې دلوړي نه كوزيږي

****

٢٠ ـ باب ما جاء في تقنع رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دقناع بيان

قناع هغه جامه ده كومه چې دپټكي دلاندي په سر خوروللي شي ددي دپاره چې دتيلو په وجه پټكي ګنده نشي

١ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ صَبِيحٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به پخپل سر مبارك اكثر كپړه ايخودله او درسول الله صلي الله عليه وسلم دا كپړه دغوړوالي په وجه داسي بنكاريده لكه چې دتيلي كپړه وي.

****

٢١ـ باب ما جاء في جلسة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم د ناستي بيان

١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَسَّانَ عَنْ جَدَّتَيْهِ عَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ أَنَّهَا رَأَتْ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ قَالَتْ فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم الْمُتَخَشِّعَ فِي الْجِلْسَةِ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ.

ترجمه : دقيله بنت مخرمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما رسول الله سلي الله عليه

وسلم په مسجد کي په داسي عاجزانه ناستي ليدلي وو چې ما باندي درعب په وجه رپيدل راغلل.

****

١ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم مُسْتَلْقِيًا فِي الْمَسْجِدِ وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الأُخْرَى.

ترجمه: دعباد بن تميم دتره عبدالله بن زيد نه مروي دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په مسجد کي دستوني ستق پريوتو په حال کي ليدلي وو او دغه وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه خپه په بلي خپي اړولي وه.

****

٢ـ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَدَنِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الأَنْصَارِيُّ عَنْ رُبَيْحِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ احْتَبَى بِيَدَيْهِ.

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم مسجد ته لاړو نو احتباء به يي کوله (احتباء ديته وئيلي شي چې زنګنان دملا سره په يو ټادر اوتړلي شي او لاسونه بهر پريخودلي شي).

****

٢٢ـ باب ما جاء في تكأة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دتکيه کولو د ناستي دحالت ذکر

١ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ.

ترجمه: دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم په يوه تکيه باندي دډډي وهلو په حال کي ليدلي وو چې گس طرف ته يي ايخودلي شوي وه.

****

٢ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ قَالَ حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ

بْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَلا أُحَدِّثُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الإِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ قَالَ وَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَكَانَ مُتَّكِئًا قَالَ وَشَهَادَةُ الزُّورِ أَوْ قَوْلُ الزُّورِ قَالَ فَمَا زَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ.

ترجمه : دابوبكره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو ته په لويو ګناهونو كي يوه ګناه بيان كړم صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله ضرور يي راته بيان كړه وبي فرمائيل دالله تعالي سره شريك مقررول، او دمور او پلار نافرماني كول او په دروغه ګواهي وركول يا دروغ وئيل (دراوي شك دي چې په دي دواړو الفاظو كي يي كوم لفظ فرمائيلي) او دغه وخت كي رسول الله صلي الله عليه وسلم كوم ځيز ته ډډه وهلي وه او د دروغو دذكر كولو په وخت كي ددي داهتمام په وجه نيغ كيناستو او بار بار به يي وئيل ترديي پوري چې مونږ دا تمنا اوكړه چې كاش رسول الله سكوت اختيار كړي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَرِيكٌ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَمَّا أَنَا فَلا آكُلُ مُتَّكِئًا.

ترجمه : دابوجحيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه خو د ډډي وهلو په حالت كي خوراك نه كوم.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لا آكُلُ مُتَّكِئًا.

ترجمه : دابوجحيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه د ډډي وهلو په حالت كي خوراك نه كوم.

****

٥ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ قَالَ أَبُو عِيسَى لَمْ يَذْكُرْ وَكِيعٌ عَلَى يَسَارِهِ وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ نَحْوَ رِوَايَةِ وَكِيعٍ وَلا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَى فِيهِ عَلَى يَسَارِهِ إِلا مَا رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ.

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم کوم ځيز ته د ډډې وهلو په حال کي ليدلي وو.
امام ترمذي وائي وکيع پخپل روايت کي "علي يساره" الفاظ نه دي ذکر کړي او دارنګي داسرائيل نه علاوه دنورو راويانو په شان روايت ذکر کوي او دهغوئ په روايت کي ديساره ذکر نشته مګر اسحاق بن منصور او اسرائيل په روايت کي علي يساره الفاظ ذکر دي.

****

٢٣ ـ باب ما جاء في اتكاء رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

دتکيه نه علاوه په کوم کس با ندي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دځان ټينګولو بيان

١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ شَاكِيًا فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرِيٌّ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بِهِمْ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يوه ورځ درسول الله صلي الله عليه وسلم طبيعت برابر نه وو نو په دي وجه يي دحجري نه داسامه په اوګه لاس اچولي وو او بهر راووتلو او صحابه کرامو ته يي مونځ ورکړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم په دغه وخت کي يو يمني منقش (ګلدار) څادر دځان نه تاو کړي وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ قَالَ حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ مُسْلِمٍ الْخَفَّافُ الْحَلَبِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي مَرَضِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ وَعَلَى رَأْسِهِ عِصَابَةٌ صَفْرَاءُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ يَا فَضْلُ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ اشْدُدْ بِهَذِهِ الْعِصَابَةِ رَأْسِي قَالَ فَفَعَلْتُ ثُمَّ قَعَدَ فَوَضَعَ كَفَّهُ عَلَى مَنْكِبِي ثُمَّ قَامَ فَدَخَلَ فِي الْمَسْجِدِ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ.

ترجمه دفضل بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې زه دمرض الوفات په موقعه رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او دغه وخت دهغوئ په سر مبارک يوه زيړه پټئ تړلي شوي وه ما سلام عرض کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلام دجواب نه پس اوفرمائيل اي فضل په دي پټئ زما سر مضبوط اوتړه پس ما هم هغه شان اوکړل. بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم کيناستو او زما په اوګه يي لاس کيخودو او اودريدو او بيا

مسجد ته لاړو، او په دي حديث كي يو د تفصيلي قصه ده.

****

٢٤ _ باب ما جاء في صفة اكل رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د خوراك بيان

١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنِ ابْنٍ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَلْعَقُ أَصَابِعَهُ ثَلاثًا قَالَ أَبُو عِيسَى وَرَوَى غَيْرُ مُحَمَّدِ بْنِ بَشَّارٍ هَذَا الْحَدِيثَ قَالَ يَلْعَقُ أَصَابِعَهُ الثَّلاثَ.

ترجمه : د كعب بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به د خوراك كولو نه پس به خپل ګوتي دري پيري څټلي.

امام ترمذي وايي چي د محمد بن بشار نه علاوه راويانو دا حديث په دي الفاظو بيان كړی دی چي ويلعق اصابعه الثلاث ، يعني دري واړه ګوتي به يي څټلي.

****

٢_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلالُ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلاثَ.

ترجمه : د انس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم خوراك اوكړو نو خپلي ګوتي به يي څټلي.

****

٣_ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ الصُّدَائِيُّ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِسْحَاقَ يَعْنِي الْحَضْرَمِيَّ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَمَّا أَنَا فَلا آكُلُ مُتَّكِئًا.

ترجمه : د ابو جحيفه رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه خو د ډډي وهلو په حال كي خوراك نه كوم.

****

٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ نَحْوَهُ.

ترجمه : سفيان هم دعلي بن اقمر نه دماقبل روايت هم معني حديث نقل كړي دي.

****

٥ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنِ ابْنِ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ بِأَصَابِعِهِ الثَّلَاثِ وَيَلْعَقُهُنَّ.

ترجمه : دكعب بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم عادت شريفه دا وو چې خوراك به يي په دري ګوتو كولو او بيا به يي هغه څټلي هم.

****

٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ سُلَيْمٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِتَمْرٍ فَرَأَيْتُهُ يَأْكُلُ وَهُوَ مُقْعٍ مِنَ الْجُوعِ.

ترجمه : انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي يو خل نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته كجوري راوړلي شوي نو هغه يي اوخوړلي او دغه وخت كي رسول الله دولږي په وجه پخپل زور نه وو ناست بلكه دكوم بل څيز په زور يي خان تينګ كړي وو.

****

٢٥ـ باب ما جاء في صفة خبز رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دډوډئ ذكر

١ـ حدثني مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات كيدو پوري دهغه اهل او عيال دوه ورځي مسلسل د وربشو ډوډئ په مړه خيټه نه ده خوړلي،چې يوه ورځ به وه نو په دويمه ورځ به نه وه،

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَرِيزُ بْنُ عُثْمَانَ عَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ الْبَاهِلِيَّ يَقُولُ مَا كَانَ يَفْضُلُ عَنْ أَهْلِ بَيْتِ رَسُولِ اللهِ صلى

الله عليه وسلم خُبْزُ الشَّعِيرِ.

ترجمه : دابو امامه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په كور كي دوربشو ډوډئ هيڅ كله دزياتيدو په صورت كي ديو وخت نه بل وخت ته نه ده پاتي شوي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَبِيتُ اللَّيَالِيَ الْمُتَتَابِعَةَ طَاوِيًا هُوَ وَأَهْلُهُ لا يَجِدُونَ عِشَاء وَكَانَ أَكْثَرُ خُبْزِهِمْ خُبْزَ الشَّعِيرِ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم او دهغه كورنئ به ډيري شپي مسلسل په ولږه تيرولي او دشپې دپاره به دخوراك كوم څيز موجود نه وو او اكثر خوراك دهغوئ دوربشو ډوډئ وه او هغه هم كله كله او كله كله به دغنمو ډوډئ هم ملاويدله.

****

٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الْحَنَفِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّهُ قِيلَ لَهُ أَكَلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم النَّقِيَّ يَعْنِي الْحُوَّارَى فَقَالَ سَهْلٌ مَا رَأَى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم النَّقِيَّ حَتَّى لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَعَالَى فَقِيلَ لَهُ هَلْ كَانَتْ لَكُمْ مَنَاخِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ مَا كَانَتْ لَنَا مَنَاخِلُ قِيلَ كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِالشَّعِيرِ قَالَ كُنَّا نَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مِنْهُ مَا طَارَ ثُمَّ نَعْجِنُهُ.

ترجمه : مروي دي چې دسهل بن سعد رضي الله عنه نه چا تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپينو او چاڼ شوو اوړو ډوډئ خوړلي ده؟ هغه په جواب كي اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم مخي ته داخر عمر پوري هيڅ كله دچاڼ شوو اوړو ډوډئ نه ده راغلي بيا تپوس كونكي تپوس اوكړو چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي تاسو سره غلبيلونه وو؟ هغه اووئيل نه. تپوس كونكي تپوس اوكړو بيا به مو دوربشو ډوډئ څنګه پخوله (څكه چې په دي كي خو بوس وو) سهل په جواب كي اووئيل اوړو ته به مو پوكي كول او چې غټ بوس وو هغه به والوتل او باقي به مو په اوړو كي اخكل.

****

٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ يُونُسَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَا أَكَلَ نَبِيُّ اللهِ عَلَى خِوَانٍ وَلا فِي سُكُرَّجَةٍ وَلا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ قَالَ فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ فَعَلامَ كَانُوا يَأْكُلُونَ قَالَ عَلَى هَذِهِ السُّفَرِ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ يُونُسُ هَذَا الَّذِي رَوَى عَنْ قَتَادَةَ هُوَ يُونُسُ الإِسْكَافُ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم هيڅ كله په ميز باندي خوراك نه دي كړي او نه په وړو وړو كاشوغو باندي او نه دهغه دپاره چپاتۍ پخې كړي شوي دي، يونس راوي واني ما دقتاده رضي الله عنه نه تپوس اوكړو چې ميز نه وو نو بيا به خوراك په څه څيز ايخودلي كيدو ؟ هغه اوونيل په همدي دچمړي په دسترخوان باندي.

****

٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيُّ عَنْ مُجَالِدٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَدَعَتْ لِي بِطَعَامٍ وَقَالَتْ مَا أَشْبَعُ مِنْ طَعَامٍ فَأَشَاءُ أَنْ أَبْكِيَ إِلا بَكَيْتُ قَالَ قُلْتُ لِمَ قَالَتْ أَذْكُرُ الْحَالَ الَّتِي فَارَقَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الدُّنْيَا وَاللهِ مَا شَبِعَ مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ مَرَّتَيْنِ فِي يَوْمٍ واحد.

ترجمه: دمسروق رضي الله عنه بيان دي فرماني چې زه عانشه رضي الله عنها كره ورغلم هغوئ زما دپاره دوډئ راوغوښتله او راته يي اوفرمانيل چې زه هيڅ كله په مړه خيټه خوراك نه كوم او زما اكثر ژړا ته زړه كيږي پس بيا په ژړا شوه، مسروق ورنه تپوس اوكړو چې ژړا ته دي ولي زړه كيږي؟ ام المؤمنين اوفرمانيل ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم هغه حالت راياديږي په كوم چې هغه زمونږ نه جدا شوي دي چې هيڅكله يي يوه ورځ كي دوه خله غوښه يا دوډئ په مړه خيټه نه ده خوړلي (يعني داسي موقعه درباندي نه ده راغلي چې ورځ كي يي دوه وخته غوښه يا دوډئ په مړه خيټه خوړلي وي)

****

٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ.

ترجمه: دعانشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په تول

عمر کي دوربشو ډوډۍ هم دوه ورځي پرله پسي په مړه خېټه نه ده خوړلي.

****

٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا أَكَلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى خِوَانٍ وَلا أَكَلَ خُبْزًا مُرَقَّقًا حَتَّى مَاتَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم داخري عمره پوري هيڅ کله په ميز باندي خوراك نه دي کړي او نه يې د غلبيل شوو اوړو ډوډۍ خوړلي ده.

****

٢٦ـ باب ما جاء في صفة ادام رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دترکارۍ ذکر

١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ عَسْكَرٍ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالا حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلالٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ نِعْمَ الإِدَامُ الْخَلُّ.

قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ فِي حَدِيثِهِ نِعْمَ الإِدَامُ أَوِ الأُدْمُ الْخَلُّ.

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سرکه ډيره ښکلي ترکاري ده. عبد الله بن عبد الرحمن پخپل حديث کي نعم الادام الخل، الفاظ نقل کړي دي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صلى الله عليه وسلم وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلأُ بَطْنَهُ.

ترجمه : دنعمان بن بشير رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ايا تاسو ته دخپلي خوښي دخوراك او څښاك ښه ډير نعمتونه حاصل نه دي او حال دادي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چې دهغوئ سره دمعمولي قسم کجورو دومره مقدار نه پوره کيدو چې خېټه ورباندي ډکه شوي وي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم نِعْمَ الإِدَامُ الأُدْمُ الْخَلُّ.

ترجمه دجابر رضي الله عنه نه هم مروي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سرکه ډيره ښکلي ترکاري ده

****

٤ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ فَأُتِيَ بِلَحْمِ دَجَاجٍ فَتَنَحَّى رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ مَا لَكَ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُهَا تَأْكُلُ شَيْئًا فَحَلَفْتُ أَنْ لَا آكُلَهَا قَالَ ادْنُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ لَحْمَ دَجَاجٍ.

ترجمه زهدم وائي زه دابوموسي اشعري رضي الله عنه سره موجود وم او په دغه وخت کي مغوږته دخوراك دپاره دچرګي غوښه راوړلي شوه په ناستو کسانو کي يو کس شاته وراندي شو ابو موسي اشعري رضي الله عنه ورنه دوروسته کيدو دوجي تپوس اوکړو هغه اووئيل ما چرګه د ګندګئ په خوراك ليدلي ده او په همدي وجه مي دچرګي دنه خوړلو قسم خوړلي ابو موسي اشعري ورته اوفرمائيل راشه او بي تکلفه يي اوخوره ما پخپله رسول الله صلي الله عليه وسلم دچرګي دغوښي په خوراك ليدلي وو که چري دا ناجائزه وي او يا ښه څيز نه وي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به نه وه خوړلي وه.

****

٥ـ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ الأَعْرَجُ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُمَرَ بْنِ سَفِينَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَحْمَ حُبَارَى.

ترجمه دسفينه رضي الله عنها بيان دي فرماني چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم سره دحباري زاني، مرغئ غوښه خوړلي وه.

تشريح: علامه دميري په حيات الحيوان کي ليکلي دي حباري رچي پښتو کي ورتهزاني، وايي دکيکر پشان يوه مرغئ ده البته پندئ يي دکيکر نه اوږدي وي او دا زمونږ په علاقو کي نه موندليل کيږي منجد والاددي تصوير هم شائع کړي دي او دا مرغئ په بي وقوفئ کي مشهوره ده لکه چې وئيلي شي حباري دبي وقوفئ باوجود هم دخپلو بچو سره محبت کوي او

دالوتلو چل ورته ښايي، حباري مرغۍ په اتفاق داهل علمو حلال ده لکه چې ددي روايت نه معلوميږي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ الْقَاسِمِ التَّمِيمِيِّ عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ قَالَ فَقَدَّمَ طَعَامَهُ وَقَدَّمَ فِي طَعَامِهِ لَحْمَ دَجَاجٍ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَيْمِ اللهِ أَحْمَرُ كَأَنَّهُ مَوْلًى قَالَ فَلَمْ يَدْنُ فَقَالَ لَهُ أَبُو مُوسَى ادْنُ فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَكَلَ مِنْهُ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ فَحَلَفْتُ أَنْ لا أَطْعَمَهُ أَبَدًا.

ترجمه : دزهدم بيان دي فرمائي چې زه ابو موسي اشعري رضي الله عنه سره موجود وم اودغه وخت کي هغوئ ته خوراك راوړلي شو چې دچرګ غوښه هم پکي وه، په دغه مجمع کي دبنو تميم قبيلي يو کس هم ناست وو چې سور رنګ والا وو او ظاهرا ازاد کړي شوي غلام معلوميدو هغه دمجلس نه شاته کيدل اختيار کړل نو ابوموسي اشعري ورته اوفرمائيل را نزدي شه او هغه ته يي درسول الله صلي الله عليه وسلم دچرګ دغوښې دخوړلو معامله ذکر کړه هغه خپل عذر بيان کړو چې ما چرګ دداسي څيزونو په خوراك ليدلي وو دکوم په وجه چې زما دچرګ نه کرکه پيدا شوي وه او په دي وجه ما دچرګ دغوښي نه خوړلو قسم خوړلي دي.

****

٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ وَأَبُو نُعَيْمٍ قَالا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عِيسَى عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ يُقَالُ لَهُ عَطَاء عَنْ أَبِي أَسِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ.

ترجمه : دابواسيد رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زيتون تيل دخوراك دپاره هم استعمالوئ او دمالش دپاره يي هم استعمالوئ ځکه چې دا دبرکتي وني تيل دي.

****

٨ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ قَالَ أَبُو عِيسَى وكَانَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ يَضْطَرِبُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ فَرُبَّمَا أَسْنَدَهُ وَرُبَّمَا أَرْسَلَهُ.

ترجمه دامیرالمؤمنین عمرفاروق رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دزیتون میوه خورئ او په تیلو یي مالش کوئ ځکه چې دا دبرکتي وني نه پیدا کیږي، امام ترمذي وائي عبدالرزاق : په دي حدیث کي په اضطراب کي واقع شوي دي ځکه چې هغه دا روایت کله مسند بیانوي او کله یي مرسل بیانوي.

****

۹_ حَدَّثَنَا السِّنْجِيُّ وَهُوَ أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ مَعْبَدٍ السِّنْجِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عُمَرَ.

ترجمه : معمرو پخپل سند دزید بن اسلم نه او هغه دخپل پلار په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دماقبل هم معني روایت نقل کړي دي او پخپل سند کي یي دامیرالمؤمنین عمرفاروق واسطه نه ده ذکر کړي.

****

۱۰_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَا حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُعْجِبُهُ الدُّبَّاءُ فَأُتِيَ بِطَعَامٍ أَوْ دُعِيَ لَهُ فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُهُ فَأَضَعُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ لِمَا أَعْلَمُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به کدو ډیر خوښولو یو ځل رسول الله صلي الله علیه وسلم ته خوراك راوړلي شو او یا داچې رسول الله کوم دعوت ته تلي وو (په دي دواړو کي دراوي شك دي) په کوم کي چې کدو هم موجود وو چونکه ماته معلومه وه چې کدو درسول الله صلي الله علیه وسلم خوښ دي نو په دي وجه به مي دکدو ټوټې لټولي او په کاسه کي به مي درسول الله مخي ته وړاندي کولي.

****

۱۱_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ حَكِيمِ بْنِ جَابِرٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَرَأَيْتُ عِنْدَهُ دُبَّاءً يُقَطَّعُ فَقُلْتُ مَا هَذَا قَالَ نُكَثِّرُ بِهِ طَعَامَنَا. قال ابو عيسى و جابر هذا هو جابر بن طارق ويقال ابن ابي طارق وهو رجل من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا يعرف له الا هذا الحديث الواحد. وابو خالد اسمه سعد.

ترجمه : جابر بن طارق رضي الله عنه دخپل پلار نه روایت نقل کوي چې فرمائیل یي یو ځل زه

درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او ما اوکتل چې دهغوئ په وړاندي کدو د وړو وړو تکړو په شکل کي کټ کيږي ماعرض اوکړو ددينه څه جوړوئ؟ رسول الله اوفرمائيل په دي طريقه په ترکارئ کي زياتوالي راځي، امام ترمذي وائي دجابر نه مراد جابر بن طارق دي، ونيلي شوي دي چې ابن ابي طارق درسول الله صلي الله عليه وسلم په صحابه کرامو کي يو کس دي او دي صرف په همدي يو حديث باندي پيژندلي کيږي، او دابوخالد نوم سعد دي.

****

١٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم لِطَعَامٍ صَنَعَهُ قَالَ أَنَسٌ فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم خُبْزًا مِنْ شَعِيرٍ وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاء وَقَدِيدٌ قَالَ أَنَسٌ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاء حَوَالَي الْقَصْعَةِ فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاء مِنْ يَوْمِئِذٍ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو ځل يو درزي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دخوراك دعوت ورکړو او زه ورسره دخوراك دپاره حاضر شوم هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره داوربشو ډوډئ او دکدو او دغوښي شوروا پخه کړي وه مارسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې دکاسي په ګوټونو کي يي دکدو تکړي لټولی او ددغه وخت نه زما دکدو سره محبت پيدا شوي دي.

****

١٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ وَسَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالُوا حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ الْحَلْوَاء وَالْعَسَلَ.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم خواږه څيزونه او شهد خوړل ډير خوښول.

****

١٤ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ أَنَّ عَطَاء بْنَ يَسَارٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا قَرَّبَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ

صلى الله عليه وسلم جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلاةِ وَمَا تَوَضَّأَ.

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دېوختو غوښه پیش کړه او ويې خوړله او بغير د اودس تازه کولو نه يې مونځ اوکړو.

****

١٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ زِيَادٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ أَكَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم شِوَاءً فِي الْمَسْجِدِ.

ترجمه : دعبدالله بن حارث رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مسجد کې وريته کړې شوې غوښه اوخوړله.

****

١٦_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ أَبِي صَخْرَةَ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ضِفْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأُتِيَ بِجَنْبٍ مَشْوِيٍّ ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ فَحَزَّ لِي بِهَا مِنْهُ قَالَ فَجَاءَ بِلالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلاةِ فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ فَقَالَ مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ قَالَ وَكَانَ شَارِبُهُ قَدْ وَفَى فَقَالَ لَهُ أَقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ أَوْ قُصَّهُ عَلَى سِوَاكٍ.

ترجمه : دمغيره بن شعبه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه يوه شپه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ميلمه شوم چې په خوراك كې يو وريت كړې شوې دخاروي لاس راوړلي شو رسول الله صلي الله عليه وسلم به دهغې نه په چاكو لږه لږه كټ كوله او ماته به يې وړاندې كوله په همدې دوران كې بلال رضي الله عنه راغلو او دمونځ دوخت پوره كيدو خبر يې وركړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دده دواړه لاسونه دې په خاورو ككړ شي په ده څه شوي دي چې په داسې موقعه خبر وركوي او بيا يې چاړه كيخوده او دمونځ دپاره روان شو مغيره وائي دويمه واقعه ماته دا پيښه شوې ده چې زما بريتونه ډير غټ شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سر رانزدې كړه چې مسواك ورنه لاندې كيږم او كټ يې كړم.

****

١٧_ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دكوم خاي نه غوښه راوليږلې شوه، او په دي كي يو لاس درسول الله صلي الله عليه وسلم مخي ته كيخودي شو رسول الله په غاښونو شوكوله او خوړله يې (يعني په چاړه وغيره يې كټ نكړه (په غاښونو دخوړلو ترغيب هم رسول الله صلي الله عليه وسلم وركړي) چنانچې په يو حديث كي راغلي دي چې غوښه په غاښونو كټ كوئ او خورئ يې دي طريقي سره ښه هضم كيږي او د بدن سره زيات موافقت پيدا كوي (داحديث په ابواب الاطعمه باب ماجاء في اكل الشعير، كي تير شوي دي).

****

١٨_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ عَنْ زُهَيْرٍ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ عَنِ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ سَعْدِ بْنِ عِيَاضٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ قَالَ وَسُمَّ فِي الذِّرَاعِ وَكَانَ يَرَى أَنَّ الْيَهُودَ سَمُّوهُ.

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به ذراع يعني دمټ غوښه خوښوله او په همدي كي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته زهر وركړې شوي وو او گمان دا كيدي شي چې زهر ورته يهوديانو وركړي وو.

****

١٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ قَالَ طَبَخْتُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قِدْرًا وَقَدْ كَانَ يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ فَنَاوَلْتُهُ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ وَكَمْ لِلشَّاةِ مِنْ ذِرَاعٍ فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي الذِّرَاعَ مَا دَعَوْتُ.

ترجمه : دابو عبيده رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره تركاري پخه كړه او ماته معلومه وه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په خاروي كي لاس خوښوي نو په دي وجه ورته ما يو لاس پيش كړو بيا رسول الله بل هم اوغوښتلو نو ما ورته دويم هم پيش كړو بيا يې دريم اوغوښتلو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله دچيلئ خو دوه لاسونه وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار كي چې زما روح دي كه چري ته چپ پاتي شوي وي نو ما چې درنه څو پوري غوښتلي مسلسل به ددي ديگچي نه دچيلئ لاسونه راوتلو.

****

٢٠_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبَّادٍ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَتِ الذِّرَاعُ أَحَبَّ اللَّحْمِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلَكِنَّهُ كَانَ لا يَجِدُ اللَّحْمَ إِلا غِبًّا وَكَانَ يَعْجَلُ إِلَيْهَا لأَنَّهَا أَعْجَلُهَا نُضْجًا.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرماني چې دلاس غوښه رسول الله صلي الله عليه وسلم دلذت او خوړوالي په وجه نه خوښوله مګر غوښه چونکه کله کله وي او دا ډير زر بدبويه کيږي نو ځکه رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خوښوله تردي چې ډير زر ورنه فارغ شي او بيا پخپل مقاصد عاليه کي مشغول شي.

****

٢١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ قَالَ سَمِعْتُ شَيْخًا مِنْ فَهْمٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ جَعْفَرٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ إِنَّ أَطْيَبَ اللَّحْمِ لَحْمُ الظَّهْرِ.

ترجمه : دعبدالله بن جعفر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دخاروي دملا غوښه ډيره بهترينه غوښه ده.

****

٢٢_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُؤَمَّلِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ نِعْمَ الإِدَامُ الْخَلُّ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي سرکه ډيره بهترينه ترکاري ده.

****

٢٣_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ عَنْ ثَابِتٍ أَبِي حَمْزَةَ الثُّمَالِيِّ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ أَعِنْدَكِ شَيْءٌ فَقُلْتُ لا إِلا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ فَقَالَ هَاتِي مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدْمٍ فِيهِ الخل.

ترجمه : دام هاني (درسول الله صلي الله عليه وسلم دتره لور) رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فتح مکي په ورځ زمونږ کره راغلو او وېې فرمائيل تاسره دخوراك دپاره څه شته؟ ما عرض اوکړو هو دوډئ او سرکه ده راته يې اوفرمائيل راوړه او هغه

کور دترکارئ نه خالي نه وي په کوم کي چې سرکه موجود وي.

****

٢٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ.

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعائشې فضيلت په تمامو ښځو داسي دي څنګه چې دثريد (په شوروا کي ماته کړي ډوډۍ) فضيلت دي په نورو ټولو خوراکونو.

****

٢٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ الأَنْصَارِيُّ أَبُو طُوَالَةَ أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دعائشې فضيلت په تمامو ښځو داسي دي څنګه چې دثريد (په شوروا کي ماته کړي ډوډۍ) فضيلت دي په نورو ټولو خوراکونو.

****

٢٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم تَوَضَّأَ مِنْ أَكْلِ ثَوْرِ أَقِطٍ ثُمَّ رَآهُ أَكَلَ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې دپنير يوي ټکړي خوړلو نه پس يي اودس اوکړو او يو ځل بيا مي اوليدو چې دچيلۍ غوښه يي اوخوړله او نوي اودس يي اونکړو.

****

٢٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ وَائِلِ بْنِ دَاوُدَ عَنِ ابْنِهِ وَهُوَ بَكْرُ بْنُ وَائِلٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَوْلَمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى صَفِيَّةَ بِتَمْرٍ وَسَوِيقٍ.

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دصفيه رضي الله عنها وليمه په كجوررواو ستوانو كړي وه .

****

٢٨_ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي فَائِدٌ مَوْلَى عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ وَابْنَ عَبَّاسٍ وَابْنَ جَعْفَرٍ أَتَوْهَا فَقَالُوا لَهَا اصْنَعِي لَنَا طَعَامًا مِمَّا كَانَ يُعْجِبُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَيُحْسِنُ أَكْلَهُ فَقَالَتْ يَا بُنَيَّ لا تَشْتَهِيهِ الْيَوْمَ قَالَ بَلَى اصْنَعِيهِ لَنَا قَالَ فَقَامَتْ فَأَخَذَتْ مِنْ شَعِيرٍ فَطَحَنَتْهُ ثُمَّ جَعَلَتْهُ فِي قِدْرٍ وَصَبَّتْ عَلَيْهِ شَيْئًا مِنْ زَيْتٍ وَدَقَّتِ الْفُلْفُلَ وَالتَّوَابِلَ فَقَرَّبَتْهُ إِلَيْهِمْ فَقَالَتْ هَذَا مِمَّا كَانَ يُعْجِبُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَيُحْسِنُ أَكْلَهُ.

ترجمه سلمي رضي الله عنها وائي حسن او عبدالله بن عباس او عبدالله بن جعفر مونږ ته راغلو او راته يي اووئيل درسول الله صلي الله عليه وسلم چې كوم خوراك خوښ وو او څنګه خوراك يي خوښ وو هغه شان خوراك زمونږ دپاره پوخ كړه او په مونږ يي اوخوروه سلمي رضي الله عنها ورته اووئيل خوږو بچو اوس كه درته هغه خوراك پيش كړي شي نو خوښ به مو نشي ،هغه خوراك به دتنګئ په زمانه كي خوښولي شو، هغوئ اووئيل هيڅ كله نه ضرور به مو خوښيږي نو دا پاڅيدو او لږي شان وربشي يي په كتوئ كي واچولي او لږ شان دزيتون تيل يي ورباندي واچول او څه مرچ او زيره وغيره مثاله يي ورواچوله او د پخولو نه پس يي راوړل او دوئ ته يي پيش كړلي او ونيل يي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دا څيز خوښ وو.

****

٢٩_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ نُبَيْحٍ الْعَنَزِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَتَانَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فِي مَنْزِلِنَا فَذَبَحْنَا لَهُ شَاةً فَقَالَ كَأَنَّهُمْ عَلِمُوا أَنَّا نُحِبُّ اللَّحْمَ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ.

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ كور ته تشريف راوړو او مونږ دهغه دپاره چيلئ ذبح كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم دخوشحالئ داظهار په طرز اووئيل ظاهرا خو داسي ښكاري چې دي خلقو ته معلومه ده چې مونږ كومه غوښه خوښوو ، امام ترمذي وائي په دي حديث كي نوره قصه هم شته كومه چې دلته مختصر كړي شوي ده.

****

٣٠ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا ح(قَالَ سُفْيَانُ.وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا مَعَهُ فَدَخَلَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ فَذَبَحَتْ لَهُ شَاةً فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَتَتْهُ بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ تَوَضَّأَ لِلظُّهْرِ وَصَلَّى صلى الله عليه وسلم ثُمَّ انْصَرَفَ فَأَتَتْهُ بِعُلَالَةٍ مِنْ عُلَالَةِ الشَّاةِ فَأَكَلَ ثُمَّ صَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم ديوې انصاريه ښځي سره لاړو او زه هم ورسره وم هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره چيلۍ ذبح کړه رسول الله څه قدري ددينه اوخوړل او ددينه پس کور والاتازه کجوري راوړي رسول الله ددينه هم څه کجوري اوخوړلي او بيا يي اودس وکړو او بيا دماسپخين دمونځ دپاره رسول الله صلي الله عليه وسلم اودس اوکړو او مونځ يي اداء کړو دمونځ کولو نه پس چې کله واپس راغي نو هغي ورته پاتي شوي غوښه پيش کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوخوړله او دمازيګر دمونځ دپاره يي دوباره نوي اودس اونکړو او په هم هغه مخکني اودس يي دمازيګر مونځ اوکړو.

****

٣١ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَمَعَهُ عَلِيٌّ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ قَالَتْ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لِعَلِيٍّ مَهْ يَا عَلِيُّ فَإِنَّكَ نَاقِهٌ قَالَتْ فَجَلَسَ عَلِيٌّ وَالنَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ قَالَتْ فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لِعَلِيٍّ مِنْ هَذَا فَأَصِبْ فَإِنَّ هَذَا أَوْفَقُ لَكَ.

ترجمه : دام منذر رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما کور ته تشريف راوړو او زمونږ کره دکجورو غونچکونه زوړند کړي شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددينه خوراك شروع کړو، علي رضي الله عنه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يو ځاي راغلي وو هغه هم خوراك شروع کړو رسول الله هغه لره دخوراك نه منع کړو او ورته يي فرمائيل چې ته خو تازه دبيمارۍ نه پاڅيدلي يي ستا دپاره ددي خوړل مناسب نه دي نوعلي رضي الله عنه منع شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم خوراك کولو، ام منذر وائي بيا

ما لږي شان وربشي او چقندر پاخه کړل رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل دا خوره ستا دپاره دا مناسب دي.

****

٣٢_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَأْتِينِي فَيَقُولُ أَعِنْدَكِ غَدَاءٌ فَأَقُولُ لا قَالَتْ فَيَقُولُ إِنِّي صَائِمٌ قَالَتْ فَأَتَانِي يَوْمًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ أُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ قَالَ وَمَا هِيَ قُلْتُ حَيْسٌ قَالَ أَمَا إِنِّي أَصْبَحْتُ صَائِمًا قَالَتْ ثُمَّ أَكَلَ.

ترجمه : عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به زما حجري ته تشريف راوړلو او تپوس به يي کولو کله چې به ورته معلومه شوه چې دخوزاك دپاره څه نشته نو فرمائيل به يي ما دروژي اراده کړي ده، يو ځل رسول الله تشريف راوړو ما عرض اوکړو زمونږ کره يوه هديه راغلي ده چې مونږ ساتلي ده رسول الله تپوس اوکړو چې څه څيز دي ما عرض اوکړو دکجورو حلوا ده رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما خو دروژي نيولو اراده ده او بيا يي ددينه څه قدري خوراك اوکړو.

****

٣٣_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى الأَسْلَمِيِّ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ الأَعْوَرِ عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلامٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً وَقَالَ هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ وأكل.

ترجمه : دعبدالله بن سلام رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو چې يوه قطره ډوډۍ يي په لاس کي وه او کجوري يي ورباندي کيخودلي او فرمائيل يي چې دا ترکاري ده او بيا يي اوخوړل.

****

٣٤_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ عَبَّادِ بْنِ الْعَوَّامِ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ قَالَ عَبْدُ اللهِ يَعْنِي مَا بَقِيَ مِنَ الطَّعَامِ.

ترجمه : انس رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به د ديګچي دبيخ

ترکاري خوښوله (يعني په لوبښي کي پاتي شوي اخري ترکاري به يي خوښوله).

****

۲۷_ باب ما جاء في صفة وضوء رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عند الطعام

دخوراک وخت کي درسول الله صلي الله عليه وسلم دلاسو نو وينځلو بيان

۱_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنْ أَيُّوبَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ الطَّعَامُ فَقَالُوا أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ قَالَ إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ.

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم دبيت الخلاء نه فارغ شو او بهر راووتلو نو خوراك ورته پيش کړي شو او د اودس کولو دپاره ورنه داوبو راوړلو باره کي تپوس اوکړي شو، نو ويي فرمائيل ماته د اودس کولو حکم هغه وخت کي شوي دي کله چي زه مونځ کوم.

****

۲_ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنَ الْغَائِطِ فَأُتِيَ بِطَعَامٍ فَقِيلَ لَهُ أَلَا تَتَوَضَّأُ فَقَالَ أَأُصَلِّي فَأَتَوَضَّأُ.

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم د استنجاء کولو نه فارغ شو او بهر راووتلو دي وخت کي ورته خوراك پيش کړلي شو صحابه کرامو تپوس اوکړو اودس خو به نه کوئ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا مونځ کوم چي اودس اوکړم؟

****

۳_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ)ح(وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْكَرِيمِ الْجُرْجَانِيُّ عَنْ قَيْسِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ زَاذَانَ عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بَعْدَهُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ.

ترجمه: دسلمان فارسي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما (داسلام راوړلو نه مخکي) په

نورات كي لوستلي وو چې دخوراك كولو نه پس اودس (لاسونه وينځل) دبركت سبب دي نو ما دا مضمون رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض كړو راته يې اوفرمائيل چې دخوراك كولو نه مخكې او د خوراك كولو نه پس لاسونه وينځل واقعي دبركت سبب دي

****

٢٨_ باب ما جاء في قول رسول الله (صلي الله عليه وسلم) قبل الطعام وبعد ما يفرغ منه

دهغه كلماتو ذكر كوم چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم دخوراك كولو نه مخكې او روسته وئيل

١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ رَاشِدِ بْنِ جَنْدَلٍ الْيَافِعِيِّ عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَوْسٍ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم يَوْمًا فَقُرِّبَ طَعَامًا فَلَمْ أَرَ طَعَامًا كَانَ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْهُ أَوَّلَ مَا أَكَلْنَا وَلا أَقَلَّ بَرَكَةً فِي آخِرِهِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ هَذَا قَالَ إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللهِ حِينَ أَكَلْنَا ثُمَّ قَعَدَ مَنْ أَكَلَ وَلَمْ يُسَمِّ اللَّهَ تَعَالَى فَأَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ.

ترجمه : دابو ايوب انصاري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مونږ يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چې خوراكمراوړلي شو، او ما نور كله د نن پشان خوراك كوم چې ابتداء دخوراك شروع كولو په وخت كي انتهائي بركتي نېكاريدو او دخوراك ختميدو نه پس بالكل بي بركته شو هيڅ كله نه وو ليدلي نو په دي وجه مي دحيراتتيا په حال كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو، رسول الله اوفرمائيل په ابتداء كي مونږ په بسم الله سره شروع كړي وه مګر په اخر كي فلاني كس بغير دبسم الله وئيلو نه خوراك شروع كړو اوشيطان په دي كي شريك شو.

****

٢_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ عَنْ بُدَيْلٍ الْعُقَيْلِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَنَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اللَّهَ تَعَالَى عَلَى طَعَامِهِ فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې څوك خوراك اوكړي او بسم الله وئيل ورنه هير شوي وي نو دخوراك په مينځ كي چې كله

ورته راياد شي بسم الله اوله واخره دي اووائي.
فائده: داحديث په ابواب الاطعمه باب ماجاء في التسمية قبل الطعام كي تير شوي دي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَعِنْدَهُ طَعَامٌ فَقَالَ ادْنُ يَا بُنَيَّ فَسَمِّ اللَّهَ تَعَالَى وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ.

ترجمه: دعمر بن ابي سلمه بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او دغه وخت دهغوئ په وړاندي خوراك پروت وو رسول الله اوفرمائيل رانزدي شه بچيه او بسم الله وئيلو نه پس په ښي لاس دخپلي مخي نه خوره.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنْ أَبِي هَاشِمٍ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رِيَاحٍ عَنْ أَبِيهِ رِيَاحِ بْنِ عَبِيدَةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ.

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم دخوراك نه فارغ شو نو دا دعا به يي وئيله " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ." يعني تمام تعريفونه دهغه ذات دپاره دي چاچې په مونږ خوراك اوكړو او په مونږ يي څكل اوكړل او مونږ يي مسلمانان پيدا كړو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا رُفِعَتِ الْمَائِدَةُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مُوَدَّعٍ وَلاَ مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا.

ترجمه: دابو امامه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې كله به درسول الله صلي الله عليه وسلم دمخي نه دسترخوان پورته كولي شو نو دا دعا به يي وئيله " الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مُوَدَّعٍ وَلاَ مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا." تمام تعريفونه دالله تعالي دپاره منحصر دي داسي تعريفونه دكومو چې هيڅ انتهاء نشته او داسي تعريفونه كوم چې پاك وي درياء نه او د اوصاف رزيله نه او كوم چې مبارك وي او داسي حمد كوم چې نه پريخودلي كيږي او نه ورنه

استغناء كيدي شي، او اي الله زمونږ شكر قبول كړي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوائِيِّ عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ الْعُقَيْلِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ الطَّعَامَ فِي سِتَّةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَأَكَلَهُ بِلُقْمَتَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَوْ سَمَّى لَكَفَاكُمْ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم دشپږو كسانو سره خوراك كولو چې په دي دوران كي يو بانډچي راغي او په دوه لقمو كي يې ټول خوراك ختم كړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چري دي بانډچي بسم الله ونيلي وي دا خوراك به دټولو دپاره پوره شوي وو.

****

٧ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ قَالاَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللَّهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الأَكْلَةَ أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي دبنده په دي خبره ډير خوشحاليږي چې يوه لقمه خوراك اوكړي يا يو ګوټ اوبه اوڅكي او په دي دالله تعالي شكر اداء كړي.

فائده: داحديث په ابواب الاطعمه باب ماجاء في التسمية قبل الطعام كي تير شوي دي.

****

٢٩ــ باب ما جاء في قدح رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دجام بيان

١ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الأَسْوَدِ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ عَنْ ثَابِتٍ قَالَ أَخْرَجَ إِلَيْنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَدَحَ خَشَبٍ غَلِيظًا مُضَبَّبًا بِحَدِيدٍ فَقَالَ يَا ثَابِتُ هَذَا قَدَحُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دثابت رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې انس رضي الله عنه مونږ ته دلرګي يو جام چې داوسپني ځادر وربوري انخلولي شوي وو راوويستلو او مونږ ته يې اوخودلو او راته يې

اوفرمائيل اي ثابت دادرسول الله صلي الله عليه وسلم جام دي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ أَنْبَأَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ أَنْبَأَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ أَنْبَأَنَا حُمَيْدٌ وَثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِهَذَا الْقَدَحِ الشَّرَابَ كُلَّهُ الْمَاءَ وَالنَّبِيذَ وَالْعَسَلَ وَاللَّبَنَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چې ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندې په دي جام کي دڅکلو ټول انواع لکه اوبه، نبيذ، شهد، او شوده وغيره څيزونه څکولي دي.

****

٣٠ـ باب ما جاء في صفة فاكهة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دميوو ذکر

١ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَأْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ.

ترجمه : دعبدالله بن جعفر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به بادرنګ دتازه کجورو سره خوړل.

فائده: بادرنګ چونکه يخ دي او کجوري ګرمي وي نو په دي شان سره په دواړو خوراکونو يوځاي کولو سره اعتدال پيدا کيږي ، ددي حديث نه معلومه شوه چې دخوراك په څيزونو کي دمزاج رعايت کول مناسب دي همدارنګي بادرنګ پيکه وي او کجوري خوږي وي ددي په وجه په بادرنګ کي هم خوږوالي پيدا کيږي (داحديث په ابواب الاطعمه باب ماجاء في اكل القصاء بالرطب کي تير شوي دي).

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان ذي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به هندوانه د تازه کجورو سره خوړله.

****

٣ـ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ قَالَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ سَمِعْتُ حُمَيْدًا أَوْ قَالَ

حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ قَالَ وَهْبٌ وَكَانَ صَدِيقًا لَهُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَجْمَعُ بَيْنَ الْخِرْبِزِ وَالرُّطَبِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم لره دختکي او کجورو په يوځاي خوړلو ليدلي وو.

****

٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الرَّمْلِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ الصَّلْتِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَكَلَ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به هندوانه دکجورو سره يوځاي خوړله.

****

٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ ح (وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثِمَارِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَفِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ بِهِ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ قَالَ ثُمَّ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ يَرَاهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي هغ خلقو به کله کومه نوي ميوه اوليدله نو دا به يې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړه او رسول الله به د ادعا لوستله " اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثِمَارِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَفِي مُدِّنَا اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ بِهِ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ " يعني اي الله زمونږ په ميوو کي برکت نازل کړي او زمونږ په دي ښار کي برکت نازل کړي او زمونږ په صاع او مد کي برکت واچوي اي الله واقعي ابراهيم عليه السلام ستا بنده او ستا دوست او ستا نبي وو او بيشکه زه هم ستا بنده او ستا نبي يم هغه چې دکومو ځيزونو دپاره دعا غوښتلي وه او دمکي د ابادېدو دعا يې غوښتلې وه (دکومي بيان چې په

ایت کریمه "فاجعل افئدة الناس" کي راغلي دي، هم هغه دعا په دوچند مقدار کي دمديني منوري په حق کي هم قبوله کړئ راوي وائي چې بيا به يې يو ماشوم راوغوښتلو او دا ميوه به يې ورته دخوړلو دپاره ورکړه.
داحديث په ابواب الدعوات باب نمبر ۵۵ کي تير شوي دي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُخْتَارِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاء قَالَتْ بَعَثَنِي مُعَاذُ بْنُ عَفْرَاء بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ وَعَلَيْهِ أَجْرٌ مِنْ قِثَّاء زُغْبٍ وَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّ الْقِثَّاء فَأَتَيْتُهُ بِهِ وَعِنْدَهُ حِلْيَةٌ قَدْ قَدِمَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْبَحْرَيْنِ فَمَلأَ يَدَهُ مِنْهَا فَأَعْطَانِيهِ.

ترجمه : ربيع رضي الله عنها فرمائي چې ماته زما تره معاذ بن عفراء رضي الله عنه يو خانك دتازه کجورو راکړو چې واړه واړه بادرنګ پکي ایخودلي شوي وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې اوليږلم او بادرنګ رسول الله صلي الله عليه وسلم ډير خوښ وو ماچې کله بادرنګ هغوئ ته پيش کړل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم په دغه وخت کي دبحرين نه څه زيورات راغلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي کي يو موټي خښ کړو او يو ډك موټي زيورات يې ماته راکړل.

****

٧ـ حدثنا علي بن حجر حدثنا شريك عن عبد الله بن محمد بن عقيل عن الربيع بنت معوذ بن عفراء قالت: اتيت النبي صلي الله عليه وسلم بقناع من رطب واجر زغب فاعطاني ملاء كفه حلياً او قالت ذهباً.

ترجمه : ربيع بنت معوذ بنت عفراء رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې ما نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته دتازه کجورو او بادرنګو يوخانك وروړلو نورسول الله ماته پخپل موټي يو ډك موټي زيورات هبه کړل، او يا يې يو ډك موټي سره زر راکړل (په دي کي دراوي شك دي چې په دي دوه الفاظو کي يې کوم لفظ يې استعمال کړو).

****

٣١ـ باب ما جاء في صفة شراب رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دمشروباتو بيان

١ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ أَحَبَّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْحُلْوُ الْبَارِدُ.

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دڅکلو په ټولو انواعو کي خوږ او يخ څيز ډير مرغوب وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عُمَرَ هُوَ ابْنُ أَبِي حَرْمَلَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنَا وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ عَلَى مَيْمُونَةَ فَجَاءَتْنَا بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ فَشَرِبَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا عَلَى يَمِينِهِ وَخَالِدٌ عَلَى شِمَالِهِ فَقَالَ لِي الشَّرْبَةُ لَكَ فَإِنْ شِئْتَ آثَرْتَ بِهَا خَالِدًا فَقُلْتُ مَا كُنْتُ لأُوثِرَ عَلَى سُؤْرِكَ أَحَدًا ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ أَطْعَمَهُ اللهُ طَعَامًا فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ وَمَنْ سَقَاهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَبَنًا فَلْيَقُلِ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مَكَانَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ غَيْرُ اللَّبَنِ.

قال ابو عيسي هكذا روي سفيان بن عيينة هذا الحديث عن معمر عن الزهري عن عروة عن عائشة رضي الله عنه ورواه عبد الله بن المبارك و عبد الرزاق و غيرواحد عن معمر عن الزهري عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسلا ولم يذكروا فيه عن عرورة عن عائشة . و هكذا روي يونس و غير واحد عن الزهري عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسلا . قال ابو عيسي وانما اسنده بن عيينة من بين الناس . قال ابو عيسي و ميمونة بنت الحارث زوج النبي صلي الله عليه وسلم هي خالة خالد بن الوليد و خالة ابن عباس و خالة يزيد بن الاصم رضي الله عنهم . واختلف الناس في رواية هذا الحديث عن علي بن زيد بن جدعان ، وروري بعضهم عن علي بن زيد عن عمر بن ابي حرملة و روري شعبة عن علي ابن زيد فقال عن عمرو بن حرملة والصحيح عن عمر بن ابي حرملة.

ترجمه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې زه او خالد بن وليد رضي الله عنه مونږ دواړه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره دام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها كور ته داخل شو دام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها ددوئ دواړودمور دطرفه ترور وه، ميمونه په يو لوښي كي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته شوده پيش كړل نو رسول الله ددينه اوڅكل او زه

ورنه بنې طرف ته ناست وم او خالد بن وليد ګس طرف ته ناست وو ماته يي اوفرمائيل اول دڅکلو حق خو ستا دي (چې ته بنې طرف ته ناست يې) مګر که ته پخپله خوښه خالد ته ترجيح ورکول غواړي نو دا جدا خبره ده، ما عرض اوکړو ستاسو دجوټې باره کي زه پخپل ځان باندي هيچاته ترجيح نشم ورکولی، بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چې الله تعالي په چا باندي کوم څيز اوڅکوي هغه دپاره دا دعا ونيل پکار دي " اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ " يعني اي زما الله ته په دي کي برکت واچوي او ددينه راته مزيد بهتر راکړي، او کله چې الله تعالي په چا باندي شوده اوڅکوي هغه دپاره دا دعا ونيل پکار دي"اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ " يعني اي الله په دي کي برکت واچوي او په دي کي زياتوالي زمونږ نصيب کړي، ابن عباس رضي الله عنهما وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم دهر څيز دخوړلو نه پس دبهتري دعا غوښتلو او دشودو څکلو نه پس په دي کي دزياتوالي د دعا تعليم ورکړي دي او بيا يي اوفرمائيل دشودو نه علاوه بل کوم څيز داسي نشته کوم چې دخوړلو او څکلو دواړو دپاره کار ورکوي.

امام ترمذي وائي دا رنګي دا حديث دسفيان بن عيينه نه او هغه دمعمر نه او هغه دزهري نه او هغه دعروه نه او هغه دعائشه رضي الله عنها نه نقل کړي دي، او عبدالله بن مبارک او عبدالرزاق او ددينه علاوه راويانو دمعمر او زهري نه او هغوئ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي او دوئ پخپل سند کي دعن عائشه ذکر نه دي کړي، او دا رنګي يونس او دده نه علاوه راويانو دزهري نه او زهري دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل کړي دي، امام ترمذي وائي دابن عيينه سند په اهل علمو کي مشهور دي امام ترمذي وائي ميمونه بنت حارث چې درسول الله صلي الله عليه وسلم بي بي وه دا دخالد بن وليد او ابن عباس دواړو ترور وه او ديزيد بن اصم ترور وه او علماؤ ددي حديث باره کي اختلاف کړي دي، دا حديث دعلي بن زيد بن جدعان نه نقل دي او بعضي راويانو دعلي بن زيد عن عمرو عن عمر بن ابي حرمله په سند ذکر کړي دي شعبه دعلي بن زيد نه نقل کړي دي او شعبه به ونيل چې دعمرو بن حرمله په ځاي عمرو بن ابي حرمله صحيح دي.

****

۳۲_ باب ما جاء في صفة شرب رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دڅکلو دکيفيت او طريقي بيان

۱_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الأَحْوَلُ وَمُغِيرَةُ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ وَهُوَ قَائِمٌ.

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم دزمزم اوبه په ولاړه اوڅکلي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا.

ترجمه : عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دده دنيکه نه روايت کوي فرمائي چې ما رسول الله صلي الله عليه وسلم دولاړي او دناستي په دواړو حالتونو کي د اوبو په څکلو ليدلي دي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَقَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم د زمزم اوبه اوڅکلي او په دغه وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم ولاړ وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ وَمُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْكُوفِيُّ قَالا حَدَّثَنَا ابْنُ الْفُضَيْلِ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ عَنِ النَّزَّالِ بْنِ سَبْرَةَ قَالَ أُتِيَ عَلِيٌّ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ وَهُوَ فِي الرَّحْبَةِ فَأَخَذَ مِنْهُ كَفًّا فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ ثُمَّ شَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ هَذَا وُضُوءُ مَنْ لَمْ يُحْدِثْ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَعَلَ.

ترجمه : نزال بن صبره وائي علي رضي الله عنه دکوفي دمسجد (کوم چې دهغه دارالقضاء وه په ميدان کي موجود وو چې) ما ورته په يوه کوزه کي اوبه راوړلي هغه په يو چونك اوبو غرغره اوکړه او په پوزه کي يې اوبه واچولي او بيا يې خپل مخ او لاسونو مسح اوکړه او بيا يې په ولاړه اوبه اوڅکلي او ويې فرمائيل دا طريقه دهغه چا د اودس کولو ده دچاچې دمخکي نه اودس وي (يعني څوك چې د اودس دپاسه اودس کوي، او ما په همدي طريقه رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي دي).

****

٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ وَيُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ قَالا حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي عِصَامٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الإِنَاءِ ثَلاثًا إِذَا شَرِبَ وَيَقُولُ هُوَ

أَمْرَأُ وَأَرْوَى.

ترجمه انس بن مالك رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په اوبو څکلو کې درې ساګاني اخستلي او فرمائيل به يې په دې طريقه اوبه څکل ډير مزيدار او ښه سيراب کونکي وي.

****

٦_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ رِشْدِينِ بْنِ كُرَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا شَرِبَ تَنَفَّسَ مَرَّتَيْنِ.

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي کله چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم اوبه څکلې نو دوه پيرې به يې ساه اخسته.

****

٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ عَنْ جَدَّتِهِ كَبْشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَشَرِبَ مِنْ قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ.

ترجمه : دکبشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما کور ته تشريف راوړو او هلته داوبو يو مشک زوړند وو نورسول الله صلي الله عليه وسلم دمشک دخولې نه په ولاړه اوبه اوڅکلې نو زه ورپاځيدم او دمشک خوله مې کټ کړه.

فائده: امام نووي دمشک دخولې دکټ کولو دوه فائدې ذکر کړي دي يوه فائده خو دا وه چې په کوم ځاي رسول الله صلي الله عليه وسلم خوله ايخودلې وه دبرکت دپاره يې دځان سره د ساتلو په اراده دا ځاي کټ کړو دويمه فائده داده چې په کوم ځاي رسول الله صلي الله عليه وسلم خوله ايخودلې وه چې په دې بل څوک خوله کينه ږدي او استعمال يې نکړي يعني د ادب دپاره.

****

٨_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيُّ عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ يَتَنَفَّسُ فِي الإِنَاءِ ثَلاثًا وَزَعَمَ أَنَسٌ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الإِنَاءِ ثَلاثًا.

ترجمه : دثمامه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې انس رضي الله عنه به په درې ساګانو کې اوبه څکلې او وئيل به يې چې همداسې به رسول الله صلي الله عليه وسلم هم په لوښي کې درې

پیري ساه اخستله

****

٩_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ زَيْدٍ ابْنِ ابْنَةِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ وَقِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَشَرِبَ مِنْ فَمِ الْقِرْبَةِ وَهُوَ قَائِمٌ فَقَامَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى رَأْسِ الْقِرْبَةِ فَقَطَعَتْهَا.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دمور ام سليم كور ته تشريف راوړو او زمونږ په كور كي يو مشك زوړند وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په ولاړه د مشك نه اوبه اوڅكلي نو ام سليم پاڅيده او دمشك خوله يې كټ كړه.

****

١٠_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ نَصْرٍ النَّيْسَابُورِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِيُّ قَالَ حَدَّثَتْنَا عَبِيدَةُ بِنْتُ نَائِلٍ عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهَا أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَشْرَبُ قَائِمًا قَالَ أَبُو عِيسَى وَقَالَ بَعْضُهُمْ عُبَيْدَةُ بِنْتُ نَابِلٍ.

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرماني چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په ولاړه اوبه څكلي. امام ترمذي وايي د بعضي علماؤ قول دى عبيده بنت نابل د ماقبل هم معني روايت بيان كړو.

تشريح: په ولاړه اوبه څكل عادت مستمره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دي بلكه دا دهغوئ دبعضي وختونو معمول دي.

****

٣٣_ باب ما جاء في تعطر رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دخوشبو داستعمال بيان

١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُخْتَارِ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ لِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه سكه وه چې دهغي نه به يې خوشبو استعمالوله.

فائده: دسکه په معني کي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دي چې سکه عتردانې ته
وئيلي شي يعني په کوم بوتل کي چې عطر ساتلي شي مګر بعضي علماؤ قول دي چې سکه يو
مرکب قسم خوشبو ته وئيلي شي قاموس وغيره اهل لغت هم دي معني ته ترجيح ورکړي ده او
صاحب قاموس ددي دمرکب کولو تفصيلي قصه هم ليکلي ده.

****

٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ لا يَرُدُّ الطِّيبَ وَقَالَ أَنَسٌ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ لا يَرُدُّ الطِّيبَ.

ترجمه: دثمامه بيان دي فرمائي چې انس رضي الله عنه به چاته دچا خوشبو نه واپس کوله او
فرمائيل به يې رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم چاته خوشبو نه واپس کوله.

****

٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ جُنْدُبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ثَلاثٌ لا تُرَدُّ الْوَسَائِدُ وَالدُّهْنُ وَاللَّبَنُ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي
دي دري څيزونه واپس کول پکار نه دي يو تکيه ده او بل تيل (خوشبو) او شوده.

****

٤_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي
مردانه خوشبو هغه ده دکومي چې بوي خوريږي او رنګ يې نه محسوس کيږي، او زنانه يې
خوشبو هغه ده چې رنګ يې ظاهر وي او بوي يې پټ وي (لکه نکريزي، زعفران وغيره).

****

٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ أَنْبَأَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْجُرَيْرِيِّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ عَنِ الطُّفَاوِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِثْلَهُ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به او

باقي حديث يي د ماقبل هم معني ذكر كړو.

****

٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلِيفَةَ وَعَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالا حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ الصَّوَّافُ عَنْ حَنَانٍ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلا يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ. قال ابو عيسى ولا نعرف لحنان غير هذا الحديث وقال عبد الرحمن بن ابي حاتم في كتاب الجرح والتعديل حنان الاسدي من بني اسد بن شريك وهو صاحب الرقيق عم والد مسدد، و روري عن ابي عثمان النهدي ، وروي عنه الحجاج بن ابي عثمان الصواف سمعت ابي يقول ذلك.

ترجمه: د ابو عثمان نهدي تابعي بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چې کشمالي ورکړي شي هغه دپاره پکار دي چې دا ورکونکي ته واپس نکړي خکه چې ددي اصل دجنت نه راوتلي دي، امام ترمذي وائي ددي حديث نه علاوه مونږ ته دحنان راوي بل حديث معلوم نه دي، عبدالرحمن بن ابي حاتم په کتاب الجرح والتعديل کي ليکلي دي حنان اسدي قبيلي والا دي او نوم يي اسد بن شريك دي او دغلامانو اخـتلو کلړووبار يي کولو، دمسدد بن مسرهد دپلار تره وو هغه دعثمان نهدي نه روايت نقل کوي او دهغه نه حجاج الصواف روايت کوي ابن ابي حاتم دا خبره دخپل پلار نه اوريدلي ده يعني دا مجهول راوي دي.

****

٧_ حَدَّثَنَا عمر بن إسماعيل بن مجالد بن سعيد الهمداني حدثني أبي عن بيان عن قيس بن أبي حازم عن جرير بن عبد الله قَالَ عرضت بين يدى عمر بن الخطاب فألقى جرير ردائه ومشى في إزار فقال له خذ ردائك فقال للقوم ما رأيت رجلاً أحسن صورة من جرير إلا ما بلغنا من صورة يوسف عليه السلام.

ترجمه: د قيس بن ابي حازم بيان دي فرمائي چې جرير بن عبدالله بجلي رضي الله عنه ووئيل زه عمر فاروق ته پيش کړي شوم او جرير خپل څادر کوز کړو او صرف په لنګ کي روان شو او خپل امتحان يي ورکولو عمر رضي الله عنه اوفرمائيل څادر دي پورته کړه (ستا معائينه اوشوه) او بيا قوم طرف ته متوجه شو او ويي فرمائيل ما دجرير نه بل څوك زيات ښائسته نه دي ليدلي مګر علاوه د يوسف عليه السلام نه په باره کي چې دهغه دشکل متعلق مونږ ته حديث رارسيدلي دي.

****

٣٤_ باب كيف كان كلام رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دګفتګو دکيفيت بيان

١_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الأَسْوَدِ عَنِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلامٍ بَيِّنٍ فَصْلٍ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ.

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چې درسول الله صلي الله عليه وسلم خبري ستاسو خلقو پشان زر زر او مسلسل په تيزئ سره نه وي بلکه هر مضمون به بې صفا صفا دبل مضمون نه جدا کولو تردي چې ورسره ناست خلق يې په ښه طريقه په ذهن کې محفوظ کړي.

****

٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُثَنَّى عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُعِيدُ الْكَلِمَةَ ثَلاثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله کله خبره دضرورت مطابق دوه يا دري پيري تکرارولہ تردي چې اوريدونکي ورباندي په ښه شان سره پوهه شي

****

٣_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنٍ لأَبِي هَالَةَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ خَالِي هِنْدَ بْنَ أَبِي هَالَةَ وَكَانَ وَصَّافًا فَقُلْتُ صِفْ لِي مَنْطِقَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُتَوَاصِلَ الأَحْزَانِ دَائِمَ الْفِكْرَةِ لَيْسَتْ لَهُ رَاحَةٌ طَوِيلُ السَّكْتِ لا يَتَكَلَّمُ فِي غَيْرِ حَاجَةٍ يَفْتَتِحُ الْكَلامَ وَيَخْتِمُهُ بِاسْمِ اللهِ تَعَالَى وَيَتَكَلَّمُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ كَلامُهُ فَصْلٌ لا فُضُولَ وَلا تَقْصِيرَ لَيْسَ بِالْجَافِي وَلا الْمُهِينِ يُعَظِّمُ النِّعْمَةَ وَإِنْ دَقَّتْ لا يَذُمُّ مِنْهَا شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يَذُمُّ ذَوَّاقًا وَلا يَمْدَحُهُ وَلا تُغْضِبُهُ الدُّنْيَا وَلا مَا كَانَ لَهَا فَإِذَا تُعُدِّيَ الْحَقُّ لَمْ يَقُمْ لِغَضَبِهِ شَيْءٌ حَتَّى يَنْتَصِرَ لَهُ وَلا يَغْضَبُ لِنَفْسِهِ وَلا يَنْتَصِرُ لَهَا إِذَا أَشَارَ بِكَفِّهِ كُلِّهَا وَإِذَا تَعَجَّبَ

قَلْبَهَا وَإِذَا تَحَدَّثَ اتَّصَلَ بِهَا وَضَرَبَ بِرَاحَتِهِ الْيُمْنَى بَطْنَ إِبْهَامِهِ الْيُسْرَى وَإِذَا غَضِبَ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ وَإِذَا فَرِحَ غَضَّ طَرْفَهُ جُلُّ ضَحِكِهِ التَّبَسُّمُ يَفْتَرُّ عَنْ مِثْلِ حَبِّ الْغَمَامِ.

ترجمه: دحسن رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما خپل ماما هند بن ابي هاله چې درسول الله صلي الله عليه وسلم داوصافو بيانونكي وو، ته عرض اوكړو چې ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم دخبرو كيفيت بيان كړئ، هغه راته اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به هميشه داخرت په غم كي متواتر مشغول وو هر وخت به په سوچ كي ډوب وو او ددي كارونو په وجه به نه بي فكره كيدو او راحت به هم ورته نه ملاويدو اكثر وختونو كي به خاموش وو، بغير دضرورته خبري به يي نه كولي رسول الله صلي الله عليه وسلم به تمامي خبري دابتداء نه انتهاء پوري په ډكه خوله كولي او خبري به يي په جامع الفاظو سره كولي او چې خبري به يي كولي نو خبري به يي ديو بل نه جدا وي نه به يي فضوليات ونيل او نه به يي كوتاهي كوله چې مطلب واضح نشي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسخت مزاجه مالك نه وو او نه به يي دچا ذليل كول غوښتل الله تعالي نعمت كه به هر څومره لږ وو دا به يي ډير لوي ګڼړلو او دنعمت سپكاوى به يي نه كولو البته دخوراك داشياؤ به يي نه سپكاوى كولو او نه دحد نه زيات تعريف د دنيا دامورو په وجه ورته هيڅ كله غصه نه ورتله البته كه چا به دكوم ديني كار او دحق خبري نه تجاوز اوكړو نو بيا به په چا كي دهغه دغصي دبرداشت طاقت نه وو او چا به دهغه غصه بندولي هم نشوه ترڅو پوري چې به يي ددغه خبري انتقام اخستلي نه وو، دخپل خان باره كي به نه دچا نه خفه كيدو او نه به يي دچا نه انتقام او بدله اخستله، چې كله به يي په څه وجه كوم طرف ته اشاره كوله نو په پوره لاس به يي اشاره كوله، او چې كله به يي په كومه خبره تعجب كولو نو لاس به يي الټه كړو او چې كله به يي خبري كولي نو خبري به يي ديو بل سره پيوست وي، او كله كله به يي په غټه ګوته خپل ورغوي مرلو او چې كله به دچا نه خفه شو نو مخ به يي ورنه واړولو او توجه به يي ورته بنده كړه او يا به يي ورته معافي اوكړه او چې كله به خوشحاله شو نو دحيا په وجه به يي سترګي بندولي رسول الله صلي الله عليه وسلم خندا به اكثر تبسم وو او دغه وخت كي به دهغوئ غاښونه د ګلئ پشان سپين پړقيدونكي ظاهريدل.

****

٣٥_ باب ما جاء في ضحك رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دخندا بيان

١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ قَالَ أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ وَهُوَ ابْنُ أَرْطَاةَ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم حُمُوشَةٌ وَكَانَ

لا يَضْحَكُ إِلا تَبَسُّمًا فَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ.

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم پنډۍ نرۍ وي او خندا يي صرف تبسم وو ما چې به كله رسول الله صلي الله عليه وسلم ملاقات كولو نو ما به دا خيال كولو چې رانجه يي لګولي دي او حال دادي چې رانجه به يي نه وو لګولي.

****

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ أَنَّهُ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دعبدالله بن حارث رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم خندا دتبسم (مسكا) نه زياته نه وه.

****

٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْخَلالُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ مَا كَانَ ضَحِكُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِلا تَبَسُّمًا. قال ابو عيسى هذا حديث غريب من حديث ليث بن سعيد.

ترجمه : دعبدالله بن حارث رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم خندا صرف تبسم وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنِّي لأَعْلَمُ أَوَّلَ رَجُلٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَآخِرَ رَجُلٍ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَيُخَبَّأُ عَنْهُ كِبَارُهَا فَيُقَالُ لَهُ عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَهُوَ مُقِرٌّ لا يُنْكِرُ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِهَا فَيُقَالُ أَعْطُوهُ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ عَمِلَهَا حَسَنَةً فَيَقُولُ إِنَّ لِي ذُنُوبًا مَا أَرَاهَا هَاهُنَا قَالَ أَبُو ذَرٍّ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ.

ترجمه : دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه هغه كس ډير ښه پيژنم څوك چې به دټول مخلوق نه اول جنت ته داخليږي او دهغه چا نه هم ښه خبردار يم څوك چې به دټول مخلوق په اخر كي دجهنم نه راوځي، دقيامت په ورځ به يو كس په

دربار الهي کي حاضرکړي شي او دهغه دپاره به دا حکم اوشي چې دده واړه واړه ګناهونه دي پيش کړي شي او لوي لوي ګناهونه دي دده پټ کړي شي کله چې دده واړه واړه ګناهونه پيش کړي شي چې تا فلاني فلاني ګناه څنګه کړي ده نو دي به اقرار کوي ځکه چې دانکار کولو څه ګنجائش به نه وي او پخپل زړه کي به ډير وارخطاء وي چې اوس خو لا دصغائرو نمبر دي چې کبائر پيش کيږي نو څه به کيږي تردي چې په دي دوران کي به دا حکم اوشي چې ددي کس دهري ګناه په بدل کي يوه يوه نيکي اوليکئ دا کس به ددي خبري په اوريدو سره پخپله اووائي چې اوس خو لا زما ډير ګناهونه باقي دي کوم چې دلته پيش شوي نه دي. دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله دده دقول په نقل کولو سره اوخاندل تردي چې غابښونه مبارك يې ظاهر شول، (او خندا په دي خبره وه چې دکومو ګناهونو په اظهار ويريدو دهغي يې پخپله داظهار طلب شروع کړ).

****

٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ بَيَانٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلا رَآنِي إِلا ضَحِكَ.

ترجمه: دجرير بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دمسلمانيدو نه پس زه هيڅ وخت دحاضريدو نه منع کړي نه يم او چې هر کله به يې زه ليدم نو خاندل به يې او په يو بل روايت کي وارد دي چې تبسم به يې کولو.

****

٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيرٍ قَالَ مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلا رَآنِي مُنْذُ أَسْلَمْتُ إِلا تَبَسَّمَ.

ترجمه: دجرير بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دمسلمانيدو نه پس زه هيڅ وخت دحاضريدو نه منع کړي نه يم او چې هر کله به يې زه ليدم نو خاندل به يې او په يو بل روايت کي وارد دي چې تبسم به يې کولو.

****

٧_حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنِ الأَعْمَشِ عَنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنِّي لأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ

خُرُوجًا رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا فَيُقَالُ لَهُ انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ فَيَذْهَبُ لِيَدْخُلَ الْجَنَّةَ فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ فَيُقَالُ لَهُ أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ فَيَقُولُ نَعَمْ قَالَ فَيُقَالُ لَهُ تَمَنَّ قَالَ فَيَتَمَنَّى فَيُقَالُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ الَّذِي تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا قَالَ فَيَقُولُ تَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ قَالَ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ.

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه هغه كس ډير ښه پيژنم څوك چې به دټول مخلوق نه وروسته د اور نه راوځي او دا به يو داسي كس وي چې په زمكه به درابښكلو په حال كي د دوزخ نه راووېستلي شي حكم به ورته اوشي جنت ته داخل شه دي چې جنت ته داخل شي نو اوبه ويني چې دده نه مخكي داخل شوو خلقو تمام ځايونه قبضه كړي او بند كړي دي او ټول ځايونه ډك شوي دي نو دي به دربار الهي ته راوګرځي او ددي خبري خبر به وركړي ارشاد به اوشي ايا ددنيا دمنازلو حالت درته هم ياد دي، عرض به اوكړي اي زما ربه ډير ښه راته ياد دي ارشاد به اوشي څه تمناګاني اوكړه چې څنګه دي زړه غواړي نو دي به خپل ارمانونه ظاهر كړي ارشاد به اوشي تاته ستا غوښتلي څيزونه او خواهشات دركوو او دتمامي دنيا لس چنده زيات درته دركوو دي به عرض اوكړي اي الله ته دتمامي دنيا دبادشاهانو بادشاه يي ته په ماپوري مسخري كوي دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مارسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدو چې كله يي ددي كس قول نقل كولو نو خندا ورته راغله تردي پوري چې غاښونه مبارك يي ظاهر شول.

****

٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ شَهِدْتُ عَلِيًّا أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ بِسْمِ اللهِ فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ ثُمَّ قَالَ سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلاثًا وَاللَّهُ أَكْبَرُ ثَلاثًا سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا أَنْتَ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي.

ترجمه : دابن ربيعه بيان دي فرمائي چې علي رضي الله عنه ته دهغه دخلافت په زمانه كي يو خل يوه سورلۍ دسورلۍ كولو دپاره راوستلي شوه علي رضي الله عنه په ركاب كي دخپي

ایخودلو په وخت کي بسم الله اوونیله او کله چي وریاندي سور شو نو الحمدلله یي اوونیل او بیا یې دا دعا اولوستله " سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلا أَنْتَ " پاك دي ذات ستا دهر عیب نه او ما ستا دنعمتونو شکریه نه اداء کولو سره او او د اوامرو نه اداء کولو سره پخپل خان باندي ظلم کړي دي پس اي الله ته ماته مغفرت اوکړي ځکه چي مغفرت خو ستا نه علاوه بل څوك نشي کولي، ددي دعا نه پس علي رضي الله عنه اوخاندل، ابن ربیعه واني ما ورنه دخندا دوجي تپوس اوکړو نو ويي فرمائیل رسول الله صلي الله علیه وسلم هم دا رنګي دعا لوستلي وه او ددينه پس يي تبسم کړي وو ما هم دهغوئ نه دتبسم کولو دوجي تپوس اوکړو څنګه چي تا زما نه اوکړو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دبنده په دي قول چي زما ګناه ستا نه علاوه بل څوك نشي معاف کولي ډير خوشحاليږي او فرمائي چي زما بنده په دي خبردار دي چي زما نه علاوه بل څوك ګناهونه بخښلي نشي

****

٩-حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ سَعْدٌ لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم ضَحِكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ قَالَ كَانَ رَجُلٌ مَعَهُ تُرْسٌ وَكَانَ سَعْدٌ رَامِيًا وَكَانَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا بِالتُّرْسِ يُغَطِّي جَبْهَتَهُ فَنَزَعَ لَهُ سَعْدٌ بِسَهْمٍ فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ رَمَاهُ فَلَمْ يُخْطِئْ هَذِهِ مِنْهُ يَعْنِي جَبْهَتَهُ وَانْقَلَبَ الرَّجُلُ وَشَالَ بِرِجْلِهِ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ قَالَ قُلْتُ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكَ قَالَ مِنْ فِعْلِهِ بِالرَّجُلِ.

ترجمه دعامر بن سعد بيان دي فرمائي چي زما پلار اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دغزوه خندق په ورځ اوخاندل تردي پوري چي غاښونه مبارك يي ظاهر شول، عامر واني ما تپوس اوکړو چي په څه خبره يي اوخاندل؟ هغه راته په جواب کي اوونيل يو کافر ډال راخستلي وو او سعد ډير غشي ويشتونکي وو کافر به خپل ډال اخوا ديخوا کولو چي خپل تندي يي ورباندي بچ کولو (ګويا کي په مقابله کي يي په تندي باندي دسعد غشي لګيدو ته نه پريخودو او خان يي ورنه بچ کولو او حال دادي چي سعد مشهور تيرانداز و، سعد يو خل غشي راوويشتلو او په لينده کي يي واچولو او انتظار يي شروع کړو کله چي هغه دډال نه سر پورته کړو نو فورا يي اوويشتلو چي دتندي نه يي خطاء نشو او فورا کافر راوغورځيدو او خپي ورباندي دپاسه شوي پس رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي واقعي په ليدو اوخاندل ما ورنه تپوس اوکړو چي په دي کي دخندا څه خبره ده هغه اوونيل دسعد په کار پوري يي اوخاندل

****

٣٦_ باب ما جاء في صفة مزاح رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلى الله عليه وسلم دمزاح (ټوقو ټقالو) ذکر

١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ شَرِيكٍ عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَهُ يَا ذَا الأُذُنَيْنِ قَالَ مَحْمُودٌ قَالَ أَبُو أُسَامَةَ يَعْنِي يُمَازِحُهُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم ماته يو خل په طور دمزاح يا ذالاذنين اوونيل يعني اي دوه غوږونو والا محمود وائي دابو اسامه قول دي يعني مذاق يي اوكړو.

****

٢_ حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ إِنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لأَخٍ لِي صَغِيرٍ يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ قَالَ أَبُو عِيسَى وَفِقْهُ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُمَازِحُ وَفِيهِ أَنَّهُ كَنَّى غُلامًا صَغِيرًا فَقَالَ لَهُ يَا أَبَا عُمَيْرٍ وَفِيهِ أَنَّهُ لا بَأْسَ أَنْ يُعْطَى الصَّبِيُّ الطَّيْرَ لِيَلْعَبَ بِهِ وَإِنَّمَا قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ لأَنَّهُ كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ فَحَزِنَ الْغُلامُ عَلَيْهِ فَمَازَحَهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به زمونږ سره دمخالطت په وخت كي توقي تقالي كولي چنانچې زما يو كشر ورور وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل "ياابا عمير مافعل النغير" يعني اي ابو عمير نغير دي څه شو؟
امام ترمذي وائي ددي حديث مطلب دادي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دماشومانو سره مزاق كول نو په دي وجه يي وړوكي ماشوم ته دهغه په اسم كنيه خطاب اوكړوګاو ورته يي اوفرمائيل ما فعل "نغير ددينه معلومه شوه وړو ماشومانو ته دلوبو دپاره مرغۍ وغيره وركولو كي څه حرج نشته خكه چې نبي كريم صلي الله عليه وسلم مذكوره ماشوم ته اوونيل يا ابا عمير ما فعل النغير، چنانچې ددغه ماشوم سره مرغۍ وه چې لوبي يي وربانديكولي، غرض دا چې څه وخت دا مرغۍ مړه شوه او ماشوم دهغي په وجه غمژن شو نورسول الله ورته په طور دمزاق اوونيل ايا ابا عمير ما فعل النغير.
تشريح: صاحب دحيات الحيوان ليكلي دي ددي مرغۍ نوم بلبل دي امام ترمذي وائي ددي حديث حاصل دادي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دي ماشوم ته په اسم كنيه خطاب اوكړو

او هغه يوه مرغۍ ساتلي وه چې مړه شوه دکومي په وجه چې ده ته خفګان ورسيدو رسول الله صلي الله عليه وسلم دچيړلو په غرض دده نه تپوس اوکړو او حال دادي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دا معلومه وه چې دده مرغۍ مړه شوې ده.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ أَنبأَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ إِنِّي لا أَقُولُ إِلا حَقًّا. قال ابو عيسى: تداعبنا يعني تمازحنا.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چې صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسو خو مونږ سره مزاق هم کوئ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو مګر زه هيڅ کله غلطه خبره نه کوم.

٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ صلى الله عليه وسلم وَهَلْ تَلِدُ الإِبِلَ إِلا النُّوقُ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو کس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چې د سورلۍ کوم ځاروي راته راکړئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داوښ يو بچي به درکړو سائل عرض اوکړو اي دالله رسوله د اوښ په بچي به څه اوکړم (زما خو سورلۍ پکار ده) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هر اوښ دکومي اوښې بچي وي.

تشريح: شاه ولي الله رحمه الله ليکلي دي: رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله کله خوش طبعي هم کوله ليکن په خوش طبعۍ کي به يي هم دربښتياوو نه علاوه بل څه نه وئيل يو خل يو کس د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يي وکړو چې اي د الله رسوله ما په اوښ باندي سور کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل زه به دي د اوښ په بچي باندي سور کړم، هغه کس عرض وکړو چې د اوښ بچي خو زما وزن نشي برداشت کولی، نو ورته يي اوفرمائيل ايا اوښ د اوښې بچي نه وي؟

بل ځل يوه ښځه په خدمت نبوي کي حاضره شوه او عرض يي وکړو اي د الله رسوله زما خاوند بيمار دی او هغه ته غوښتلی يي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ايا ستا خاوند هم هغه دي چې په سترګو کي يي سپينوالی دی؟ د سپينوالي نه د رسول الله مراد د زيزمو سپينوالی وو، ليکن مذکوره ښځي دهغه سپينوالي ګمان وکړو چې د چا په سترګو راشي نو نظر يي ختميږي دي وخت کي دا ښځه واپس اوده خپل خاوند سترګي يي وکتلي او

خاوند ته يي ووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ستا په سترگو كي سپينوالى دى خاوند ورته جواب وركړو چي ايا داسي هم څوك شته چي په سترگو كي يي سپينوالى نه وي؟

يوځل يوه بوډۍ د رسول الله صلي الله عليه وسلم كي حاضره شوه او عرض يي وكړو چي اي د الله رسوله زما دپاره دعا اوغواړه چي الله تعالي مي جنت ته داخل كړي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته جواب وركړو چي بوډۍ جنت ته نشي داخليدى نو دا ښځه په ژړا شوه چي مخ يي وهلو اود رسول الله صلي الله عليه وسلم دمجلس نه واپس روانه شوه، رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقوته اوفرمائيل چي دي بوډۍ ته اووايۍ چي هيڅ يوه ښځه به د بوډۍ والي په حالت كي جنت ته نه داخليږي بلكه دوباره وربانديږي خواني راخي اوډ خوانۍ په حالت كي به جنت ته داخليږي لكه چي ارشاد الهي دى: انا انشأنا هن انشاء فجعلناهن ابكارا عربا اترابا (الواقعه) (1) او ددي ايت موافق هغه حديث هم دى په كوم كي چي وارد دي چي الله تعالي به مومنات دوباره پيدا كوي يعني په حشر كي او خواني جينكۍ به ورنه جوړوي.

****

٥ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرًا وَكَانَ يُهْدِي إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم هَدِيَّةً مِنَ الْبَادِيَةِ فَيُجَهِّزُهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوهُ وَكَانَ صلى الله عليه وسلم يُحِبُّهُ وَكَانَ رَجُلا دَمِيمًا فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ وَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لا يُبْصِرُهُ فَقَالَ مَنْ هَذَا أَرْسِلْنِي فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَجَعَلَ لا يَأْلُو مَا أَلْصَقَ ظَهْرَهُ بِصَدْرِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم حِينَ عَرَفَهُ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الْعَبْدَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِذًا وَاللهِ تَجِدُنِي كَاسِدًا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لَكِنْ عِنْدَ اللهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ أَوْ قَالَ أَنْتَ عِنْدَ اللهِ غَالٍ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي په ځنګل كي يو كس اوسيدو چي نوم يي زاهربن حرام وو زاهر چي به كله درسول الله صلي الله عليه وسلم ملاقات ته راتلو نو دځنګل تحفي سبزياني او تركارياني وغيره به يي دخان سره راوړلي مګر كله چي به هغه دمديني نه دواپس تلو اراده

---

1. يعني مونږ پيدا كړي دي دوۍ لره په يو خاص پيدائش سره پس ګرځولي دي مونږ دوۍ پيغلي د هميشه دپاره او خپلو خاوندانو ته محبوب او هم عمر.

اوکړه رسول الله صلي الله عليه وسلم به هغه ته دبنار دخوراك څښاك څيزونه ورکول يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زاهر زمونږ ځنګل دي او مونږ دهغه ښار يو درسول الله صلي الله عليه وسلم ورسره خصوصي تعلق وو زاهر دشکل نه هم کمزوري وو يو ځل په يو ځاي کي ولاړ وو او خپل څه سامان يي خرڅول چي په دي وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړو او دوروسته طرف نه يي وربانديلاس په داسي طريقه کيخودو چي دي يي اونه ويني زاهر اووئيل څوك يي؟ ما پريږده ليکن چي کله يي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدو او ويي پيژندلو نو خپله ملا يي په مزه مزه شاته وروسته کړه او درسول الله صلي الله عليه وسلم دسيني سره يي اولګوله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسي به څوك وي چي دا غلام واخلي؟ زاهر عرض اوکړو اي دالله رسوله که په ما يي خرڅوئ نو ډير کم او کوټه قيمت به واخلي رسول الله اوفرمائيل داسي نه ده دالله تعالي په نزد ته کوټه نه يي او که داسي يي اوفرمائيل ته دالله تعالي په نزد زيات قيمت والا يي.

****

٦ـحَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ الْمِقْدَامِ قَالَ حَدَّثَنَا الْمُبَارَكُ بْنُ فَضَالَةَ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ أَتَتْ عَجُوزٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ ادْعُ اللهَ أَنْ يُدْخِلَنِي الْجَنَّةَ فَقَالَ يَا أُمَّ فُلَانٍ إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَدْخُلُهَا عَجُوزٌ قَالَ فَوَلَّتْ تَبْكِي فَقَالَ أَخْبِرُوهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوزٌ إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا. (الواقعة:٣٧)

ترجمه : دحسن بصري بيان دي فرماني چي يوه بوډۍ ښځه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوه او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله يوه دعا راته اوښايئ چي دهغي په وسيلو مي الله تعالي جنت ته داخل کړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بوډۍ ګاني ښځي جنت ته نشي داخليدي دي خبري اوريدو سره مذکوره بوډۍ دژړا په حال کي واپس شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بوډۍ ته اووائي چي جنت ته دبوډاوالي په حال کي څوك نه داخليږي بلکه الله تعالي به بوډۍ ګاني جنت ته د داخليدو دپاره ځواني کړي لکه چي ارشاد الهي دي " إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا "يعني مونږ به راژوندۍ کړو دوۍ لره په ژوندي کولو سره او اوبه ګرځوو دوۍ لره ځواني.

****

٣٧ــــ باب ما جاء في صفة كلام رسول الله (صلى الله عليه وسلم) في الشعر

دشعر شاعرۍ باره کي درسول الله صلي الله عليه وسلم ارشادات

١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَرِيكٌ عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قِيلَ لَهَا هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَتَمَثَّلُ بِشَيْءٍ مِنَ الشِّعْرِ قَالَتْ كَانَ يَتَمَثَّلُ بِشِعْرِ ابْنِ رَوَاحَةَ وَيَتَمَثَّلُ بِقَوْلِهِ يَأْتِيكَ بِالأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ.

ترجمه مقدام بن شريح دخپل پلار نه روايت کوي چې عائشه رضي الله عنها فرمائيل زما نه چا تپوس اوکړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم کله شعرونه لوستلي وي؟ ما ورته اووئيل هو دمثال په طور به يي کله کله دعبدالله بن رواحه شعرونه لوستل او کله کله به يي دکوم بل شاعر شعرونه هم لوستل، چنانچې کله به يي (دطرفه) دا مصرع هم لوستله، "يأتيك بالاخبار من لم تزود" يعني تاته کله کله خبرونه هغه څوك هم راوړي چاته چې تا کوم قسم معاوضه نه دده ورکړي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ أَصْدَقَ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلا اللهَ بَاطِلٌ وَكَادَ أُمَيَّةُ بْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دټولو نه زياته رښتوني کلمه کومه چې کوم شاعر وئيلي وي هغه دلبيد بن ربيعه دا قول دي "الا کل شيء ما خلا الله باطل" خبردار دالله نه علاوه د دنيا هريو څيز پناه کيدونکي دي. او ډيره نزدې وه چې اميه بن صلت اسلام راوړي وي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ جُنْدُبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ قَالَ أَصَابَ حَجَرٌ أُصْبُعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَدَمِيَتْ فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلا أُصْبُعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ مَا لَقِيتِ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ نَحْوَهُ.

ترجمه : دجندب بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم ګوته په يو کاڼي اوويشتلي شوه چې وينه ورنه جاري شوه دي وخت کي رسول الله

صلي الله عليه وسلم دا شعر اولوستلو

فَقَالَ هَلْ أَنْتِ إِلا أُصْبُعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ مَا لَقِيتِ

يعني ته خو يود ګوته يې كومې ته چې ددينه علاوه چې په وينو رنګ شوي ده څه ضرر نه دي رسيدلي او دا تكليف هم عبث نه دي بلكه دالله په لاره كي دا تكليف درته رسيدلي دي چې ثواب به يې درته دركولي شي.

ابن ابي عمر هم پخپل سند دجندب بن عبدالله بجلي رضي الله عنه نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

****

٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ قَالَ أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ لَهُ رَجُلٌ أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَا أَبَا عُمَارَةَ فَقَالَ لا وَاللهِ مَا وَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلَكِنْ وَلَّى سَرَعَانُ النَّاسِ تَلَقَّتْهُمْ هَوَازِنُ بِالنَّبْلِ وَرَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى بَغْلَتِهِ وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ آخِذٌ بِلِجَامِهَا وَرَسُولُ اللهِ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ.

ترجمه: دابو اسحاق بيان دي براء بن عازب رضي الله عنه فرمائيل يو كس رانه تپوس اوكړو ايا تاسو ټولو رسول الله صلي الله عليه وسلم په جنګ احد كي يواځي پريخودلي وو او تيخته مو ورنه كړي وه ما ورته اووئيل نه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مونږ شا نه وه ګرځولي بلكه په فوج كي بعضي جلتي كونكو دبني هوازن قبيلي په وراندي دغشو دلګيدو په وجه مخ ګرځولي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله قچره سور وو او ابو سفيان بن الحارث يې واګي نيولي وي او رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه وخت كي دا كلمات فرمائيل "انا النبي لاكذب انا ابن العبد المطرب" يعني يقينا بغير دشك نه زه نبي يم او د عبدالمطلب اولاد يم.

****

٥_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ وَابْنُ رَوَاحَةَ يَمْشِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُوَ يَقُولُ خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ الْيَوْمَ نَضْرِبْكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهِ وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ يَا ابْنَ رَوَاحَةَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَفِي حَرَمِ اللهِ تَقُولُ الشِّعْرَ فَقَالَ صلى الله عليه وسلم خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ فَلَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ.

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم د عمرة القضاء دپاره مکې ته لاړو نو عبدالله بن رواحه پئبنه غاړه کي تړره اچولي وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم داوښې مهار يې نيولي وو او مخکې مخکې ورنه روان وواو دا اشعار به يې ونيل

خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهِ الْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهِ
ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهِ وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهِ

يعني اي دکافرانو اولاده تاسو درسول الله صلي الله عليه وسلم دلاري نه لري شئ:
نن ورځ به مونږ تاسو لره وهو په وجه دراتلو دده
په داسې وهلو سره چې کوپړي به مو دځپل ځاي نه جدا کوي
اوجګري دوست به دځپل دوست نه بې خبره کوي
عمر فاروق رضي الله عنه عبدالله بن رواحه منع کړو چې دالله په حرم کي او درسول الله په وړاندي ته شعرونه لولي، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل اي عمر مه يې منع کړه دا اشعار په اثر کولو کي دغشي نه ډير سخت وي.

****

٦_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَرِيكٌ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَالَسْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ مَرَّةٍ وَكَانَ أَصْحَابُهُ يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ وَيَتَذَاكَرُونَ أَشْيَاءَ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ سَاكِتٌ وَرُبَّمَا تَبَسَّمَ مَعَهُمْ.

ترجمه دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په مجلسونو کي دسلو نه ډيري پيري کيناستلي يم او ملګرو به يې شعرونه ونيل او دجاهليت دزماني بعضې خبري به يې يادولي او رسول الله صلي الله عليه وسلم به خاموش ناست وو او ډير کرته به داسې حالات راغلل چې ددوئ سره به يې اوخاندل

****

٧_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَرِيكٌ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ أَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا الْعَرَبُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دعربو په شاعرانو کي بهترين کلام دلبيد دا مقوله ده "الاء کل شيء ما خلا الله باطل" يعني

د الله تعالى نه علاوه هر يو ځيز پناه كيدونكي دي.

****

٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطَّائِفِيِّ عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَأَنْشَدْتُهُ مِائَةَ قَافِيَةٍ مِنْ قَوْلِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ الثَّقَفِيِّ كُلَّمَا أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم هِيهْ حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةً يَعْنِي بَيْتًا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِنْ كَادَ لَيُسْلِمُ.

ترجمه: عمرو بن شريد رضي الله عنه دخپل پلار نه روايت نقل كوي فرمائيل يي چې زه يو خل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په سورلۍ باندي شاته ناست وم او دغه وخت كي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د اميه سل شعرونه واورول او دهر شعر داوريدو په موقعه به رسول الله فرمائيل نور واوروه، او په اخر كي رسول الله اوفرمائيل ډيره نزدي وه چې اسلام يي راوړي وي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ قَالا حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَضَعُ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَوْ قَالَ يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَيَقُولُ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ مَا يُنَافِحُ أَوْ يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالا حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِثْلَهُ.

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي دحسان بن ثابت رضي الله عنه دپاره به اكثر په مسجد كي منبر ايخودلي كيدو تردي چې په دي باندي اودريږي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دطرفه مفاخرت اوكړي يعني درسول الله په تعريف كي فخريه اشعار اولولي او يا درسول الله دطرفه مدافعت اوكړي يعني دكافرانو دالزامونو جوابه اوكړي دراوي شك دي، او رسول الله به دا هم فرمائيل الله تعالي جل جلاله په روح القدس يعني جبرائيل سره دحسان مدد كوي څو پوري چې دي ددين مدد كوي.

اسماعيل بن عيسى پخپل سند دعائشه رضي الله عنها په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل حديث پشان روايت نقل كړي دي.

****

٣٨_ باب ما جاء في كلام رسول الله (صلى الله عليه وسلم) في السمر

دشپې دقصو كولو باره كې درسول الله صلى الله عليه وسلم ارشادات

١_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ الْبَزَّارُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الثَّقَفِيُّ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَقِيلٍ عَنْ مُجَالِدٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ حَدَّثَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ نِسَائَهُ حَدِيثًا فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ كَأَنَّ الْحَدِيثَ حَدِيثُ خُرَافَةَ فَقَالَ أَتَدْرُونَ مَا خُرَافَةُ إِنَّ خُرَافَةَ كَانَ رَجُلًا مِنْ عُذْرَةَ أَسَرَتْهُ الْجِنُّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَمَكَثَ فِيهِمْ دَهْرًا ثُمَّ رَدُّوهُ إِلَى الإِنْسِ فَكَانَ يُحَدِّثُ النَّاسَ بِمَا رَأَى فِيهِمْ مِنَ الأَعَاجِيبِ فَقَالَ النَّاسُ حَدِيثُ خُرَافَةَ.

ترجمه : عائشه رضي الله عنها فرمائي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل اهل ته يوه قصه بيان كړه دغه وخت كې يوې ښځې اووئيل دا قصه دتعجب او حيرانتيا متعلق بالكل دخرافه دقصو پشان ده (په عربو كې دخرافه قصې ضرب المثل وې) رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوكړو ايا ته په دې خبر يې چې دخرافه دقصې اصل مقصد څه وو؟ خرافه دبنو عذره قبيلې يو كس وو چې پيريانو بوتلې وو او ديوې مودې پورې يې دځان سره ساتلې وو او بيا يې په خلقو كې پريښودو نو خرافه چې هلته كوم عجائبات ليدلې وو هغه به يې خلقو ته بيانول او هغوئ به حيرانيدل دهغه نه پس خلقو به حيرانونكو قصو ته دخرافه قصې وئيلې.

****

٢_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَخِيهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَلَسَتْ إِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ أَنْ لا يَكْتُمْنَ مِنْ أَخْبَارِ أَزْوَاجِهِنَّ شَيْئًا فَقَالَتِ الأُولَى زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَأْسِ جَبَلٍ وَعْرٍ لا سَهْلٌ فَيُرْتَقَى وَلا سَمِينٌ فَيُنْتَقَلُ قَالَتِ الثَّانِيَةُ زَوْجِي لا أَبُثُّ خَبَرَهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ لا أَذَرَهُ إِنْ أَذْكُرْهُ أَذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ قَالَتِ الثَّالِثَةُ زَوْجِي الْعَشَنَّقُ إِنْ أَنْطِقْ أُطَلَّقْ وَإِنْ أَسْكُتْ أُعَلَّقْ قَالَتِ الرَّابِعَةُ زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ لا حَرٌّ وَلا قُرٌّ وَلا مَخَافَةَ وَلا سَآمَةَ قَالَتِ الْخَامِسَةُ زَوْجِي إِنْ دَخَلَ فَهِدَ وَإِنْ خَرَجَ أَسِدَ وَلا يَسْأَلُ عَمَّا عَهِدَ قَالَتِ السَّادِسَةُ زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ وَإِنِ اضْطَجَعَ الْتَفَّ وَلا يُولِجُ الْكَفَّ لِيَعْلَمَ الْبَثَّ قَالَتِ السَّابِعَةُ زَوْجِي عَيَايَاءُ أَوْ غَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ شَجَّكِ أَوْ فَلَّكِ أَوْ جَمَعَ كُلًّا لَكِ قَالَتِ الثَّامِنَةُ زَوْجِي الْمَسُّ مَسُّ أَرْنَبٍ وَالرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ قَالَتِ التَّاسِعَةُ زَوْجِي رَفِيعُ

الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنَ النَّادِ قَالَتِ الْعَاشِرَةُ زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ لَهُ إِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ قَلِيلاتُ الْمَسَارِحِ إِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ أَيْقَنَّ أَنَّهُنَّ هَوَالِكُ قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ زَوْجِي أَبُو زَرْعٍ وَمَا أَبُو زَرْعٍ أَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ أُذُنَيَّ وَمَلأَ مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ وَبَجَّحَنِي فَبَجِحَتْ إِلَيَّ نَفْسِي وَجَدَنِي فِي أَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي أَهْلِ صَهِيلٍ وَأَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ فَعِنْدَهُ أَقُولُ فَلا أُقَبَّحُ وَأَرْقُدُ فَأَتَصَبَّحُ وَأَشْرَبُ فَأَتَقَمَّحُ أُمُّ أَبِي زَرْعٍ فَمَا أُمُّ أَبِي زَرْعٍ عُكُومُهَا رَدَاحٌ وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ ابْنُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا ابْنُ أَبِي زَرْعٍ مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ وَتُشْبِعُهُ ذِرَاعُ الْجَفْرَةِ بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ طَوْعُ أَبِيهَا وَطَوْعُ أُمِّهَا مِلْءُ كِسَائِهَا وَغَيْظُ جَارَتِهَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ فَمَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ لا تَبُثُّ حَدِيثَنَا تَبْثِيثًا وَلا تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا وَلا تَمْلأُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا قَالَتْ خَرَجَ أَبُو زَرْعٍ وَالأَوْطَابُ تُمْخَضُ فَلَقِيَ امْرَأَةً مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ يَلْعَبَانِ مِنْ تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ فَطَلَّقَنِي وَنَكَحَهَا فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلا سَرِيًّا رَكِبَ شَرِيًّا وَأَخَذَ خَطِّيًّا وَأَرَاحَ عَلَيَّ نَعَمًا ثَرِيًّا وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ زَوْجًا وَقَالَ كُلِي أُمَّ زَرْعٍ وَمِيرِي أَهْلَكِ فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ أَعْطَانِيهِ مَا بَلَغَ أَصْغَرَ آنِيَةِ أَبِي زَرْعٍ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم كُنْتُ لَكِ كَأَبِي زَرْعٍ لأُمِّ زَرْعٍ.

ترجمه: عروه د عائشه رضي الله عنها بيان نقل كوي فرمائيل يې چې يوځل يولس ښځې په يو مجلس كې ناستې وې او خپل مينځ كې يې معاهده وكړله چې په دوئ كې به هره يوه د خپل خپل خاوند پوره پوره رښتيا حال بيانوي او هيڅ به پټ نه پټوي، په دوئ كې اولنۍ ښځې ووئيل زما خاوند ډير ناكاره دى او د خوار اوښ د غوښې پشان دى (يعني په هغه كې د اوښ د مړي غوښې پشان هيڅ حركت او زندګي نشته اونه ورته د چا رغبت كيږي) او بيا دغه مړه غوښه هم په يو سخت ګران غر باندې وي چې ختل ورته اسان نه وي، او نه دغه غوښه داسې وي چې مشكل غر ته وريسې ختل برداشت كړى شي او دا را كوزه كړى، او بيا اختيار كړى شي. دويمې ووئيل كه زه د خپل خاوند حالت بيانوم نو څه به بيان كړم (دهغه باره كې څه نشم ويلى) زما سره دا ويره ده كه زه دده عيوب بيانول شروع كوم نو بيا به دده ظاهري او باطني ټول بيانوم. دريمې ووئيل: زما خاوند بې دريغه لوړ دى، كه زه ورته څه خبره كوم نو فورا طلاق راكوي او كه خاموشي كوم نو زوړنده پاتې كيږم، څلورمې ووئيل: زما خاوند دتهامه د غر پشان معتدل مزاجه دى، نه ډيره چاپلوسي كوي او نه بې زاري ظاهروي، نه ډير ګرم دى او نه ډير يخ نه ورنه څوك ويريږي او نه ورنه څوك خفګان كوي، پنځمې ووئيل: زما خاوندچې كله كور ته راځي نو پړانګ ورنه جوړيږي او كله چه بهر ته اوځي نو شير ورنه جوړيږي او چې څه په

کور کي وي دهغي تحقیقات نه کوي، شپږمي ووئیل : زما خاوندچي کله خوراك کوي نو هر څه رانغاړي او چي څکل کوي نو هرڅه ختموي او چي کله څملي نوپواخي په بستره کي ځان رانغاړي او ماته لاس هم نه راوړاندي کوي د کوم چي ورته خما د بدحالئ پته ولګي، اومي ووئیل . زما خاوندد صحبت نه عاجز او نامرده او دومره بي وقوف دي چي د چا په وړاندي خبري هم نشي کولي ، په دنیا کي چي په چا کومه بیماري موجود ده هغه په ده کي هم موجود ده، اواخلاق یي داسي دي چي سر مي زخمي کوي یا مي ټول بدن زخمي کوي، او یا مي دواړه خرابوي، اتمي ووئیل : زما خاوندپه مسه کولو کي د خرګوش پشان نرم دی او په خوشبو کي د زعفرانو پشان خوشبویه دی، نهمي ووئیل : زما خاوندرفیع الشان او ډیرو ایرو والا (ډیر مهربان) دي تیټ کور والااو لوړ قد والادي دده کور مجلس او دار الندوي ته نزدي دي، لسمي ووئیل : زما خاوندمالك دی اود مالك به درته څه وایم زما مالك د هر چا نه بهتر دي، د مالك به درته څه حال بیان کړم، اوښان یي ډیر زیات دي کوم چي اکثر کور ته نزدي کینولی شي، او چراګاه ته څریدو دپاره ځي، دا اوښان چي کله د څونکي اواز واوري نو یقین یي راشي چي ددوئ د هلاکت وخت پوره شوی دی، یولسمي ووئیل : زما خاوندابو زرع دي ، د ابو زرع څه تعریف وکړم؟ په زیوراتو یي زما غوږونه درانه کړي دي او په ډیرو خوراکونو یي زما متي په غوښه درني کړي دي، ما دومره خوشحاله او مسته ساتي چي زه یي په عجب او خود پسندئ کي د ځان نه ورکه کړي یم ، هغه زه په یوه داسي تنګدسته کورنئ کي موندلي یم چي صرف په یو څو چیلو به یي وخت تیریدلو، او دهغوئ نه یي یو داسي خوشحال خاندان ته راوستلم د چا سرد چي اوښان او فصلونه او غویان او د زمینداري زمکي دي، او خوش اخلاق دومره دی چي په هیڅ خبره ماته بدرد نه وایي او زه د غرمي پوري اکثر اوده یم چي هیڅوك مي نشي پاڅولی . اوپه خوراك څښاك کي مي دومره وسعت دی چي زه په خوراك مړه شم او بیا هم رانه خوراك پاتي شي، د ابو زرع مور هم یو شان لري دهغي به درته څه تعریف کوم ددوئ لوي لوي لوښي هر وخت ډك وي او کور یي انتهایي لوي دی ، د ابو زرع د څوي حالت هم حیرانونکي دی، دهغه د خوب ځاي هم د کهجوري د لښتي د اینودو په مقدار ځاي دي، یعني نري بدن والا دي، صرف د چیلي د یو لاس غوښه هم دهغه د خیټي دمړیدو دپاره کافي ده، یعني دومره بهادر دی چي د خوب دپاره هم کوم خاص انتظام مناسب نه ګڼري، اود سپاهیانو پشان زندګي تېروي ، د ابو زرع د لور به درته څه وایم؟ د مور تابعداره ده، اود مور د بني دپاره سوزونکي ده، د ابو زرع د وینځي هم عجیب حال دی ،هیڅکله یي زمونږ د کور خبري بهر نه دي کړي، اود خوراك پوري کوم معمولي څیز یي چرته بغیر اجازته خرچ کړي نه دی. او په کور کي ګندګي او کباړ هم جمع کیدو ته نه پریږدي (کور صفا ساتي) ام زرع وایي زمونږ دا حالت وو، (ډیره ښکلي زندګي مو تیریدله) یوه ورځ چي کله د سحر وخت کي د شودو لوښي خوځیدلو

ابو زرع د کور نه اوتلو او په لار کي يي يوه ښځه وليدله چي پرته وه د پرانګ د بچو پشان دوه ماشومان يي دتشي لاندي پراته او ددي په دوه انارو(سينو) يي لوبي کولي نو د ابوزرع هغه خوښه شوه او نکاح يي ورسره وکړله او ماته يي طلاق راکړل (ماته طلاق خکه راکړل چي زما د بنتوب په وجه هغي ته پريشاني نه وي او ماته د طلاق راکولو په وجه د دهغي په زړه کي د ابو زرع مقام زيات شي) په يو روايت کي دي چي ابو زرع دهغي سره نکاح وکړله بيا دنکاح نه پس هغي ماته په طلاق راکولو اصرار کولو ، اخر دا چي ماته يي طلاق راکړل، ددينه پس ما بيا ديو بل سردار او شريف سړي سره نکاح اوکړه چه په اسونو سورلي کوي او نوکران لري هغه ماته ډير لوي نعمتونه راکړل او هر قسم څاروي او اوښان غواګاني او چيلي وغيره هر څيز يي ماته راکړل او دا يي راته هم اووئيل اي ام زرع پخپله هم خوره او دمور کره يي هم ليږه ليکن خبره داده که زه دده داټولي تحفي راجمع کړم خو بيا هم دابوذرعه يوي وړي تحفي ته نشي رسيدلي، عائشه رضي الله عنها فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته داقصه بيان کړه چه زه ستا دپاره داسي يم څنګه چه ابوذرع دام ذرع دپاره دي.

****

٣٩_ باب ما جاء في صفة نوم رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دخوب او د اوده کيدو ذکر

١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صل الله عليه وسلم كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ الأَيْمَنِ وَقَالَ رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ مِثْلَهُ وَقَالَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ.

ترجمه: دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم اوده کيدو خپل ښي لاس به يي دښي طرف مخ لاندي ايخودلو او دا دعا به يي وئيله "رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ " يعني اي الله دقيامت په ورځ ما دخپل عذاب نه بچ کړي. محمد بن مثني پخپل سند دعبدالله رضي الله عنه نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي مګر دده په روايت کي دتبعث په ځاي باندي تجمع الفاظ راغلي دي.

****

٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ

عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ.

ترجمه : دحذيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله بستره د ارام كولو اراده اوكړه نو دا دعا به يې ونيله" اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا "" يعني اي الله زه ستا په نوم مړ كيږم (يعني اوده كيږم) او ستا په نوم راژوندي كيږم (يعني بيداريږم) او چې كله به دخوب نه بيدار شو نو دا دعا به يې ونيله " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ " يعني تمام تعريفونه دهغه ذات دپاره دي چاچې ماته دمرګ نه پس ژوند راكړو او همدي پاك ذات طرف ته دقيامت په ورځ واپس ورتلل دي (يعني دزندګئ په پريشانو كي هم هغه دهر چا مرجع ده)

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ عَنْ عُقَيْلٍ أُرَاهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ فَنَفَثَ فِيهِمَا وَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهِ يَبْدَأُ بِهِمَا رَأْسَهُ وَوَجْهَهُ وَمَا أَقْبَلَ مِنْ جَسَدِهِ يَصْنَعُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي هره شپه چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلي بستري ته رسيدو نو دواړه لاسونه به يې يوځاي كړل او په دواړو كي به يې پو چپ اوكړو او سورة اخلاص او معوذتين به يې اولوستل بيا چې به يې لاسونه دجسم څومره حصي ته رسيدل په هغي به يې رانبكل شروع كړل او په سر او په مخ باندي خپل لاسونه رانبكل او دجسم په مخامخ حصه به يې لاسونه رانبكل او دا عمل به يې دري پيري كولو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم نَامَ حَتَّى نَفَخَ وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ فَأَتَاهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ فَقَامَ وَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوده شو تردي پوري چې خراري يي شروع كړو او درسول الله عادت شريفه دا وو چې كله به اوده كيدو نو خراري به يې كولو (په دي خل هم داسي اوشول) تردي چې بلال رضي الله عنه

راغلو او دمونځ د تياريدو خبر يې ورکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم لاړو او مونځ يې ورکړو او نوي اودس يې اونکړو، او په دې حديث کې يوه قصه هم مذکور ده.

****

٥ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لا كَافِيَ لَهُ وَلا مُؤْوِيَ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله خپلې بسترې ته ورغلو نو دا دعا به يې وئيله " الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لا كَافِيَ لَهُ وَلا مُؤْوِيَ. " يعني تمام تعريفو دهغه ذات دپاره دي چاچې زمونږ خېټه مړه کړه او مونږ يې سيراب کړو او زمونږ ضرورتونه يې پوره کړل او مونږ ته يې د ارام کولو دپاره ځاي راکړو پس څومره بندګان دالله داسې دي چې نه دهغوئ دپاره څوك ضرورت پوره کونکي شته او نه څوك هغوئ ته ځاي ورکونکي شته.

****

٦ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُرَيْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَبَاحٍ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا عَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ.

ترجمه: دابوقتاده رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله په سفر کې دشپې چرته دارام کولو دپاره پړاؤ اچولو نو په ښي ډډه به پريوتلو، او چې کله به يې دشپې په اخري حصه کې سحر ته نزدې ارام کولو نو خپلې څپې به يې اودرولې او خپل سر به يې پخپل ورغوي کېخودو او بيا به اوده شو

****

٤٠ـ باب ما جاء في عبادة رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دعبادت ذکر

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ وَبِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ قَالا حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلاقَةَ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَتَّى انْتَفَخَتْ قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ أَتَتَكَلَّفُ هَذَا وَقَدْ غَفَرَ

اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا.

ترجمه: دمغیره بن شعبه رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به په نفلي مونځونو کي دومره اوږده اوږده رکعاتونه کول چې خپې مبارکي به یې په ولاړه اوپړسیدلي صحابه کرامو عرض اوکړو تاسو دومره ډیر مشقت برداشت کوئ او تکلیف په خان تیروئ او حال دادي چې الله تعالي تاته مخکني او وروستني گناهونه بخښلي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم په جواب کي اوفرمائیل ایا زه دالله تعالي شکرگذار بنده جوړنشم؟

****

۲ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ قَالَ حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي حَتَّى تَرِمَ قَدَمَاهُ قَالَ فَقِيلَ لَهُ أَتَفْعَلُ هَذَا وَقَدْ جَائَكَ أَنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا.

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به په دي درجه کي نوافل کول چې خپې به یې اوپړسیدلي چا عرض اوکړو اي دالله رسوله ایا تاته مخکني او روستني گناهونو دمعاف کیدو زیري نه دي شوي (هر کله چې داسي ده نو بیا) تاسو ولي دومره تکلیف او مشقت برداشت کوئ رسول الله صلي الله علیه وسلم په جواب کي اوفرمائیل ایا زه دالله تعالي شکرگذار بنده جوړنشم؟

****

۳ـ حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ عُثْمَانَ بْنِ عِيسَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرَّمْلِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَمِّي يَحْيَى بْنُ عِيسَى الرَّمْلِيُّ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُومُ يُصَلِّي حَتَّى تَنْتَفِخَ قَدَمَاهُ فَيُقَالُ لَهُ يَا رَسُولَ اللهِ تَفْعَلُ هَذَا وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا.

ترجمه: دابوهریره رضي الله عنه بیان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به په دي درجه کي نوافل کول چې خپې به یې اوپړسیدلي چا عرض اوکړو اي دالله رسوله ایا تاته مخکني او روستني گناهونو دمعاف کیدو زیري نه دي شوي (هر کله چې داسي ده نو بیا) تاسو ولي دومره تکلیف او مشقت برداشت کوئ رسول الله صلي الله علیه وسلم په جواب کي اوفرمائیل ایا زه دالله تعالي شکرگذار بنده جوړنشم؟

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِاللَّيْلِ فَقَالَتْ كَانَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ ثُمَّ يَقُومُ فَإِذَا كَانَ مِنَ السَّحَرِ أَوْتَرَ ثُمَّ أَتَى فِرَاشَهُ فَإِذَا كَانَ لَهُ حَاجَةٌ أَلَمَّ بِأَهْلِهِ فَإِذَا سَمِعَ الأَذَانَ وَثَبَ فَإِنْ كَانَ جُنُبًا أَفَاضَ عَلَيْهِ مِنَ الْمَاءِ وَإِلَّا تَوَضَّأَ وَخَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ.

ترجمه داسود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دعائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دشپې دمونځونو يعني دتهجد او وترو په باره کي استفسار اوکړو چي دهغوئ څه معمول وو؟ ام المؤمنين راته په جواب کي اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به دماخوستن دمونځ نه پس دشپې په اولنۍ حصه کي ارام کولو تردي پوري چې کله به دشپې اخري حصه شروع شوه نو وتر به يي وکړل ددينه پس به خپلي بستري ته راغلو نو که رغبت به يي وو نو خپل اهل ته به ورغلو او بيا به دسحر د اذان نه پس پاڅيدو که دغسل ضرورت به وو نو اوبه يي کړو او که ضرورت به نه وو نو فورا به مونځ ته روان شو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ ح وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ عَنْ مَالِكٍ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ قَالَ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي طُولِهَا فَنَامَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ فَاسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الآيَاتِ الْخَوَاتِيمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي ثُمَّ أَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى فَفَتَلَهَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ قَالَ مَعْنٌ سِتَّ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَوْتَرَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

ترجمه دکريب بيان دي فرمائي چې ماته ابن عباس رضي الله عنهما خبر راکړي دي يو ځل زه دخپلي ترور ام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها کره اوده شوم او رسول الله صلي الله عليه وسلم دبالخت په اوږدو او ما دبالخت په پلنو سر ايخودلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلي کور والا سره دلږو خبرو کولو نه پس اوده شو تردي پوري چې شپه نيمي ته اورسيده او

يا ددينه لږ مخکې او يا ددينه لږ وروسته بيدار شو اوو دخوب نه دبيداريدو په وجه يې سترګې مږلې او بيا يې دسورة ال عمران اخري لس ايتونه اولوستل او بيا داوبو يو مشك طرف ته وررروان شو چې داوبو نه ډك زوړند کړې شوې وو او دهغې نه يې اودس اوکړو او دمونځ دپاره يې نيت اوکړو ابن عباس رضي الله عنهما وائي ما هم اودس اوکړو او درسول الله صلي الله عليه وسلم يو طرف ته اودريدم، رسول الله صلي الله عليه وسلم زما په سر لاس کيخودلو او زما غوږ يې اومږلو، او دوه دوه رکعاته مونځ يې کولو معن راوي وائي چې شپږ پيرې رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه دوه رکعاتونه اوکړل او بيا يې وتر اوکړل او بيا پريوتو کله چې بلال رضي الله عنه دسحر دمونځ دپاره دخبر ورکولو په اراده راغې نو دوه رکعاته سنت يې مختصر قرائت سره اوکړل او دمونځ دپاره مسجد ته روان شو.

****

٦_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً.

ترجمه: ابوجمره دابن عباس رضي الله عنه نه روايت نقل کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپې ديارلس رکعاته مونځ کولو.

****

٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ إِذَا لَمْ يُصَلِّ بِاللَّيْلِ مَنَعَهُ مِنْ ذَلِكَ النَّوْمُ أَوْ غَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې کله به دکوم عذر په وجه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دشپې تهجد پاتې شول نو دورځې به يې دغرمې په وخت کې دولس رکعاتونه کول.

****

٨_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ يَعْنِي ابْنَ حَسَّانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَفْتَتِحْ صَلاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ.

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې دتهجد دپاره دشپې پاځئ نو اولنې دوه رکعاتونه مختصر اوکړئ.

****

٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ) ح (وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَهُ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ لأَرْمُقَنَّ صَلاةَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَتَوَسَّدْتُ عَتَبَتَهُ أَوْ فُسْطَاطَهُ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ أَوْتَرَ فَذَلِكَ ثَلاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً.

ترجمه : دزيد بن خالد جهني رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې ما يو خل قصد اوکړو چې زه به درسول الله صلي الله عليه وسلم مونځ ته په غور گورم نومادرسول الله صلي الله عليه وسلم دروازې يا خيمې ته ډډه اووهله گورم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه مختصر رکعاتونه اوکړل، او بيا يې دوه اوږده رکعاتونه اوکړل يعني ډير يې اوږده کړل اوبيا يې ددينه پس دوه دوه رکعاتونه کول چې دا رکعاتونه به يې دمخکنو رکعاتونو نه مختصر وو بيا يې دوه رکعاتونه اوکړل او دا رکعاتونه يې دمخکنو نه نور مزيد مختصر وو بيا يې دوه رکعاتونه اوکړل او هغه هم دماقبل رکعاتونو نه مختصر وو بيا يې دوه رکعاتونه اوکړل او هغه هم دمخکنو نه مختصر وو او بيا يې وتر اوکړل او ټول ديارلس رکعاتونه شول.

****

١٠_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ كَيْفَ كَانَتْ صَلاةُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لِيَزِيدَ فِي رَمَضَانَ وَلا فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا لا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا لا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلاثًا قَالَتْ عَائِشَةُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلا يَنَامُ قَلْبِي.

ترجمه : دابوسلمه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې مادعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به په رمضان کې تهجد څو رکعاتونه کول؟ هغې راته اووئيل رسول الله به په رمضان او غير رمضان دواړو وختونو کې ديولس رکعاتونو نه دشپې

مونځ نه زياتولو اول به يې څلور رکعاتونه اوکړل خو داوږدوالي يې څو تپوس مه کوه چې څومره اوږده وو او څومره په عمدګۍ او بهترين حالت او خشوع او خضوع سره يې کړي دي، دا رنګې به يې څلور نور رکعاتونه اوکړل چې داوږدوالي او بهترۍ يې څه تپوس مه کوۍ بيا به يې درې رکعاتونه يعني وتر اوکړل، عائشه رضي الله عنها فرماني مارسول الله صلي الله عليه وسلم ته مې عرض اوکړو چې تاسو دوترو کولو نه مخکې اوده کيږئ رسول الله ورته اوفرمائيل زما سترګې اودې کيږي ليکن زړه مې بيدار وي.

****

١١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ نَحْوَهُ) ح(وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ نَحْوَهُ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپې يولس رکعاته مونځ کولو او په دې رکعاتونو کې به يې ديو رکعات په ذريعه دمونځ رکعاتونه طاق ګرځول او بياچې به کله دوترو نه فارغ شو نو دسحر دمونځ په انتظار کې به په ښي اړخ څملاستو.

****

١٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَهُ.

ترجمه : داسود بيان دي فرمائي چې عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپې نهه رکعاته مونځ کولو، محمود بن غيلان وائي ماته يحي بن ادم حديث بيان کړي دي او هغه ته سفيان ثوري داعمش په واسطه دماقبل هم معني روايت بيان کړي دي.

****

١٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ رَجُلٍ مِنَ الأَنْصَارِ عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي عَبْسٍ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِنَ اللَّيْلِ قَالَ فَلَمَّا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ

وَالكِبْرِيَاء وَالعَظَمَةِ قَالَ ثُمَّ قَرَأَ البَقَرَةَ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعَهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ وَكَانَ يَقُولُ سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِنْ رُكُوعِهِ وَكَانَ يَقُولُ لِرَبِّيَ الحَمْدُ لِرَبِّيَ الحَمْدُ ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُودُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ وَكَانَ يَقُولُ سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَكَانَ مَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنَ السُّجُودِ وَكَانَ يَقُولُ رَبِّ اغْفِرْ لِي رَبِّ اغْفِرْ لِي حَتَّى قَرَأَ البَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ وَالنِّسَاء وَالمَائِدَةَ أَوِ الأَنْعَامَ شُعْبَةُ الَّذِي شَكَّ فِي المَائِدَةِ وَالأَنْعَامِ. قال ابو عيسى وابو حمزة اسمه طلحة بن زيد وابو جمرة الضبعي اسمه نصر بن عمران

ترجمه : دحذيفه رضي الله عنه باره كي مروي دي فرمائيل يي چې مادرسول الله صلي الله عليه وسلم سره دشپې مونځ كړي دي وئيل يي چې كله رسول الله صلي الله عليه وسلم په مونځ كي داخل شو نو دا دعا يي اووئيله الله اكبر ذوالملكوت والجبروت والكبرياء والعظمة، او بيا يي سورة بقره اولوستله او ركوع يي اوكړه اودرسول الله ركوع (په اوږدوالي كي) دركعات پشان وه او فرمائيل يي "سبحان ربي العظيم. سبحان ربي العظيم" يعني پاك دي رب زما چې ډير لوي دي، پاك دي رب زما چې ډير لوي دي، او بيا يي سجده اوكړه خو سجده يي دقومې پشان وه (په اوږدوال كي چې فرمائيل يي "سبحان ربي الاعلي. سبحان ربي الاعلي" يعني پاك دي رب زما چې ډير لوي دي، پاك دي رب زما چې ډير لوي دي او بيا يي خپل سر پورته كړو او ددواړو سجدو په مينځ كي يي وقفه اوكړه او وقفه يي هم دسجدو په مقدار وه چې وئيل يي اي زما ربه ماته مغفرت اوكړي، اي زما ربه ماته مغفرت اوكړي تردي پوري چې سورة بقره، ال عمران، نساء، او مائده يا انعام يي اولوستل دشعبه راوي په مائده او انعام كي شك دي، (يعني په دي دواړو كي يي ورسره كوم يو ولوستلو) امام ترمذي وائي دابوحمزه نوم طلحه بن زيد دي او دابوحمزه ضبعي نوم نصر بن عمران دي.

تشريح : په دي حديث كي درسول الله صلي الله عليه وسلم د سجدو او ركوعګانو د كيفيت بيان دي او په دي سلسله كي امام مسلم هم د ابن عباس رضي الله عنهما نه يو ارشاد نبوي نقل كړي دی:

عن ابن عباس رضي الله عنهما: أَنَّ رسولَ الله ﷺ، قَالَ: ((فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ ﷻ، وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ، فَقَمِنٌ(١) أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ)). رواه مسلم.

ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په

---

(١) قمن: بفتح الميم وكسرها بمعني جدير. النهاية ١١١/٤.

رکوع کي دخپل رب تعظيم بيانوئ (يعني سبحان ربي العظيم وائي) اويه سجده کي دعا غوښتو کي کوشش کوئي دقبليدو يې زيات اميد دی (يعني سبحان ربي الاعلي ويلو نه پس دعا غواړئ)

فعظموا عظّم يعظم تعظيما معني تعظيم کول. فاجتهدوا معني کوشش وکړئ ، جهد جهدا ډير کوشش کول.

"په رکوع سجده کي دخپل رب تعظيم اوکړئ" علماؤ ددي دا مطلب بيان کړی دی چه په رکوع کي سبحان ربي العظيم اووائي څکه چه په دي کي درب تعظيم دی کم از کم يو ځل ونيل ددي واجب دي او دري پيري سنت دي او ددينه زيات لوستل مستحب دي.

واما السجود فاجتهدوا في الدعاء. يعني په سجده کي ددعا په غوښتلو کي ډير کوشش اوکړئ ددي وجه داده چه دسجدي په حالت کي انسان ته ډير نزدي وي او په دي کي انسان خپله انکساري او ذلت بيانوي نو الله تعالي دبنده حالت ته په کتو سره خوشحاله شي نو په دي وخت کي چه بنده ورنه هر څه اوغواړي نو دعا يې قبليږي په عام طور سره خو درسول الله معمول په رکوع کي سبحان ربي العظيم او په سجده کي سبحان ربي الاعلي ونيل وو ليکن کله کله به يې ددينه علاوه دتقديس او تسبيح نور کلمات هم ونيل ليکن احناف علماء وائي چه دا کلمات به رسول الله خاصکر دشپي په نوافلو کي لوستل.

د حذيفه بن يمان رضي الله عنه مناقب

نوم حذيفه کنيه ابو عبدالله صاحب السر لقب دقبيله بني غطفان سره يې تعلق وو دده پلار حذيفه په جاهليت کي څوك قتل کړی وو نو په دي وجه ددشمنئ نه دبچ کيدو دپاره په مدينه کي اوسيدو حذيفه دمديني نه مکي ته لاړو داسلام قبلولو دپاره، دغزوه بدر نه علاوه په تمامو غزواتو کي شريك پاتي شوی دی او عهد نبوي يې په مدينه کي تير کړی دی او بيا ددينه پس عراق، کوفه، نصيبين او مدائن ته منتقل شوی دی او په نصيبين کي يې شاګردي هم کړي ده (اسد الغابه).

عمر فاروق رضي الله عنه دعراق فتح کيدو نه پس په دجله کي حذيفه رضي الله عنه امير مقرر کړو (کتاب الخراج لامام ابو يوسف او بيا دمدائن والي مقرر کړی شو.

حذيفه رضي الله عنه دفقه او حديث لوي عالم وو او دمنافقانو په پيژندو کي يې خصوصي مهارت وو په همدي وجه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم رازدار وئيلی شوي دی پخپله وائي ددي وخت نه دقيامته پوري راتلونکي ټولي فتنې پيژنم، ليکن ددينه دي څوك دا معلومه نکړي چه زما نه علاوه بل چاته نه دي معلومي وجه داده چه رسول الله صلي الله عليه

وسلم په دي باره کي مونږ ټولو ته په يو مجلس کي خبر راکړی وو خو اوس په هغوئ کي زما نه علاوه بل هيڅوك ژوندی نشته.

دزهد او تقوي يي دا حالت وو چه دامارت باوجود يي په معاشرت کي څه تغير نه وو راغلی دتواضع په وجه به يي دسورلئ کار دخر نه اخستلو او په ډير لږ قوت لايموت رزق به يي گذاره کوله او ددينه زيات به يي دخان سره نه ساتلو عمر رضي الله عنه ورته څه مال هم اوليږلو ليکن هغه يي په خلقو تقسيم کړو.

وفات: دهجرت په ۳۲ کال عثمان رضي الله عنه دوفات نه څلويښت ورځي پس وفات شو چه په اخري عمر کي په ډيره ژړا کي مصروف وو خلقو ورنه دوجي تپوس اوکړو نو په جواب کي يي اووئيل ددنيا دپريښودو غم راسره نشته مرگ خو يو دوست دی ليکن په دي خفه يم چه زما انجام او حشر به څه وي کله چه يي اخري ساه واخستله نو ويې فرمائيل ستا ملاقات دي زما سره ماته مبارك شي ځکه چه زما درسره انتهائي زياته مينه ده (مسند احمد).

دحذيفه رضي الله عنه دسلو نه زيات روايات منقول دي چه دولس متفق عليه دي او اته صرف په بخاري کي دي او اولس په مسلم کي دي (تهذيب الكمال، اسد الغابه).

****

۱۴ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْعَبْدِيِّ عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَامَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِآيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ لَيْلَةً.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه شپه په تهجدو کي صرف يو ايت تکرار کړو.

تشريح: او هغه ايت دسورة مائدي دا ايت دي "ان تعذبهم فانهم عبادك وان تغفر لهم فانك انت العزيز الحكيم" (مائده ۱۱۸) يعني اي الله که چري ته دوئ ته عذاب ورکول غواړي نو دوئ ستا بندگان دي يعني په هر لحاظ ستا ملکيت دي ستا چه څنگه خوښه وي هغه شان په دوئ کي تصرف کولي شي، او که ته دوئ ته مغفرت کوي او ټول معاف کړي نو دا ستا دشان نه څه بعيد نه ده يقينا ته لوي قدرت او لوي حکمت والا يي.

****

۱۵ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ صَلَّيْتُ لَيْلَةً مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا

حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سُوءٍ قِيلَ لَهُ وَمَا هَمَمْتَ بِهِ قَالَ هَمَمْتُ أَنْ أَقْعُدَ وَأَدَعَ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَهُ.

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه ما يوه شپه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مونځ اوکړو او دومره اوږد قيام يي اوکړو چه ما ديو بد کار اراده اوکړه چا ورته اووئيل دځه کار اراده دي کړي وه؟ هغه اووئيل ما دا اراده کړي وه چه کينم او رسول الله په مونځ کي يواځي ولاړ پريږدم، سفيان بن وکيع دجرير نه او جرير داعمش نه هم ددي معني روايت نقل کړي دي.

****

١٦ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي النَّضْرِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ ثُمَّ صَنَعَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم تهجد په ناسته کول نو تلاوت به يي هم په ناسته کولو بيا چه به ورته کله د ديرشو يا څلويښتو ايتونو په مقدار قرائت باقي پاتي شو او دومره قرائت به يي کړي وو نو رکوع او سجده به يي اوکړه او بيا به يي دويم رکعات په ناسته کولو او باقي مونځ به يي هم داسي اوکړو.

****

١٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلاةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ تَطَوُّعِهِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي لَيْلا طَوِيلا قَائِمًا وَلَيْلا طَوِيلا قَاعِدًا فَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ وَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ جَالِسٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ جَالِسٌ.

ترجمه : دعبدالله بن شقيق بيان دي فرمائي چه ما دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دنوافلو متعلق تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به دشپي په اوږده حصه کي نوافل په ولاړه کول او دشپي په زياته حصه کي به يي په ناسته کول درسول الله صلي الله عليه وسلم عادت شريفه دا وو چه کله به يي په ولاړه قران کريم لوستلو نو رکوع او سجده به يي هم دولاړي په حالت کي اداء کوله او چه کله به

يې قران په ناسته لوستلو نو ركوع او سجده به يې هم دناستې په حالت كې اداء كوله.

****

۱۸_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ عَنْ حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ يُصَلِّي فِي سُبْحَتِهِ قَاعِدًا وَيَقْرَأُ بِالسُّورَةِ وَيُرَتِّلُهَا حَتَّى تَكُونَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا.

ترجمه: دام المؤمنين حفصه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به نوافل په ناسته كول او چه په دې كې به يې كوم سورة لوستلو نو دومره په ترتيل سره به يې لوستلو چه دا سورة به ددېنه دزيات اوږد سورة نه هم اوږد شو.

****

۱۹_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم لَمْ يَمُتْ حَتَّى كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ وَهُوَ جَالِسٌ.

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات كيدو ته په نزدې زمانه كې نوافل په ناسته كول.

****

۲۰_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ.

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دوه ركعاتونه دماسپخين نه مخكې او دوه ركعاتونه دماسپخين نه پس او دوه ركعاتونه دماښام نه پس پخپل كور كې او دوه ركعاتونه دماخوستن دمونځ نه پس هم پخپل كور كې اوكړل.

****

۲۱_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ وَيُنَادِي الْمُنَادِي قَالَ أَيُّوبُ وَأُرَاهُ قَالَ خَفِيفَتَيْنِ.

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه ماته خپلي خور حفصه رضي الله عنها ونيلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دصبح صادق نه پس چه کوم وخت کي مؤذن اذان کوي دوه مختصر رکعاتونه اداء کول.

****

٢٢- حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ بِرَكْعَتَيِ الْغَدَاةِ وَلَمْ أَكُنْ أَرَاهُمَا مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه دا هم مروي دي فرمائيل چه مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اته رکعاتونه ياد کړي دي دوه رکعاتونه دماسپخين نه مخکي او دوه رکعاتونه دماسپخين نه پس، دوه رکعاتونه دمابنام مونځ نه پس او دوه رکعاتونه دماخوستن دمونځ نه پس او حفصه ماته دسحر د دوه رکعاتونو خبر هم راکړي دي کوم چه ما نه وو ياد کړي دي.

****

٢٣- حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ وَقَبْلَ الْفَجْرِ ثِنْتَيْنِ.

ترجمه : دعبدالله بن شقيق بيان دي فرمائي چه مادعائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ متعلق تپوس اوکړو نو هغي راته دوه رکعاتونه دماسپخين نه مخکي او دوه دماسپخين نه پس او دوه رکعاتونه دمابنام نه پس او دوه رکعاتونه دماسخوتن نه پس او دوه رکعاتونه دسحر دمونځ نه مخکي بيان کړل.

****

٢٤- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَاصِمَ بْنَ ضَمْرَةَ يَقُولُ سَأَلْنَا عَلِيًّا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنَ النَّهَارِ فَقَالَ إِنَّكُمْ لَا تُطِيقُونَ ذَلِكَ قَالَ فَقُلْنَا مَنْ أَطَاقَ ذَلِكَ مِنَّا صَلَّى فَقَالَ كَانَ إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَهُنَا عِنْدَ الْعَصْرِ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَإِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هَهُنَا كَهَيْئَتِهَا مِنْ هَهُنَا عِنْدَ الظُّهْرِ صَلَّى أَرْبَعًا وَيُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَقَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ

رَكْعَتَيْنِ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَالنَّبِيِّينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ.

ترجمه : عاصم بن ضمره وائي مادعلي رضي الله عنه نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دنفلي مونځونو باره كي تپوس اوكړو چه كوم به رسول الله دورځي اداء كول نوراته يي اوفرمائيل ته ددي طاقت چرته لري مونږ عرض اوكړو چه څوك يي طاقت لري هغه خو به يي اوكړي علي رضي الله عنه اوفرمائيل دسحر وخت كي چه به كله نمر دومره راوختلو څومره چه دمازيګر دمونځ په وخت كي پورته وي دغه وخت كي به يي دوه ركعاتونه (صلاة الاشراق) اوكړل او كله چه به دمشرق طرف ته نمر دومره اوختلو څومره چه دماسپخين دمونځ په وخت كي دمغرب طرف ته وي نو دغه وخت كي به يي څلور ركعاتونه اوكړل. او څلور ركعاتونه به يي دماسپخين دمونځ نه مخكي كول او دوه ركعاتونه به يي دماسپخين نه پس اداء كول او څلور ركعاتونه به يي دمازيګر دمونځ نه مخكي كول او څلور ركعاتونه به يي ددي په مينځ كي كول او په مقربو فرشتو اوانبياؤ او مومنانو به يي سلام وئيلو.

****

٤١_ باب ما جاء في صلاة الضحى

درسول الله صلي الله عليه وسلم دڅابنت وخت دمونځ ذكر

١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ يَزِيدَ الرِّشْكِ قَالَ سَمِعْتُ مُعَاذَةَ قَالَتْ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَكَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي الضُّحَى قَالَتْ نَعَمْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ.

ترجمه : دمعاذه عدويه بيان دي فرمائي چه دعائشه رضي الله عنها نه مي تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به دڅابنت وخت كي مونځ كولو؟ راته يي اوفرمائيل هو څلور ركعاته مونځ به يي كولو او كه ددينه به يي زيات ركعاتونه كول غوښتل نو هغه به يي هم اوكړل.

****

٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنِي حَكِيمُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الزِّيَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الرَّبِيعِ الزِّيَادِيُّ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي الضُّحَى سِتَّ رَكَعَاتٍ

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به دڅابنت وخت كي شپږ ركعاته مونځ كولو.

****

٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ مَا أَخْبَرَنِي أَحَدٌ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي الضُّحَى إِلا أُمُّ هَانِئٍ فَإِنَّهَا حَدَّثَتْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ فَاغْتَسَلَ فَسَبَّحَ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مَا رَأَيْتُهُ صلى الله عليه وسلم صَلَّى صَلاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ.

ترجمه: دعبدالرحمن په نوم ديوتابعي بيان دي فرمائي چه دام هاني رضي الله عنها نه علاوه بل چا ماته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دڅاښت دمونځ خبر نه دي راكړي البته ام هاني دا وئيلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم چه په كومه ورځ مكي ته داخل شو او مكه فتح شوه په هغه ورځي زما كور ته تشريف راوړو او غسل يي اوكړو او پاڅيدو او اته ركعاته مونځ يي اوكړو او مادرسول الله صلي الله عليه وسلم ددي اته ركعاتونو نه چرته زيات مختصر مونځ نه دي ليدلي ليكن دمختصر كيدو باوجود يي ركوع او سجدي پوره پوره اداء كولي داسي نه وه چه دمختصر كيدوپه وجه يي ركوع او سجدي ناقصي شي.

****

٤_ حدثنا ابن أبي عمر حدثنا وكيع حدثنا كهمس بن الحسن عن عبد الله بن شقيق قال قلت لعائشة أكان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي الضحى قالت لا إلا ان يجيئ من مغيبه.

ترجمه: دعبدالله بن شقيق رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه مادعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به دڅاښت وخت كي مونځ كولو؟ راته يي اوفرمائيل استمرارا خو به يي نه كولو مگر چه دسفر نه به كله راغلو نو بيا به يي ضرور كولو.

****

٥_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ عَنْ فُضَيْلِ بْنِ مَرْزُوقٍ عَنْ عَطِيَّةَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ لا يَدَعُهَا وَيَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ لا يُصَلِّيهَا.

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي مونځ دومره اهتمام كولو چه مونږ به دا خيال اوكړو چه دا به هيڅ كله نه پريږدي او كله كله به يي داسي پريښودل تردي چه مونږ به خيال اوكړو چه دا به هيڅ كله

ونکړي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ عَنْ هُشَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ عَنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ سَهْمِ بْنِ مِنْجَابٍ عَنْ قَرْثَعٍ الضَّبِّيِّ أَوْ عَنْ قَزَعَةَ عَنْ قَرْثَعٍ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُدْمِنُ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تُدْمِنُ هَذِهِ الأَرْبَعَ رَكَعَاتٍ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَقَالَ إِنَّ أَبْوَابَ السَّمَاءِ تُفْتَحُ عِنْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ فَلا تُرْتَجُ حَتَّى تُصَلَّى الظُّهْرُ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِي تِلْكَ السَّاعَةِ خَيْرٌ قُلْتُ أَفِي كُلِّهِنَّ قِرَاءَةٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ هَلْ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ فَاصِلٌ قَالَ لا حدثنا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ عَنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ سَهْمِ بْنِ مِنْجَابٍ عَنْ قَزَعَةَ عَنْ قَرْثَعٍ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَحْوَهُ.

ترجمه : دابوایوب انصاري رضي الله عنه بیان دي فرمائي چه نبي کریم صلي الله علیه وسلم به دنمر دزوال وخت کي څلور رکعاتونه په پابندئ سره کول ما عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسو څلور رکعاتونه دزوال وخت کي په پابندئ سره کوئ (ددي څه وجه ده) رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دنمر دزوال وخت کي داسمان دروازي پرانیستلي کیږي او دا ترهغه وخته پوري نه بندیږي ترڅو چه دماسپخین وخت رارسیدلي نه وي پس زه دا غواړم چه زما دپاره په دي ساعت کي کوم نیك عمل دقبولیت مقام ته ورسیږي ما عرض اوکړو ایا په دي ټولو رکعاتونو کي قرائت کول پکار دي؟ رسول الله اوفرمائیل هو، ما عرض اوکړو ایا په دي کي دجداني راوستونکي سلام پکار دي؟ یعني په دوه رکعاتونو سلام ګرځول پکاردي؟ رسول الله اوفرمائیل نه. احمد بن منیع هم دابومعاویه نه پخپل سند دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه ددي هم معني روایت نقل کړي دي.

****

٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي الْوَضَّاحِ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ وَقَالَ إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ.

ترجمه : دعبدالله بن سائب رضي الله عنه بیان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم دزوال نه پس او دماسپخین دمونځ نه مخکي څلور رکعاتونه کول او دا به یي فرمائیل چه په دي وخت کي داسمان دروازي پرانیستلي کیږي او زما زړه غواړي چه زما کوم نیك عمل په

دغه وخت کي بارگاه الهي ته ورسيږي.

****

٨_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ عَنْ مِسْعَرِ بْنِ كِدَامٍ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا وَذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُصَلِّيهَا عِنْدَ الزَّوَالِ وَيَمُدُّ فِيهَا.

ترجمه: مروي دي چه علي رضي الله عنه به دماسپخين دمونځ نه مخکي څلور رکعاتونه کول او دا به يې فرمائيل چه رسول الله صلي الله عليه وسلم هم دا څلور رکعاتونه دزوال وخت کي کول او په دي کي به يې اوږد قرانت لوستلو.

****

٤٢_ باب ما جاء في صلاة التطوع في البيت

درسول الله صلي الله عليه وسلم په کور کي د نوافلو کولو ذکر

١_ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ عَنْ حَرَامِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَنْ عَمِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الصَّلَاةِ فِي بَيْتِي وَالصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ قَالَ قَدْ تَرَى مَا أَقْرَبَ بَيْتِي مِنَ الْمَسْجِدِ فَلَأَنْ أُصَلِّيَ فِي بَيْتِي أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُصَلِّيَ فِي الْمَسْجِدِ إِلا أَنْ تَكُونَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً.

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چي نوافل په مسجد کي کول اوفضل دي او که په کور کي؟ په جواب کي يي راته اوفرمائيل تاته معلومه ده چه زما کور خو مسجد ته څومره نزدي دي ليکن بيا هم زه دا غواړم چه زه پخپل کور کي مونځ اوکړم او په مسجد کي دمونځ کولو نه په کور کي مونځ کول ډير خوښوم.

****

٤٣_ باب ما جاء في صوم رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دروژو ذکر

١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صِيَامِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَتْ كَانَ يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ قَدْ صَامَ وَيُفْطِرُ حَتَّى

نَقُولَ قَدْ أَفْطَرَ قَالَتْ وَمَا صَامَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم شَهْرًا كَامِلا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ إِلا رَمَضَانَ.

ترجمه: دعبدالله بن شقيق رضي الله عنه بيان دي فرماني چه مادام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دروژو باره كي تپوس اوكړو راته يي اوونيل كله كله به يي داسي متواتر او مسلسل روژي نيولي چه مونږ به دا گمان اوكړو شايد په دي مياشت كي به افطار اونكړي او كله كله به يي مسلسل افطار جاري اوساتلو تردي چه زمونږ به دا خيال راغي چه شايد په دي مياشت كي به روژي اونه نيسي ليكن مديني ته دراتلو نه پس درمضان دمياشت نه علاوه په بله كومه مياشت كي رسول الله پوره مياشت روژي نه دي نيولي.

عبدالله بن شقيق حالات

دا د ال حضرمي مولي دی دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت نقل كوي او دده په شاگردانو كي يحيي بن قطان او وكيع وغيره قابل ذكر دي اكثر محدثينو دده توثيق كړی دی تردي پوري چي علامه نووي دده په عظمت دعلماؤ اتفاق نقل كړی دی.

****

٢_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ صَوْمِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ كَانَ يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى نَرَى أَنْ لا يُرِيدَ أَنْ يُفْطِرَ مِنْهُ وَيُفْطِرُ مِنْهُ حَتَّى نَرَى أَنْ لا يُرِيدَ أَنْ يَصُومَ مِنْهُ شَيْئًا وَكُنْتَ لا تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلا رَأَيْتَهُ مُصَلِّيًا وَلا نَائِمًا إِلا رَأَيْتَهُ نَائِمًا.

ترجمه: مروي دي چه دانس رضي الله عنه نه چا درسول الله صلي الله عليه وسلم روژو باره كي تپوس اوكړو انس په جواب كي اوونيل درسول الله عادت شريفه په دي باره كي مختلف وو بعضي مياشت به يي په دومره كثرت سره روژي نيولي چه خلقو به خيال اوكړو چه شايد په دي مياشت كي دافطار كولو اراده نه لري او بعضي مياشت به يي دومره مسلسل افطار اوكړو چه مونږ به دا گمان اوكړو چه شايد په دي مياشت كي دروژو نيولو اراده نه لري، رسول الله صلي الله عليه وسلم عادت شريفه دا هم وو كه چري تاسو به دشپي درسول الله اوده كيدل ليدل اوغوښتل نو داسي به مو هم كولي شول او كه په مونځ كولو مو دهغه ليدل غوښتل نو دا مو هم كولي شول.

****

٣_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي بِشْرٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ

بْنَ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ حَتَّى نَقُولَ مَا يُرِيدُ أَنْ يُفْطِرَ مِنْهُ وَيُفْطِرُ حَتَّى نَقُولَ مَا يُرِيدُ أَنْ يَصُومَ مِنْهُ وَمَا صَامَ شَهْرًا كَامِلا مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِينَةَ إِلا رَمَضَانَ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دا عادت شريفه مروي دي بعضي مياشت به رسول الله صلي الله عليه وسلم په اكثره حصه كي روژي نيولي ددي په وجه به زمونږ دا خيال راتلو چه شايد په دي كي يي دافطار اراده نشته او بعضي مياشت به يي په اكثره حصه كي داسي افطار اوكړو دكوم په وجه چه به زمونږ دا خيال راغي شايد په دي كي به روژي اونه نيسي ليكن درمضان نه علاوه يي په هيڅ يوه مياشت كي توله مياشت روژي نه وي نيولي.

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ إِلا شَعْبَانَ وَرَمَضَانَ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا إِسْنَادٌ صَحِيحٌ وَهَكَذَا قَالَ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَدْ رَوَى الْحَدِيثَ عَنْ عَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ جَمِيعًا عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها فرمائي چه ما رسول الله صلي الله عليه وسلم مسلسل په دوه مياشتو روژو نيولو نه دي ليدلي علاوه دشعبان او رمضان نه.

امام ترمذي وائي دام سلمه حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت مروي دي او دا حديث دابوسلمه په روايت دعائشه نه هم مروي دي، امام ترمذي وائي دا احتمال هم شته چه ابو سلمه بن عبدالرحمن دا حديث دعائشه او ام سلمه دواړو په واسطي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي وي.

****

٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ لِلَّهِ فِي شَعْبَانَ كَانَ يَصُومُ شَعْبَانَ إِلا قَلِيلا بَلْ كَانَ يَصُومُهُ كُلَّهُ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه ما رسول الله صلي الله عليه وسلم

رمضان نه علاوه په بله میاشت کي دشعبان نه په زیاتو روژو نیولو نه دي لیدلي دشعبان په اکثره حصه کي به یي روژي نیولي بلکه تقریبا ټوله میاشت به یي په شعبان کي روژه نیوله.

****

٦ـ حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسَى وَطَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ عَنْ شَيْبَانَ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ مِنْ غُرَّةِ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَقَلَّمَا كَانَ يُفْطِرُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بیان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم به دهري میاشتي په شروع کي دري ورځي روژي نیولي او ډیر کم به داسي وو چه دجمعي په ورځ به یي روژه نه وه نیولي.

****

٧ـ حدثنا محمود بن غيلان حدثنا أبو داود أخبرنا شعبة عن يزيد الرشك : قال سمعت معاذة قالت قلت لعائشة أكان رسول الله صلى الله عليه و سلم يصوم ثلاثة أيام من كل شهر ؟ قالت نعم قلت من أيه كان يصوم ؟ قالت كان لا يبالي من أيه صام . قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح قال و يزيد الرشك هو يزيد الضبعي وهو يزيد بن القاسم وهو القاسم و الرشك هو القاسم بلغة أهل البصرة.

ترجمه : دمعاذه عدویه رضي الله عنها بیان دي فرمائي چه ما دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو ایا رسول الله صلي الله علیه وسلم به په هره میاشت کي دري روژي نیولي؟ راته یي اوفرمائیل ددي څه خاص اهتمام به یي نه کولو هر وخت چه به ورته موقعه ملاویده روژي به یي نیولي، امام ترمذي وائي د یزید رشك نه مراد یزید ضبعي بصري دي او دا یو ثقه راوي دي شعبه ورنه نقل دروایت کوي او دا رنګي ابو وارث، ابن سعید، حماد بن زید. اسماعیل بن ابراهیم او ددینه علاوه نورو اهل علمو هم دده نه نقل دروایت کړي دي او رشك داهل بصره لغت دي ددوئ په لغت کي رشك قاسم ته وائي.

****

٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ عَنْ رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَتَحَرَّى صَوْمَ الاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به د دوشنبي او پنجشنبي په ورځ دروژي نيولو اهتمام کولو.

****

٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدِينِيُّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ أَبِي النَّضْرِ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ فِي شَهْرٍ أَكْثَرَ مِنْ صِيَامِهِ فِي شَعْبَانَ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به په بله مياشت کي دشعبان نه زياتي روژي نه نيولي.

****

١٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ رِفَاعَةَ عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دزيارت په ورځ دبندګانو اعمال دالله تعالي په دربار کي پيش کيږي زما زړه غواړي چه زما اعمال الله تعالي ته دروژي په حالت کي پيش شي.

****

١١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ وَمُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ قَالاَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ خَيْثَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَصُومُ مِنَ الشَّهْرِ السَّبْتَ وَالأَحَدَ وَالاثْنَيْنَ وَمِنَ الشَّهْرِ الآخَرِ الثُّلاَثَاءَ وَالأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيسَ.

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله کله په هره مياشت کي دري روژي په داسي شان سره نيولي چه يوه مياشت به يي دهفتي او اتوار او دوشنبي په ورځ روژه کوله او بله مياشت به يي دسه شنبي چارشنبي او زيارت په ورځ روژه کوله.

****

١٢ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَصُومُهُ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا افْتُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ هُوَ

الْفَرِيضَةُ وَتُرِكَ عَاشُورَاء فَمَنْ شَاء صَامَهُ وَمَنْ شَاء تَرَكَهُ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرماني چه دجاهليت په زمانه کي به دعاشوري روژه نيولي کيدله او رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم دهجرت نه مخکي په نفلي طور دعاشوري روژه نيوله ليکن هجرت نه پس چه کله رسول الله مديني ته راغلو نو پخپله يي هم ددي اهتمام شروع کړو او امت ته يي هم حکم اوکړو مگر چه کله درمضان روژي نازل شوي نو همدا فرض روژه اوگرځيدله او دعاشوري فرضيت منسوخ شو (او اوس يي استحباب باقي دی) دچا زړه چه غواړي نو دا روژي دي اونيسي او که څوک يي نه نيسي لازم ورباندي نه دي

****

تشريح : د روژي تعريف او ددي د فرضيت شان نزول او تاريخ:

په لغت کي د صوم معنیٰ مطلقاً امساك (بنديدل) دي که د څه څيزنه هم بندشی، لکه "صام عن الكلام" د کلام او خبرو اترو نه د بنديدلو نوم صوم دې.

اوپه اصطلاح داهل شرع صوم عبارت دی د اجتناب د مفطرات ثلاثه نه نهارا په نيت د عبادت چي اکل، شرب اوجماع دي.

دروژي دفرضيت تاريخ: روژه د کلمه توحيد نه پس د اسلام دريم رکن دي اود رمضان د روژو فرضيت دهجرت په دويم کال د شعبان په مياشت کي اوشو،يعنی د هجرت نه اتلس مياشتې پس د شعبان په مياشت کي د قبلې د تحويل نه پس د رمضان روژې فرض شوی وو،اوددې نه وړاندې به رسول اکرم صلي الله عليه وسلم اوصحابه کرامو د عاشوري اود ايام بيض(د قمری مياشتې ديارلسم،څوارلسم، پنځلسم تاريخ) روژې نيولې.

د روژي په فضيلت کي متعدد احاديث وارد دي: موږ ورنه يو څو په طور دنموني د مقام دتقاضا په مناسبت ذکر کوو:

دروژو دفرضيت متعلق دوه اقوال دي چی د عاشوري او ايام بيض روژې هغه وخت فرض وې اوکه نه؟ اول قول دادي احناف فقهاء وائی چی دا روژې هغه وخت فرض وې،څو شوافع ددې قائل دی چی د رمضان روژو نه مخکي هيڅ روژه فرض نه وه،بلکه د عاشوره وغيره روژې مخکي هم سنت وې،او اوس هم سنت دی.

اود سلمان رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په ۳۰ شعبان خطبه بيان کړه چه اې خلقو يوه عظيم الشان مياشت راغله دا ډيره مبارکه مياشت ده اوپدي مياشت کي ليلة القدر دي کوم چه دزرو مياشتو نه بهتردي الله تعالي ددي روژې فرض کړي دي اوپدي کي ئي قيام نفل کړي دي نوڅوك چه پدي مياشت کي دنيکئ کوم عمل وکړي نوده ته دومره ثواب ملاوېږي لکه څومره چه په نورو مياشتو کي دفرضو ملاوېږي اوڅوك چه پدي

میاشت کي کوم فرض ادا کړي نوده ته دومره ثواب ملاویږي لکه څوك چه په نورو میاشتو کي اویا فرائضو دي، دادصبر میاشت ده اودصبر ثواب جنت دي داد همدردئ میاشت ده او پدي کي رزق زیاتیږي نوڅوك چه پدي کي کوم روژه دارته خوراك مهیا کړي نودده گناهونه به وبخښلي شي اوديوغلام ازادولو په مقدار اجر به حاصل کړي اودده به دروژه دار داجر هومره اجروي اودهغه داجر نه به هم څه شي نه کميږي ، صحابه کرامو عرض وکړو چه اي دالله رسوله الله تعالي خوهرچاته دومره وس نندي ورکړي چه روژه دار ته خوراك ورکړي ، نبي عليه السلام اوفرمائيل څوك چه يوگوټ شوده يا يوه کهجوره يا يوگوټ اوبه چاته ورکړي نو الله تعالي به ده ته هم دومره ثواب ورکړي اوڅوك چه روژه دار ته دمړي خيتي په مقدار خوراك ورکړي الله تعالي به زما دحوض کوثر نه ورباندي وڅکوي اوبيا به جنت ته دتلو پوري تګي نشي.

ددي مياشتي په شروع کي رحمت وي اوپه مينځ کي مغفرت وي اوپه اخر کي داور نه نجات وي خو په دي وجه چه دڅلورو خصلتونو پابندي اوکړي شي دوه خصلتونه خو داسي دي چه په هغي باندي تاسو خپل پروردگار راضي کړئ او باقي نور دوه په دي کي داسي دي چه دهغي نه تاسو لاپرواهي نشي کولي دالله تعالي دراضي کولو دپاره دوه خصلتونه دادي اول خو چه ددي خبري گواهي ورکړئ چه دالله تعالي نه علاوه بل څوك حقدار دبندگئ نشته او دويم دا چه دالله تعالي نه مغفرت اوغواړئ اودوه هغه خصلتونه دکومو نه چه بي پرواهي نشي کولي اول په هغوي کي دادي چه دجنت سوال به کوئ اودويم دادي چه داور نه به پناه غواړئ (شرح السنة للبغوي).

اودابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بني ادم ته دهري نيکئ ثواب دلسو نيکو نه واخله تر اووه سوو پوري ملاويږي او دا ثواب دروژي نه علاوه دنورو نيکو عملونو دي دروژي متعلق الله تعالي فرمائي چه روژه زما دپاره ده او هم زه به ددي ثواب ورکوم ځکه چه ده خپل خوراك اوڅښاك اوشهوت زما دپاره پريښودلي دي، او دا يي هم فرمائيلي دي دروژه دار دپاره دوه قسمه خوشحالياني وي يوه خوشحالي خودافطار په وخت کي او بله خوشحالي دخپل پروردگار سره دملاقات په وخت کيبي، دروژه دار دخولي بوئ دالله تعالي په نزد باندي دمشکو دخوشبونه بهتر دي . واورئ روژه ډال دي نوپه دي وجه روژه دار لره پکار دي چه کله دده روژه وي چه دعبثو خبرو اوشور شغب نه ځان اوساتي او که څوك ده ته رد بد اووائي يا ورسره جګړه اوکړي نودي ورته اووائي وروره زه روژه دار يم (بخاري او مسلم).

اودعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي چه نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه روژه او قران دواړه به دقيامت په ورځ دبنده شفاعت کوي، روژه به وائي اي پروردگاره ما دده خوراك اوخواهشونه دورځي بند کړي وو اوس دده په باره کي زما شفاعت قبول کړه ،

اوقران کریم به وائي چه اي پروردګاره ما دشپې دده خوب ختم کړي وو نو په دې وجه زما سفارش دده په حق کې قبول کړې نولهذا ددواړو شفاعت به قبول کړي شي (بيهقي شعب الايمان).

اودابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه درمضان په اخري شپه کې زما امت ته مغفرت کيږي، چاتپوس اوکړو اي دالله رسوله ايا دغه شپه دليلة القدر ده نبي عليه السلام اوفرمائيل نه ، ليلة القدر خو نه ده ليکن قاعده داده چه کله کار کونکي دخپل کار نه فارغيږي نوهغه ته مزدوري پوره ورکولي شي(نوپه دي شان سره په دې شپه کې بندګانو دالله فرض ادا کړي وي نو خکه دوئ ته مغفرت کيږي) (مسند احمد بن حنبل رحمه الله).

١٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ أَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَخُصُّ مِنَ الأَيَّامِ شَيْئًا قَالَتْ كَانَ عَمَلُهُ دِيمَةً وَأَيُّكُمْ يُطِيقُ مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُطِيقُ.

ترجمه : دعلقمه بيان دي فرمائي چه ما دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم به کومې خاص ورځې دعبادت دپاره خاص کولې؟ هغوئ اوفرمائيل نه درسول الله صلي الله عليه وسلم اعمال به دائمي وو او په تاسو کې څوك دهغې خبرې طاقت لري دکومې چه رسول الله صلي الله عليه وسلم طاقت لرلو.

****

١٤_ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَعِنْدِي امْرَأَةٌ فَقَالَ مَنْ هَذِهِ قُلْتُ فُلانَةُ لا تَنَامُ اللَّيْلَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَيْكُمْ مِنَ الأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ فَوَاللهِ لا يَمَلُّ اللهُ حَتَّى تَمَلُّوا وَكَانَ أَحَبَّ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الَّذِي يَدُومُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ.

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړو او دغه وخت زما سره يوه ښځه ناسته وه رسول الله تپوس اوکړو چه دا څوك ده؟ ما عرض اوکړو فلانۍ ښځه ده او دا هغه ښځه ده چه ټوله شپه نه اوده کيږي رسول الله اوفرمائيل نوافل په دومره اندازه کول پکار دي دڅومره چه انسان طاقت لري او الله تعالي په ثواب ورکولو نه ستړي کيږي مګر چه تاسو په عمل کولو ستړي نشئ عائشه رضي الله عنها بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم به هغه عمل خوښ وو کوم چه به هميشه وو او انسان به ورباندې پابندي کولې شوه.

****

١٥_ حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الرِّفَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ وَأُمَّ سَلَمَةَ أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَتَا مَا دِيمَ عَلَيْهِ وَإِنْ قَلَّ.

ترجمه : دابوصالح نه روايت دي فرمائي چه ما دعائشه او ام سلمه رضي الله عنهما نه تپوس اوکړو چه درسول الله صلي الله عليه وسلم کوم يو عمل ډير زيات خوښ وو؟ دواړو راته په جواب کي اووئيل کوم عمل چه خلق هميشه کوي اګر که هر څومره کم وي.

****

١٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ أَنَّهُ سَمِعَ عَاصِمَ بْنَ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيْلَةً فَاسْتَاكَ ثُمَّ تَوَضَّأَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي فَقُمْتُ مَعَهُ فَبَدَأَ فَاسْتَفْتَحَ الْبَقَرَةَ فَلا يَمُرُّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلا وَقَفَ فَسَأَلَ وَلا يَمُرُّ بِآيَةِ عَذَابٍ إِلا وَقَفَ فَتَعَوَّذَ ثُمَّ رَكَعَ فَمَكَثَ رَاكِعًا بِقَدْرِ قِيَامِهِ وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ثُمَّ سَجَدَ بِقَدْرِ رُكُوعِهِ وَيَقُولُ فِي سُجُودِهِ سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ثُمَّ قَرَأَ آلَ عِمْرَانَ ثُمَّ سُورَةً يَفْعَلُ مِثْلَ ذَلِكَ فِي كل ركعة.

ترجمه : عوف بن مالك وائي زه يوه شپه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره موجود وم چه هغوئ مسواك اووهلو بيا يي اودس اوکړو او بيا يي دمونځ نيت اوتړلو زه هم په رسول الله صلي الله عليه وسلم پسي اودريدم او هغوئ سورة بقره شروع کړه کله چه درحمت په ايت تيريدو هلته به يي وقفه کوله او دالله تعالي نه به يي دهغه درحمت سوال کولو او چه کله به دعذاب په ايت تيريدو هلته به يي وقفه کوله او دالله دعذاب نه به يي پناهي غوښتله او بيا رسول الله تقريبا هم دومره رکوع اوکړه او په رکوع کي يي دا دعا لوستله " سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ " يعني پاك دي هغه ذات څوك چه حکومت اوسلطنت والا دي او دانتهائي لوي والي او عظمت والا دي، او بيا يي درکوع دمقدار موافق سجده اوکړه او په دي کي يي هم دا دعا اولوستله او بيا يي په دويم رکعات کي سورة ال عمران او دارنګي په يو رکعات کي يو بل سورة اولوستلو.

تشريح . كه چري لوستونكي پخپله يا امام په قراءت كي دتنه ددوزخ يا جنت تذكره وكړي نوجنت ته دداخليدو دعا په غوښتل اودوزخ ته ده نه داخليدو دعا نه غوښتل واجب دي اودعا اوتعوذ جائز ندي، دكلبي قول مونږ مخكي ذكر كړي دي . دكلبي قول دي چه دقران اوريدو په وخت كي غوږ ايخودونكي اوخاموشي اختيارونكي سره الله درحمت وعده كړي ده چه "وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا" اود الله وعده غلطه نشي كيدي اودقران نه په غافله كيدو سره دعا كول اوبيا ددي قبليدل قطعي اويقيني ندي

مسئله: منفرد دي په فرضي مونځ كي دقراءت په پريخودو سره خان په كومه دعا ياتعوذ كي نه مشغوله كوي . مگر په نفلي مونځ كي دتلاوت په وخت كي چه دجنت يادوزخ ذكر راشي نودجنت دپاره دي دعا وكړي اوددوزخ نه دي پناه اوغواړي اوپه ايت دي غور وكړي، دخديجه رضي الله عنها بيان دي چه ما درسول الله سره دشپي دتهجدو مونځ وكړو، پس رسول الله چه به كله كوم داسي ايت لوستوچه دجنت يا ددوزخ ذكر به پكي وو نو اودريدلو به اوددوزخ نه به يي دحفاظت دعا غوښتله.

دجمهورو علماؤ او صاحبينو په نزد دشپي دوه دوه ركعاته مونځ افضل دى دامام ابو حنيفه په نزد دشپي څلور ركعاتي مونځونه كول افضل دي دجمهورو علماؤ دليل پورتنى حديث دى او امام ابوحنيفه دعائشه رضي الله عنها ددي روايت نه استدلال كړى دى.

ماكان رسول الله يزيد في رمضان ولا في غيره علي احدي عشرة ركعة يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثا.

يعني رسول الله به په رمضان او غير رمضان كي يولس ركعاته تهجد كول څلور ركعاته به يي اوكړل دحسن او اوږدوالي تپوس يي مه كوه او بيابه يي بيا څلور ركعاته اوكړل او بيابه يي دري ركعاته اوكړل، دا اختلاف صرف په افضليت كي دى كه څوك دوه ركعاته كوي او كه څول څلور كوي ټول جائز دي.

فاوتر بواحدة . يو ركعات دتهجد سره يوځاي كړه او دري ركعاته وتر اوكړه دا مطلب نه دى چه وتر صرف يو ركعات دى.

****

٤٤_ باب ما جاء في قراءة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دقرائت د كيفيت ذكر

١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا.

ترجمه : ديعلي بن مملك نه روايت دي فرمائي چه ما دام سلمه رضي الله عنها نه درسول الله

دقرائت دکيفيت تپوس اوکړو نو هغې يو يو حرف جدا جدا او صفا صفا کيفيت سره لوستل بيان کړل.

دقران کريم دتلاوت اداب

که چرې څوك دمونځ نه بهر وي اويه مونځ کې دننه يادمونځ نه بهر دچانه دقران قراءت واوري نو ايا دده دپاره غوږ ايخودل او خاموشي اختيارول واجب دي اوکه نه؟

دامسئله اختلافي ده ، بيضاوي ليکلي دي چه دعامو علماؤ په نزد په مذکوره صورت کې دقران اوريدو ته غوږ ايخودل مستحب دي (واجب نه دي)، ابن همام ليکلي دي زمونږ دعلماؤ کلام پدې خبره دلالت کوي که چرې قران په جهر سره لوستې شي نوکه څوك په مونځ کې وي اوکه بهر وي په هر حال کې غوږ ايخودل واجب دي ، په خلاصه کې ليکلي دي که چرې څوك دفقهې کوم تحرير ليکي اودده په وړاندې څوك قران پداسې اواز سره لولي چه ليکونکي ورته غوږ نشي ايخودې نوددې دګناه ذمه وار به لوستونکي وي ، اوپدې باندې ددې مسئلي بنا ده که چرې څوك دشپې په وخت کې دچت دپاسه قران لولي کله چه خلق اوده وي نو لوستونکي به ګنهګار وي ، پدې کې دغوږ ايخودلو دوجوب صراحت مذکور دي ددې وجه دا هم ده چه سبب دنزول اګر که خاص دي خو حکم به پدې کې محدود نه وي اودالفاظو عموم لره به اعتبار وي.

زه وايم دحديث نه ثابته ده چه نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دشپې په وخت کې قران پداسې اواز سره لوستو چه دحجرې نه بهر خلقو به هم اوريدو اواکثرو ګاونډيانو به هم اوريدو (رواه الترمذي والنسائي و ابن ماجه عن ام هاني). دام هاني رضي الله عنها بيان دي چه زه به په چت ناسته وم اودشپې به مې درسول الله دقران دقراءت اواز اوريدو ، پدې حديث کې عريش لفظ راغلي دي بغوي په شرح السنه کې ليکلي دي چه عريش په معنې دچت دي دمکې کورونو ته به عريش خکه ونيلي کيدل چه هغه به دلرګي په ستنو ولاړ وو (چه دپاسه به ورباندې خلق پريوتل او کيناستل) ابوداود او ترمذي دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي چه په کور کې به دننه درسول الله صلي الله عليه وسلم قراءت په دومره اواز سره وو چه دحجرې نه بهر خلقو به هم اوريدو اودنبي کريم صلي الله عليه وسلم په کورونو کې دننه به بيباني به هم موجودي وي اودرسول الله په مونځ کې دمشغوليدو په وخت کې به بعضې بې بياني اودې هم وي.

بخاري پخپل صحيح کې دعائشه رضي الله عنها بيان نقل کړي دي چه زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په وړاندې اوده وم اوزما دواړه خپې درسول الله دقبلې طرف ته وې کله چه به يې سجده کوله نو زه به يې ديکه کړم مابه خپلې خپې راټولې کړې ليکن چه کله به يې سجده وکړه

او ودريدلو به نو ما به خپي اوغزولي او پدغه زمانه كي به په كورونو كي چراغونه نه وو ، صحابه كرامو به شپه او ورځ په تيز اواز سره قران لوستلو او هيچابه يي مخالفت نه كولو.
مسلم دابو موسي رضي الله عنه قول نقل كړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته فرمائيلي وو ماته هغه منظر ښكاري چه تا دشپي قران لوستلو او ما ستا قراءت اوريدلو، په صحيحينو كي دابو موسي رضي الله عنه بيان منقول دي چه رسول الله فرمائيلي وو زما دسفر ملګري اشعري چه به كله دشپي قران لوستلو نودسفر په دوران كي به ما دهغه اواز پيژندلو اوبه اوازونو به مي دوئ پخپلو قيام ګاهونو كي پيژندل باوجود ددي چه دورځي به ماته نه معلوميده چه دشپي هغوئ په كوم كوم ځاي كي پړاؤ كړي وو اوداحقيقت دي چه كله به اشعري خلقو قران لوستلو نو بعضي خلقو به دخوب په حالت كي هم دتلاوت اواز اوريدو اوفرمائيل به يي ددي خلقو دپاره دي بشارت وي دوئ درسول الله ډير خوښ وو، داتمام احاديث پدي دلالت كوي چه دخلاصي دمصنف فتوي غلطه ده.
ابن مردويه دمعاويه بن قرع په سند سره روايت بيان كړي دي چه معاويه رضي الله عنه وئيلي وو مايه صحابه كرامو كي دبعضي مشائخو نه تپوس اوكړو چه څوك قران اوري نوايا په ده باندي غوږ ايخودل او خاموش كيدل واجب دي؟ نوهغوئ په جواب كي اووئيل چه ايت كريمه "وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا" په امام پسي د قراءت كولو دممانعت په سلسله كي نازل شوي وو ، زه وايم چه په واذا قرئ القران كي الف لام دعهد دپاره دي جنس دپاره نه دي اوددينه مراد هغه قران دي چه لوستونكي يي تاته داورولو دپاره لولي لكه چه امام يي مقتديانو ته داورولو دپاره لولي اويايي خطيب اهل مجلس ته دخطاب كولو په وخت كي لولي اويايي قاري شاګردانو ته دزدكولو دپاره لولي ، والله اعلم (مظهري ، درمنثور)

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ مَدًّا.

ترجمه دقتاده بيان دي فرمائي چه مادانس رضي الله عنه نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دقرائت دكيفيت تپوس اوكړو نو هغه راته اوفرمائيل رسول الله به هر مد والاحرف درابنكلو په حال كي لوستلو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُقَطِّعُ قِرَاءَتَهُ يَقُولُ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ثُمَّ يَقِفُ

ثُمَّ يَقُولُ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ثُمَّ يَقِفُ وَكَانَ يَقْرَأُ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ.

ترجمه دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به هر ايت جدا جدا لوستلو مثلا په "الحمد لله رب العالمين" به ادريدلو او بيا به په الرحمن الرحيم باندي اودريدلو او بيا به په "مالك يوم الدين" باندي اودريدلو.

تشريح: په مذكوره طريقه دقران لوستلو په صورت كي په احاديثو كي بشارتونه راغلي دي چنانچي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قران لوستونكي ته به اوونيلي شي چه لوله او ختل كوه او لوستل په ترتيل سره كوه ستا منزل دهغه اخري ايت سره دي كوم چه ته لولي (رواه احمد، ترمذي، ابو داود، نسائي).

دقران په الفاظو او معانيو غور كول، دعذاب دايت په لوستلو سره ويره كول او دثواب دايت په لوستلو سره اميدوار كيدلو وغيره دترتيل فوائد دي.

بغوي دابن مسعود رضي الله عنه قول نقل كړي دي قران به نه شيندئ او نه به يي دشعرونو او سندرو پشان وائي ددي په عجائبو به ودريږئ.

دحذيفه رضي الله عنه بيان دي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مي دشپي مونځ اوكړو كله چه به داسي ايت ته ورسيدو چه دجنت په ذكر به مشتمل وو نو ضرور به ودريدو او دالله تعالي نه به يي جنت اوغوښتلو او كله چه به داسي ايت ته ورسيدو چه ددوزخ په ذكر به مشتمل وو نو هلته به هم ضرور ودريدو او ددوزخ نه به يي پناه غوښتله.

دعبيد ملكي صحابي نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي اهل قران قران لره به بالخ نه ګرځوئ او دشپي او دورځي يي تلاوت كوئ داسي تلاوت به كوئ څنګه چه دتلاوت كولو حق وي. قران لره په خلقو كي خور كړئ او په خوش اوازئ سره يي وايئ او په مضامينو يي غور وكړئ ترڅو چه كامياب شئ او په جلتئ جلتئ سره يي مه لولئ ددي په تلاوت كي هم ثواب دي (بيهقي شعب الايمان).

دسهل بن سعد ساعدي بيان دي يو خل مونږ قران لوستلو چه ناڅاپه رسول الله صلي الله عليه وسلم بهر راووتلو او ويي فرمائيل دالله تعالي كتاب يو دي په تاسو كي عالمان هم شته او په تاسو كي تور او سپين هم شته. قران لولئ او دهغي زماني نه يي مخكي اولولئ كله چه به داسي خلق راشي چه قران به لولي او داسي درست حروف به ادا كوي لكه دغشي پشان مګر قران به ددوئ دحلق نه لاندي نه تيريږي او دوئ به دقران ونيلو داجر فوري طلب ګار وي.

مروي دي چه دام سلمه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دقرائت متعلق تپوس اوكړي شي نو دقراءت نبوي دتشريح كولو په غرض يي يو يو حرف په واضح طور سره ولوستلو يعني يو يو حرف به يي جدا جدا لوستلو (ترمذي ابو داود نسائي).

دا هم دام سلمه رضي الله عنها نه منقول دي چه رسول الله به قرائت ماتولو يعني الحمدلله رب العالمين چه به يي اوونيل نو بيا به اودريدو او بيا به د الرحمان الرحيم سره اودريدو (ترمذي).

زه وايم دترتيل په ضمن کي په خوش اوازۍ سره قران لوستل هم شامل دي. دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چه الله هيڅ يو څيز ته دومره نه متوجه کيږي څومره چه دکوم نبي په خوش اوازۍ سره قران لوستلو ته متوجه کيږي (بخاري او مسلم).
دابو هريره رضي الله عنه نه په يو بل روايت کي هم مروي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چه دقران په قرائت کي تغني نه کوي هغه زمونږ نه نه دي (بخاري) دتغني نه مراد ګاني وئيل نه دي دا خو حرامي دي بلکه په خوش اوازۍ سره لوستل مراد دي او په بعضي روايتونو کي دخوش االوزۍ صراحت هم راغلي دي. دحذيفه رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قران لره دعربو په لهجو او اوازونو کي لولئ او داهل عشق او يهود او نصاري دلهجي نه پرهيز اوکړئ زما نه پس به بعضي خلق داسي راشي چه قران به دګانو او دوير په لهجه کي لولي قران به ددوئ دحلقونو نه نه تيريږي د دوئ زړونه او ددوئ کيفيت لره دخوښونکو زړونه به فتني وهلي وي (رواه البيهقي في شعب الايمان).

****

٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَكَانَ يُسِرُّ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَجْهَرُ قَالَتْ كُلُّ ذٰلِكَ قَدْ كَانَ يَفْعَلُ قَدْ كَانَ رُبَّمَا أَسَرَّ وَرُبَّمَا جَهَرَ فَقُلْتُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الأَمْرِ سَعَةً.

ترجمه : عبدالله بن ابي قيس رضي الله عنه وائي ما دعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوکړو چه رسول الله صلي الله عليه وسلم قران په ټيټ اواز لوستلو او که په تيز اواز سره رانه يې اوفرمائيل دواړه طريقي دهغه معمول وي. ما اووئيل الحمد لله دالله شکر او احسان دي چه مونږ ته يې هرقسم سهولت راکړي دي.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْعَبْدِيِّ عَنْ يَحْيَى بْنِ جَعْدَةَ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ كُنْتُ أَسْمَعُ قِرَاءَةَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِاللَّيْلِ وَأَنَا عَلَى عَرِيشِي.

ترجمه : دام هاني رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم (په مسجد حرام کي) قران لوستلو او ما به درسول الله دقرائت اواز دشپي دخپل کور په چت اوريدلو.

****

٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مُغَفَّلٍ يَقُولُ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم عَلَى نَاقَتِهِ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهُوَ يَقْرَأُ إِنَّا فَتَحْنَا

لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ فَقَرَأَ وَرَجَّعَ قَالَ وَقَالَ مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ لَوْلا أَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ عَلَيَّ لأَخَذْتُ لَكُمْ فِي ذَلِكَ الصَّوْتِ أَوْ قَالَ اللَّحْنِ.

ترجمه : دعبدالله بن مغفل رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه مارسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مكه په ورځ پخپله اوښه باندي سور ليدلي وو په داسي حال كي چه سورة الفتح " إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ " يي لوستلو عبدالله وائي چه رسول الله دا ايت اولوستلو او په حلق كي يي اواز اوګرځولو، شعبه وائي دمعاويه بن قره قول دي كه چري دا خبره نه وي چه خلق به ماته راجمع شي نو ما به ستاسو دپاره قران په هغه اواز يا لهجه باندي لوستلي وو (اوښه چونكه روانه وه نو په دي وجه اواز په حلق كي ګرځيدلو)

****

٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ الْحُدَّانِيُّ عَنْ حُسَامِ بْنِ مِصَكٍّ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا بَعَثَ اللهُ نَبِيًّا إِلا حَسَنَ الْوَجْهِ حَسَنَ الصَّوْتِ وَكَانَ نَبِيُّكُمْ صلى الله عليه وسلم حَسَنَ الْوَجْهِ حَسَنَ الصَّوْتِ وَكَانَ لا يُرَجِّعُ.

ترجمه : دقتاده بيان دي فرمائي چه الله تعالي هر يو نبي په ښائسته شكل او ښائسته اواز سره راليږلي دي دارنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم هم ښائسته شكل اوښائسته اواز والا انسان وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم به قران دسندرو ويونكو پشان اواز باندي نه لوستلو.

****

٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم رُبَّمَا يَسْمَعُهَا مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ.

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم دقرائت اواز صرف دومره اندازه تيز وو چه په هغه اندازه قرائت كه څوك په كوټه كي كوي نو صحن والا يي اواز اوريدلي شي.

****

٤٥_باب ما جاء في بكاء رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دژړا بيان

١ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ مُطَرِّفٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ يُصَلِّي وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ مِنَ الْبُكَاءِ.

ترجمه : عبدالله بن شخير رضي الله عنه دخپل پلار نه روايت کوي فرمائيل يي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او هغوئ مونخ کولو او دژړا په وجه يي دسينې نه داسي اواز راوتلو لکه جوش چه دکټوئ نه دخوټکيدلو وخت کي راوخي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم اقْرَأْ عَلَيَّ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ قَالَ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي فَقَرَأْتُ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى بَلَغْتُ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلاءِ شَهِيدًا قَالَ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْ رَسُولِ اللهِ تَهْمِلَانِ.

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي فرمايي چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل قران کريم راته واوروه ما عرض اوکړو اي دالله رسوله په تا خو قران نازل شوي دي او زه يي خاص تاته واوروم ؟ رسول الله اوفرمائيل زما زړه غواړي چه دبل چا نه يي واوروم نو مادهغوئ دحکم په تعميل کي اورول شروع کړل سورة نساء مي لوستلو چه کله ايت کريمه "وجئنابك علي هؤلاء شهيدا" ته راورسيدم نو درسول الله صلي الله عليه وسلم مخ مبارک ته مي اوکتل چه دژړا په وجه يي ددواړو سترګو نه اوښکي بهيدلي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي حَتَّى لَمْ يَكَدْ يَرْكَعُ ثُمَّ رَكَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَسْجُدَ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَسْجُدَ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَجَعَلَ يَنْفُخُ وَيَبْكِي وَيَقُولُ رَبِّ أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لا تُعَذِّبَهُمْ وَأَنَا فِيهِمْ رَبِّ أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لا تُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ وَنَحْنُ نَسْتَغْفِرُكَ فَلَمَّا صَلَّى رَكْعَتَيْنِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ فَحَمِدَ اللهَ تَعَالَى وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلا لِحَيَاتِهِ فَإِذَا

انْكَسَفَا فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِ اللهِ تَعَالَى.

ترجمه: عبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي فرماني چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي يوه ورځ نمر تندر اونيولو پس رسول الله صلي الله عليه وسلم مونځ شروع کړو او دومره يي اوږد کړو چه چا دا گمان نه کولو چه رکوع به کوي او بيا يي رکوع اوکړه او رکوع يي دومره اوږده کړه چا دا خيال نه کولو چه درکوع نه به سر پورته کړي بيا يي درکوع نه سر پورته کړو او دومره اوږده سجده يي اوکړه دچا دا گمان نه ووچه ددينه به هم سر پورته کوي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم پوکي کول او ژړا شروع کړه او فرمائيل يي اي زما پروردگاره ايا تا زما سره وعده نه ده کړي چه ته به دوئ ته سزا نه ورکوي په داسي حال کي چه دوئ استغفار ويونکي وي او مونږ خو ستا نه دگناهونو معافي غواړو بيا چه کله رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه رکعاتونه پوره کړل نو نمر روښانه شو او رسول الله دتقرير دپاره اودريدو دالله تعالي تعريف او ثناء بيان کړه او ښه تعريف يي بيان کړو او بيا يي اوفرمائيل نمر او سپوږمئ دالله تعالي دنښانو نه دوه نښانياني دي دا نه دچا دمرگ په وجه خړيږي او نه دچا دپيدا کيدو په وجه هر کله چه دا خړ شي نو تاسو اوويريږئ او دالله تعالي په ذکر کي مشغول شئ.

****

٤_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم ابْنَةً لَهُ تَقْضِي فَاحْتَضَنَهَا فَوَضَعَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَاتَتْ وَهِيَ بَيْنَ يَدَيْهِ وَصَاحَتْ أُمُّ أَيْمَنَ فَقَالَ يَعْنِي صلى الله عليه وسلم أَتَبْكِينَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ فَقَالَتْ أَلَسْتُ أَرَاكَ تَبْكِي قَالَ إِنِّي لَسْتُ أَبْكِي إِنَّمَا هِيَ رَحْمَةٌ إِنَّ الْمُؤْمِنَ بِكُلِّ خَيْرٍ عَلَى كُلِّ حَالٍ إِنَّ نَفْسَهُ تُنْزَعُ مِنْ بَيْنِ جَنْبَيْهِ وَهُوَ يَحْمَدُ اللهَ تعالى.

ترجمه: دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم خپله يوه لور (نوسي) راواخستله چه مرگ ته نزدي شوي وه او په غيږ کي يي کينوله او خپلي مخي ته يي اونيوله او درسول الله صلي الله عليه وسلم مخي ته وفات شوه ام ايمن رضي الله عنها په ژړا شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا دالله درسول په وړاندي دي ژړا شروع کړه (چونکه درسول الله اوښکي بهيدلي) نو په دي وجه هغوئ عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسو خو هم ژاړئ رسول الله اوفرمائيل ژړا منع نه ده دا دالله رحمت دي (چه دخلقو زړونه نرم کړي او شفقت او رحمت پکي واچوي او بيا يي اوفرمائيل مومن په هر حال کي صرف دخير غوښتونکي وي تردي چه پخپله دده ساه ويستلي کيږي مگر دي به دالله تعالي حمد او ثناء

واني

فائده: دژړا سره اواز ويستل منع دي او داوښکو نه بنديدل يو طبعي خبره ده چه په دي باندي په شريعت کي مواخذه نشته په مذکوره دواړو ژړا ګانو کي فرق واضح دي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم په ژړا کي اواز نه وو او دام ايمن په ژړا کي اواز وو او بغير اوازه ژړا کول په دين کي ممدوح دي هيڅ قسم مذمت او ممانعت يي نه دي راغلي "والله اعلم".

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ وَهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِي أَوْ قَالَ عَيْنَاهُ تَهْرَاقَانِ.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دعثمان بن مظعون رضي الله عنه تندي دهغه دوفات نه پس ښکل کړو او په دغه وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم ژړل او که داسي يي اووئيل دسترګو نه يي اوښکي بهيدلي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو عَامِرٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ وَهُوَ ابْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ شَهِدْنَا ابْنَةً لِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَرَسُولُ اللهِ جَالِسٌ عَلَى الْقَبْرِ فَرَأَيْتُ عَيْنَيْهِ تَدْمَعَانِ فَقَالَ أَفِيكُمْ رَجُلٌ لَمْ يُقَارِفِ اللَّيْلَةَ قَالَ أَبُو طَلْحَةَ أَنَا قَالَ انْزِلْ فَنَزَلَ فِي قَبْرِهَا.

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم ديوي لور (ام کلثوم رضي الله عنها) په تدفين کي حاضر وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دقبر سره موجود وو پس ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دسترګو نه داوښکو بهيدل اوليدل. رسول الله اوفرمائيل قبر ته دي هغه څوك کوز شي چاچه نن مجامعت نه وي کړي، ابوطلحه اووئيل زه يم رسول الله اوفرمائيل ته قبر ته کوز شه چنانچه هغه دام کلثوم قبر ته کوز شو.

****

٤٦ـ باب ما جاء في فراش رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دبستري بيان

١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَ إِنَّمَا كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الَّذِي يَنَامُ عَلَيْهِ مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهُ لِيفٌ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم داوده كيدو او ارام كولو بستره دچمړي نه جوړه وه چه دكجورو دپاڼړو او پوټكو نه ډكه كړي شوي وه.

****

٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَيْمُونٍ قَالَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سُئِلَتْ عَائِشَةُ وَسُئِلَتْ حَفْصَةُ مَا كَانَ فِرَاشُ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي بَيْتِكِ قَالَتْ مِسْحًا نَثْنِيهِ ثِنْيَتَيْنِ فَيَنَامُ عَلَيْهِ فَلَمَّا كَانَ ذَاتَ لَيْلَةٍ قُلْتُ لَوْ ثَنَيْتَهُ أَرْبَعَ ثَنْيَاتٍ لَكَانَ أَوْطَأَ لَهُ فَثَنَيْنَاهُ لَهُ بِأَرْبَعِ ثَنْيَاتٍ فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مَا فَرَشْتُمْ لِيَ اللَّيْلَةَ قَالَتْ قُلْنَا هُوَ فِرَاشُكَ إِلا أَنَّا ثَنَيْنَاهُ بِأَرْبَعِ ثَنْيَاتٍ قُلْنَا هُوَ أَوْطَأُ لَكَ قَالَ رُدُّوهُ لِحَالَتِهِ الأُولَى فَإِنَّهُ مَنَعَتْنِي وَطَاءَتُهُ صَلاتِيَ اللَّيْلَةَ.

ترجمه : دمحمد بن باقر بيان دي دعائشه رضي الله عنها نه چاتپوس اوكړو چه تاسره درسول الله صلي الله عليه وسلم بستره څنګه وه هغي ورته اووئيل دچمړي وه چه دكجورو دپوټكي او پاڼړو نه ډكه كړي شوي وه، دحفصه رضي الله عنها نه چا تپوس اوكړو چه ستا په كور كي درسول الله صلي الله عليه وسلم بستره څنګه وه هغوئ په جواب كي اووئيل يو ټاټ وو چه ډبل كړي يي وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره به يي لاندي غوړولو ، ما يوه ورځ دا خيال اوكړو چه څلور غبرګه يي راټول كړم اوخور يي كړم نوزيات به نرم شي نو مادرسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره همداسي اوكړل رسول الله سحر كي زما نه تپوس اوكړو چه دشپي مو څه غوړولي وو؟ ماعر اوكړو هم هغه بستره وه كومه چه مخكنئ وه مګر دشپي دپاره مو ډبل كړي وه چه زياته نرمه شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل پخپل مخكني حالت يي پريږدئ ځكه چه ددي نرم والي زما دپاره دشپي دتهجدو پاتي كيدوسبب جوړشو.

تشريح : درسول الله صلي الله عليه وسلم دبستري حالت او كيفيت په لاندني حديث په اعلي ترين طريقي واضح كړى شوى دى:

عن عبد الله بن مسعود ﷺ ، قَالَ : نَامَ رسول الله ﷺ عَلَى حَصِيرٍ ، فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ ، قُلْنَا : يَا رَسُولَ اللهِ ، لَوْ اتَّخَذْنَا لَكَ وِطَاءً . فَقَالَ : ((مَا لِي وَلِلدُّنْيَا ؟ مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلاَّ كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا))

أخرجه : الترمذي في ابواب الزهد باب ما انا الا كراكب واحمد وابن ماجه والطيالسي واسناده صحيح.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان كوي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په پوزكي باندي اوده

شو کله چه راپاڅیدو نو په بدن باندي يې دپوزکي نښې ښکاريدلې ، مونږ چه دا اوليدل نو عرض مو اوکړو ، يا رسول الله! کاش چه مونږ تاسو دپاره يوه ارام ده بستره جوړکړې وي رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ځما ددنيا عيش او ارام سره څه غرض دی ، ځما خو دنيا سره بس دهغه مسافر هومره تعلق دی چه لږ ساعت دونې دسوري لاندي حصار شو او بيايې اونه په هم هغه حالت کي پريښوده پخپله لاره روان شو.

قوله "وقد اثر في جنبه" يعني درسول الله په ډډو يې نښانات جوړ کړي وو علماء وائي دي روايت ته په توجه کولو سره سړي ته ددنيا نه دبې رغبتۍ نقشه پيش کيږي چه رسول الله به ددنيوي څيزونو هيڅ احتمام نه کولو او نه به يې دراحت دپاره بستره خوښوله هر کله چه داسي ده نو ددينه علاوه نور تکلفات کول خو دهغه دپاره ډيره لري خبره ده .

اثر :اثر فيه اثرا يعني اثر پيدا کول ، يعني په کوم څيز باندي اثر انداز کيدل دا لفظ دمجردو نه علاوه دباب افعال او تفعيل وغيره نه هم مستعمل دي لکه چي دلته شوي دي.

لو اتخذنا لك وطاء، يعني چه مونږ ستا دپاره يوه نرمه بستره تياره کړي وي، په بل روايت کي داسي دي : لو امرتنا ان نبسط لك ونعمل ، ددينه معلوميږي چه درسول الله زهد او فقر ذکومي مجبورۍ په وجه نه وو بلکه اختياري وو ځکه چه درسول الله قرباني ورکونکو صحابه کرامو خو دهغه نه هر څه قربانول او دهري قربانۍ دپاره حاضر اوسيدو ليکن رسول الله قصدا فقر خوښ کړی وو.

"کراکب استظل تحت شجرة ثم راح" مګر ديو مسافر پشان چه دارام کولو دپاره ديوې ونې دڅوري لاندي کيني په دي جمله کي رسول الله ددنيا حيثيت بيانوي چه مسافر په تلو تلو کي ددمې دپاره دونې دڅوري لاندي کيني خو بيا هلته نه پاتي کيږي زر ورنه روانيږي نو تاسولره هم نه دي پکار چه ددنيا په لذت کي مونهمك شئ او خپل منزل مقصود پريږدئ.

سوال دسورلۍ ذکر دلته ولي شوي دي؟

جواب سرعت مشي: يعني که څوك په سورلۍ وي او بيا دونې لاندي کيني او دمه اوکړي نو دپيدل تلونکي نه ډير کم حصاريږي. بعضې علماء وائي چه سورلۍ په خصوصيت سره ځکه ذکر شوي ده چه کله دمسافر منزل لري وي نو بيا هغه دسفر په دوران کي دراحت او ارام خيال نه ساتي دده په ذهن کي صرف دا وي چه په څه ناڅه طريقي سره زه خپل سفر پوره کړم نو بعينه دا رنګي دنيا هم يوه مسافرګاه ده داخرت دمنزل دپاره دلته هم کوم څيز ته داسي التفات کول نه دي پکار کوم چه منزل مقصود ته په رسيدوکي رکاوټ جوړيدی شي.

****

٤٧_ باب ما جاء في تواضع رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د تواضع او انكسارئ بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ إِنَّمَا أَنَا عَبْدٌ فَقُولُوا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ.

ترجمه : داميرالمؤمنين خليفه ثاني عمرفاروق رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما په تعريف كي دحد نه زياته مبالغه مه كوئ څنګه چه نصاري دعيسي عليه السلام په تعريف كي مبالغه كړي وه (او دحد نه تير شوي وو چه دالله ځوي يي ګڼړلي وو) زه دالله بنده يم نو په همدي وجه ماته دالله بنده او دالله رسول وائي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ لَهُ إِنَّ لِي إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ اجْلِسِي فِي أَيِّ طَرِيقِ الْمَدِينَةِ شِئْتِ أَجْلِسْ إِلَيْكِ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه يوه ښځه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوه او عرض يي اوكړو چه زه تاسو سره يواځي په پرده كي خبري كول غواړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دمديني په كومه لاره كي كينه زه به هم هلته درشم او ستا خبري به واورم.

****

٣ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ عَنْ مُسْلِمٍ الأَعْوَرِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَعُودُ الْمَرِيضَ وَيَشْهَدُ الْجَنَائِزَ وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ وَيُجِيبُ دَعْوَةَ الْعَبْدِ وَكَانَ يَوْمَ بَنِي قُرَيْظَةَ عَلَى حِمَارٍ مَخْطُومٍ بِحَبْلٍ مِنْ لِيفٍ وَعَلَيْهِ إِكَافٌ مِنْ لِيفٍ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به په جنازو كي شركت كولو او په خر به يي سورلي هم كوله او دغلامانو دعوت به يي هم قبلولو دبنو قريظه دجنګ په ورځ په خر باندي سور شوي وو چه واګي يي دكجورو دلختو وي او كته يي هم ددينه جوړه وه.

****

٤ـ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الْكُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنِ الأَعْمَشِ عَنْ أَنَسِ بْنِ

مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُدْعَى إِلَى خُبْزِ الشَّعِيرِ وَالإِهَالَةِ السَّنِخَةِ فَيُجِيبُ وَلَقَدْ كَانَ لَهُ دِرْعٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ فَمَا وَجَدَ مَا يَفُكُّهَا حَتَّى مَاتَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به د اوربشو ډوډئ او زړي تركارئ او دوازدي وغيره څيزونو دعوت هم قبلولو، او په الله قسم واقعه داده درسول الله صلي الله عليه وسلم يوه زغره ديو يهودي سره ګرو وه پس نه موندلو رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه څيز چه دا زغره ورباندي راخلاصه كړي تردي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو.

لغات : درع: درع درعا تور سر اوسپين جسم والا كيدل صفت يي ادرع او مونث درعي راخي او جمع يي درع ده،درع دفتح نه درعا الشاة: دسر دطرفه دچيلي نه څرمن ويستل . الدرع من العشب تازه ګيا.

****

٥ـحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ صَبِيحٍ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ حَجَّ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى رَحْلٍ رَثٍّ وَعَلَيْهِ قَطِيفَةٌ لا تُسَاوِي أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ فَقَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا لا رِيَاءَ فِيهِ وَلا سُمْعَةَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو زوړ زين (كجاوه) باندي حج اوكړو چه يوه زړه كپړه ورباندي خوره وه چه دڅلور درهمو هم نه وه او په دغه ورخ كي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا دعا غوښتله يا الله زمونږ دا حج داسي حج اوګرځوي په كوم كي چه نه ريا او نه شهرت وي (يعني خاص دخپلي رضا دپاره).

****

٦ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه دصحابه كرامو په نزد په ټوله دنيا كي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه محبوب هيڅ څيز نه وو خو ددي باوجود چه به هم دوئ كله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو نو (دادب دپاره) پورته كيدل او اودريدل به نه (ځكه چه دوئ ته معلومه وه چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دا كار نه خوښوي).

****

٧_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ قَالَ أَنْبَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنٍ لأَبِي هَالَةَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ خَالِي هِنْدَ بْنَ أَبِي هَالَةَ وَكَانَ وَصَّافًا عَنْ حِلْيَةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا أَشْتَهِي أَنْ يَصِفَ لِي مِنْهَا شَيْئًا فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ مَخْرَجِهِ كَيْفَ يَصْنَعُ فِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَخْزِنُ لِسَانَهُ إِلا فِيمَا يَعْنِيهِ وَيُؤَلِّفُهُمْ وَلا يُنَفِّرُهُمْ وَيُكْرِمُ كَرِيمَ كُلِّ قَوْمٍ وَيُوَلِّيهِ عَلَيْهِمْ وَيُحَذِّرُ النَّاسَ وَيَحْتَرِسُ مِنْهُمْ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَطْوِيَ عَنْ أَحَدٍ مِنْهُمْ بِشْرَهُ وَخُلُقَهُ وَيَتَفَقَّدُ أَصْحَابَهُ وَيَسْأَلُ النَّاسَ عَمَّا فِي النَّاسِ وَيُحَسِّنُ الْحَسَنَ وَيُقَوِّيهِ وَيُقَبِّحُ الْقَبِيحَ وَيُوَهِّيهِ مُعْتَدِلُ الأَمْرِ غَيْرُ مُخْتَلِفٍ لا يَغْفُلُ مَخَافَةَ أَنْ يَغْفُلُوا أَوْ يَمِيلُوا لِكُلِّ حَالٍ عِنْدَهُ عَتَادٌ لا يُقَصِّرُ عَنِ الْحَقِّ وَلا يُجَاوِزُهُ الَّذِينَ يَلُونَهُ مِنَ النَّاسِ خِيَارُهُمْ أَفْضَلُهُمْ عِنْدَهُ أَعَمُّهُمْ نَصِيحَةً وَأَعْظَمُهُمْ عِنْدَهُ مَنْزِلَةً أَحْسَنُهُمْ مُوَاسَاةً وَمُؤَازَرَةً قَالَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ مَجْلِسِهِ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لا يَقُومُ وَلا يَجْلِسُ إِلا عَلَى ذِكْرٍ وَإِذَا انْتَهَى إِلَى قَوْمٍ جَلَسَ حَيْثُ يَنْتَهِي بِهِ الْمَجْلِسُ وَيَأْمُرُ بِذَلِكَ يُعْطِي كُلَّ جُلَسَائِهِ بِنَصِيبِهِ لا يَحْسَبُ جَلِيسُهُ أَنَّ أَحَدًا أَكْرَمُ عَلَيْهِ مِنْهُ مَنْ جَالَسَهُ أَوْ فَاوَضَهُ فِي حَاجَةٍ صَابَرَهُ حَتَّى يَكُونَ هُوَ الْمُنْصَرِفُ عَنْهُ وَمَنْ سَأَلَهُ حَاجَةً لَمْ يَرُدَّهُ إِلا بِهَا أَوْ بِمَيْسُورٍ مِنَ الْقَوْلِ قَدْ وَسِعَ النَّاسَ بَسْطُهُ وَخُلُقُهُ فَصَارَ لَهُمْ أَبًا وَصَارُوا عِنْدَهُ فِي الْحَقِّ سَوَاءً مَجْلِسُهُ مَجْلِسُ عِلْمٍ وَحِلْمٍ وَحَيَاءٍ وَأَمَانَةٍ وَصَبْرٍ لا تُرْفَعُ فِيهِ الأَصْوَاتُ وَلا تُؤْبَنُ فِيهِ الْحُرَمُ وَلا تُثْنَى فَلَتَاتُهُ مُتَعَادِلِينَ بَلْ كَانُوا يَتَفَاضَلُونَ فِيهِ بِالتَّقْوَى مُتَوَاضِعِينَ يُوَقِّرُونَ فِيهِ الْكَبِيرَ وَيَرْحَمُونَ فِيهِ الصَّغِيرَ وَيُؤْثِرُونَ ذَا الْحَاجَةِ وَيَحْفَظُونَ الْغَرِيبَ.

ترجمه : دحسن رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چه مادخپل ماما هند بن ابي هاله رضي الله عنه نه تپوس اوکړو او هغه يو داسي سړي وو چه درسول الله صلي الله عليه وسلم حالات او حليه به يي په عمدګئ سره بيانوله او ما غوښتل چه دي دهغه اوصافو نه څه اوصاف ماته بيان کړي چنانچه هغه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه عظيم الشان او لوړي مرتبي والا انسان وو مخ مبارک به يي دخوارلسمي دسپوږمئ پشان پړقيدلو او بيا هغوئ (حسن رضي الله عنه) يو اوږد حديث ذکر کړو حسن رضي الله عنه وائي ما دا اوصاف څه زماني پوري دحسين رضي الله عنه نه پټ ساتلي وو خو څه وخت پس مي ورته بيان کړل مګر ماته معلومه شوه چه هغه زما نه دي اوصافو ته مخکي والي کړي دي او دهند رضي الله عنه نه يي دغه خبري

معلومي کړي دي دکومو خبرو باره کي چه ما ورنه تپوس کړي وو او ما هغه لره په داسي حال کي اوموندلو چه هغه دخپل پلار علي رضي الله عنه نه درسول الله صلي الله عليه وسلم کور ته د داخليدو او دکور نه دوتلو او دهغوئ دشکل او هيئت باره کي هم تپوس کړي وو پس هغوئ په دي کي هيڅ څيز نه وو پريخودلي حسين رضي الله عنه وائي ما دخپل پلار نه درسول الله صلي الله عليه وسلم کور ته دتلو باره کي تپوس اوکړو نو راته يي اوفرمائيل کله چه به رسول الله صلي الله عليه وسلم په کور کي ارام کولو نو پخپل کور کي دموجودګئ وخت به يي په دري حصو تقسيمولو يوه حصه به دالله دپاره وه (په هغي کي به يي ذکر او تهجد کول) دويمه حصه دده دځان او دکور والا دپاره وه چه هغوئ سره به يي خبري کولي او دهغوئ حقوق به يي اداء کول او دريمه حصه به دده دذات دپاره وه چه دا يي دخپل ځان او دخلقو په مينځ کي تقسيم کړي وه يعني په دي حصه کي به دخاص خلقو سره ملاويدلو او ددوئ تربيت به يي کولو او څه چه به عامو خلقو ته رسيدل رسول الله صلي الله عليه وسلم به دهغي نه څه څيز په ذخيره کولو سره نه ساتلو يعني څه چه به په کور کي موجود وو په هغي به يي ددوئ ضيافت کولو او درسول الله طريقه دا وه چه دامت په حصه کي يعني په دريمه نيمه حصه کي اهل فضل او کمال ته په اجازت ورکولو کي ترجيح ورکول وو او ددي حصي تقسيم وو په هغوئ باندي دهغوئ دفضل او کمال په تناسب په دين کي يعني فاضلان به يي په اجازت ورکولو کي مخکي کول او که په دوئ کي به څوك يو ضرورت والا وو او څوك به دوه ضرورتونو والا وو او څوك به ډيرو ضرورتونو والا وو رسول الله به ددوئ ټولو سره مشغول وو، او رسول الله به دوئ هم په هغه کارونو کي مشغولول کوم چه به دهغه دپاره اود امت دپاره مفيد وو ، يعني درسول الله نه ددوئ تپوس کول، او د رسول الله دوئ ته هغه خبري بيانول کومي چي به ددوئ دپاره مناسب وي، رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل په تاسو کي چه څوك موجود وي پکار ده چه دوئ غير موجود خلقوته دا خبري ورسوي، او پکار ده چه تاسوماته دهغه چا حاجتونه راورسوئ څوك چه پخپله ماته خپل حاجتونه نشي رارسولي او دا ځکه څوك چه بادشاه ته دهغه چا حاجتونه رسوي څوك چه پخپله خپل حاجتونه هغه ته نشي رسولي دقيامت په ورځ به الله تعالي دهغوئ دواړه خپي مضبوطي کړي، بس درسول الله سره صرف همدا خبري وي او خلقو نه به يي همدا خبري اوريدلي (او په فضول او بي فائدو خبرو کي به نه مشغوليدو او نه به يي دا دچا نه اوريدلي، خلق به ورته ددينى خبرو دمعلومولو دپاره راتلل او ترهغي به ورنه واپس نه تلل چه څه ناڅه به يي ورنه حاصل کړي نه وو او څکلي به يي نه وو او په داسي حال کي به ورنه جدا شول چه يوخير به يي دځان سره يوړو، حسين رضي الله عنه وائي پس ما دخپل پلار نه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دبهر وتلو باره کي تپوس اوکړو چه دبهر وتلو په حالت کي به يي څه کول نوراته يي اوفرمائيل : رسول الله صلي الله عليه وسلم به دبهر وتلو په حال

كي خپله ژبه محفوظ ساتله مګر علاوه دهغه خبرو نه کومي چه د قابل دلحاظ وي، او رسول الله به خلق پخپل مينځ کي يو کول او يو به يي دبل نه نه ترول، رسول الله صلي الله عليه وسلم به د هر قوم دمعزز سړي اکرام کولو او هغه به يي په دوئ سردار مقررولو، او خلقو ته به يي ويره ورکوله او پخپله به هم ددوئ نه محتاط اوسيدلو او دخلقو سره به په روڼ تندي ملاويدلو او داخلاق حسنه معامله به يي ورسره کوله او نورو ته به يي هم ددي ترغيب ورکولو، او رسول الله به دصحابه کرامو دحالاتو تحقيق کولو او دخلقو نه به يي دنورو خلقو احوال هم معلومول، دښو خبرو تحسين به يي کولو يعني هغه به يي قوي کولي او دبدو خبرو تذليل به يي کولو يعني هغه به يي کمزوري کولي يعني که چا به نيك کار اوکړو نو دهغه حوصله افضائي به يي کوله او که چا به بد کار اوکړو نو دهغه تنقيص به يي کولو، دهغوئ معامله انتهائي معتدله وه او اختلاف کونکي مزاج والا نه وو، په هيڅ کار کي به يي غفلت نه کولو يعني هر وخت به خلقو ته متوجه وو ددي دپاره چه خلق ورنه غافل او ستړي نشي دهر قسم حالت دپاره درسول الله سره تياري وه يعني دهر کار دپاره به يي خاص انتظام کولو نه به يي په حق کار کي کوتاهي کوله او نه به يي په هغي کي تجاوز کولو نزدي به ورته هغه خلق وو څوك چه به په دوئ کي بهتر وو او درسول الله په نزد په خلقو کي بهتر هغه څوك وو څوك چه به دخير خواهئ په اعتبار سره دنورو په نسبت زيات وو يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دخيرخواهي کونکو خلقو يو خاص مقام وو او رسول الله هم دخلقو په نزد لوړي مرتبي والا وو او دخلقو په نزد يي داسي مقام وو چه دا دخلقو غم خوري او تعاون کونکي دي، حسين رضي الله عنه وائي پس ما دخپل پلار نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دمجلس باره کي هم تپوس اوکړو نو راته يي اوفرمائيل: درسول الله صلي الله عليه وسلم هيڅ قسم ناسته او ولاړه دالله تعالي دذکر نه خالي نه وه يعني د اديدو حالت کي به يي هم دالله ذکر کولو او کيناستلو حالت کي به يي هم الله يادولو او کله چه به دکوم قوم مجلس ته ورغلو نو هغه ځاي کي به کيناستلو چرته چه به دخلقو دمجلس انتهاء وه او خلقو ته به يي هم دداسي ناستي اختيارولو حکم کولو او هغوئ به دمجلس ټولو خلقو ته په توجه سره دهغوئ حصه ورکوله او دهغوئ دمجلس هيچا به دا ګمان نه کولو چه درسول الله په نزد دده نه زيات معززبل څوك شته څوك چه به ورسره ناست وو، راوي شك دي يا چاچه به ورسره خبري کولي دکوم ضرورت باره کي نورسول الله صلي الله عليه وسلم به دهغه سره هغه وخته پوري حصار وو ترڅو چه به ورنه خبري کونکي واپس تلي نه وو، او چاچه به ورنه دکوم ضرورت مطالبه اوکړه نو رسول الله به هغه دحاجت پوره کولو نه بغير نه رخصتولو اويا به يي ورته داسانئ کومه خبره اوکړه او رخصت به يي کړ، درسول الله صلي الله عليه وسلم خوش اخلاقي دټولو خلقو دپاره عامه وه ، لنډه دا چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دهر چا دپاره ديو پلار پشان وو او ټول خلق هغه ته دحق په معامله کي يو شان وو،

درسول الله صلي الله عليه وسلم مجلس دعلم او حياء او دصبر او امانت مجلس وو دهغوئ په مجلس كي به هيڅ په تيز اواز خبري نه كولي او نه به دهغوئ په مجلس كي دڅا بي عزتي كيدله او نه به په دي كي دڅا دكوم لغزش تشهير كيدلو ټول خلق به دهغوئ په مجلس كي يو برابر وو او خلق به درسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس كي يو دبل نه دپرهيزگارئ په بنياد مخكي كيدل او مقدم كيدل دهغوئ په مجلس كي به خلق يو دبل سره په خاكسارئ سره پيش كيدل دهغوئ په مجلس كي به خلقو دمشرانو تعظيم كولو او په كشرانو به يي شفقت او مهرباني كوله او دهغوئ په مجلس كي به خلقو حاجت مند ته ترجيح وركوله او دمسافرو حفاظت به يي كولو.

****

٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَزِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ قَالَ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ وَلَوْ دُعِيتُ عَلَيْهِ لأَجَبْتُ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه ماته په هديه كي دچيلئ خپي هم راكړي شي نو زه به دا قبلوم او كه څوك زه ديته راوبللي شم نو ضرور به ورځم.

****

٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَ نِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَيْسَ بِرَاكِبِ بَغْلٍ وَلا بِرْذَوْنٍ.

ترجمه : جابر رضي الله عنه فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما عيادت ته راغلو چه نه په قچر سور وو او نه په تركي اس (يعني نه په بهترينه سورلئ سور وو او نه په بيكاره سورلئ بلكه پياده راغلو).

****

١٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ أَنْبَأَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي الْهَيْثَمِ الْعَطَّارُ قَالَ سَمِعْتُ يُوسُفَ بْنَ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلامٍ قَالَ سَمَّانِي رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُوسُفَ وَأَقْعَدَنِي فِي حِجْرِهِ وَمَسَحَ عَلَى رَأْسِي.

ترجمه : ديوسف بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په مابانذي يوسف نوم ايخودلي ووو زه يي پخپله غيږ كي كينولي وم او زما په سر يي خپل

مبارك لاس رانبکلي وو.

****

١١ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ وَهُوَ ابْنُ صَبِيحٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ الرَّقَاشِيُّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَجَّ عَلَى رَحْلٍ رَثٍّ وَقَطِيفَةٍ كُنَّا نَرَى ثَمَنَهَا أَرْبَعَةَ دَرَاهِمَ فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ قَالَ لَبَّيْكَ بِحَجَّةٍ لا سُمْعَةَ فِيهَا وَلا رِيَاء.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم په يوه ورسته او زړي کجاوي حج اوکړو او يوه کپړه ورباندي غوړيدلي وه چه قيمت يي زمونږ په خيال څلور درهمه نه زيات نه وو هر کله چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره سورلئ راوستلي شوه او دهغوئ دپاره سيده اودرولي شوه نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بار بار حاضر يم د داسي حج کولو دپاره په کوم کي چه نه ريا وي او نه شهرت.

****

١٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ وَعَاصِمٍ الأَحْوَلِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَجُلا خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَرَّبَ مِنْهُ ثَرِيدًا عَلَيْهِ دُبَّاء قَالَ فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَأْخُذُ الدُّبَّاء وَكَانَ يُحِبُّ الدُّبَّاء قَالَ ثَابِتٌ فَسَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ فَمَا صُنِعَ لِي طَعَامٌ أَقْدَرُ عَلَى أَنْ يُصْنَعَ فِيهِ دُبَّاء إِلا صُنِعَ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يو درزي دعوت ورکړو او په خوراك کي يي د ثريد انتظام کړي وو او دپاسه يي ورباندي کدو اچولي وو کدو چونکه درسول الله صلي الله عليه وسلم خوښ وو نو په دي وجه هغوئ دثريد دپاسه دپروت کدو خوړل شروع کړل ثابت وائي دانس نه مي اوريدلي دي وئيل يي چه زما دپاره دخوراك انتظام نه دي شوي چه زه په هغي کي دکدو په شاملولو قادر يم او هغه دي پکي اچولي شوي نه وي مګر هغه پکي ضرور شامل وي.

****

١٣ـ محمد بن اسماعل حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ عَمْرَةَ قَالَتْ قِيلَ لِعَائِشَةَ مَاذَا كَانَ يَعْمَلُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِي ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ وَيَخْدُمُ نَفْسَهُ.

ترجمه : دعمره رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه عائشه رضي الله عنها ته اوونيلي شول رسول الله صلي الله عليه وسلم به په كور كي څه څه كار كولو ام المؤمنين په جواب كي اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دنورو سړو پشان يو سړي وو پخپلو جامو كي به يي پيوندونه پخپله اچول چه كله به شليدلي وي او چيلۍ به يي پخپله لوشله او دخپل ځان خدمت به يي پخپله كولو.

****

٤٨_ باب ما جاء في خلق رسول الله (صلى الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دكريما نه اخلاقو او عاداتو بيان

١_ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ قَالَ حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو عُثْمَانَ الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي الْوَلِيدِ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ خَارِجَةَ عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلَ نَفَرٌ عَلَى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فَقَالُوا لَهُ حَدِّثْنَا أَحَادِيثَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ مَاذَا أُحَدِّثُكُمْ كُنْتُ جَارَهُ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ بَعَثَ إِلَيَّ فَكَتَبْتُهُ لَهُ فَكُنَّا إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الآخِرَةَ ذَكَرَهَا مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الطَّعَامَ ذَكَرَهُ مَعَنَا فَكُلُّ هَذَا أُحَدِّثُكُمْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دخارجه بيان دي فرمائي چه يو جماعت زيد بن ثابت ته ورغلو او عرض يي اوكړو چه مونږ ته درسول الله صلي الله عليه وسلم څه حالات بيان كړئ زيد بن ثابت ورته اوونيل درسول الله صلي الله عليه وسلم څه حالات به درته بيان كړم (هغه خو دشمير داحاطي نه بهر دي) زه درسول الله صلي الله عليه وسلم ګاونډي وم په رسول الله صلي الله عليه وسلم چه به وحي نازليدله نو زه به يي راغوښتلم زه به حاضر شوم او هغه به مي ليكله څه قسم تذكره چه به مونږ كوله رسول الله به هم هغه شان تذكره كوله او كله چه به مونږ دنيوي ذكر كولو نورسول الله به هم دا قسم تذكره كوله او كله چه به مونږ اخرت ته متوجه كيدو نو هغوئ به هم داخرت تذكره كوله او كله چه به دخوراك څښاك ذكر كيدو نو رسول الله به هم هغه شان كولو او دا هر څه زه تاسو ته درسول الله صلي الله عليه وسلم دحالاتو نه بيانوم.

تشريح : د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اخلاقو متعلق چي د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه كله تپوس وشو نو په جواب كي يي اوفرمائيل: د رسول الله صلي الله عليه وسلم اخلاق قران مجيد وو، يعني د رسول الله صلي الله عليه وسلم خوشحالي او خفګان د قران

موافق وو، (١).

د خپل خان په وجه به يي د چا نه خفګان نه کولو او نه به يي د چا نه بدله او انتقام اخستلومګر کله چي حقوق الهيه ضائع کيدل نو صرف د الله تعالي دپاره به يي انتقام اخستلو

کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم غصه شو نوهيڅوك به يي غصي ته نشو تينګيدلی ، رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چا نه زيات بهادر اود هر چا نه زيات سخي وو ، هيڅکله اتفاقا هم داسي نه دي شوي چي سوال ورنه شوی وي او هغه يي رد کړی وي اود شپي وخت کي به رسول الله صلي الله عليه وسلم کوم درهم يا دينار په کور کي باقي نه پريښودلو او کله چي به څه باقي پاتي شول او څوك مستحق به ورته رانغلو نو تر هغه وخته پوري به کور ته نه داخليدو تر څو چي به يي دا کوم مستحق ته رسولی نه وو.

د عطيات الهيه يعني د بيت المال نه يي داهل بيت دپاره ارزان ترين اجناس لکه کهجوري يا وريشي اخستلي او هغه هيڅکله د يو کال د خرڅي د مقدار نه زياتي نه دي اخستلي، او په دي کي به دومره حده پوري ايثار کولو چي د کال ختميدو نه مخکي مخکي به بعضي اشياء ختم شول.

په خبرو کولو کي به رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چا سره ريښتوني اود هر چا نه به زيات باوقار اود لوظ پابند وو او په خصلتونو کي د هر چا نه نرم اوبه محبت کي انتهايي صبرناك او متحمل وو. د پرده نشين پيغلي نه زيات حياناك وو او نظر به يي همیشه ټيټ ساتلو. او اکثر به يي د سترګو په ګوټونو کي په خلقو نظر اچولو او انتهايي متواضع وو، اود هر اعلي او ادني غلام او ازاد دعوت به يي قبلولو اود مخلوق دپاره د هر چانه زيات شفقت کونکي وو.

دپيشوګانو دپارد به يي د اوبو څکلو وخت کي د اوبو لوخي راکږولواو تر څو چي به هغه مړه شوي نه ود تر هغي به يي ورته لوښي کوږ نيولی وو، اود هر چا نه زيات پاکدامن وو اود شهواتو متعلق په نفس نفيس انتهايي غالب وو

اود خپلو دوستانو به يي د هر چا نه زيات عزت کولو اود صحابه کرامو په مينځ کي به يي خپي نه غزولی . کله چي به په کوم مجلس کي ګڼه جوړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم د نورو خلقو پشان راتول کيناستلو اود صحابه کرامو او خپل خان مينځ کي به يي څه امتياز نه قائمولو ، ، هرچا چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د لري نه کتل نو دحسن

---

[1] يعني هغه کسان به يي خوښول د چاچي په قران کي تعريف مذکور دي او د هغو نه به يي نفرت کولو د چاچي په قران کي مذمت مذکور دی.

او جمال مظهر به يي گڼلو اوچي چا به ورته د نژدې نه کتل نو ملاحت او خوږوالي به يي محسوسولو
صحابه کرام به هميشه په مجلس نبوي کي جمع کيدل او چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم څه ارشاد فرمائيلو نو صحابه کرام به د سر نه خپو پوري غوږونه جوړيدل، او چي کله به يي کوم حکم وکړو نو چا به يو د بل نه په تعميل کي سبقت کولو ، رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به دهر چا سره ملاقات کولو نود سلام ابتداء به يي پخپله کوله ، اوددوستانو سره دملاقات په وخت کي به يي ويخته برابر کړل او زينت به يي برابر کړو او عمده لباس به يي واغوستلو ، اود صحابه کرامو د حال احوال پوښتنه به يي کوله او که څوك به بيمار شو نو دهغه عيادت به يي کولو او که څوك به په سفر تلو نو دهغه دپاره به يي دعا غوښتله اوکه څوك به مړ شو نو انا لله وانا اليه راجعون به يي ونيل اود غمژنو خلقو سره به همدردي کوله اود هغوئ کورونو ته به ورتلو اود خپلو دوستانو باغونو ته به ورتلو اود هغوئ دعوتونه به يي قبلول اود قوم سردارانو ته به يي تسلي ورکوله، اود اهل کمال به يي انتهائي عزت کولو أود هر چاسره به په خندا او مسکا کي ملاويدو اود معذرت کونکي عذر به يي قبلولو او هر يو اعلي او ادني په صداقت کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يو برابر وو اوخان سره دخلقو گرځولو(گارډ) خواهش مند نه وو، اوفرمائيل به يي چي زما شاد فرشتو دپاره خالي پريښودل پکار دي.
او رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به کله په سورلئ وو نو ملگري به يي پيدل تلو ته نه پريښودو اوکه ملگري به يي نه سوريدو کلك شو نو ورته به يي فرمائيل چي خپل منزل طرف ته زما نه مخکي روان او سه اود خپلو خادمانو خدمت به يي هم کولو تردي چي پخپل خوراك اود خپلو غلامانو او وينځو په خوراك کي به يي فرق نه کولو.
د انس رضي الله عنه بيان دي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي مي لس کاله تير کړي دي په الله قسم په سفر او حضر کي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم دومره خدمت نه دي کړي څومره چي به يي زما کولو، او په دي دوران کي يي چرته أف زما په وړاندي نه دي ونيلي، او نه يي چرته د تنگدلئ او ناخوښئ کلمه ونيلي وه، او زما دهيڅ يو کار باره کي چي ما کړي وي داسي هيڅ کله نه دي ونيلي دي چي دا کار دي ولي کړی دی؟،او چي کوم مي نه وي کړی دهغي باره کي يي دا ندي ونيلي دي چي فلاني کار دي ولي نه دي کړی؟ يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم په سفر کي د يوي چيلئ پخولو حکم وکړو په صحابه کرامو کي يو کس عرض وکړو چي ددي ذبحه کول زما په ذمه دي بل کس ووئيل څرمن ويستل زما په ذمه دي ، بل کس ووئيل پښول زما په ذمه دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل لرگي راوړل او جمع کول زما په ذمه دي ، صحابه کرامو عرض وکړو چي

ستاسو په خاي به د لرګو جمع کولو کار مونږ وکړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما په خاي خو تاسو لرګي راجمع کولئ شئ ليکن زه په تاسو باندي د خان دپاره کوم امتياز او خصوصي شان قائمول نه خوښوم او الله تعالي خپل هغه بنده نه خوښوي څوك چي دخپلو ملګرو سره په شان کي امتياز طلب کوي . چنانچې پخپله لاړو او لرګي راجمع کړل (١)

په يو بل روايت کي مذکور دي چي يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو سفر کي په اوښه سور وو نو په يو مقام کي د مونځ دپاره د اوښي نه راکوز شو او بيا اوښي طرف ته ورروان شو صحابه کرامو عرض وکړو اي د الله رسوله چرته روان يئ؟ورته يي اوفرمائيل دخپل اوښ دخپي تړلو دپاره(٢) صحابه کرامو عرض وکړو دا خدمت به مونږ وکړو ورته يي اوفرمائيل په تاسو کي دي هيڅوك د بل نه دادني مدد خواهش نه کوي (٣) برابره خبره ده چي هغه د مسواك يوه ټکړه ولي نه وي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم به په ناسته او ولاړه د الله تعالي ذکر جاري ساتلو.او چي کله به يو مجلس ته ورغلو كه د ناستي خاي به يي وموندلو نو کيناستلو به اود مجلس د صدارت قصد به يي نه کولو او مسلمانانو ته يي همددي کار حکم کړی دی رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپلو هم مجلسو کي هر يو ته دهغه د شان موافق توجه ورکوله ، بل چا به دا ګمان نه کولو چي دی د رسول الله صلي الله عليه وسلم په نزد زيات معروف دی يعني د هر چاسره به د بشاشت په حال کي ملاويدو ترديچي هر كس او ناکس به ورباندي د زيات مهربان ګمان کولو.

هرڅوك چي به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو نو چي هغه به څو پوري پخپله واپس روان شوي نه وو ترهغي به ورنه رسول الله صلي الله عليه وسلم نه پاخيدلو، او كه اتفاقا به کوم ضرورت پيدا شو نو دصاحب مجلس په اجازت به روان شو، او د چا په وړاندي به يي کومه داسي خبره نه کوله کومه چي به دهغه نه خوښيدله اود چا د بي ادبئ او بد خوي جواب به يي په بي ادبئ او بد خوي سره نه ورکولو بلکه معافي به يي کوله ، او بيمار پرسي به يي کوله اوددوئ جنازو ته به حاضريدلو او هيڅ يو فقير به يي د افلاس په وجه سپك نه ګڼړلو اود لويو لويو بادشاهانو نه به نه مرعوب کيدلو اود الله د هر نعمت اګر که هرڅومره به کم ووي خو دقدر په نظر به يي ورته کتل او په هيڅ لحاظ به يي بد نه ګڼلو اوپه

---

1. لرګي جمع کول دمحنت په اعتبار اهم دي اود حيثيت په اعتبار ادني کار دي نو رسول الله دخان دپاره دټولو نه ادني او مشکل ترين کار منتخب کړو.

2. قاعده داده چرته چي اوښ سوار کيناستل غواړي نو د اوښ زنګون وتړي ترديچي چرته ونه تختي.

3. په دي کي خلقو ته تعليم دی چي خلق دخپل سهولت دپاره د بل چا د اذيت سبب ونه ګرځي.

هيڅ قسم خوراك كي به يي عيبونه نه لټول كه خوښ به يي شو نو نوش به يي كړو كنه نو لاس به يي ورنه راښكل.
د ګاونډيانو امداد اود ميلمنو به يي انتهايي اكرام كولو ، رسول الله صلي الله عليه وسلم د هر چانه زيات مسكا كونكي تندي والا وو او هيڅ قسم وخت به د رسول الله صلي الله عليه وسلم دضروري حاجت نه علاوه بغير دعبادت الهيه نه نه تيريدو.(١)
اوكه چرته به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په دوه كارونو كي اختيار وركړى شو نو اسان ترين عمل به يي اختيارولو، مګر كه په آسان كي قطع د صله رحمئ وه نو ددي نه به يي عمده طريقه اختيارولـه تردي چي ګنډل به يي هم په خپل مبارك لاس كول اوپخپلو جامو كي به يي پخپله پيوند اچولو
رسول الله صلي الله عليه وسلم په آس ، قچر، او خر باندي سورلي كړى ده، خپل غلامان يا بل كوم كس به يي هم د خان سره سوررولو، اوپخپل نستونړي يا څادر به يي د آس مخ پخپله پاكولو.
رسول الله صلي الله عليه وسلم به په نيك فالئ نيولو خوشحاليدلو د نيك فالئ نه مراد دادى چي كله يو كس د كوم كار اراده وكړي اوكومه د خير كلمه يي غوږ ته ورسيږي مثلا څوك داسي اووايي چي اي په نيغه لاره تلونكيه ، اي سلامت پاتي كيدونكيه نو ددي په اوريدو به خوشحاليدو. اود بد فالئ نه مراد دادى چي كله يو كس يو نامناسب آواز واوري مثلا د حيواناتو د ښي او ګس طرف نه تيريدل يا د كارغه آواز نو دي لره بد وګڼي.
كله چي به يي كوم مرغوب څيز وموندلو نو "الحمد لله رب العالمين" به يي ونيل، او چي كله به يو نامناسب څيز پيش شو نو "الحمد لله علي كل حال" به يي ونيل، او چي كله به يي خوراك كولو نو "الحمد لله الذي اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمين" به يي ونيل ، او اكثر به قبلي ته مخامخ كيناستلو، او ذكر به يي ډير كولو، او لغوه خبري به يي نه كولي، مونځونه به يي اوږده او خطبه مختصره ادا كوله.
په يو مجلس كي به يي سل سل ځله الله تعالي ته دمغفرت درخواست كولو، مونځ به يي دومره اوږد كولو چي د سيني مباركي نه به يي د تانبي دديګچي د جوش پشان آواز اوريدلى كيدو.
رسول الله صلي الله عليه وسلم به ددوه شنبي او زيارت په ورځ اكثر روژه نيوله ، اوبه هره مياشت كي به يي دري روژي (يعني د ايام بيض روژي يعني ديارلسم ، څوارلسم، پنځلسم

1. يعني فارغ وخت به يي نه ضائع كولو.

تاريخ) روژي نيولي او دعاشوري(لسم محرم)روژه به يي هم نيوله، او شايد همداسي به شوي وي چي د جمعي روژه به يي نه وي نيولي، اود شعبان په مياشت كي د رمضان المبارك نه علاوه به يي زياتي روژي نيولي.

د هرڅه نه زيات خصوصيت يي دا وو چي كله به اوده وو نو سترگي به يي بندي وي ليكن زړه مبارك به يي د وحي په انتظار كي بيدار اود الله تعالي سره به مشغول وو، اود اوده كيدو وخت كي به يي د سا اخستلو آواز اوريدلى كيدو. ليكن خرارى به يي نه كولو ځكه چي دا يو مكروه آواز وي.

كه چري كوم نامناسب خوب به يي وليدلو نو "هو الله لا شريك له" به يي وئيل او چي كله به يي د اوده كيدو قصد وكړو نو "رب قني عذابك يوم تبعث عبادك" به يي فرمائيل، او چي كله به بيدار شو نو "الحمد لله الذي احيانا بعد ما اماتنا واليه النشور" او صدقه به يي هيڅكله نه خوړله، البته هديه او تحفه به يي خوړله.

چا چي به ورته هديه راوليږله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به دهغي نه بهتره يا دهغي پشان هديه وركوله، اوبه خوراكي اشياؤ كي به هيڅكله تكلف نه كولو، د ولږي د شدت او د ضعف نه دبچ كيدو دپاره به يي په خيټه پوري كاڼي تړل، الله تعالي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د زمكي دخزانو چابياني وركولى خو قبول يي نكړي او اخرت يي قبول كړو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم به روټۍ د سركي سره خوړله او سركه يي بهترينه تركاري گڼله . كدو به يي ډير خوښولو، اود چيلي لاس به يي هم خوښولو، فرمائيل به يي زيتون خورئ او بدن ورباندي غوړوئ(مالش كوئ) ، رسول الله صلي الله عليه وسلم به په دري گوتو خوراك كولو. اود خوراك نه پس به يي دا دري واړه گوتي څټلي، او د وربشو ډوډۍ، رسول الله صلي الله عليه وسلم د تازه او وچو كهجورو او خربوزي سره خوړلي ده، همدارنگي كهير يي د كهجورو سره او كهجوري يي د كوچوسره خوړلي دي، اود خوږو اشياؤ ته يي ډير رغبت كولو، او اكثر به يي اوبه په دري ساگانو كي په ناسته څكلي، اود هري ساه وخت كي به يي د اوبو لوخي د خولي نه جدا كولو. او پاتي شوي اوبه به يي صحابه كرامو ته وركولي، او دي وخت كي به يي دښي طرف نه شروع كوله. يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم پئ وڅكل نو دي وخت كي يي صحابه كرامو ته اوفرمائيل چي كله د خوراك په اشياؤ كي كوم شي بيامومئ نو " اللهم ارزقنا خيرا منه" وايئ. ليكن كله چي پئ وڅكئ نو "اللهم بارك لنا فيه وزدنا منه" وايئ . او بيا يي اوفرمائيل د خوراك په اشياؤ كي د پيو نه علاوه هيڅ يو داسي شي نشته چي د ډوډئ قائم مقام وگرځي.

****

٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ عَنْ زِيَادِ بْنِ أَبِي زِيَادٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُقْبِلُ بِوَجْهِهِ وَحَدِيثِهِ عَلَى أَشَرِّ الْقَوْمِ يَتَأَلَّفُهُمْ بِذَلِكَ فَكَانَ يُقْبِلُ بِوَجْهِهِ وَحَدِيثِهِ عَلَيَّ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنِّي خَيْرُ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا خَيْرٌ أَوْ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا خَيْرٌ أَوْ عُمَرُ فَقَالَ عُمَرُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَا خَيْرٌ أَوْ عُثْمَانُ فَقَالَ عُثْمَانُ فَلَمَّا سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَصَدَقَنِي فَلَوَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ سَأَلْتُهُ.

ترجمه: دعمرو بن العاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه په قوم كي به دبدترين كس سره هم رسول الله صلي الله عليه وسلم دتاليف قلب په خيال خبري كولي او هغه ته به يي توجه كوله چنانچه پخپله زما طرف ته هم درسول الله توجه او دهغوئ دكلام روخ زيات وو تردي پوري چه ما دا گمان شروع كړو چه زه په قوم كي بهترين شخص يم نو ځكه رسول الله صلي الله عليه وسلم دهر چا نه زياته توجه ماته كوي ما په همدي خيال يوه ورخ دهغوئ نه تپوس اوكړو چه اي دالله رسوله زه افضل يم او كه ابوبكر؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: ابوبكر افضل دي، ما بيا تپوس اوكړو زه افضل يم او كه عمر افضل دي ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: عمر افضل دي ما بيا تپوس اوكړو زه افضل يم او كه عثمان رضي الله عنه افضل دي ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: عثمان افضل دي كله چه ما درسول الله نه تصريحا تپوس اوكړو نو هغوئ بغير درعايت نه صحيح صحيح اوفرمائيل راو زما په مداراتو كي يي زذ افضل اونه گرخولم) نو زه په دي خپل كار ډير پخيمانه شوم او دا سوچ مي اوكړو زما دپاره بالكل ددا سي خبري باره كي تپوس كول نه وو پكار.

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ قَطُّ وَمَا قَالَ لِشَيْءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ صَنَعْتَهُ وَلَا لِشَيْءٍ تَرَكْتُهُ لِمَ تَرَكْتَهُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ خُلُقًا وَلَا مَسِسْتُ خَزًّا وَلَا حَرِيرًا وَلَا شَيْئًا كَانَ أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلَا شَمَمْتُ مِسْكًا قَطُّ وَلَا عِطْرًا كَانَ أَطْيَبَ مِنْ عَرَقِ رسول الله صلى الله عليه وسلم.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم لس كاله خدمت كړي دي او په هيڅ يوه خبره يي ماته هيڅ كله اف قدري هم نه دي وئيلي او نه يي دكوم كار په كولو ولي وئيلي دي او نه يي دكوم كار په نه كولو چرته ولي وئيلي دي رسول

الله صلي الله عليه وسلم په اخلاقو کي دټولو دنيا نه بهتر وو او ما هيڅ کله کومه ريشمي کپړه يا خالص ريښم يا بل کوم نرم څيز داسي نه دي مسح کړي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم دورغوو نه زيات نرم وي او نه ما چرته داسي خوشبويي ليدلي ده چه درسول الله صلي الله عليه وسلم دخولو نه زياته خوشبويي وي.

تشريح: د رسول الله د زير خدمت اشخاصو بيان

(۱) زيد بن حارثه او دده دري ځامن اسامه او ثوبان او ابو کبشه (دوئ په جنگ بدر کي موجود وو او چي په کومه ورځ عمر فاروق خليفه شو نو دي وفات شو).

(۲) (۳) او انيسه او شقران ، او په يو روايت کي دي چي شقران ورته په وراثت کي د خپل پلار نه پاتي شوی وو، اوپه يو بل روايت کي دي چي شقران يي د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه نه اخستلی وو.

(۴) (۵) رباح او يسار، دا هغه کسان دي چي دعرينه قبيلي باغيانو قتل کړي وو.

(۶) ابو رافع: دا هغه کس دي چي عباس رضي الله عنه رسول الله ته ورکړی وو، هغه چي کله د عباس د مسلمانيدو خبر رسول الله ته ورسولو نو رسول الله هغه ازاد کړو، اود خپلي سلمه وينځي سره يي دده نکاح وکړله چي عبدالله نومي ځوي ورنه پيدا شو، ځوك چي د علي رضي الله عنه محرر وو.

(۷) (۸) ابو مويهبه او فضاله (فضاله په شام کي وفات شوی وو)

(۹) رافع: دوئ تول رسول الله صلي الله عليه وسلم آزاد کړي وو.

(۱۰) مدعم: دا هغه کس دی ځوك چي رفاعه جذامي[1] پيش کړی وو اوپه وادي القری کي شهيد شوی دی.

(۱۱) کر کره: دا کس هوذه بن علي يهاني پيش کړی وو، (رسول الله صلي الله عليه وسلم) دی هم ازاد کړو)

۱۲، زيد جد بلال بن يسار ۱۳، عبيد ۱۴، طهمان، ۱۵، ماه نور قبطي، (دا کسان مقوقس بادشاه په هديه کي ورکړي وو) ۱۶، واقد يا ابو واقد ۱۷، ابو هشام، ۱۸، ابو ضميره، (دوئ په مال فئ کي راغلي وو په غزوه حنين کي يي ازاد کړل ۱۹، ابو عسيب احمر، ۲۰، ابو عبيد، ۲۱،سفينه دوئ اول د ام سلمه رضي الله عنها غلامان وو، بيا يي ازاد کړل، او په دي شرط يي ازاد کړل چي تاسو څو پوري ژوندي يئ نود رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت به کوئ هغوئ ونيل که دا شرط مقرر شوی نه وی نو مونږ بيا هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مفارقت اختيارولی نشو.

---

[1] جذام د يوي عربي قبيلي نوم دی.

۲۲. ابو هند. ۲۳. انجشه. ۲۴. ابو بکره دوی ټول اوه ویشت کسان وو مګر بعضي اهل سیرت ددي نه هم زیات تعداد ښودلی دی.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم وينځي

د رسول الله صلي الله عليه وسلم اولس وينځي وي سلمي، ام رافع، رضويه، اميمه، ام ضميره، ماريه، سيرين، ام ايمن (د چاچي نوم برکه وو اود رسول الله صلي الله عليه وسلم پرورش يي کړی وو) او شپږ ښځي د بني قريظه، او ميمونه بنت سعد، او خضره، او خويله، او ريحانه.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم خادمان

د رسول الله صلي الله عليه وسلم يولس خادمان وو چي نومونه يي دادي:
(۱) انس بن مالك رضي الله عنه، اود حارثه دوه لونړه.
(۲) هند (۳) اسماء (۴) ربيعه بن کعب اسلمي (۵) عبد الله بن مسعود رضي الله عنه (۲) عقبه بن عامر (۷) بلال (۸) سعد (۹) ذو مخمر يا منجر (د دنجاشي خوريي يا وراره) (۱۰) بکير بن شداخ ليثي (۱۱) ابو ذر غفاري رضي الله عنه.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم محافظين

په غزوه بدر کي سعد بن معاذ رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم نګهباني کوله اوپه غزوه احد کي ذکوان بن عبد قيس او محمد بن مسلمه انصاري رضي الله عنهما، اوپه غزوه خندق کي زبير رضي الله عنه، اوپه غزوه وادي القري کي عباد بن بشر او سعد بن ابي وقاص او ابو ايوب او بلال رضي الله عنهم درسول الله محافظت او نګهباني کوله او کله چي ايت کريمه: والله يعصمك من الناس نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم محافظين او نګهبانان ساتل ختم کړل.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم قاصدان

رسول الله صلي الله عليه وسلم عمرو بن عامر نجاشي باد شاه ته وليږلو (نجاشي د حبشي د باد شاه لقب دی، چي نوم يي اصحمه وو معني په عربي کي عطيه او بخشش دی کله چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم مراسله نجاشي ته ورسيدله نو نجاشي هغه خط په دواړو سترګو کينبودو او تعظيما د تخت نه لاندي راکوز شو او په زمکه کيناستلو او اسلام يي راوړلو په ۹هجري کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ژوندګۍ کي وفات شو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وربانددي غائبانه جنازه وکړله.

ف: غائبانه مونځ دجنازي د رسول الله صلي الله عليه وسلم خصوصيت وو داد امت دپاره جائز

نه دي، د امام ابو حنيفه رحمه الله همدا مذهب دی
همدارنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحيه کلبي د روم بادشاه هرقل ته وليږلو او هغه په دلائلو د رسول الله صلي الله عليه وسلم نبوت تسليم کړو او اسلام راوړل يي اوغوښتل ليکن قوم يي په دي کار راضي نه شو او په دي وجه يي اسلام راونوړو چي که د قوم دمرضئ خلاف اسلام راوړم نو حکومت به مي لاړ شي.
او همدارنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم عبدالله بن حذافه د فارس بادشاه کسری(پرويز) ته وليږلو او دي بي ادبه خط مبارک ټوټي ټوټي کړو او ويي شلولو . رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي دده بادشاهي ټوټي ټوټي کړي چنانچي ډير زر قتل کړی شو.
همدارنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم حاطب بن ابي بلتعه مقوقس (داد مصر او اسکندريه د بادشاه لقب دی) ته وليږلو نو مقوقس اسلام قبول کړو او ماريه قبطيه او سيرين وينځي يي ورته وليږلي اود دلدل په نوم يوه سپينه قچره يي ورته وليږله اوپه يو روايت کي دي چي زر ديناره او شل جوړي جامي يي ورته په تحفه کي وليږلي.
همدارنګي رسول الله عمرو بن العاص رضي الله عنه لره جيفر اوعبد د جلندي خامنو عمان ته وليږلو نو دواړو اسلام قبول کړو او عمرو ته يي په زکواة اخستلو اود قوم په فيصلو کولو کي رکاوټ پيښ نکړو چنانچي عمروبن العاص رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات پوري همدلته مقيم وو.
او سليط بن عمرو يي د يمامي حاکم هوذه بن علي ته وليږلو نو هغوئ د سليط تعظيم وکړو اودربار نبوي نه يي خواست وکړو او پيغام يي وليږلو چي کوم څيز ته تاسو ما رابلئ واقعي دا مبارک څيز دی . ليکن زه دخپل قوم خطيب او شاعر يم نو پدي وجه ماته د خلافت په کارونو کي د بعضي تصرفاتو کولو اجازت راکړئ، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده پيغام قبول نکړواو دی مسلمان هم نه شو.
او شجاع بن وهب يي د بلقاء بادشا حارث غساني ته وليږلو (بلقاء د شام په علاقو کي د يو ښار نوم دی) حارث د خط مبارک څه تعظيم ونکړو او ويي وئيل چي زه د خپل لښکر سره د رسول الله صلي الله عليه وسلم طرف ته روانيږم نود روم بادشاه ده لره ددي حرکت نه منع کړو.
او مهاجر بن اميه يي په يمن کي حارث حميري ته وليږلو .
او علاء بن الحضرمي يي د بحرين بادشاه منذر بن ساوي ته وليږلو نوهغه اسلام قبول کړو.
او ابو موسي اشعري او معاذ بن جبل يي يمن ته وليږل دهغه مقام بادشاه او رعيت بغير د جنګ او جدال نه مسلمانان شول

د رسول الله صلي الله عليه وسلم محررين

خلفاء اربعه او عامر بن فهيره او عبد الله بن ارقم او ابئ بن کعب او ثابت بن قيس بن شماس او

خالد بن سعيد او حنظله بن ربيع ار زيد بن ثابت او معاويه او شرجيل بن حسنه، دا ديارلس صحابه كرام درسول الله صلي الله عليه وسلم محررين وو. (سيرت الرسول رساله شاه ولي الله محدث دهلوي)

****

٤۔ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ وَأَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ هُوَ الضَّبِّيُّ وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ قَالَا حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ سَلْمٍ الْعَلَوِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ كَانَ عِنْدَهُ رَجُلٌ بِهِ أَثَرُ صُفْرَةٍ قَالَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لا يَكَادُ يُوَاجِهُ أَحَدًا بِشَيْءٍ يَكْرَهُهُ فَلَمَّا قَامَ قَالَ لِلْقَوْمِ لَوْ قُلْتُمْ لَهُ يَدَعُ هَذِهِ الصُّفْرَةَ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يو كس ناست وو چه دزيړوالي اثر ورباندي موجود وو اودرسول الله عادت شريفه دا وو كله چه به يي يو داسي كار اوليدلو چه خوښ به يي نه وو نو مخ به يي ورنه ستون كړو هر كله چه موجود كس لاړو نو خلقو ته يي اوفرمائيل كه تاسو پوهه كړي وي نو دا زيړوالي به يي پريخودلي وو.

****

٥۔ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ الْجَدَلِيِّ وَاسْمُهُ عَبْدُ بْنُ عَبْدٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَاحِشًا وَلا مُتَفَحِّشًا وَلا صَخَّابًا فِي الأَسْوَاقِ وَلا يَجْزِئُ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ.

ترجمه: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم نه طبعا فحش گويه وو او نه به يي تكلفا فحش گويي كوله او نه په بازارونو كي په تيزه چغي وهونكي وو او دبدئ بدله به يي په بدئ كولو نه اخستله بلكه معافي به يي كوله او بيا به يي ددي تذكره هم نه كوله.

تشريح: په زير بحث حديث كي فحش لفظ راغلي دي د فحش په مذمت كي قراني ايتونه او متواتر احاديث په كثرت سره وارد دي مثلا دا قول د الله تعالي:

﴿ وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴾ [النحل: ٩٠].

او الله تعالي منع كول كوى دبي حيائي نه اودبدو كارونو اوظلم كولونه وعظ دركوى تاسو ته ددي دپاره چه تاسو نصيحت قبول كړي.

امام ابن كثير وايي پورتني ايت په قران كريم كي جامع ترين ايت دى خكه چه په دي كي بي شميره تعليمات په يو څو الفاظو كي راجمع كړى شوي دي همداوجه ده چه

ابن مسعود رضي الله عنه به فرمائيل چه په قران كريم كي جامع ترين ايت هم دادی همداوجه ده چه داسلافو دزماني نه تردي وخته پوري په جمعو او اخترونو كي ددي ايت دلوستلو معمول راروان دی همدا وجه ده چه دا كله ايت وليد بن جعفر واوريدو نو فورا خپل قوم قريشو ته ورغلو او ويی وئيل.

والله ان له لحلاوة وان عليه لطلاوة وان اصله لمورق واعلاه لمثمر وماهو بقول بشر.

يعني په الله قسم په دي كلام كي خو يو خاص حلاوت دی ددي دپاسه يو خاص رونق او نور دی او ددي دلاندي نه خاښونه او جرړي راوتلي دي چه ميوه پكي ښكاره كيدو والاده دا د هيڅ يو انسان كلام هرګز كيدی نه شي.

په دي ايت كي د دري خبرو حكم دی اول فحش كارونه دويم بد كارونه او دريم ظلم پريخودل يعني دخلقو حقونه پوره پوره ادا كړی او خپل حق وصول كړی بيا داحسان ذكر دی چه نورو ته خپل حقونه وركړی او پخپل حق وصولولو ستركي پتي كړی نو صحيح ده او كه داسي نه وي نو رشته دارو ته يي اوبخښئ په دي كي بيمارپرسي او همدردي وغيره داخل دي د دري واړو كارونو نه په الفحشاء سره منع راغلي ده فحشاء هغه څيز ته وئيلی شي چه بدي يي بالكل ښكاره وي او منكر هغه بدئ ته وئيلی شي كومه چه شريعت منع كړي وي چه دا عمل ناجائز دی او بغي دحد نه تجاوز كول دي دا هغه ظلم دی چه اثر يي نورو ته متعدي كيږي دپورتني ايت احكام دانسانانو دانفرادي او اجتماعي زندګئ داصلاح كامل ترينه نسخه ده.

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ﴾ [العنكبوت: ٤٥].

بی شكه مونځ دبي حيايئ اونامناسبه خبرو نه منع كوي.

دمذكوره ايت نه معلومه شوه چي د فحشاء مصداق غير اخلاقي او بي حيايئ كارونه دي، دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی چه كله پورتنی ايت نازل شو نو د رسول الله نه تپوس اوكړی شو چه ددي ايت څه مطلب دی په جواب كي يي ورته اوفرمائيل "من لم ينته صلاته عن الفحشاء والمنكر فلا صلاة له" يعني دچا مونځ چه چالره دبدو كارونو نه منع نكړي نو دده مونځ څه مونځ نه دی همدا رنګي يو ځل دابن عباس رضي الله عنهما نه هم دپورتني ايت باره كي تپوس اوكړی شو نو ويي فرمائيل دچا مونځ چه چالره اعمال صالحه ته اماده نكړي او دمنكراتو نه يي منع نكړي نوداسي مونځ به ده لره دالله نه نور هم ډير لري كړي. (شرح رياض الصالحين)

****

٦ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم بِيَدِهِ شَيْئًا قَطُّ إِلا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلا ضَرَبَ خَادِمًا وَلا امْرَأَةً

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل لاس مبارك دالله تعالي په لار كي دجهاد كولو نه علاوه نور هيڅ كله څوك وهلي نه

دي نه يي چرته كوم خادم وهلي او نه يي كومه ښځه وهلي (وينځه يا ښځه وغيره).

****

۷_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ قَالَ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ مَنْصُورٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم مُنْتَصِرًا مِنْ مَظْلَمَةٍ ظُلِمَهَا قَطُّ مَا لَمْ يُنْتَهَكْ مِنْ مَحَارِمِ اللهِ تَعَالَى شَيْءٌ فَإِذَا انْتُهِكَ مِنْ مَحَارِمِ اللهِ شَيْءٌ كَانَ مِنْ أَشَدِّهِمْ فِي ذَلِكَ غَضَبًا وَمَا خُيِّرَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ مَأْثَمًا.

ترجمه. دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ما كله نه دي ليدلي چه دخپل ذات دپاره يي دچا نه بدله اخستلي وي البته كه دالله تعالي په محارمو كي به دكوم حرمت دسپكاوي ارتكاب اوشو نو دهغي بدله به يي ضرور اخستله (شارحين دحديث وائي په دي كي دانسانانو حقوق هم داخل دي) چه دا كار به كله اوشو نو په دي باره كي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه زيات غصه ناك بل څوك نه دي ليدلي او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته چه به هر كله په دوه كارونو كي اختيار وركړي شو نو هميشه به يي اسان اختيارولو مګر په دي شرط چه دمعصيت نه به خالي وو.

تشريح: په زير بحث حديث كي درسول الله د كريمانه شان بيان دی چي د خپل جائز حق نه چي قران وړباندي دلالت كوي نه هم د امت په خاطر تير شوی دی او ددي كوشش يي نه دي كړي چي د چا نه خپله شخصي بدله واخله او دا اګر چي جائز دي لكه چي په سورت الشعراء ۲۲۷ كي ارشاد الهي دي:

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ

مګرهغه كسان چه ايمان ني راوړي دي اوعمل نيك كوی مطابق دسنت اويادوي الله لره ډير. اوبدل ني واخستوپس دهغي نه چه په دوي باندي ظلم كړي شوي دي.

"وانتصروا"يعني كومو خلقو چه دمسلمانانو هجوه كړي وي دا مسلمانان شاعران دهغي بدله اخلي او دهغوئ دهجوي په مقابله كي هجوه كوي او پدي شان سره دكافرانو نه دظلم انتقام اخلي.

بغوي په شرح السنه او معالم كي ليكلي دي چه كعب بن مالك رسول الله په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله دشاعرئ متعلق چه الله څه نازل كړي دي هغه خو معلوم دي او زمونږ به څه حال وي نو ويي فرمائيل چه مومن پخپلي ژبي او توري سره هم جهاد كوي زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار كي چه زما روح دي تاسو چه دوئ لره دژبي په غشو ولئ نو دا داسئ ده لكه چه تاسو دليندو په غشو ويشتلي وي.

عبدالبر په الاستيعاب كي ليكلي دي چه كعب بن مالك عرض اوكړو اي دالله رسوله دشاعرئ متعلق دي څه ګمان دي؟ نو ويي فرمائيل مومن په توره هم جهاد كوي او په ژبه هم جهاد كوي.

بغوي دانس رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چه دعمرة القضا په موقعه رسول الله مكي ته داخل شو او ابن رواحه ورنه مخكي روان وو او دحرم په داخل كي يي شعرونه وئيل رسول الله عمر فاروق رضي الله عنه ته اوفرمائيل اي عمر دي شعر وئيلو ته پريږده دا شعرونه دلينډي دغشي نه هم په زياتي تيزئ سره په دوئ اثر كوي .

بخاري او مسلم دبراء بن عازب رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چه دغزوه بني قريظه په ورځ رسول الله حسان بن ثابت ته دا هم اوفرمائيل چه دمشركانو هجوه وكړه او جبرائيل درسره مدد كوي رسول الله حسان ته دا هم اوفرمائيل چه زما دطرف نه ورته جواب وركړه او اي الله دروح القدس په ذريعه دده مدد اوكړي .

مسلم دعائشه رضي الله عنها نه روايت بيان كړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دقريشو هجوه اوكړئ ستاسو دطرف نه دا هجوه دهغوئ دپاره په غشو دلگيدو نه هم زياته تكليف وركونكي ده دا هم دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چه رسول الله حسان ته اوفرمائيل حسان ددوئ هجوه وكړه او شفا يي وركړه او شفا وركونكي ځيز يي هم بيان كړو .

بخاري دعائشه رضي الله عنها نه روايت بيان كړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دحسان دپاره په مسجد كي دمنبر ايخودلو حكم كړي وو په كوم چه اودريدو او درسول الله دطرف نه يي فخريه يا دفاعيه كلام بيان كړو او رسول الله به فرمائيل الله تعالي په روح القدس سره دحسان مدد كوي خو ترڅو چه دي دالله درسول نه دفاع كوي.

بغوي دعائشه رضي الله عنها نه روايت بيان كړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دقريشو هجوه اوكړئ او دا هجوه دهغوئ دپاره په غشو دلگيدو نه زياته سخته ده ، او ابن رواحه ته يي څوك ورولیږلو او حكم يي ورته اوكړو چه ددوئ هجوه اوكړه او په هجوه كي ورسره مقابله اوكړه ليكن درسول الله پخپله دخپلي خوښي مطابق هجوه نشوه كولي ، اوبيا يي كعب بن مالك راوغوښتلو او بيا يي حسان بن ثابت هم راوغوښتلو كله چه حسان راغي نو ويي فرمائيل اوس وخت راغي چه تاسو ددي شعر دطرف نه غشي اوولئ چه په لكئ وهل كوي اوبيا يي ژبه راوويستله چه خوزوله او ويي وئيل زما دي قسم وي په هغه ذات چه ته يي په حق سره راليږلي يي چه زه به پخپلي ژبي دوئ لره دچمړي پشان اوچيرم رسول الله اوفرمائيل جلتي مه كوه ابوبكر دقريشو دنسبونو نه ښه خبردار دي او زما دنسب تعلق هم دقريشو سره دي ابوبكر به زما نسب ددوئ نه جدا كوي ، حسان ابوبكر رضي الله عنه ته ورغلو كله چه واپس راغي او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ابوبكر دهغوئ نه ستا نسب جدا كړو زما دي په هغه ذات قسم وي چه ته يي په حق سره راليږلي يي زه به تالره دهغوئ دمينځ نه داسي راوباسم لكه د اخكلي شوو اوړو نه چه ويخته راويستلي شي او بيا يي دا شعرونه اووئيل:

هجوت محمّدا فأجبت عنه * وعند الله فى ذاك الجزاء

هجوت محمّدا برّا حنيفاً * رسول الله شيمته الوفاء

فأن ابي ووالده وعرضى * لعرض محمد منكم وقاء

أمن يهجو رسول الله منكم * ويمدحه وينصره سواء
وجبريل رسول الله فينا * وروح القدس ليس له كفاء

دابن سيرين نه يو مرسل روايت مروي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم كعب بن مالك ته اوفرمائيل راوړه نوكعب بن مالك قصيده بيان كړه نو رسول الله اوفرمائيل دا د قريشو دپاره په غشو دلګيدو نه هم زياته سخته ده.
دمذكوره تحقيق حاصل دادي چي خپله شخصي بدله اګر كه جائز دي د هر چا دپاره بلا استثناء مګر رسول الله به د خپل كريمانه شان په وجه تيريدلو او درګذر او عفوه به يي كوله.

****

٨ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ اسْتَأْذَنَ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالَ بِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ أَوْ أَخُو الْعَشِيرَةِ ثُمَّ أَذِنَ لَهُ فَأَلَانَ لَهُ الْقَوْلَ فَلَمَّا خَرَجَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ قُلْتَ مَا قُلْتَ ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ الْقَوْلَ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ أَوْ وَدَعَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ فُحْشِهِ.

ترجمه : عروه بن زبير رضي الله عنه دعائشه رضي الله عنها نه روايت نقل كوي چه فرمائيل يي يو كس درسول الله صلي الله عليه وسلم نه د داخليدو دپاره اجازت اوغوښتلو او دغه وخت كي زه ورسره خوا كي موجود وم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا كس څومره بدي قبيلي والاانسان دي او ددي خبري نه پس يي هغه ته دراتلو اجازت وركړو او دراتلو نه پس يي ورسره ډيري په نرمئ سره خبري اوكړي كله چه واپس لاړو ما عرض اوكړو اي دالله رسوله تاسو خو دده بارد كي د داخليدو نه مخكي داسي فرمائيلي وو او بيا دي ورسره دومره په نرمئ خبري اوكړي ددي څه وجه ده؟ رسول الله اوفرمائيل اي عائشي هغه څوك دبدترين خلقو نه دي چه خلق هغه لره دبد كلامئ په وجه پريږدي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ قَالَ أَنْبَأَنَا رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ وَيُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنٍ لِأَبِي هَالَةَ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ الْحُسَيْنُ سَأَلْتُ أَبِي عَنْ سِيرَةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فِي جُلَسَائِهِ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم دَائِمَ الْبِشْرِ سَهْلَ الْخُلُقِ لَيِّنَ الْجَانِبِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا صَخَّابٍ وَلَا فَحَّاشٍ وَلَا عَيَّابٍ وَلَا مُشَاحٍ يَتَغَافَلُ عَمَّا لَا يَشْتَهِي وَلَا يُؤْيِسُ مِنْهُ رَاجِيهِ وَلَا يُخَيَّبُ فِيهِ قَدْ تَرَكَ نَفْسَهُ مِنْ ثَلَاثٍ الْمِرَاءِ وَالْإِكْثَارِ وَمَا لَا يَعْنِيهِ وَتَرَكَ النَّاسَ مِنْ ثَلَاثٍ كَانَ لَا يَذُمُّ أَحَدًا وَلَا يَعِيبُهُ

وَلا يَطْلُبُ عَوْرَتَهُ وَلا يَتَكَلَّمُ إِلا فِيمَا رَجَا ثَوَابَهُ وَإِذَا تَكَلَّمَ أَطْرَقَ جُلَسَاؤُهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُؤُوسِهِمُ الطَّيْرُ فَإِذَا سَكَتَ تَكَلَّمُوا لا يَتَنَازَعُونَ عِنْدَهُ الْحَدِيثَ وَمَنْ تَكَلَّمَ عِنْدَهُ أَنْصَتُوا لَهُ حَتَّى يَفْرُغَ حَدِيثُهُمْ عِنْدَهُ حَدِيثُ أَوَّلِهِمْ يَضْحَكُ مِمَّا يَضْحَكُونَ مِنْهُ وَيَتَعَجَّبُ مِمَّا يَتَعَجَّبُونَ مِنْهُ وَيَصْبِرُ لِلْغَرِيبِ عَلَى الْجَفْوَةِ فِي مَنْطِقِهِ وَمَسْأَلَتِهِ حَتَّى إِنْ كَانَ أَصْحَابُهُ وَيَقُولُ إِذَا رَأَيْتُمْ طَالِبَ حَاجَةٍ يَطْلُبُهَا فَأَرْفِدُوهُ وَلا يَقْبَلُ الثَّنَاءَ إِلا مِنْ مُكَافِئٍ وَلا يَقْطَعُ عَلَى أَحَدٍ حَدِيثَهُ حَتَّى يَجُوزَ فَيَقْطَعُهُ بِنَهْيٍ أَوْ قِيَامٍ.

ترجمه : دحسين رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه دخپل پلار نه مي تپوس اوکړو چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به دخپلو هم مجلسو سره څه سلوك كولو؟ راته يي اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به هميشه په روڼ تندي او نرمو اخلاقو او بهترين خوي سره خلقو سره ملاويدلو، نه سخت ګويه وو او نه سخت دله وو چه نه به يي چغي وهلي او نه به يي فحش خبري كولي او نه به يي په چا كي عيبونه لټول او نه به يي جګړي كولي دناخوښه خبرو نه به يي اعراض كولو او دناكاره خبرو نه به يي مايوسي كوله او موافقت به يي ورسره نه كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم د دري خبرو نه خان جدا ساتلي وو دجګړو كولو نه ، او دتكبرنه، او د بي فائدي خبرو كولو نه، او د دري خبرو نه يي خلق بچ كول، رسول الله صلي الله عليه وسلم به دچا مذمت نه كولو او نه به يي په چا كي عيب لټولو او ديټو خبرو تلاش به يي نه كولو او بحث به يي نه كولو مګر په هغه معامله كي په كومه كي چه دالله تعالي نه دثواب اميد وي او چه كله به يي خبري كولي نو دمجلس حاضرينو به سرونه داسي ټيټ كړي وو لكه چه ددوئ په سرونو مرغئ ناستي وي كله چه به رسول الله خاموش شو نو خلقو به خبري شروع كړي او اهل مجلس به درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي په څه خبره كي نه جنګيدل، كله چه به رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي چا خبري كولي نو خلقو به په خاموشئ سره اوريدلي ددي دپاره چه خبري كونكي خپلي خبري پوره كړي، او درسول الله په وړاندي داهل مجلس خبري داولني كس دخبرو پشان وي يعني دهر چا خبري به يي په توجه سره اوريدلي او رسول الله به په هغه خبره وخاندل په كومه چه به خلقو خاندل او ددينه به يي تعجب كولو يعني دهر قسم اهل مجلس سره به يي موافقت كولو او صبر به يي كولو دمسافر اجنبي په سختئ باندي دهغه په خبرو او دهغه نه په سوال كولو كي يعني دمسافر سخت كلامي او په سوال كي به يي دهغه بدتميزي برداشت كوله تردي پوري چه درسول الله صحابه كرامو به اجنبيان او مسافر لټول تردي چه راشي او دتكلف نه بغير سوال اوكړي رسول الله به فرمائيل كله چه تاسو څوك حاجتمند اووينئ چه خپل حاجت طلب كول غواړي نو دهغه مدد اوكړئ او رسول الله به تعريف نه قبلولو مګر داحسان دبدلي وركونكي دطرفه او رسول الله صلي الله عليه وسلم به دچا خبره په مينځ كي نه كټ كوله ترڅو چه به هغه دحد نه تير شوي نه وو نو بيا به يي يا خو دمنع كولو

په ذريعه کټ کوله او يا د مجلس نه د پاڅېدو په ذريعه.

****

۱۰_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ مَا سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ لا.

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه هيڅ کله درسول الله په وړاندي کوم څيز نه دي غوښتلي شوي چه هغه دورکولو نه انکار کړي وي او نشت يي وئيلي وي.

****

۱۱_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عِمْرَانَ أَبُو الْقَاسِمِ الْقُرَشِيُّ الْمَكِّيُّ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ حَتَّى يَنْسَلِخَ فَيَأْتِيهِ جِبْرِيلُ فَيَعْرِضُ عَلَيْهِ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ.

ترجمه : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي اول خو رسول الله صلي الله عليه وسلم په ټولو خلقو کي زيات سخي وو او خاصکر درمضان په مياشت کي به دنورو مياشتو په نسبت ډير زيات سخي وو او په هغه مياشت کي به هم زيات سخي وو کله چه به جبرائيل عليه السلام راتلو او رسول الله ته به يي دالله تعالي کلام اورولو او په دغه وخت کي به رسول الله صلي الله عليه وسلم په ښيگړو کولو کي او خلقو ته په فائدي رسولو کي د تيز باران راوستونکي باد نه هم زيات سخاوت کولو.

****

۱۲_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ.

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به هيڅ کله دبلي ورځي دپاره کوم څيز نه ذخيره کولو (يعني نه به يي ساتلو)

****

۱۳_ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مُوسَى بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ الْمَدِينِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَجُلا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ

فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم مَا عِنْدِي شَيْءٌ وَلَكِنِ ابْتَعْ عَلَيَّ فَإِذَا جَاءَنِي شَيْءٌ قَضَيْتُهُ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ أَعْطَيْتَهُ فَمَا كَلَّفَكَ اللهُ مَا لا تَقْدِرُ عَلَيْهِ فَكَرِهَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَوْلَ عُمَرَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْفِقْ وَلا تَخَفْ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلالا فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَعُرِفَ فِي وَجْهِهِ الْبِشْرَ لِقَوْلِ الأَنْصَارِيِّ ثُمَّ قَالَ بِهَذَا أُمِرْتُ.

ترجمه : دعمر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه يو ځل يو ضرورت مند رسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه سوال اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دي وخت کي خو زما سره هيڅ موجود نه دي ته دغه څيز زما په نوم د چانه د قرض په طور واخله کله چه ماته څه لاس ته راشي نو زه به يي اداء کړم، عمر رضي الله عنه عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسره چه په لاس کي څه موجود وو هغه خو تا ورکړي دي (او چه کوم څيز ستا په قدرت کي نشته په هغي الله تعالي ته مکلف کړي نه يي) دعمر رضي الله عنه ددي خبري په اوريدو رسول الله دناخوښئ اظهار اوکړو او پريشانه شو دي وخت کي يو انصاري عرض اوکړو اي دالله رسوله خومره چه دي زړه غواړي خرچ کوه او دعرش دمالك نه دکمي کولو ويره مه کوه دانصاري دا خبره درسول الله ډيره خوښه شوه او :تبسم اظهار يي اوکړو دکوم اثر چه دهغوئ په مخ مبارك ظاهر شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته هم ددي کار حکم شوي دي.

****

١٤ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ قَالَتْ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ وَأَجْرٍ زُغْبٍ فَأَعْطَانِي مِلْءَ كَفِّهِ حُلِيًّا وَذَهَبًا..

ترجمه : ربيع رضي الله عنها فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او يو خانګ تازه کهجوري او بادرنګ سي وروړل او هغوئ راته ډك موټي زيورات او سره زر راکړل.

****

١٥ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به تحفه قبلوله او په دي به يي بدله هم ورکوله.

****

٤٩_ باب ما جاء في حياء رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دحيا بيان

١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أَبِي عُتْبَةَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا وَكَانَ إِذَا كَرِهَ شَيْئًا عَرَفْنَاهُ فِي وَجْهِهِ.

ترجمه : د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د يوي پرده داري فيغلي نه هم زيات حيا ناك وو ، او چي كوم شي به يي بد وګڼړلو نومونږ به يي د بد ګڼړلو اثر په مخ كي پيژندلو.

****

٢_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ عَنْ مَوْلًى لِعَائِشَةَ قَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ مَا نَظَرْتُ إِلَى فَرْجِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَوْ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ فَرْجَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَطُّ.

ترجمه : د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائيل يي چي ما هيڅكله درسول الله صلي الله عليه وسلم عورت ته ندي كتلي او كه داسي يي ووئيل چي ما هيڅكله درسول الله صلي الله عليه وسلم عورت ندي ليدلي.

****

٥٠_ باب ما جاء في حجامة رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دحجامت (ښكر لګولو) بيان

١_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ كَسْبِ الْحَجَّامِ فَقَالَ احْتَجَمَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم حَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَكَلَّمَ أَهْلَهُ فَوَضَعُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ وَقَالَ إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةُ أَوْ إِنَّ مِنْ أَمْثَلِ دَوَائِكُمُ الْحِجَامَةَ.

ترجمه : دحميد بيان دي فرمائي چي دانس رضي الله عنه نه مي دښكر لګونكي دمزدورئ باره كي تپوس اوكړو نو انس رضي الله عنه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ښكر لګولي وو او ښكر لګونكي ابوطيبه وو او رسول الله هغه ته د دوه صاع دغلي وركولو حكم اوكړو او

دده دمالکانو سره يي خبره اوکړه نو هغوئ دابوطيبه په خراج کي کمي اوکړو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په کومو ځيزونو چي تاسو خپل علاج کوئ په هغوئ کي ښکر دېولو نه افضل دي، او که داسي يي اوفرمائيل ستاسو په بهترينو دواګانو کي ښکر لګول دي.
امام ترمذي وائي دا نس حديث حسن صحيح دي.
او په دي باب کي دعلي، ابن عباس، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضو دښکر لګونکي داجرت په جواز قول کړي دي او دا دامام شافعي قول هم دي.

****

٢ــ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا وَرْقَاء بْنُ عُمَرَ عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى عَنْ أَبِي جَمِيلَةَ عَنْ عَلِيٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم احْتَجَمَ وَأَمَرَنِي فَأَعْطَيْتُ الْحَجَّامَ أَجْرَهُ.

ترجمه : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ښکر اولګولو او ماته يي حکم اوکړو چه ښکر لګونکي ته اجرت (مزدوري) ورکړم.

****

٣ــ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ عَنْ جَابِرٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم احْتَجَمَ فِي الأَخْدَعَيْنِ وَبَيْنَ الْكَتِفَيْنِ وَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَلَوْ كَانَ حَرَامًا لَمْ يُعْطِهِ

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه نبي کريم صلي الله عليه وسلم په دواړو اړخونو کي او ددواړو اوږو په مينځ کي ښکر اولګولو او دا کار به يي عموما په ١٧، ١٩، يا ٢١ تاريخونو کولو، او که دا کار ناجائز وي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به نه کولو.

****

٤ــ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم دَعَا حَجَّامًا فَحَجَمَهُ وَسَأَلَهُ كَمْ خَرَاجُكَ فَقَالَ ثَلاثَةُ آصُعٍ فَوَضَعَ عَنْهُ صَاعًا وَأَعْطَاهُ أَجْرَهُ.

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه نبي کريم صلي الله عليه وسلم يو ښکر لګونکي راوغوښتلو او هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ښکر اولګولو او دده نه يي دده دروزانه امدنئ تپوس اوکړو نو هغه دري صاع اوخودل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم

ورنه يو صاع کم کړو او باقي يي اجرت لګونکي ته په اجرت کي ورکړل.

****

٥_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ وَجَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَحْتَجِمُ فِي الأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ وَكَانَ يَحْتَجِمُ لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ.

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دمرۍ په دواړو طرفونو کي او د اوږو په مينځ کي ښکر لګولو او دا کار به يي عموما په ۱۷، ۱۹، يا ۲۱ تاريخونو کولو. او که دا کار ناجائز وي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به نه کولو.

****

٦_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ أَنْبَأَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ بِمَلَلٍ عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمِ.

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي دخپي په شا باندي په ملل مقام کي ښکر اولګولو چه احرام يي تړلي وو (چه دمکي او مديني په مينځ کي واقع دي).

****

٥١_ باب ما جاء في اسماء رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دبعضي اسماؤ او القاب مبارکه بيان

١_ عن سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِنَّ لِي أَسْمَاءً أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يَمْحُو اللهُ بِيَ الْكُفْرَ وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قَدَمِي وَأَنَا الْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ.

ترجمه دجبير بن مطعم رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل زما يو څو نومونه دي زه محمديم، زه احمد، او زه هغه ماحي يم دکوم په ذريعه چي به الله تعالي کفر ختموي او زه هغه حاشر يم دکوم په قدمونو چي به خلق راجمع کيږي او زه هغه عاقب يم دچا نه پس چي به بل نبي نه راځي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دحذيفه رضي الله عنه نه هم

حديث وارد دي

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْكُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ لَقِيتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا نَبِيُّ الرَّحْمَةِ وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ وَأَنَا الْمُقَفَّى وَأَنَا الْحَاشِرُ وَنَبِيُّ الْمَلَاحِمِ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ قَالَ أَنْبَأَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ زِرٍّ عَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ هَكَذَا قَالَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ زِرٍّ عَنْ حُذَيْفَةَ.

ترجمه : دحذيفه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه يوځل رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په لاره كي مخامخ شوم او هغه چرته روان وو، رسول الله تذكرةً اوفرمائيل زما نوم محمد دي او احمد دي او نبي الرحمة دي او نبي التوبه دي او زه مقفي يم او حاشر يم او نبي الملاحم يم، اسحاق بن منصور دنضر بن شميل نه او هغه دحماد بن سلمه نه او هغه دعاصم بن زر نه او هغه دحذيفه رضي الله عنه نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي، دارنګي حماد بن سلمه دعاصم نه او هغه دزر نه او هغه دحذيفه نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

****

٥٢ـ باب ما جاء في عيش النبي (صلي الله عليه وسلم)

١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صلى الله عليه وسلم وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلأُ بَطْنَهُ.

ترجمه سماك بن حرب وايي چي مانعمان بن بشير رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمائيل يې چي تاسو سره خو خوراك څښاك بنه په كافي مقدار موجود دى او ما ستاسو نبي محترم رسول الله صلي الله عليه وسلم (په داسې حال کې هم) ليدلى وو چې ردي کهجورى هم ورته دومره ملاؤ شوي نه وې چې په مړه خيټه يې خوړلى وى.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى

****

٢ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنْ

كُنَّا آلَ مُحَمَّدٍ نَمْكُثُ شَهْرًا مَا نَسْتَوْقِدُ بِنَارٍ إِنْ هُوَ إِلا التَّمْرُ وَالْمَاءُ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چه مونږ يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم اهل او عيال ديوي يوي مياشتي پوري داسي وخت تير كړي دي چه زمونږ په كور كي به اور بل نشو صرف په كجورو او اوبو به مو گذاره كوله.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٣ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ قَالَ حَدَّثَنَا سَيَّارٌ قَالَ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ أَسْلَمَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي مَنْصُورٍ عَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْجُوعَ وَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنْ بَطْنِهِ عَنْ حَجَرَيْنِ

قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي طَلْحَةَ لا نَعْرِفُهُ إِلا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَمَعْنَى قَوْلِهِ وَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ كَانَ أَحَدُهُمْ يَشُدُّ فِي بَطْنِهِ الْحَجَرَ مِنَ الْجُهْدِ وَالضَّعْفِ الَّذِي بِهِ مِنَ الْجُوعِ.

ترجمه : دابوطلحه بيان دي مونږ دجنگ خندق په دورن كي دولږي شكايت اوكړو او دخپلي خيټي نه مو جامه پورته كړه چې يو يو كاڼي وربوري تړلي شوي وو نو رسول الله هم دخپلي خيټي نه جامه پورته كړه مونږ چې اوكتل نو دوه كاڼي وربوري تړلي شوي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.اود ابو طلحه ددي قول "وَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ" معني داده چې په دوئ كي به هر يو كس د سختي ولږي په وجه په خيټه پوري يوه يوه گټه تړلي وه.

* * * * * * * * * * * * * * * *

٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ أَبُو مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي سَاعَةٍ لا يَخْرُجُ فِيهَا وَلا يَلْقَاهُ فِيهَا أَحَدٌ فَأَتَاهُ أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ مَا جَاءَ بِكَ يَا أَبَا بَكْرٍ قَالَ خَرَجْتُ أَلْقَى رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَنْظُرُ فِي وَجْهِهِ وَالتَّسْلِيمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ عُمَرُ فَقَالَ مَا جَاءَ بِكَ يَا عُمَرُ قَالَ الْجُوعُ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا قَدْ وَجَدْتُ بَعْضَ ذَلِكَ فَانْطَلَقُوا إِلَى مَنْزِلِ أَبِي الْهَيْثَمِ بْنِ التَّيْهَانِ الأَنْصَارِيِّ وَكَانَ رَجُلا كَثِيرَ النَّخْلِ وَالشَّاءِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ خَدَمٌ فَلَمْ يَجِدُوهُ فَقَالُوا لامْرَأَتِهِ أَيْنَ صَاحِبُكِ فَقَالَتِ انْطَلَقَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا الْمَاءَ فَلَمْ يَلْبَثُوا أَنْ جَاءَ أَبُو الْهَيْثَمِ بِقِرْبَةٍ يَزْعَبُهَا فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَاءَ يَلْتَزِمُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَيُفَدِّيهِ

بِأَبِيهِ وَأُمِّهِ ثُمَّ انْطَلَقَ بِهِمْ إِلَى حَدِيقَتِهِ فَبَسَطَ لَهُمْ بِسَاطًا ثُمَّ انْطَلَقَ إِلَى نَخْلَةٍ فَجَاءَ بِقِنْوٍ فَوَضَعَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَفَلَا تَنَقَّيْتَ لَنَا مِنْ رُطَبِهِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَرَدْتُ أَنْ تَخْتَارُوا أَوْ تَخَيَّرُوا مِنْ رُطَبِهِ وَبُسْرِهِ فَأَكَلُوا وَشَرِبُوا مِنْ ذَلِكَ الْمَاءِ فَقَالَ صلى الله عليه وسلم هَذَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مِنَ النَّعِيمِ الَّذِي تُسْأَلُونَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ظِلٌّ بَارِدٌ وَرُطَبٌ طَيِّبٌ وَمَاءٌ بَارِدٌ فَانْطَلَقَ أَبُو الْهَيْثَمِ لِيَصْنَعَ لَهُمْ طَعَامًا فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لَا تَذْبَحَنَّ ذَاتَ دَرٍّ فَذَبَحَ لَهُمْ عَنَاقًا أَوْ جَدْيًا فَأَتَاهُمْ بِهَا فَأَكَلُوا فَقَالَ صلى الله عليه وسلم هَلْ لَكَ خَادِمٌ قَالَ لَا قَالَ فَإِذَا أَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا فَأُتِيَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِرَأْسَيْنِ لَيْسَ مَعَهُمَا ثَالِثٌ فَأَتَاهُ أَبُو الْهَيْثَمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم اخْتَرْ مِنْهُمَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اخْتَرْ لِي فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا فَانْطَلَقَ أَبُو الْهَيْثَمِ إِلَى امْرَأَتِهِ فَأَخْبَرَهَا بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ مَا أَنْتَ بِبَالِغٍ حَقَّ مَا قَالَ فِيهِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِلَّا بِأَنْ تَعْتِقَهُ قَالَ فَهُوَ عَتِيقٌ فَقَالَ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللهَ لَمْ يَبْعَثْ نَبِيًّا وَلَا خَلِيفَةً إِلَّا وَلَهُ بِطَانَتَانِ بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَاهُ عَنِ الْمُنْكَرِ وَبِطَانَةٌ لَا تَأْلُوهُ خَبَالًا وَمَنْ يُوقَ بِطَانَةَ السُّوءِ فَقَدْ وُقِيَ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمعمول خلاف داسي وخت كي دكور نه اووتلو كوم وخت كي چې به عموما نور كله نه وتلو او نه به ورسره دغه وخت كي چا ملاقات كولو او بيا ورته ابوبكر رضي الله عنه راورسيدو او تپوس يي ورنه اوكړو اي ابوبكر څنګه راغلي؟ هغه عرض اوكړو اي دالله رسوله زه ددي دپاره راوتلي يم چې تاسره ملاقات اوكړم او ستا مخ مبارك اووينم او سلام درته پيش كړم، څه وخت پس عمر رضي الله عنه هم درسول الله په خدمت كي حاضر شو رسول الله ورنه تپوس اوكړو اي عمر څنګه راغلي نو دي وخت كي عمر دولږي نه شكايت اوكړو رسول الله اوفرمائيل زه هم وږي شوي يم او بيا دري واړه يوځاي شول او دابو الهيثم بن تيهان انصاري كور ته ورسيدل او دهغه دكجورو ډيري زياتي وني او چيلۍ وي مګر كوم خادم ورسره نه وو دوئ چې ورغلل نو ابو الهيثم يي په كور كي اونه موندلو نو دابو الهيثم دښځي نه يي تپوس اوكړو خاوند دي چرته تلي دي؟ هغي په جواب كي اووئيل زمونږ دپاره خوږو اوبو راوړلو پسي تلي دي خبري جاري وي چې په دي دوران كي ابوالهيثم داوبو يو ډك مشك راورسولو مشك يي كيخودو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي غاړه وركړه او ويي وئيل زما مور پلار دي ستا نه قربان شي او بيا يي دري واړه خپل باغ ته بوتلل بستره يي ورته اوغوړوله او دكجوري يوي وني ته ورغلو او دهغي نه يي

دکجورو يو گنګوري راوړو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يي کيخودو رسول الله اوفرمائيل زمونږ دپاره به دي ددينه تازه کجوري چانړ کړي وي او راوړي به دي وي هغه عرض اوکړو اي دالله رسوله ما غوښتل چي تاسو ورنه پخپله چانړ اوکړئ. او که داسي يي اووئيل چي تاسو پخو کجورو لره دخامو کجورو نه پخپله جدا کړئ او خوښي يي کړئ بهر حال تولو کجوري اوخوړلي او دده راوړي اوبه يي اوڅکلي بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار کي چي زما روح دي يقينا دا دهغه نعمتونو دي دکومو باره کي چي به دقيامت په ورځ سوال کيدي شي او هغه همدا نعمتونه دي دباغ يخ سوري او بهترينې پخي کجوري او يخي اوبه. بيا ابو الهيثم پاڅيدو تردي چي ددوئ دپاره خوراك تيار کړي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل پيو والا لنګه چيلئ مه ذبح کوه چنانچي درسول الله دحکم مطابق ابو الهيثم دچيلئ يوه ښخه بچئ يا يو نر بچي ذبح کړو او دپخولو نه پس يي دوئ ته پيش کړو تولو خوراك اوکړو او بيا يي دابوالهيثم نه تپوس اوکړو ايا تاسره څوك غلام شته؟ ابو الهيثم په نفي کي جواب ورکړو رسول الله اوفرمائيل کله چي مونږ ته قيديان راشي نو بيا مونږ سره مخامخ شه. بيا رسول الله ته دوه قيديان راغلل چي دريم ورسره نه وو او دغه وخت کي ابوالهيثم هم راغلو نو رسول الله ورته اوفرمائيل چي په دي دواړو کي يو دخان دپاره خوښ کړه ابوالهيثم اووئيل اي دالله رسوله ته يي پخپله زما دپاره خوښ کړه رسول الله اوفرمائيل يقينا چي دچا نه مشوره اوغوښتلي شي هغه امين وي لهذا ته دا غلام واخله (او يو غلام ته يي اشاره اوکړه) خکه چي دا غلام مونږ په مونځ کولو ليدلي دي او ددي غلام سره ښه سلوك کوه. ابوالهيثم خپلي ښځي ته ورغلو او درسول الله صلي الله عليه وسلم دخبرو خبر يي ورته ورکړو دهغه ښځي اووئيل غلام خو دي راوستلو مګر کيدي شي چي درسول الله وصيت پوره نکړي شي مګر دا چي دا غلام ازاد کړي نو په دي وجه ابوالهيثم هغه فورا ازاد کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي هيڅ يو نبي يا هيڅ يو خليفه نه دي ليږلي مګر دهغه سره يي دوه رازدار ملګري هم ليږلي وي يو ورته دنيکئ حکم کوي او دبدئ نه يي منع کوي مګر دويم ملګري دده په خرابولو کي کوم تقصير او ناراستي نه کوي پس څوك چي دبد ملګري نه بچ کړي شو ګويا کي هغه دلوي افت نه نجات اوموندلو

****

٥_حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ. حَدَّثَنَا أَبِي. عَنْ بَيَانٍ. عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ. قَالَ: سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ: " إِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ أَهْرَاقَ دَمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ. وَإِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي أَغْزُو فِي الْعِصَابَةِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

نَأْكُلُ إِلَّا وَرَقَ الشَّجَرِ وَالْحُبْلَةِ حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ أَوِ الْبَعِيرُ وَأَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ يُعَزِّرُونِي فِي الدِّينِ لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ بَيَانٍ.

ترجمه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه واني چې خه په عربو کې هغه ړومبی کس يم چاچې دالله پاك په لاره کې غشی وويشتلو او مونږ به د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په داسي حالت کې جهاد کولو چې د ونو د پاڼو او حبله بوټي دپاڼو نه بغير به راته هيڅ هم نه ملاويدل چې دهغی په وجه به زمونږ بعضو ملګرو دچيلۍ اود اوښ دپچو پشان اودس ماتی کولو چې پخپل مينځ کې به ملاؤ شوي نه وو، او د بني اسد قبيلي قبيلي خلقو به په ما باندي ددين په سلسله کي طعن وئيلو نو که زه ددي لائق شم نو د لويي محرومۍ ښکار به شم او اعمال به زما برباد شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث د بيان په سند حسن صحيح غريب دی.

اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ١٥ (٣٨٢٨). والأطعمة ٢٣ (٥٤١٢). والرقاق ١٧ (٦٤٥٣). صحيح مسلم/الزهد ١ (٢٩٦٦). سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٣١) (تحفة الأشراف: ٣٩١٣). و مسند احمد (١/١٧٤، ١٨١، ١٨٦)

لغات: "الحبلة" په حاء باندي پيش، باء باندي جزم دی او "سمره" دواړه دځنګل مشهوری او معلومی ونی دي يعني کيکر.

****

٦ـحدثنا محمد بن بشار حدثنا صفوان بن عيسى حدثنا محمد بن عمرو بن عيسى أبو نعامة العدوي قال سمعت خَالِدِ بْنِ عُمَيْرٍ وشويسًا أبا الرقاد قالا بعث عمر بن الخطاب عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ وقَالَ انطلق أنت ومن معك حتى إذا كنتم في أقصى أرض العرب وأدنى بلاد أرض العجم فأقبلوا حتى إذا كانوا بالمربد وجدوا هذا المكان فقالوا ما هذه هذه البصرة فساروا حتى إذا بلغوا حيال الجسر الصغير فقالوا هاهنا أمرتم فنزلوا فذكروا الحديث بطوله قال فقال عتبة بن غزوان لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَسَابِعُ سَبْعَةٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَا لَنَا طَعَامٌ إِلاَّ وَرَقُ الشَّجَرِ حَتَّى تَقَرَّحَتْ أَشْدَاقُنَا فَالْتَقَطْتُ بُرْدَةً فَقَسمتها بَيْنِي وَبَيْنَ سَعْدِ بن أبي وقاص فَمَا مِنَّا من أُولَئِكَ السَّبْعَةِ أَحَدٌ إِلاَّ وَهُوَ أَمِيرُ مِصْرٍ مِنَ الأَمْصَارِ وَسَتُجَرِّبُونَ الأُمَرَاءَ بَعْدَنَا.

ترجمه: دخالد بن عمير اوشويس بيان دي فرمائي چه اميرالمؤمنين عمر فاروق رضي الله

عنه عتبه بن غزوان (دبصري بنار اوسيدونكي يو اهل بصيرت صحابي دي) اوليږلو او ورته يي اوفرمائيل ته او ستا ملګري لاړ شئ تردي پوري چه تاسو دعربي دزمکي اخري حد ته ورسيږئ او دعجمو دزمکي شروع کيدو اولني حد ته ورسيږئ نو متوجه شئ تردي پوري چه هغوئ کله مربد مقام ته ورسيدل نو يوه نرمه او سپينه ګټه يي اوموندله هغوئ تپوس اوکړو دا څه څيز دي خلقو ورته اووئيل دا بصره کاڼړي دي (او په همدي وجه په دي ښار باندي بصره نوم کيخودلي شو دوئ روان وو تردي چه يووړوکي پل ته ورسيدل دوئ اووئيل په همدي ځاي کي مونږ ته دښار جوړولوحکم شوي دي پس هغوئ قيام اوکړو او راوي دلته يو اوږد مضمون بيان کړو، راوي وائي عتبه بن غزوان پخپل تقرير کي اووئيل په الله قسم ما پخپله اوليدل په داسي حال کي چه زه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په اوه کسانو کي يو کس وم يعني مختصر لښکر وو زمونږ سره خوراك نه وو مګر صرف داونو پاڼړي وي تردي پوري چه زمونږ په کلمو کي داني راوختلي پس دغنيمت په مال کي يو څادر زما لاس ته راغي کوم چه ما او سعد پخپل مينځ کي تقسيم کړو پس په هغه اوه کسانو کي نن هيڅوك نشته مګر په هغه ښارونو کي دکوم ښار امير شته او ډيره نزدي ده چه تاسو به تجربه اوکړئ په اميرانو باندي چه زمونږ نه پس به راځي يعني ددينه پس به ښه ښه اميران راځي دهغي به تاسو ته پته اولګي.

****

۷_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ أَسْلَمَ أَبُو حَاتِمٍ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللهِ وَمَا يَخَافُ أَحَدٌ وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دالله په لاره کي داسي اوويرولي شوم چي داسي هيڅوك نه دي ويرولي شوي، او دالله په لاره کي ماته داسي تکليفونه اورسولي شو چي چاته نه دي رسولي شوي په مونږ به مسلسل ديرش ورځي داسي تيري شوي چي زما او دبلال دپاره به دخوړلو کوم څيز نه وو چي څوك زنده سر يي اوخوري مګر علاوه د معمولي شان څيز نه کوم چي به بلال پخپل ترخ کي پټ کړي وو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي حديث کي هغه ورځ مراد ده کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داهل مکه نه بيزاره شو او دوطن پريخودو په اراده اووتلو او بلال رضي الله عنه ورسره وو ددوئ سره لږ شان خوراك وو چي بلال به ترخ کي نيولي وو.

****

٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ الْعَطَّارُ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم لَمْ يَجْتَمِعْ عِنْدَهُ غَدَاء وَلا عَشَاء مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ إِلا عَلَى ضَفَفٍ قَالَ عَبْدُ اللهِ قَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ كَثْرَةُ الأَيْدِي.

ترجمه: دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه هيڅ كله درسول الله صلي الله عليه وسلم په دسترخوان باندي په خوراك كي يا دماښام په خوراك كي ډوډئ او غوښه دواړه جمع شوي نه دي مګر په حالت دضعف كي، دحديث راوي عبدالله وائي دبعضي اهل علمو قول دي ضعف په معني دكثرة الايدي دي.

****

٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي فُدَيْكٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ مُسْلِمِ بْنِ جُنْدُبٍ عَنْ نَوْفَلِ بْنِ إِيَاسٍ الْهُذَلِيِّ قَالَ كَانَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ لَنَا جَلِيسًا وَكَانَ نِعْمَ الْجَلِيسُ وَإِنَّهُ انْقَلَبَ بِنَا ذَاتَ يَوْمٍ حَتَّى إِذَا دَخَلْنَا بَيْتَهُ وَدَخَلَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ خَرَجَ وَأُتِينَا بِصَحْفَةٍ فِيهَا خُبْزٌ وَلَحْمٌ فَلَمَّا وُضِعَتْ بَكَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ فَقُلْتُ لَهُ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ مَا يُبْكِيكَ فَقَالَ هَلَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَلَمْ يَشْبَعْ هُوَ وَأَهْلُ بَيْتِهِ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ فَلا أُرَانَا أُخِّرْنَا لِمَا هُوَ خَيْرٌ لَنَا.

ترجمه: دنوفل بن اياس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه چه په عشره مبشره كي يو صحابي دي يو ځل زمونږ سره ناست وو او په حقيقت كي هغه يو بهترين ملګري وو يو ځل مونږ دهغه سره ديو ځاي نه واپس راتلو او په واپسئ كي مونږ دهغه سره دهغه كور ته لاړو هغه چه كور ته لاړو اول يي غسل اوكړو كله چه دغسل نه فارغ شو نو په يو لوي لوښي كي يي غوښه او ډوډئ راوړه عبدالرحمن بن عوف چه دا اوليدل نو په ژړا شو ما ورته اووئيل څه خبره ده اوولي ژاړي؟ نو ويي وئيل درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات كيدو پوري هيڅ كله داسي موقعه نه ده راغلي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اويا دهغه كورنئ دوربشو ډوډئ په مړه خيټه خوړلي وي اوس درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس چه څو پوري زما خيال دي زمونږ خلقو دمالدارئ دا حالت دكومي بهترئ دپاره نه دي.

****

٥٣ـ باب ما جاء في سن رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

رسول الله صلي الله عليه وسلم دعمر بيان

١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ قَالَ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَكَثَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً يُوحَى إِلَيْهِ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرًا وَتُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً.

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَدَغْفَلِ بْنِ حَنْظَلَةَ، وَلَا يَصِحُّ لِدَغْفَلٍ سَمَاعٌ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا رُؤْيَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَسَنٌ غَرِيبٌ من حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ.

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دنبوت نه پس ديارلس كاله په مكه كي تير كړل او په دي ديارلس كلونو كي په هغه باندي وحي نازليدله بيايي ددينه پس دمكي نه هجرت اوكړو او لس كاله يي په مدينه كي تيركړل او د دري شپته كالو په عمر كي ددنيا نه رخصت شو.

امام ترمذي وائي: دابن عباس دا حديث دعمرو بن دينار په روايت حسن غريب دي، او په دي باب كي دعائشه، انس، او دغفل بن حنظله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دعمرو ليدل او سماع كول ثابت نه دي

تخريج: اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٣٥ (٣٩٠٣). صحيح مسلم /الفضائل ٣٢ (٢٣٥١) (تحفة الأشراف: ٦٣٠٠)

تشريح: په كوم كال چي د اصحاب فيل[1]، واقعه راغلي وه په همدغه كال دربيع الاول د مياشتي په دولسم تاريخ د دوشنبي په ورځ د رسول الله ﷺ ولادت وشو ، دجمهورو په نزد همدا صحيح ترين قول دی مګر د تاريخ په تعين كي اختلاف دی بعضي علماؤ دويم او چا دريم او چا دولسم تاريخ بيان كړی دی، او ددنه علاوه نور متعدد اقوال هم شته.

د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ولادت په شپه د كسري په محل كي داسي زلزله راغلي وه چي آواز يي تر لري پوري اوريدلی كيدو او څوارلس خښتي د كسري دمحل راغورځيدلي وي اود فارس د آتش كدي اور چي د زرو كالو نه رابليدو مړشو او د ساده په نوم[2] چينه يي

[1] داصحاب فيل واقعه داده چي ابرهه د حبشي بادشاه د يمن په صنعاء ښار كي يو نقلي كعبه جوړه كړه، ددي د عظمت زياتولو دپاره يي د كعبي د ورانولو اراده وكړله او پخپلو بي شميره فوجيانو او هاتيانو يي په مكه حمله كوله نو الله دا فوج د وړو وړو مرغو په ذريعه په وړو وړو كانړو هلاك كړو.

[2] ساده په عراق كي د عجمو يو ښار دی په دي ښار كي يو نهر وو په كوم كي چي به اتش پرستو د ولادت په وخت كي خپل بچي لمبول (قرة العيون: ١/ ٤٣)

اوچې شوه.

رضاعت او طفولیت

حليمه بنت ابي ذويب درسول الله صلي الله عليه وسلم رضاعي مور وه [1]، اود حليمي سره د اوسيدو په زمانه كي دوه فرشتو د شق صدر[2] عمل وكړواود شيطان حصه يي ورنه جدا كړه اود علم او ايمان نه يي ډكه كړه، اود ابو لهب وينځي ثوبيه هم رسول الله ته خپل پئ وركړل، اود رسول الله پرورش ام ايمن حبشيه وكړو چي نوم يي بركه وو كومه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د والد محترم نه په ميراث كي پاتي شوي وه، كله چي رسول الله ځوانئ ته ورسيدو نو ام ايمن يي ازاده كړه، او زيد بن حارثه سره يي دهغي نكاح وكړله، درسول الله دولادت نه مخكي د رسول الله دپلار عبدالله انتقال شوي وو، د بعضو قول دی چي د رسول الله د والد محترم د انتقال په وخت كي د رسول الله عمر مبارك دوه مياشتي وو، اود بعضو په قول اوه مياشتي وو اود بعضو په قول دوه كاله او څلور مياشتي وو.
بيا ددي نه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم پرورش خپل نيكه عبد المطلب وكړو[3] او چي كله يي عمر اته كاله دوه مياشتي او لس ورځو ته ورسيدو نو نيكه يي هم وفات شو، او

---

[1]. ددي اجمال تفصيل دادي چي د ټولو نه مخكي خپلي مور دري ورځي پئ وركړل او بيا څه وخت پس ثوبيه د حليمي نه مخكي وركړل،او بيا حليمي د خان سره بوتللو، رسول الله به د يوي ښي سيني نه پئ خوړل او بله سينه به يي خپل رضاعي ورورعبد الله بن الحرث ته پريښودله او د حليمي شيمه لور به مرولو (قرة العيون: ١/٥٣،٥٢).

[2].درضاعت د ورځو نه پس حليمي بي بي نبي كريم صلي الله عليه وسلم لره خپلي مور ته راوړسولو مگر دهغه د خير او بركت په وجه يي واپس د خان سره بوتلو ، ددوباره وړلو نه پس دوه دري مياشتي پس دا واقعه پيښه شوي ده (قرة العيون جلد اول).

شق صدر څلور ځلي پيري شوي دي اول ځل په ماشوم والي كي، دويم ځل په لس كلنئ كي، دريم دنبوت ملاويدو وخت كي ترديچي دوحي تحمل لائق شي. څلورم ځل په ليلة القدر كي.

په هر انسان كي خلقةً دوه مادي وي چي په دوئ كي د يوي په ذريعه ملكوتي اثار قبلوي او ددويمي په ذريعه شيطاني اثرات قبلوي پس د رسول الله د جسم نه دا دويمه حصه جدا كړی شوه.

[3].عبد المطلب په رسول الله انتهايي مهربان وو ، رسول الله چي به هر كله هغه ته ورتلل غوښتل نو ورتلو به اودهغه په گدئ به كيناستلو په كومه چي به هغه بل څوك نه كينول (قرة العيون جلد اول).

دغه وخت کي د پرورش نبوي کفالت دهغوئ تره ابوطالب[1] ته حواله شو، او چي کله يي عمر دولس کاله دوه مياشتي لس ورځو ته ورسيدو اود خپل تره محترم ابو طالب سره د شام سفر وکړو ، کله چي بصري ته ورسيدو نو بحيره راهب[2] رسول الله دبعضي علاماتو نه وپيژندلو نو د رسول الله په خدمت کي حاضر شو او لاس يي ورله ونيولو چي دا رسول د رب العالمين دی، الله تعالي به ورته مرتبه دنبوت ورکوي، تردي چي دی د اهل عالم دپاره رحمت وګرځي، هرکله چي رسول الله دلته تشريف راوړلو نو تمام شجر او حجر رسول الله سر په سجده شول[3] او شجر او حجر درسول نه علاوه بل چاته سجده نه کوي، او ددينه به يي هم پيژندلي وي چي دده صفات به يي پخپلو کتابونو کي موندلي وي.

بحيره راهب ابو طالب ته ووئيل که رسول الله تاسو شام ته بوځئ نو يهوديان به يي شهيد کړي نو په دي وجه ابو طالب رسول الله مکي واپس ورسولو

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ جَرِيرٍ عَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَخْطُبُ قَالَ مَاتَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ سنة.

ترجمه : جرير دمعاويه رضي الله عنه نه روايت نقل کوي فرمائيل يي چه ماد معاويه رضي الله عنه نه په خطبه کي اوريدلي دي چه خطبه يي ورکوله رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي وفات شو چه عمر يي دري شپيته کاله وو او ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم په دي عمر کي وفات شوي دي او زما عمر هم دري شپيته کالو ته رسيدلي دي.

****

[1] ابو طالب درسول الله حقيقي تره دي ، دهغه د کفيل کيدو نه پس يي دهغه نه بغير خوراك نه کولو ، ابو طالب چونکه عيالدار او مال دار هم نه وو نو چي کله به دی په سترخوان موجود نه وو نو نه به مړيدلو ليکن دده په برکت به موړ شو(قرة العيون جلد اول)

[2] راهب دنصاري پيشوا ته وئيلي شي

[3] دا يوه معنوي سجده وه چي د انساني سجدي نه بلکل جدا وه ددينه علاوه شجر او حجر ذوي العقول او مکلف نه دي ددوئ د سجدي کولو نه دا نه لازميږي چي د يو انسان دپاره بغير د الله نه سجده کول جائز شي، رسول الله به پخپله خان ته دسجدي کولو نه خلق په سختئ سره منع کول (مشکوة)

٣ـ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مَهْدِيٍّ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم مَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلاثٍ وَسِتِّينَ سَنَةً.

ترجمه دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائيل چه يي رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي وفات شو چه عمر يي دري شپيته كاله وو.

****

٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ وَيَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ قَالا حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عُلَيَّةَ عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ قَالَ أَنْبَأَنَا عَمَّارٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ.

ترجمه : عمار چه دبني هاشم قبيلي ازاد كړي غلام دي وائي چه دابن عباس رضي الله عنهما نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي وفات شو چه عمر يي پنځه شپيته كاله وو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ قَالا حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ قَتَادَةَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ دَغْفَلِ بْنِ حَنْظَلَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قُبِضَ وَهُوَ ابْنُ خَمْسٍ وَسِتِّينَ قَالَ أَبُو عِيسَى وَدَغْفَلٌ لا نَعْرِفُ لَهُ سَمَاعًا مِنَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَكَانَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : د دغفل بن حنظله بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي وفات شو چه عمر يي پنځه شپيته كاله وو. امام ترمذي وائي دغفل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي تير شوي دي خودرسول الله نه دده دسماع باره كي مونږ ته علم نشته.

****

٦ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مَعْنٌ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ وَلا بِالْقَصِيرِ وَلا بِالأَبْيَضِ الأَمْهَقِ وَلا بِالآدَمِ وَلا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلا بِالسَّبِطِ بَعَثَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعَرَةً بَيْضَاءَ . قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَسَنٌ

صَحِيحٌ.

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ نَحْوَهُ.

ترجمه : انس رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ډیر زیات دنگ وو او نه ډیر زیات ټیټ وو او نه ډیر زیات سپین وو بلکه غنم رنګي وو چې دسر ویخته یي نه مکمل ګونجي وو او نه بالکل نیغ وو او الله تعالي ورته دڅلویښتو کالو په شروع کې نبوت ورکړي وو بیا یي په مکه کې لس کاله تیر کړل او لس کاله یي په مدینه کې تیر کړل او د شپیتم کال په شروع کې الله تعالي وفات کړو او درسول الله دسر او ګیرې په ویختو کې ټول شل ویخته سپین شوي نه پوره کیدل.

امام ترمذي وائي: داحدیث حسن صحیح دي.

تخريج : اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٣ (٣٥٤٧، و٣٥٤٨) ، واللباس ٦٨ (٥٩٠٠) .
صحيح مسلم /الفضائل ٣١ (٢٣٤٧) (تحفة الأشراف : ٨٣٣)

****

٥٤_ باب ما جاء في وفات رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

دوفات نبوي صلي الله عليه وسلم بيان

١_ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ آخِرُ نَظْرَةٍ نَظَرْتُهَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَشْفُ السِّتَارَةِ يَوْمَ الاثْنَيْنِ فَنَظَرْتُ إِلَى وَجْهِهِ كَأَنَّهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ وَالنَّاسُ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ فَكَادَ النَّاسُ أَنْ يَضْطَرِبُوا فَأَشَارَ إِلَى النَّاسِ أَنِ اثْبُتُوا وَأَبُو بَكْرٍ يَؤُمُّهُمْ وَأَلْقَى السِّجْفَ وَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ آخِرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چه په اخري ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم ديدار زما نصيب شو دا هغه وخت وو كله چه په مرض الوفات كي د دوشنبي په ورځ دسحر دمونځ په وخت كي درسول الله دكوټ پرده پورته كړي شوه چه دامتيانو دمونځ معائنه اوكړي او خلقو په دغه وخت كي دابوبكر صديق رضي الله عنه په اقتداء كي دسحر مونځ كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقو ته اشاره اوكړه پخپلو خپلو ځايونو اودريږئ او ابوبكر رضي الله عنه ورته مونځ وركولو اورسول الله صلي الله عليه وسلم پرده راوغورځوله ا

په همدغه ورځ وفات شو.

تشريح: ذكر د وفات نبوي ﷺ

دولسم ربيع الاول د دوشنبي(پير) په ورځ د غرمي په وخت كي نمر د رسالت غروب اختيار كړو(انا لله وانا اليه راجعون).

ددي نه علاوه نور روايات هم شته (په كومو كي چي د نورو تاريخونو ذكر دى) مگر رسول الله صلي الله عليه وسلم د څوارلسو ورځو پوري بيمار وو اود وفات په دريمه ورځ (چار شنبي) په ورځ دفن كړى شو، د نزع په وخت كي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د اوبو يو لوښي پروت وو چي په هغي كي به يي لاس داخلولو او مخ مبارك به يي ورباندي لمدولو، او په ژبه به يي دا كلمات وئيل : اللهم اعني علي سكرات الموت، (يعني اي الله د مرگ په سختئ كي زما مدد وكړي) ددي كلماتو وئيل جاري ساتل ، او چي كله يي روح مبارك قبض شو نو جسم مبارك يي حاضرينو په يمني څادر كي پټ كړو، په يو روايت كي راځي چي دا څادر ورباندي پربنتو خور كړى وو.

د امير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه نه منقول دي چي په دي موقع بعضي صحابه كرام د انتهائي غم په وجه څه قدري بي خوده وو چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وفات كيدو يي يقين نه راتلو، او عثمان غني رضي الله عنه گونگى شو او علي رضي الله عنه د هيبت په وجه په ولاړه ولاړ پاتي شو، او په تمامو صحابه كرامو كي د ابو بكر الصديق او عباس رضي الله عنهما نه علاوه بل څوك ثابت قدم پاتي نشول.

دوفات نه پس خلقو د حجري مباركي نه آواز واوريدو (چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته غسل مه وركوئ) څكه چي طاهر او مطهر دى بيا ددي نه پس بل آواز راغي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دي ضرور غسل وركړى شي اولني اواز د شيطان مردود وو او دا بي وئيل چي زه خضر يم) او خضر عليه السلام صحابه كرامو ته په دي الفاظو تعزيت كړى وو: ان في خلق الله عزاءً من كل مصيبة وخلفاً من كل هالك ودركا من ذائب فبالله فثقوا واليه فارجعوا فان المصاب من حرم الثواب. مطلب دادي چي الله تعالي د هر مصيبت تعزيت كونكى دى اود هر مړ كيدونكي بدله او عوض دى، خاص په الله اعتماد وكړئ او خاص هغه طرف ته رجوع وكړئ اوپه حقيقت كي مصيبت زده هغه كس دى څوك چي د ثواب نه محروم شي.

په صحابه كرامو كي په دي باره اختلاف پيدا شو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم جسم ته په جامو كي غسل وركړى شي او كه جامي ورنه وويستلى شي نو الله تعالي په دوئ باندي دخوب غلبه راوستله او يو ويونكي(څوك چي هغوئ ونه پيژندلو) ووئيل چي رسول الله صلي الله عليه

وسلم ته دي په اغوستلو جامو کي غسل ورکړی شي بيا ټول بيدا شول او همداسي يې وکړل.
او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د غسل ورکولو متولي علي کرم الله وجهه او عباس او دوه خامن د عباس يعني فضل او قثم او دوه د رسول الله صلي الله عليه وسلم غلامان شقران او اسامه وو، او اوس انصاري رضي الله عنه هم هلته موجود وو، علي کرم الله وجهه چي کله درسول الله په خيټه مبارکه لاس راښکلو نو هيڅ شي خارج نشول نو دغه وخت کي يي ووئيل صلي الله عليك لقد طبت حياً وميتاً، يعني په تا دي د الله تعالي رحمت نازل شي ته په ژوندانه او مرګ دواړو حالتونو کي پاك ئي.
او بيا يي په دري سحولي(د يمن د يوي علاقي نوم دی) څادرونو کي کفن ورکړو[1] چي نستوري او عمامه پکي نه وو، او په جمع جنازه وربانديي ونکړی شوه بلکه هر يو کس وربانديي يواځي يواځي جنازه وکړله اوپه قبر مبارك کي يي شقران سور څادر([2]) بنور کړو کوم چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم په ژوندانه کي اغوستلو.
او د رسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره لحد وکنستلی شو چي په نهه خښتو باندي پټ کړی شو، د لحد او شق کنستلو په معامله کي صحابه کرامو اختلاف وو چا شق خوښولو او چا بغلي خوښولو اخر په دي باندي اتفاق راغی چي هر څوك که اول راغی يعني که شق کنستلو والا راشي نو شق به کنستلی شي او که بغلي والا اول راشي نو بغلي قبر به کنستلی شي، چنانچي اول بغلي کنستونکي اول را ورسيدو او بغلي قبر ورله وکنستلی شو، او قبر ورله د عائشه رضي الله عنها په حجره کي وکنستلی شو.
ابو بکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما هم په همدي مقام کي خاورو ته سپارلی شوي دي. وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَأَصْحَابِهِ. وَسَلِّمْ.

****

٢_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ أَخْضَرَ عَنِ ابْنِ عَوْنٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ مُسْنِدَةً النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم إِلَى صَدْرِي أَوْ قَالَتْ إِلَى حِجْرِي فَدَعَا بِطَسْتٍ لِيَبُولَ فِيهِ ثُمَّ بَالَ فَمَاتَ صلى الله عليه وسلم.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چه درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات کيدو په وخت کي مارسول الله ته تکيا ورکړي وه چه دوړوکي اودس ماتي کولو دپاره

---

[1]. داد رسول الله صلي الله عليه وسلم خصوصيت وو.
[2]. په اصل کتاب کي قطيفه لفظ مذکور دی کوم چي د څادر په معني دی (اصح السير: ١/ ٥٥٠)

بي يو لوښي راوغوښتلو او د اودس ماتي نه بي فراغت حاصل کړو او بيا د دينه پس وفات شو.

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ ابْنِ الْهَادِ عَنْ مُوسَى بْنِ سَرْجِسَ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَهُوَ بِالْمَوْتِ وَعِنْدَهُ قَدَحٌ فِيهِ مَاءٌ وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ بِالْمَاءِ ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى مُنْكَرَاتِ أَوْ قَالَ عَلَى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ.

ترجمه: د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چه ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلی دی په داسې حالت کي چه دوفات وخت يې نژدی وو هغوئ سره يو پياله پرته وه پکښې اوبه وې. رسول الله صلي الله عليه وسلم په پياله کي لاس ننويستو، او لوند لاس به يې په مخ مبارک راښکلو او دا دعا به يې غوښتله، "اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ.

" يا الله: دمرګ په سختيانو او تکليفونو کي ځما امداد اوکړی

تشريح: په اخري ورځو کي رسول الله صلي الله عليه وسلم په سخته ورځ تبه کي مبتلا وو ددي تبي دحرارت کمولو دپاره به رسول الله باربار خپل لاس په اوبو لمدولو او پخپل مخ به يې راښکلو او ورسره به يې دا دعا غوښتله چه ای الله دمرګ سختي رابانديي اسانه کړي.

دپورتني حديث نه معلومه شوه چه انسان ته په اخري وخت کي پکار دي چه دالله تعالي دمدد طلب اوکړي

ديوسوال جواب

سوال: رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي دوفات کيدو په وخت کي دومره تکليف ولي وو؟

جواب: دسکرات الموت په وخت کي په رسول الله دا کيفيت څکه طاري شوی وو چه دامت خلق ددي په سبب دخپل مرګ په باره کي زيات پريشان نشي مطلب دادی چه کله خلقو ته معلومه شوه چه په سکرات الموت کي درسول الله دا کيفيت وو نو باقي خلق خو به پخپله دمرګ په پريشاني باندي صبر کوي او چه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم پريشاني واوري نو دوئ ته به خپله پريشاني اسانه ښکاره شي

****

٤ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ قَالَ حَدَّثَنَا مُبَشِّرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْعَلَاءِ عَنْ أَبِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لا أَغْبِطُ أَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ

رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم. قال ابو عيسى سألت ابا زرعة فقلت له من عبد الرحمن بن العلاء هذا قال هو عبد الرحمن ابن العلاء ابن اللجلاج .

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي درسول الله صلي الله عليه وسلم دمرګ كوم شدت چي ما ليدلي دي دهغي نه پس ما په اسانئ سره دچا دروح په وتلو غبطه نه كولو.

امام ترمذي وائي ما دابوذرعه نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو چي عبدالرحمن بن علاء څوك دي هغوئ اووئيل علاء بن اللجلاج دي.

تخريج : تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱٦۲٤۳)

****

٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ الْمُلَيْكِيِّ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم شَيْئًا مَا نَسِيتُهُ قَالَ مَا قَبَضَ اللهُ نَبِيًّا إِلا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ فِرَاشِهِ.

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُلَيْكِيُّ يُضَعَّفُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، فَرَوَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا.

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو دده د دفن كولو متعلق په خلقو كي اختلاف پيدا شو، ابوبكر رضي الله عنه اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يوه داسي خبره اوريدلي ده كومه چي ما هيره كړي نه ده او هغه داده فرمائيل يي څومره انبياء چي الله تعالي راليږلي دي او الله تعالي دهغوئ روحونه قبض كړي دي هغوئ چي به چرته دفن كيدل خوښول په هم هغه مقاماتو كي دفن كړي شوي دي نو په دي وجه تاسو ده لره دده دبستري په ځاي باندي دفن كړئ.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او عبدالرحمن بن ابي بكر مليكي دحافظي په اعتبار ضعيف ګڼړلي شوي دي دا حديث ددي سند نه علاوه په بل سند هم مروي دي، دابن عباس دابوبكر صديق نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هم نقل كړي دي.

تخريج : تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٦۳٤ و ١٦۲۳٥)

****

٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ وعياش العنبري وسوار بن عبد الله وغير واحد قالوا أخبرنا يحيي بن سعيد عن سفيان الثوري عن موسىٰ بن أبي عائشة عن عبيد الله عن ابن عباس وعائشة أن أبا بكر قبل النبي صلى الله عليه وسلم بعدما مات.

ترجمه : دعبدالله بن عباس او عائشه رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه ابوبكر صديق رضي الله عنه نبي كريم صلي الله عليه وسلم لره دوفات كيدو نه پس ښكل كړو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي دَخَلَ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ، وَلَمَّا نَفَضْنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَيْدِي وَإِنَّا لَفِي دَفْنِهِ حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا غَرِيبٌ صَحِيحٌ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي كله چې هغه ورځ راغله په كومه كي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته داخل شو په هغه ورځ په هر څيز باندي نور واقع شو مګر چې كله هغه ورځ راغله په كومه ورځ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو په دغه ورځ دمديني په هر يو څيز باندي تياره واقع شوه او لاتردغه وخته مونږ درسول الله د دفن كولو نه لاس نه وو پورته كړي چې زمونږ زړونه بدل شول.

امام ترمذي وائي: داحديث غريب صحيح دي.

****

٨ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ الْبَصْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي دَخَلَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم الْمَدِينَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِي مَاتَ فِيهِ أَظْلَمَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ وَمَا نَفَضْنَا أَيْدِيَنَا مِنَ التُّرَابِ وَإِنَّا لَفِي دَفْنِهِ صلى الله عليه وسلم حَتَّى أَنْكَرْنَا قُلُوبَنَا.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي كله چې هغه ورځ راغله په كومه كي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته داخل شو په هغه ورځ په هر څيز باندي نور واقع شو مګر چې كله هغه ورځ راغله په كومه ورځ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو په دغه ورځ دمديني په هر يو څيز باندي تياره واقع شوه او لاتردغه وخته مونږ درسول الله د دفن كولو نه

لاس هم نه وو پورته کړي چې زمونږ زړونه بدل شول

****

۹ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَامِرُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ الاثْنَيْنِ.

ترجمه : هشام بن عروه دخپل پلار نه روایت نقل کوي چه عائشه رضي الله عنها فرمائیلي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم د دوشنبي په ورځ وفات شو.

****

۱۰ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ الاثْنَيْنِ فَمَكَثَ ذَلِكَ الْيَوْمَ وَلَيْلَةَ الثُّلاثَاءِ وَدُفِنَ مِنَ اللَّيْلِ وَقَالَ سُفْيَانُ وَقَالَ غَيْرُهُ يُسْمَعُ صَوْتُ الْمَسَاحِي مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ.

ترجمه : جعفر بن محمد دخپل پلار نه روایت نقل کوي فرمائیل یي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم د دوشنبي په ورځ وفات شو، دغه ورځ او دسه شنبي شپه یي په کور تیره کړه او دشپي وخت کي دفن کړي شو، دحدیث راوي سفیان وائي دامام باقر په حدیث کي هغه څه دي څه چه تیر شول لیکن په نورو روایتونو کي دا هم شته چه دشپي په اخري حصه کي دکودالو او کولنګونو اوازونه راتلل.

****

۱۱ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَوْمَ الاثْنَيْنِ وَدُفِنَ يَوْمَ الثُّلاثَاءِ قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : دابوسلمه رضي الله عنه بیان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله علیه وسلم د دوشنبي په ورځ وفات شو او دسه شنبي په ورځ دفن کړي شو. امام ترمذي وائي دا حدیث غریب دي.

****

۱۲ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ قَالَ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ نُبَيْطٍ عَنْ نُعَيْمِ بْنِ أَبِي هِنْدَ عَنْ نُبَيْطِ بْنِ شَرِيطٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ أُغْمِيَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي مَرَضِهِ فَأَفَاقَ فَقَالَ حَضَرَتِ الصَّلاةُ فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ مُرُوا بِلالا فَلْيُؤَذِّنْ

وَمُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ لِلنَّاسِ أَوْ قَالَ بِالنَّاسِ قَالَ ثُمَّ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فَأَفَاقَ فَقَالَ حَضَرَتِ الصَّلاةُ فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ مُرُوا بِلالا فَلْيُؤَذِّنْ وَمُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ إِنَّ أَبِي رَجُلٌ أَسِيفٌ إِذَا قَامَ ذَلِكَ الْمَقَامَ بَكَى فَلا يَسْتَطِيعُ فَلَوْ أَمَرْتَ غَيْرَهُ قَالَ ثُمَّ أُغْمِيَ عَلَيْهِ فَأَفَاقَ فَقَالَ مُرُوا بِلالا فَلْيُؤَذِّنْ وَمُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَإِنَّكُنَّ صَوَاحِبُ أَوْ صَوَاحِبَاتُ يُوسُفَ قَالَ فَأُمِرَ بِلالٌ فَأَذَّنَ وَأُمِرَ أَبُو بَكْرٍ فَصَلَّى بِالنَّاسِ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَجَدَ خِفَّةً فَقَالَ انْظُرُوا لِي مَنْ أَتَّكِئُ عَلَيْهِ فَجَاءَتْ بَرِيرَةُ وَرَجُلٌ آخَرُ فَاتَّكَأَ عَلَيْهِمَا فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَنْكُصَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ أَنْ يَثْبُتَ مَكَانَهُ حَتَّى قَضَى أَبُو بَكْرٍ صَلاتَهُ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قُبِضَ فَقَالَ عُمَرُ وَاللهِ لا أَسْمَعُ أَحَدًا يَذْكُرُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قُبِضَ إِلا ضَرَبْتُهُ بِسَيْفِي هَذَا قَالَ وَكَانَ النَّاسُ أُمِّيِّينَ لَمْ يَكُنْ فِيهِمْ نَبِيٌّ قَبْلَهُ فَأَمْسَكَ النَّاسُ فَقَالُوا يَا سَالِمُ انْطَلِقْ إِلَى صَاحِبِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَادْعُهُ فَأَتَيْتُ أَبَا بَكْرٍ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَأَتَيْتُهُ أَبْكِي دَهِشًا فَلَمَّا رَآنِي قَالَ أَقُبِضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قُلْتُ إِنَّ عُمَرَ يَقُولُ لا أَسْمَعُ أَحَدًا يَذْكُرُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قُبِضَ إِلا ضَرَبْتُهُ بِسَيْفِي هَذَا فَقَالَ لِي انْطَلِقْ فَانْطَلَقْتُ مَعَهُ فَجَاءَ هُوَ وَالنَّاسُ قَدْ دَخَلُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَفْرِجُوا لِي فَأَفْرَجُوا لَهُ فَجَاءَ حَتَّى أَكَبَّ عَلَيْهِ وَمَسَّهُ فَقَالَ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ (الزمر:٣٠) ثُمَّ قَالُوا يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَقُبِضَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ نَعَمْ فَعَلِمُوا أَنْ قَدْ صَدَقَ قَالُوا يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَيُصَلَّى عَلَى رَسُولِ اللهِ قَالَ نَعَمْ قَالُوا وَكَيْفَ قَالَ يَدْخُلُ قَوْمٌ فَيُكَبِّرُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَدْعُونَ ثُمَّ يَخْرُجُونَ ثُمَّ يَدْخُلُ قَوْمٌ فَيُكَبِّرُونَ وَيُصَلُّونَ وَيَدْعُونَ ثُمَّ يَخْرُجُونَ حَتَّى يَدْخُلَ النَّاسُ قَالُوا يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَيُدْفَنُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ نَعَمْ قَالُوا أَيْنَ قَالَ فِي الْمَكَانِ الَّذِي قَبَضَ اللهُ فِيهِ رُوحَهُ فَإِنَّ اللهَ لَمْ يَقْبِضْ رُوحَهُ إِلا فِي مَكَانٍ طَيِّبٍ فَعَلِمُوا أَنْ قَدْ صَدَقَ ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَغْسِلَهُ بَنُو أَبِيهِ وَاجْتَمَعَ الْمُهَاجِرُونَ يَتَشَاوَرُونَ فَقَالُوا انْطَلِقْ بِنَا إِلَى إِخْوَانِنَا مِنَ الأَنْصَارِ نُدْخِلُهُمْ مَعَنَا فِي هَذَا الأَمْرِ فَقَالَتِ الأَنْصَارُ مِنَّا أَمِيرٌ وَمِنْكُمْ أَمِيرٌ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ مَنْ لَهُ مِثْلُ هَذِهِ الثَّلاثِ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لا تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا (التوبة:٤٠) مَنْ هُمَا قَالَ ثُمَّ بَسَطَ يَدَهُ فَبَايَعَهُ وَبَايَعَهُ النَّاسُ بَيْعَةً حَسَنَةً جَمِيلَةً.

ترجمه: دسالم بن عبيد نه چه صحابي دي روايت دي فرمائي چه په رسول الله صلي الله عليه

وسلم بيهوشي راغله او چه کله په هوش کي راغلو نو تپوس يي اوکړو ايا دمونځ وخت دي؟ خلقو اووئيل هو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بلال ته اووائي چه اذان اوکړي او ابوبکر ته اووائي چه خلقو ته مونځ ورکړي او بيا رسول الله بيهوشه شو،او هر کله چه بيا په هوش کي راغلو نو تپوس يي اوکړو.ايا دمونځ وخت دي؟ خلقو اووئيل هو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بلال ته اووائي چه اذان اوکړي او ابوبکر ته اووائي چه خلقو ته مونځ ورکړي، عائشه رضي الله عنها اووئيل زما پلار يو نرم زړه والا انسان دي کله چه هغه په دي ځاي اودريږي نو ژړا ورله ورځي او خلقو ته مونځ نشي ورکولي کاش چه رسول الله صلي الله عليه وسلم بل چاته حکم کړي وي، راوي وائي بيا په رسول الله صلي الله عليه وسلم بيهوشي راغله چه هر کله په هوش کي راغلو نو تپوس يي اوکړو ايا دمونځ وخت دي؟ خلقو اووئيل هو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بلال ته اووائي چه اذان اوکړي او ابوبکر ته اووائي چه خلقو ته مونځ ورکړي او تاسو ديوسف عليه السلام ملګري يئ، راوي وائي بلال رضي الله عنه ته اووئيلي شول نو هغه اذان اوکړو ابوبکر رضي الله عنه ته اووئيلي شول نو هغه مونځ ورکړو بيا درسول الله صلي الله عليه وسلم په بيمارئ کي څه قدري تخفيف راغلو نو وېي فرمائيل داسي څوك اوګورئ چه زه يي په اوګه پوري بهر اوځم پس بريره رضي الله عنها او يو بل کس راغلو رسول الله په دواړو پوزي ځان مضبوط کړو او بهر اووتلو هر کله چه ابوبکر رسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدلو نو شاته د وروسته کيدو کوشش يي اوکړو رسول الله ورته اشاره اوکړه چه پخپل ځاي اودريږده ترڅو چه ابوبکر رضي الله عنه خلقو ته مونځ پوره کړو او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو دي وخت کي عمر رضي الله عنه اووئيل دهيچا نه وانورم چه رسول الله وفات شوي دي په الله قسم که ما دچا نه دا خبره واوريدله چه رسول الله وفات شوي دي نو پخپله دي توره به يي سر اووهم راوي وائي چه خلق اميان وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مخکي په دوئ کي کوم نبي نه وو راغلي يعني دنبوت په امورو کي يي تجربه نه وه پس خلق منع شول ددي خبري دکولو نه چه رسول الله وفات شوي دي، خلقو اووئيل اي سالم بن عبيد درسول الله ملګري او دوست ته ورشه او دلته يي راوغواړه پس زه ابوبکر رضي الله عنه ته په داسي حال کي ورغلم چه هغه په "سنح" کلي په مسجد کي وو پس زه ورته په ويره ويره دژړا په حال کي ورغلم هر کله چه يي زه اوليدلم نو تپوس يي راته اوکړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شوي دي؟ ما اووئيل عمر قسم خوړلي دي ددي خبري نه که څوك درسول الله دوفات خبره اوکړي نو سر به يي په توره وهي ابوبکر رضي الله عنه ماته اووئيل ماسره راځه زه ورسره روان شوم ترڅو چه راورسيدو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورداخل شو ابوبکر اووئيل اي خلقو ماته لار راکړئ او ځاي راته راکړئ پس خلقو ورته ځاي ورکړو او هغه رسول الله ته ورنزدي شو ترڅو چه په سر يي راټيټ شو او بيا يي

اووئيل ته به هم مړكيږي او دوئ به هم مړه كيږي؟ (الزمر ٣٠) بيا خلقو اووئيل اي درسول الله دوسته ايا مونږ به په رسول الله صلي الله عليه وسلم جنازه كوو ابوبكر اووئيل هو خلقو اووئيل څرنګه به يي ورباندي كوو ابوبكر اووئيل څه كسان به جنازګاه ته ورشي او تكبير به اووائي او دعا به اوكړي او دجنازي مونځ به اوكړي بيابه دوئ راوځي او نور خلق به دجنازي ځاي ته داخل شي هغوئ به هم تكبير اووائي او مونځ به اوكړي او دعا به اوكړي بيا به دوئ راوځي تردي چه ټول خلق به داخل شي (رسول الله صلي الله عليه وسلم په كمره كي يواځي يواځي مونځ شوي وو) نو په همدي وجه په تدفين كي تاخير راغلي وو) خلقو اووئيل اي درسول الله دوسته ايا رسول الله به دفن كولي شي؟ ابوبكر اووئيل هو، خلقو تپوس اوكړو چرته ابوبكر اووئيل په هغه ځاي كي چرته چه الله تعالي دده روح قبض كړي دي بيشكه الله تعالي درسول الله صلي الله عليه وسلم روح نه دي قبض كړي مګر په پاك ځاي كي پس خلق پوهه شول چه ابوبكر رښتيا اووئيل يعني دابوبكر په هره خبره دصحابه كرامو اطميـنان راغي بيا ابوبكر خلقو ته حكم اوكړو چه درسول الله صلي الله عليه وسلم دخاندان خپل خلق دي هغه ته غسل وركړي او مهاجرين دمشهوري كولو دپاره راجمع شول او وئيل يي راشئ چه خپلو انصاري رونړو ته ورشو او هغوئ هم په دي معامله كي شريك كړو انصارو اووئيل يو امير به زمونږ نه وي او يو امير به ستاسو نه وي عمر رضي الله عنه اووئيل څوك دي داسي كس په كوم كي چه دا دري صفتونه جمع شوي وي؟ "ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا" يعني دويم د دوو نه كله چه دوئ دواړه په غار كي وو، او خپل ملګري ته يي وئيل چه هيڅ غم مه كوه بيشكه الله تعالي زمونږ سره دي (التوبه : ٤٠) راوي وائي چه بياعمر رضي الله عنه لاس وړاندي كړو او دابوبكر رضي الله عنه سره يي بيعت اوكړو او خلقو ورسره هم په ښه شان سره او دزړه په خوشحالئ بيعت اوكړو.

تشريح : قوله : إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ ، يعني يقينا تهٔ مړ كيدونكى يې او يقينا دوى هم به مړهٔ كيږى. ددي ايت مطلب دادى هر كله چه په مشركانو باندى سخت رد اوكړى شو. نو هغوى د غصى نه خيرى كولى. چه دا نبى دِى مړ شى چه مونږه ترينه خلاص شو. نو په دى ايت كښ جواب دى. چه مرګ خو په ټولو باندى راځى. نو د بل په مرګ خوشحالى كول هيڅ فائده نهٔ كوى. او دا رنګ په مرګ سره د جګړو نه نهٔ خلاصيږئ. بلكه د مرګ نه روستو په دوباره ژوندكښ به هم جګړى وى اوفيصلى به وى. تَخْتَصِمُونَ. دا اختصام عام دى كه د مومنانو په مينځ كښ وى او كه د كتابيانو كافرانو سره وى او كه د مشركانو سره وى.

فائده. ميّت. په شد د يا سره په هغه چا باندى اطلاق كوى چه مړ نهٔ وى ليكن مړ كيږى او په سكون د يا سره. هغه چاته ونيلى كيږى چه مړ وى. ليكن فرق اكثرى دى. كله د يو بل په

معنی هم راخي. لکه. اِنَّكَ لا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتٰى او. يُحۡيِ الۡمَوۡتٰى. کښې موتی جمع د مَيّتٌ ده. ليکن مراد ترينه مړی دی.

ددي ايت هم معني ايت د سورة الانبياء: ۳۴ ايت هم دی ارشاد الهي دی:

وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ الۡخُلۡدَ اَفَاۡئِنۡ مِّتَّ فَهُمُ الۡخٰلِدُوۡنَ ۞ كُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ الۡمَوۡتِ يعني: اونه دي ورکړي مونږ هيڅ بشرلره ستانه مخکي هميشګري، ايانوکه ته مړشوي نودوئ به هميشه وي. هرساه والاڅکونکي دمرګ دي،

"خلد" په دنيا کي هميشه اوسيدل، بغوي ليکلي دي دا ايت په هغه وخت کي نازل شوي وو کله چه کافرانو داسي وئيلي وو چه مونږ خو دهغه وخت منتظر يو چه کله په محمد (صلي الله عليه وسلم) دمرګ چکر راځي، مطلب دادي چه ته هميشه اوسيدونکي نه يي او دا خبره مقرر شوي ده نو ايا داخلق به ستانه وروسته هميشه پاتي کيدونکي وي؟ (داسي هرګز نه ده) هر يو کس دمرګ دمزي څکونکي دي او د بدن نه دروح دجدا کيدو خوند به هر څوك څکي.

د ايت کريمه: ثَانِيَ اثۡنَيۡنِ اِذۡ هُمَا فِي الۡغَارِ اِذۡ يَقُوۡلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحۡزَنۡ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا پداسي حالت کي چه وو هغه دويم دوونه کله چه دواړه په غارکي وو کله چه ووئيل پيغمبرخپل ملګري خپل(ابوبکر) ته مه خفه کيږه يقيناالله تعالي زمونږملګري دي، مطلب دادی چي د ابو بکر نه علاوه کوم بل ملګری ورسره نه وو، يا دامطلب دي که چري تاسو دده مدد ونکړئ نو الله دده نصرت لازم کړي دي تردي چه په هغه وخت کي يي هم دده سره نصرت وکړو کله چه دده سره ديوکس نه علاوه نور څوك نه وو لهذا په اننده کي يي هم په کوم وخت کي بي مدده نه پريږدي ، کافرانو اګرچه رسول الله لره دمکي نه ويستلي نه وو ليکن په دار الندوه کي جمع شول اود رسول الله دقتل کولو يا ګرفتارولو يا دشړلو مشوره يي وکړله اوخفيه مشوره يي وکړله نويدي وجه دويستلو نسبت کافرانو ته شوي دي ، خکه چه دالله تعالي دطرفه دمکي نه دوتلو حکم همددي مشوري په وجه شوي وو ، ددي قصي تفصيل په سورة الانفال کي تير شوي دي.

إِذۡ يَقُوۡلُ لِصَاحِبه ترمذي اوبغوي دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت نقل کړي دي چه رسول الله صلي الله عَلَيه وسلم ابوبکر صديق رضي الله عنه ته اوفرمائيل ته زما دغار ملګري يي اوپه حوض کوثر کي به هم زما ملګري يي ، مسلم دابن مسعودرضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چري ما دالله تعالي نه علاوه بل خليل نيولي نو ابوبکر به مي خليل نيولي وو مګر اوس هغه ورور اوملګري دي ، دحسن بن فضل قول دي که چري څوك ابوبکر صديق رضي الله عنه لره د رسول الله صلي الله عليه وسلم ملګري ونه ګڼري نو کافر دي خکه چه دقراني صراحت نه انکار کوي په باقي صحابه

كرامو كي كه چري چا لره څوك د رسول الله صلي الله عليه وسلم ملګري لره صحابي ونه ګڼري نوبدعتي اوفاسق به وي اوكافر كيږي نه.
معنا دالله تعالي معيت بلا كيف دي ، شيخ شهيد مرزا مظهرجان جانان رحمة الله عليه فرمائيلي دي د ابوبكر صديق رضي الله عنه دا ډير لوي فضيلت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دخان سره ملګري كړو اوددواړو دپاره يي په يوځاي دالله معيت ثابت كړو دالله كوم معيت چه يي د ځان دپاره ثابت كړي دي هغه يي دده دپاره هم ثابت كړو ، څوك چه دابوبكر صديق رضي الله عنه دفضيلت نه انكار كوي هغه ددي ايت نه انكار كوي اوڅوك چه دايت نه منكر وي هغه كافر دي ، پاتي شودصديق اكبر په زړه كي فكر پيدا كيدل نودا خود بزدلئ په وجه نه وو لكه چه رافضيان وربانديي تهمت لګوي بلكه درسول دذات متعلق دده سره ويره وه او وئي وئيل كه چري زه قتل كړي شوم نوهيڅ حرج نشته يو عام سړي به قتل شي اوكه رسول الله صلي الله عليه وسلم شهيد شو نو تمام امت به هلاك شي ، مونږ په غار والا حديث كي ذكر كووچه دصديق اكبر سره د رسول الله صلي الله عليه وسلم دذات متعلق فكر وو دخپل ځان ويره ورسره نه وه.

****

١٣ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الزُّبَيْرِ شَيْخٌ بَاهِلِيٌّ قَدِيمٌ بَصْرِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مِنْ كُرَبِ الْمَوْتِ مَا وَجَدَ قَالَتْ فَاطِمَةُ وَا كَرْبَاهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم لا كَرْبَ عَلَى أَبِيكِ بَعْدَ الْيَوْمِ إِنَّهُ قَدْ حَضَرَ مِنْ أَبِيكِ مَا لَيْسَ بِتَارِكٍ مِنْهُ أَحَدًا الْمُوافَاةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه كله په نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمرګ سختي شروع شوه فاطمه رضي الله عنها عرض اوكړو اي دپلارتكليفه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دنن نه پس به ستا په پلار باندي هيڅ تكليف پاتي نشي بيشكه نن ستا په پلار هغه فيصله نازله شوي ده يعني مرګ چه دقيامت پوري دا دهيچا نه لري كيدونكي نه دي.

****

١٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ قَالا حَدَّثَنَا عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ بَارِقٍ الْحَنَفِيُّ قَالَ سَمِعْتُ جَدِّي أَبَا أُمِّي سِمَاكَ بْنَ الْوَلِيدِ يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِي أَدْخَلَهُ اللهُ تَعَالَى بِهِمَا الْجَنَّةَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ

فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ قَالَ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا مُوَفَّقَةُ قَالَتْ فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ قَالَ فَأَنَا فَرَطٌ لأُمَّتِي لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي.

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ بَارِقٍ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْمُرَابِطِيُّ. حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ. أَنْبَأَنَا عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ بَارِقٍ ا فَذَكَرَ نَحْوَهُ. وَسِمَاكُ بْنُ الْوَلِيدِ هُوَ: أَبُو زُمَيْلٍ الْحَنَفِيُّ.

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي دچا دپاره چه دوه بچي داخرت ذخيره اوګرځي نو الله تعالي به هغه لره ددوئ په بركت ضرور جنت ته داخل كړي عائشه رضي الله عنها عرض اوكړو اي دالله رسوله كه دچا يو بچي اخرت دپاره ذخيره شوي وي دهغه څه حكم دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه دچا يو بچي ذخيره شوي وي هغه ته به هم مغفرت اوكړي شي عائشه رضي الله عنها تپوس اوكړو كه دچا يو بچي هم مړ نه وي نو دهغه څه حكم دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دهغوئ دپاره به زه داخرت ذخيره جوړيږم ځكه چه زما دوفات غم به دكورنئ او اولاد دغم نه په هر چا باندي درونډ وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته صرف دعبد ربه بن بارق په سند سره معلوم دي او دهغه نه ډيرو محدثينو نقل دروايت كړي دي. حبان بن هلال هم پخپل سند د عبد ربه بن بارق نه د ماقبل هم معني روايت نقل كړي دی، اود سمان بن وليد راوي اسم كنيه ابو زميل ده.

تخريج ابن ماجه في الجنائز ٥٧ (١٦٠٦) (تحفة الأشراف : ٩٦٣٣) مسند احمد (ا في ٣٣٩،٣٤٥.

****

٥٥_ باب ما جاء في ميراث رسول الله (صلي الله عليه وسلم)

درسول الله صلي الله عليه وسلم دتركي (ميراث) بيان

١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَخِي جُوَيْرِيَةَ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم إِلا سِلاحَهُ وَبَغْلَتَهُ وَأَرْضًا جَعَلَهَا صَدَقَةً.

ترجمه : دعمرو بن الحارث چه دام المؤمنين جويريه رضي الله عنها ورور دي نه روايت دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل ميراث كي صرف اصلحه او دسورلئ قچر او.

څه زمکې پرېخودلې وې او هغه يې هم صدقه کړې وې.

تشريح: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترکه(ميراث)

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو نو لاندنۍ اشياء يې پرېښودل: دوه عدده حبره (يعني څادري) او يمني لنګ، او دوه صحاري جامې، او يو صحاري قميص او سحولي قميص، [1] او يوه ورسره يمني جبه وه او منقش څادر وو، او درې څلور کوفي څادرونه وو يعني واړه، او يوه ورسره برستن وه چې په ورس بوټي رنګ شوې وه.

اود رسول الله صلی الله علیه وسلم د چمړې يو توشه دان وو په کوم کې چې يوه آئنه او د هاتي د غاښونو يوه ګومنز او سورمه داني او قينچې او مسواك پراته وو، او بستره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د چمړې وه چې د کهجورو دپاڼو نه ډکه کړې شوې وه.

او يو جام يې وو چې دسپينو زرو درې ټوټې پکې لګېدلې وې او يو جام يې د کاڼي والاوو، او يو بل لوښي يې لرلو چې نکريزي او وسمه به پکې جوړيدله او يو ورسره لوي بالټي وو چې دغسل وغيره دپاره به استعماليدلو، او يو خانك وو او يوه پيمانه هم ورسره وه او يو بل لوښي ورسره دصاع د څلورمې حصې په مقدار هم وو، چې صدقه الفطر وغيره به يې ورباندې ناپ کوله، او يوه د سپينو زرو ګوتمه وه چې غمې يې هم دسپينو زرو وو او محمد رسول الله ورباندې ليکلې شوي وو، اوپه يو روايت کې راغلي دي چې دا ګوتمه د اوسپنې والاوه اود سپينو زرو غمې پکې لګېدلې وو.

او نجاشي بادشاه دوه ساده موزې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پيش کړې وې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه استعمالولې اود رسول الله صلی الله علیه وسلم سره يو تور څادر وو او يوه عمامه وه چې د سحاب په نوم به ياديدل اود رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د استعمال دکپړو نه علاوه دوه نورې جامې هم وې چې دجمعې په مونځ کې به يې اغوستلې او يو ورسره رومال وو چې د اودس نه پس به يې ورباندې مخ وچولو.

اود رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ۹ توري وې په دوئ کې د يوې نوم ذو الفقار وو، په غزوه بدر کې د بني الحجاج په مال کې په غنيمت کې راغلې وه، يو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم خوب وليدلو چې ددې توري دواړه طرفونه رژېدلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوب دا تعبير وويستلو چې مسلمانان به د يو قسم شکست سره مخامخ کيږي، چنانچې په غزوه احد کې ددې تعبير واقع شو.

او درې توري د قلعي او بتار او حتف په نومونو وې چې د بني قينقاع (يوې يهودي قبيلې) نه په مال د غنيمت کې لاس ته راغلې وې، او دوه توري د مخذم او رسوب په نومونو وې، او يوه بله توره وه چې دپلار نه ورته په ميراث کې پاتې شوې وه، بله توره د عضب په نوم وه چې سعد بن عبادة ورکړې وه، او يوه توره دقضيب په نوم وه داد ټولو نه اولنۍ توره وه. دارنګې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره

---

[1] صحار او سحول د يمني مقاماتو نومونه دي.

ځلور نيزې وې ، په دوئ کې ديوې نوم مثنى وو او باقي درې نيزې د بني قينقاع نه په غنيمت کې حاصل شوې وې. او يوه بله وړه نيزه وه چې د اخترونو په مراسمو کې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندې د سترې په شکل ودرولى شوه. او يوه کوړ او راتاو شوې سر والاهمــا وه چې يو لاس لوړ والې يې وو، او يوه بله همــا د عرجون په نوم وه. او يوه نرۍ لختــه يې وه چې ممشوق به ورته ونيلى شول. او پنځه لينــدې او تير کش يې لرلو او درې ډالونه ورسره وو چې د ګــس شکل ورباندې جوړ وو، اود هديه په طور رالېږلى شوې وه. رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل دواړه لاسونه په دې باندې کيښودل او هغه تصوير غائب شو.

د انس رضي الله عنه بيان دى چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د توره نعل او قبيعه[1] د سپينو زرو وو ، د نعل او قبيعه په مينځ کې هم د سپينوزرو حلقې وې.

او دوه ورسره زغرې وې چې د بني قينقاع نه ورته په غنيمت کې لاس ته راغلې وې. د يوې نوم سعديه وو اود بلې نوم فضه وو. او چې کومه زغره يې په غزوه حنين کې اغوستلې وه دهغې نوم ذات الفضول وو.

او په يو روايت کې دي چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه زغره هغه وه کومه چې داود عليه السلام جوړه کړې وه، ،چې د جالوت دقتل کولو په وخت کې يې اغوستلې وه، اود ذو الســبوغ په نوم ورسره يو خود وو او يو ورســره دچمړې منګې وو چې د سپينو زرو درې کړې پکې وې. اود رسول الله صلي الله عليه وسلم د جنډې رنګ تک سپين وو.

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَتْ فَاطِمَةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَتْ مَنْ يَرِثُكَ فَقَالَ أَهْلِي وَوَلَدِي فَقَالَتْ مَا لِي لا أَرِثُ أَبِي فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ لا نُورَثُ وَلَكِنِّي أَعُولُ مَنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَعُولُهُ وَأُنْفِقُ عَلَى مَنْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُنْفِقُ عَلَيْهِ.

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَطَلْحَةَ، وَالزُّبَيْرِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَسَعْدٍ، وَعَائِشَةَ، وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، إِنَّمَا أَسْنَدَهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَعَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: لَا أَعْلَمُ أَحَدًا رَوَاهُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، إِلَّا حَمَّادَ بْنَ سَلَمَةَ،

---

[1]. په توره کې چې د لاس نيولو دپاره د موټې ځاى وي دهغې لاندنۍ حصې ته قبيعه او پورتنۍ حصې ته يې نعل ونيلى شي.

وَرَوَى عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، نَحْوَ رِوَايَةِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فاطمه رضي الله عنها ابوبکر رضي الله عنه ته راغله او وئيل يي ستا دوفات نه پس به سا وارث څوك وي هغه اووئيـل زما کور والا او زما اولاد به زما وارثان وي فاطمه اووئيل بيا څه وجه ده چې زه دخپل پلار وارثه جوړه نشم؟ ابوبکر رضي الله عنه اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چې زمونږ (دانبياؤ) څوك وارث نه وي (او بيا ابوبکر اووئيل) رسول الله صلي الله عليه وسلم چې به دچا کفالت کولو مونږ هم دهغوئ کفالت کوو او هغه چې به په چا باندي خرچې کوله مونږ هم په هغوئ باندي خرچې کوو.

امام ترمذي وايي : دابوهريره حديث په دي سند حسن غريب دي دا حديث حماد بن سلمه او عبدالوهاب بن عطاء مسند نقل کړي دي ذوئ دواړه دمحمد بن عمرو نه او محمد دابوسلمه نه او ابو سلمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل کوي، ما دامام بخاري نه ددي حديث بارد کي تپوس اوکړو نو هغه اووئيـل ماته دحماد نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چې دا حديث يي دمحمد بن عمرونه او محمد دابوسلمه نه او ابوسلمه دابوهريره نه مرفوعا نقل کړي وي، دامام ترمذي قول دي عبدالوهاب بن عطاء هم دمحمد بن عمرو نه او محمد دابوسلمه نه او ابوسلمه دابوهريره رضي الله عنه نه دحماد دروايت پشان روايت نقل کړي دي، او په دي باب کي دعمر، طلحه، زبير، عبدالرحمن بن عوف، سعد او عائشه رضي الله عنها نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: مفسرينو ليکلي دي د اهل اسلام دا اجماعي فيصله ده چې دانبياء عليهم السلام څوك وارث نه وي دانبياء عليهم السلام ترکه دخيرات مال دي کوم چې دمسلمانانو په ضرورتونو کي صرف کول پکار دي ، ليکن شيعه ددي فيصلي مخالف دي څوك چې په ابوبکر صديق رضي الله عنه باندي طعن کوي چې ده درسول الله صلي الله عليه وسلم ترکه فاطمه رضي الله عنها ته نه وه ورکړي.

اهل تشيع اعتراض کړي دي نحن معاشر الانبياء لانورث ماترکناه صدقة. مونږ دانبياؤ ډله چالره دخپل مال نه وارث کوو مونږ چې څه پريږدو هغه به عمومي خيرات وي ، داحديث خبرواحد دي اودايت کريمه يوصيکم الله مخالف دي ، لهذا ددي روايت په وجه په ايت باندي دخبرواحد ترجيح لازميږي اوبيا دبل ايت کريمه سره هم دا روايت مخالف دي چې : وَوَرِثَ دَاوُدُ سُلَيْمٰنَ. الايه. سليمان

---

1. تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف : ٦٦٢٥) وانظر : اخرجه البخاري في الصحيح_ الخمس (٣٠٩٢، ٣٠٩٣) . والنفقات ٣ (٦٧٢٥ و ٦٧٢٦)

عليه السلام ته دداود عليه السلام ميراث پاتي شو په بل ايت كريمه كي دزكرياعليه السلام قول نقل شوي دي چه: فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا (٥) يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ. خلق ډيرناشنا بي وقوفان دي دومره هم نه پوهيږي چي داحديث زمونږ دپاره داحاد نه دي ليكن صديق اكبر رضي الله عنه چي كله پخپلو غوږونو درسول الله صلي الله عليه وسلم دژبي نه واوريدو نودا دمتواتر نه هم په درجه كي مخكي شو ، دمحسوس درجه دمتواتر نه زياته وي ، بياداخبره چي ددي حديث روايت صرف ابوبكر رضي الله عنه كړي دي پخپل خاي باندي غلطه ده څكه چي ددي روايت دصحابه كرامو يو جماعت كړي دي په كوموكي چي حذيفه بن يمان ، ابو الدرداء عائشه ، ابوهريره رضي الله عنهم هم شامل دي.

****

٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ الْعَنْبَرِيُّ أَبُو غَسَّانَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ أَنَّ الْعَبَّاسَ وَعَلِيًّا جَاءَا إِلَى عُمَرَ يَخْتَصِمَانِ يَقُولُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِصَاحِبِهِ أَنْتَ كَذَا أَنْتَ كَذَا فَقَالَ عُمَرُ لِطَلْحَةَ وَالزُّبَيْرِ وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ وَسَعْدٍ أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ أَسَمِعْتُمْ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ كُلُّ مَالِ نَبِيٍّ صَدَقَةٌ إِلا مَا أَطْعَمَهُ إِنَّا لا نُورَثُ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ.

ترجمه : مروي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه دصحابه كرامو ديوجماعت په وړاندي اووئيل چي په هغوئ كي علي ، عباس ، عبدالرحمن بن عوف، زبير بن عوام، اوسعد ، بن ابي وقاص رضي الله عنهم هم شامل وو چي زه تاسو ته په هغه الله باندي قسم دركوم دچاپه حكم چي زمكه اواسمان قائم دي اياتاسوته معلومه ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي "لانورث ماتركناه صدقة" مونږ چالره خپل وارث نه جوړوو اوڅه چي مونږ پريږدو هغه به خيرات وي ددينه مراد دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خپل ذات وو ، صحابه كرامو جواب وركړو هو (همداسي يي فرمائيلي وو) او بيا اميرالمومنين عمر رضي الله عنه د علي او عباس رضي الله عنهما طرف ته خصوصي توجه اوكړه او ويي وئيل زه تاسو دواړو ته په الله تعالي قسم دركوم اوتپوس درنه كوم چي اياتاسوته معلومه ده چي رسول الله داسي فرمائيلي وو ؟ دواړو اووئيل هو بيشكه (الحديث)

****

٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا فَهُوَ صَدَقَةٌ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زمونږ څوك وارث نه وي او مونږ دانبياؤ جماعت چه كوم مال پريږدو هغه صدقه وي.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لا يَقْسِمُ وَرَثَتِي دِينَارًا وَلا دِرْهَمًا مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمُؤْنَةِ عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ.

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما وارثان به دينار او درهم نه تقسيموي زما دتركي نه داهل او عيال دنفقي او دعاملانو دنفقي ويستلو نه پس چه څه پاتي شي دا به صدقه وي.

****

٦ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلالُ قَالَ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ مَالِكَ بْنَ أَنَسٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عُمَرَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ وَطَلْحَةُ وَسَعْدٌ وَجَاءَ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ يَخْتَصِمَانِ فَقَالَ لَهُمْ عُمَرُ أَنْشُدُكُمْ بِالَّذِي بِإِذْنِهِ تَقُومُ السَّمَاءُ وَالأَرْضُ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ لا نُورَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ فَقَالُوا اللَّهُمَّ نَعَمْ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ.

ترجمه : د مالك بن اوس بن حدثان نه مروي دي چې عمر فاروق رضي الله عنه ته ورغلم او پدغه وخت كي عبدالرحمن بن عوف او طلحه او سعد موجود وو او علي او اعباس رضي الله عنهما هم راغلل چي خپله مقدمه يي پيش كړله عمر فاروق رضي الله عنه دوئ ته ووئيل: زه تاسو ته په هغه الله باندي قسم دركوم دچاپه حكم چې زمكه اواسمان قائم دي اياتاسوته معلومه ده چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي "لانورث ماتركناه صدقة" مونږ چالره خپل وارث نه جوړوو اوڅه چې مونږ پريږدو هغه به خيرات وي ددينه مراد دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خپل ذات وو ، صحابه كرامو جواب وركړو هو (همداسي يي فرمائيلي وو) او بيا اميرالمومنين عمر رضي الله عنه د علي او عباس رضي الله عنهما طرف ته خصوصي توجه اوكړه او ويي وئيل زه تاسو دواړو ته په الله تعالي قسم دركوم اوتپوس درنه كوم چې اياتاسوته معلومه ده چې رسول الله داسي فرمائيلي وو ؟ دواړو اووئيل هو بيشكه (الحديث) .

****

٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمِ ابْنِ

بَهْدَلَةَ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم دِينَارًا وَلا دِرْهَمًا وَلا شَاةً وَلا بَعِيرًا قَالَ وَأَشُكُّ فِي الْعَبْدِ وَالأَمَةِ.

ترجمه : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دينار پريخودلي دي او نه درهم او نه چيلۍ او نه اوښان راوي وائي چه زما دغلام او وينځي په ذكر كولو كي شك دي چه عائشه رضي الله عنها دا هم فرمائيلي وو چه نه غلام او نه وينځه اوكنه.

****

٥٦_ باب ما جاء في رؤية رسول الله (صلي الله عليه وسلم) في المنام

په خوب كې درسول الله صلي الله عليه وسلم دليدلو بيان

١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَتَمَثَّلُ بِي. [1]

ترجمه : د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچې زه په خوب كې اوليدم ډير زر به مې په ويښه هم اووينې يايې داسې فرمائيلي دي، دا داسې ده لكه چې په ويښه يې اوليدم ځكه چې شيطان ځما شكل نه شي جوړولی ، د راوي شك دی چې په دي دوه خبرو كې كې يې كومه يوه وكړله.

امام ترمذي وايي: او په دي باب كې دابوهريره، ابوقتاده، ابن عباس، ابوسعيد خدري، جابر، انس، او ابومالك اشجعي عن ابيه، ابوبكره، او ابو جحيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي اوداحديث حسن صحيح دي.

لغات : يتمثل: تمثل مشابه كيدل دنصر نه مثولا: مماثل كيدل، فلانا بفلان مشابه كيدل، مثل ذكرم او نصر نه مثولا مثلا يدي فلان دچا په وړاندي ودريدل.

تشريح : په خوب كې درسول الله دليدو فضائل

"فكانما راني في اليقظة" او كه داسي يي اوفرمائيل لكه چې زه يي په ويښه اوليدم ، په دي كې دراوي شك دی چې په دي دوه خبرو كې رسول الله يوه اوفرمائيله كه اولنۍ خبره يي فرمائيلي وي نومطلب دادی چې په خوب كې ليدونكی به دقيامت په ورځ درسول الله په زيارت مشرف

---

[1] ابن ماجه/الرؤيا ٢ (٣٩٠٠) (تحفة الأشراف: ٩٥٠٩) . و مسند احمد (١/٣٧٥، ٤٠٠، ٤٤٠) . وسنن الدارمي/الرؤيا ٢ (٢١٨٥)

کیږي، یاداچې په خوب کې لیدل دده دمومن کیدو دلیل دی ، او که دویمه خبره یې کړې وي نو بیاخو مفهوم واضح دی ابن حجر وائي انبیاء په خوب کې لیدل دصالح کیدو او تقوي اولوړې مرتبې او فلاح علامه ده. رسول الله لره په خوب کې لیدل په اسلام باندې دمړکیدو اوپه اخرت کې دهغه سره دملاقات کولو علامه ده. لیکن که څوك هیڅ کله رسول الله په خوب کې اونه ویني نوهغه دي دا اوګنړي چې په دین کې یې څه نقصان او کمی دی. شیطان درسول الله په شکل کې نشي راتلی ځکه چې رسول الله دخیر اوهدایت امام دی او شیطان دشر او ضلالت امام دی دواړه دیوبل ضدونه دي ، شیطان دالله په صورت کې راتلی شي ددې وجه داده چې دالله تعالی پاك ذات او صفات دهدایت او اضلال دواړو لره جامع دی.

****

٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَتَصَوَّرُ أَوْ قَالَ لا يَتَشَبَّهُ بِي.

ترجمه : دابوهریره رضي الله عنه نه دا ارشاد نبوي منقول دی چاچه زه په خوب کې اولیدلم حقیقتا یې زه اولیدلم ځکه چه شیطان زما په شکل کې نشي بدلیدلی.

****

٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ خَلِيفَةَ عَنْ أَبِي مَالِكٍ الأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي قَالَ أَبُو عِيسَى وَأَبُو مَالِكٍ هَذَا هُوَ سَعْدُ بْنُ طَارِقِ بْنِ أَشْيَمَ وَطَارِقُ بْنُ أَشْيَمَ هُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَقَدْ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَحَادِيثَ سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ حُجْرٍ يَقُولُ قَالَ خَلَفُ بْنُ خَلِيفَةَ رَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ حُرَيْثٍ صَاحِبَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَأَنَا غُلامٌ صَغِيرٌ.

ترجمه ابو مالك اشجعي رضي الله عنه دخپل پلار نه روایت نقل کوي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچه زه په خوب کې اولیدلم حقیقتا هغه زه په خوب کې اولیدم.
امام ترمذي وائي دابومالك نوم سعد بن طارق بن اشیم دي او طارق بن اشیم دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دصحابه کرامو دجملي نه دي هغوئ دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه یو څو احادیث نقل کړي دي، مادعلي بن حجر نه اوریدلي دي وئیل یې چه دخلف بن خلیفه قول دي چه عمرو بن حریث (څوك چه درسول الله دصحابه کرامو نه یو کس دي ما په داسي حال کې لیدلي وو چه زه ماشوم وم).

****

٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ هُوَ ابْنُ سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَتَمَثَّلُنِي قَالَ أَبِي فَحَدَّثْتُ بِهِ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ قَدْ رَأَيْتُهُ فَذَكَرْتُ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ فَقُلْتُ شَبَّهْتُهُ بِهِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّهُ كَانَ يُشْبِهُهُ.

ترجمه: عاصم بن كليب رحمة الله عليه وائي ماته ابوهريره رضي الله عنه دا ارشاد نبوي بيان كړو څوك چه ما په خوب كي اوويني هغه به ما په خوب كي حقيقتا ويني ځكه چه شيطان زما شبيه (همشكل) نشي جوړيدي، دكليب بيان دي چه ما دا حديث ابن عباس رضي الله عنهما ته ذكر كړو او دا مي ورته هم اووئيل چه ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوب كي ليدلي دي او په دغه وخت كي حسن بن علي رضي الله عنه زما په خيال كي راغلو ما ابن عباس ته اووئيل ما په خوب كي ليدلي شكل دحسن رضي الله عنه دشكل سره مشابه اوموندلو ددي خبري په اوريدو ابن عباس رضي الله عنهما دكليب تصديق اوكړو چه واقعي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحسن رضي الله عنه سره مشابه وو.

****

٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالا حَدَّثَنَا عَوْفُ بْنُ أَبِي جَمِيلَةَ عَنْ يَزِيدَ الْفَارِسِيِّ وَكَانَ يَكْتُبُ الْمَصَاحِفَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فِي الْمَنَامِ زَمَنَ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَقُلْتُ لابْنِ عَبَّاسٍ إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي النَّوْمِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ كَانَ يَقُولُ إِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَتَشَبَّهَ بِي فَمَنْ رَآنِي فِي النَّوْمِ فَقَدْ رَآنِي هَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَنْعَتَ هَذَا الرَّجُلَ الَّذِي رَأَيْتَهُ فِي النَّوْمِ قَالَ نَعَمْ أَنْعَتُ لَكَ رَجُلا بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ جِسْمُهُ وَلَحْمُهُ أَسْمَرُ إِلَى الْبَيَاضِ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ حَسَنُ الضَّحِكِ جَمِيلُ دَوَائِرِ الْوَجْهِ مَلأَتْ لِحْيَتُهُ مَا بَيْنَ هَذِهِ إِلَى هَذِهِ قَدْ مَلأَتْ نَحْرَهُ قَالَ عَوْفٌ وَلا أَدْرِي مَا كَانَ مَعَ هَذَا النَّعْتِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَوْ رَأَيْتَهُ فِي الْيَقَظَةِ مَا اسْتَطَعْتَ أَنْ تَنْعَتَهُ فَوْقَ هَذَا قَالَ أَبُو عِيسَى سقط من هنا كلام طويل من تعريف يزيد الفارسي وغيره حدثنا أبو داود سليمان بن سلم البلخي حدثنا النضر بن شميل قال قال عوف الأعرابي أنا أكبر من قتادة.

ترجمه: مروي دي چه يزيد فارسي كلام الله ليكلو يو ځل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوب كي اوليدلو او ابن عباس رضي الله عنهما په دغه وخت كي ژوندي وو هغوئ ته يي

خپل خوب بیان کړو هغوئ ورته اول ارشاد نبوي واورولو چه څوك ما په خوب کي اویني داسي ده لکه چه حقیقتا یي زه لیدلي یم ځکه چه شیطان زما شکل نشي جوړولي دذي خبري په اوریدو یي زما نه تپوس اوکړو ایا په خوب کي دلیدلي شوي دشکل حلیه بیانولي شي؟ ما عرض اوکړو درسول الله صلي الله علیه وسلم بدن او دهغه قد او قامت دواړه معتدل او درمیاني درجي والا او ګندمي رنګ والا وو چه سپین والي ته مائل وو او سوربخني سترګي یي وي ښائسته خوله او ګول مخ او ګنړه ګیره یي وه چه په ټول مخ یي احاطه کړي وه او دسیني په ابتدائي حصه راخوره شوي وه، عوف رضي الله عنه چي ددي حدیث یو راوي دي وائي ماته یاد نه دي پاتي شوي چه زما استاذ کوم چه ددي خوب لیدونکي دي دمذکوره صفاتو سره کوم نور صفتونه هم بیان کړي وو او کنه، دابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل که چري تا رسول الله صلي الله علیه وسلم د زندګئ په حالت کي لیدلي وي نو ددینه زیاته حلیه به یي درته یاده نه وه ،یعني بالکل صحیح حلیه دي بیان کړه.

امام ترمذي وائي دیزید فارسي نوم یزید بن هرمز دي او دا یزید دیزید رقاشي نه مشر دي یزید فارسي دابن عباس رضي الله عنهما نه ډیر احادیث نقل کړي دي او یزید رقاشي دابن عباس زمانه نه ده موندلي، او دیزید رقاشي نوم یزید بن ابان الرقاشي دي او هغه دانس رضي الله عنه نه نقل دروایت کوي او دوئ دواړه دبصري اوسیدونکي دي او عوف بن جمیله په عوف الاعرابي مشهور دي، ابوداود دسلیمان بن سلم البلخي نه روایت بیان کړئ دي او هغه د نضر بن شمیل نه دعوف اعرابي قول نقل کړي دي فرمائیل یي چه زه دقتاده نه په عمر کي زیات یم دابوقتاده نه درسول الله صلي الله علیه وسلم دا ارشاد مروي دي چاچه زه په خوب کي اولیدم هغه واقعي زه اولیدلم.

****

٦_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيُّ عَنْ عَمِّهِ قَالَ قَالَ أَبُو سَلَمَةَ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ رَآنِي يَعْنِي فِي النَّوْمِ فَقَدْ رَأَى الْحَقَّ.

ترجمه د ابو قتادد رضي الله عنه بیان دي فرمایي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچي زه په خوب کي اولیدلم نو هغه زه حقیقتا ولیدلم.

****

٧_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدَّارِمِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ أَسَدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ قَالَ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ

رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لا يَتَخَيَّلُ بِي وَقَالَ وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْء مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءا مِنَ النُّبُوَّةِ.

ترجمه : د انس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي زه په خوب کي وليدلم نو هغه زه حقيقتا وليدلم خکه چه شيطان زما هم شکل نشي جوړيدلي، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چه دمومن خوب (کوم چه دفرشتي په اثر وي دنبوت په خلويښتو حصو کي يوه حصه دد)

****

٨_ حَدَّثَنَا محمد بن علي قال سمعت أبي يقول قال عبد الله ابن المبارك إذا ابتليت بالقضاء فعليک بالأثر.

ترجمه : د محمد بن علي بيان چي د خپل پلار نه مي اوريدلي دي : ابن سيرين به فرمائيل چه کله چه درته قضا اوسپارلي شي نو دمنقولاتو اتباع کوه.

****

٩_ حَدَّثَنَا محمد بن علي حدثنا النضر بن عون عن ابن سيرين قال هذا الحديث دين فأنظروا عمن تأخذون دينكم.

ترجمه : دابن سيرين قول دي فرمائيل يي چه علم حديث په دين کي داخل دي، لهذا دعلم حاصلولو نه مخکي دي خبري ته اوګوري چه دچا نه تاسو دين حاصلوئ (يعني ستاسو استاذ معتمد دی او که غير متعمد دی)

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

جمع وترتيب

ابوهلال "عبد الخالق" خَرِيْجُ الْجَامِعَة إِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْإِسْلَامِيَةِ بِشَاوَر_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر: ٠٣٣٣٩١٢١١٩٢

****